تفسیر ابوالحسنات

تالیف

علامہ مفتی سید المبرر ابوالفضل مولانا محمد عبداللہ السید الایوبی

المشہوری السید احمد خلیلی الحنفی النقشبندی عم فیضہ

زیر اہتمام

مکتبۃ القراۃ والتجوید

کاغذی روڈ شالدرہ کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں



تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

Maktaba Tul Ishaat.com

بسم الله الرحمن الرحيم

په پښتو ژبه کښې اولنی او په افغاني تاريخ کښې بې ساری په
زرګونو جديدو مسئلو باندې مشتمل

تفسیر ایوبی حنفی

وَمَالِيَ ﴿٢٢﴾ ❁❁ فَمَنْ أَظْلَمُ ﴿٢٣﴾

تالیف او تصنیف

د علامة العصر ابو الفضل شيخ التفسير والحديث فقيه دوران مفسر الزمان

حضرت مولانا محمد عبيد الله الايوبي

الكندهاري السليمانخيلي الحنفي النقشبندي حفظه الله تعالى

مكتبة القراءة والتجويد

کاسي روډ شالدره کوټه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم..... تفسير ايوبي پښتو پنځلسم ټوک

مفسر..... الحاج مولنا محمد عبيد الله الايوبي الكندهاري السليمانخيلي الحنفي حفظه الله تعالى بفضله الوهبي

کمپوزر..... حبيب الحق حقاني

ټايپ..... حقاني کمپيوټر اداره

نشر کوونکې اداره..... مكتبة القراءت والتجويد كاسي روډ كوټه

د چاپ ځای..... لاهور

لومړی ځل چاپ..... ۱۱۰۰ (۱۴۳۲) هجري قمري

يو نظر دې خوا

هيڅ يو مسلمان هم په قرآن مجيد، احاديثو يا د فقهي په کتابو کي په قصده سره غلطي نه کوي، زمونږ اداره تر خپله وسه پوري د کتابو تر ليکلو وروسته تصحيح ته زياته پاملرنه کوي، چي له دې کبله زمونږ کتابونه معياري دي، خو بيا هم بنده بنده دی، يو نه يو ځای څه ناڅه غلطي په املاء کي يا په يوه جمله کي ځني صادره سي، نو زمونږ د ټولو ناظرينو څخه دا خواست دی چي که ستاسي تر نظر داسي غلطي تېره سي لطفاً زمونږ سره تماس ونيسئ، تر څو د کتاب د دوهم وار په چاپ کي د هغې تېروتنې اصلاح وسي.

په درناوي ستاسي ورور شمس الحق شمس

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

جميع الحقوق محفوظة

جميع حقوق الملكية الادبية والفنية محفوظة
لمكتبة القراءة والتجويد كوئته باكستان

و يحظر طبع أو تصوير أو ترجمة أو إعادة تنضيد الكتاب كاملاً أو جزأ أو تسجيله على أشرطة كاسيت أو إدخاله على الكمبيوتر أو برمجته على اسطوانات ضوئية إلا بموافقة الناشر خطياً.

Copyright ©
All rights reserved
Tous droits reserves

Exclusive rights by Maktabatul-Qiraat i waltajweed Quetta - Pakistan. No part of this publication may be translated, reproduced distributed in any form or by any means, or stored in a data base or retrieval system, without the prior written permission of the publisher.

الطبعة الاولى

١٤٣٢ هجري - ٢٠١١ ميلادي

مكتبة القراءة و التجويد

شارع كاني كوئته - بلوچستان

رقم الهاتف ٠٣٠٠٣٨٨٥٥٣٥

MAKTABTUL-QIRRAT
WALTAJWEED
KANSI ROAD QUETTA
BALOCHISTAN

ISBN 2-7451-3140-0



اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَيْرِ الْوَرٰى

وبعد: د قرآن مجيد تلاوت، د قرآن مجيد تفسير، د قرآن مجيد حفظ د قرآن مجيد تجويد دا ټوله كارونو ته خاتم الانبياء ﷺ بهترين او ترټولو كارونو غوره كارونه ويلي دي، يو ځاى كښې فرمايي، هر كله چې له ده ﷺ تپوس وسو چې "اى الاعمال افضل" په كارونو كې ترټولو بښه او غوره كار كوم كار دى؟ و يې فرمايل "الحال المرتحل" يعنې د كوچ كونكي بيرته كوچ كول، معنى دا چې هر كله قرآن مجيد په تلاوت سره تكميل كړي او بيرته د قرآن مجيد تلاوت شروع كول.

ځكه نو حفاظ كرام اكثره چې له دې حديث څخه باخبره وي نو په اخري شپه د روژې په نولسم ركعت كښې چې څومره سورتونه دي تر والناس پورې ټوله ختم كړي او په شلم ركعت كښې بيرته بيرته "الم" تر المفلحون پورې ووايي، چې ودې عمل ته الحال المرتحل وايي، ولې چې كله قرآن مجيد تكميل ته رسېږي نو

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

نو شیطانان خوشحالي جوړه کړي چې دې مؤمن
قرآن مجید ختم کړی بیا یې نه وایي، او هر کله
چې ده بیرته "الم" شروع کړی نو د شیطان هغه
ټولي خوشحالیانې په غم ولړل سي، او نا امیده له هغه ځایه روان سي.
له دې حدیثونو څخه دا په ګوته کېږي چې د قرآن مجید تلاوت ډېر یو
لوی او د ډېر عظمت والا کارونو څخه یو کار دی، خو هر کله چې فهم د
معناهم ورسره وي، نو بیا تر ټولو لوی کار دی.
حضرت ایوبي مدظله العالي ودې کار ته ملا ترلې ده چې الحمد لله
دادی پنځلسم ټوک چې پکښې دروېشتمه او څلورویشتمه پاره موجوده
ده ستاسو په لاسونو کې دی، هیله ده چې و حضرت ایوبي او همدا رانګه
و چاپوونکي ادارې مکتبة القرائت والتجوید ته به هم په خپلو دعاګانو
کښې یو ځانګړی ځای مشخص کړئ.
دا هم تاسي او دا هم تفسیر ایوبي پنځلسم ټوک.

تفسیر ایوبي حنفي د نصیر احمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹
والسلام

قاري فضل الحق حقاني
باني مکتبة القرائت والتجوید

مکتبة القرائت والتجوید

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

اَلحَمدُ لِلّٰهِ رَبِّ العٰلَمِينَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ المُرسَلِينَ وَعَلٰى آلِهٖ وَصَحۡبِهٖ اَجۡمَعِينَ.

دروښ وايي: چې شروع د سورة يٰسٓ مبارک پر (١٥) للشهر المبارک رمضان يوم الاربعا سنه (١٤٣١) هـ ق قرار يافت.

اَللّٰهُمَّ كَمَا رَتَّبۡتَنِي اِفۡتِتَاحُهٗ فَوَفِّقۡنِي لِاِخۡتِتَامِهٖ وَاَرِنِي بِالۡخَيۡرِ وَالصِّحَّةِ وَالسَّلَامَةِ وَالۡفَرَحِ وَالسُّرُوۡرِ. رَاحَةِ الۡقَلَمِ وَالۡاَصَابِعِ عَنۡ تَعَبِ كِتَابَتِهٖ اِنَّكَ يَا اَللّٰه عَلٰى كُلِّ شَيۡءٍ قَدِيۡرٌ وَعَلَيۡكَ تَوَكَّلۡتُ وَاِلَيۡكَ الۡمَصِيۡرُ. وَاِنَّكَ يَا مَوۡلَايَ بِالۡاِجَابَةِ جَدِيۡرٌ.

ابيات

هغه ورځ زما د ژوند به لويه خوشحالي وي
چې قلم زما پر والناس باندي راهي وي

سرمايه زما د عمر دا تفسير دی
که مي وليدی اخير د خدای ﷻ تقدير دی

سُوۡرَةُ يٰسٓ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ ثَلٰثٌ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ثَمَانُوۡنَ اٰيَةً وَخَمۡسُ رُكُوۡعَاتٍ

فوائد هذه السورة المباركة: ددې سورت مبارک يو نوم (معمه) پر صيغه د اسم فاعل دی لکه چې ابن مردويه او خطيب بغدادي او بيهقي رحمهم الله له ابو بکر الصديق رضي الله عنه څخه روايت کړی دی، عن النبی ﷺ انه قال يٰسٓ تدعى معمة تعم صاحبها خير الدارين (يٰسٓ بلل کېږي معمه، تعم يعني چې عام دی صاحب ته دی يعني چې وظيفه يې کوي يا دائمًا يا على الاكثر، خير د دنيا او آخرت) وتسمى الدافعة لانها تدفع عن صاحبها كل سوء (او يو نوم يې دافعه دی يعني لېرې کوي هر غم او مرض او فقر وغير ذالک) وتسمى القاضية، لانها تقضى كل حاجة (او يو نوم يې قاضيه دی يعني هر حاجت چې ځوک لري په برکت د ددې مبارک سورت پوره کېږي)

دروښ وايي: چې په صحيح روايت د امام احمد، ابو داؤد، نسائي، ابن ماجه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او طبراني رحمه الله له معقل بن يسار رضي الله عنه څخه چې عليه الصلوة والسلام وويل: يٰسٓ قلب القرآن، او دا هم يو نوم له نومانو څخه ددې سورت دی، حجة الاسلام ابو حامد محمد الغزالي رحمه الله ددې تسميه وجه داسي بيان کړې ده چې مدار د دين اسلام ايمان دی بالله (يعني بتوحيده) او صحت د ايمان په اقرار سره دی په حشر او نشر سره، او دا امور په سورت يٰسٓ کي په ابلغه وجه بيان سوي دي، نو ځکه دا سورت مشابه کړل سو د زړه سره په بدن کي د انسان چې زړه مدار د صحت د بدن دی، او دا توجيه د امام غزالي رح امام رازي رح په تفسير کي مختاره کړې ده، او ابو نصر السجزي رح في کتابه الابانة وحسنه (او دا حديث يې حسن بللی دی) عن عائشة رضي الله عنها، قالت قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ان في القرآن سورة تدعى العظيمة (يعني په دې نامه يادېږي) لعظمتها عند الله (او صاحب ته د دې سورت عند الله ويل کېږي) يشفع صاحبها (يعني چې دا سورت يې ورد ګرځولی وي د هغه به شفاعت خدای پاک قبلوي تر اکثر د ربيعه او مضر (چې د عربو د دوو قومو نومان دي) او په صحيح اخبار کي راغلي دي چې دا سورت مبارک دي د مړو د قبرو سره وايي، او د چا چې زکندن وي د هغه په مخ کي دې هم وايي، وصح من حديث معقل بن يسار رض لايقرئها عبد يريد الله (ای رضاء الله) والدار الآخرة (يعني دفع د عذاب د آخرت) الا غفر له ماتقدم من ذنبه، او ترمذي او دارمي له انس رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې عليه الصلوة والسلام وويل: من قرء سورة يٰسٓ كتب الله له بقرائتها قرائت القرآن (ای ثوابها) عشر مرات.

پوښتنه: هر وار چې سړی قرآن ووايي خو سورت يٰسٓ پکښې ويل کېږي، نو په دې حديث کي به تفضيل د شي پر ځان باندې لس واره نه وي؟

ځواب: مراد په دې حديث کي دادی چې په هغو لسو وارو کي سورت يٰسٓ نه ورسره ووايي، ونظيره في القرآن لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ اَلْفِ شَهْرٍ الآية، نو هورې خو هم په زړو مياشتو کي ډېر وارونه ليلة القدر راځي، نو هورې هم علماء وايي چې يوه ليلة القدر تر زړو مياشتو بالا ده چې په هغو کي ليلة القدر نه وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او بل ځواب دادی چي په تفضیل کي پر خپل ځان تغایر اعتباري هم کافي دی فان سورة يٰسٓ من حيث تلاوتها مفردة غير قرائتها في جملة القرآن، دا محاوره د عربو تائید د تغایر اعتباري کوي، دوی وایي: الحسناء في الحلة الحمراء احسن منها في الحلة البيضاء (ښائسته ښځه په سرو کالو ښه ایسي تر سپینو کالو) ابو نعیم ؒ په دلائل کي له ابن عباس ؓ څخه روایت کړی دی چي عليه الصلوة والسلام يقرء في المسجد (اى المسجد الحرام حين كونه في مكة) فيجهر بالقرائة حتى تاذى به ناس من قريش (يعني المشركون منهم) نو يو څو کسان د قریشو ور ولاړ سول چي عليه الصلوة والسلام ونسي يعني چي قرائت په زوره مه وایه، دستي ددوی لاسونه تر زنو لاندي بند سول او په سترګو هم ړانده سوه، فجاؤا الى النبي ﷺ او وه يې ویل ننشدک بالله والرحم يا محمد، يعني چي زمونږ لاسونه له غاړو څخه راخلاص کړه او سترګې مو بناء کړه يعني دعاء راته وکړه، عليه الصلوة والسلام دعاء ورته وکړه حتى ذهب عنهم ذالک يعني لاسونه يې هم ايله سوه او سترګې يې هم بناء سوې، فنزلت يٰسٓ الى قوله تعالى: اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ، نو له هغو کسانو څخه يو لاهم مسلمان نه سو، فقير وايي: وفي نقل الحديث اختصار قليل.

يٰسٓ ①

دروېش وایي: چي د اکثرو مفسرینو ؒ مذهب دادی چي يٰسٓ له حروف مقطعه قرآینه وو څخه دی لکه الٓمٓ وغیره اختلافًا واعرابًا.

دروېش وایي: چي صحیح مذهب په حروف مقطعات قرآنیه وو کي چي مذهب د حنیفیه ؒ هم دی چي خدای ؒ هیڅ چا ته لاړ نه ده ورکړې د ادارک د معانیو د مقطعاتو في اوائل السور وقالوا ان الله متفرد بعلمها، ونحن نؤمن بما اراد الله تعالى بذالک ونؤمن بانها من القرآن، او سپارل د علم د هغو و خدای ﷻ ته او مونږ يې قرائت تعبدًا وامتثالاً لامر، فاقرؤا ما تيسر من القرآن، او بعض مفسرين وايي: حروف مقطعة سرٌ بين الله ورسوله، واخرج ابن ابى شيبة وعبد بن حميد وابن جرير وابن المنذر وابن ابى حاتم عن طرق عن ابن عباس ؓ چي د يٰسٓ يا انسان في رواية بالحبشة وفي رواية في لغة طي، او مراد د انسان پر دغه تقدير اجماعًا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محمد ﷺ دی، نو اصل يې يا انيسين چې تصغير د انسان دی لکن لپاره د تعظيم کما ثبت في محله ان التصغير قد يجئ للتعظيم وقد يجئ للتحقير، نو يا خو حرف نداء ده او د انيسين نصف راوړی چې سين دی لکثرة النداء به کما في قولهم في اقسم بالله ايمن الله وهذا قول الحسن وسعيد بن جبير وجماعة رح، او ابو بکر الوراق وايي معنی د يٰسٓ يا سيد البشر ده، او ابن حنيفيه وايي چې معنی يې يا محمد (ﷺ) ده، ولي چې وروسته يې مخاطب دی ګرځولی دی يعني (انک لمن المرسلين) او په يوه حديث کې چې روح البيان راوړی دی لکن راوي يې نه دی معلوم راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام وويل ان الله سماه بسبعة اسماء. محمد و احمد وطٰهٰ ويٰسٓ والمزمل والمدثر وعبد الله ﷺ سبعة مرات، حسين کاشفي رح په تفسير حسيني کې وايي: حقيقت آنست که عرف عرب ان که از کلمه بحر فی تعبير ميکنند کما في قول الشاعر: ع.. فقلت لها قفی فقالت قاف ای وقفت، پس می باشد که يا برائ ندا باشد وسن اشاره بکلمة سيد البشر او يا سيد الاولين والآخرين باشد. کما جاء في الحديث الصحيح انا سيد ولد آدم ولا فخر، وقال الشيخ ابن نور الدين رح في بعض وارادته ای کشفياته او مناماته سألت رسول الله ﷺ عن اسرار المتشابهات من الحروف فقال هی من اسرار المحبة بيني وبين الله فقلت هل يعرفها احد فقال ولا يعرفها جدي ابراهيم.

وَالْقُرْاٰنِ الْحَكِيْمِ ۙ﴿٢﴾

پوه سه: چې يٰسٓ چې له حروف مقطعه ؤ څخه سي کما هو المختار لاکثر المفسرين، نو والقرآن لپاره د قسم دی، يعني قسم دی په هغه قرآن چې محکم دی په عجب نظم چې په اعلی درجه کې د فصاحت او بلاغت دی او په بديع المعاني سره چې دلائل بينه دي پر حقيقت د دين اسلام او نبوت د نبي ﷺ، ولي چې په قرآن مجيد کې قصې د تيرو امتو د ټپلو انبيا و امثال عجيبه وحکايات صادقه وغيرها مما لا يمکن احاطة انطاق البيان عليهما. ولهذا فصحاء عدنان وبلغاء قحطان عجزوا عن الاتيان بمثل اقصر سورة منه (فالقرآن) نفسه معجزة ظاهرة بينة عادلة علی ان القرآن من عند الله وان محمداً رسول الله، ولهذا اورد الله في جواب القسم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّكَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ۙ﴿٣﴾

په تحقيق ته يا محمد (ﷺ) د خداى ﷻ د رسولانو له ډلې څخه يې علی رغم انف المشرکين.

دروښ وايي: چې په مطول کې بلکې په تولو کتابو کې د معانيو وايي چې يو اخبار چې څوک و چاته ووايي يا به يې غرض افاده د حکم وي يعنې چې متکلم مخاطب خبر کړي په هغه حکم چې مدلول د خبر وي، لکه يو سړی چې بل سړي ته ووايي چې زيد خو له حجه راغلی دی، چې مخاطب نه وي په خبر، يا لازم د فائدې يعنې مخاطب خو په حکم خبر وي بيا هم ته اخبار په هغه حکم ورته کوې يعنې متکلم دا ورته وربښيي چې زه هم په دې حکم خبر وم، چې دې ته په اصطلاح د علم المعاني لازم فائدة الخبر وايي، کقولک لمن حفظ القرآن قد حفظت القرآن په دې خبره خو مخاطب خبر دی چې زما قرآن په ياد دی، ستا په دې کې صرف غرض دا وي چې زه ستا په حفظ القرآن خبر يم، اذا علمت هذا القانون، نو دلته دا سوال پيدا کېږي چې په دغه آيت کې يعنې (انک لمن المرسلين) څه فائده ده، ولې کفار مکه خو له قرآن څخه منکر دي او له رسالت څخه د عليه الصلوة والسلام هم منکر دي، نو دوی ته په دې اخبار څه فائده ده، او لازم د فائدة الخبر خو بديهي ده په افاده کې څه فائده؟ ددې ځواب دادی چې په دې اخبار کې اعلان و کفارو ته دی او رد د دانکار ددوی دی چې دوی به عليه الصلوة والسلام ته ويل لست مرسلاً، په انسان العيون کې وايي چې له خواصو څخه د عليه الصلوة والسلام ده چې خداى ﷻ قسم دده پر رسالت واخستی بقوله: والقرآن الحکيم انک لمن المرسلين.

عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ؕ﴿٤﴾

پر سمه لاريې، چې واصل و رضا ته د خداى ﷻ ده او و جنت ته په آخرت کې.

پوه سه: چې دا خبر آخر د ان دی، واختاره الزجاج ؒ قائلاً انه الاحسن في العربية، او يا علی صراط متعلق دی په المرسلين پورې، نو يې معنی داده: لمن الذين ارسلوا علی صراط مستقيم، يعنې د تولو رسولانو يوه لاره سمه چې توحيد دی، او استقامت پر امورو د دين دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: صراط مستقیم د انک لمن المرسلین څخه وفهمېده، ولي چې د رسولانو لار خو وي مستقیمه، نو په صراط مستقیم کې څه فائده ده؟

ځواب: فائده یې تصریح ده په وصف سره د شرع په استقامت سره او د انک لمن المرسلین څخه التزامًا استقامت فهمېدی.

تَنْزِيْلَ الْعَزِيْزِ الرَّحِيْمِ ۝۵

پوه سه: چې حفص، ابن عامر، حمزة او کسائي رحمهم الله تنزیل په نصب سره وایي یا اعني ورسره محذوف دی، نو بیان د صراط مستقیم دی یا په تقدیر د فعل د دغه مصدر، تقدیره نزل ای القرآن تنزیل العزیز ای الغالب في ملکه الرحیم بخلقه، نو ځکه یې کتاب نازل کړی او رسول یې هم راواستاوه فحذف الفعل واقیم المصدر مقامه، او نور قاریان یې په رفع سره وایي خبر د مبتداء محذوف یې بولي، ای القرآن تنزیل آه.

لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اُنْذِرَ اٰبَآؤُهُمْ فَهُمْ غٰفِلُوْنَ ۝۶

چې ته وېرووې هغه قوم یعني له عذابه څخه د خدای رحمه الله، حرف جر متعلق دی په تنزیل پورې یا په معنی پورې د المرسلین، کلمه د ما نافیه ده او (ما انذر آه) جمله صفت ده د لقوم یعني چې ته وېرووې هغه قوم چې نه دي ېپرول سوی پلرونه او نیکه ګان د دوی، ولي چې په مکه کې وروسته تر اسماعیل علیه السلام بل نبي نه دی راغلی، نو دوی و رسول ته ډېر محتاج دي.

سوال: تا وویل چې اهل مکه ته وروسته تر اسماعیل علیه السلام بل نبي نه دی راغلی او په آیت کې خو ما انذر آه راغلی دی او انذار خو په دوی پورې نه دی خاص فیجوز ان قد انذرهم من لیس بنبي کزید بن عمرو بن نفیل وقیس بن ساعدة چې انذار د اهل مکه یې د شرک کاوه مګر انبیاء نه وه؟

ځواب: د آیت معنی داده ما انذر آبائهم رسول منذر واما مطلق الانذار فلم ینقطع په دې ځواب سره هغه سوال هم دفعه سو چې د دې آیت او د هغه آیت (وان من امة الا خلا فیه نذیر) منافات دی، ولي چې په دې آیت کې نفي د انذار ابائهم راغلي دي، او هغه بل آیت اثبات دی د نذیر و هر امت ته، وحاصل الجواب چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مراد په آیت مراد نفي د انذار دی د نبي د خولې څخه او هغه بل آیت اثبات د مطلق انذار دی و هر امت ته، ولا منافات بين نفي الخاص واثبات العام كما لايخفى على اولى النهى فافهم. (فهم غافلون) نو دوی پر غفلت او جهالت دي، نو دوی اشد احتیاج لري وارسال ته د رسول فلهذا ارسل محمد ﷺ ودوی ته.

دروښ وايي: چې علامه بغدادي ؒ په روح المعاني کي او علامه البرسوي ؒ په روح البيان کي او علامه ثناء الله ؒ په تفسير مظهري کي دا احتمال په دې آیت کي هم راوړی دی چې کلمه د "ما" په ما انذر آه کي دي موصوله يا موصوفه وي او عائد دې محذوف وي، والتقدير ءلتنذر قومًا بالذي (که ما موصوله سي) او بشئ انذر که ما موصوفه سي) به (دا عائد محذوف دی راجع دی و ما ته که موصوله وي او که موصوفه وي) آبائهم الابعدون (يعني في زمان اسماعيل ؑ ومن بعده الى زمن وقوع عبادة الاصنام في اهل مكة) و يا ما مصدريه دی، والتقدير لتنذر قومًا انذار ابائهم اى مثل انذار آبائهم (اى الابعدون في زمن اسماعيل ؑ وزمن بعده، وعلى هذه الوجوه الثلثة (اى كون كلمة ما موصولة او موصوفة چې عائد محذوف ته ضرورت لري كمامر، او يا مصدريه سي چې عائد ته ضرورت نه لري، البته لفظ د مثل محذوف دی) قوله تعالى فهم غافلون متعلق دی بقوله تعالى انک لمن المرسلين اى ارسلناک الى اهل مكة لتنذرهم فهم اى اهل مكة غافلون من انذار اسماعيل ؑ لمرور ازمنة طويلة عليهم بعد اسماعيل ؑ حتى ظهر فيهم عبادة الاصنام فافهم.

لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ عَلٰٓى اَكْثَرِهِمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝۷

اللام للقسم اى و الله په تحقيق ثابت سوی دی قول پر اکثر، تخصيص د اکثريې وکړی له دې سببه چې ددوی يعني اهل مکه لکه خالد بن سنان او ورقه بن نوفل واتباعهما كانوا في دين ابراهيم و اسماعيل عليهما السلام. (فهم لايؤمنون) دغه اکثره ايمان نه راوړي.

اِنَّا جَعَلْنَا فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ اَغْلٰلًا

موږ ګرځولي په غاړو کي ددوی، اغلالاً جمع د غل ده چې لاس وغاړي ته په تړل کيږي، بغوي ؒ وايي چې دا آیت په شان کي د ابو جهل او دده د ملګرو چې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بني مخذوم د قبيلې وه چې دوی دا قسم اخستی ؤ چې که موږ محمد (ﷺ) وليدی چې په حرم کې يې لمونځ کاوه، ابو جهل خو دا وويل چې زه به دی په دغه ډبره چې دده په لاس کې وه دی به پر دا ککړی په ولم، نو ابوجهل وليدی چې عليه الصلوة والسلام پر لمانځه ولاړ ؤ او قرائت يې په جهر سره وايه، ابو جهل چې ډبره پورته کړه چې عليه الصلوة والسلام وولي لاس يې پورته سو دده غاړې ته او ډبره يې په لاس پورې چسپه ومنښتل لکه غل، ابوجهل ناکامه ډبره په لاس پورې منښتې ترغاړې لاندې راغلی هغه دوو مخزومیانو ته صورت حال چې يې ورته بيان کړی ډبره ايله سوه، مخزومي ولاړ سو ډبره يې واخستل چې زه به هم په دغه ډبره محمد قتل کوم، دی چې راغلی او عليه الصلوة والسلام يې پر لمانځه ولاړ هم وليدی، نو ده چې په ډبره ويشتی په سترګو ړوند سو، نو د عليه الصلوة والسلام د قرائت اواز يې اورېدی او په سترګو يې نه ليدی، نو دغه مخزومي چې ابوجهل او هغه بل مخزومي ته راغلی هغه يې هم نه ليدل حتی چې هغو ورنارې کړې چې څه دي وکړه؟ هغه ورته وويل چې ما يې اواز اورېدی او په سترګو مي نه ليدی، او ده زياته کړه چې زما او د محمد (ﷺ) ترمنځ يو شی پيدا سو لکه مينده د حيوان چې لکۍ يې پورته او کښته کوله، که زه ور نژدې سوی وای زه به هغه حيوان خوړلی وای، نو دا آيت نازل سو چې اول يې تېر سو او اخير دادی.

فَهِيَ إِلَى الْأَذْقَانِ فَهُمْ مُّقْمَحُونَ ﴿٨﴾

نو هغه اغلال اصل يې داسي ؤ الى اذقانهم چې دوی يې نه پرېښوول چې سرونه کښته کړي، او بغوي ؒ وايي چې ضمير د هي راجع دی و ايدي ته.

سوال: د ايدي لفظ خو د مخه نه دی ذکر سوی، نو اضمار قبل الذکر به نه وي؟

ځواب: لا ولي لفظ د اغلال دلالت پر کوي لان الغُل ما يجمع اليد الى العنق.

پوښتنه: په شان نزول کې خو غل يواځي د ابوجهل په غاړه کې ډبره سول، لکن په دې آيت کې لفظ د اذقان يې جمع راوړی؟

ځواب: نعم لکن عرب فعل د يوه و ډېرو کسانو ته کوي نحو بنوا فلان قتلوا لرضاء الکل بفعل ذالک الواحد وههنا کک فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي په (فهم مقمحون) کي فاء لپاره د سببیت ده ماقبل الفاء یعني فهي الی الاذقان لما بعدها اعني مقمحون فان الاغلال الی الاذقان سبب للاقحام، یعني سرونه یې پورته نیولي وه ستر کې یې کښته اچولي وې، وهیڅ شي ته یې مخ نه سوای اړولای.

پوه سه: چي بیهقي په دلائل النبوة کي په اسناد متصل تر ابن عباس رضي الله عنه پوري داسي حدیث روایت کړی دی چي بعض د بني مخزوم د قبیلې دا اتفاق یې سره وکړی د نبي کریم ﷺ د وژلو په باره کي چي ابو جهل او ولید بن مغیرة هم پکښې شامل وه، نو یوه ورځ یا شپه علیه الصلوة والسلام په حرم محترم کي پر لمانځه ولاړ وؤ او قرائت یې هم په جهر وایه چي دوی یې قرائت هم اورېدی، نو دوی ولید بن مغیره ته وویل چي ورسه قتل یې کړه، نو ولید هم هغه ځای ته ورغلی، نو ده قرائت هم اورېدی او علیه الصلوة والسلام یې نه لیدی خو بیرته ملګرو ته راغلی او ماجرې یې ورته ذکر کړه، نو ټوله راولاړ سول فلما انتهوا الی المکان الذي یصلی فیه سمعوا قرائته نو دوی پر اواز ور روان وه، ولي لیدی خو یې نه، ناګاه اواز د دوی ترشا سو بیا به دوی د اواز پر خوا ور روان سوه بیا به یې اواز د شا د خوا واورېدی، اخیر مجبوره ناکامه را روان سول، دا تفسیر او مراد د دې آیت دی.

وَجَعَلْنَا مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ سَدًّا وَّمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَاَغْشَيْنٰهُمْ فَهُمْ لَا يُبْصِرُوْنَ ۝

موږ وګرځاوه له منځ څخه د مخ د دوی سد یعني چي دوی علیه الصلوة والسلام نه لیدی، مراد له سد څخه سد د قدرت د خدای ﷻ دی، او د شا د خوا هم سد یعني دوی به په صوت پسي د علیه الصلوة والسلام تر شا راتله، نو موږ دوی پاته کړه یعني له لیدلو څخه د علیه الصلوة والسلام که څه هم ظاهراً خو پاته وه نه وه دې واقعي د مخه، نو دوی نه لیدی یعني علیه الصلوة والسلام یا هیڅ شی په دغه حال کي چي اراده د قتل د علیه الصلوة والسلام یې درلود ل.

دروښ وایي: چي روح المعاني، روح البیان او مظهري دغه تفسیر چي په پښتو ژباړه تاسي ته بیان سو ټولو راوړی دی او مناسب د حال د متعلمانو د تفسیر ایوبي سره هم دغه تفسیر دی چي عام الفهم تفسیر دی، او دوی درې سره دا هم وایي چي انا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جعلنا في اعناقهم تر دې ځايه پورې بيان د مشرکانو د مکې دی بلکې د نفس کافرانو دی په آخرت کې.

سوال: جعلنا دوه ځايه چې راغلی دی او اغشينا يو ځای چې په دې آيت کې راغلی دی په صيغه د ماضي دی او احوال د آخرت مستقبل دی؟

ځواب: هو! صيغې خو د ماضي دي لکن د آخرت احوال په اعتبار د دې دي چې حسب موعود الله خامخا متحقق دي نو دا احوال متيقن دي لکه ماضي کلمات فلهذا عبر عنهما بالماضي.

درويش وايي: چې د دې تفسير فهم اسان دی، ولي چې تنزيل د امر مستقبل بمنزلة الماضي كثير في العربية والقرآن، لکن يو بل تفسير چې دې درې سرو تفاسيرو راوړی دی، بعض په دې هر طويل بيان سره لکه روح المعاني او روح البيان او بعضو په لنډ ګران تفسير او بيان سره راوړی دی، لکه مظهري هغه تفسير دا دی چې دا آيتونه محمول دي پر تمثيل د حال د کافرانو په ورځ د قيامت کې، دوی وايي چې نه په دې دنيا کې غُل سته او نه سد سته نه فهم مقحمون سته، بلکې اراد الله سبحانه انا منعناهم عن الايمان بموانع اختيارية لهم فجعل الاغلال والسد مثلاً لتلک الموانع فهو تقرير وتثبيتهم على الكفر والطغيان والطبع على قلوبهم بحيث لا ينفعهم الآيات والنذر ومثلهم بالذين غلت اعناقهم الى الاذقان فهم مقمحون وبالذين بينهم السد وبين مايريدون رؤيته في انهم لايلتفتون الى الحق ولا يعطفون اعناقهم نحوه، ولا يطاء طؤن رؤسهم له ولو طاء طئو رؤسهم فرضًا يمنعهم السد عن الابصار فهم لايبصرون سبيل الهدى.

درويش وايي: چې وهذا اقصر التقارير الواردة في بيان ان حا في الآية تمثيلاً.

وَسَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ⑩

برابره ده پر دوی که ته وبېروې او که نه وبېروې ايمان نه راوړي.

ترکيب: د دې عبارت قرآني ءانذرتهم ام لم تنذرهم مبتداء ده، سواء عليهم خبر دی.

سوال: دا دوې جملې خو جمله فعليه دي او استفهام هم ورسره دی، نو څرنګه جمله فعليه مبتداء واقع کېدای سي؟

ځواب: معنی د دې دوو جملو داده انذارک وعدم انذارک سواء، يعني په معنی د مصدر مضاف الى الفاعل دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: مبتداء خو دوه شيه ده يعني انذارک وعدم انذارک او سواء خو مفرد دی؟

ځواب: سواء مصدر دی مفرد او تثنيه او جمع پکښې برابر دي.

سوال: په آيت کي حرف استفهام سته يعني همزه او ام، او په مذکور تقرير کي يعني انذارک وعدم انذارک سواء، هيڅ د استفهام معنی نسته؟

ځواب: حرف الاستفهام منسلخ دی د معنی ځخه د استفهام بتجريد هما عنه (ای عن الاستفهام) لمجرد الاستواء.

سوال: تأويل د فعل په مصدر سره خو حرف مصدري غواړي لکه ان مصدري وهو مفقود ههنا فکيف يصح تأويله بقوله يعني انذارک آه؟

ځواب: قاضي بيضاوي ؒ وايي چې ګاهي فعل ښله حرف مصدري په معنی د مصدر راځي، واستدل بقول الشاعر: مصرع:.. تسمع بالمعيدی خير من ان تراه، حيث وقع بغير الحرف المصدری مبتداء، ای سماعک بالمعيدی، وخير خبره.

دروېش وايي: ولهذا المصرع قصة طويلة مذکورة في حواشي البيضاوي وغيرها.

إِنَّمَا تُنْذِرُ مَنِ اتَّبَعَ الذِّكْرَ وَخَشِيَ الرَّحْمٰنَ بِالْغَيْبِ ۚ

ته پيرولای سې يعني داسي پيرول چې فائده پر مرتبه سي، فلايرد ان رسول الله ﷺ کان ينذر غير هؤلاء المذکورين في الآية فکيف يصح حصر الانذار کما هو معنی انما علی المذکورين في الآية، وجه عدم الايراد چې محصور پر مذکورينو په آيت کي هغه انذار دی چې فائده پر مرتب وي (من اتبع الذکر) چې متابعت د ذکر يعني د قرآن کوي بالتأمل في معانيه وبلاغته والعمل به، ولايکون کمن قيل في شانه شعر: تروم العز ثم تنام ليلاً ... يغوص البحر من طلب اللآلي

(وخشي الرحمن) يعني د خداى ﷻ له عقابه پيرېږي.

فائده: داسي يې نه وويل وخشي المنتقم للدلالة ان الخشية مع ملاحظة صفت الرحمة فيه تعالی کمال الخشية وعين الايمان (بالغيب) حال دی له فاعل ځخه د خشي يعني عن عذابه ای قبل ان يعاينه کما في يوم القيامة، ولي هغه خشية خو فائده نه کوي، او يا معنی داده غائبًا عن الناس في خلوته يعني چې منافق نه وي او نه ريا کاره، کما قيل:

واعظان که این جلوه در منبر ومحراب میکنند
چون بخلوت میروند آن کاری دیگران میکنند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَبَشِّرْهُ بِمَغْفِرَةٍ وَّاَجْرٍ كَرِيْمٍ ﴿۱۱﴾

ته زېرى وكړه دوى ته په مغفرت د خداى ﷻ د بعض ګنهو، او مراد له اجر كريم څخه يعني اجر حسن څخه جنت دى.

فائده: تنوين دواړه ځايه لپاره د تعظيم دي.

اِنَّا نَحْنُ نُحْيِ الْمَوْتٰى وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوْا وَاٰثَارَهُمْ ؕ

په تحقيق موږ ژوندي كوو مړي (يعني په ورځ د قيامت يا ژوندى كوو جاهل په علم سره يا ضال په هدايت سره) او موږ نوشته كوو چې دوى دمخه يعني په دنيا كې كوم شيه كارونه چې يې كړي او د هغو ښوو عملو اثار حسنه، لكه يو سړي چې تعليم كوم شيه كارونه چې يې كړي او د هغو ښوو عملو اثار حسنه، لكه يو سړي چې تعليم يې وچاته كړى وي، او د علم دين كتاب يې تصنيف كړى وي، او مسجد يې جوړ كړى وي، يا د سنت حسنه تأسيس يې كړى وي لكه يو مدرسه وعلى هذا القياس سنت سيئة كاشاعة باطل، وتأسيس ظلم وتائيد كفر، لكه په افغانستان كې چې دا اوس تائيد د امريكا يانو د افغانستان اكثره كسان كوي ترسنه (۱۴۳۱)هـ ق پورې.

قال النبي ﷺ من سن في الاسلام سنة حسنة يعمل بها من بعده فله اجرها ومثل اجر من عمل بها من غير ان ينقص من اجورهم شيئ (اى اجور العاملين بتلك الحسنة) ومن سن في الاسلام سنة سيئة يعمل بها من بعده (لكه شراب خانه يا د قمار وغير ذالك څايونه) فله وزرها و وزر من عمل بها من غير ان ينقص من اوزارهم شيئ، رواه مسلم، وفي الحديث الصحيح الذي رواه البخاري عليه الصلوة والسلام وايي: چې هر څومره قتلونه يعني ناحقه چې په اسلام كې كېږي پر ابن اول د آدم ؑ يعني قابيل د هغه قتل عذاب سته، لانه اول من سنى القتل ظلمًا، او بعض مفسرين وايي چې مراد له اثارو څخه په دې آيت كې خطائهم (ګامونه د دوى دي) الى المساجد، عن ابى موسى الاشعري ؓ قال قال رسول الله ﷺ اعظم الناس اجرًا في الصلوة ابعدهم فابعدهم مشيا (يعني په لار كې هر څو لېرې وي ثواب يې د هغو دى. الحديث متفق عليه) او د جابر بن عبد الله ؓ روايت دى چې شاوخوا سرايونه نژدې و مسجد نبوي ته خالي سوه (يعني يهودان پكښې اوسېدل هغه ولاړل) نو د بنو سلمه چې كورونه يې د مسجد نبوي څخه لېرې وه اراده يې وكړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې دغو نژدې سرايو ته راکډه سي، نو دا خبره يو چا و عليه الصلوة والسلام ته ورسول، عليه الصلوة والسلام دوی راوغوښتل چې تاسي رشتيا دا اراده لرئ چې دې نژدې کورو ته رانقل سئ. هغو ورته وويل نعم. يا رسول الله قد اردنا ذالک، فقال "يا بني سلمة ديارکم (ای الزموا ديارکم) تکتب اثارکم، دوه واره مکرر يې ورته وويل (رواه مسلم) وروی البغوي "عن انس "انحوه.

درويش وايي: چې روح المعاني وايي چې ددې احاديثو دا معنی نه ده چې په دې آيت کې فقط دغه خطأ المساجد مراد دي، بلکې مراد له دې احاديثو دادی چې په اثارهم کې خطأ المساجد هم داخل دي وان کان الآية شاملاً لغيرها کما مر عنقريب، نو چا چې دغه حديث دليل ددې گرځولی دی چې آيت مدني دی ولي قصه د بني سلمة خو په مدينه منوره کې پېښه سوې ده، دا استدلال يې غلط دی، ولي چې مورد آنفًا وويل چې دا احاديث مبارکه ؤ دا معنی نه ده چې دا آيت په کثرت الخطأ الی المساجد کې نازل سوی يعني چې مدني سي، بلکې آيت مکي دی او په مامر موضوعاتو کې نازل دی، د حديثو معنی دا ده چې اثارهم محمول پر معنی عام دی چې کثرت الخطاء يې هم له افراد څخه فافهم والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب.

وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ فِي إِمَامٍ مُّبِينٍ ﴿١٢﴾

پوه سه: چې لفظ د کل منصوب علی شريطة التفسير دی، يعني د مخه تر کل شيئ احصينا مقدر دی، والاصل احصينا کل شيئ ثم حذف العامل المذکور وفسره بعده باحصيناه المذکور بعده.

درويش وايي: چې منصوب علی شريطة التفسير خو فرخه لمن لري په عربي لغت کې.

پوښتنه: ددې حذف او وروسته ييرته تفسير کول فائده يې څه ده؟

ځواب: علماء د نحوي وايي چې سړی چې مثلاً لفظ د کل منصوب وويني په عامل د نصب کې متفکر سي، وروسته چې يې تفسير وويني ډېر يې اضطراب دفع سي او اهل علم المعاني وايي چې هر علم چې وروسته تر طلب او انتظار حاصل سي هغه علم الذ (خوندور) وي واضبط (او ذهن يې ښه ټينګ ساتي) عارف جامي قدس سره وايي:

چه خوش باشد که بعد از انتظاری ..... با اميد رسد اميداوری

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(اَحْصَيْنَاهُ فِيْ اِمَامٍ مُّبِيْنٍ) هر شی موږ لیکلی دی په هغه کتاب کي چي شکاره کونکی د هر شي دی، یعني په دې کتاب کي نوشته دی چي مشهور نوم یې لوح محفوظ دی، چي د هغه نوشته تغیر او تبدیل نه لري.

وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا اَصْحٰبَ الْقَرْيَةِ ۘ اِذْ جَآءَهَا الْمُرْسَلُوْنَ ۝

او مثال بیان کړه یا محمد (ﷺ) و کفارو ته د مکې.

پوښتنه: د ضرب معنی په مثل سره له څه درکه ده؟

ځواب: دا ترجمه له دې محاورې څخه د عربو مأخوذ ده، دوی وایي هذه الاشیاء علی ضرب واحد ای مثال واحد.

پوه سه: چي واضرب آه یا عطف دی پر مجموع ماقبله من قبیل اعطف القصة علی القصة یا معطوف دی پر مقدر ای فانذرهم واضرب لهم آه.

فائده: روح المعاني او مظهري وایي چي اضرب متعدي دی و دوو مفعولو ته لتضمنه معنی الجعل، گویا داسي وویل سول اجعل لهم (ای للکفار مکة) (مثلاً) مفعول اول دی (اصحٰب القریة) مفعول ثاني دی.

پوه سه: چي له قریه څخه مراد انطاکیة، رواه الفریابي عن ابن عباس ؓ وابن ابی حاتم عن بریدة وعبد بن حمید وابن جریر وابن المنذر عن عکرمة، وفي البحر انها انطاکیة بلا خلاف، وحاصل المعنی قل یا محمد مثال حال اهل مکة مثال حال اهل انطاکیة (اذ جآءها) چي ورغله ودې قریې ته.

فائده: اذ جآئها بدل اشتمال دی من اصحاب القریة کما في قولهم اعجبني زید علمه وسلب زید ثوبه (المرسلون) یعني رسولان او استولي خلګ د عیسیٰ ؑ، البغوي ؒ وایي قال العلماء باحوال العلماء چي عیسیٰ ؑ اول وار واستول دوه کسه حواریین دده د مخلصینو اصحابو څخه وښار ته د انطاکیه (نو له صیغې څخه د جمع لغوي معنی مراد ده ای مافوق الواحد) نو دوی چي ښار ته ورننوتې سول یو سپین ږیری یې ولیدی چي پسونه یې پوول چي نوم یې حبیب ؤ، دوی چي سلام ورواچوه شیخ ورته وویل من انتما؟ تاسي څوک یاست، هغو ورته وویل رسولا لرسول الله یعني عیسیٰ ؑ چي هغه تاسي منع کوي له عبادت څخه د بتانو او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رابولي مو و عبادت ته د رحمٰن ﷻ، نو سپين ږيري شپانه ورته وويل چي تاسي يو دليل پر دغه دعوت لرئ؟ قالا نعم! نشفی المریض ونبرئ الاکمه والابرص باذن الله، يعني زمونږ په دعاء خداى ﷻ مريض جوړوي يعني هر ناجوړى چي وي، او زمونږ په دعاء خداى ﷻ مورزاده ړوند بناکوي، او د پس په مرض مبتلا جوړيږي.

دروښ وايي: چي ما چي ترجمه وکړه دا مي ښکاره کړى چي په نبرئ الاکمه والابرص ونشفی المریض کي اسناد مجازي دى و سبب ظاهري ته چي دعأ ده فافهم، شپانه ورته وويل: درځئ زما يو زوى دى دوه کاله کيږي چي مريض دى، هغو دوو رسولانو ورته وويل چي درځه چي موږ يې وګورو، نو سپين ږيري کورته بوتله، هغو چي مريض وليدى دعاء يې ورته وکړه او لاس يې پر تېر کړى، نو په حکم د خداى ﷻ مريض فوراً جوړ سو، تاريخ وايي رفته رفته په ښار کي دا خبر خپريدى او قسم قسم مريضان راوستل کيدل او ددوى پر لاس خداى پاک شفأ ورکول، نو ددوى په دعاء سره ډير مريضان خداى ﷻ جوړ کړه، نو د انطاکيه سلطان ته (چي نوم يې په قول د وهب ؒ انفطس وٗ من ملوک الروم يعبد الاصنام) دا خبر ورسيدى، نو دا دوه کسان رسولان يې ور وغوښتل او پوښتنه يې ځني وکړه چي تاسي څوک ياست؟ دوى ورته وويل رسولان د عيسٰى ؑ يو، باچا ورته وويل چي تاسي دلته زما پايتخت ته د څه غرض لپاره راغلي ياست؟ دوى ورته وويل چي موږ تا رابولو له عبادت څخه د هغه شيانو چي بتان دي چي نه اوري او نه ويني او نه يې په عبادت کولو کي نفع سته او نه يې په نه کولو کي د عبادت ضرر سته و هغه معبود بالحق ته چي هم سميع دى او هم بصير او هم ضار دى هم نافع دى و علی کل شیئ قدير، باچا ورته وويل چي تاسي وايا ست معبود سته غير زمونږ د معبود اتو څخه چي بتان دي؟ هغو ورته وويل نعم، هغو ورته ځياته کړه چي معبود بالحق هغه ذات دى چي ته او ستا خدايان يې پيدا کړي دي، باچا ورته وويل چي تاسي ولاړ سئ زما له دربار څخه زه بدستاسي په حال کي غور وکړم، دوى چي ولاړ سول سلطان عسکر په دوى پسي واستول چي په بازار کي يې مضبوطه ووهئ چي بيا دا خبري ونه کړي، خير عسکرو هم هغسي وکړه، او وهب بن منبه ؒ بيا دا قصه داسي بيان کړې ده چي عيسٰى ؑ چي دا دوه کسه انطاکيه ته واستول، نو دوى چي هورې ورغله سلطان ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د انطاکیه یې رسید ګي مشکل وه تاچې دوی تبلیغ ورته کړی وای، نو باچا یوه ورځ بازار ته سره د باډي ګاټانو (ساتندویانو) راوتلی ؤ، نو دې دوو کسانو په بلند اواز الله اکبر او کلمه توحید وویل چې باچا واورېدل، باچا ته درد ورغلی عسکرو ته یې امر وکړی چې دا دوه کسان ونسئ بندي خانې ته یې واستوئ او هر یوه دوه سوه دُرې ووهئ، نو عیسیٰ علیه السلام چې خبر د ضرب و کوب او بندي کولو د هغه دوو کسانو واورېدی، نو رئیس الحواریین شمعون الصفا ریې ورپسې راواستاوه چې د دوی د خلاصون په باره کې کوشش وکړي، نو شمعون بیا رته د انطاکیه داخل سو ځان یې دیو ساده سړي پرډول کړځولی ؤ نو د باچا د باډي ګاټانو او خپلوانو سره یې کرار کرار ځان شناخته کړی چونکه شمعون ډېر پوه سړی او په خبرو کې هم ډېر چالاک او فهمیده سړی ؤ، نو د باچا د خپلوانو دده سره ډېر انس او الفت پیدا سو، نو د باچا خپلوانو د شمعون د هوښیاری او د عقلمندی خبر سلطان ته بیان کړی، نو سلطان دی خپل مجلس ته وغوښتی، باچا چې د شمعون خبرې واورېدې د هغه ډېر الفت ورسره پیدا سو، شمعون د بت پرستی او د توحید په باره کې د سلطان سره هیڅ ګفت و شنید نه ورسره کاوه فقط د سیاسة السلطنة او د رعیت پروری په باره کې بحث ورسره کاوه د باچا په عقیده ډېر حق ګویه سړی معلوم سو، او دی یې ډېر نازاوه او په احترام یې ورته کتل، او مکلف یې کړی چې ته به هره ورځ دربار ته راځې، رفته رفته ورځ په ورځ د ملک په زړه کې محبت د شمعون زیاتېدی، نو یوه ورځ یې و باچا ته وویل چې زه خبر سوم چې تاسي دوه کسان بندیان کړي دي او په درو مو هم وهلي دي چې تا ته یې دعوت د بل دین یعنې توحید المعبود درکړی ؤ، باچا ورته وویل نعم، نو شمعون ورته وویل چې تا خبرې ورسره وکړې او د دوی مطلب دي واورېدی چې دوی څه ویل، ملک وویل چې یا ما خبرې نه دي ورسره کړې خو دوی په بازار کې د الله اکبر نارې وهلې ما ته ډېر درد راغلی هیڅ پوښتنه مې نه ده ځنې کړې بلکې فوراً مې حکم د جلد او بند صادر کړی، شمعون ورته وویل چې که د باچا خوښ وي چې راغوښتې مو وایي چې دوی څه وایي خبرې به مو اورېدلې وای، ملک فوراً د بندي خانې هغه بندیان راوغوښتل، بندیان چې راغلل نو شمعون ورته وویل چې تاسي له کومه راغلي یاست او چا راستولي یاست؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوی ورته وویل: الله الذی خلق کل شیئ ولیس له شریک، شمعون ورته وویل چي تاسي ستاسي د خدای ﷻ بیان راته وکړئ او ډېر صاف بیان اوپه عین حال کي ډېر کوتاه، نو هغو دوو چي په حقیقت کي خو دوی سره پېژندل چي زموږ خدای ﷻ یفعل ویحکم مایرید، او زموږ خدای زموږ په دعاء مورزاده ږوند جوړوي.

سوال معترض: شمعون چي هغه دوو خلګو ته وویل چي تاسي چا را استولي یاست دوی ورته وویل الله الذی آه دا به درواغ نه وي، ولي چي دوی خو عیسیٰ ؑ را استولي وه، او که څرنګه؟

ځواب: عیسیٰ ؑ خو په امر د خدای ﷻ را استولي وه کما یدل علیه قوله تعالی اذ ارسلنا الیهم اثنین آه، حیث اسند الارسال الی نفسه، نو رسول د رسول الله په امر د خدای ﷻ هم رسول الله دی، (القصه) باچا امر وکړی یو غلام چي دوارې ستړګي یې رندې وې بلکې بچی وې را یې وستی دوی خدای ﷻ ته زاری وکړې شمعون په زړه کي آمین وایه، حتی چي هغه د ستړګو ځای یې سره څیري سو دوی د ختو دوې مرغۍ پکښي کښېښولې د ستړګو د کسی په ځای کي غلام لیدل پیدا کړه فتعجب الملک، نو شمعون و ملک ته وویل که ته ستا له خدای ﷻ څخه چي ورته سوال وکړي نو ستا به لوی شرف وي، ملک ورته وویل چي زه ستا څخه هیڅ راز پټ نه ساتم ان الهنا الذی نعبده لایسمع ولایبصر ولایضر ولاینفع.

پوښتنه: ملک شمعون ته ولي دومره خوشبین ؤ چي هیڅ راز یې له ده څخه پټ نه ساتي؟

ځواب: شمعون به هغه وخت چي ملک به بتخانې ته د بتانو د عبادت لپاره تلی، نو دی به هم ورسره ؤ، نو شمعون به ډېر لمونځونه کول او ډېري زاری به یې کولې (په پټه و خدای ﷻ ته نصرت پر اهل انطاکیه خصوصًا ملکهم) نو د ملک او دده سره ورسره خلګو به دا خیال سو چي شمعون زموږ په دین دی، بیا ملک و هغو دوو کسانو ته وویل چي که چېرې ستاسي خدای چي تاسي یې عبادت کوئ پر احیاء د میت قادر دی آمنا به یعني ستاسي پر خدای موږ ایمان راوړو، دوی ورته وویل زموږ خدای ﷻ قادر دی پر هر شي، نو ملک ورته وویل چي دلته یو مړی دی د اوو ورځو را ایسته چي د یو غټ تاجر زوی ؤ او پلار یې غائب ؤ نو مایې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دفن وځنډ اوه څو پلار یې راسي، ملک خلګو ته وویل چې ورسئ هغه میت راوړئ، میت چې یې راوړی بدن یې تغیر کړی وُ او بد بوی یې هم تلی، نو هغو دوو کسانو تضرع او زاری خدای ﷻ ته شروع کړې، راوي وایي چې هغو دوو کسانو خو علانیه خواست کاوه چې ملک هم اورېدی او شمعون یدعو ربه سرًا، نو هغه مړی راژوندی سو او داسي یې وویل چې زه د اوو ورځو څخه پر شرک مړوم او په اوو شپلو کي د اور داخل کړه سوی وم او زه تاسي ببروم له شرک څخه چې تاسي یې کوئ، فآمنوا بالله، وروسته مړي وویل چې ماولیدلې دروازې د اسمانو خلاصي سوې ماچي وکتل یو ځوان وُ حسن الوجه دوه کسه نور ورسره وه زه یې له اوره را وه ایستلم، ملک ورته وویل چې هغه درې کسه په حاضرو خلګو کي ستة؟ ځوان مړي شاوخوا وکتل وه یې ویل چې هغه حسن الوجه سړی دادی (شمعون ته یې اشاره وکړه) او هغه دوه کسان چې ورسره وه هغه دا دوه کسه دي (رسولانو ته یې اشاره وکړه) نو ملک په دریاب کي د تعجب غرق سو، نو شمعون چې په دې پوه سو چې د ملک رایه د خپلو خدایانو بتانو څخه بدله سوه، نو یې خپل ځان ورته معرفي کړی چې زه هم د خدای ﷻ د رسول عیسیٰ علیه السلام رسول یم وتاسي انطاکیه والو ته، فآمن الملک وآمن معه قوم وکفر آخرون ای اصروا علی کفرهم، او بعض راویان وایي چې مړی د ملک لور وه چې په قبر کي له ډېره عمره څخه دفن وه، نو شمعون ملک ته وویل چې ته دا دوو کسانو ته ووایه چې ستا لور راژوندی کړي، نو ملک هغو دوو کسانو ته د لور د ژوند په باره کي وویل، نو هغه دوه کسان پر لمانځه ودریدل او شمعون سرًا دعاء کوله چې قبر وچاودی او د ملک لور کفن په غاړه راووتل دا خبره یې وکړه خپل پلار او خلګو ته چې زه دغه سړي (شمعون ته یې اشاره وکړه) تر لاس ونیولم له قبره یې را وه ایستلم، دوه کسان نور ورسره وه (رسولانو ته یې اشاره وکړه) او دا یې هم وویل چې دا خلک صادق دي چې خدای ﷻ یو دی شریک نه لري باید تاسي اسلام راوړئ ولا اطنکم تسلمون، بیا ښځي دوی ته وویل چې ما بیرته خپل قبر ته رد کړئ، دوی خدای ﷻ ته خواست وکړی بنځه بیرته په قبر ننوتل.

دروښ وایي: چې ملک د انطاکیه ایمان نه راوړی بلکې ده او قوم یې قصد د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قتل د رسولانو وکړی، نو دا خبرو حبیب النجار ته ورسېدی کما سیئاتي (وجاء من اقصی المدینة رجل) وسیئاتي بیانه (بیان د بنار د انطاکیه پر طور د جمله معترضه)

پوه سه: چي انطاکیه چي انتاکیه بالتاء هم ورته وایي پای تخت دی د بنارو د روم چي عواصم یې بولي، پر دې بنار لوی دېوال راګرځېدلی دی د ډبرو چي دور یې دوولس میله دی کما في القاموس، او په دې بنار کي دننه پنځه غرونه دي او د اوبو چینې دي او رنګارنګ تعمیرات دي او په داخل کي د دې بنار ډېر انسانان اوسېږي چي حساب یې خدای ﷻ ته معلوم دی او ملک مذکور سره د لوی فوجه په دې بنار کي اوسېږي، پښتانه وایي: د مرچو د کراره یې اتکل کړه.

یعني د انطاکیه د بنار د ېوال دوولس میله اوږد ؤ، نو د ابادی حساب او اتکل یې ته کوه! ولایعلم خلق ربک الا هو، انتهی البیان المعترض.

اِذْ اَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ

(اذ ارسلنا) بدل دی د اذ اول څخه چي موږ استولي وه.

دروېش وایي: چي که څه هم ظاهراً استونکی عیسیٰ ؑ ؤ لکن په حقیقت کي مرسل رب ﷻ دی ولهذا نسب الی نفسه (الیهم اثنین) یعني اهل انطاکیه ته، د دې دوو کسانو په نومانو کي اختلاف دی (یونا و بولس) او مقاتل ؒ وایي (دومان و بولس) او شعیب الجبائي ؒ وایي: شمعون و یوحنا، وهذا ضعیف لان شمعون هو الثالث لهما دی، او وهب او کعب ؒ وایي (صادق و صدوق) او بعض مفسرین وایي (فاروس و ماروس) او مظهري ؒ وایي (یحیٰی و یونس)

فَكَذَّبُوهُمَا فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ

دوی تکذیب وکړی د دې دوو کسانو یعني په توحید کي د خدای ﷻ، نو موږ تقویه د هغو دوو وکړه په درېیم سره چي پر مشهور او صحیح روایت شمعون الصفار من الحواریین لعیسیٰ ؑ کذا ذکر سعید بن جبیر و ابن المنذر.

پوه سه: د عززنا چي متعدي دی مفعول یې پرېښو یعني هما لان المقصود الاصلي ذکر المعزز به وهو الثالث دون المعزز وهما الاثنان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَقَالُوٓا إِنَّآ إِلَيۡكُمۡ مُّرۡسَلُونَ ﴿١٤﴾

نو وویل ای کلهم یعني درو سره وویل و اهل انطاکیه ته که څه هم دا وینا په صورت اجتماع نه وه اول وار بلکې اولاد دوو کسانو په اخیر کي په صورت اجتماعي وګرځېدل کمامر.

قَالُواْ مَآ أَنتُمۡ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُنَا

وویل (ای اهل انطاکیه) تاسي نه یاست مګر مثل زمونږ یعني بشر، نو تاسي پر مونږ څه فضیلت لرئ چې تاسي د رسالت دعوې کوئ پر اول تقدیر، یا ستاسي مرسل عیسیٰ د رسالت دعوې کوي، او بعض مفسرین وایي چې دوی چې دا وویل انا الیکم آه یعني دا قید یې نه وو وایه من جانب عیسیٰ ؑ، نو د اهل انطاکیه زعم داسو چې دوی په خپله د رسالت من الله دعوې کوي، نو ځکه یې ورته وویل ما انتم الآیة.

سوال: په نحو کي وایي چې خبر د ما منصوب دی، نو په دې آیت کي بشر چې خبر د ما دی ولي مرفوع دی په اتفاق د قراء ؒ؟

ځواب: په نحو کي دا هم وایي چې ما چې عمل کوي په سبب د مشابهت د لیس په نفي کي او په دخول کي پر جمله اسمیه، نو په دې آیت کي نفي د ما لله منځه ولاړې په سبب د الاّ چې حرف استثناء او منفي مثبت ګرځوي، نو مشابهت د لیس سره ضعیف سو، نو ځکه یې عمل د نصب په خبر کي ونه کړې خلافًا لیونس.

پوه سه: چې مثلنا صفت د بشر دی.

سوال: مثلنا خو په سبب د اضافت و ضمیر متکلم ته چې معرفه دی مثلنا هم معرفه وګرځېد، نو څرنګه صفت د بشر چې نکره دی کېدای سي؟

ځواب: په نحو کي وایي چې مثل او غیر متوغل یعني دوب په ابهام کي دی په اضافت و معرفه ته نه معرفه کېږي کذا في روح المعاني.

وَمَآ أَنزَلَ ٱلرَّحۡمَٰنُ مِن شَيۡءٍ

او نه نازلوي خدای ﷻ یعني پر بشر هیڅ شی، من زائده لپاره د استغراق د نفي دی.

پوه سه: چې له دې قول څخه دوی دا معلومه سوه چې اهل انطاکیه له الوهیت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه د خدای ﷻ منکر نه وه له رسالت څخه منکر وه، خپل اصنام بتان یې واسطه و خدای ﷻ ته ګڼل، روح المعاني وایي چې تخصیص د اسم الرحمن چې دوی وکړی په منځ کې د نومانو د خدای ﷻ چې ددوی په زعم کې دا وه چې رحمت تأبی انزال الوحي لاستدعائه تکلیفًا للعباد بالاوامر والنواهي چې په تکلیف د عبادو کومه فائده خدای ﷻ ته نه راجع کیږي، او د ثواب ورکول د خدای ﷻ له خوا څخه پر تکلیف موقوف هم نه دی لانه رحمن فافهم.

إِنْ أَنْتُمْ إِلَّا تَكْذِبُونَ ﴿١٥﴾

نه یاست تاسي مګر درواغ وایاست په دعوی کې د رسالت من الله.

قَالُوا رَبُّنَا يَعْلَمُ إِنَّا إِلَيْكُمْ لَمُرْسَلُونَ ﴿١٦﴾

وویل ای الرسل لاهل انطاکیه، زمونږ خدای خبر دی، په تحقیق هرومرو مونږ وتاسي ته را استول سوي یو.

فائده: رسولانو د خدای ﷻ په علم سره استشهاد ووایه چې په فقه شریفه کې وایي چې استشهاد په علم سره د خدای ﷻ جاري مجری القسم دی حتی که یو چا وویل چې الله یعلم انی فعلت کذا او دی کاذب وُ دا یمین غموس چې کفارة في الدنیا نه لري مګر عذاب د دوږخ لري لانه کبیرة.

مسئله: که یو سړي و بل ته وویل چې زه دربانديي ګران یم او زما سره محبت لري هغه بل سړي ورته ووایل چې خدای ﷻ شاهد دی چې ته پر ما ګران او زه ستا سره محبت لرم او درواغ یې ویل دا سړی کافر ګرځي، ولې ده په خپلو خبرو خدای ﷻ شاهد د خپلو درواغو وباله.

پوښتنه: اول رسل و انطاکیه والو ته ساده خبره وکړه یعني انا الیکم مرسلون، وروسته په دې آیت ربنا یعلم انا الیکم لمرسلون دومره ډېر تاکیدات وکړه (۱) ربنا یعلم چې جاری مجری القسم دی کما مر (۲) تاکید د انا دی (۳) تاکید د لام ابتداء دی په لمرسلون کې.

نکته: پوښتنه دا دې تاکید اتو او باعث یې څه دی؟

ځواب: د رسل په اول جواب کې اهل انطاکیه مبالغه په رد کې د قول د رسل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکړه حيث قالوا ما انتم الا بشر مثلنا تاکيد د نفي د رسالت يې په ما او الا سره وکړی، او وروسته يې بيا وويل ما انزل الرحمن من شيئ په اخير کي ددوی خبري حصر پر کذب وبوللې، نو ځکه رسل هم داغسي مؤکد بالتاکيدات جواب ورکړی کذا في المطول شرح التلخيص.

وَمَا عَلَيْنَآ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿١٧﴾

او نسته زمونږ په ذمه کې مګر رسول د رسالت د خدای ﷻ چې هغه هم ظاهره سوه تاسي ته بالآيات الشاهدة لصحته، لکه چوړيده د مورزاده ږوند، او چوړيدل د پس د مرض او احياء الموتى من القبور يعني زمونږ په دعاء د خدای په قدرت چې دا درې سره کار د طوق البشر څخه خارج دی، غرض د رسولانو دا دی چې ستاسي انکار مونږ ته ضرر نه دی، ولي چې مونږ خپله وظيفه ادا کړه بلکې ضرر يې چې عقاب ابدي دی وتاسي ته راجع دی.

قَالُوْٓا اِنَّا تَطَيَّرْنَا بِكُمْ ۚ

راوي وايي چې په سبب د تکذيب د انطاکيه د رسولانو د عيسىٰ ؑ خدای ﷻ پر دوی بارانونه بند کړه، نو اهل انطاکيه وويل و رسولانو ته چې مونږ بد فالي او شوم کوو په تاسي سره يعني چې تاسي راغلي ياست پر مونږ قحط د بارانو مسلط سي کما هو عادة الجهال في کل زمان چې مکروه خلاف الطبع شيئ ووينې نو نسبت ويو مبلمه يا مسافر ياهم جواره ته کوي، د اهل انطاکيه غرض دا ؤ چې تاسي زمونږ له منځ ووځئ، نو دا ټوله قحط او مصائب چې پر مونږ مسلط سوي ستاسي د راتګ له سببه خپلو وطنو ته ولاړ سئ سالمين او منع سئ زمونږ د دعوت او تبليغ څخه.

مسئله شرعيه: په حديث شريف کي راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام تفاول (يعني نېک فالي خوښه وه) او د تطير (يعني سوی فالي يې نه وه خوښه).

پوښتنه: فرق يې څه دی محبوب موافق الطبع او مکروه خلاف الشهوة دواړه د خدای ﷻ د خوا دي؟

ځواب: فرق يې دا دی چې نېک فالي له جهته څخه د حسن ظن پر خدای ﷻ منځ ته راځي، او تطير يعني بد فالي له جهته د اعتماد پر غير الله يعني چې د سړي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مکروه لیدلو څخه پیدا کیږي، په احادیثو کي د هجرت نبوي ﷺ مع ابی بکر رضی الله عنه و مدیني منورې ته یو سړی په مخه ورغلی چې نوم یې بریدة بن اسلم وٗ علیه الصلوة والسلام ورته وویل من انت؟ ته څوک یې؟ هغه ورته وویل بریدة! نو علیه الصلوة والسلام و ابوبکر رضی الله عنه ته وویل سلمنا من کیدهم مورِ سالم سولو له چمو او له ضرر څخه د کفارو د مکې، په حدیث شریف کي راغلي دي چې هیڅ انسان داسي نسته چې په زړه کي بلا اختیار بد فالي پیدا کیږي، نو که د سړي په زړه کي دیو شي له سببه بد فالي پیدا سوه، نو داسي دي ووایي: انا عبدالله ما شاء الله لاقوة الا بالله لایأتی بالحسنات الا الله ولایذهب بالسیئات الا الله اشهد ان الله علی کل شیئ قدیر، نو که یې د سفر نیت وٗ او دا شوم ورته پیدا سو، هغه مذکوره کلمات دې ووایي او سفر ته دي دوام ورکړي، نو له کراهت څخه د تطیر خلاص سو او که یې سفر قطع کړی په دام کي د تطیر ولوبدی، کذا في عقد الدرر.

د فقهي شریفي په کتابو کي وایي چې که په یوه کور کي مریض وٗ ما ښام د هغه پرد بوالهیا درخته بوم ناره وکړه د کور له خلګو څخه سړي دا وویل چې دا مریض مري، دا سړی کافر سو.

لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهُوْا لَنَرْجُمَنَّكُمْ وَلَيَمَسَّنَّكُمْ مِّنَّا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۸﴾

که تاسي منع نه سئ خپل د تبلیغ څخه مورِ به په ډبرو تاسي سنګسار کړو او مړه به مو کړو، او تاسي ته به ورسیږي زمورِ له خوا عذاب درد ورکونکی.

سوال: د رجم تفسیر په ډبرو ویشتلو قتل دی کما في المحصن والمحصنة اذا زنیا، نو وروسته تر مرګ نور عذاب الیم به د دوی څه شی وي؟

ځواب: د رجم معنی دلته ما هو المتعارف في الفقه نه ده بلکې معنا یې مطلق په ډبرو ویشتل دي، نو د دوی مراد داؤ چې په یوه یا دوو یا درو مثلاً ستاسي په ډبرو ویشتلو سره مورِ اکتفاء نه کوو بلکې تر هغو به مو په ډبرو ولو چې مرئ، وهذا هو العذاب الالیم، او بعض مفسرینو د رجم ترجمه په شتم یعني ښکنځلو سره کړې ده، نو د دوی مراد داؤ چې یوازې په ښکنځلو مورِ اکتفاء نه کوو بلکې ایلام جسمي په ضرب و کوب سره هم درکوو، والله اعلم بمراده في کتابه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالُوْا طٰٓئِرُكُمْ مَّعَكُمْ ؕ اَئِنْ ذُكِّرْتُمْ ؕ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُوْنَ ﴿۱۹﴾

رسولانو ورته وويل چي ستاسي سبب د شوم ستاسي سره دی، وهو کفرکم. او ابن عباس ؓ وايي حظکم (برخه ستاسي د تاسي سره ده من الخير والشر لاينفک عنکم)

پوه سه: چي په (ائن ذکرتم) دوه همزه دي، يو لپاره د استفهام انکاري دی او بل لپاره د شرط دی د جوابِ محذوف دل عليه ماقبله، يعني ائن وعظتم تطيرتم (وهذا جواب الشرط) ای تطيرتم بنا وتوعدتمونا (موږ ته پيش راکوي يعني په رجم سره) ولاينبغي ذالک وهذا هو معنی همزة الانکار بلکې بايد تاسي پند اخستی وای او ايمان مو راوړی وای، او زموږ مو احسان منلی وای.

(بل انتم قوم مسرفون) بلکې تاسي يو قوم ياست چي عادت ستاسي تجاوز دی تر حد په عصيان کي چي يو له اسراف څخه ستاسي تسائتم (تاسي بد فالي کوئ په رسل د خدای ﷻ بايد چي تاسي په هغو سره تبرک کولای.

وَجَآءَ مِنْ اَقْصَا الْمَدِيْنَةِ رَجُلٌ يَّسْعٰى

او راغلی له اخيره څخه د ښار د انطاکيه چي چابک چابک را روان ؤ، يعني هغه وخت چي ده واورېدل چي قوم دده قصد يې کړی دی چي رسل عيسیٰ ؑ قتل کړي.

فائده: مشي عادي تګ ته د سړي وايي او عدو ځغاستي ته وايي او سعي ميانه تګ فوق المشي و دون العدو.

فائده: تنوين د رجل لپاره د تعظيم دی ای رجل عند الله کامل الرجونية.

فائده: نوم د دې سړي په روايت د ابن عباس ؓ وابی مجلز و کعب الاحبار مجاهد و مقاتل ؒ وايي حبيب "چي مشهور په حبيب النجار ؤ" اود پلار نوم يې اسرائيل ؤ.

فائده: کسب دده بعض وايي چي نجاري وه، او بعض وايي کښته ګر ؤ، او بعض وايي دوبي ؤ او بعض وايي موچن دوز ؤ، او بعض وايي بتان به يې جوړول د ډبرو يا د لرګيو نه د عبادت بلکې د ښائست لپاره چي په هغه وخت کي روا وه، ولا منافات بين هذه الروايات لامکان کونه جامعًا لهذه الاکساب.

فائده: وفي الحديث الذي نقله الزمخشري صاحب تفسير الکشاف انه عليه الصلوة والسلام قال سباق الامم يعني چي سبقت يې و ايمان ته کړی وي ولم يکفروا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قط طرفة عين لكه علي بن ابی طالب رضی الله عنه وصاحب یٰسٓ (یعني حبیب) ومؤمن آل فرعون.

فائده: وهب بن منبه رح وایي چي حبیب د ورېښمو کار کاوه او مریض هم د جزام په مرض ؤ (چي آتشک یې بولي او ډېره بېکاره ناجوړي ده چي تر علاج د اطباؤ لوړه ده) او کور ده په پای کي دیوې دروازې د انطاکیه ؤ وکان مؤمنًا ذا صدقة، ما بنام به یې د ورځي ګټلي روپۍ سره جمع کړې نیمی به یې خیرات کړې او نیمی به یې پر عیال نفقه کړې وکان هذا عادته دائمًا.

قَالَ يٰقَوْمِ اتَّبِعُوا الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۲۰﴾

وویل (حبیب النجار) ای قومه زما متابعت وکړئ د را استول سوو خلګو یعني د رسولانو.

اتَّبِعُوْا مَنْ لَّا يَسْـَٔلُكُمْ اَجْرًا وَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۲۱﴾

متابعت وکړئ د داسي کسان چي ستاسي څخه نه غواړي مزدوري پر تبلیغ د رسالت (دا تاکید دی د اول لپاره)

سوال: په دې تکرار کي د اتبعوا څه فائده وه؟

ځواب: دغه یې فائده زائده ده چي ستاسي څخه سوال د مزدورۍ نه کوي (وهم مهتدون) او دوی پر هدایت دي یعني الی خیر الدارین.

دروښ وایي: چي پر هم دې ځای تفسیر د جزء (۲۲) پای ته ورسېدی بالخیر والعافیة والصحة بتوفیق رب العزت، ورځ د پنجشنبې ۲۳ شهر المبارک رمضان سنه (۱۴۳۱) هـ ق ویتلوه تفسیر جزء ۲۳ بتاریخ المذکور.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

الجزء الثالث والعشرون

وَمَالِيَ ٢٣



الحنفي النقشبندي القندهاري

مكتبة القراءة والتجويد
كاسي روڈ كوئٹه بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا لِيَ لَآ أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢٢﴾

او څه سبب دی چې زه به عبادت نه کوم د هغه چې همتا چې زه یې پیدا کړی یم.

پوښتنه: چې کلمه د ما استفهامیه مبتدا ده او جار و مجرور یې خبر دی، او لا اعبد حال دی له ضمیر څخه د متکلم یعنې په مالي کې، او ټوله جمله عطف ده پر یا قوم اتبعوا آه باندې.

پوښتنه: حبیب نجار خو قوم ته نصیحت کاوه په باره کې د رسولانو چې قوم ددوی د قتل قصد کړی وُ کما یدل علیه یا قوم ابتعوا المرسلین او هغه نصیحت خو پای ته نه دی رسېدلی، نو عبارت قرآن چې داسې وای وما لکم لا تعبد الذی فطرکم، نو د مقام سره د تبلیغ و قوم ته به مناسب نه وای او که څرنګه؟

ځواب: په مذکوره عبارت کې تلطف او نرمي د قوم سره په وعظ کې چې دی لکه خپل ځان ته نصیحت کوي او تنبیه پر دې چې زما غرض خالص نصیحت دی حیث اراد لهم ما ارد نفسه، پښتانه وایي: د خدای ﷻ خپل سه لکه پر ځان داسې پر بل سه. او په حقیقت کې تعریض او سرزنش ددوی دی چې دوی عبادت د خالق خپل و عبادت ته د بتانو پرې ایښې دی، نو چونکه غرض د متکلم صیغه راوړو کې تعریض پر دوی وُ په اخیر کې یې ېیرته دوی مخاطب کړه بقوله (والیه ترجعون) او خاص خدای ﷻ ته به تاسې راجع کړل کېږئ یعنې په ورځ د قیامت، ویدل علیه الحصر تقدیم المعمول علی العامل.

پوښتنه: مطابق د ماقبل آیت سره داسې ویل به مناسب نه وای والیه ارجع؟

ځواب: د خطاب په عبارت راوړلو کې مبالغه په تهدید کې د قوم چې دوی یې وېرول په رجوع وسخت عذاب ته یعنې مخامخ یې وېرول او که یې لکه سیاق سابق داسې ویلي وای والیه ارجع نو قوم ته تعریضًا تهدید به وای، والتصریح بالتهدید ابلغ من التعریض به کما لا یخفی فافهم.

ءَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِ آلِهَةً

آیا زه اخلم معبود خپل (والهمزة للاستفهام الانکاري) یعنې ماسوی د من فطرني څخه معبودان چې اصنام دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي اکثره مفسرین پر دې دي چي حبیب النجار په دې ځای کي بیرته سیاق اول ته ولاړی چي په تفسیر کي د مالي لا اعبد یې بیان ټهر سو، او ابن المنذر او ابن ابی حاتم له قتاده ؓ څخه روایت کړی دی چي حبیب په غار کي ؤ من اقصی المدینه د خدای ﷻ په عبادت مشغول ؤ، نو ده ته چي د قوم او د رسولانو خبر ورسېدی، نو راغلی قوم ته او خپل دین یې بنکاره کړی، وقال یا قوم اتبعوا المرسلین الآیة. دا خبره چي حبیب وکړه قوم ورته وویل وانت مخالف لدیننا ومتابع دین هؤلاء الرسل فقال ومالي اعبد الذي فطرني ای خلقنی.

دروښ وایي: چي پر دې تقدیر کلام پر خپل ظاهر دی.

سوال: کلام د حبیب چي پر خپل ظاهر سي، نو باید ده داسي ویلي وای والیه ارجع او ده نسبت د رجوع ودوی ته ولي کاوه والیه ترجعون، مظهري ددې سوال په ځواب کي دا سي ویلي دي فطرة یعني خلق اثر د نعمت الهي دی نو پرده اظهار لازم ؤ وفي الرجوع معنی الزجر فکان الیق بهم، پښتانه په مقام کي د زجر مخالف ته وایي خو یا بیرته راځي یعني عذاب به درکړم، نو پر بیان د قتاده دا آیت، اتخذ الآیة هم پر خپل ظاهر دی، لکن روح المعاني وایي چي نظم جلیل ددې توجیه سره موافقت نه لري، ده ویلي دي چي اتخذ مساق اول ته رجوع ده یعني التلطف فی الارشاد کما مر عن قریب.

إِنْ يُرِدْنِ الرَّحْمٰنُ بِضُرٍّ لَّا تُغْنِ عَنِّي شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا وَّلَا يُنْقِذُوْنِ ﴿۲۳﴾

دا جمله صفت د الهه ؤ ده یعني داسي معبودان که اراده وکړي وماته رحمن یعني خدای ﷻ (پوه سه: چي کسره د نون دلیل د یاء محذوفی دی) (بضر) په یو ضرر سره (یا فقر، یا مرض وغیر ذالک، نو فائده نسي کولای ماته په دفع کي د هغه ضرر) شفاعت د بتانو د هیڅ شي لکه ستاسي چي زعم باطل یعني هؤلاء شفعاؤنا عند الله (ولاینقذون) او نه دوی ما خلاصولای سي له عذاب د خدای ﷻ یعني ان عذبني.

إِنِّيٓ إِذًا لَّفِي ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۴﴾

په تحقیق زه که داغسي وکړم (چي معبود وګڼم ما لاینفع ولایضر من دون من فطرني مع انه تعالی یقدر علی ایصال النفع ودفع الضرر) زه په ظاهره ګمراهي کي یم چي هر ذی عقل په پوهیږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي جمله د ان یردن الرحمن الآیة دلیل د انکار پر اتخاذ الآلهة چي د استفهام انکاري څخه د ااتخذ وفهمېدی.

إِنِّيٓ ءَامَنتُ بِرَبِّكُمْ فَٱسْمَعُونِ ﴿٢٥﴾

په تحقیق ما ایمان راوړی دی پر رب ستاسي ایها القوم.

سوال: ده داسي ولي نه وویل بربي، بلکي ده نسبت د رب ودوی ته وکړی؟

ځواب: دا نسبت د رب و قوم ته په حقیقت کي دعوت د ایمان وقوم ته دی چي ستاسي رب دی لکه زما (فاسمعوني) یعني تاسي واورئ زما ایمان، نو دا آیت له تتمة څخه د نصیحت دی، ولي قوم ته چي حبیب دا وویل اتبعوا المرسلین، نو ګویا دوی ورته وویل چي ایا تا ایمان راوړی دی په قول د رسولانو، حبیب ورته وویل آمنت بربکم فاسمعوا ایماني نو ګویا ده نصیحة دوی ته وویل که دا ایمان خیر نه وای، نو ما به د ځان لپاره نه وای غوره کړی، نو تاسي هم باید دا ایمان قبول کړئ، بغوي ؒ وایي چي دا خبره چي حبیب وکړه قوم یې په یوه وار لکه یو سړی ود وغور ځبدل او حبیب یې شهید کړی، او ابن مسعود ؓ وایي چي تر پښو یې لاندي کړی پکښي ختل ختل چي کلمې یې تر دبره را ووتلې، او سدي ؒ وایي چي سنګ باران یې کړی، او حبیب ؒ به دا ویل اللهم اهد قومی فانهم لایعلمون حتی اخیر شهید سو، او حسن ؒ وایي چي په حلق کي یې سوری ورکړی تناؤ یې ورواچاوه د انطاکیه په دېوال پورې وځړاوه، فادخله الله الجنة وهو فیها یرزق، یعني حیوة الشهداء، او بعض مفسرین وایي چي د فاسمعوني خطاب و رسولانو ته د عیسیٰ ؑ دی یعني د حبیب چي دا یقین سو چي ما خو قتل کوي، رسولان پر ځان شاهدان کړه یعني خپل پر ایمان قبل موته، والتقدیر فقال للرسل اني آمنت الآیة.

دروښ وایي: هذا لیس بشیئ لان حضور الرسل في وقت قتله غیر معلوم نصًا بلکي اهل انطاکیه چي دومره ظالمان وه چي خپل سړی یې په سبب د ایمان بالله په داسي سخت قتل سره مړ کړی، نو رسل که حاضر وای هغه به یې هم وژلي وای د دوی څه باک په کېدی، ولي چي سبب د حبیب د وژلو خو ایمان وؤ، نو رسل خو هم داعي و ایمان ته وه، الا ان یقال چي اهل انطاکیه له رسل څخه بېرېدل په سبب د هغو معجزاتو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي اهل انطاکیه ولیدلې کمامر. او روح البیان وایي چي حبیب چي د قوم سره خبرې اوږدې کړې ددې لپاره چي رسل ولاړسي نجات به پیدا کړي، والله اعلم.

فائده: عروة بن مسعود الثقفي ؓ چي راغلی د علیه الصلوة والسلام مخ ته یې اسلام راوړی، نو د علیه الصلوة والسلام څخه یې اجازه وغوښتل چي زه به قوم ته ولاړسم، رسول الله ﷺ ورته وویل که ته اظهار د ایمان وکړې قوم دې وژني، عروه ورته وویل چي نه مي وژني زه پر قوم دومره ګران یم چي بیده یم له خوبه مي نه باسي، خیر قوم ته ورغلی، او قوم ته یې د اسلام دعوت شروع کړی، هغو نافرماني وکړه بلکې دده په ازار یې لاس پوري کړی، راوي وایي چي سپېدې راوچاودې عروه ؓ پر یوه بالاخانه ودرېدی آذان یې وکړی یعني اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمداً رسول الله، نو د ثقیف د قبیلې یو سړي په غشي وویشتی او شهید یې کړی، نو رسول الله ﷺ ته چي د عروه ؓ د قتل خبر ورسېدی داسي یې وویل مثل عروة مثل صاحب یس چي مراد یې حبیب ؒ دۀ، وقال ؑ دعا قومه الی الله فقتلوه وکذا عروة دعا قومه فقتلوه.

قِيلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ ؕ

وویل سول (یعني له جانبه څخه د خدای ﷻ وحبیب النجار ؒ ته چي دی شهید سو اکرامًا و اذنًا بدخول الجنة کسائر الشهداء) داخل سه و جنت ته، او بعض مفسرین وایي چي دا خبره خدای ؒ وده ته وکړه قبل (یعني بواسطة الملک) موته، یعني ادخل قبرک الذي هو روضة من ریاض الجنة.

سوال: څه حکمت دی چي خدای ﷻ قیل مطلق ووایه یعني داسي یې نه وویل قیل له؟

خواب: غرض دلته بیان د مقول دی چي دخول د جنت دی دون المقول له لانه معلوم لان سیاق الکلام في حبیب النجار.

پوه سه: چي قیل آه جمله متسأنفه في جواب سوال یقتضیه المقام چي هغه دادی چي حبیب په دین کي دومره سر ګرم ؤ چي خپل شیرین روح یې تر قربان کړی، نو خدای ﷻ ده ته کوم انعام ورکړی، قیل ادخل الجنة یعني دا کرام بدخول الجنة یې انعام ؤ د جان قربان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ يٰلَيْتَ قَوْمِيْ يَعْلَمُوْنَ ﴿۲۶﴾

حبیب رضی الله عنه وویل (یا حرف نداء ده منادی یې حذوف دی، دلته تقدیر دادی) یا رب کاشکي زما قوم خبر وای.

بِمَا غَفَرَ لِيْ رَبِّيْ وَجَعَلَنِيْ مِنَ الْمُكْرَمِيْنَ ﴿۲۷﴾

په هغه شي یعني چي ماته بخښنه وکړه رب زما او زه یې وګرځولم د مکرم یعني نېک او کامیاب بندګانو څخه.

پوه سه: چي ما یا مصدریه دی، نو یې معنی داده ای بغفران ربي ایای چي زه یې وبخښلم. یا ما موصوله دی، والتقدیر بالذي غفرلي ربي او کلمه د ما متعلق ده په یعلمون پورې.

فائده: دا خبره حبیب رضی الله عنه هلته وکړه چي جنت ته دی ورسېدی او خدای ﷻ دده د قول حکایت وکړی، درحدیث مرفوع آمده نصح (یعني حبیب) قومه حیًا و میتًا، او بعض مفسران وایي چي کلمه د ما استفهامیه ده، والباء متعلق بغفر ای بای شيئ غفرلي ربی یرید الایمان، او کلک صبر کول پر ایذاء د کافرانو.

سوال: حبیب رضی الله عنه دا تمنی ولي اظهار کړه؟

ځواب: ددې لپاره چي قوم باعثه کړي پر اکتساب د ایمان او طاعت، ولي ددوی به هم د جنت دخول په نصیب سي.

سوال: قوم خو دده سره ځومره بېوفایي، نامردي او ظلم وکړی، ده سره یې لا غم ورسره دی؟

ځواب: د اهل الله عادت دی چي غصه نوشه وي او پر ده بنسمنانو ترحم لري، او په دې تمنی کي یې بل غرض دا ؤ چي که دوی زما په حال خبر سوي وای، دوی به په دې پوه سوي وای چي موږ پر لویه خطاء یو په کار کي د حبیب چي دی مو مړ کړی او دی پر حق ؤ، شاید دا خبرتیا او علم په حال زما به یې سبب د ایمان ګرځېدلی وای. البغوي رحمه الله وایي چي قوم چي حبیب رضی الله عنه په ډبر بد قتل سره مړ کړی کمامړ خدای ﷻ دوی ته په غضب سو، جبرئیل علیه السلام یې ورواستاوه، یوه چغه چي یې پر وکړه دوی ټولو کنفس واحدة مړه سوه، اعوذ بالله من غضب الحلیم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَآ اَنْزَلْنَا عَلٰى قَوْمِهٖ مِنْۢ بَعْدِهٖ مِنْ جُنْدٍ مِّنَ السَّمَآءِ

او موږ نه دی نازل کړی پر قوم د حبیب ؓ وروسته تر اهلاک دده د قوم له خوا، یو لښکر له اسمان د خوا څخه یعني الملائکة لکه چې په بدر کې چې نازلې کړې وې، وفي غزوة الاحزاب یعني بل کفینا اهلاکهم بصیحة ملک، وفیه استحقار لاهلاکهم او تنبیه ده پر عظمت د شان د رسول الله ﷺ، ولي د هغه په غزواتو کې په زړو ملکي راواستولې.

پوښتنه: چې من اول زائد دی لپاره د تاکید د نفي او من ثاني لپاره د ابتداء دی.

وَمَا كُنَّا مُنْزِلِيْنَ ﴿٢٨﴾

خدای پاک وایي نه دی شان زما چې د قوم د اهلاک لپاره دي اسماني لښکر نازلوم بلکې د کفارو د اهلاک مشیت زما کافي دی.

پوښتنه: د علیه الصلوة والسلام په غزواتو بدر او خندق کې هم ملائکه وو ته ضرورت نه ؤ بیا هم خالق نازل کړې؟

ځواب: هغه انزال اکرامًا لرسول الله ﷺ او لپاره د تسکین د زړه دده کما قال الله تعالی وما جعله الله (ای انزال الملائکة) الا بشرلی به قلوبکم و لتطمئن به قلوبکم وما النصر الا من عند الله.

اِنْ كَانَتْ اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً فَاِذَا هُمْ خٰمِدُوْنَ ﴿٢٩﴾

نه ؤ عذاب د دوی مګر یوه چغه وه د جبرئیل ؑ چوله یې د اهلاک و کندې ته وغورځول.

پوښتنه: ضمیر د کانت چې مؤنث ؤ څه شي ته راجع دی؟

ځواب: عقوبت ته چې له ما قبل و فهمېدی.

فائده: جمهور قراء صیحة په نصب سره خبر د کان یې بولي او ابو جعفر یې په رفع سره وایي چې کان تامه بولي، والمعنی ما وقعت الا صیحة واحدة، بغوي ؒ وایي چې مفسرین وایي چې جبرئیل دواړي پلې د دروازې د مدینه د انطاکیه ونیولې او لویه ناره یې وکړه (فاذا هم خامدون) پس نابیره ټوله اهل مدینه مړه سوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: حرارت طبعي د بدن انساني چي د هغه په حيوة د بدن ساتل کيږي مشابه يې کړی له اور سره، نو ځکه يې زوال ته حرارت غريزي په سبب د نار د جبرئيل ته ځمود ووايه چي په اصل کي د اور مړه کيدو ته وايي، قال المظهري وجملة وما انزلنا عطف على قوله وجاء من اقصى المدينة رجل يسعٰى وجملة ماكنا منزلين معرضة بين المعطوفين وجملة ان كانت الا صيحة واحدة تعليل، والفاء في قوله فاذاهم خامدون للمفاجائة انتهٰى.

يٰحَسۡرَةً عَلَى الۡعِبَادِ ۚ

پوه سه: چي راغب اصفهاني ؒ وايي (الحسرة) الغم على ما فات والندم عليه، او کلمه د ياء لپاره د نداء ده او حسرة يې منادی ده.

سوال: حسرة خو معنی ده او منادی خو بايد ذات وي او له ذوی العقول څخه به وي، نو څرنګه حسرة منادی وګرځيدل؟

ځواب: دا منادی والی د حسرة مجازي دی بتنزيل الحسرة منزلة العقلاء كانه قيل يا حسرة حاضر سه چي دادي وخت دی چي دا حالت عجيبه وويني او واوري، وهي المذكورة في قوله تعالى.

مَا يَاۡتِيۡهِمۡ مِّنۡ رَّسُوۡلٍ اِلَّا كَانُوۡا بِهٖ يَسۡتَهۡزِءُوۡنَ ۝

نه راځي و دوی ته يو رسول (کلمه د من زائده ده لپاره د استغراق د نفي) مګر دوی وه چي په رسول پسخند وهي.

بوه سه: چي مراد له عباد څخه هغه کسان دي چي مصرين على العناد وي، او جمله د ما يأتيهم آه علت ده حسرة پر حال د دوی ده، ولي پسخند وهونکی په خبرو د اخيار الناس چي رسولان دي او خلک و خدای ؒ ته رسوي اجرت هم نه غواړي، او دوی په نصيحت پوري د خير الدارين مربوط دي، بايد دوی پر خپلو ځانو حسرت وکړي او بل څوک هم د دوی پر حال حسرت وکړي که ملائکه دي او که مؤمنان د انس او جن دي.

دروښ وايي: چي روح المعاني او مظهري دواړو دا احتمال راوړی دی چي مراد د تحسر د خدای د خوا دی على سبيل الاستعارة لتعظيم جنايتهم على انفسهم انتهى. لكن فقير له نسبت څخه د تحسر چي انفعال دی و خدای ﷻ ته ولو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كان على سبيل الاستعارة دلاوري نسي كولاى لعظم شان الباري ﷻ، او هم مظهري او هم روح المعاني يو قرائت شاذه غاية الشذوذ سند ګرځولى دى د مذكور احتمال الذي تقشعر منه الجلود والله اعلم.

او بعض مفسران وايي چې منادى محذوف ده او حسرة منصوب دى په فعل مقدر سره، والتقدير يا ايها المخاطبون تحسروا حسرة والحسرة شدة الحزن والندامة انتهى، او بغوي رح وايي چې په دې آيت کې دوه قوله دي، يو قول دادى يقول الله يا حسرة وندامة فكابة على العباد يوم القيامة، ولي چې دوى ايمان پر رسولانو نه راوړي، او بل قول دادى انه من قول الهالكين قال ابو العالية لما عاينوا العذاب قالوا يا حسرة على العباد، بغوي رح وايي چې لام د تعريف په عباد کې لپاره د عهد دى، والمراد بهم اهل انطاكيه او كل من لم يؤمن بالرسل واستهزاء بهم چې په اول صف اهل انطاكيه دي لان سياق الكلام فيهم، لكن په عين حال کې تعريض پر اهل مكه هم دى ولي چې په دې فعل منحوس د تكذيب او استهزاء برسول الله ﷺ دوى ملوث وه.

اَلَمْ يَرَوْا كَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ

آيا دوى يعني اهل مكه علم نه لري.

پوښتنه: رؤيت چې علمي دى نو معمولين يعني مفعولين يې څه شي دي؟

ځواب: په نحو کې وايي چې يرى له عمل څخه بند دى په وروسته قول کې يعني (كم اهلكنا قبلهم من القرون) ولي چې په كم کې ماقبل فعل عمل نسي كولاى، ولي چې كم استفهاميه دى صدر د كلام غواړي.

سوال: كلمه د كم خبريه مفيد د كسرت وي، نو بيا خو مانع د عمل د ماقبل نه دى؟

ځواب: بيا هم كم مانع د عمل دى وان كانت خبرية لان اصلها الاستفهامية.

اَنَّهُمْ اِلَيْهِمْ لَا يَرْجِعُوْنَ ﴿۳۱﴾

هغه مهلكين و دوى ته رجوع نسي كولاى.

پوه سه: چې انهم آه بدل اشتمال دى له كم څخه على المعنى اى الم يروا كثرة اهلاكنا من قبلهم الم يروا انهم غير راجعين اليهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي چونکه ددې آيت څخه يعني انهم الخ دا توهم کېدی چي مړي به ابدًا رجوع ژوند ته نه کوي کما يزعمه المشرکون رفع الله ﷻ ذالک بقوله.

وَإِنْ كُلٌّ لَّمَّا جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ ﴿٣٢﴾

يعني يوم القيامة.

پوه سه: چي لما په دېرو سورتونو کي د قرآن مجيد راغلی دی، بعض قراء يې په تشديد وايي، نو پر دې تقدير ان نافيه دی، او لما په معنی د الا دی او څوک چي لما په تخفيف وايي، نو ان مخفف د مثقل اسم يې ضمير شان محذوف دی، والتقدير انه ای الشان، لام په لما کي لپاره د فرق دی د ان النافية والمخفف من المثقل او ما زائد دی د تاکيد د مابعد او جميع پر وزن د فعيل دی په معنی د مفعول، او لدينا ظرف دی د جميع يا د محضرون.

فائده: په هغه آيت کي انهم الينا لايرجعون رد دی پر اهل الرجعة چي دوی وايي چي بعض مړي به تر قيامت د مخه دنيا ته بيرته راژوندي سي کما حکی عن ابن عباس ؓ چي چا له ده څخه پوښتنه وکړه چي يو قوم اوس ظاهر سوی دی چي هغه وايي چي علي ؓ ژوندی کېږي د مخه تر ورځي د قيامت؟ ابن عباس ؓ وويل بئس القوم چي مور ښځي په نکاح کړي او ميراث مو ووېشي، غرض يې دا وُ که علي ؓ راجع کېدای نو خو به ژوندی يو ځای وای، او د ژوندي مال خو نه وېشل کېږي او نه يې مانه په نکاح کېږي.

مسئله: په دغه آيت سره کفر د روافضو ثابتېږي چي دوی وايي (ان عليًا واصحابه يرجعون الى الدنيا فينتقمون عن اعدائهم) دوی به انتقام واخلي د خپلو دښمنانو څخه ويملأون الارض عدلاً كما ملئت جورًا، لان ذالک القول مخالف للنص المذكور فافهم.

انعام الهي با امة النبي العربي ﷺ: بدانکه خداوند متعال اين امت محمديه را اخير الامم گردانيده فضلاً وكرمًا منه ج تاكه ايشان عبرت گيرند از كفار امم ماضيه وايشانرا عبرت ديگر امت نه گردانيده اند واز هر امت خداوند متعال شكايت وگيله نموده واز امت مصطفى ﷺ شكايت بگوش ديگران رسانده از امم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ماضیه، کریمه: کنتم خیر امة اخرجت للناس الی اخیر الآیة، نوازش گرانمایه ایشان است، هان شکایت ایشان الی نبیهم المصطفی ﷺ در لیلة المعراج کرده قرار ذیل (۱) انی لم اکلفهم عمل الغد وهم یطلبون منی رزق الغد (۲) مانمیدهم رزقهای شان بدیگران وایشان اعمال خود را بغیر ما میدهند مثلاً بت پرستي وریا کاري میکنند (۳) یأکلون رزقی ویشکرون غیری (۴) همراه ما خیانت مینمایند وباغیر یعنی باخلق بصلح (۵) ان العزة لي وانا المعز وهم یطلبون العزة من سوای (۶) ما دوزخ را برائ کافران افریده ام وایشان کوشش میکنند که بدوزخ بیایند:

ابیات

فغان از بدیها که در نفس ماست .... به فعل نکوهست و نه گفتار است
او خواهنده بودن بمحشر فریق .... نه دانیم کدامین دهندم طریق
خدایا دوچشم زباطل بدوز .... بنورم که فردا نیارم بسوز

وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الْاَرْضُ الْمَيْتَةُ اَحْيَيْنٰهَا

پوه سه: چي (احییناها) خبر دی د الارض، والجملة خبر آیة لهم، او دا دلیل پر حقیقت د بعث بعد الموت دی محکمه ده چي مړه وي یعني نباتات نه وي باندي.

فائده: دې ته موت مجازًا وایي چي زه یې ژوندی کړم په نباتاتو چي هغه د مطر (باران) په ذریعه پیدا کیږي.

فائده: اطلاق د احیاء پر سرسبزي محکي هم مجاز دی، یعني د احیاء الموات د قیامت په ورځ هم ورته نقشه ده فالقادر علی احیاء الارض بعد الموت قادر علی احیاء الاموات من القبور، فیا للعجب لکفار مکة یرون احیاء الارض بعقدرة الخالق المعبود وینکرون احیاء الاموات عند البعث والنشور.

وَاَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا فَمِنْهُ يَاْكُلُوْنَ ﴿۳۳﴾

او موږ پیدا کړي دي له محکي څخه دانې غنم، جواري اوربشي (فمنه) له هغه حب څخه (یعني یا بالذات یا بالواسطة) خلک خورک کوي.

فائده: جار او مجرور یعني منه د مخه پر متعلق به یعني یأکلون لپاره د افادې ددې چي لویه حصه د ژوندانه دانې پوره کوي، یعني لا للحصر حتی یرد السوال.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَجَعَلْنَا فِيهَا جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ

او موږ پیدا کړي دي په مځکه کي باغونه د خورما د درختو علی کثرة انواعها او د انګرو باغونه مع کثرة انواعها.

دروښ وایي: چې په کندهار کي د انګورو پنځه ویشت (۲۵) قسمه مالیدلي یا خوړلي دي.

عجیبه: په تاریخ کي راغلي دي چې یو عالم چې د لغت د کتاب په تصنیف بوخت ؤ، او نوبت چې نخیل ته ورسېدی ده غوښتل چې په کتاب کي د خورما د اقسامو نومان ضبط کړي، یو بل عالم چې دده دوست ؤ او په خیبر کي اوسېدی چې د خورما تقریبًا مرکز دی نوشته کړه چې ته ماته د خورما د اقسامو نومان نوشته کړه چې زه یې د لغت په کتاب کي نوشته کړم، د خیبر عالم د هر قسم څخه د خورما یوه یوه دانه سره جمع کړه، او په بوجۍ کي یې واچولې ده که بوجۍ یې ورواستول، او ورته نوشته یې کړه چې دا خو ماته معلومي وې والعلم عند الله، تنبیهًا علی ان درج جمیع انواع التمور لا یسعها الکتاب.

فائده: چونکه انواع د نخیل او اعناب ډېر دي کما مر آنفًا، نو ځکه یې دواړه جمع راوړه یعني نخیل چې جمع د نخلة ده او اعناب چې جمع د عنب ده، او د حب انواع چونکه دومره ډېر نه وه، نو ځکه یې حب مفرد راوړی.

سوال: د حب انواع خو هم ډېر دي لکه بارتنګ، ایږدن، شکمپاره، ریحان وغیرها؟

ځواب: مراد له حب څخه هغه دانې دي چې خوراکي علی الاغلب شیان ځني پخېږي تأمل.

وَّفَجَّرْنَا فِيهَا مِنَ الْعُيُوْنِ ﴿۳۴﴾

او موږ جاري کړی په مځکه کي یو شی د چینو، نو اصل یې شیئًا من العیون، نو موصوف یې ځني حذف کړی او په نېز د اخفش کلمه د من زائده ده.

لِيَاْكُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖ

تا چې خلګ خورک وکړي له میوو څخه د جناتو په تأویل د مذکور فلایرد السوال چې د ثمره ضمیر خو مفرد دی او جنات جمع ده فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: لیأکلوا متعلق دی په فجرنا پوري، او بعض مفسرین وایي چي ضمیر د ثمره راجع و خدای ﷻ ته دی علی طریقة الالتفات من التکلم الی الغیبة ووجه الاضافة الیه تعالی لان الثمار کلها یخلق الله تعالی، په تفسیر بحر العلوم کي وایي قال علیه الصلوة والسلام اکرموا الخبز فان الله تعالی اکرمه فمن اکرم الخبز اکرمه الله، وفي حدیث آخر اکرموا الخبز فان الله سخر له برکات السموات ای الامطار، والارض ای النماء، والحدید چي تېش ځني جوړیږي چي مځکه په قلبه کشي کېږي، یا په اوسنۍ زمانه کي زراعتي آلات د اوسپنې، او مسخر کړي یې دي غوایي دیوي او غوبل لپاره، یا قائمقام د غویو لکه پو اوسنۍ زمانه کي زراعتي آلات د اوسپنې د نامبرده کارو لپاره، او ابن آدم یې هم مسخر کړ خولی دی چي بني آدم سر اسیمه دی د خبز، ډوډۍ، تیکله، مړۍ په تحصیل او لاس ته راوستلو په باره کي، په روح البیان کي وایي چي دغه ډوډۍ چي انسان یې خوري دري سوه شپیته (۳۶۰) صانعان لري چي اول یې میکائیل ؑ دی الی اخیره، شیخ سعدی قدس سره السامی چه خوش میفرماید دین باب:

ابر وباد مه وخورشید وفلک در کارند
تا تو نانی بکف آری وبغفلت نخوری
همه از بهر تو سرگشته وفرمان بردار
شرط انصاف نباشد که تو فرمان نبری

فائده: پو بښتنه! خدای پاک په دمخه آیت کي په بیان کي د جناتو داسي عبارت راوړی من نخیل واعناب، نو پو بښتنه داده چي اعناب خو انګورو ته وایي چي خوړل کېږي، او نخیل خو د خورما درختو ته وایي چي غیر مأکول دي، نو ځکه حکمت الهي دی چي په ځای کي د نخیل یې تمور نه وویل چي میوه د نخیل ده او خوړل کېږي لکه انګور فیتناسب المعطوفان؟

ځواب: د انګور درخته چي تاک یې بولي بیل (علحده) خواص ډېر نه لري، نو ځکه خدای ﷻ د تاکانو میوه ذکر کړه چي انګور دي بخلاف النخیل ولي چي دا درختي د خورما خواص عجیبه کثیره لري د تعجب وړ (۱) دا درخته اوله درخته ده چي پر مځکه یې قرار درلود لی دی (۲) دا درخته زموږ انسانانو عمده ده، ولي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دا د هغه څټو څخه جوړه سوې ده چې د آدم ابو البشر عليه السلام بنيه او صورت پوره سو، يو څه فضله څټه پاته سوه، نو د خورما د درختي ماده خدای پاک وګرځول (۳) بل د انسان سره مشابهت لري په استقامت کي د قامت وطولها على الاغلب (۴) دا درخته لکه انسان نر او ښځه لري، چې هر کال به نر مندکه د ښځي درختي په ذريعه د سکنه (پيوند) ورايږدي، نو حمل اخلي او خورما کوي (۵) که باغ والا وغواړي چې يوه زړه درخته د خورما دي له منځه ولاړه سي، نو نه دې پيوندوي، نو په باغ کي د خورما د نر درخت چې هر ځای وي دا بې پيونده درخته د نر درختي چې وقت د حمل يې راسي ور کړېږي حتى اخير غځاره سي (۶) اول چې وانښکي د خورما راوړي چې طلع يې بولي د مني بوی يې څي (۷) پر طلع يو نازک پوښ اوار دی لکه شيمه د د مورزاده کوچني د انسان (۸) په دې کي د انسان سره مشابهت لري چې د انسان سر چې پرې کړل سي د حيوة امکان يې قطع ګرځي، دغه رنګه د خورما د درختي سر چې پرې کړل سي بيا مېوه نه کوي، او که څه هم کلونه پر تېر سي او په مځکه کي ولاړه وي (۹) په باغ کي د خورما چې نر او ښځي ډېري سره ولاړي وي ښه مېوه کوي، لانها تستأنس بالمجاورة، او نوري خواصي هم لري.

وَمَا عَمِلَتْهُ أَيْدِيهِمْ ۖ أَفَلَا يَشْكُرُونَ ﴿٣٥﴾

(وما عملته آه، عطف على ثمره) او هغه شيان چې ستاسي لاسو يې عمل کړی وي، و كلمة ما موصولة.

پوه سه: چې مراد د ما عملته څخه دوښا يا سرکه يا ماء العنب يا نبيذ التمر ونبيذ العنب ونحوها، او بعض راويان وايي چې کلمه د ما نافيه ده، والمعنى ان الثمر بخلق الله لا بفعلهم (افلا يشكرون) الهمزة للاستفهام الانكاري والفاء للعطف على مقدر، تقديره اينكرون انعام الله فلا يشكرون وانكار ترك الشكر يدل على الامر بالشكر التزامًا.

سُبْحَانَ الَّذِي خَلَقَ الْأَزْوَاجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنْبِتُ الْأَرْضُ

پاکي ده يعني له هر نقص څخه هغه ذات بې همتا لره چې پيدا کړي يې دي اصناف انواع، تولې د هغه مواد و څخه چې مځکه يې شنه کوي من النباتات والاشجار المثمرة وغيرها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمِنْ اَنْفُسِهِمْ وَمِمَّا لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۶﴾

او ستاسي د ځانو څخه يعني نر او ښځي، او هغه شيان يې پيدا کړي دي يعني په بر او بحر کي چې تاسي علم نه پرلرئ، کريمه: ولايعلم جنود ربک الاهو.

وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الَّيْلُ ۚ نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَ فَاِذَا هُمْ مُّظْلِمُوْنَ ﴿۳۷﴾

او دليل دی پر قدرت د خدای ﷻ شپه چې موږ وکاږو او پوست کړو له دې څخه ورځ.

پوه سه: چې اصل خو ظلمت دی ورځ په طلوع د شمس پر دې يعني پر شپې داخل سي، نو ګويا شپه په پوست کي د ورځي راغله چې لمر ولوپږي ګويا له شپې څخه پوست د ورځي وختي نو بيرته شپه بنکاره سي.

پوه سه: چې دا کلام الهي استعاره ده من سلخ الجلد عن الحيوان فيظهر لحمه.

(فاذا هم مظلمون) عطف دی پر نسلخ منه النهار، نو نابيره دوی داخل سي په ظلمت کي د شپې، والحاصل يذهب بالنهار ويجيئ بالليل.

وَالشَّمْسُ تَجْرِيْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا

پوه سه: چې والشمس عطف دی على الليل، والتقدير وآية لهم الشمس وجملة تجري مستأنفة لبيان كون الشمس آية ويجوز انيكون الشمس مبتداء وتجري خبرها والجملة عطف على الليل، والتقدير وآية لهم الشمس تجري.

پوه سه: چې جريان د لمر په خپل فلک کي داسي دی لکه ماهی چې په اوبو کي روان وي يعني فلک يې ساکت دی او لمر او نور ستوري په خپلو خپلو افلاکو کي روان دي لکه ماهيان په اوبو کي، وهذا عند اهل الاسلام ويدل عليه ظاهر القرآن والاحاديث، وعند اهل الهيئة الكواكب ساكنة والحركة لافلاكها.

پوه سه: چې لمستقرلها مستقريا مصدر ميمي دی يا ظرف دی، والمعنى تجري لاستقرار لها على نهج مخصوص كما تراه الاعين (يعني استقرار په معنى د سکون نه دی بلکې په معنى د سير على النهج المخصوص) او لموضع استقرارها چې منتهي د يوې دورې شبانه روزي ده، او يا مستقر د شمس مابين د اسمان دی دمخه تر زوال ولي چې په دغه وخت کي حرکت دده بطئي سي بحسب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رؤية اهل الارض حتى چې د اهل الارض دا گمان کېږي چې لمر وقفه وکړه وليس وقفة بحسب الواقع ولا بطو، حركتها في نفس الامر، او يا مستقر دده نهايت ارتفاع دده، ده په دوبي کې يعني حين كونها في المنقلب الصيفي، او نهايت کښته والی د لمر دی په ژمي کې يعني عند المنقلب الشتوي، او يا تر منتهى مقدر پورې د هرې ورځې من المشارق والمغارب ولې لمر چې يوه دوره پوره کوي يعني يو کال شمسي درې سوه پنځه شپېته (۳۶۵) مشرقه سته او درې سوه پنځه شپېته (۳۶۵) مغربه سته، چې لمر هره ورځ په يوه مطلع کې د بلې ورځې جلا راخېژي، وهكذا تغرب كل يوم في مغرب علحدة، بل كال بيا داغسې رفتار د لمر په خپلو مشارقو او مغاربو کې، او يا د مستقر د لمر قطع د جرى دده ده عند خراب الدنيا، كريمه: يوم نطوى السماء كطى السجل للكتب.

فائده: دا ټوله بيان مبني پر دې دی چې لمر په هيڅ حال کې قرار او سکون نه لري في وقت من الاوقات، ويدل عليه قرائة ابن مسعود ؓ وما رواه البغوي عن عمر بن دينار عن ابن عباس ؓ (چې ابن مسعود ؓ او ابن عباس ؓ دا آيت داسې وايه) والشمس تجري لا مستقر لها، او روح البيان وايي چې لام په لمستقرها لام عاقبة دی (نحو لدوا للموت وابنوا للخراب) او مستقر مصدر ميمي دی والمعنى تجري (اى الشمس) بحيث يترتب على جريها (وهذا معنى اللام للعاقبة) استقرارها في كل برج من البروج (۱۲) على نهج مخصوص يعني چې په هر برج کې قرار لري يوه مياشت او دا هم نهج مخصوص د لمر د جرى دی چې شپه کرار کرار د ورځې ساعات په ځان کې داخلوي لکه په مني او ژمي کې چې نيم کال سي او داغه رنګه ورځ د شپې ساعات کرار کرار په ځان کې نغاړي لکه په پسرلي او دوبي کې چې نيم کال سي، او دا هم د لمر د جرى نهج مخصوص دی چې دی ځان نهايت ارتفاع ته رسوي په دوبي يعني په منقلب صيفي چې اطول د ورځو ده او نهايت الخطاط ته رسېږي په ژمي کې، يعني په منقلب شتوي کې چې شپه يې اطول د شپو ده ويترتب على جريها اختلاف الفصول الاربعة يعني پسرلی، دوبی، مني او ژمی، فمن الاعتدال الربيعي الى المنقلب الصيفي چې درې مياشتې سي پسرلی دی ومن المنقلب الصيفي الى الاعتدال الخريفي چې هم درې مياشتې دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوبی دی، ومن الاعتدال الخريفي الى المنقلب الشتوي چې هم دې مياشتې دي منی دی، ومن المنقلب الشتوي الى ان ينتهى الاعتدال چې هم دې مياشتې دي ژمی دی، وحينئذ يتم دورها يعني يو کال شمسي پای ته ورسېدی ثم وثم يعود هذه الدورات الى ماشاء الله تعالى يعني يختم هذا النظام في يوم القيام، والله تعالى اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب.

وروى البغوي رح الشافعي المذهب المشهور بمحى السنة عن ابى ذر رضی اللہ عنہ عن النبي ﷺ انه قال حين غربت الشمس اتدري اين تذهب الشمس هذه؟ قلت الله ورسوله اعلم، قال عليه الصلوة والسلام فانها (اى الشمس، مؤنث ضمير يې ورته راجع کړی له دې سببه چې لفظ د شمس مؤنث سماعي دی) تذهب حتى تسجد تحت العرش فتستأذن (يعني في الطلوع من المشرق) فيؤذن لها ويوشک تسجد تحت العرش فتستأذن (يعني في الطلوع من المشرق) فيؤذن لها ويوشک (اى قريبه ده) ان تسجد ولاتقبل منها وتستأذن (اى للطلوع من المشرق) فلا يؤذن لها ويقال لها ارجعي من حيث جئت فتطلع من مغربها (دا علامه د قرب القيامة ده او په دې وخت کې د توبې دروازه بنده سي فلايقبل ايمان کافر لم يؤمن من قبل ولا توبة العاصي)

سوال: مدار د شپې له وخت څخه د غروب د لمر تر وخت پورې د طلوع په اعتبار د اقاليم د کرة الارض خو فرق ډېر بدهي او ظاهر فرق راوړی حتى چې تر قطب شمال من وراء بلغاريا (چې د يو وطن نوم دی چې قطب شمال د دوی پر سر و برابر دی چې لمر په رأس السرطان کې وي يعني نقطة المنقلب الصيفي يکون الليل بحيث لايکون لها وقت العشاء ولي چې لمر پر دوی په مقدار د ميل کلي غائب پېرې، نو چې لمر ولوېږي چې شفق د مغرب د خوا غائب سي د ستي سپېدی راچوي، نو دومره وخت له کومه دی چې لمر دي غروب وکړي بيا دي تر عرش لاندي سجده کوي او بيا دي اذن د طلوع من جانب المشرق غواړي؟

خواب: د دې سوال په ځواب کې مظهري رح وايي چې د حديث دا معنی نه ده چې لمر همېشه پر سجده وي له وخته څخه د غروب تر وخته پورې د طلوع بلکې په داسي وخت پورې مخصوص دی چې تاريکه د شپې تولو اقاليمو ته شامله وي، يعني هغه وخت چې د لمر رفتار پر وسط د تولو اقاليمو وي، نو په دې وخت کې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه ملکي چې پر لمر مسلطي دي لمر ورسوي ما تحت العرش ته فتخر ساجدة ثم يؤذن لها بالطلوع او مقدار د شپې په اختلاف د اقاليمو باختلاف مبدء الليل ومنتهاه انتهى قول المظهري. په پښتو ژباړه.

دروښ وايي: چې دا جواب د لفظ سره د حديث برابر نه دی، ولي سوال د عليه الصلوة والسلام له ابو ذر ؓ څخه اتدري اين تذهب آه، او ابو ذر ؓ ځپله لا ادري ورته ښکاره کړه او علم ددې پوښتنې يې خداى او رسول ته وسپاری، او عليه الصلوة والسلام ځواب ورکړی فانها تذهب حتى تسجد آه، دلالت پر دې کوي چې على الدوام د لمر د غروب او د طلوع دغه کار دی الا ان يقال ان لفظ الحديث يعني قوله عليه الصلوة والسلام فانها تذهب حتى تسجد تحت العرش الخ.

قضية مهملة لعدم وجود لفظ الايجاب الكلي فيه، واتفق العلماء عن اخرهم ان القضية المهملة في قوة الجزئية فافهم، ويمكن الجواب بان سوال النبي ﷺ عن ابى ذر ؓ وجوابه بتفويض العلم الى الله ورسوله وجواب رسول الله ﷺ وبما اجاب كان وقت يكون الاقاليهم سواسية الاقدام في شمول ظلمة الليل لها كلها فتدبر والعلم عند الله.

دروښ وايي: چې پر جزئيت د جواب د عليه الصلوة والسلام يعني على ان قوله ﷺ قضية جزئية يدل هغه بيان د اهل هيئت چې په عرض تستعين کې يعني هغه ځای چې د استوا څخه عرض د شمال و خوا ته (۹۰) ورځي وي نو په هغه ځای کې چې لمر په بروج شماليه وو کې وي همېشه طالع وي غروب نه لري لكون تلك البروج فوق الافق ابدًا او چې لمر و بروج جنوبيه ؤ ته نقل سي بيا طلوع نه لري لكون تلك البروج تحت الافق ابدًا، حرکت د فلک دلته رحوي دی يعني لکه په ژمي کې، نو شپږ بروج شمالي ټوله ورځ ده او شپږ بروج جنوبيه يې شپه ده، نو کل د دغه ځای يو شبانه روز دی نصفها نهار و نصفها ليل.

پوښتنه: په قرآن کريم کې به وروسته راسي (كل فى فلك يسبحون) چې په دې آيت کې نسبت د فعل جمع ته د عقلاؤ دی يعني يسبحون کړی دی، او داغه رنګه په سورت يوسف کې في قوله تعالى اني رئيت احد عشر كوكبًا والشمس والقمر رئيتهم لي ساجدين، چې په دې آيت کې هم ضمير د عقلاؤ راغلی دی، او داغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رنګه په حدیث د ابی ذر ؓ کي راغلي دي انها تسجد وتستأذن، فان الظاهر ان الاستیذان بلسان القال دون لسان الحال، نو حاصل د پوښتنې دادی چې لمر او سپوږمی او ستوري د ذوی العقول څخه دي او که له جماداتو څخه دي؟

ځواب: ددې سوال په ځواب کي علامه آلوسي ؒ په روح المعاني کي یو په زړه پوري ځواب راوړی دی ولفظه ان الله تعالی بقدرته خلق الادارک والتمیز فیها حالة السجود والاستیذان.

سوال: دا ادارک او تمیز وروسته تر سجود والاستیذان ددوی څخه بیرته سلبوي او که څرنګه؟

ځواب: سید آلوسي ؒ وایي چې بیرته یې سلب د ادراک او تمییز ددوی څخه بعید غایة البعد، ولي چې شواهد د کتاب الله او د سنت نبوي او اقوال د اهل هیئت علی کونها ذات ادراک وتمییز مما لا تکاد تحصٰی کثرة وبعض الشواهد یدل علی علی ذالک ای الادارک والتمیز للشمس وبعضها یدل پر ثبوت د ادارک او تمییز لمر لره باعتبار دخول الشمس في عموم الادراک والتمیز په اثبات کي و تولو کواکبو ته، او یا نور ستوري پر لمر قیاس دي اذ لا قائل بالفرق بین الشمس وبین سائر الکواکب في ذالک ومتی کان کذالک فلا یبعد انیکون لها ای للشمس نفس ناطقة کنفس الانسان بل صرح بعض الصوفیة ؒ چې لمر نفس ناطقه کاملة جداً لري، والحکماء اثبتوا النفس للافلاک و بعضهم باثبات النفس الناطقة للکواکب جمیعًا وقالوا کل ما في العالم العلوي من الکواکب والافلاک الکلیة والجزئیة کخارج المرکز والحوامل والتداویر ناطق دي، سید محمود آلوسي ؒ زیاته کړې ده چې نفس انساني چې دغایة تقدس و مقام ته ورسیږي یعني د خپل بدن څخه ووځي، او په صورت متمثله سي ظاهرة بصور ابدانها او بصور اخری کما یتمثل جبرئیل ؑ بصورة دحیة بن خلیفة ؓ ویجئ الی رسول الله ﷺ ویتکلم بالوحي کما في البخاري وغیره، دا معنی نه ده چې جبرئیل ؑ چې شپږ سوه (۶۰۰) وزره یې په صورت اصلي کي درلودل هغه نیست او نابود سي، بلکې دا تمثیل صورت په صورت د دحیة د خپل اصلي صورت سره علاقه لري چې خپل آثار او افعال په صورت اصلي پر ځای ساتي، او بعض وخت جبرئیل ؑ په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صورت د يوه اعرابي متمثل عليه الصلوة والسلام ته راغلی کما جاء في صحيح البخاري و کما يحکی عن بعض الاولياء قدست اسرارهم انهم يرون في وقت واحد في عدة مواضع کالغوث الاعظم قدس سره، کما هو المشهور والمثبت بالروايات الصحيحة وانما ذالک ذالک لغاية تجرد انفسهم وغاية تقدسها عن العلائق البدنية فتمثل بصورته الاصلية في عدة مواضع وبدنها الاصلي في موضع اخری، وهذا امر مقرر عند سادة الصوفية وهو غير لقطع المسافة البعيدة في ادنی وقت وزمان، محمود آلوسي ؒ وايي چي انکار د دغو دواړو خبرو چي تمثيل په خپل صورت سره بل ځای او طي د مسافة بعيده في ادنی زمان يعني چي څوک انکار د دغو خبرو پر صوفية کرامو کوي مکابرة لاتصدر الا من جاهل او معاند.

او تعجب کړی دی علامه سعد الملة والدين التفتازاني ؒ وه بعض فقها، ته د اهل السنة لکه ابن مقاتل چي حکم د کفريې کړی دی پر معتقد د ماروی عن ابراهيم بن ادهم قدس سره چي خلګو دی په بصره کي وليدی په ورځ د اتم د ذوالحجة او په عين داغه ورځ کي نورو دی په مکه کي وليدی، ابن مقاتل وايي چي له معجزات کبارو څخه ده ولي کرامت نسي کېدای، علامه تفتازاني ؒ وايي چي معتمد په نزد اهل السنة داده ثبوت د کرامت د ولي الله ده مطلقًا الا فيما ثبت بالنص عدم امکانه من ولي، کالاتيان بمثل سورة من القرآن، کريمه: ان کنتم في ريب مما نزلنا علی عبدنا فأتوا بسورة من مثله (سورة البقرة)

دروښ وايي: چي سيد محمود آلوسي علامه بغداد ؒ وايي قد رای غير واحد تمثيل د نفس انور لنبينا ﷺ بعد الوفات وادعی انه عليه الصلوة والسلام في عدة مواضع في وقت واحد يقظة لا منامًا مع کونه في قبره الشريف يصلی مع ان القبر الانور مکان ضيق لايصلح للصلوة قيامًا فما ذالک التمثيل ذاته الشريف وقبره الانور، وقد صح ان النبي ﷺ رئ موسٰی ؑ يصلي في قبره عند الکثيب الاحمر بيا عليه الصلوة والسلام وليدی ورئ في السماء او د عليه الصلوة والسلام او د موسٰی ؑ خبری په فرضي لمونځو کي چي په شپه کي د معراج (۵۰) پنځوس لمونځونه پر عليه الصلوة والسلام خدای ﷻ فرض کړه، او موسٰی ؑ ورته وويل ان امتک لاتطيق تلک الصلوات، څو واره يې عليه الصلوة والسلام رد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی د درخواست د تخفیف الحدیث، کما رواه البخاري وغیره وقد رئ النبي ﷺ ليلة الاسراء جماعة من الانبياء غير موسىٰ ؑ مع ان قبور هؤلاء الانبياء عليهم السلام في الارض ولم يقل احد من علماء الامة المرحومة چي دغه انبياء ؑ له قبرو څخه اسمانو ته يورل سول، نو ليدل په اسمانو تمثيل او قطور دی د خپلو ځانونو په اسمانو مع ثبوت طورهم الاصلية في قبورهم في الارض، حکماء که څه هم وايي چي دا محال ده چي يو نفس دي مشغول کي اکثر تر بدن واحد لکن دا تمثيل د دوی تر عقلو لوړ دی کما لايخفى على من نور الله تعالى بصيرته.

والحاصل في تفسير الآية المذكورة ان للشمس نفسًا مثل تلك الانفس القدسية وانها تنقل عن الجرم المعروف المشاهد للناس مع بقاء نوع التعلق بها فتعرج الى العرش فتسجد تحت العرش بلا واسطة وذالک التمثيل تستقر هناک وتستأذن في الطلوع ولاينافي ذالک الاستقرار والتأذين في الطلوع د سير سره د جرم معروف په خپل اسمان وعدم سکونه لکه اهل هيئت چي هم مدعيان دي د عدم سکون د لمر و يکون ذالک اذا غربت الشمس وجاوزت عن الافق الحقيقي او قطع سي ليدل دده من مکان المعمورة من الارض ولا يضر طلوعها اذ ذاک في عرض (۹۰) ونحوه لان ما ذکرنا من السجود وانيکون باعتبار النفس المنسلخة المتمثلة بما شاء الله تعالى لاينافي سير الجرم الاصلي للشمس المعروف، وروسته بيا الوسي ؒ د شيخ محي الدين ابن العربي قدس سره خبري په فتوحات مکيه (چي د ابن عربي د کتاب نوم دی) رانقل کړي دي چي زمونږ تر عقولو لوړ دی.

دروېش وايي: چي پرده علامه بغداد السيد محمود آلوسي ؒ په روح المعاني کي د کشف ماکش چي مظهري کړی ؤ او وړاندي تېر سو چي وروسته تر غروب هغه ملائکه چي خدای ﷻ پر لمر مسلطه کړي دي دوی لمر له يوه اسمان څخه بل ته له بله څخه بل ته وهکذا حتى چي عرش ته يې ورسوي او هورې لمر سجده وکړي او استيذان د طلوع و غواړي د شرق د خوا کما في حديث ابی ذر ؓ چي راغلي وه، موږ د کشف ماکش څخه خلاص سوو، ولي چي دا معروف لمر خو د خپل ځايه نه ځي د سجدې لپاره او د استيذان لپاره بلکې هغه متمثل لمر هورې ځي فتدبر غاية التدبير (دروېش وايي: چي دا ؤ تفسير قوله والشمس تجري لمستقر لها)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ۝

(ذالک) اشاره ده مصدر ته د تجري ای الجری المتضمن لحکمته تعالی چې عقول عاجزه دي و پای ته د رسېدو د هغه حکمت) اندازه د هغه غالب خدای پر هر مقدور قادر دی، لایعجزه شیئ فیما قدره او چې خبر دی په هر معلوم سره.

وَالْقَمَرَ قَدَّرْنٰهُ مَنَازِلَ

ای قدرنا لمسیره منازل او قدرنا مسیره في المنازل.

پوه سه: چې القمر منصوب دی په اضمار د فعل فسره مابعده، یعنې قدرنا چې دې ته منصوب علی شریطة التفسیر وایي چې فائده یې داده چې څوک چې په اول هیئت نصب د قمر وویني په ناصب کې متردد او منتظر سي، وروسته چې تفسیر وویني انتظار یې دفع سي.. جامي قدس سره وایي:

چه خوش باشد که بعد از انتظاری .... با امید رسد امیداوری

او داسې علم چې وروسته تر انتظار پیدا سي الذ او اوقع په ذهن کې وي (منازل) وهي (۲۸) منزله دي، ینزل القمر في کل واحد لیلة واحدة لایتخطاه ولایتقاصر عنه، فاذا کان في اخر منازله دق نری سی واستقوس لکه کمان په سبب د غایت قرب وده ته یعنې لمر ته، ولې چې نور د قمر مستفاد له نور څخه د شمس دي، نو پر دغه قدر نور د لمر یې پر برابري موږ یې وینو او نوره نوراني خوا یې لوړه وي.

حَتّٰى عَادَ كَالْعُرْجُوْنِ الْقَدِيْمِ ۝

حتی چې وګرځي لکه لرګی د خورما د بناخ چې زوړ وي، تخمینًا یو کال پر تېر سوی سوی وي چې داسې لرګی ډېر کوږ او دقیق وي حتی تحت شعاع د لمر لاندې پټه سي چې په عربي یې محاق بولي او پښتانه وایي چې سپوږمی لمر واخستل.

لَا الشَّمْسُ يَنْۢبَغِيْ لَهَآ اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ

نه لمر لره ښایي.

پوه سه: چې عبارت چې حرف نفي یې پر شمس داخل کړی ابلغ دی تر داسې عبارت لاینبغي للشمس، کما قالوا انت لاتکذب بتقدیم المسند الیه ابلغ دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لاتكذب انت، ولي چي په اول کي دوه اسناد سته بخلاف الثاني كما تقرر في علم النحو فالمعنى لا الشمس يصح لها ويتسهل (ان تدرک القمر) چي ودي رسېږي په سپوږمي پسي، قال البيضاوي وروح البيان اى في سرعة سيره، وهذا مبني على ما قال الفلاسفة ان القمر اسرع سيراً من الشمس، ولي چي سپوږمي دوره په يوه مياشت کي قطع کوي، او دوره د لمر په يوه کال کي، والاولى ان لايقيد السير بالسرعة بل يقال الشمس لاتدرک القمر في سيره المخصوص يعني چي سر د دواړو پر يوه دول وي فان ذالک يخل تبكون النباتات وتعيش الحيوانات وذالک لان الباري ﷻ بحكمته جعل لكل واحد من الشمس والقمر سيراً مخصوصًا وربط به منافع الحيوانات والنباتات، مثلاً لمر چي دى كاملة النور دى نو كه لمر بطئ السير واى لدامت في بقعة واحدة زمانًا كثيراً، نو د هر شي چي لمر مسامت وي هغه سوځي او كه سريعة السير واى لما حصل لها لبث في بقعة واحدة بقدر ما يخرج النبات من الارض والاوراق والثمار من الاشجار وما ينفع الثمار والحبوب نو كه لمر ورسېږي په سپوږمي پسي في سرعة سيره فكان في شهر واحد صيف وشتاء، فيختل احكام الفصول الاربعة وتكون النباتات وتعيش الحيوان، او دا هم احتمال سته چي معنى د آيت دي دا وي چي نسته لمر لره چي ودي رسېږي درجه ته د سپوږمي في آثاره ومنافع چي هغه په هر يوه پوري خاص دي، وليس الآخر ان يدرکه فى تلك المنافع والآثار، مثلاً د مېوو پخوالى په لمر پوري اړه لري ولونه بالقمر وطعمها بالكواكب، او دا هم روا ده چي معنى د آيت دي دا وي چي نسته لمر ان تدرک القمر في مكانه ولا يجتمعان في موضع واحد، ولي سپوږمي په اول اسمان کي ده او لمر په څلورم اسمان کي دى، نو جمع يې ممكنه نه ده او يا معنى داده چي لمر د سپوږمي ادراک نسي کولاى په سلطنت کي د سپوږمي يعني نور د سپوږمي چي دليل د وجود د سپوږمي دى، ولي چي نور د سپوږمي خو د شپې وي نو لمر نسي کېداى چي د سپوږمي سره دي يو ځاى سي بان تطلع الشمس ليلاً، ولي چي سلطان د قمر محو کېږي او داغه رنګه ورځ پر شپه غالبه کړځي.

دروښ وايي: چي دا ټوله احتمالات چي ذکر سوه روح البيان راوړي دي، او بعضو نورو تفاسيرو هم راوړي دي، او مظهري وايي چي بعضو علماؤ چي ويلي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دي چي حديث د ابو ذر رضی الله عنه له متشابهاتو څخه دی، يا بعض وايي چي مراد له سجود څخه نفس انقياد دي د سياق سره د حديث منافي دی والله اعلم.

دروښ وايي: چي مظهري په حواله و بغوي رح ته وايي چي داهم روا ده چي د شمس څخه ورځ مراد وي (بعلاقة ان الشمس تكون بالنهار) او د قمر څخه دي شپه مراد وي (ای مجازًا المذكور آنفًا) نو ددې وروسته آيت مقابله برابريږي اذ المعنى لاينبغي للنهار ان يدرك الليل ای يسبقها.

وَلَا الَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ ۚ

او نه شپه دمخه کيږي تر ورځي، يعني شپه او ورځ يو په بل پسي متصل راځي او نه ورځ او شپه تر خپل وخت دمخه راځي.

وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ ﴿٤٠﴾

(وكل) تنوين عوض د د مضاف اليه څخه دی ای كل واحد من الشمس والقمر.

سوال: پر دې تقدير ضمير د يسبحون چي جمع دی و چا ته راجع دی، بلکې بايد يسبحان ويل سوي واى؟

ځواب: ددې سوال په ځواب کي قاضي ناصر الدين البيضاوي وايي چي ضمير د جمع راجع دی و شموس او اقمار ته.

سوال: شمس او قمر خو يو يو دي، قاضي بيضاوي وايي چي په اعتبار د تعدد د احوالو ددې دوو يا په اعتبار د مطالع او مغارب او يا په اعتبار د نورو احوالو تغاير اعتباري او تعدد په لمر او سپوږمۍ کي پيدا کيږي وهو يكفى لا رجاع ضمير الجمع اليها؟

ځواب قاضي بيضاوي رح داسي ورکړی دی چي ضمير د جمع راجع و کواکبو ته دی.

سوال: کواکب خو دمخه نه دی ذکر سوی نو اضمار قبل ذكر المرجع به نه وي؟

ځواب: قاضي رح وايي چي ذکر د لمر او سپوږمۍ مشعر دي په ذکر د کواکبو لانهما اشهر الكواكب وانفعهما لاهل الارض وهذا القدر من الذكر يكفى لارجاع الضمير.

پوه سه: چي مظهري وايي چي مراد له فلک څخه يو فلک دی، يعني تنوين لپاره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د وحدت دی نو مراد څني سماء الدنیا دی او دلیل یې دا آیت ګرځولی دی، انا زینا السماء الدنیا (ای القربی) بمصابیح (یسبحون) سبح چابک تګ ته وایي یا په اوبو کي یا په هوا کي بیا استعارةً په سیر د ستروفي فلک کي مستعملېږي، ولهذا فسره المظهري بقوله کما یسبح السمک في الماء روح المعاني وایي ولا مانع عندنا ان یجری الکواکب بنفسه في جوف السماء او اسمانونه ساکن پر خپل ځای وي لاتدور اصلاً، او حکماء چي وایي چي جرم د اسمان صلب او سخت او خرق والتیام یې روا نه دی لم یردوا علیه دلیلاً، او یا دي داسي وي چي جوف د فلک دي ډک وي له هوا څخه یا د بل جسم لطیف څخه ستوري دي په سهولت سره په هغه کي رفتار کوي لکه ماهی په اوبو کي، او یا دي تجویف د فلک له هر قسم جسم څخه که لطیف وي او که غلیظ وي خالي وي ستوري په هغه ځای کي رفتار کوي، وما ذکره الحکماء ان الخلاء ممتنع لیس لهم دلیل علی ذالک حتی روح المعانی وایي و اقوی ما ذکروا في امتناع الخرق والالتیام او امتناع الخلأ مطلقًا اوهن من بیوت العنکبوت.

فائده: دا آیت صریح په دې کي دی چي لمر او سپوږمی په فلک کي روان دي یا په قسر د ملکو که دوی اراده ونه لري او که په خپله اراده که له ذوی العقول څخه وي کما هو التحقیق، وقد مر ذالک او د حکماؤ او د اهل هیئت مذهب دادی چي لمر یا سپوږمی یا نور ستوري په اسمانو کي لکه میخونه دي چي په خپله هیڅ حرکت نه لري، بلکې په حرکت د اسمانو حرکت کوي، حرکت وضعیه چي پر محکه شاوخوا راګرځي اصلاً ددوی د مذاهبو مبنی داده که د سباحت معنی حرکت د ستورو وي نو په اسمانو کي خرق او التیام وهو ممتنع عندهم وقد مر ذالک، نو چونکه حرکات د ستورو یا په جهت یعني شرقًا او غربًا سره مختلف یا په سرعت او بطوء، نو دوی وایي چي تعدد د حرکاتو د کواکبو مستلزم دی تعدد لره افلاکو او دوی وایي چي اسمانونه نهه (۹) ذي، او دوی وایي چي اسمانونه یو په بل پوري متصل دي لکه د پیاز پوستکي او پانې، والا یلزم الخلاء الی غیر ذالک من خرافاتهم المذکورة في علم الریاضي.

پوه سه: چي نصوص قطعیه چونکه صراحةً دلالت کوي پر دې اسمانو چي اووه دي کما جاء في مواضع من القرآن العزیز لامزید علیه فکیف جاحدها، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دغه نصوص قطعیه خرق والتیام پر افلاکو روا بولي بحیث یکفر جاحدها ایضًا بل النصوص دالة علی وقوع الخرق علیها، قال الله تعالی اذا السماء انشقت، اذا السمآء انفطرت، وانشق القمر، ونحو ذالک، والاحادیث الصحیحة المتواترة المعنی دلت علی ان السمٰوات غیر منطبقة بعضها علی بعض بل بین کل سمائین مسافة کثیرة بحیث یفسق جاحدها.

پوه سه: چي احمد او ترمذي د ابو هریره رضی الله عنه حدیث مرفوع روایت کړی دی چي دهر طویل دی ذکر د رسول الله ﷺ بعد مابین الارض والسماء، و بعد مابین کل سمائین (۵۰۰) سنه مسافت.

پوښتنه: په بل حدیث مرفوع کي راغلي دي ذکر رسول الله ﷺ ان مابین الارض والسماء وبین کل سمائین اما اثنتان او ثلاث وسبعون (تردید شک د راوي چي کوم عبارت علیه الصلوة والسلام وویایه) فماوجه الجمع بین ذینک الحدیثین، مظهري وایي چي وجه د جمع یې اختلاف دی په منځ کي د سیر د سائرینو سرعة وبطوء، حاصل د کلام دادی چي د علم هیئت و علم ته اعتبار نسته، او په بعض مسائلو کي بهره د کفر سته، والله اعلم.

وَاٰيَةٌ لَّهُمْ اَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ﴿۴۱﴾

او دلیل د قدرت د خدای ﷻ دادی چي موږ بار کړي دي اولاد ددوی په کښتی کي چي هغه ډکه وه.

پوه سه: چي آیة لهم خبر مقدم دی او انا حملنا یې مبتداء ده.

فائده: لفظ د فلک دلته مفرد دی لان المشحون صفته وهو مفرد.

فائده: راغب اصفهاني رح وایي چي ذریة په اصل کي صغار ته د اولاد وایي وان یطلق علی الصغار والکبار في العرف ویستعمل في الواحد والجمع واصله الجمع انتهی، ویطلق علی النساء لاسیمًا مع الاختلاط مع الرجال مجازًا کما في حدیث عمر رضی الله عنه حجوا بالذریة، یعني النساء وایضًا في الحدیث الصحیح نهی النبي ﷺ عن قتل الذراری یعني النساء (في الغزوات) والمعنی ه انا حملنا اولادهم الکبار الذین الی تجاراتهم في الفلک المشحون ای المملو، وقیل حملنا صبیانهم ونسائهم چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاسي يې د ځانو ملګري کوئ چې هغو لره نفقه د سفر نه وي پر خشکي باندي.

فائده: مراد له فلک څخه کوچنی اولویي کښتی. دواړه دي وتخصيص الذرية بالذكر لان استقرارهم في السفن اشق وابعد وتماسكهم فيها اعجب، بغوي ؒ وايي چې مراد له فلک څخه کښتی. د نوح ﷺ ده او پر دې تقدير مراد له ذرية څخه الاباء لان اسم الذرية يطلق على الاباء كما يطلق على الاولاد، قاضي بيضاوي ؒ وايي چې که مراد له فلک څخه سفينه د نوح ﷺ سي، نو معنى د آيت داده ان الله تعالى حمل آبائهم وحمل ذريتهم في اصلابهم، بيضاوي وايي چې تخصيص د ذرية پر دې تقدير په ذكر سره لانه ابلغ في الامتنان (يعني اظهار المنة والاحسان عليهم) مع الايجاز في العبارة.

وَخَلَقْنَا لَهُمْ مِّنْ مِّثْلِهٖ مَا يَرْكَبُوْنَ ﴿٤٢﴾

پيدا کړي دي موږ د خلکو لپاره په مثل د مطلق فلک يا مثل د فلک نوح ؑ (مايركبون) چې په قرآن مبارک کې مراد ځنې اوښان دي چې د هغې زمانې عربو به اوښان سفائن البر بالله، والتسمية لاجل ان الابل هي بر بار وړلای سي، او په تګ کې ژر نه ستړي کېږي او خورک يې هم اسانه دی چې په صحراء کې ځوزان خوري او اوبو ته هم ضرورت ژر نه لري، ولي اوښان پريږده ځای د هېرې او به ځيښې، واطلاق السفائن على الابل شائع كما قيل الابل سفائن البر والسراب بحارها.

دروښ وايي: چې دا بيان د نزول القرآن د وخت ؤ، په اوسنی زمانه کې د سفن البحر په ځای کې آب ګوتونه په درياب کې د متعارف شيانو په ذريعه چلېږي او د اوښانو په ځای کې غټ غټ موټران بارونه وړي، لکن بيا هم د عربو په دور ؤ درازو علاقو کې سفن البحر او سفن البر چې اوښان دي وجود لري.

وَاِنْ نَّشَاْ نُغْرِقْهُمْ فَلَا صَرِيْخَ لَهُمْ وَلَا هُمْ يُنْقَذُوْنَ ﴿٤٣﴾

او که زموږ اراده وي يعني خلق په غرق په درياب کې سره د کښتيو لان الله يتصرف في ملكه كيف يشآء (فلا صريخ لهم) جزاء د شرط محذوف ده، يعني ان نغرقهم، فرياد رس د دوی به نه وي چې له غرق څخه دې خلاص کړي (ولاهم ينقذون) عطف دی پر لاصريخ لهم اى لاينجون من الغرق.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا وَمَتَاعًا إِلَىٰ حِينٍ ﴿٤٤﴾

پوه سه: چې دا استثناء مفرغه ده (یعني مستثنیٰ منه یې محذوف دی) منصوب ده علی العلیة ای لاینقذون لشیئ (دا مستثنیٰ محذوف ده) الا لرحمة منا (دا معنی د علیت ده) والمعنی دوی نجات له غرق څخه نسي پیدا کولای په سبب د هیڅ شي مګر په سبب د رحمت زمونږ او نفع ورکول دوی ته تر یو وخت پورې چې اجل الموت پر راځي.

حکایت: شیخ سعدي قدس سره در کتاب گلستان آورده: بادشاهی باغلام عجمی در کشتی نشته بود. غلام دریارا هرگز ندیده بود ومحنت کشتی نه کشیده بود. گریه وزاری آغاز نمود ولرزه بر آندامش افتاد، بادشاه هرچند ملاطفت نمود آرام نگرفت، ملک را عیش ازو منغض شد هیچ چاره نداشتند، حکیمی درآن کشتی بود، ملک را گفت اگر فرمان دهی من اورا بطریقی ساکت کنم، ملک گفت لطفی باشد، حکیم امر کرد غلام رابدریا انداختند باری چند غوته خورد حکیم مویش گرفت وسوی کشتی آوردند چون بر آمد گوشه در کشتی بآرام نشست وقرار گرفت. ملک را عجب آمد واز حکیم پرسید درین چه حکمت بود؟ حکیم گفت ای خداوند، اول محنت غرق شدن نچیده بود، وقدر سلامت کشتی نمی دانست، همچنان قدر عافیت کشتی کسی داند که بمصیبت غرق مبتلا گردد... ابیات:

ای پسر تو نان جوین خوش نمایید .... معشوق منست آنکه بنزدیک تو زشتست
حوران بهشتی را دوزخ بود اعراف .... از دوزخیان پرس که اعراف بهشتست

تفریع: فلابد من مقابلة النعمة بالشکر والعطاء بالطاعة والانفاق.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّقُوا مَا بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٤٥﴾

هغه وخت چې ویل سي (یعني کفارو ته د مکې) چې تاسي وپېرېږئ له هغه شي څخه چې په حضور کې ستاسي دي او له هغه شي څخه چې وروسته تر تاسي دي.

ابن عباس رضي الله عنه وایي چې د مابین ایدیهم څخه مراد آخرت دی (یعني په دې سبب چې ستاسي ورته مخ دی، گویا حاضر دی، ولهذا قیل ما ابعد ما فات وما اقرب ماهو آت) مراد له پېرې څخه یې دادی چې عمل د اخرت لپاره کوئ، او مراد له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ما خلفكم څخه دنیا ده (یعني ستاسي ورته شا ده) والمراد بالتقوٰی من الدنیا الانهماک بشهواتها والاغترار بلذائذها، وقال قتاده ؒ المراد بما بین ایدیکم وقائع الله تعالی فیما قبلکم من الامم (مراد له وقائعو څخه عذابونه د خدای ﷻ دي چي پر دوی نازل سوي وه لکه عاد، ثمود، قوم فرعون وغیرهم) او د ما خلفکم څخه عذاب د آخرت مراد دی، وقیل المراد به عذاب الدنیا وعذاب الآخرة، وقیل عکسه وقیل ماتقدم من الذنوب و ما تأخر.

دروښ وایي: چي والکل صحیح والاعتماد الکلي علی ما قال رئیس المفسرین ﷺ.

(لعلکم ترحمون) ای لتکونوا راجین رحمة الله، د اذا جواب محذوف تقدیره اذا قیل لهم اتقوا اعرضوا بقرینة.

وَمَا تَأْتِيهِم مِّنْ آيَةٍ مِّنْ آيَاتِ رَبِّهِمْ إِلَّا كَانُوا عَنْهَا مُعْرِضِينَ ﴿٤٦﴾

پوه سه: چي من اولی زائد دی لاستغراق النفي ومن ثاني لپاره د تبعیض دی، والمعنی او نه راځي یعني نه نازلیږي یو آیت د آیاتو څخه د رب د دوی یعني الآیات القرآنیة لکه په دې سورت کي چي بیان سوه (الا کانوا عنها معرضین) مګر دوی له هغو څخه مخ اړونکي وه یعني پر وجه د تکذیب او استهزاء.

فائده: الا مستثنٰی هـ مفرغ ده (یعني مستثنٰی منه یې محذوف دی) من اعم الاحوال، والتقدیر وما تأتیهم من آیة من آیات ربهم في حال من الاحوال الا حال اعراضهم عنها، او یا مراد له آیاتو څخه آیات تکوینه وي یعني په عالم کون او وجود په علویاتو او سفلیاتو بلکي په ټولو ذراتو دلائل د وحدانیت او د قدرت او د علم شامل د خدای ﷻ دي لکن کفار مکه وغیرهم په هغو کي صحیح غور نه کوي حتی چي ایمان یې پر وحدانیت د خدای ﷻ راوړی وي... شاعر مغربي وایي:

مغربی آنچه عالمش خوانند .... عکس رخسار تست در مرآت
وآنچه او آدمش همی دانند .... نسخه عالمست مظهر ذات

وقال الشیخ السعدی قدس سره:

برگ درختان سبز در نظر هوشیار .... هر ورقی دفتریست معرفت کردگار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ أَنفِقُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ

یعني چې مؤمنانو به کفارو ته د مکې وویل (عطف علی الشرطیة السابقة) تاسي صدقه وکړئ بعض د هغو مالو څخه چې په رزق درکړي دي الله ﷻ.

پوه سه: چې کلمه د من په مما رزقکم الله کې لپاره د تبعیض ده)

قَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا

وایي هغه کسان چې کافران دي، و هغه چاته چې ایمان یې راوړی وي.

سوال: چې ضمیر یې راوړی وای یعني قالوا عبارت به اخصر نه وای؟

ځواب: ترک د اضمار وان کان فیه اختصار للتصریح بکفرهم والحکم علیهم بالکفر.

أَنُطْعِمُ مَن لَّوْ يَشَاءُ اللَّهُ أَطْعَمَهُ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٤٧﴾

آیا موږ به رزق ورکوو و هغه چا ته چې که د خدای ﷻ اراده وای هغو ته به یې طعام او رزق ورکړی وای.

حاصل د کلام د دوی دادی چې خدای ﷻ چې دوی ته رزق نه دی ورکړی، نو موږ هم موافق د مشیت سره د خدای رزق نه ورکوو، دا خبره به اغنیاؤ د قریشو کوله چې فقراؤ د مؤمنانو به له دوی څخه طلب د طعام وکړی له دوی څخه لکن دا خبره او جواب د مشرکانو د مکې بلکې هر څوک چې ورته خبري کوي باطلي دي، ولي خدای ﷻ موافق د حکمت سره بعض اشخاص غنیان کړي او بعض یې فقراء کړ څولي امتحانًا لشکر الغني ولصبر الفقیر، یعني منع د فقیر په سبب د بخل یا د قدرت د خدای ﷻ نه ده، او امر د غنی په اتفاق سره د دې سبب نه دی چې خدای ﷻ دده مال ته محتاجه دی، ولا اعتراض لاحد علی مشیة الله یفعل ما یشاء ویحکم مایرید في الدارین.

(ان انتم الا في ضلال مبین) نه یاست تاسي ای مؤمنانو چې موږ امر کوئ په مخالف سره د مشیت د خدای ﷻ نو دا قول تتمه د قول د مشرکانو د مسلمانانو، او یا دا جواب د خدای ﷻ له خوا و مشرکانو ته دی.... ابیات:

دروپش را حذر بتوانگر حواله گرد .... تا کار او بسازد وفارغ کند دلش
از روی بخل اگر نشود ملتفت باو .... فردا بود ندامت واندوه حاصلش

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وجاء في الحديث الصحيح لو شاء الله لجعلكم اغنياء لافقير فيكم، ولو شاء الله لجعلكم فقراء لاغنى فيكم، ولكنه ابتلى بعضكم ببعض لينظر كيف يعطف الغنى (يعني على الفقير) وكيف يصبر الفقير.

دروښ وايي: چي معنى د لينظر چي ضمير چي ضمير يې وخداى ﷻ ته راجع دى داده چي ظاهر کړي خلکو ته، فلا يرد ان الله عالم الغيب والشهادة فافهم.

وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٤٨﴾

او وايي کفار مکه کله ده دا وعده چي تاسي يې موږ ته بيانوئ (اى القيامة والبعث بعد الموت، عطف دى پر شرطيه سابقه، استفهام لپاره د انکار دى) (ان كنتم صادقين) في الاخبار باتيانه وجواب الشرط محذوف دى يعني خو موږ هم خبر کړئ په وخت د راتګ وبالعربية فانبؤنا عن وقت اتيانه.

پوهه سه: چي ضمير د كنتم راجع دى وعليه الصلوة والسلام او مؤمنانو ته، مولى جلال الدين الرومي ؒ د آخرت احوال د انسانانو داسي بيان کړى دى، مثنوي ؒ:

خلق در بازار یکسان میروند ..... ان یکی درذوق دیگر درد مند

همچنان زنده میرویم ..... نم درخسران ونیمی خسرویم

مَا يَنْظُرُوْنَ اِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً

(ماينظرون) دا جمله حال ده له فاعل څخه د يقولون، يعني يقولون في حال ماينتظرون (اصل د ما ينظرون ما ينتظرون ؤ تاء يې ځني حذف کړه للتخفيف) الاصيحة: مګر يوې نعرې يعني د اسرافيل ؑ، ابن عباس ؓ وايي چي مراد له دې څخه صيحة اول نفخه ده چي نفخة الصعق والموت يې هم بولي.

پوښتنه: مشرکان له نفخة څخه منکر دي فکيف هذا الانتظار انما هي الحيوة الدنيا نموت ويحيى، يعني دوى وايي چي ژوند دغه ژوند دى د دنيا بعض خلک مري، او بعض نوي پيدا کيږي؟

ځواب: دا آيت کنايه ده د عدم ترک المعاصي والشرک، ابدًا حتى يموتون او تأتيهم الساعة بغتة وهم لايشعرون، يعني دوى چي له معاصيو څخه نه منع کيږي قبل ذالک فکانهم ينتظرون لاجل ترک المعاصي صيحة اى نفخة الموت.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تَأْخُذُهُمْ وَهُمْ يَخِصِّمُونَ ﴿٤٩﴾

(تأخذهم) صفت د صيحة دی وضمير الجمع راجع الى الناس المفهوم مما سبق وكذا جميع الضمائر الآتية (وهم يخصمون) دا جمله حال ده له ضمير منصوب څخه في تأخذهم كي، والمعنى چي ذده وی په بازارو كي سره دعوی وي او خبري اتري به سره كوي په امورو كي د دنيا او په معاملاتو د بيع او شرا لايخطر ببالهم شيئ من اتيان الصيحة.

پوه سه: چي اصل د يخصمون يختصمون و د كلمه د تأ ساكنه كړه و ادغمت في الصاد وروسته يې خاء ته كسره وركړه لالتقاء الساكنين على غير حده.

بخاري او مسلم له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت كړی دی، قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اتقوا من الساعة (ای نفخة الموت) وقد نشر الرجلان ثوبًا بينهما فلا يتبايعان ولا يطويانه (سره خلاصه كړې به وي دې دوو كسانو يوه جامه كه د اغوستلو وي او كه د اوارېدلو وي يعني لپاره د بيع او شراء، نه به سودا سره وكړي او نه به هغه جامه كت كړي) او عليه الصلوة والسلام زياته كړه چي يو سړی به شيدې د اوښي يا د مېږي د خورک لپاره هغه شيدې لويشي، نو هغه شيدې به ونه خوري چي نفخة د قيامت به پر راسي، او داغه رنګه قيامت به قائم سي چي يو سړی يوه ګوله دودی وغيره و خولې ته پورته كړي او به يې خوري.

فَلَا يَسْتَطِيعُونَ تَوْصِيَةً وَلَا إِلَىٰ أَهْلِهِمْ يَرْجِعُونَ ﴿٥٠﴾

دوی به طاقت ونه لري د وصيت او نه خپل كور و او عيال ته تلای سي يعني ان كانوا خارجي البيت فافهم، ولي چي هر ژوندی كه انسان وي او كه حيوان ځای پر ځای د دفعةً واحدةً مړه كېږي.

پوه سه: چي (فلا يستطيعون) عطف دی پر (تأخذهم) باندې.

سوال: تأخذهم خو صفت ؤ د صيحةً نو په اعتبار د عطف خو فلا يستطيعون هم صفت دی د صيحةً نو عائد و موصوف ته په دې جمله معطوفه كي څه شی دی؟

ځواب: عائد يې محذوف دی والتقدير فلا يستطيعون بعدها ای بعد الصيحة فكلمة ها عائد يې محذوف دی فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ

دروښ وايي: چې مراد له دې نخفه څخه نفخة ثانيه ده لاجل احياء الاموات لپاره د حساب او جزاء.

سوال: نفخ خو ماضي صيغه ده او نفخه ثانيه خو په مستقبل بعيد کې راځي؟

ځواب: يو کار چې متيقن الوقوع وي که څه هم په مستقبل کې وي لکه ماضي وي، ومثله في القرآن قد جاء في غير موضع.

فائده: دا جمله عطف ده پر مضمون د قوله تعالى فلا يستطيعون، يعني يموتون في ساعة وينفخ في الصور مرة ثانية وبين النفختين اربعون سنة كذا روى ابن ابى حاتم رح عن ابن عباس رض، او له ابو هريره رضي الله عنه څخه حديث مرفوع منقول دى چې په منځ کې د دوو نفختينو څلويښت کاله دي.

پند: علماء د امت مرحومه وايي چې انسان ته مرګ ژر رائي او د انسان تولې خواهشات نه پوره کيږي بلکې په زبان حال وايي هل من مزيد، فعلى العاقل ان يتدارک ويقصر الامال. صوفي بايد ابو الوقت وي ابن الوقت نه وي، شيخ سعدي رح په باب کې د داسي خلګو داسي خوابده بيتونه ويلي دي:

تو غافل دراندېشه سود و مال	که سرمايهٔ عمرشد پايمال
غبار هوئ چشم عقلت بدوخت	سموم هوس کشت عمرت بسوخت
خبرداری ای استخوان قفس	که جان تو مرغيست نامش قفس
چو مرغ از قفس رفت وبگست قيد	دگر ره نگردد بسعی تو صيد
نگه دار فرصت که عالم دميست	ادمی پيش دانا به از عالميست
سکندر که بر عالمی حکم داشت	دراندم که بگذشت عالم گذاشت

فَاِذَا هُمْ مِّنَ الْاَجْدَاثِ اِلٰى رَبِّهِمْ يَنْسِلُوْنَ ﴿٥١﴾

نو نابيره دوی له قبرو څخه و حکم ته د خداى عزوجل چابک راووځي (اجداث جمع د جدث ده په معنى د قبر)

پوه سه: چې چابک تګ د دوی اجباراً دی لا اختياراً.

پوښتنه: دنيا وال خو تولې مړي په قبرو کې نه ښخوي، بلکې بعض کافران

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مشرکان خپل مړي په اور سوځي لکه د لوی وچي د هند هندوان وهکذا؟

ځواب: عبارت د اجداث مبني پر اصطلاح د مشرکانو د عربو دی چي هغو خپل مړي په قبرو کي ښخول. ورنه مراد ادی چي هر ځای چي د مړو اجزاء وي په قدرت د خدای ﷻ به جمع کېږي و میدان ته د حساب به حاضرېږي ولو اکلوهم الحیتان في البحر ،دا د عقل موضوع نه ده بلکې د قدرت کامله د خالق مقتدر موضوع ده.

سوال: مړي چي په قبرو کي ښخ سوي هم وي، نو په دې وخت کي قبرونه به چېرې وي، ولي نفخه اولی غرونه هباء (یعني لکه ګرز) وګرځوي؟

ځواب: خدای ﷻ اجزاء د هر میت د هغه ځای څخه چي هوري د هغه قبرو سره یې جمع کړي.

پوښتنه: په بل آیت کي خدای ﷻ داسي ویلي دي: فاذا هم قیام ینظرون، او دلته یې داسي وویل: فاذا هم من الاجداث الی ربهم ینسلون، او قیام خو غیر د نسلان څخه ده او په دواړه ځایه کي اذا مفاجات ویلی دی فیلزم ان یکونا ای القیام والنسلان معًا في زمان واحد؟

الجواب: من وجهین الاول القیام لاینافي المشي السریع لان الماشي ایضًا قائم ولاینافي النظر ههنا وههنا، والثاني ان الامور المتقاربة بحیث لایتخلل ههنا زمان ..... کانها واقعة في زمان واحد.

قَالُوا يٰوَيْلَنَا

وویل (ای الکفار) ای هلاک زمورِ احضر فان هذا اوانک.

فائده: د ماضي صیغې د راوړلو هغه د مخه وجه ده.

دروښ وایي: چي د عربو دا دستور دی چي په وخت کي د ډېري سختی، د یا ویلاه او یا حسرتا نعرې وهي، حقیقت یې مراد نه وي.

بوه سه: چي ویل د خپل لفظ څخه فعل نه لري، او بعض محققین وایي چي ویل د یوې شپلې نوم دی په جهنم کي لما روی احمد والترمذي وابن جریر وابن ابی سعید الخدري ؓ، وابن حبان والحاکم او نورو ګڼ شمېر راویانو، عن رسول الله ﷺ چي علیه الصلوة والسلام وویل: یو شپله ده په جهنم کي چي کافر کښته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پکښي ځي څلوېښت کاله دمخه تر دې چې پیدا شی ته د شپلې دي ورسېږي، او د ابن مسعود ؓ څخه کې شمېر روایانو روایت کړی دی چې ده ویلي دي چې "ویل" یوه شپله ده په جهنم کي چې د اهل النار صدید (نوونه) هوړې جمع کېږي، دا شپله د مکذبینو لپاره ده، او ابن جریر ؒ له عثمان بن عفان ؓ څخه روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام وویل چې "ویل" یو غر دی په اورکي (یعني چې دوزخیان پورته ورځېژي او بیرته کښته راشوه کېږي ابدًا)

پوښتنه: د هغه روایت چې ویل یې د شپلې نوم دی او د هغه روایت چې ویلي یې دي د غره نوم دی په جهنم کي، منافات به نه وي؟

ځواب: یا منافات نسته، ولي دواړه دي وي یو د یو قسم کافرانو لپاره بل د بل قسم لپاره، والله اعلم بالصواب.

مَنْۢ بَعَثَنَا مِنْ مَّرْقَدِنَا ؕ

چا وپاڅولو موږ له خوب څخه یا د خوب له ځای څخه (نو لفظ د مرقد یا مصدر میمي دی یا ظرف مکان دی)

پوښه سه: چې حفص ؒ پر مرقدنا باندې سکته لطیفه کوي یعني چې ساه نه کاږي چې وقف ځني جوړ سي، والوقف عند غیره احسن.

پوښتنه: غرض په دې سکته یا وقف کي څه دی؟

ځواب: د دې لپاره تا چې توهم ونه کړل سي چې وروسته اسم اشاره به صفت د د مرقدنا وي، بلکې په قف سره یا سکته سره به دا معلومه سي چې وروسته اسم اشاره جمله مستقله ده، فافهم.

پوښتنه: چې معتزله په دغه آیت سره دلیل وایي چې عذاب القبر هیڅ چا لره که څه هم کافر وي نسته، ولي چې خوب خو یکلخته راحت دی؟

ځواب: ابن عباس ؓ او قتاده ؒ وایي چې په منځ کي د نفختینو عذاب د کافرانو څخه پورته کېږي فیرقدون حیث کانوا، نو بیا چې دوی وروسته تر نفخه ثانیه بیدارېږي او عذاب وویني د یاویلنا نعرې شروع کړي، او بعض محققین وایي چې کفار چې جهنم وویني په دې برو انواعو سره د عذاب عذاب القبر داسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورته معلوم سي لکه خوب، فيقولوا من بعثنا من مرقدنا.

سوال: کافران خو ډېر دي کما يدل عليه قوله تعالى قالوا ياويلنا، او مرقد خو مفرد دی، نو مراقدنا به لائق نه وای؟

ځواب: مرقد که مصدر ميمي وي په مصدر کي مفرد او جمع برابر دي او که ظرف مکان وي په اعتبار د اضافت و نون ته د متکلم مع الغير پر مراقد د دلالت کوي فتدبر، روايت کړی دی الفريابي و عبد بن حميد وابن جرير وابن المنذر وابن ابی حاتم رح عن ابی بن کعب رض انه قال ينامون ای الکفار قبل البعث نومة.

هٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمٰنُ وَصَدَقَ الْمُرْسَلُوْنَ ﴿٥٢﴾

دا هغه شی دی چي رحمن رح يې وعده کړې وه او رسولانو په دې رشتيا کويوه (البعث بعد الموت).

فائده: هذا مبتداء ما وعد الرحمن يې خبر دی او کلمه د ما مصدريه په معنی د مفعول ده (ای موعود الرحمن) او يا کلمه د ما موصوله ده عائد يې محذوف دی، والتقدير هذا الذي وعده الرحمن.

دروښ وايي: چي مفسرين رح وايي چي دا آيت ځواب دی له جانب څخه د ملائکه وٶ لقولهم من بعثنا من مرقدنا، او مجاهد رح وای چي دا ځواب دی د مؤمنانو له خوا څخه و دوی ته يعني الکفار.

پوښتنه: کافرانو خو سوال ددې کړی چي موږ چا د خوب څخه راويښ کړو، نو ددوی د جواب خو دا کافي وه چي خدای رح راويښ کړاست، نو دا جواب هذا ما وعد الرحمن الخ يې ولي دوايه؟

ځواب: دا جواب دی په غرض سره او په باعث سره.

سوال: د کافرانو سره دا جواب برابر دی او که څرنګه؟

ځواب: روح المعاني، روح البيان، مظهري، بيضاوي او نور مفسرين وايي چي په مذکور ځواب کي تذکير د کفر ددوی دی او سرزنش ددوی دی، او تنبيه پر دې چي دوی بايد سوال د بعث څخه کړی وای دون الباعث، يعني خبره داسي نه ده لکه تاسي چي ګمان کوئ لکه چي بعث النائم دی چي تاسي يې سوال د باعث وکړی بل هو البعث الاکبر ذو الاهوال او المخادف الذی کفرتم به في الدنيا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِن كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ ﴿٥٣﴾

کلمه د ان نافیه ده، ضمیر راجع دی و بعث ته په تأول د فعلة (الاصیحة واحدة) ای النفخة الآخیرة (فاذا هم جمیع) ای مجموعون (لدینا) متعلق دی په جمیع پوري (محضرون) حاضر به کړل سي، خبر بعد الخبر د ضمیر د هم دی.

دروښ وایي: چي په دې آیت سره تنبیه پر دې ده چي بعث الخلق جمیعًا و خدای ﷻ دومره اسانه ده چي په صحیة د اسرافیل ؑ ټوله د کتم څخه د عدم ومیدان ته وجود راباسي... ابیات:

همه فیلسوفان یونان وروم..... ندانند کرد انگبین اززقوم
زوحشی نیاید که مردم شود..... بسعی اندر وتربیت گم شود
بکوشش نروید گل ازشاخ بید..... نه زنگی بگرمابه گردد سفید

لغات ابیات: انگبین عسلو ته وایي، زقوم: یوه ډیره ترخه درخته ده، وحشی: هغه حیوان دی چي د انسانو سره علاقه نه لري لکه ګیدړه، چغال، بید: د ولي درختي ته وایي، زنګی: حبش ته وایي، ګرمابه: حمام بولي.

فَالْيَوْمَ لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَلَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٥٤﴾

دا حکایت د هغه قول د خدای ﷻ دی چي محشر والو ته یې کوي، د خپل موعود کړه ورته بیانوي تاچي د دوی په زړو کي بنه تمکین پیدا کړي.

ترجمه: نو نه ورځ (یعني یوم القیامة والحساب) ظلم نه کړل کیږي د هیڅ نفس سره د هیڅ شي، او جزاء به نه مومي مګر د هغه شي چي تاسي یې عمل کړی وي یعني په دنیا کي، کلمه د ما موصوله ده او عائد یې محذوف دی ای الذی تعملونه. دا خطاب و کافرانو ته دی هغه وخت چي دوی عذاب معد لهم وویني، نفس چونکه په سیاق کي د نفي راغلی، نو مراد څني عام دی که مؤمن وي او که کافر (شیئًا) مفعول مطلق دی ای شیئًا من الظلم بنقص الثواب او بزیادة العقاب.

دروښ وایي: چي له جملې څخه د خبرو چي کفارو ته کول کیږي په ورځ د قیامت احوال د اهل جنت دي چي په وروسته آیت کي خدای پاک بیان کړی دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لپاره د زیادة د غم د کفارو او د زیاتوالي د پښېمانۍ ددوی پر خپل کفر په دنیا کي، ولي چي احوال د دښمنانو د کافرانو یعني مؤمنان دي وروسته تر دې چي بد حال د کفارو یې بیان کړی کما في الآیات السابقة د کافرانو غم نور پسي ډېرېږي.

إِنَّ أَصْحَابَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِي شُغُلٍ فَاكِهُونَ ۝

په تحقیق اصحاب د جنت په اشغال کي دي مسرورون متنعمون.

پوه سه: چي ابن اکثیر، نافع او ابو عمر رحمهم الله لفظ د شغل په سکون د غین وایي او نور قاریان یې په ضمه د غین وایي، ولا فرق بینهما فی المعنی مثل السحت بسکون الحاء والسحت بضم الحاء، دواړه په معنی د حرام دي.

فائده: په ارشاد کي وایي چي شغل هغه حال ته د سړي وایي چي له ماسوٰی څخه سړی مشغول کړي، لکونه اهم عنده من الکل په سبب د کمال مسرت (خوشالی) او فکهون خبر آخر د ان دی مشتق له فکاهت څخه دی بفتح الفاء چي معنی یې طیب العیش والنشاط (خوشالي په نعمتو سره) والحاصل متنعمون بنعیم مقیم، فائزون بملک کبیر ابدًا وسرمدًا.

سوال: دا حالات د اهل جنت تر اوسه پورې نه دي محقق سوي، نو تعبیر په جمله اسمیه چي دال پر تحقق ده څرنګه وکړل سو؟

ځواب: لپاره د تنزیل د مترقب متوقع ضرورةً منزلة الواقع، لپاره د اعلان بغایة سرعة وقوعها لان عمر الدنیا کله بمنزلة ساعة زمانیة بالسنبة الی عمر الآخرة المؤبدة فافهم.

د اشتغال د اهل جنت بعض احوال (۱) افتفاض الابکار: یعني د باکراتو حرو سره جماع کول چي تر دوی دمخه چا نه وي وطي کړي کریمه: لَمْ يَطْمِثْهُنَّ وَلَا جَانٌّ. وفي الحدیث الصحیح ان الرجل (یعني من اهلال الجنة ورکړل کېږي قوت د سلو (۱۰۰) کسانو (یعني د دنیا) في الاکل والشرب والجماع، په حدیث شریف کي راغلي دي چي جنتي چي هر وار جماع کوي بکارت د حوري یې باقي وي بدون الوجع کما في جماع الباکرة في الدنیا، وفي الفتوحات المکیة: لذة الجماع هناک تضاعف علی لذة جماع الدنیا اضعافًا مضاعفة فیجد کل من الرجل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والمرئة لذة لايقدر قدرها لو وجدها (اى لذة جماع الجنة) في الدنيا غشى عليها (نر او ښځه به دواړه بيهوشه سي) من شدة الحلاوة.

(٢) سماع الاصوال الطيبة والنغمات اللذيذة.

پوه سه: چې په جنت کې رباب، طبله، سارنګی وغيرها من الآلات السماع نسته بلکې سماع القرآن سته وسماع اصوات الابكار المغنية من الحورات.

(٣) جنتيان يو دبدل ملاقات او زيارت ته ورځي که څه هم بعض جنتيان په دېره عالي درجه کې د جنت وي او بعض په کښته درجه کې د جنت، يعني ګاهي انبياء عليهم السلام و ملاقات ته د صديقانو او علماؤ او اولياؤ ورځي، او ګاهي صديقان، علماء او اولياء و زيارت او ملاقات ته د انبياء عليهم السلام ورځي، او ګاهي دا دلې ټوله سره جمع سي وديدار ته حضرت رب العزة ورځي.

فقير وايي چې زما څخه دي د جنت د کيفيت پوښتنه څوک نه کوي، ولي چې د جنت د احوالو له وينا څخه ژبه عاجزه وي، وفي الحديث الصحيح اذا نظروا الى الله تعالى نسوا نعيم الجنة.

(٤) او ګاهي خداى پاک جنتيانو ته مهماني جوړه کړي.

(٥) بل دا چې جنتيان له اهل النار څخه غافل دي ولو من اقاربهم په زړو کې يې نه ورګرځي او نه باک په کوي (يعني هغه دوزخيان چې کافران وي) مثلاً نوح عليه السلام ته به کنعان په ياد نه ورځي، او ابراهيم خليل الرحمن عليه السلام ته به خپل پلار آذر په ياد نه ورځي، او عكرمه رضي الله عنه ته به خپل پلار ابوجهل په ياد نه ورځي، وعلى هذا القياس، دا ددې لپاره چې پر جنتيانو د جنت ژوند تريخ نه سي په سبب د ياد آورې د خپلو قريبانو دوزخيانو.

دروښ وايي: چې ټوله حالات د جنتيانو چې په تفاسيرو کې راغلي دي څېړل او بيانول زما د قلم په توان او طاقت کې به نه وي او د اوراقو ګنجائش به هم دومره نه وي ... بيت:

تا طبع شريفت نه پذيرد ملالتی ..... آن به که بيان را بدعاء مختصر کنم

اللهم ارزقنا الجنة بنعيمها واجعلنا من اهل الجنان بحرمة شفيع اهل العصيان محمد صلى الله عليه وسلم واجعلنا من اهل شفاعته عند الرحمن.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

هُمْ وَأَزْوَاجُهُمْ فِي ظِلَالٍ عَلَى الْأَرَائِكِ مُتَّكِئُونَ ۝

دوی یعني جنتیان او مایني ددوی په سایو کي به وي.

پوه سه: چي مراد د ازواجهم یا نساء الدنیا چي د جنتي پر نکاح وفات سوي وي یا حور العین دي، ولا مانع من الجمع بینهما لبعض اهل الجنة یعني چي په دنیا کي ازواج او منکوحات درلودلي وي، او دا هم احتمال لري چي د ازواجهم څخه دي مراد دوستان د اهل جنت مراد وي کما في قوله تعالی: احشروا الذین ظلموا و ازواجهم، ولي چي په دې آیت کي مراد له ازواج څخه دوستان د ظالمانو دي، نو پر دې تقدیر وازواجهم ته اشاره د عدم الوحشة په جنت کي ده لان المنفرد (چي یوازي وي) یتوحش اذا لم یکن له جلیس من معارفه ولو کان في اقصی المراتب (یعني یوازي سړي ته وحشت او دیغت ورپیښیږي چي له دوستانو څخه ډډه څوک نه وي، سره ددې که څه هم په لوړو مراتبو کي وي)

سوال: څرنګه به اهل جنت او ازواج ددوی په سایه کي وي والظل انما یکون حیث تکون شمس وهم لایرون فیها شمس ولازمهریر؟

ځواب: بان المراد من الظل ظل اشجار الجنة من نور العرش، ستر کي د اهل جنت پر نور د عرش نه برپښي وان کان نور العرش اعظم من نور الشمس، کذا في حواشي ابن الشیخ.

وقال الامام الرازي ؒ في تفسیر سورة النساء ان بلاد العرب کانت في غایة الحرارة فکانت الظل من اعظم اسباب الراحة، نو له دې سببه دوی ظل کنایه د رحمت او راحت څخه ګرځوي، وقد ورد في الحدیث الصحیح قال علیه الصلوة والسلام السلطان (ای العادل) ظل الله في الارض (ای راحة للرعیة) او په صحیح حدیث کي راغلي دي چي روایت یې بخاري او مسلم کړی دی انه علیه الصلوة والسلام قال ان في الجنة شجرة یسیر الراکب في ظلها مأة لایقطعها (چي نه یې سي قطع کولای، علیه الصلوة والسلام وویل اقرؤا ان شئتم وظل ممدود.

پوه سه: چي دا دوه حرف یعني في ظلال وعلی الارائک حرف جر دی، متعلق په متکئون پورې کړي دي لرعایة فواصل الآیات (ای اواخرها)، نو پر دې تقدیر متکئون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خبر دهم دی او داسي هم روا ده چي في ظلال خبر دهم وي او متکئون خپر ثاني وي.

تنبیه: د عربو قدیم عادت دا ؤ چي ناوي به يې کورته را ودول، نو يو نبه چارپايي يا په اصطلاح پلنګ په بل نامه چپر کټ د ناوي او د زوم د پرېوتو لپاره جوړ کړه چي په عربي يې سرير بلله، او هغه به يې په نوي خېمه کي يا نوې خونه کي چي هغه خېمه يې حجله بلل کښېښوی اراځک جمع د اريکة ده، اريکه دا مجموع حجله سرير او پلنګ دواړو ته وايي، بيهقي رح له ابن عباس رض څخه روايت کړی دی: لايکون اريکة حتی يکون السرير في الحجلة کمامر تفسيرهما، فان السرير بغير حجلة لايکون اريکة وان کان حجلة بغير سرير لايکون اريکة فتدبر.

دروښ وايي: چي ورته کارونه زموږ پښتانه د زوی يا د ورور په ودونو کي هم بلکې تر هغه بالا کارونه حسب الطاقة کما لايخفی کوي، روح المعاني وايي چي دا جمله يعني هم و ازواجهم آه استيناف مسوق لبيان کيفيت شغلهم وتفکههم وتکميلها مما يزيد هم سرورًا من شرکه ازواجهم آه.

پوښتنه: هغه ښځي بالغاتي چي په دنيا کي يې مړونه نه وي کړي، په جنت کي به د چا سره نکاح ورکول کېږي او که څرنګه؟

ځواب: د هغو نکاح به خامخا کېږي ولي چي د ښځي په دنيا او جنت کي يو لوی سرور او خوشالي په جماع سره کېږي، لکن د دې نکاح تړل د خدای ﷻ په مشيت کي دی.

لَهُمْ فِيهَا فَاكِهَةٌ وَلَهُمْ مَا يَدَّعُونَ ۝

پوه سه: چي فاکهة مبتداء ده لهم فيها يې خبر دی، والتنوين في فاکهة د تعظيم دی ای فاکهة جليلة الشان، او خدای پاک داسي وويل لهم فيها فاکهة داسي يې نه وويل ياکلون فيها فاکهة اشارة الی ان زمان الاختيار بايديهم مالکين قادرين فان شاؤا اکلوا وان شاء امسکوا (يعني نه دي خودي)

فائده: فاکهة په پښتو کي هر هغي مېوې ته وايي چي د لوږي د سببايې سړی نه خوري بلکې صرف خوا پر صافوي لکه مالټه، نارنج، ترتېزک وغيرها، نو د جنت له مېوو څخه چي خدای پاک تعبير په فاکهة سره وکړی اشارةً الی انه لاجوع في الجنة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بلکې د فاکهة پر ډول يې خوري که څه هم غوښې وي، قوله ولهم آه، بعض مفسرين داسې ترجمه کوي چې دوی ته حاصل او موجود دي چې د خپلو ځانو لپاره يې غوښتای سي ای کل مايطلبه احد لنفسه لا انهم يطلبون فانه حاصل. لکه يو سړی چې له تا څخه يو شی وغواړي، ته ورته ووايه: لک ذالک. غرض دي دا وي چې طلب يې ولي کوې خو ستا دی. او يا يې معنی داده ولهم مايطلبون بالفعل يعنې ددوی له خوا طلب وي او د خدای ﷻ له خوا اجابت وي، توجب اللذة بالطلب. نو پر دې تقدير (يدعون) مشتق له دعاء څخه دی په معنی د طلب دی، او اصل د يدعون يرتعيون پر وزن د يفتعلون چونکه ضمه پر يا ثقيله وه، نو نقل کړه وماقبل ته وروسته د ساکنينو راغله يعنې الياء والواو، نو يې يا حذف کړه فصار يدتعون وروسته تا يې دال کړه وادغمت الدال في الدال فصار يدعون هكذا الاعلال في روح البيان وروح المعاني، او بعض مفسرين وايي چې: يدعون له باب څخه د افتعال دی كما مر الا ان الادعاء بمعنى التمنى، ابو عبيده وايي چې عرب وايي بل سړي ته ادع علي (بتشديد الياء للمتكلم) ما شئت ای تمنی علي، او دغه رنګه عرب وايي فلان في خير ما ادعى ای تمنّى، فالمعنى لهم (ای لاهل الجنة) ما يتمنون، او زجاج ؒ وايي چې يدعون ماخوذ دی له دعا څخه، والمعنى كل مايدعونه اهل الجنة يأتيهم، او بعض مفسرين وايي چې افتعل دلته په معنی د فعل مجرد دی فيدعون په معنی د دعاء دی په معنی مشهور سره، فالمعنى لهم (ای لاهل الجنة) ماكان يدعون به من الله ﷻ في الدنيا من الجنة ودرجاتها فافهم.

سَلٰمٌ ۚ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ ۝

بوه سه: چې سلام بدل بعض دی د مايدعون څخه كانه قيل ولهم سلام وتحية او قولاً مفعول مطلق د فعل محذوف دی ای يقال لهم قولاً، وجملة يعني يقال صفت د سلام ده، او من رب متعلق دی په محذوف پورې ای كائنًا من جهة رب رحيم، ومعنى الآية يسلم عليهم من جهته تعالى بواسطة الملك او بلا واسطة تعظيمًا لهم.

دروښ وايي: چې روح المعاني، روح البيان او مظهري داسې حديث په ګډه په روايت د ابن ماجه او ابن ابى الدنيا والدار قطني وغيرهم له جابر بن عبد الله ؓ څخه روا ړی دی، ده وويل چې عليه الصلوة والسلام چې په هغه وخت کې چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جنتیان په خپلو نعمتو (کمامر نبذ منها) بخت وي په دغه وخت کي یو نور پیدا سي، فرفعوا رؤسهم (دوی سرونه پورته کړي یعني چې دا نور څرنګه پیدا سو، چې تر اوسه دوی نه وي لیدلی) فاذا الرب تبارک وتعالی قد اشرف علیهم من فوقهم (یعني خدای پاک له لوړې خوا څخه ظاهر سي) فقال ﷻ السلام علیکم اهل الجنة وذالک قوله تعالی سلام قولاً من رب رحیم (یعني ددې آیت تفسیر دغه دی) فقال ﷻ فینظر الیهم (خدای ﷻ و دوی ته وګوري) وینظرون الیه (او دوی خدای ﷻ ته وګوري) فلا یلتفتون الی شیئ من النعیم ما داموا ینظرون الیه (نو دوی له ټولو نعمتو څخه د جنت بې پرواه سي یعني هیڅ نعمت یې په زړه نه ورګرځي تر هغه وخته پورې چې خدای ﷻ په حجاب کي د کبریا له دوی څخه پټ سي) ویبقی نوره وبرکته في دیارهم.

پوه سه: چې ددې حدیث چې د اشراف او من فوقهم لفظ پکښې دی خدای ﷻ لره جهت ثابتېږي، جلال الدین السیوطي ﷺ وایي چې اشرافه واطلاعه علیهم منزه عن المکان والحلول انتهی.

دروېش وایي: چې که مراد د سیوطي ﷺ دا نه وي چې دا حدیث د متشابهاتو څخه دی فهو لیس بشیئ، محی السنة البغوي ﷺ ددغه سوالـه د ځان ساتلو لپاره د آیت ترجمه داسي کړې ده: یسلم علیهم الملائکة من ربهم (یعني سلام په واسطه د ملکو دی انتهی) لکن دا ځواب د صریح لفظ سره د حدیث مذکور منافي دی، او مقاتل ﷺ وایي یدخل الملائکة علی اهل الجنة من کل باب سلام علیکم یا اهل الجنة من ربکم الرحیم، یعني یعطیهم السلامة الابدیة.

دروېش وایي: چې دا ترجمه هم د صریح لفظ سره د حدیث مذکور سمون نه لري کما لایخفی، نو د فقیر په عقیده حدیث مذکور له متشابهاتو څخه د حدیثو دی، او په احادیثو مبارکه وو کي متشابهات ډېر دي لکه په قرآن کریم کي، الرحمن علی العرش استوی، یدالله فوق ایدیهم، نعم سلام بالواسطة من رب العزة هم نعمت بلا نهایت دی کما قال القائل:

سلام دوست شنیدن سعادتست وسلامت.... به وصل یار رسیدن فضیلت است وکرامت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وقال آخر:

سلامت من دنخه د سلام ټوليشه.... زړې سعادت اګر دولت سلام ټوليږم

دروېش وايي: چې پر مؤمنانو قسم قسم سلامونه په قرآن کريم کې ذکر سوي دي، سلام عليكم ادخلوا الجنة بما كنتم تعملون، سلام عليكم طبتم فادخلوا خالدين، سلام عليكم بما صبرتم فنعم عقبى الدار، سلام قولاً من رب رحيم، تحيتهم يوم يلقونه سلام، واعدلهم اجرًا كريمًا، د جنتيانو اخيري خبره داده: واخير دعواهم ان الحمد لله رب العالمين.

وَامْتَازُوا الْيَوْمَ اَيُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ ۝

مقاتل، السدي او زجاج رحمهم الله وايي چې: بېل (جلا) سئ ننه ورځ د قيامت ای کافرانو، يعني له مؤمنانو څخه، يعني چې جنتيان مؤمنان و جنت ته روانېږي او تاسي مجرمان به دوزخ ته، كما في قوله تعالى ويوم تقوم الساعة يؤمئذ يتصرفون.

پوه سه: چې دا عطف د قصه ده سوء حال د هؤلاء المجرمون و كيفية اعقابهم على قصة حال المؤمنين وحسن ثوابهم.

كاشفي رح وايي: وجدا شويد آن روز ای مشركان از موحدان وای منافقان از مخلصان كه شما را بزندان دشمنان می رانند وايشان را بوستان دوستان می خوانند.. انتهى.

ضحاك رحمه الله وايي: ان لكل كافر في النار بيتًا يدخل ذالك البيت، او دروازه يې پسې بنده سي، فيكون فيه ابد الآبدين، نه دی څوک وينې او نه څوک دی وينې. ابن جرير او ابن ابی حاتم او ابن ابی الدنيا او بيهقي له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت كړی دی چې كافر چې اورته واچوي وهو مخلد فيها (يعني ابدًا) دوی په صندوقانو چې په عربي يې توابيت بولي چې جمع د تابوت ده، چې دا توابيت له اوسپنې څخه جوړ سوي وي او مېخونه يې هم د اوسپنې وي، او دا توابيت په نورو توابيتو كې واچوي، ثم قذفوا في اسفل الحميم، د هر كافر به دا خيال وي چې ترما به سخت عذاب د هيڅ چا نه وي، على خلاف حال المؤمنين فانهم يجتمعون مع من يحبونهم.

پوښتنه: په نورو آيتو كې راغلي د يچې كافران يو پر بل منت كوي يعني تابعان د كافرانو به پر رئيسانو بد وايي چې تاسي به موږ و دې ضلال او كفر ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رابللو، او رئیسان به جواب ورکوي کما اشیر الیه بقوله تعالی واذ یتحاجون في النار الی غیر ذالک، نو د ضحاک ؒ قول کمامر ان لکل کافر في النار بیتًا الخ د دغو آیتو سره منافي نه دی؟ روح المعاني په ځواب کي ددې سوال وایي چې د ضحاک ؒ حدیث محمول پر دې دی چې دا کار په اخیر کي وروسته تر اول دخول ددوی دوږخ ته یعني د کفارو هریوه خپل بیت ته داخلیدل، وکذالک حدیث د ابن مسعود ؓ کمامر هم اخیري مرحله او مأوی د کافرانو دی فلاینافي ذالک عتاب بعضهم بعضًا کما ورد في آیات آخر لان ذالک في اوائل دخولهم النار فافهم هداک الله تعالی لفهم دقائق الکلام المجید.

اَلَمْ اَعْهَدْ اِلَيْكُمْ

آیا تاسي نه واست امر کړل سوي پر ژبه د رسولانو.

بوه سه: چې همزه لپاره د استفهام انکاري دی او نفي د نفي اثبات دی یعني امر کړي مي واست.

فائده: عهد په لغت کي وصیت ته وایي یعني پښ ګویي د هغه کار چې په هغه کي د موصٰی له خیر وي، والمراد ههنا هغه اوامر او منهیات چې خدای ؒ دوی ته را استولي وه پر السنهٔ د رسولانو من جملتها قوله تعالی یا بني آدم لایفتنکم الشیطان (تاسي دي په فتنه کي یعني الکفر والمعاصي) واقع نه کړي شیطان کما اخرج ابویکم من الجنة (لکه چې ده ستاسي پلار یعني آدم او مور بي بي حواء ؓ له جنت څخه راویستل د جنت په وسوسه لکه چې قصه یې په بل ځای کي د قرآن کریم مذکور مفصلاً ده، وقوله لاتتبعوا خطوات الشیطان انه لکم عدو مبین وغیرهما من الآیات الکریمة.

يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ اَنْ لَّا تَعْبُدُوا الشَّيْطٰنَ ۚ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ۙ

ای اولاد د آدم (مراد له بني آدم څخه نرۀ بنځي دواړه دي لکن اکثر خطابات د قرآن کریم د نرو سره دي او بنځي تبع لهم الا مایختص بالرجال فافهم) چې تاسي عبادت مه کوئ د شیطان.

سوال: هیڅ چا خو عبادت د شیطان نه دی بلکې عبادت د بتانو به یې کاوه؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: چونکه عبادت د بتانو دوی په اغواء د شیطان کاوه، نو ځکه یې نسبت و شیطان ته وکړی.

(اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ) په تحقیق شیطان ستاسي دښمن دی، ظاهر العداوة.

پوه سه: چي دا جمله علت د عدم اطاعت د شیطان، ولي چي د دښمن سړی نه امر کوي الا بما فیه له ضرر، خصوصًا الشیطان لانه لایرضٰی من بنی آدم الا بالعذاب المؤبد في النار.

فائده: دا خبري وکفارو ته په ورځ د آخرت کړل کېږي له جانب ځخه د رب العزت چي دوی لره سي بالامتیاز عن المؤمنین والامر بمقاسات حر جهنم لپاره د الزام ددوی او د تقریع او سرزنش ددوی، او چي دوی په دې پوه سي انه لاظلم الیوم فتدبر في فوائد القرآن، شیخ سعدی ؒ وایي:

دشمن چون ازهمه حیل درماند سلسله دوستی بجنباند

پس آنگاه بدوستی کارها کند که هیچ دشمن نتواند کرد

(چنانچه شیطان لعین چي په سبب د نه سجدې و آدم ؑ ته، ملعون ابلیس لارد دوستي په مخه واخستل بقوله هل ادلکم علی شجرة الخلد وملک لایبلی، وفي آیة اخری ما منعکما عن تلکما الشجرة الا ان تکونا ملکین الآیة، نتیجه د دوستي یې دا سوه فازلهما مما کانا فیه، او بل دا اهبطوا الآیة، شیخ سعدي ؒ وایي:

حذر کن ز آنچه گوید دشمن آن کن ..... که بر زانو نهد دست تغابن

گرت راهی نماید راست چون تیر..... ازان برگرد وراه دست چپ گیر

وَّاَنِ اعْبُدُوْنِيْ ۭ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيْمٌ ۝

خدای ﷻ وایي: چي زما عبادت کوئ (یعني بالتوحید دون الشرک الخفي والجلي دا جمله عطف ده پر لاتعبدوا) داغه هغه لیارده چي سمه ده کج او پیچ نه لري، هذا اشاره ده الی ماعهد الیهم چي مراد ځني عبادت دی د رب جل وعلا.

فائده: تنکیر د صراط مستقیم لپاره د تفخیم او تعظیم دی، وهو المراد ابلیس اللعین کما حکاه الله عنه، لاقعدن صراطک المستقیم، یعني د دین اسلام او توحید ځخه بې ضلال او شرک ته به یې رابولم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې هر قول قابل د اختلاف دی بین الامة المسلمة الا قول لا اله الا الله محمد رسول الله، فانه غیر قابل لا اختلاف بین جمیع طوائف المسلمین یعني اهل السنة والجماعة وفرق الضلال من المعتزلة والکرامیة والشیعة وغیرهم البائع عدد المجموع (۷۳) بقول الصادق المصدوق ستفرق امتي الی (۷۳) فرقة کلهم في النار الا الناجیة الی اخیر الحدیث.. شیخ سعدی قدس سره وایي:

نه ابلیس درحق ماطمنه زد..... کز ایشان نیاید بجز کاربد

فغان از بدیها که نفس ماست ..... که ترسم شود ظن ابلیس راست

چون ملعون پسند آندش قهرما..... خدایش بر انداخت از بهرما

کجا بر سرایم ازین عزاونگ ..... که با او به صلحم وباحق بجنگ

نظر دوست نادر کند سوی تو ..... که درروی دشمن بود روی تو

ندانی که کمتر نهد دوست پای ..... چو بیند که دشمن بود درسرای

وقال سعدي رح ایضًا:

نه مارا درمیان عهد وفا بود ..... جفا کردی وبد عهدی نمودی

هنوز سر صلحت باز است ..... کزان محبوب تر باشی که بودی

وَلَقَدْ اَضَلَّ مِنْكُمْ جِبِلًّا كَثِيْرًا ۭ اَفَلَمْ تَكُوْنُوْا تَعْقِلُوْنَ ۝

بتحقیق گمراه کرده شیطان، له تاسي څخه خلقًا وجماعة کثیرًا.

پوه سه: چې لام جواب د قسم محذوف دی دا رجوع و معادات ته د ابلیس لعین وظهور عداوته و وضوع اضلاله لمن له ادنی عقل، ولي چې دی یأمر بالفحشاء وترک عبادة الخالق الرازق الضار النافع الی عبادة من لایضر ولاینفع وترک اتباع النبي الناصح الامین المؤید بالمعجزات محمد ﷺ الی اتباع النفس والهوی.

(افلم تکونوا تعقلون) آیا تاسي ته په عقل کي نه درګرځیدی عداوت د ابلیس مع بني آدم، الاستفهام للتوبیخ، قانون هر ځای په قرآن مبارک کي چې تر استفهام وروسته حرف عطف راسي که واو که فاء وي او که ثم وي پر ماقبل ځو نسي عطف کیدای لفوات صدارة الاستفهام، نو عطف پر مقدر د وروسته تر حرف استفهام د هر مکان سره مناسب مقدر دی لکه دلته اکنتم تشاهدون اثار عقوباتهم ای اتباع الشیطان فلم تکونوا تعقلون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: دا قانون تا ډېر وارونه په دې تفسیر ایوبي کې راوړی دی، نېسه به دا نه وای چې یو ځای دې راوړی وای. او بل ځای چې موقع ددې قانون راغلې وای، حواله به دې ماقبل ته کړې وای؟

ځواب: زه د ځپل تفسیر متعلمین و تصفح ته د اوراقو نه محتاجه کوم شفقةً علیهم. او بل دا چې د هر مقام سره مقدر مناسب اکثر متعلمان نه پوهیږي، نو له تلاش څخه د مقدر مناسب یې مستغني کوم وانما الاعمال بالنیات.

دروېش وایي: چې کافران اتباع الشیطان چې دوزخ ته ورنژدې کړل سي، نو ملائکه داسي ورته ووایي:

هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِیْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿۶۳﴾ اِصْلَوْهَا الْیَوْمَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۶۴﴾

دا دی جهنم چې ستاسي سره یې وعده کړل سوې وه په دنیا کې پرژبه د رسولانو، داخل سئ و دوزخ ته وذوقوا حرها ننه ورځ په سبب د ددې چې تاسي انکار کاوه په دنیا کې له عذاب څخه د دوزخ.

اَلْیَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰۤى اَفْوَاهِهِمْ وَ تُكَلِّمُنَاۤ اَیْدِیْهِمْ وَ تَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا یَكْسِبُوْنَ ﴿۶۵﴾

ننه ورځ یعني په ورځ د قیامت مهر به لګوو پر خلو ددوی (مراد له مهر څخه ظاهر مهر نه دی بلکې عدم استطاعتهم التکلم لکه ګونګی) او زمونږ سره به خبرې وکړي لاسونه ددوی او شاهدي به اداء کړي په هغه کار سره چې دوی د هغه کسب کړی وي (نو کلمه د ما موصوله ده او عائد یې په صله کې محذوف دی ای بالذی یکسبونه بالایدي والارجل.

فائده: په دې آیت کې التفات دی له خطاب څخه چې په کنتم کې ؤ و غیبت ته د افواههم وارجلهم، مسلم له انس رضی الله عنه څخه او هغه له رسول الله ﷺ څخه روایت کړی دی، قال: کنا مع رسول الله ﷺ فضحک رسول الله ﷺ، فقال[۴] هل تدرون مما اضحک؟ (موږ د رسول الله ﷺ سره ؤ چې رسول الله ﷺ وخندل، نو ده مبارک وویل چې تاسي خبر یاست چې ما پر څه شي وخندل؟) قلنا الله ورسوله اعلم! قال[۴] (له خبرو څخه د بنده د خدای عزوجل سره یعني په ورځ کې د قیامت چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بنده و خدای ﷻ ته وایي: یا رب الم تجرني من الظلم (آیا تا ماته امان نه راکړی چي زه ظلم کوم، اشارةً الی قوله تعالی لاظلم الیوم) فیقول بلی (بنده ورته ووایي) لا اجیز علی نفسي الا بشاهد مني (زه نه قبلوم پر ځان هیڅ شاهد چي زما خبرونه یې لیکلي وي، یعني د کرام کاتبین شاهدي نه منم) خدای پاک ورته ووایي کفٰی بنفسک الیوم علیک شهیدًا، وبالکرام الکاتبین شهودًا، یعني که څه هم ته د کرام کاتبین له شاهدی څخه ځان کاږئ، فیختم علی فیه ویقال لارکانه ای اعضائه انطقی (خبري وکړئ یعني په طور د شهادت په اعمالو سره دده هغه ارکان او اعضاء چي دده د ګنهو ذکر وکړي، بیرته ده ته د نطق او د خبر دروازه خلاصه سي، نو دا بنده و خپلو اعضاؤ ته ووایي بعدًا لکن وسحقًا فعنکن اناضل ستاسي څخه خلاصولو لپاره ما د خدای سره مجادله کوله.

فائده: په دې آیت کي که څه هم ایدیهم وارجلهم راغلي دي لان عامة الافعال بالایدي والارجل لکن مراد ټوله اندامونه دي لان کل عضو ینطق بما صدر منه.

دروښ وایي: چي بعض افاضل وایي چي ختم لازم دی د کفارو سره ابدًا، اما في الدنیا فعلی قلوبهم، کریمه: ختم الله علی قلوبهم الآیة واما في الآخرة فعلی افواههم کمامر الیوم نختم علی افواههم فیلزم التکلم باعضائهم لان الانسان لایملک غیر القلب واللسان والاعضاء فاذا لم یبق القلب واللسان تعین الجوارح والارکان انتهی.

فائده: ابن جریر او ابن ابی حاتم له ابو موسٰی الاشعري رضی الله عنه څخه روایت کړی دی، قال یدعی المؤمن للحساب یوم القیامة، نو خدای ﷻ هغه معاصي چي دده او د خدای ﷻ تر مابین وي (یعني حقوق الناس نه وي لکه ترک الصوم وشرب الخمر وغیرها) مؤمن اقرار په ټولو سره وکړي، یعني فیقول ای رب عملت عملت فیغفر الله له ویستره (یعني په وخت کي د عرض د ګنهو خدای ﷻ په حجاب د اهل محشر څخه دی وساتي چي هیڅ څوک د اهل محشر په ده نسي خبر) او بنکاره کړي خدای پاک نیک عملونه دده چي ټوله اهل محشر یې ووینې (ویعطی کتاب حسناته کما في روایة اخری) ویدعی الکافر والمنافق للحساب فیعرض علیه ربه عمله (ای الکفر والنفاق وسائر معاصیه) نو دی منکر سي او ووایي ای رب وعزتک کتب علی هذا الملک (یعني الکرام الکاتبین) مالم اعمل نو خدای پاک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورته وايي عملت عمل كذا في يوم في مكان كذا فيقول لا وعزتك فاذا فعل ذالك ختم على فيه (يعني پر خوله) ابو موسىٰ ؓ وايي اني احسب اول ماينطق (يعني اول چې شاهدي اداء كوي او خبري كوي فخذه اليمنى (يعني په زنا او لواطت سره) وفي رواية غير ابو موسىٰ فخذه وكفه.

دروښ وايي: چې والله اعلم چې د كف ذكر دى اشاره واستمنا بالكف ته وي.

وَلَوْ نَشَآءُ لَطَمَسْنَا عَلَىٰٓ أَعْيُنِهِمْ فَٱسْتَبَقُوا۟ ٱلصِّرَٰطَ فَأَنَّىٰ يُبْصِرُونَ ۝

بوه سه: چې په دې ايت كې اشاره ودې ته ده چې كفار په دې دنيا كې هم په دائره د قدرت او مستحقون د عذاب وه لكن چې په دنيا كې چې عذاب (يعني د طمس العين نه ورکوي لحكمة ظاهرة والله اعلم حكمت به دا وي چې طمس العين عذاب پريږو كافر مسلط سي ايمان راوړل به يې ضروري سي، او له دائرې څخه د اختيار العبد به ووځي والمعتبر في الايمان الاختياري دى)

بوه سه: چې مفعول د نشاء محذوف دى اى لو شئنا طمس اعينهم لطمسنا على اعينهم، او د طمس معنى عند اكثر المفسرين داده چې ضوء او شق او بانوګان يې بتوله د مابين ولاړ شي او روح المعاني ودې معنى ته هم تجويز ورکړي چې صرف ضوء دى ولاړه سي، نور شق بانوګان دي باقي لكن.

دروښ وايي: چې چې دا معنى د طمس د لغت سره منافي وه.

(فاستبقوا الصراط) عطف على طمسنا على الفرض يعني كه فرضًا طمس واقع سي والصراط په نزع ده حرف جر ده، والمعنى اى قاراد والاستباق الى الطريق الواضح چې دوى به په خوا پر تله د استباق معنى روح البيان داسي كړې ده (بريک ديګر پيش ګرفتن) او زما په نيز د استباق معنى صرف تګ دى پريږه لار (فاني يبصرون) نو څرنګه سره د طمس به دوى لاروينې والاستفهام للانكار اى لايبصرون الطريق بسبب الطمس ولو كان طريقًا مالوفًا فانهم.

وَلَوْ نَشَآءُ لَمَسَخْنَٰهُمْ عَلَىٰ مَكَانَتِهِمْ

كه زمونږ اراده واى دوى به مو مسخ كړي واى پر خپل ځاى باندې.

بوه سه: چې مسخ تبديل د صورت د انسان وصورت اقبح ته يعني مسخنا قردة وخنازير كما روى عن ابن عباس ؓ وروى عن ابى صالح لمسخناهم حجارة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې ددې دوو روايتو څخه دا معلومه سوه چې په مسخ کې د انسان دا شرط نه ده چې بل صورت حيواني اقبح ته وي، ولي چې د ابو صالح پر روايت د برو ته مسخ وايي خو صورت حيواني ته دی، او بعض افاضل وايي چې تبديل د حيوان وجماد ته رسخ بولي او تبديل ونبات ته فسخ بولي، او مسخ خاص ده په تبديل و سورة حيواني اقبح ته، فعلى هذا لايصح رواية ابو صالح ؓ الا ان يقال سماه اى التبديل وصورة الحجرى ته مسخ مجازًا وبلل سول والا فهو رسخ على قول بعض.

فائده: ابوبكر ؓ مكاناتهم په صيغه د جمع راوړى ومقابلة الجمع بالجمع يفيد توزيع الاحاد على الاحاد كما في لبثوا اثيابهم وركبوا دوابهم او نور قاريان مكانتهم په افراد سره وايي كما في جميع المصاحف المطبوعة لان لفظ المكان اسم الجنس فلا عائبة في التوزيع، والمراد بالمكانات منازلهم.

فَمَا اسْتَطَاعُوْا مُضِيًّا وَّلَا يَرْجِعُوْنَ ﴿۶۷﴾

نو دوى به طاقت نه درلودای په سبب ددې مسخ تګ و خپل مقاصدو ته، او نه به يې رجوع کولای سوای خپلو کورو ته که دباندې وتلي واى.

سوال: مقابل د مضيًا چې مفرد دى خو رجوعًا دى نو د څه حكمت لپاره يې لايرجعون جمله فعليه راوړه؟

ځواب: حكمت يې مراعات د فواصل د آياتو دى اى اواخرها، وقيل ولايرجعون عن تكذيبهم انتهى.

دروښ وايي: چې په صورت کې وقوع د مسخ د رجوع د تكذيب څخه امكان او احتمال يې هم نسته والله اعلم.

وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِي الْخَلْقِ ؕ اَفَلَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۶۸﴾

كه موږ يو چا ته د راز عمر ورکړو، موږ تغير او کم ورکوو په خلق کې يعني په اعضاء کې د بدن، يعني په ابتداء کې چې څوک پيدا سي روز افزون يې تولې اعضاء پر تزايد او قوت روان وي، وروسته تر سن د وقوف د تزايد چې يا (۳۳) کال دى يا (۴۰) کاله باختلاف الامزجة د ضعف اعضاء البدن دوره شروع سي، اولاً خو انحطاط يعني ضعف الاعضاء په خفي ډول شروع کيږي چې سن د شيبه کرار کرار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پسي د پرېږي چي سن د شيخوخه يا هرم يې بولي، نو په دې وخت کي د ستر کو ديد کم سي، عينکو ته ضرورت پيدا سي، او د غوږو اورېدە يې کم سي چي په بلند اواز خبرو ته ضرورت پيدا کي، يا د غوږو و مشين ته ضرورت پيدا کي، او د پښو قوت يې کم سي حتى چي لکړي ته ضرورت پيدا سي، او حافظه يې هم کمزورې سي، چي شناخته سړی وي چي لږ مده غائب سي نه يې پيژني وهكذا اعضائه الاخر، کرار کرار تر مرګ پورې چي دې ته ارزل العمر وايي، په حديث شريف کي راغلي دي: من قرء قرآن (اى باللفظ والمعنى) د ارزل العمر دوره نه پرې رائي.

دروېش وايي: چي زه اوس چي دا تفسير نوشته کوم عمر مي اووه نوي (۹۷) کاله ته داخل دی، البته د ځوانۍ تر حال خو به ډوله اعضاء کمزورې سوي وي لکن بحمد الله ﷻ بصر لږ کمزورى او غوږ هم لږ کمزورى وهكذا الاعضاء الاخر، لكن بحمد الله وحسن توفيقه قوة عاقله پر ځاى دى او ادراک د زيات پر لور روان دى الحمد لله ثم الحمد لله.

فائده: له سفيان ثوري ؒ څخه روايت دى چي سن د تنكيس (۸۰) كاله دى، روح المعاني دا كليه رد کړې ده، دى وايي چي ابتداء د ضعف او انتقاص البنية او حافظه مختلف دى په خلكو كي لاختلاف الامزجة والعوارض كما لايخفى، يعني ككثرة الامراض والفقر والمسكنة وزيادة الاعداء والحبس والضرب وغير ذالک (افلا يعقلون) عطف دى پر مضمون د جمله شرطيه سابقه (يعني ومن نعمره الخ) والاستفهام لپاره د انكار دى يعني ينبغي لهؤلاء الكافرين ان يعقلوا (چي فكر وكړي او په دې پوه سئ چي هغه څوک (يعني رب ﷻ) چي قادر دى پر مضمون د ومن نعمره ننكسه في الخلق هغه قادر دى پر طمس او مسخ.

پوه سه: چي نافع او ابن ذكوان دا جمله په تأ الخطاب وايي يعني افلا تعقلون ولي چي دمخه خطاب راغلى دى، يعني في قوله تعالى الم اعهد اليكم، او نور قراء يې په يا د غيبت وايي يعني افلا يعقلون جريًا على قوله تعالى لو شاء لمسخناهم چي ضمير غائب پكښې موجود دى، بغوي ؒ وايي چي كلبي ؒ ويلي دي چي كفارو د مكې به ويل ان محمدًا شاعر وما تقوله (يعني القرآن شعر) فانزل الله تعالى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهٗ

دا جمله عطف ده علی قوله تعالی انک من المرسلین، وفیه التفات من الخطاب (یعني في انک) الی الغیبة (یعني في ضمیر الهافي قوله علمناه) یعني په تعلیم د قرآن شعر موږ ده ت نه دی ښوولی، ولي چې شعر خپل شرائط لري، قافیه غواړي او پریو بحر له بحورو څخه د اشعارو برابرو الی غواړي.

پوه سه: چې بحور د شعرو په شرح کي د مختصر الشافي علی متن الکافي او په محیط الدائره وغیرهما کي مذکور دي او د قرآن مبارک آیات پر هغو بحورو نه دي برابر کما لایخفی عند التقطیع، او بل دا چې اشعار و معاني صرف خیالات د عشق لپاره د رغبت یا اکاذیب لپاره د نفرت او اکثریې اقوال کاذبه دي، یو محقق و خپل زوی ته چې د شعر شوق یې درلودی داسي وویل: .. بیت:

درشعر مه پیچ ودرفن او .... زانکه احسن اوست اکذب او

(وما ینبغي له) او نه ښایي چې دی مبارک دي وخت شریف خپل په انشاء د شعر کي صرف کړي، کریمه: والشعراء یتبعوهم الغاوون.

سوال: بخاري او مسلم له براء بن عاذب رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چې رسول الله ﷺ وویل: (انا النبي لا کذب... انا ابن عبد المطلب) او په حدیث کي د جندب بن ابی سفیان رضی الله عنه راغلي دي چې یو وخت په یوه غزا کي د علیه الصلوة والسلام یوه ګوته وینې سوه، ده مبارک داسي وویل:

هل انت الا اصبع دمیت ..... وفي سبیل الله ما لقیت

پوښتنه: دا دوه قولونه پر وزن شعري خو برابر دي کما لایخفی علی متتبع اوزان البحور؟

ځواب: دا دوې خبرې هسي اتفاقي د علیه الصلوة والسلام پر خوله مبارکه ورغلې بلا تکلف ولاقصد الوزن ومثله لایعد شاعر، داسي اتفاقي شعرونه په منشور خبرو کي د عربو ډېري دي، بلکې د هر اهل اللغة واللسان، والدلیل علی عدم کون شعر رسول الله ﷺ طبقًا له بل وقع اتفاقًا چې علیه الصلوة والسلام دواړې باګانې په اول شعر یعني باء من کذب و عبد المطلب په زوره وویلې علی قانون النشر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من الكلام العربي مع ان قانون بحر الرجز الذي هذا الشعر منه ان يسكن البائين المذكورين كما لايخفى على ماهر علم العروض والقوافي، والدليل الاخر على ذالک ان عليه الصلوة والسلام كسر من دميت بلا اشباع مع ان القانون العروضي يقتضى الاشباع ليوجد الياء الساكنة او ساكنه يې وويل من لقيت مع ان القانون العروضي يقتضى حركتها، بغوي رحمه الله له حسن رحمه الله څخه روايت كړى دى چې يوه ورځ عليه الصلوة والسلام د بل چا شعر وايه، يعني كفى بالاسلام والشيب للمرء ناهيًا، فقال ابوبكر رضي الله عنه يا نبي الله هذا الشعر هكذا، كفى الشيب والاسلام بالمرء ناهيًا، فاعاده عليه الصلوة والسلام كما في المرة الاولى فقال ابوبكر رضي الله عنه اشهد انک رسول الله ﷺ يقول الله عزوجل وما علمناه الشعر وما ينبغي له.

دروښ وايي: چې په دې دلائل مذكوره ؤ د هغه چا سر خلاصېږي چې د بحر رجز عروض او قوافي په صحيح معنى ورته معلومي وي، علاوه خليل بن احمد چې واضع د علم العروض والقوافي دى بحر الرجز شر بولي چې مشطور وي، يعني نيمى اركان يې حذف سوي وي، شعر يې نه بولي، او بل دليل دادى چې معمر له قتاده رحمه الله څخه روايت كړى دى، وايي چې ما له سيدتنا عائشة رضي الله عنها څخه پوښتنه وكړه چې عليه الصلوة والسلام د يو چا شعر وايه؟ دې راته وويل لم يتمثل بشيئ من الشعر الا ببيت اخي بني قيس بن طرف: ستبدى لک الايام ما كنت جاهلاً، نو عليه الصلوة والسلام يې اخيري مصرع داسي وويل: ويأتيک من لم تزود بالاخبار، فقال ابوبكر رضي الله عنه ليس هكذا يا رسول الله ﷺ بل هكذا ويأتيک بالاخبار من لم تزودي، فقال عليه الصلوة والسلام اني لست بشاعر وما ينبغي لي، او عائشې رضي الله عنها دا هم وويل: كان الشعر ابغض الحديث اليه، وقد ورد ان الشعراء يتبعهم الغوون وهم في واد يهيمون.

پوښتنه: دا ټوله مبحث چې تا رانقل كړى، عوام الناس خو پرېږده طالبان ايله كړه، ددې زمانې ملايان الا ما شاء الله خو نه په پوهېږي لعدم علاقتهم مع العلمين العروض والقوافي، نو د بيان يې څه فائده ده؟

ځواب: مطلب د فقير تحقيق ددې آيت دى وما علمناه الشعر الآية، كه څوک په پوهېږي او كه نه، والجهل ليس بعذر في الاسلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: رسول کریم ﷺ معلم من عند الله ؤ علمه تعالی علوم الاولین والآخرین وما علمه الشعر لانه قد ورد ان الشعر قرآن ابلیس.

سوال: په حدیث کي د عائشې ؓ قریبًا ذکر سوه کان الشعر ابغض الحدیث الیه ؑ، وورد في خبر آخر کان احب الحدیث الیه ؑ الشعر، فما التوفیق بین الحدیثین؟

ځواب: هغه شعر ابغض ؤ رسول الله ﷺ ته چي په هغه کي به کذب او قبح ؤ، او ذکر د جمال د بنځو وي یا غیبت د مسلمان پکښې وي ونحو ذالک، او احب د شعر و علیه الصلوة والسلام هغه شعر ؤ چي مشتمل به پر حکمت ؤ او په بیان کي د احکامو د اسلام به ؤ، او وصف جمیل د دین د اسلام او بیان د مکارم د اخلاق وي یا ثناء د رب جل وعلا پکښې وي یا نصیحت و مسلمانانو ته پکښې وي، او بیان د کومک د اسلام پکښې وي ونحو ذالک، وقد صح چي رسول الله ﷺ به په مسجد نبوي کي و حسان بن ثابت ؓ ته چي یو مجاهد ستر شاعر ؤ پر منبر به یې کښینوی چي و هغو کسانو ته د شعراؤ د مشرکینو چي د علیه الصلوة والسلام هجو او ذم به یې په شعرو سره کړی ؤ حسان ؓ به ددوی د هجو جواب په شعر سره ورکړی، ودې ته جهاد باللسان وایي، والیه اشیر بقوله تعالی: جاهدوا باموالکم وانفسکم والسنتکم.. بیت:

شاعران شیران شدند وهجو شان ..... همچو چنگال وجود داند انست دان

دروښ وایي: چي علامه آلوسي ؒ ددې آیت (یعني وما ینبغي له) معنی داسي کړې ده ای لایستقیم عقلاً ان یقول ﷺ الشعر (یعني بالقصد دون الاتفاق کمامر) لانه لو کان ممن یقول الشعر لتطرقت التهمة عند کثیر من الناس (یعني لاربه پیدا کړي تهمت ته یعني د علیه الصلوة والسلام په نبوت د هر و خلکو) یعني دوی به ویلای چي ماجاء به من القرآن من قبل نفسه دی وانه ای القرآن اثر تلک القوة الشعریة دی ددې سببه لکه عنقریب چي به راسي خدای پاک داسي وویل (ویحق القول علی الکافرین) لانه اذا انتفت الریبة والتهمة لم یبق الا المعاندة فیحق القول علیهم انتهی بلفظه وبعضه بالترجمه.

دروښ وایي: چي روح المعاني ددې آیت په بیان کي ډېر طویل بحث کړی دی ان شئت فارجع الیه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ وَقُرْآنٌ مُبِينٌ

نه دی قرآن (الا ذکر) یعني نصیحت دی د خدای ﷻ له جانبه څخه چې پر علیه الصلوة والسلام یې نازل کړی دی، او قرآن دی بیانونکی د فرائضو د اسلام او د احکامو او د حدودو د اسلام او اخبار بالغیب د ماضي حالاتو او د مستقبل احوالو دی التي لایمکن اتیانها من شاعر بل من احد من الانس والجن.

پوښتنه: تا رجز د یو بحر نوم یاد کړی او دادي نه وویل چې ارکان یې څو دي؟

ځواب: په محیط الدائره کې وایي چې ارکان د رجز تام مستفعلن شپږ واره دي او مشطوریه وزن یې مستفعلن درې واره او منهوک یې چې دوه ثلث یې تللي وي فبقی مستفعل دوه واره، نو هغه بیت چې علیه الصلوة والسلام ووایه (انا النبي لاکذب ... انا ابن عبد المطلب) او دوه واره یې باته زور ورکړی فلایکون موزونًا لان الحرف الآخیر من رکن الرجز یجب سکونه لانه مستفعلن فکونه لیس بشعر اظهر واظهر، فتدبر غایة التدبیر.

لِّيُنذِرَ مَن كَانَ حَيًّا

پوه سه: چې (لینذر) بعض قاریان په تاء الخطاب سره وایي یعني ته وبېروې یا محمد یعني په قرآن سره، او بعض قاریان یې په یاء غیبت وایي والمعنی چې وبېروي محمد ﷺ یا قرآن (من کان حیًا) هغه څوک چې ژوندي وي، مراد له حي څخه مؤمن دی، ولي چې د مؤمن زړه ژوندی دی تعقل د اشیاؤ کوي ومنه القرآن علی ما علیه کولای سي چې منزل من عند الله مختلق د علیه الصلوة والسلام نه دی، وایضًا الحیاة الابدیة في دار السرور في الآخرة مربوط په ایمان سره دی بخلاف الکافر فانه کالمیت لاینفع بالقرآن ولایمیز الحسن من القبیح، ولي چې دده عقیده داده چې عبادت د احجار او اتباع د شیطان نښه کار دی وعبادة الخالق مع التوحید او متابعت د رسول المؤید بالمعجزات الظاهرات بد کار دی فیکون في الآخرة بحیث لایموت حتی یستریح من النار دار الاشرار ولایحیٰی یعني حیوة طیبة في دار الابرار.

تنبیه: یکون الکافر في الحقیقة میتًا جعله مقابلاً للحي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيَحِقَّ الْقَوْلُ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿۷۰﴾

چې لازم او ثابت وګرځي کلمه د عذاب.

بوه سه: چې جمله د "ویحق علی الکافرین" عطف ده علی قوله لینذر.

دروېش وایي: چې قرائت د یحق بیاء الغیبة د معطوف علیه قرائة یعني لینذر په یاد دې پرزېبا ښکاره کوي، والله اعلم.

بوه سه: چې له قول څخه مراد مضمون دی د هغه قول د خدای ﷻ لاملئن جهنم من الجنة والناس اجمعین.

أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَآ أَنْعَٰمًا فَهُمْ لَهَا مَٰلِكُونَ ﴿۷۱﴾

بوه سه: چې استفهام لپاره د انکار او نفي د نفي اثبات دی والواو للعطف علی المقدر کما هو القانون في حرف العطف الواقع بعد حرف الاستفهام وقدمر ذالک القانون مرارًا في التفسیر الایوبي وبیان فائدة تکراره، او ضمیر راجع دی و مشرکینو ته د مکې، والتقدیر الم یتفکروا (دا معطوف علیه مقدر دی) ولم یعلموا (دا تفسیر د یروا دی یعني چې مراد رؤیة بصري نه دی بلکې رؤیة علمي دی) علمًا یقینًا في حکم الرؤیة البصریة (دا بیان د دې دی چې له علم څخه یې ولي تعبیر په رؤیت وکړی) ای قد علموا (دا بیان د اثبات دی چې موږ وویل ونفي النفي اثبات) (انا خلقنا لهم) چې موږ یک تنها پیدا کړي لپاره د نفع د دوی، (نو کلمه د لام لپاره د نفع ده) یعني دا خلق په مقتضٰی د جود او کرم زموږ دی.

بوه سه: چې ایدي جمع د ید ده چې موږ یې لاس بولو چونکه خدای ﷻ جسم نه دی، نو ترجمه د ایت باجماع اهل التفسیر داده چې موږ یې تو ته یعني د تولو اعضاؤ د بدن او تصرف د احداث د هغو کړي بالذات من غیر مدخل لغیرنا فیه لا خلقًا ولا کسبًا، نو دا کلام استعاره تمثیلیه ده په معنی مذکور کې، استعاره تمثیلیه علی بین في علم البیان، چې تشبیه د یو هیئت منتزعه د امور متعدده وٴ څخه ده بل هیئت منتزعه له امورو متعدد وٴ څخه او په الفاظ او مفرداتو کې هیڅ مجاز نه وي، والمشهور في مثالها یو سړی چې په یو کار کې متردد او متحیر پرځای ناست وي په ګرېوان د فکر یې سر دننه کړی وي بل سړی چې دده هیئت او تحیر ته وګوري او دده تولې حالات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ملاحظه کړي داسي ورته ووايي، رئيتک تقدم رجلاً وتؤخر اخری ماته وليدلې چې يو ګام به دي دمخه کښېښووی او بل به دي وروسته، نو په ويناکي د سړي استعاره تمثيليه يعني هيئت منتزعه له حال څخه د متفکر او متحير چې ګاهي بې سر پرزنګنو کښېښو او ګاهي بې يوه خوا او بله خوا کتل مشابه کړې ده له حال سره د هغه چا چې يو ګام پر مخ ولاړسي بيرته بل ګام ترشا راسي، يعني ګاهي اراده دي سي ولاړسه ګاهي ګاهي بيرته فسخ سي، نو هغه متفکر خو پر ځای ناست وؤ. لکن دده له شان څخه تحير او سرګرداني منتزع کېدل، نو ځکه دا دده حال يې مشابه کړی د حال سره د هغه چا چې تقدم رجلاً وتؤخر اخری حالت مشترکه يې تحير او سرګرداني ده، په آيت کې هم خلق الانعام چې خدای ﷻ بې معاونت د غير لا خلقًا ولا کسبًا مشابه د يو سړي د کاره سره چې په خپلو لاسونو کار کوي بدون المعاون والاجير، حسين کاشفي ؒ ددې آيت په ترجمه کې داسي ويلي دي: **ميان مردمان مثاليست هر کاری که تنها کند گويند من اين مهم بدست ساخته ام ديگری درساختن ياری نه داده اگرچه آن مهم کار دست نباشد.**

قال راغب ؒ الايدي جمع اليد بمعنى الجارحة المخصوصة خص اليد لفظ لقصور عقولنا عن درک خلق الله بدون المشاركة، واليد اجل الجوارح التي يتولى بها الفعل فيما بيننا فلهذا خص اليد بالذكر، او عتبي ؒ وايي چې: ايدي ههنا كناية عن القدرة والقوة.

دروښ وايي: چې معاني مذکوره د مفسرينو تولي يو له بل سره نژدې دي، والاحسن الاستعارة التمثيلية، كما مر وان كان في فهمها انغلاق.

پوه سه: چې (انعامًا) مفعول به د خلقنا دی.

پوښتنه: مفعول به خو بلا واسطه حرف دی نو مفعول بواسطه حرف الجر يعني لهم وما ولي ترمقدم راوړی؟

ځواب: اعتناء بالمقدم وتشويقًا الى المتأخر.

پوه سه: چې مراد له انعام څخه اوښ، اوښه، غويی، غوا، پسه، مېږه، اوزګړی او بزه دي.

سوال: نور خورا کي حيوانات لکه چرګ، چرګه او نور، نو د تخصيص د انعامو وجه څه ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: په انعامو کي منافع ډېري دي او عجائب وُ قدرت د خدای ﷻ پکښې ښکاره دی، وهذا کقوله تعالی: افلا ینظرون الی الابل کیف خلقت.

(فهم لها مالکون) نو دوی ددغو انعامو مالکان دي چې هر تصرف پکښې کوي کولای یې سي، دا ټوله په تسخیر د خدای ﷻ دي دغو انعامو لره و مالکانو ته ددوی، مثلاً کوچني طفل اوښ تر مهار نیولی وي اوښ ورسره روان وي، که یې پر ډبره چوکوي چوکېږي، وهکذا غویی چې طاقتور حیوان دی کوچني تر جلو نیولی وي غویی ورسره روان وي، وهکذا که تسخیر د خدای ﷻ نه وي نو چغال یا ګیدړه چې ضعیف دی تر اوښ او غوایي خلک یې ولي په خپل تصرف کي نسي راوستلای؟.

وَذَلَّلْنٰهَا لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوْبُهُمْ وَمِنْهَا يَاْكُلُوْنَ ﴿۷۲﴾

مورِ مسخر کړ خولي دي دغه انعام دوی لره (تر لوی او کوچني پورې کما ذکرنا) بعض د انعامو ددوی مرکوب دي یعني پر سپرېږي (والمراد به الابل لانه في العادة مرکوب الناس بخلاف البقر فانه للحراثة دون الرکوب) او د دغو انعامو له غوښو څخه دوی خورک کوي.

فائده: کلمه د من دلته ابتدائیه ده د تبعیض لپاره نه ده، ولي چې د ټولو انعامو غوښو حلالي دي، والحرمة بعارض الموت حتف انفه وغیر ذالک.

وَلَهُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ ؕ اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ﴿۷۳﴾

او دوی لره په دغو انعامو کي نور منافع هم ستة (لکه پوستکي، وړی د پسو، یا اوبار د اوښانو یا حرث په غویو کي یا نسل یا شیدې ومستي او کوچي) مشارب جمع د مشربة ده په معنی د موضع الشرب یا مصدر دی یعني چې شیدې څیښي) آیا دوی شکر د دغو نعمتو د خدای ﷻ نه وایي.

پوه سه: چې ان الهمزة للانکار والفاء للعطف علی محذوف تقدیره اینکرون فلا یشکرون وقد مر امثاله مکررًا.

وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لَّعَلَّهُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۷۴﴾

او دوی ګرځولي دي یعني د ځانو لپاره ماسوی له خدای ﷻ څخه معبودات چې اصنام دي او شرکاء د خدای ﷻ یې ټولي په عبادت کي وروسته تر دې چې دوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قدرت باهره او نعم متکاثره د خدای ﷻ کما مرت في الآيات السابقة د خدای ﷻ يې وليدل او هم په پوه سوه چې په دغو نعمتو کې زمونږ خدايان لاخلقًا ولاکسبًا دخل نه لري بلکې خدای ﷻ دی متفرد په دغو نعمتو کې.

پوه سه: چې دا جمله عطف ده پر مضمون د خلقنالهم يعني انعمنا عليهم وهم اتخذوا غيرنا آلهة، په حديث شريف کې چې بيهقي يې روايت کړی دی له ابی الدرداء رضی الله عنه څخه چې ده وويل قال رسول الله ﷺ قال الله ﷻ چې زه، جن او انس په لوی موضوع کې مو سره اختلاف دی: هغه دا چې زه دوی پيدا کوم ويعبدوا غيري، او زه دوی ته رزق ورکوم او دوی شکر د غير وايي.

(لعلهم ينصرون) يعني په داسي حال کې چې دوی اميد ددې لري چې دا بتان به ددوی سره کومک فيما يهمهم من الامور وکړي، والامر بالعکس، نو لعل لپاره د ترجي دی، او دا جمله حال ده له فاعل څخه د اتخذوا کما اشرنا اليه في ترجمة الآية.

لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَهُمْ وَهُمْ لَهُمْ جُندٌ مُّحْضَرُونَ ﴿٧٥﴾

د بتان طاقت نه لري ددوی د کومک چې له عذابه د خدای ﷻ دې خلاص کړي (کما زعموا ان هٰؤلاء يعني الاصنام شفعائنا عند الله) او دوی کفار د خپلو خدايانو لپاره کمر بسته لښکر دی لپاره د حفاظت ددې معبوداتو چې دوی دا خپل خدايان په عطر ياتو مالش کړه مچان پرې راغونډ سوه دوی به مچان څنې شړل، کريمه: وان يسلبهم الذباب لايستنقذوه الآية، نو ددې خدايانو به دوی ته څه خير ورسېږي او کوم شر به څنې دفع کړي.

فَلَا يَحْزُنكَ قَوْلُهُمْ ۘ إِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٦﴾

تا دي په غم کې نه کړي واقع (الفاء للسببية اى اذا سمعت وعيد الله لهم فلايحزنک) ددوی خبرې د خدای ﷻ په باره کې (بالاشراک او ستا په باره کې بالتکذيب بقولهم لست مرسلاً) مونږ په تحقيق خبريو چې دوی په زړو کې پټ لري عقائد باطله (او ستا سره عداوت بلانهاية) او چې دوی په ښکاره کوي من الاقوال الشيعة د خدای ﷻ په باره کې، چې زمونږ معبودات د خدای شريکان دي او ستا په باره کې کاهن، شاعر، مجنون او مفتر، ددې مطلب دادی چې خدای ﷻ به کامله جزاء ودوی ته ورکړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې جمله انا نعلم تعليل دی لقوله فلا يحزنک پر طورد جمله مستأنفې... بيت

بآشکار ونهان هرچه گفتی وکردی..... جزاء دهد بتو دانای آشکار ونهان

اَوَلَمْ يَرَ الْاِنْسَانُ

آيا نه وينې يعني علم نه لري انسان.

پوه سه: چې دا کلام مستأنف دی، راوړل سوی دی لپاره د بطلان د انکار د مشرکانو د بعث بعد الموت څخه لکه چې ما سبق لپاره د بطلان د اشراک ددوی بالله بعد ما عاينوا فيما ايديهم مايوجب التوحيد والاسلام، والواو للعطف على مقدور والهمزة للانکار ونفي النفي اثبات، والرؤية علمية والنطفة الماء الصافي الابيض ويعبربها عن ماء الرجل الخارج من صلبه وقت الجماع وغيره.

روايت: يو جماعت د قريشو يوه ورځ سره راغونډ سو يعني ابی بن خلف، وهب بن حذافه، ابوجهل، عاص بن وائل او ليد بن المغيرة، نو ابی بن خلف وويل الاترون الى مايقول محمد ان الله يبعث الاموات ثم قال واللات والعزٰی (زما دي قسم وي په لات او عزٰی سره) زه به ورځم وده ته او په دغه خبره کې به يې ملامت کوم، يعني البعث بعد الموت، نو يو زور هډوکی يې راوړی د عليه الصلوة والسلام ومخ ته يې په لاس ميده ميده کړی، او عليه الصلوة والسلام ته يې داسي وويل يا محمد ان الله يحی هذا بعد ما رم، عليه الصلوة والسلام ورته وويل: نعم ويبعثک الله ويدخلک جهنم فنزلت هذه الآية للانکار عن البعث بعد الموت، لکن دا آيت يوازې لپاره د رد د ابی خلف نه دی بلکې دا آيت صالح دی د انکار على کل من ينکر البعث بعد الموت لان العلماء بالاجماع، قالوا ان العبرة لعموم اللفظ لا لخصوص المورد، مفسر قديم الحسيني ؒ ميگويد: آيا نديد وندانست ابی بن خلف وغير او آنرا که ما بياريم اورا از اب مهين در قرار مکين انتهی.

اَنَّا خَلَقْنٰهُ مِنْ نُّطْفَةٍ فَاِذَا هُوَ خَصِيْمٌ مُّبِيْنٌ ۝

قد مر تفسير النطفة چې موږ دی پيدا کړی وُ له نطفې څخه (يعني دا نقشبندي د انسان سره د ټولو اعضاؤ اولاپر اوبو سوي) "فاذا هو" الفاء للعطف واذا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

للمفاجاة، والمعنى خلقناه من نطفة ففاجاء وقت خصومته ومجادلته چي هغه بشکاره مجادله بالباطل ده ولايريد هو تحقيق الحق، او حق هم ظاهر دی يعني البعث بعد الموت دی، ولي په اول خلق د نطفه څخه خو انسان کافر اقراره دی وينکر ماهو اهون من ابتداء الخلق من ماء وهو الاعادة ولو کان من تراب، ولي چي د اوبو خونه چا نه ده ليدلې او نه پر اوبو داسي زېبا لکه د انسان صورت او اعضاء نقشبندي چا کړې ده، او د خاورو خوني خو ډېري دي، مفسرين وايي: وفيه تقبيح بليغ له واهل الكفر ته حيث اختاروا الكفر في مقابلة النعمة التي لامزيد عليه وهو خلقه من اخس شيئ شريفًا مكرمًا، يعني انسان شريفًا مكرمًا بالنسبة الى سائر الحيوانات.

دروښ وايي: ومقابلة النعمة العظمٰى لله وجل بهذا الخصام المبين يناسبه هذان البيتان:

اعلمه الرماية كل يوم..... فلما اشتد ساعده رماني

ترجمه: ما ورزده کول يعني خپل شاګرد ته تير اندازي يعني غشي ويشتل، چي بازو يې محکمه سو يعني تير اندازي يې زما څخه زده کړه، اخير يې زه په غشي وويشتلم.

اعلمه القوافي كل حين .... فلما قال قافية هجاني

ترجمه: ما وروښوول يعني خپل شاګرد ته علم د قافيه يعني د شعر ويلو هر وخت نو چي دا علم ده زده کړی په اول شعر کي زما هجو يعني غيبت بيان کړی.

وما قيل ايضًا.

لقد ربيت جروا كل حين.... فلما كان كلبًا عض رجلي

ترجمه: په تحقيق ما تربيه کاوه چي دی کوتری ؤ هر وخت چي دی لوی سپی سو وه يې دا رله پښه زما.

وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَّنَسِيَ خَلْقَهٗ

او دې کافر بيان کړی (چي ابی بن خلف ؤ) زمونږ لپاره يو امر عجيب (چي عبارت دی د نفي د قدرت پر احياء الموتٰی باندي) او هېر يې دی خپل خلق له اوبو څخه د مني، او سره ددې چي پيدا کول له اوبو څخه اغرب دی تر احياء العظم چي ابی بن خلف هلپوکی د عليه الصلوة والسلام په حضور کي ميده ميده کړی او دا يې ورته وويل:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ مَنْ يُّحْيِ الْعِظَامَ وَهِيَ رَمِيْمٌ ﴿۷۸﴾

وويل هغه څوک به ژوندي کوي هډوکي په داسي حال کي چي رميم يعني بوسيده وراسته وي.

درويش وايي: چي په ظاهر د دې آيت کريمه دليل ويلی دی هغه چا چي هډوکي ته حيات وايي او پر دې يې دا مسئله بناء کړې ده چي هډوکي د ميتّ مردار دي که په لږو اوبو کي ولوېږي يعني عشر في عشر نه وي هغه اوبه مردار ږي واليه ذهب مالک والشافعي واحمد رح او زمونږ د حنيفيانو رح مذهب دادی چي هډوکی حيات نه لري فلا يقولون بنجاسته، او دوی حنيفيان وايي چي مراد له احياء العظام څخه په دې آيت کي ردها الی ما کانت عليه من الغصاصة والرطوبة في بدن حي حساس.

مسئله: اختلف العلماء في آدمي مات هل يتنجس بالموت، فقال ابو حنيفه رح يتنجس بالموت لانه دموي الا انه يطهر بالغسل کرامة له وتکره الصلوة عليه في المسجد، وقال الشافعي واحمد رح لايتنجس بالموت ولاتکره الصلوة عليه في المسجد کما هو المعتاد في الحرمين الشريفين، قلنا الصلوة في الحرمين الشريفين لاجل الضرورة فلا يقاس عليهما المساجد الاخر.

قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِيْ اَنْشَاَهَآ اَوَّلَ مَرَّةٍ ۭ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيْمٌ ﴿۷۹﴾

ته ورته ووايه يعني يا محمد (ﷺ) چي ژوندي به کړي دغه اموات هغه څوک يعني رب ﷻ چي دوی پيدا کړي وه اول وار يعني د امهاتو په رحمو کي، ولي چي قدرت د خداى رح کما کانت باقي دی لاستحالة العجز عليه تعالی او ماده د امواتو پر خپل قابليت پاته ده.

پوه سه: چي خلق مصدر دی په معنی د مخلوق دی، دا جمله (وهو بکل آه) حال ده له فاعل څخه د يحي.

فائده: عليم صيغه د مبالغې ده يعني خداى ﷻ ښه خبر دی په تفاصيلو د مخلوقاتو وکيفيت خلقها فيعلم اجزاء الاشخاص چي په مځکه کي غائب وي او اصول او فروع او ځايونه د دوی ټوله و خداى ﷻ ته معلوم وي، او ضم د بعض د

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

بل بعض ته علی النمط السابق هم خدای ﷻ ته معلوم دی او اعراض او قوی چې په دې اجسامو کې وه هم خدای ﷻ ته ښه معلوم دی فکیف یمتنع اعادتها کما مر.

اَلَّذِیْ جَعَلَ لَكُمْ مِّنَ الشَّجَرِ الْاَخْضَرِ نَارًا

پوه سه: چې الذي یا بدل دی د موصول سابق څخه یا خبر دی د مبتداء محذوف ای هو الذي آه.

دروښ وایي: چې په دې آیت سره استدلال دی پر عظیم قدرت د خدای ﷻ او تنبیه ده پر احیاء الاموات بقدرته تعالی که څه هم د کفارو له عقلو څخه لېرې وه بلکې ممتنع یې بلل، نو ددې آیت په مضمون کې خدای ﷻ د خپل لوی بدیع قدرت بیان کوي چې له عقل څخه ډېر لېرې دی او کفار یې په خپلو سترګو هم وینې انکار نه ځني کوي فکیف ینکرون احیاء الموتی؟

ترجمه ددې داده ابن عباس رضی الله عنهما وایي چې دوې درختي دي چې یوې ته المرخ وایي او بلې ته العفار وایي چې سړی د هر یوې درختي یو ښاخ پرې کړي لکه دوه مسواکان چې هغه شنه وي او په وخت کې د قطع اوبه تر څڅېږي، او مرخ په عفار پورې کلک ومنبي اور ځني راوځي.

فائده: دا دوې درختي په ډېرو غرو او شپلو کې د عربو موجودي دي چې مسافریې له ځان سره وړي هر ځای چې د اور ضرورت ورته پیدا سو د مرخ او عفار څخه استفاده کوي یعني پر مځکه لرګي او خاشې کښېږدي او مرخ او عفار سره ومړي د اور بخرکې په هغه لرګو او خاشو کې ومنبلي هغه لرګي او خاشې اور واخلي پر هغه اور مثلاً دېګ باندي کړي غوښې یا بل شی پوخ کړي، حکماء وایي چې په هره درخته کې اور خو سته الا العناب لکن د اور بلولو خاصیت خدای ﷻ په خپل قدرت د مرخ او عفار په برخه کړی دی.

فَاِذَآ اَنْتُمْ مِّنْهُ تُوْقِدُوْنَ ﴿۸۰﴾

نو نابېره تاسي د هغه شجر اخضر څخه اور بلوي کما مر کلمه د فاء لپاره د مفاجات ده او تاسي په دې کې فکر نه وهئ چې دا ور ددې دوو بنا خو د مرخ او عفار څرنګه راووتی چې اوپه هم تر څڅېږي چې اور او اوبه سره ضد هم دي، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولي تاسي کافران احياء الاموات د خدای ﷻ له قدرت څخه پوره نه بولي.

فائده: مرځ نر دی او عفار ښځه ده، ځکه مرځ به لوړوي او عفار به لاندي وي کما في حالة الجماع بين الذكر والانثى، كذا في روح المعاني.

أَوَلَيْسَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِقَادِرٍ عَلَىٰ أَنْ يَخْلُقَ مِثْلَهُمْ

آيا نه دی هغه څوک چې پيدا کړي يې دي اسمانونه او مځکه.

پوه سه: چې همزه لپاره د انکار دی وانکار النفي ايجاب، او کلمه د واو لپاره د عطف ده پر مقدر چې مقام يې تقاضا کوي، نو همزه د انکار که څه هم ظاهراً داخل پر حرف دی لکنها في الاصل داخل دی پر حرف نفي يعني ليس قصداً تاچې هغه پورته اثبات چې واو دی، وحاصل الآية اليس القادر المطلق الذی خلق الاناسي اول مرة كمامر او ليس الذي جعل لكم من الشجر الاخضر ناراً اوليس الذي خلق السمٰوات ای الاجرام العلوية يعني مع مافيها من الشمس والقمر والكواكب وغيرها او مځکه ای الاجسام السفلية يعني وما عليها من الحيوانات والاشجار والانهار وغيرها مع عظم جرمها وعظم شانها.

فائده: (قادر) که څه هم لفظاً مجرور دی لکن محلاً منصوب دی لانه خبر ليس.

(على ان يخلق مثلهم) پر دې باندي چې پيدا دي کړي يعني په اخرت کي مثل د انسانانو في الصغر والحقارة يعني بالنسبة ومځکه او اسمانونه، ويعيدهم احياء، لکه چې کافران چې به ويل من يحي العظام وهي رميم، فان بداهة العقل چې خالي د تکبر او عناد څخه وي شاهد دی پر دې چې پيدا کونکی دی د اسمانو او مځکي، پر خلق د انسانانو نسبتا قادر دی كما قال الله ﷻ لخلق السمٰوات والارض اكبر من خلق الناس او سره ددې چې مشرکان په دې اقرار کوي چې خالق د سمٰوات والارض خدای ﷻ دی وليس الاهو.

بَلَىٰ وَهُوَ الْخَلَّاقُ الْعَلِيمُ ﴿٨١﴾

(بلى) ځواب دی له جانب څخه د خدای ﷻ او تصريح د بما افاده الاستفهام الانكاري من تقرير مابعد النفي او اعلان ددې چې ځواب خو داغه متعين که څه هم مشرکان په خوله نطق نه په کوي مخافة الالزام) (وهو الخلاق) صيغه د مبالغې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني يخلق خلقا بعد خلق (العليم) بجميع المخلوقات، دا دوه سره د مبتداء عطف دی پر مضمون د بلی فافهم.

إِنَّمَآ أَمْرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيْـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٨٢﴾

په تحقیق امر د هغه ای شانه تعالی (شيئا) ای خلق شيئ من الاشياء (ان يقول له كن) ای يتعلق به قدرته، نو دا سوال نه پيدا کيږي چې خطاب و معدوم ته خو نه دی روا (فيكون) ای فيوجد (نو کلمه د يكون تامه ده)

پوه سه: چې بعض قاريان يې په نصب سره وايي عطف يې پر يقول بولي، او جمهور قراء يې په رفع سره وايي تقديره يې داسي بولي فهو يكون من عطف الجملة الاسمية (ای فهو يكون) على الاسمية المتقدمة (يعني قوله انما امره ان يقول له كن) ابو منصور الماتريدي رح وايي چې دا يو مثال دی د تاثير د قدرت د خدای ﷻ فيما اراده فيما امر الآمر المطاع للمامور المطيع في سرعة، حصول المامور به من غير توقف على شيئ دی وايي چې لا وجه لحمل الكلام على الحقيقة اذ ليس هناك قول ولا امر ولا مامور به، ولي چې امر که په حال کې د وجود د مكون وي فلا وجه للامر وان كان في حال عدمه اذ لا معنى لان يؤمر المعدوم بان يوجد نفسه، وهذا معنى لقول البيضاوي هذا تمثيل لتأثير قدرته تعالى في مراده تعالى بامر المطاع للمطيع في حصول المأمور به من غير توقف وامتناع وافتقار الى مراولة العمل واستعمال آلة قطعا لمادة الشبهة وهو قياس الغائب ای قدرته تعالى على المشاهد ای قدرة الخلق (ای الامر المطاع والمأمور المطيع)

فَسُبْحَٰنَ ٱلَّذِى بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَىْءٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾

(فسبحٰن) مصدر د فعل محذوف دی سبحت سبحانا والفاء للسببية يعني اذ اعلمتم انه تعالى خلق الانسان من نطفة وهو قادر على ان يحي العظام وانه تعالى اذا اراد شيئا فانما يقول له كن فيكون فسبحوا ايها المؤمنون.

ترجمه: پاکي ده د هر عيب او نقصان څخه هغه چا لره چې په قدرت کې د هغه لوی سلطنت د هر شي يعني من العلويات وما فيها والسفليات وعليها او هغه خدای رح ته لا الى غيره ته تاسي راجع کړل کيږئ يعني په ورځ د قيامت.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې ملکوت او رحموت او رهبوت او جبروت مصادر ای زیادت کړل سوي په دوی کي واو او تاء لپاره د مبالغې في الملک والرحمة والرهبة والجبر یعني الکبریاء.

خواص سورة يٰسٓ: عن يسار رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اقرؤا على موتاكم (يعني من قريب الموت يعني چې زکندن يې وي) يٰسٓ قلب القرآن لا يقرئها رجل (يعني ولا امرئة لانها تبع للرجل) يريد بها الله والدار الآخرة الا غفر له اقرؤها على موتاكم ذكره الجزري رح في الحصن الحصين، وفي الحديث الطويل من قرء سورة يٰسٓ يريد بها وجه الله غفر الله له واعطى له من الاجر كانما قرء القرآن ثنتين وعشرين مرة (اى بدون يٰسٓ والا يلزم تفضيل الشئ على نفسه ۲۲ مرة فافهم، او هر مسلمان چې وويل سي سورت يٰسٓ اذا نزل ملک الموت نزل بكل حرف منها (۱۰) ملائكة يقومون بين يديه صفوفا. دعاء ورته کوي او دعاء د بخښني د خدای رح څخه ورته غواړي او دغه ملکي و ځای ته د غسل او جنازې ته د هغه حاضريږي الى اخير الحديث.

دروېش وايي: چې په فضيلت او خواصو کي د سورت يٰسٓ مظهري رح دپر احاديث راوړي دي، وروسته يې حکم د ضعف السند پر کړی دی.

فائده: ابن الفريس د سعيد بن جبير رح څخه په روايت چې ده به پر هر پيراني سړي باندې سورت يٰسٓ ووايه هغه به جوړ سو، په مستدرک کي د ابی جعفر محمد بن علي څخه روايت نقل کړی دی چې که په زړه کي د چا قسوة ؤ يعني غلطت، يٰسٓ دي تولې په يوه لوښي په زعفرانو وليکي او په اوبو دي هغه لوښی پرېولي ودې څيښي زړه به يې نرم سي، او دغه رنګه د يحيٰ بن ابی کثير څخه روايت چې که چا على الصباح يٰسٓ ووايه تر مابنامه به خوشحاله وي، او که يې مابنام ووايه تر سهاره به خوشحاله وي.

الحمد لله على توفيقه لهذا العبد الجهول بتفسير سورة يٰسٓ والصلوة والسلام على افضل الرسل سيدنا محمد وعلى آله وصحبه وذريته اجمعين.

تاريخ الفراغ وقت الظهر من يوم الاحد غرة الشهر الحرام ذى القعدة (۱۴۳۱) هـ ق، واسأل الله عز وجل لتوفيق بقية سورة القرآن المجيد الى اخيرها وما ذالک على الله بعزيز، والآن حال ان اشرع في تفسير سورة الصافات بعونه تعالى يا رب تممه بالخير.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ الصّٰفّٰتِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَثَمَانُ وَثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَخَمْسُ اَوْ سِتُّ رُكُوْعَاتٍ

رب يسرها لي وتممها بالخير والعافية.

وَالصّٰفّٰتِ صَفًّا ۝١

الواو للقسم، والصافات، جمع صافة بمعنى جماعة فالصافات بمعنى جماعات الصافات.

پوه سه: چې خدای ﷻ قسم واخستی بالملائكة الذين يصفون للعبادة في السماء وفي الحديث الصحيح عن جابر بن سمرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ الا تصفون كما تصف الملائكة عند ربها (لکه ملکي چې په صف دربږي و خدای ﷻ ته) فقلنا يا رسول الله كيف تصف الملائكة عند ربها؟ قال يتمون الصفوف (يعني چې په اول صف کې ځای وي ترشا نه دربږي، وهكذا الصف الثاني والثالث الى ان يتم الصفوف) ويتراصون في الصف (يعني په صف کې فرجه نه پرېږدي جوت سره دربږي) كذا قال ابن عباس والحسن وقتادة ﷺ، او بعض مفسرين وايي چې مراد هغه ملکي دي چې وزرونه يې خلاص او په صف صف ولاړي وي په هواء حتى يأمر الله ما يريد، او بعض مفسرين وايي چې مراد ځني مرغان دي كما في قوله تعالى والطير صافات.

دروښ وايي: چې دا تفسير د وروسته سياق سره برابر نه دی، له عمر به الخطاب ﷺ څخه روايت دی چې: ده به اراده د افتتاح الصلوة وکړه قال: استووا (صفونه برابر کړي) تقدم يا فلان وتأخر يا فلان (يعني پس و پېش به ولاړوه ان الله ﷻ يرى لكم بالملائكة اسوة يعني مقتدى بهم) يقول والصافات صفًّا.

فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا ۝٢ فَالتّٰلِيٰتِ ذِكْرًا ۝٣

بيا دي په هغو ملکو قسم وي چې وريځي شړي تر ځايه د اوربښت، يا هغه ملکي چې خلک منع کوي له کنهو څخه بالهام الخير في قلوبهم، او يا شيطان منع کوي له تعرض څخه ودوی ته، او قتاده ﷺ وايي چې مراد ځني هغه آيات د قرآن دي چې مسلمانان زجر او نهي کوي له کنهو څخه چې په اصطلاح ودي ته زواجر القرآن وايي.

(فالتاليات ذكرا) بيا قسم دی په هغو ملکو چې ذکر د خدای ﷻ کوي، او آيات د کتبو سماويه ؤ و انبياء عليهم السلام ته راوړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: ذکرًا منصوب دی مفعول به د التالیات دی یا مفعول مطلق له معنی څخه د التالیات یا قسم دی په هغو علماؤ چې خلګ زجر کوي د کفر او سیئاتو څخه بالحجج والبینات التالین آیات ربهم رفیع الدرجات او یا قسم دی په غازیانو سره في سبیل الله چې په صف ولاړ وي په مقابل کي د کفارو کانهم بنیان مرصوص ومع ذالک لایشغلهم مبارزة عن ذکر الله تعالی واقامة الصلوة.

دروښ وایي: چې ابو مسلم الخراساني وایي: چې اراده د ملکو د الصافات الزاجرات التالیات څخه ممنوع دی، ولي چې دري سره خو جموع مؤنثه دي او ملکي خو مؤنث نه دي؟ والجواب عنه: انه ان اراد التانیث اللفظي فبرائة الملائکة عنه ممنوع، کیف والملائکة مسمون بهذا الاسم في الاحادیث الکریمة واجمع الامة علی ذالک وان اراد برائتهم عن التانیث الحقیقي فمسلم برائتهم عن ذالک لکن الصافات والزاجرات والتالیات لاتقتضی التانیث الحقیقي لان الصافات بمعنی طائفة صافة، وطائفة زاجرة وطائفة تالیة او بمعنی جماعة في الثلثة فهذه الالفاظ في المعنی والتقدیر جمع الجمع کما لایخفی فالتانیث بذالک الاعتبار بلکې تانیث د مفرد د ملکي په اعتبار د نفس یا ذات روا دی، فافهم هداک الله لفهم دقائق القرآن العزیز.

إِنَّ إِلٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ۝

(دا د قسم جواب دی) په تحقیق معبود بالحق ستاسي یا اهل مکه یو دی، وهذا رد لقول اهل مکة اجعل (ای محمد ﷺ) الآلهة الهًا واحدًا ان هذا لشیئ عجاب (دا یوه عجبه خبره ده چې یوازي د مکې دري سوه شپیته (۳۶۰) خدایان دي محمد (ﷺ) د ټولو له عالم علوي او سفلي یو خدای بولي؟ حاصل د جواب دادی چې صرف په نامه خدایان خو بیشکه پرې دي او یو په حقیقت کي خدای دی هغه یو دی في الذات والصفات لیس الا.

رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ الْمَشَارِقِ ۝

پوه سه: چې رب یا خبر ثاني دی د ان یا خبر د مبتداء محذوفي دی، والمعنی مالک دی او خالق دی د اسمانو او د مځکي او چې په منځ کي د اسمانو او مځکي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دي چي کائنات الجو يې بولي لکه وريځ، پيلبو، صاعقة وغيرها.

فائده: د مشارق سره يې رب راوګرځاوه لانها ليست من جنس ماقبلها.

پوه سه: چي مراد له مشارق څخه مشارق د تولو ستورو دي يعني ځايونه د راختلو د تولو ستورو دي، يا مشارق د شمس په کال شمسي کي چي (۳۶۵) مطلع دی چي لږ هر ورځ تر يوه يوه مطلع راخېژي وبحسبها يختلف المغارب ولهذا لم يذكر المغارب او سره د دې چي شرق ادل دی پر قدرت الهي وانفع في النعمة.

فائده: د قرآن مبارک په بل ځای کي رب المشرقين ورب المغربين راغلي دي په صيغه د تثنيه، نو مراد له هغه څخه مشارق د صيف (دوبي) او شتا (ژمي) دي ومغاربها، او په بل ځای کي رب المشرق والمغرب راغلی دی، نو هوري مراد جهت د مشرق او مغرب دی.

فائده مهمه: مظهري ويلي دي کمامر چي سنه شمسيه (۳۶۵) او روح البيان وايي (۳۶۰) مشارقه ده، ولا منافات بينهما، ولي چي د رياضي په کتابو کي وايي چي شمسي کال په حقيقت کي (۳۶۰) سره د کسر چي د کسر مقدار يې تخمينًا پنځه ورځي دی، نو روح البيان هغه کسر ساقط کړی دی (۳۶۰) يې ويلي دي، او مظهري ؒ هغه کسر معتبر کړی دی (۳۶۵) يې ويلي دي والله الموفق.

فائده: ان الهكم لواحد: جواب د قسم دی.

سوال: ددې جواب و قسم ته حاجت څه ؤ، ولي چي دا خو کما عرفت خبري دي د مشرکينو سره د مکې هغه خو منکر د توحيد د معبود دي؟

ځواب: د عربو عادت دا دی چي هغه خبره چي دوی اهتمام په کوي د مخه قسم پر اخلي، نو له هم دې کبله دا جواب يعني ان الهكم لواحد مهتم بالشان ؤ خدای ؒ موافق د عربو د رواج سره په دې قسمه سره مسبوق وګرځاوه.

پوه سه: چي دا قول د خدای ﷻ رب السمٰوات الخ اشاره و برهان ته ده پر وحدت د صانع، وحاصل البرهان ان وجودها على النمط البديع اوضح دليل على وحدة الصانع ﷻ بل في كل ذرة من ذرات العالم دليل على ذالک.. سعدي ؒ:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار ..... هر ورقی دفتريست معرفت کردگار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّا زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِزِينَةٍ الْكَوَاكِبِ ۝۶

موږ ښائسته کړی دی اسمان نژدې تاسي ته، واما بالنسبة الی العرش فهي السماء البعدي، نو دنیا مؤنث د ادنی دی من الدنو بمعنی القرب.

فائده: په دې آیت کي التفات له غیبت څخه یعني في قوله تعالی ان الهکم لواحد الآیة الی التکلم یعني انا زینا آه.

بوه سه: چي جمهور قراء رحمهم الله په اضافت د زینة وکواکب ته وایي (یعني زینة تنوین نه ورکوي) فالاضافة بیانیة ای بزینة هي الکواکب، او یعقوب، همزه او حفص رح یې په تنوین د زینت وایي وجر الکواکب علی ان الکواکب بدل من الزینة ای بزینة هي الکواکب.

وَحِفْظًا مِّنْ كُلِّ شَيْطَانٍ مَّارِدٍ ۝۷

موږ محفوظ کړی دی له هر شیطان څخه چي سرکښه وي له اطاعت څخه یرمی چي ویشتل کیږي هغه شیطان په وخت کي د استراق السمع په شهب سره.

بوه سه: چي حفظًا منصوب دی مفعول مطلق دی د فعل محذوف ای حفظناها حفظًا.

دروښ وایي: چي دا آیت معرکة الآراء دی د مفسرینو تر منځ، مظهري رح وایي چي دا آیت پر دې دلالت کوي چي ستوري تولې په اول اسمان کي دي او قاضي بیضاوي رح وایي چي ثوابت ستوري په اوومه کره کي دي چي کرسي یې بولي بلسان اهل الشرع، او سپوږمی په اول اسمان کي ده، او دا نور ستوري په شپږو اسمانو کي ده چي په منځ کي فلک قمر او فلک الثوابة یعني عطارد په دوهم اسمان کي دي، او زهره په دریم اسمان کي ده او شمس په څلورم اسمان کي دی، او مریخ په پنځم اسمان کي دی او مشتري په شپږم اسمان کي دی، قاضي بیضاوي وایي چي که دا خبره ثابته سي د آیت سره د انا زینا الخ منافات نه لري فان اهل الارض یرونها باسرها کجواهر مشرقة علی سطح سماء الدنیا الارزق باشکال مختلفة انتهی، روح المعاني وایي چي پر دې باندې داسي دلیل نسته چي یقین دې فائده کوي وعلی فرض صحته لکه اهل هیئت یعني ریاضیین چي وایي د آیت مذکوره سره منافات هم نه لري یکفي لصحته کون السماء الدنیا مزینة بالکواکب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کونها کذالک في رأ العین (کما قال البیضاوي) انتهی قول روح المعاني، او روح البیان وایي وکون الکواکب زینة للسماء الدنیا لایقتضی کونها مرکوزة في السماء الدنیا ولاینافي کون بعضها فیما فوقها ای السماء الدنیا من السمٰوات لان السمٰوات اذا کانت شفافة واجرامًا صافیة فالکواکب سواء کانت في السماء الدنیا او في سماوات اخریٰ فهي لابد ان تظهر في السماء الدنیا ویلوح منها فتکون سماء الدنیا مزینة بالکواکب، والحاصل چي مراد زینت په ستر ګو کي د اهل الارض سواء کان اصول الزینة (یعني ستوري) په اول اسمان کي وي او که په غیر کي د اول اسمان وي وهذا مبني علی قول اهل الهیئة وان لم یثبت ذالک فحقیقة العلم عند الله انتهی قول روح البیان، او هغه بیان چي فاضل نسیابوري له کلبي رحمه روایت کړی دی چي دا ټوله ستوري په قندیلانو کي دي چي معلق دي بین السماء والارض په ځنځیرانو سره، نور چي هغه په لاسو کي د ملائکه ؤ دی انتهی، روح المعاني وایي هذا القول مما یکذبه الظاهر ولا اراه الاحدیث خرافة، انتهی.

دروښ وایي: چي مظهري په رد کي د قول د بیضاوي له ډیرو سختو الفاظو څخه کار اخستی دی، مظهري وایي چي دا قول د بیضاوي مبني دی پر تجویز د قول د فلاسفه ؤ (یعني چي بیضاوي و قول ته د فلاسفه ؤ تجویز ورکړی دی) مظهري وایي وقول الفلاسفة باطل بالکتاب، ای القرآن والسنة والاجماع فان کون السمٰوات سبعًا منصوص علیه بالکتاب (یعني قوله تعالی خلق سبع سمٰوات طباقًا) فلایجوز القول بالکرة الثامنة وتسمیتها باسم غیر السماء (یعني الکرسي) لایفید کتسمیة الخمر بغیر اسمها (لکه الکول چي یې بولي) لایفید الحل، وقوله تعالی وحفظًا من کل شیطان مارد، یرد القول بکون الکواکب في غیر سماء الدنیاء، والقول بان الشهاب تخرج من الکواکب الثابتة في السماء الثانیة نافذة من السمٰوات السبع الی سارق السمع من الشیاطین مما یأباه العقل والنقل انتهی قول المظهري.

دروښ وایي: چي په دریاب کي چي غوتې خوري هغه آب بازان دي، زه په خپل دریاب خو څه کوم! د لوی ویالې څخه بېرېږم، نو ښه داده مالره چي خپل علم په علم کي د خدای عالم الغیب والشهادة محوه وګرځوم، او داسي ووایم والعلم عند الله لکه روح البیان چي وویل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَا يَسَّمَّعُوْنَ اِلَى الْمَلَاِ الْاَعْلٰى وَيُقْذَفُوْنَ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ ﴿۸﴾

دوی یعني شیاطین غوږ نه نسي وجماعت اعلی ته.

پوه سه: چي اصل د یسمعون یتسمعون وُ فادغمت التاء في السین.

سوال: ضمیر د جمع خو راجع و شیطان ته دی هغه مفرد دی فکیف یصح الارجاع؟

ځواب: ضمیر د جمع راجع دی وکل شیطان ته لانه بمعنی الشیاطین بدخول لفظ کل علیه والملاء په اصل کي هغه جماعت ته وایي چي اتفاق پریو رایي سره وکړي فیملئون العیون رؤیة والنفوس جلالة، او اطلاق یې پر اشرافو مطلقًا دی یعني که په یوه سره اتفاق وکړي او که نه بلکې مطلق جماعت ته هم وایي، والمراد بالملاء والاعلی الملائکة علیهم السلام، کما روی عن السدي رح: اعلی یې په دې سبب بولي چي دوی په جهت کي د علو یعني اسمانو قرار لري، مقابل یې ملاء اسفل دي چي انس او جن دی، ولي چي دوی په جهت اسفل کي دي، او ابن عباس رض وایي چي مراد ځني اشراف د ملائکه علیهم السلام دي، والمراد بالعلو العلو المعنوي ده ای الرتبی.

پوه سه: چي دا کلام مبتداء دی د بیان د حال د شیطانانو وروسته تر دې چي د آسمانو د ختلو لار ودوی ته بنده سوه، والمعنی چي شیطانان که څه هم کوشش وکړي چي غوږ ونسي و خبرو ته د ملکو چي بعض د هغو چي مطلع وي پر اسرارو د لوح محفوظ هغه خبري نورو ته بیان کوي دوی یعني شیطانان یې د اورېدلو طاقت نه لري، نو له دې سببه (ویقذفون) دوی ویشتل کېږي (القذف الرمی من بعید له لېري ځای څخه) یعني چي دوی قصد د ورتګ وکړي او د ملکو و خبرو ته د غوږ نیولو (دا جمله عطف ده پر لایسمعون دی) (من کل جانب) د هر جانب څخه د اسمان په شهب سره (چي پښتانه وایي هغه دی ستوری را ایله سو) لکن ستوري له خپل ځای څخه نه جلا کېږي بلکې یو شغله ځني جلا سي چي شیطان ژوبل کړي یا مړ سي یا ګوډ او یا رونډ سي،

پوه سه: چي د دې آیت معنا دا نه ده چي یو ځای چي شیطان پورته سوی وي له هر جانب څخه د اسمان پر دوی ګزارونه کېږي بلکې معنی یې دا ده چي په هر جانب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي د اسمان چي دوی د غوږ نیولو لپاره د ملکو خبرو ته پورته سوي وه هم له هغه جانبه فقط پر دوی ګزارونه د شهب کیږي.

دُحُورًا وَّلَهُمْ عَذَابٌ وَّاصِبٌ ۝

(دحورًا) په ترتلو سره، نو د دحور مصدر دی نصب یې علی انه مفعول مطلق دی د یقذفون لان القذف والدحور متقاربان في المعنی.

او دوی لره یو بل عذاب سته چي شدید او دائم وي وهو عذاب الآخرة، او مقاتل ؒ وایي لهم عذاب في الدنیا دائم الی نفخة الصور الاولی یحرقون مرة بعد اخری.

اِلَّا مَنْ خَطِفَ الْخَطْفَةَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ ثَاقِبٌ ۝

استثناء متصل ده له واو څخه د لا یسمعون، وکلمة من بدل منه، والیه ذهب الزمخشري صاحب الکشاف ومتابعوه، وقیل استثناء منقطع بمعنی لکن والخطفة الاختلاس چي په پښتو یې حمله بولي او په اردو یې (اچک لیجانا) بولي او په فارسي یې (ربودن) بولي، ومعنی الآیة: الا من اختلس کلمة من کلام الملائکة مسارقة یعني په غلا.

پوه سه: چي مراد چونکه له خطفة څخه کلام د ملکو دی ځکه یې الخطفة معرفه راوړه (فاتبعه) اتبع په معنی د تبع دی ای المجرد ای لحقه (شهاب ثاقب) ای مهلک.

دروښ وایي: چي سدي ؒ وایي چي د ثاقب معنی محرق للشیطان ده او الحسن او قتاده ؒ وایي چي د ثاقب معنی مضئ ده کانه یثقب الجو بضوئه. واخرج ابن ابی شیبة وعبد بن حمید وابن المنذر وابن ابی حاتم عن یزید الرقاشي انه قال یثقب الشیطان (سوری کوي شیطان) حتی یخرج من جانبه الآخر.

فائده: شهاب په اصل کي یوه لمبه ده چي له اور څخه پورته سي، والمراد ههنا یوه رښا ده چي له ستوري څخه جلا سي چي د عوامو دا خیال دی چي ستوری له اسمان څخه را ایله سو.

پوه سه: چي شهب نفس ستوري نه دي چي اسمان په ښائسته دی، ولي هغه که را ولوېږي په دومره ډېر کثرت لکه چي تجربه دلالت پر کوي نو د اسمان زینت به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کم سي، بلکې د منځ څخه به نیست او نابود سي، او بل دلیل دادی چې که ستوري په خپله را ایله سي یعني په اسمان کي له خپل مرکزه راووځي نو خو باید پر مځکه ولوېږي فیحدث منه هلاک کثیر من الانس والحیوانات لان جرم الکوکب ان لم یکن اعظم من الارض فلا اقل من ان ما انقض من الکواکب من حین حدث الرمی الی الیوم اعظم من الارض بکثیر فیلزم انتکون الارض مغشاة باجرام الکواکب والمشاهدة تکذب ذالک بل لم تسمع بوقوع جرم الکواکب اصلاً واصغر الکواکب الثوابت عند الحکماء الاسلامیین کالجبل العظیم، وعند الفلاسفة اعظم واعظم بل صغار الکواکب الثوابت اعظم من الارض کذا في روح المعاني.

دروېش وایي: چې روح المعاني په بیان کي ددې مقصد طویل طویل بیان کړی دی، والمظهري ینکر ذالک کله کما یظهر بمطابقة تفسیره، وروی عن ابن عباس ؓ ده وویل چې یو وخت یعني د شپې رسول الله ﷺ تشریف فرما وو سره د څو نفرو د اصحابو ؓ چې رمی بنجم فاستنار، فقال علیه الصلوة والسلام ما کنتم تقولون لمثل هذا في الجاهلیة، دوی ورته وویل چې موږ به ویل چې یا یو لوی سړی مري یا یو لوی سړی زېږي، فقال علیه الصلوة والسلام لایرمٰی لموت احد ولا لحیاته لکن سبب دادی چې خدای ﷻ قضاء دیو امر وکړي، د خدای ﷻ تسبیح ووایي حملة العرش واهل السماء السابعة (دروېش وایي: چې دمخه تېره سوه چې مظهري ؒ و کرسی ته د سماء سابعه له ویلو څخه سخت منکر دی، نو دا حدیث پرده رد دی جواب به یې مظهري څه وایي؟) فیقولون (ای اهل السماء السابعة) لحملة العرش ماذا قال ربکم؟ حملة العرش دوی ته بیان د ما قال الرب ﷻ کوي خو چې خبر و سماء الدنیا ته ورسېږي فیتخطف مسترقوا السمع یعني الشیاطین فیرمون به (ای الی الکهنة) فما جاؤا به علی وجهه فهو من قسم ما سمع من الملائکة فهو حق وماظهر کذبه فهو من قسم ما قالوه (ای الکهنة) علماء وایي چې د شهب قصه په وخت کي د جاهلیت هم وه، ولما بعث رسول الله ﷺ دا استراق السمع ډېره سخته سوه او د شهب راتله ډېر سوه کما في تفسیر سورة الجن.

دروېش وایي: چې مظهري ؒ ته وله ستوري په اول اسمان کي بولي، او د فلک الثوابت څخه انکار کوي یعني اسمان یې نه بولي او له رمي څخه د ثوابتو ستررو له فلک سابع څخه په کلکه منکر دی، والله اعلم بالصواب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وروى البخاري عن قتادة ؓ قال خلق الله هذه النجوم لثلاث جعلها زينة للسماء ورجومًا للشياطين وعلامات يهتدي (يعني علامات چې په بحر او بر کې له دوی څخه مسافران لار پيدا کوي) فمن تؤل فيها غير ذالک (يعني د سعادت الطالع منها في وقت ولادة المولود وشقاوته كما ذهب اليه المنجمون) اخطاء واضاع نصيبه (من العلم الصحيح في حكمة الباري ﷻ في خلق النجوم) وتكلف ما لم يعلمه الا الله، وروى البخاري ايضًا عن ابى هريرة ؓ اذا قضى الله لامر في السماء ضربت الملائكة باجنحتها خضعانًا لقوله (ووهي ملكي وزرونه خپل له جهته د عجز و قول ته د خداى ﷻ يعني څه قضاء الهي به نازله سوې وي) كانه سلسلة على صفوان (لكه ځنځير چې پرډبره وښويول سي) فاذا فرع عن قلوبهم (چې ببره زائله سي له زړو څخه د ملكو) قالوا ما ذا قال ربكم قالوا للذي قال اى الله تعالى الحق وهو العلي الكبير، فسمعها مسترقوا السمع (يعني الشياطين) او مسترقوا السمع يو پر بل سره ولاړي وي هغه خبره چې له ملكو څخه يې واورېدل يعني هغه اسمان ته نژدې شيطان هغه يې من تحت ته وكړي وهكذا حتى يلقيها على لسان الساحر او الكاهن (شک دى د راوي) كاهي شهاب دمخه تر القاء وكاهن ته وورسېږي يعني هلاک يې كړي وربما القاها قبل ان يدركه اى الشهاب، نو كاهن سل درواغ ورسره ضم كړي، نو خلک يې هغه سل درواغ په يوه اسماني خبر سره چې رشتيا وه ومني، فيقال اليس قد قال كذا وكذا، فيصدق بتلك الكلمة التي سمعها من السماء.

دروش وايي: چې وروى مسلم قريبًا مما روى البخاري لكن اخصر مما روى البخاري.

پوښتنه: دغه شيطانان چې په شهاب ويشتل كېږي، ولي له دغه كاره يعني استراق السمع څخه نه بېزاره كېږي؟

ځواب: دمخه په حديث شريف كې عنقريب ذكر سوه، داسي راغله: كاهي شيطانان هغه له ملكو څخه اورېدلې خبره تر كاهنانو پورې راورسوي، نو بله پلا يې پاته اميد د سلامت دا كار ته چمتو سي، مثال يې راكب البحر دى د تجارت لپاره فقد يصيب الموج فيغرق امواله، وقد لا يصيبه فلذا يعود الى ركوب البحر للتجارة رجاء للسلامة.

سوال: شيطان خو له اوره پيدا دى فلا يحرق بالنار؟

ځواب: شيطان خو صرف اور نه دى بلكې اوريې ماده ده، لكه انسان چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خالص خاوري نه دی، خاوري يې ماده ده.

دروښ وايي: چې په وخت کې د سلطنت د انګرېزانو پر لويه وچه د برصغير (هندوستان او پاکستان) چې يې قبضه وه، د انګرېزانو يو ملا دا سوال مطرح کړی ؤ اعتراضًا علی القرآن العظيم چې په قرآن کې راغلي دي لاملئن جهنم من الجنة والناس اجمعين چې جن خو له اوره پيدا دی، نو په اور يې څه باک کېږي او په اور ده ته څه عذاب ورکول کېږي، ددې تحقيق لپاره انګرېزانو مسلمانانو ته دعوت ورکړی د مناظرې ددوی د ملا سره، مسلمانانو خپل يو ستر عالم وټاکی د مناظرې لپاره، قانون د مناظرې عمومًا دادی چې دمخه تر شروع د مناظرې يو څو مقدمات مسلمه بين المتخاصمين به ايښوول کېږي.

نو جلسه چې جوړه سوه د مسلمانانو عالم د انګرېزانو ملا ته وويل چې ته دا منې چې يو جنس په خپل جنس سره نه معذب کېږي، د انګرېزانو ملا په نعم سره جواب ورکړی، بيا د مسلمانانو عالم ورته وويل چې ته دا منې چې انسانان له خاورو څخه پيدا دي انګرېزي ملا ورته وويل نعم! په عين حال کې حکومت سخت پهره درولې وه چې د مسلمانانو او د انګرېزانو تر منځ جنګ جوړ نه سي، مسلمان عالم په خپل بغل کې پټه يوه کوچنۍ اوومه خښته يعني له خاورو څخه جوړه سوې را اخستې وه، د انګرېزانو ملا چې خپل بيان وکړی لکه دمخه چې عنقريب تېر سو د مسلمانانو عالم بيله سوال و جوابه په هغه اومه خښته د انګرېزانو ملا پر سر وويشتی سر يې مات سو او دی بېهوش سو، انګرېزانو غوښته چې د مسلمانانو عالم گرفتار کړي هغه ورته وويل چې تاسي صبر وکړئ چې دی په هوش کې راسي زه يوه پوښتنه ځني کوم بيا ما تاسي گرفتار کړئ هر څه چې زما جرم ؤ هغو مره جزاء راکړئ: خير يو گړی وروسته چې د انګرېزانو ملا په هوش کې راغلی د مسلمانانو عالم پوښتنه ځني وکړه چې ولې بېهوشه سوې؟ انګرېز ملا ورته وويل چې ته څرنګه ضربه پر سر راکړه! عالم ورته وويل چې ما خو ته د خاورو په خښته وويشتلې، تا خو ويل چې جنس په جنس نه په عذابېږي، او تا په مقدمات مسلمه ؤ کې دا وويل چې انسان له خاورو څخه پيدا دی؟ نو د انګرېزانو ملا تسليم سو او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

له خپلې خبرې څخه بېزار سو، ناري سوې چې (مسلمان عالم جیت گیا اور انگریزوں کے ٹلا ہار گیا) (جیت: معنی بری، گټل، او هار: معنی ناکامي، بایلل)

داڅیو مختصر حکایت ددې ځای سره مناسب.

فَاسْتَفْتِهِمْ أَهُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمْ مَّنْ خَلَقْنَا

ته پوښتنه وکړه یا محمد (ﷺ) له مشرکینو څخه د مکې (ضمیر مرفوع راجع وعلیه الصلوة والسلام ته دی او ضمیر منصوب راجع و کفارو ته د مکې دی) دوی سخت دي من حیث الخلق (خلقًا تمییز دی له نسبت څخه د اشد وهم ته) او یا هغه څه چې موږ پیدا کړي دي (ام من خلقنا) مفعول محذوف دی ای هم چې راجع و من ته دی (لفظ د من که څه هم مفرد دی من حیث المعنی جمع دی) والمراد بمن خلقناهم ما سبق ذکره من السمٰوات والارض وما بینهما من الخلائق والمشارق والمغارب والکواکب و الشهب الثواقب للشیاطین السارقین للسمع وکلمة من التي هي لذوی العقول خاصةً باعتبار والتغلیب، او بعض مفسرین وایي چې مراد د من خلقنا نور امتونه دي لکه عاد او ثمود و قوم لوط وغیرهم هغه موږ هلاک کړه تاسي کفار مکه ولي په امن کي یاست له عذاب څخه د خدای ﷻ.

إِنَّا خَلَقْنٰهُم مِّن طِينٍ لَّازِبٍ ﴿١١﴾

موږ پیدا کړي دي کفار مکه (په اعتبار د اصل ددوی چې آدم علیه السلام) له خټو څخه چې په لاس پورې مښلي یعني سریښناکي خټې، او مجاهد او الضحاک وایي چې لازب معنی منتن ده یعني بدبویه، والحاصل چې اسمانو او د مځکې خلق بې له سبق د ماده دی او د انسانانو خو د طین لازب له ماده څخه دی.

پوه سه: چې غرض له دې کلام څخه رد دی پر منکرانو د بعث بعد الموت باندې په دې معنی چې دې آیت شاهدي ادا کړه پر دوی په ضعف سره، ولي هغه شی چې خټو څخه جوړ وي هغه شی خو چندانې صلابت یعني کلک والی او قوت نه لري لکه اسمانونه فمن خلق السمٰوات وغیرها قادر بالطریق الاولی علی ما لایعتد به ای المخلوق من الطین نسبت واسمانو ته او په هم دې آیت کې احتجاج دی پر مشرکانو د مکې او نورو، په دې معنی چې ستاسي اول خلق له طین لازب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه دی، نو تاسي ولي انکار کوئ چي له خاورو څخه موږ څرنګه پیدا کړي کما قالوا، اذا کنا ترابًا اءنا لفي خلق جدید او سره ددې چي طین لازب خو اوبه او خاوري دي، او خاوري او اوبه خوسته اوس هم، او قابل د انضمام دي او قدرت د خدای ﷻ باقي پر خپل ځای دي، نو ستاسي د انکار د بعث بعد الموت دلیل څه دی ومالکم کیف تنکرون... شیخ سعدي قدس سره داسي وایي:

بامرش وجود از عدم نقش بست.... که داند جز او کردن از نیست هست

د ګرره بکتم عدم دربرد.... و ز آنجا بصحر ای محشر برد

بَلْ عَجِبْتَ وَيَسْخَرُونَ ﴿۱۲﴾

مظهري ﷺ وایي چي کلمه د بل لپاره د ابتداء د کلام ده والانتقال من غرض الی غرض وهو الاخبار عن حاله ﷺ وهو التعجب وحالهم ای مشترکی مکة من الاستهزاء والسخریة ولیست لاضراب انتهی، او روح المعاني ذالک بالبحر الطامي وایي وکلمة بل للاضراب من تلک الدلائل لانها لاتنفع او عن الامر بالاستفتاء فانهم معاندون لاینفع فیهم الاستفتاء ولا یتعجبون من تلک الدلائل بل مثلک یتعجب منها انتهی، او روح البیان وایي قال سعدي المفتي اضراب عن الامر بالاستفتاء ای لا یستفتهم فانهم معاندون مثل ما قال روح المعاني لفظًا بلفظ.

درویش وایي: چي فتدبر وحذ ما صفا ودع ما کدر.

پوه سه: چي عجب هغه حالت ته وایي چي انسان ته پیښ سي من رؤیة امر لم یعهد مثله (یعني چي ده نه وي لیدلی مثل د هغه امر) (ویسخرون) ای هم یسخرون (بحذف المبتداء) او دوی مسخري کوي، والمختار في معنی الآیة داده چي ته یا محمد تعجب کوي من قدرة الله تعالی علی هذه الخلائق العظیمة من خلق السمٰوات من قوله رب السمٰوات الی قوله تعالی من طین لازب، او دغه رنګه ته تعجب کوي له انکار څخه ددوی له بعث بعد الموت څخه مع اقامة الدلائل الواضحة علی صحته او دوی پسخند وهي ستا په تعجب سره او تقریر د بعث بعد الموت.

درویش وایي: چي حمزه، کسائي، ابن سعدان او ابن مقسم عجبت بتاء المتکلم وایي او دا روایت د علي او ابن عباس او ابن مسعود ﷺ او د نخعي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

طلحة، شقيق او اعمش رحمه الله دی. شريح القاضي له دې قرائت څخه منكر دي، وقال ان الله لا يعجب من شيئ وانما يعجب من لم يعلم آه، لكن انكار القاضي ليس في محله بل جاء في الحديث الصحيح مثله عجب ربك من قوم يساقون الى الجنة في السلاسل، فلا بد من تصحيحه هذه القرائة وتوجيه امثالها من الاحاديث، فقال البيضاوي العجب من الله اما على الفرض والتخييل او على الاستعظام اللازم يعني اللازم د تعجب سره، او بعض مفسرين وايي ان هذه القرائة مقدر بالقول يعني قل يا محمد بل عجبت، وقال البغوي رح والتعجب من الله انكاره وتعظيمه والعجب من الله رح قد يكون بمعنى الانكار والذم كما في هذه الآية وقد يكون بمعنى الاستحسان كما في الحديث عجب ربكم من شاب ليست له جلوة.

دروښ وايي: چې د دې آيت پر تقدير د عجبت بتاء الخطاب قتاده رح ډېر زېبا او په زړه پورې ترجمه کړې ده وايي چې: تعجب وکړی نبي الله ﷺ من هذا القرآن حي نزل (يعني بعض السور منه، ولي چې قرآن مبارک په تدريج نازل سوی دی) وضلال بني آدم (ای مشرکی مکة) سبب دا ؤ چې د عليه الصلوة والسلام دا خيال ؤ چې دا قرآن معجز چې هر څوک واورې ايمان به پر راوړي، نو مشرکانو د مکې چې دا قرآن واورېدی استهزاء يې په کول او ايمان يې نه راوړی، وعجب النبي ﷺ من صنيع المشركين مع القرآن يعني الاستهزاء به فقال الله ﷻ بل عجبت ويسخرون.

وَإِذَا ذُكِّرُوا لَا يَذْكُرُونَ ﴿١٣﴾ وَإِذَا رَأَوْا آيَةً يَسْتَسْخِرُونَ ﴿١٤﴾

او چې دوی ته وعظ وکړل سي په قرآن سره دوی قبول د وعظ قرآني من النبي العربي ﷺ څخه نه کوي مع انهم يسمون النبي ﷺ قبل دعوى النبوة (امين مكة) (واذا راو آية) چې دوی وويني يوه معجزه (چې پر صدق د دعولی د نبوت د عليه الصلوة والسلام دلالت کوي، قال ابن عباس رض ومقاتل رح چې مراد دلته معجزه د انشقاق القمر ده) دوی ډېره مبالغه په پسخند کې کوي.

وَقَالُوا إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾

او دوی وايي (قالوا: ماضي په معنى د مضارع ده بقرينة ماقبله) نه دی دغه چې موږ يې وينو (هذا اشاره و آيت ته ده او تذكيره په اعتبار د معنى دی يعني انشقاق القمر فافهم) الا: مګر سحر دی چې بنکاره دی سحر والی يې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ءَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا ءَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴿١٦﴾

آیا چې موږ مړه سو او وګرځو موږ خاوري او هډوکي، آیا موږ بعث کېږو؟ همزه د (انا لمبعثون) لپاره د انکار دی اصل کلام داسي وُ: انبعث اذا متنا، په بدل الجملة الفعلية ای انبعث بالاسمية يعني ءنا لمبعوثون، وقدم الظرف چې اذا دی او دوه ځایه یې همزه مکرر راوړی مبالغةً في الانكار اشعارًا واشعارًا بان البعث في نفسه مستنكر وفي هذا الحال ای كنا ترابًا وعظامًا اولى بان الانكار، تراب یې د مخه کړی له دې سببه چې اول غوښې خاوري کېږي وروسته عظام پاتېږي.

أَوَ ءَابَآؤُنَا ٱلْأَوَّلُونَ ﴿١٧﴾

او یا زموږ پلرونه (پلرونه نیکه ګانو ته هم شامل دي) آیا بعث کېږي به زموږ ابا چې اول مړه دي، وزيادة لزيادة استبعاد بعثهم لبعد زمانهم.

قُلْ نَعَمْ وَأَنتُمْ دَٰخِرُونَ ﴿١٨﴾

ورته ووایه ته (یا محمد ﷺ) هو! تاسي او ابا ستاسي به بعث کېږئ او حال به دا وي چې تاسي به نهایت ذلیل یاست.

فَإِنَّمَا هِىَ زَجْرَةٌ وَٰحِدَةٌ فَإِذَا هُمْ يَنظُرُونَ ﴿١٩﴾

(جواب د شرط محذوف دی یعني اذا كانت البعثة فانما هي ای البعثة زجرة ای صيحة واحدة ای النفخة الثانية لاسرافيل)

پوه سه: چې زجر طرد او منع ته وایي په صوت سره كما يقال زجر الراعي غنمه اذا صاح عليها، والحاصل چې امر د اعاده لکه امر د ابدا دی په سهولت وقدرت ته د خدای ﷻ، او کلمه د اذا للمفاجات (چې په پښتو وایي: نابېره) او ضمیر د هم راجع دی و منکرین ته بعث بعد الموت يعني المشركين، وفي بعض التفاسير للخلائق كلهم انتهى.

دروېش وایي: چې دا تفسیر وروسته یعني د یا ویلنا سره سمون نه لري، لان یا ویلنا شعار في ذالک اليوم للمشركين دون المؤمنين، د ينظرون معنى یا داده يبصرون كما في الدنيا او یا دا چې ينتظرون ما يفعل بهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَالُوْا يٰوَيْلَنَا هٰذَا يَوْمُ الدِّيْنِ ۝

او دوی وایي یعني المشرکین.

سوال: دا خبره خو تر اوسه پوري نه ده متحقق سوې، نو صیغه د ماضي څرنګه راوړل سوه؟

ځواب: مستقبل چې یقیني الوقوع وي لکه ماضي داسي دی.

سوال: د ویل معنی هلاک ده. نو د ویل د نداء وجه او معنی څه ده؟

ځواب: د عربو د عادت سره سم چې دوی چې څه وخت د سخت مشکل سره مخامخ سوه دغسي نداء کوي، یا ویلنا یا داسي یا حسرتنا، نو معنی یې داده چې دوی وایي چې ای هلاکه زمونږ چېرې یې احضر فهذا اوانک، او حسین کاشفي ؒ داسي ترجمه کړې ده: (ای وای برما).

فائده: ویل مصدر دی لا فعل له من لفظه او جمله د قالوا عطف ده علی ینظرون. (هٰذا یوم الدین) دا ورځ د جزاء ده پر اعمالو زمونږ.

هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ۝

دا ورځ ده د جلا کولو د محسن او مسئ والمؤمن والکافر ده.

فائده: کلام د مشرکانو پر هذا یوم الدین ختم سو، وقوله هذا یوم الفصل له کلام څخه د ملکو دی، توبیخًا و تقریعًا، وقیل هذا ایضًا من قول بعضهم لبعض.

دروېش وایي: ولیس بذاک فافهم، نو بیا په هم دغه وخت کي خدای ﷻ و ملکو ته ووایي:

اُحْشُرُوا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا وَاَزْوَاجَهُمْ

جمع کړئ هغه کسان چې په دنیا کي یې ظلم یعني الشرک کاوه فان الشرک ظلم عظیم. ولي چې ظلم وضع د شي ده بې ځایه، مشرکانو هم عبادت چې حق د خدای ﷻ وُ لانه المعبود بالحق بې ځایه استعمال کړی وُ یعني د بتانو عبادت یې کاوه.

پوه سه: چې حشر بعث بعد الموت ته هم وایي او جمع او سوق ته وایي اول معنی دلته مراد نه ده لان البعث قد تحقق حینئذ، بلکې معنی داده چې جمع کړي دوی موقف ته د حساب او جزاء.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(وازواجهم) او امثال ددوی او اتباع ددوی، بغوي ؒ وايي قال قتادة والكلبي ؒ يعني مثل من عمل عملهم فشاربى الخمر مع اهل الخمر واهل الربوا مع اهل الربوا وهكذا اهل المعاضي الاخر مع امثالهم في تلك المعاصي، او ضحاک ؒ وايي: قرنائهم من الشياطين يعني كل كافر مع شيطانه په يوه ځنځير كي. او حسن ؒ وايي چي ازواج معهوده مراد دي من المشركات كذا روى البيهقي من طريق النعمان بن بشير قال سمعت عمر بن الخطاب ؓ وزاد فيه واصحاب الزنى مع اصحاب الزنى.

دروښ وايي: چي روح البيان د مذكور حديث پر خلاف ويلي دي، چي مراد د الظالمين څخه مشركان دي، الا ان يقال ان المراد في الحديث المذكور والله اعلم كي هم د فشاربوا الخمر آه مشركان دي چي په مذكوره افعالو كي به سره شريكان وه.

وَمَا كَانُوا يَعْبُدُونَ ﴿٢٣﴾ مِنْ دُونِ اللَّهِ

او هغه شيان چي دوی به يې عبادت كاوه بيله خدايه يعني في الدنيا. يعني الاوثان والطواغيت، وقال مقاتل ؒ چي مراد له ما يعبدون څخه ابليس دی قرينه دا ويلې ده ان لاتعبدوا الشيطان، مظهري ؒ وايي چي دا آيت مخصوص دی په هغه آيت سره ان الذين سبقت لهم منا الحسنى اولئک عنها مبعدون.

دروښ وايي: چي تخصيص او اخراج د الذين سبقت آه ته څه ضرورت سته، ولي چي مظهري په خپل تفسير كي د الذين ظلموا په اشركوا سره كړی دی، او روح البيان هم ويلي دي په تفسير كي د ازواجهم واشباههم من اهل الشرک والكفر والنفاق وعبدة الاصنام الخ.

فَاهْدُوهُمْ إِلَىٰ صِرَاطِ الْجَحِيمِ ﴿٢٣﴾

قال ابن عباس ؓ دلوهم الى طريق النار، او ابن كيسان وايي قدموهم الى النار.

وَقِفُوهُمْ إِنَّهُم مَّسْئُولُونَ ﴿٢٤﴾

(وقفوهم) مفسرين وايي لما سيقوا الى النار حبسوا عند جسر الصراط وذالک هو المراد من وقفوهم (انهم مسؤلون) تعليل لما سبق، قال ابن عباس ؓ يعني مسؤلون عن جميع افعالهم واقوالهم، وروى عنه ايضًا عن لآ اله الا الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي که چېرې مراد له ظالمانو څخه مطلق ظالمان سي یعنې که مؤمن وي او که کافر، نو هغه حدیث شریف چي مسلم یې له ابی برزة الاسلمي ؓ څخه روایت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ لایزول قدما عبد عن الصراط حتی یسئل عن اربع (۱) عن عمره فیما افناه (چي عمر دي څه په کارو کي پای ته ورساوه) (۲) وعن جسده فیما ابلاه (۳) وعن علمه ما عمل فیه (۴) وعن این اکتسبه وفیما نفقه، او هغه حدیث چي ابن المبارک یې له ابی درداء ؓ څخه روایت کړی دی چي دی وایي ان اخوف ما اخاف اذا وقعت الحساب ان یقال قد علمت، ته عالم وي څه عمل دي کړی دی یعنې په علم سره، او هغه حدیث چي ابن ابی حاتم له ابقع بن عبد الله الکلاعي څخه روایت کړی دی چي جهنم لره اووه قناطیر دي او صراط علیها، نو بنده کړل سي خلګ پر اول قنطره فیقولون (ای الملائکة لخزنة جهنم) قفوهم انهم مسؤلون فیحاسبون عن الصلوة (یعنې سوال د لمانځه څخه کېږي چي کاوه دي که یا) فهلک فیها من هلک وینجو من نجاه (یعنې چي نه یې کاوه هغه هلاک سي یعنې دوزخ ته ولوېږي او نجات پیدا کړي هغه چي کاوه یې یعنې د شرائطو او ارکانو سره) بیا دویمي قنطرې ته ورسېږي سوال د امانت څخه کېږي: کیف ادوها وکیف خانوها فیهلک من هلک وینجو من نجی، واذا بلغوا القنطرة الثالثة سئلوا عن الرحم (ای صلة الرحم) کیف وصلوها وکیف قطعوها فیهلک من هلک وینجو من نجی.

درویش وایي: ونحو ذالک من الاحادیث واقوال العلماء کثیرة، دا ټوله والله اعلم پر عموم د ظالمانو بناء دی.

مَا لَكُمْ لَا تَنَاصَرُونَ ﴿۲۵﴾

څه سبب دی چي تاسي یو د بل مرسته (کومک) نه کوئ، والخطاب بعض وایي و کفارو او د دوی خدایانو ته دی او یا یوازي د دوی ته دی لکه تاسي په دنیا کي به یو د بل مرسته کول، لکه ابو جهل چي په ورځ د بدر وویل نحن جمیع منتصر صوږ په اتفاق یو خامخا به غالب کېږو پر جماعت د مسلمانانو، په دې آیت باندې کول دي د دوی پر مرسته باندې یو د بل سره، والغرض من السوال التهکم والتعجیز دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: چې دا سوال تر دې وخته پورې ولې وځنډېدی يعنې تر وخته د دخول د دوزخ ته؟

ځواب: په دې وخت کې سخت ضرورت و کومک ته ستة، انقطاع د امید دی د خلاصون له عذاب څخه، په يو روايت کې راغلي دي چې عمل نامې د کافرانو چې دوی ته ورکړل سي، دوی چې خپلې عمل نامې ووايي نو ملکي ورته ووايي چې جزا د دغسې عمل والا څه ده؟ دوی ورته وايي النار، نو ملکي ورته ووايي ادخلوا النار بحکمکم په حدیث شریف کې راغلي دي چې عالم يعنې معلم الناس الدين او عابد چې ښه عبادتونه د تهجد لمونځونه الی غیر ذالک يې کړي وي پر پل صراط سره يو خای ملکي و عابد ته ووايي چې څه جنت ته خپل د عبادت مېوې خوره عالم معلم ته ووايي قف ههنا فاشفع لمن شئت فانک لاتشفع لاحد الا شفعت يعنې ستا شفاعت قبلېږي، فقام مقام الانبياء يعنې شفاعت اصالةً د انبياء عليهم السلام کار وتبعًا ده ته وسپارل سي.

بَلْ هُمُ الْيَوْمَ مُسْتَسْلِمُونَ ﴿۲۶﴾ وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿۲۷﴾

بلکې دوی په دې ورځ کې عاجزون وي قاله ابن عباس رضي الله عنه وقال الحسن منقادون (واقبل آه) او مخ راواړوي بعض د کافرانو يعنې اتباع او رئیسان يو پر بل منت کوي او ملامتيا پروايي او وزسره دعوه يې وي.

قَالُوا إِنَّكُمْ كُنتُمْ تَأْتُونَنَا عَنِ الْيَمِينِ ﴿۲۸﴾

(قالوا) ماضي په معنی مستقبل ده لان هذا القول في القيامة وعبر بالماضي لتيقن وقوع هذا القول في القيامة.

دروښ وايي: ومثل هذا كثير في القرآن المجيد، دا قول دی د اتباع دی و رئیسانو ته چې دوی به اتباع باعثه کول پر شرک او کفر.

ترجمه: تاسي په تحقق واست چې راتلاست مونږ ته د يمين له خوا څخه.

پوه سه: چې بعض مفسرين وايي عن اقوى الوجوه او عن الدين او عن الخير كذا قال الضحاک ومجاهد، نو دا لفظ مستعار دی له يمين څخه د انسان چې اقوى د جانبينو د انسان دی واشرفهما وانفعهما ولذالک سمی يمينًا، او بعض وايي چې يمين په مراد قسم دی يعنې تاسي رئیسانو به مونږ ته قسم اخستی چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دغه دين چي موږ تاسي ورته رابولو يعني الشرک هو الدين الحق. او بعض مفسرين وايي چي يمين په معنى د قوت دى يعني موږ په زور او طاقت پر شرک مجبوره کولو، يعني په ضرب او کوب سره دعوت د شرک را کاوه.

پوه سه: چي دا جمله او وروسته جمله بيان د تسائل په معنى د تخاصم ده.

قَالُوا بَلْ لَّمْ تَكُونُوا مُؤْمِنِينَ ﴿٢٩﴾

(قالوا) اى يقول (على قياس مامر) وه به وايي رئيسان يا شيطانان (که تخاصم د شيطانانو سره وي) يعني موږ تاسي نه ياست گمراهان کړي بلکې تاسي په اختيار د کفر ليار غوره کړې وه.

وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُم مِّن سُلْطَانٍ ۚ بَلْ كُنتُمْ قَوْمًا طَاغِينَ ﴿٣٠﴾

نه وُ موږ لره پر تاسي قهر او غلبه چي په زوره مو شرک ته نه را جلبولاى تاسي (تقرير لماقبله) بلکې تاسي واست په خپل اختيار چي طغيان او شرک مو کاوه زموږ څه گناه ده.

فَحَقَّ عَلَيْنَا قَوْلُ رَبِّنَا ۖ إِنَّا لَذَائِقُونَ ﴿٣١﴾ فَأَغْوَيْنَاكُمْ إِنَّا كُنَّا غَاوِينَ ﴿٣٢﴾

نو واجب سو پر موږ او تاسي قول د خداى ﷻ يعني لاملئن جهنم من الجنة والناس اجمعين: موږ او تاسي به برداشتوو عذاب د خداى ﷻ (وليس من ذوق الغم) يعني تاسي مو گمراهان کړاست د هدايت د لارې څخه ودعوناكم الى ماكنا عليه من الكفر والشرک (عطف على قوله فحق علينا) يعني موږ په خپله گمراهان وُ د حق له لارې څخه، مقصد دادى چي زموږ او ستاسي ضلال او وقوع په عذاب کې د هغه زموږ او ستاسي په قسمت ازلي کې نوشته وه غاية ما فعلنابكم (چي موږ د تاسي سره وکړه) انا دعوناكم الى الغي لانا كنا على الغي، نو زموږ دا خوښه وه چي تاسي لکه موږ داسي سي، ولي چي زموږ په دنيا کې دا گمان چي پر حق دين يو، نو د قوميت او دوستى له لارې مو تاسي و هغه دين ته چي په واقع کې ضلال و دعوت کړاست، او تاسي هم په لبيک زموږ دعوت بدرگه کړى، نو تاسي پر موږ د ملامتيا حق نه لرې فافهم هداك الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَإِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُونَ ﴿٣٣﴾

(فانهم) کلمه د فاء لپاره د سببیت ده یعني لما کان کلهم من الرؤساء والاتباع والکفرة علی الغی والضلال، نو دوی ننه ورځ یعني په عذاب کي سره شریک دي، ولي چي په سبب کي د عذاب سره شریکان دي.

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ بِالْمُجْرِمِينَ ﴿٣٤﴾

انا مبتداء ده وروسته جمله یې خبر ده او کذالک منصوب دی محلاً مفعول مطلق دی ای فعلاً مثل ما نفعل بهولاء (نفعل بالمجرمین) والمراد بالمجرم المجرم الکامل وهو المشرک.

إِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٣٥﴾

الجملة تعلیل لماقبله ولي چي دوی وه په دنیا کي چي دوی ته به وویل لا اله الا الله دوی به له توحید څخه د معبود بالحق کبر کونکی وه.

وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُو آلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُونٍ ﴿٣٦﴾

او دوی به ویل (عطف علی یستکبرون) آیا موږ به پریږدو خپل خدایان چي اصنام دي. والاستفهام للانکار یعني داسي نه کوو په قول د شاعر چي لپونی دی، مراد یې ځني رسول الله ﷺ و.

تنبیه: دوی د غایت عناد سره د رسول الله ﷺ په دې قول کي خپل یعني شاعر، مجنون جمع بین الضب والنون وکړه. قال الله تعالی ردًا علی هؤلاء الضالین.

بَلْ جَاءَ بِالْحَقِّ وَصَدَّقَ الْمُرْسَلِينَ ﴿٣٧﴾

(کلمه د بل لپاره د اضراب ده له قول څخه ددوی. ضمیر د جاء راجع دی و علیه الصلوة والسلام ته) بلکې ده راتګ کړی دی په حق سره چي توحید د معبود دی، او ده تصدیق کړی دی د نورو رسولانو چي تر ده دمخه تېر سوي وه یعني د هغو دعوه هم توحید وه یعني توحید یو نوی کار او خبره نه ده چي رسول الله ﷺ پکښي یوازي دی بلکې ټوله رسولان دده مسماه په دعوی کي د توحید شریکان دي فکلمة کل الرسل واحدة یعني لا اله الا الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّكُمْ لَذَآئِقُوا الْعَذَابِ الْأَلِيمِ ﴿٣٨﴾

په تحقیق تاسي ایها المشرکون (التفات دی له غیبت څخه و خطاب ته) تاسي به وړی یعني په قیامت کي عذاب چي درد ورکونکی دی، فعیل په معنی د مفعل دی او یا مبالغه ده مثل لیل لئیل، وداهیة دهیًا. دا عذاب په سبب د اشراک او د تکذیب د رسولانو دی.

وَمَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٣٩﴾

تاسي ته جزاء نه درکول کیږي مګر جزا د هغه عمل چي په دنیا کي تاسي کاوه یعني الشرک.

دروښ وایي: چي له علي رضي الله عنه څخه چا پوښتنه وکړه د مؤمن (ای الکامل) د علامې په اړه، ده ورته وویل: څلور شیان دي (۱) ان یطهر قلبه من الکبر والعداوة (ای لاهل الاسلام) (۲) ان یطهر لسانه من الکذب والغیبة (دروښ وایي چي بهتان یعني ناحقه عیب پر چا ویل داخل دی په کذب کي) (۳) و ان یطهر قلبه (یعني ایضًا) من الریاء والسمعة (۴) وان یطهر جوفه من الحرام والشبهة (یعني شبهه چي د حرام پکښې وي وان لم یکن حرامًا قطعیًا) وفي الحدیث: دع مایریبک الی ما لایریبک، واعظم الکبر ان یتکبر عن قول لا اله الا الله.

إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿٤٠﴾

مګر نه بندګان د خدای ﷻ چي مخلصون وي.

پوه سه: چي مخلص بفتح اللام پر صیغه د اسم مفعول چي خدای ﷻ دي خالص ګرځولی دی د عبادت خپل یعني اختاره لجناب حضرته، او مخلص بالکسر یعني پر صیغه د اسم فاعل من اخلص عبادته لله تعالی ولم یشرک بعبادته احدًا.

پوه سه: چي دا استثناء منقطع ده من ضمیر ذائقوا العذاب څخه له دې سببه چي استثناء منقطع ده نو الاّ په معنی د لکن دی، په کشف الاسرار کي وایي تم الکلام ههنا عند قوله تعالی الا ماکنتم تعملون، وهذا ما ذهب الیه روح البیان وکشف الاسرار، او په روح المعاني کي وایي استثناء منقطع عن ضمیر ذائقوا وما بینهما اعتراض یعني معترضة جمله.

دروښ وایي: چي ما ذکره المظهري من احتمال الاستثناء المتصل فتکلف،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اُولٰٓئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَّعْلُوْمٌ ۙ﴿۴۱﴾

پوه سه: چې دا جمله مستأنفه ده ګويا سايل به پوښتنه کول مالهؤلاء المخلصين من الاجر والثواب.

دروښ وايي: چې دې ته استيناف بياني وايي.

ترجمة الآية: دغو مخلصينو لره رزق دی معلوم، يعني خواصي يې معلومي دي من کتاب الله وسنة رسوله من الدوام وتمخص اللذة وغير ذالک وفسره بقوله.

فَوَاكِهُ ۚ وَهُمْ مُّكْرَمُوْنَ ۙ﴿۴۲﴾

(فواکه) جمع د فاکهة ده، عطف بيان يا بدل دی د رزق.

فائده: فاکهة په اصطلاح د عربو هغه مېوې وغيره ته وايي چې مقصود ځني تلذذ وي نه غذاء او قوت، لکه په اوسنۍ زمانې کې نارنج، مالټه، شليل، شفتالو وغيرها، او رزق دواړو ته وايي يعني که غذاء ځني مقصد وي او که صرف تلذذ.

پوښتنه: په جنت کې هر قسم مېوې ستا لکه انګور، انار، منه او خورما چې کامل غذاء پکښې ستا، نو ټولې مېوې د جنت څرنګه فواکهه وبلل سولې؟

ځواب: چونکه بدنونه د جنتيانو محفوظ دي له فناء ځکه نو غذاء ته ضرورت نه لري، نو ټوله ارزاق ددوی فواکه دي.

(وهم مکرمون) دوی ته عزت ورکړه کېږي، يعني يصل تلک الفواکه اليهم من غير تعب وسوال بخلاف ارزاق الدنيا، دا جمله عطف ده پر دمخه جمله يعني لهم رزق معلوم.

فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۙ﴿۴۳﴾ عَلٰى سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِيْنَ ۙ﴿۴۴﴾

(في جنات النعيم) جار او مجرور متعلق دی په مکرمون پورې يا بل خبر دی د اولئک، والمعنى جنات ليس فيها الا النعيم (على سرور) جمع د سرير ده وهو ما يجلس عليه للسرور، دا لفظ يا حال دی ای جالسين على السرور او يا خبر لاولئک (متقابلين) مخامخ يعني جنتيان چې يو د بل ملاقات ته ورسي يو د بل قفا يعني څټ نه وينې بلکې سرور يې سره ګرځي، دا جمله حال ده من الضمير المستکن في الجار والمجرور ای على سرر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِكَأْسٍ مِّنْ مَّعِيْنٍ ﴿٤٥﴾

طواف کړه کېږي يعني غلمان د جنت د شراب لوښی په لاس کي پر دوی طواف کوي.

پوه سه: چي کأس هغه صراحي ته وايي چي شراب پکښې وي، او خو دي شرابو ته هم کأس وايي کما في قول الشاعر:... وكأسًا شربت على لذة

له اخفش رح څخه روايت دی چي دی وايي کل کأس في القرآن فهي الخمر. وروی ذالک عن ابن عباس رض واخرج ابن ابی شیبة وابن جریر عن الضحاک قال کل کأس في القرآن فهي الخمر لکن روح المعاني وايي چي اطلاق د کأس پر خمر مجاز دی يعني اصل معنی يې هغه صراحي يا ګلاس ده چي شراب پکښې وي.

(من معين) يعني چي د جنت په ويالو کي بهېږي چي په سترګو ليدل کېږي نو د معين معنی جارية في الانهار.

بَيْضَآءَ لَذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ﴿٤٦﴾

پوه سه: چي بيضاء او لذة دواړه صفت دي د کأس (يعني په معنی د شرابو کماس) الحسن رح وايي چي خمر د جنت اشد دی بياضًا تر شيدو بخلاف خمر الدنيا لانها كثيف اللون په سبب دد ې چي په خيرون لاسو انګور مثلاً چغتا نېږي او په خير نو منګيو کي جوړېږي غالبًا، او داغه رنګه شراب د دنيا فانها كريهة عند الشرب.

پوښتنه: لذة خو مصدر دی، نو حمل يې پر کأس څرنګه صحيح دی؟

ځواب: حمل يې يا مبالغةً دی نحو زيد عدل يا لذة مؤنث د الذ په معنی د لذيذ دی. و وزنه فعل لان الذال مشدد لکه طب بمعنی الطيب.

لَا فِيْهَا غَوْلٌ وَّلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُوْنَ ﴿٤٧﴾

نسته په خمر (شراب) کي د جنت فساد، نه دوی يعني جنتيان د خمرو په سبب بېهوشه او بې فهمه کېږي لکه په شرابو د دنيا.

پوه سه: چي خمر مؤنث سماعي دی، اصل معنی د غول فساد دی يعني نسته په خمر کي د جنت هيڅ فساد لکه په خمر کي د دنيا چي مفاسد شتی پکښې دي (۱) عقل د سړي مغلوبه سي چتي چتي خبري کوي (۲) نهايت د سر درد لري تر يو وخت پوري (۳) د نس درد لري (۴) استفراق يعني قی وهي (۵) بولي بې اختياره ګاهي په پرتا ګه کي ځني وسي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: سپين شراب لکه شيدې نه په دنيا کي چا ليدلي دي او نه به يې تر قيامته پوري وويني، او دا له جملې څخه د هغه شيانو دي چې په صفاتو کې د جنت راغلي دي فيها ما لا عين رئت ولا اذن سمعت ولا خطر على قلب بشر يعني تفصيلاً وقد ورد في خمور الدنيا قوله تعالى (رجس من عمل الشيطان)

فائده: په تاريخ کي راغلي دي چې يو وخت يو شراب خور شراب چښل پرلو وئيوى. نو ده غبرګه ورته نيولې وه پر مخ يې منښلې او دا يې وويل چې الحمدلله الذي جعل الماء طهوراً. د امير المؤمنين ؓ روايت دى که شراب پريوه محکه توى سي او پر هغه ځاى منارې د آذان لپاره جوړه سي اذان پکښې مکروه دى (يعني تنزيهًا)

وَعِنْدَهُمْ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ عِيْنٌ ﴿۴۸﴾

په ټهز د دوى يعني د جنتيانو للجماع دا جمله عطف ده پر ماقبل، يعني حورات چې قصر به وي سترګې د هغو پر خپل ازواجو چې بل چا ته اصلاً نظر نه کوي لحسنهم عندهن من جميع اهل الجنة في اعينهن بخلاف نساء الدنيا، ولي هغه تر خپل مېړه ښائسته وويني د سترګو په کونج و هغه ته ګوري (عين) خبر د مبتداء محذوف دى اى هن حسان الاعين يقال رجل اعين وامرئة عينا.

بوه سه: چې ښوالى د سترګو دادى چې اوږدې وي او غټ غټ بانو ګان يې وي او توريې په تک تور او سپين يې تک سپين وي.

كَاَنَّهُنَّ بَيْضٌ مَّكْنُوْنٌ ﴿۴۹﴾

لکه دوى چې هګى. د شتر مرغ وي. بيض که څه هم جمع دى لکن صفت په مذکر راوړى اعتبار اللفظ بيض.

بوه سه: چې د شتر مرغ هګى. تکه سپينه نه ده لکه د نورو مرغانو هګى، بلکې لږ ژړوالي ته مائل ده په ښځو کي تکه سپينه هم خوند نه کوي بلکې سپين والى لږ ژړوالى ګډ وي دا د ښځو ډېر ژيبا رنګ دى (مکنون) په وزرو کي د شتر مرغ پټې وي ګرځ او غبار يې نه وي ور رسېدلى.

بوه سه: چې بيض جمع د بيض ده يعني هګى، حسن ؒ وايي چې حورات د جنت خداى ؒ مشابه کړې ده په هګى. سره د شتر مرغ، ولي دى هغه خپل هګى په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خپلو بنو کي ساتي، لايصل اليه غبار ولا هواء ويكون ابيض في صفرة وهذا احسن الوان النساء عند العرب بل عند جميع الرجال.

فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿٥٠﴾

نو مخ را واړوي بعض له اهل جنت پر نورو يو له بل څخه پوښتنه کوي، د ما مضى عليهم من حيوة الدنيا وهذه الجملة معطوفة على يطاف عليهم، يعني شراب چي نوش جان کړي، بيا مجلسونه سره شروع کړي د يوې او بلي خوا، يو شاعر وايي: وما لقيت من اللذات الا احاديث الكرام على المدام (مدام شراب ته وايي)

قَالَ قَائِلٌ مِّنْهُمْ إِنِّي كَانَ لِي قَرِينٌ ﴿٥١﴾

ووايي يو ويونکی ددوی يعني په جريان کي د خبرو ددوی تر منځ، زه چي يم ما يو انډيوال درلو دی چي د بعث بعد الموت څخه منکر ؤ، مجاهد ؒ وايي چي دده سره ملګری شيطان مراد دی، او بعض مفسرين وايي چي د انسان له جنس څخه وي، او مقاتل ؒ وايي سره ورونه وه او جمهور مفسرين دوه کسه شريکان وه يو کافر ؤ چي نوم يې مطروس ؤ او هغه بل مؤمن ؤ چي نوم يې يهودا ؤ چي په سورة کهف خداى ؒ په دوی سره مثال ويلی دی.

يَقُولُ أَئِنَّكَ لَمِنَ الْمُصَدِّقِينَ ﴿٥٢﴾

هغه به ما تل ويل د توبيخ او سرزنش په لهجه، آيا ته يې له تصديق کونکو څخه چي بعث بعد الموت ستة.

أَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَدِينُونَ ﴿٥٣﴾

آيا هغه وخت چي مونږ مړه سو او خاوري او هډوکي وګرځي ايا مونږ ته به جزاء راکول کېږي، يعني وروسته تر بعث.

قَالَ هَلْ أَنتُم مُّطَّلِعُونَ ﴿٥٤﴾

(قال) اى ذالک القائل وه انډيوالانو ته چي تاسي نه ګورئ و دوزخ ته چي څپل قرين درپه ګوته کړم يعني دروه وښيم، او بعض وايي چي قائل د انتم آه، خداى پاک او يا بعض ملائکه دي چي قائل مذکور او ملګرو ته دده چي ستاسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خوښه ده چې تا مطلع پر اهل النار وګرځوو چې تاسي هغه قرين وويني، (فاطلع) نو دا مؤمن وګوري يعني تريو سوري و دوزخ ته.

پوښتنه: جنتونه خو په اسمانو کي دي او دوزخونه د مځکي په کښته حصه کي دي. نو تر کوم ځايه به دوی هغه قرين وويني؟

ځواب: په جنتو کي سوري سته چې تر هغو سوريو جنتيان دوزخيان ليدلای سي په قدرت د خدای ﷻ.

فَاطَّلَعَ فَرَاٰهُ فِيْ سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ﴿۵۵﴾

نو دی وويني هغه خپل انډيوال چې منکر د ثواب او عذاب ؤ لانکاره البعث بعد الموت، په منځ کي د اور.

سوال: مابين ته ولي سواء وايي؟

ځواب: لاستواء الجوانب اليه يعني اطراف ومابين ته سوی الجوانب دی. بيا دې سرې خلګو ته چې دده سره ملګري وه وويل چې ما وليدل ډيرې د سر کوپړی چې د اور له سببه ايشبدلې يعني ماغزه به يې په سر کي ايشبدل.

قَالَ تَاللّٰهِ اِنْ كِدْتَّ لَتُرْدِيْنِ ﴿۵۶﴾ وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّيْ لَكُنْتُ مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ﴿۵۷﴾

هغه جنتي و خپل قرين دوزخي ته ووايي (کلمه د ان مخففه د مثقل اسم يې ضمير شان محذوف دی) والمعنی شان دادی چې ته قريب وې چې زه هلاک کړی وای پاغوانک (ان البعث بعد الموت درواغ دي) که نه وای هدايت، عصمت او توفيق د خدای ﷻ للايمان زه به وای د حاضر کړل سوو د تا سره په اور کي.

اَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِيْنَ ﴿۵۸﴾ اِلَّا مَوْتَتَنَا الْاُوْلٰى وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿۵۹﴾

جنتي و دوزخي ته ووايي: آيا موږ نه يو مړه سوي.

دروښ وايي: چې مظهري ؒ قوله تعالی افما نحن بميتين الخ پر دې حمل کړی دی چې دا هم کلام د جنتي دی د دوزخي قرين سره، او په بيان کي د معنی يې د ډيرو کړاوونو سره مخامخ سوی دی چې که څوک مصداق زما د خبري غواړي تفسير مظهري دي مطالعه کړي، لکن الحق ما قال العلامة البغدادي ؒ في روح المعاني حيث قال في تفسير قوله افما نحن بميتين الخ، رجوع الی محاورة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جلسائه (يعني في الجنة) بعد اتمام الكلام مع قرينة ببجهًا وابتهاجًا (لپاره د اظهار د خوشالی) بما اتاح الله له (چې مهربانې وکړه خدای ﷻ دده سره) من الفضل العظيم (چې په دنيا کې يې د قرين دوزخي په خوله ونه کړه) والنعيم المقيم (او نعيم دائم يې راکړی چې جنت دی) او روح البيان هم ورته تفسير مختار کړی دی، حيث قال في تفسير الآية المذكورة رجوع الى محاورة جلسائه بعد اتمام الكلام مع قرينة سرورًا بفضل الله العظيم والنعيم المقيم فان تذكر الخلود في الجنة لذة عظيمة، والهمزة للتقرير وفيها معنى التعجب.

والمعنى: آيا موږ چې جنت ته داخل سو بيا به نه مرو، والفاء للعطف على مقدور يقتضيه نظم الكلام كما هو القانون في حروف العطف الواقعة بعد حروف الاستفهام كما مر مرارًا، والتقدير: انحن مخلدون في الجنة فما نحن بميتين اى من شاننا الموت الا الموت التي كانت في الدنيا تصديقًا لقوله تعالى لا يذوقون فيها الا الموتة الاولى، يعني لا يموت في الجنة ابدًا سوى الموتة التي في الدنيا ومعنى التقرير في الاستفهام انه كك انتهى كلام روح البيان فتامل.

إِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٦٠﴾ لِمِثْلِ هٰذَا فَلْيَعْمَلِ الْعَامِلُونَ ﴿٦١﴾

په تحقيق دا (يعني الخلود في النعيم المقيم) کاميابي ده لويه کما لا يخفى.

(لمثل هذا) د مثل ددې کاميابۍ. (وتقديم الجار والمجرور على عامله اعني فليعمل آه لپاره د حصر دی يعني لحظوظ الدنيا المشوبة بالآلام والمصائب مع سرعة زوالها لان هذه المقدمة من المسلمات من جميع ذوى العقول ان الباقي خير من الفاني (فليعمل العاملون) عمل دي کوي په دنيا کې عمل کونکی، حسين كاشفي ميگويد:

گر بار کشی باری بار نگاری باری.... ور کار کنی برای یاری باری

در روی بخاک راهی خواهی مالید.... بر راه رہ طرفہ سواری باری

جلال الدين الرومي قدس سره وايي:

حفت الجنة بمكروهاتنا ..... حفت النيران من شهواتنا

ترجمه د هغه حديث صحيح ده قد حفت الجنة بالمكاره وحفت النار بالشهوات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَذٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا أَمْ شَجَرَةُ الزَّقُّومِ ﴿٦٢﴾

آيا دغه نعمتونه چې د جنت والو لپاره بيان سوه ښه دي لپاره د مهمانۍ کد درخته د زقوم چې نزل او مهماني د اهل النار ده.

پوه سه: چې زقوم درخته ده ډېره ترخه بد بويه خبيثه چې ډېره بد خونده هم ده چې اهل النار مجبوره کړه کېږي پر خوړلو د هغې دوی يې خوري علی اشد کراهية.

محاوره: تزقم الطعام اذا تناوله علی کره، په پښتو د جنتيانو د خورک په باره کې: يو د بله سره وايي نوشي جان دي سه، يا وايي: دارو درمان دي سه، او د بد خورک مثال داسې وايي: زهر دي سه يا داسې: زقوم دي سه.

پوه سه: چې نزلاً منصوب علی التمييز دی، په صحيح حديث کې چې روايت يې ترمذي کړی او حکم په صحت يې هم کړی دی او دغه رنګه نسائي و ابن ماجه وابن ابی حاتم وابن حبان او الحاکم او بيهقي ؒ عن ابن عباس ؓ کړی دی ان رسول الله ﷺ قال که يو څاڅکی د زقوم (د دوزخيانو) په دريابو کې د دنيا ولوېږي لافسدت علی اهل الارض معاشهم فکيف من يکون طعامه نو به يې څه حال وي د دوزخيانو چې د خورک شی يې زقوم دی؟!.

إِنَّا جَعَلْنَاهَا فِتْنَةً لِّلظَّالِمِينَ ﴿٦٣﴾

موږ کړځولې ده درخته د زقوم فتنه او عذاب د کافرانو لپاره په آخرت کې، يا امتحان په دنيا کې (للظالمين) ای للکافرين.

دروښ وايي: چې عذاب د زقوم په آخرت کې خو دمخه بيان سو عنقريب، واما الامتحان في الدنيا کافرانو به ويل چې درخته خو اور سوځي فکيف يکون شجرة في النار؟ او ابن الزبعري و رئيسانو ته د قريشو ويله ان محمداً يخوفنا بالزقوم، والزقوم بلسان بربر (چې د يو قوم نوم دی) الزبد والتمر (پيروي او خورما ته وايي، يا کوچې او خورما ته وايي) ابو جهل ورته وويل چې راځی زما کور چې زه دستي مصداق ددې دروښيم، کور ته چې ورغله ابو جهل دستي و مينځي ته وويل زقميناهغې زبد او تمر ورته راوړل، فقال ابو جهل تزقموا خوري ياست زقوم، هذا ما يوعدکم محمد (ﷺ) فرد الله عليهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِي أَصْلِ الْجَحِيمِ ﴿٦٤﴾ طَلْعُهَا كَأَنَّهُ رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ ﴿٦٥﴾

زقوم یوه درخته ده په ښخ کي د دوزخ، الحسن رح وایي چي تنه خو یې په ښخ کي داورده. لکن ښاخونه یې تولو منازلو ته د کافرانو رسېدلي دي.

(طلعها) یعني ثمرها سمی طلعًا لخروجها من تلک الشجرة) لکه سرونه د شیطانانو. ابن عباس رض وایي چي مراد له شیطانانو څخه معروف او مشهور شیطانان دي.

سوال: شیطان چا لیدلی دی چي خدای پاک د مېوې د زقوم ښوونه مورِ ته په رؤس الشیاطین سره وکړه؟

ځواب: هو! شیطان خو چا نه دی لیدلی، لکن قبح د صورت دده په زړو کي د خلکو قرار لري، حتی چي یو سړی بل بدرنګه سړي ته ووایي څه د شیطان مخ دي دی، یا څه د شیطان خوله دي ده الی غیر ذالک، نو مبنٰی ددې آیت پر عرف ده فافهم. او بعض مفسرین وایي چي د عربو په صحراؤ کي یوه درخته سته چي ډېره بد بویه او مېوه یې ډېره ترخه ده. هغې درختي ته عرب رؤس الشیاطین وایي چي په ډېرو لېري صحراؤ کي د تهامه لیدل کېږي. او د هغې درختي څخه چي زخمي یې کړې د شیدو په رنګ یو شی راوزي چي د انسان پر هر ځای چي ولوېږي هغه پرسېږي او درد هم کوي.

فَإِنَّهُمْ لَآكِلُونَ مِنْهَا فَمَالِئُونَ مِنْهَا الْبُطُونَ ﴿٦٦﴾

نو دوی خورک کوي له هغې درختي څخه یا له مېوې څخه د هغې درختي، نو دوی ډکوي له هغې څخه نسونه.

پوه سه: چي ملأ دونه خورک ته وایي چي بالا یې په نس کي نه ځایېږي، له دې محاورې څخه مأخوذ دی ملأ الاناء یعني لا یحتمل المزید علیه.

ثُمَّ إِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِنْ حَمِيمٍ ﴿٦٧﴾

وروسته په تحقیق سره دوی لره پر اکل د هغې درختي وروسته تر دې چي نسونه په ډک کړي او تنده پر غالبه سي او د استسقاء مرض ور پېښ سي (شوبًا) بالضم مخلوط شي ته وایي یعني وینې او نوونه سره ګډ سي (من حمیم) له هغو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ګرمو اوبو څخه چې غایت حرارت ته یې ګرمي رسېدلې وي، دا د اوبو څیښنګ له غایت تندي څخه ددوی وي، بعض مفسرین وایي چې شرابو ته غساق وایي. ای ما یقطر من جراح اهل النار وجلودهم، او بعض وایي چې دې اوبو ته صدید وایي. او غساق یوه چینه ده په اور کي چې په هغه کي د مارانو او لړمانو زهر جمع کېږي وشربهم ذالک لغلبة عطشهم من اکل الشجرة ای الزقوم، فاذا شربوا تقطعت امعائهم (چې وه یې څیښني کلمې یې قطعه قطعه سي)

ثُمَّ إِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَإِلَى الْجَحِيمِ ﴿٦٨﴾

وروسته رجوع ددوی بیرته د دوزخ ته یعني و اور ته ده، بغوي رح وایي چې له دې عبارت قرآني څخه دا معلومه سوه چې حمیم خارج له اور څخه دی، لکه خلګ چې اوښان اوبو ته وړولي، وروسته یې خپل مبرک ته ردکړي، ویدل قوله تعالی یطوفون بینها (ای بین النار) وبین حمیم آن (چې تودې اوبه دي)

إِنَّهُمْ أَلْفَوْا آبَاءَهُمْ ضَالِّينَ ﴿٦٩﴾ فَهُمْ عَلَىٰ آثَارِهِمْ يُهْرَعُونَ ﴿٧٠﴾

دوی پیدا کړي وه خپل پلرونه ګمراهان یعني مشرکان، دا جمله تعلیل ده د مذکوره سختو عذابو ددوی، نو دوی پر آثارو د پلرو چې په شرک کي چابک روان وه یعني تقلید د آباؤ یې په ضلال کي پېله فکره کاوه دوی به ویل چې څه دي کول چې پلار او نیکه دي کول.

وَلَقَدْ ضَلَّ قَبْلَهُمْ أَكْثَرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٧١﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا فِيهِم مُّنذِرِينَ ﴿٧٢﴾

او په تحقیق ګمراهان سوي وه یعني په تقلید د پلار او نیکه (لقد ضل، عطف دی پر انهم الفوا) دمخه ددوی یعني د مشرکین مکه، ډېر امتونه له اولو امتو څخه، (ولقد ارسلنا آه) (لام موطئه د قسم) موږ استولي په هغو امتو کي قبل تر مشرکین د مکې بېرونکی له عذاب څخه د خدای رح یعني انبیاء علیهم السلام.

فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنذَرِينَ ﴿٧٣﴾ إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿٧٤﴾

وګوره ته (المخاطب اما سید المخاطبین صلی الله علیه وآله واما کل واحد ممن یتأتی منه مشاهدة اثارهم) څرنګه سو اخیر ده چې بېرول کړه سوي وه یعني هولناک او قطع حال یې چې دوی په اندازه د منذرینو عمل نه وکړی او سر یې هم هغه ته راپورته نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی، نو عاقبت ددوی اهلاک سو د خدای ﷻ له خوا څخه. اهلاګا فظیعًا، واستثنی عنهم المخلصین بقوله ﷻ (الا عباد الله المخلصین) که صیغه د اسم مفعول وي یعني په فتح د لام، فالمعنی اخلصهم الله من العذاب والاهلاک الفظیع بتوفیقهم للایمان والعمل بموجب الانذار.

پوه سه: چې په یو بل قرائت المخلصین په کسره د لام راغلی دی، فالمعنی الذین اخلصوا دینهم لله ﷻ بدون الاشراک.

فائده: استثناء پر دواړو قرائتو یا منقطع ده که له منذرین څخه مراد یوازي کفار سي، او که منذرین عام سي یعني کافران او مسلمانان دواړه پکښې داخل سي، ولي چې مؤمنان خو هم د بد اعمالو خلاف الشریعة بهرول کېدل، فالاستثناء متصل، فافهم وهذا غایة تحقیق هذا المقام والعلم عند الله العزیز العلام.

درویش وایي: چې هم دا اوس خدای پاک شروع کوي تفصیل د قصص بعد اجمالها فیما سبق، نو ګویا دا نوع د حسن حال د منذرینو بالکسر او د سوء عاقبة د منذرینو بالفتح.

وَلَقَدْ نَادٰىنَا نُوْحٌ فَلَنِعْمَ الْمُجِيْبُوْنَ ۝

پوه سه: چې نداء دلته په معنی د دعاء ده بقرینة قوله فلنعم المجیبون. لام موطئه د قسم دی، والمعنی وبالله په تحقیق ماته خواست وکړی نوح ﷺ اول د رسولانو دی چې له ایمان څخه د قوم نا امید سو وروسته تر دې چې ده دعوت د ایمان و قوم ته ورکړی مدة مدیدة و دهورًا کثیرة فلم یزدهم دعوته الا فرارًا ونفورًا، نو خدای ﷻ دده د خواست ښه قبلونه وکړه چې دی یې و خپل مرام ته ورساوه چې نصرت ورپر اعداء د دین او انتقام یې دده له اعداء څخه واخستی بابلغ وجه کما سیأتي.

(فلنعم المجیبون) ای فوالله ښه خواست قبلونکی یوازي نحن موږ یو.

فائده: ولقد آه عطف دی پر ولقد ارسلنا فیه آه من عطف الخاص علی العام، والمعنی ولقد ضل قبلهم (ای کفار مکة) قوم نوح ﷺ فارسلنا فیهم نوحًا منذرًا فدعاهم الی الاسلام فلم یؤمنوا حتی چې دی نا امید سو له ایمان څخه ددوی و اوحی الله الیه انه لن یؤمن قومک الا من قد آمن، نو فنادانا آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ۝

موږ ده ته نجات او خلاصون ورکړی او اهل ته ده (چې په هغو کې من آمن هم داخل دي) د لویه غمه څخه.

وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهٗ هُمُ الْبٰقِيْنَ ۝

او موږ وګرځول اولاد ده باقین یعني هغه کسان چې پر ده یې ایمان راوړی وُ او په کښتۍ کې ده یې نجات پیدا کړی د هغو اولادونه نه سوه پاته صرف ذریة د نوح ؑ پاته سوه الی یومنا بل الی یوم القیامة، نو ځکه تاریخ پوهان نوح ﷺ آدم ثاني بولي، تاریخ قدیم وایي: داغه رنګه ترمذي له سمرة بن جندب ﷺ او هغه له نبي کریم ﷺ په تفسیر کې ددې آیت (وجعلنا ذریته هم الباقین) قال اولاده حام، سام، و یافث آه، قال اهل التواریخ فسام ابو العرب وفارس و الروم والیهود والنصاری، وحام ابو السودان من المشرق الی المغرب والسند والهند والنوبة والزنج والحبشة والقبط والبربر وغیرهم، ویافث ابو الترک والخزر ویأجوج ومأجوج وما هنالک.

دروښ وایي: چې مظهري ؒ ویلي دي: قلت وعندي (یعني زما په نیز که څه هم د مشهوره قصه د نوح څخه خلاف ده) چې نوح ؑ خو مبعوث وُ و ټولو نړیوالو ته فان الارسال الی الناس کافة کان من خصائصه یعني رسول الله ﷺ بل کان مبعوثًا الی قومه خاصةً فلم یؤمنوا فدعا علیهم فاهلکوا بالطوفان، دی وایي چې مراد په هغه آیت کې رب لاتذر علی الارض من الکافرین دیارًا، ارضه المعهود یعني چې دده د قوم مځکه وه، انتهی.

فقیر وایي: دا عندیه د مظهري ؒ د مشهور بلکې د متواتري قصې سره د نوح او د غرق بالطوفان او هغه تأویل د آیت چې یې وکړی تأویل بالرأی دی، او مظهري دا خبره هم غلطه بولي چې نوح ؑ آدم ثاني دی، او د هغه بیان چې مظهري دمخه تر قلت راوړی دی وهو قوله الظاهر من قصة نوح في القرآن انه غرق في الطوفان کل مامن کان في الارض الا من آمن بنوح ورکب السفینة وروسته حدیث د سعید بن المسیب ؒ کان ولد نوح ؑ ثلاثة سام و حام و یافث، فسام ابو العرب والروم والفارس، و حام ابو السودان ویافث ابو الترک والخزر ویاجوج و ماجوج

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ما في بلاد المشرق من الهند وغير ذالک انتهى، دا بيان د قلت سره مناقض دی، نو د فقير په عقيده قلت د مظهري مردودة عليه، والله اعلم بالصواب وعنده علم ما في الكتاب ... بيت:

په تقسيم د خداى ﷻ راضي يم ..... چي نه قاضي يم او نه مفتي يم

دروښ وايي: چي په دې مناسبت بيان د روح البيان د اوږدو وړ دی، دی په صفحه (۴۶۷) د سورة الصافات عربي عبارت يې دادی، وروى انه مات كل من كان معه اى نوح ﷺ في السفينة (يعني هغه نور مؤمنان چي د نوح ﷺ په کښتی کي سپاره وه ټوله مړه سوه او هيڅ اولاد د هيڅ چا د هغو څخه نه دی پاته سوی) غير ابنائهم وازواجهم وهم الذين بقوا متناسلين (دیو پاته نسل پر نسل الى يوم القيامة) قال قتاده ﷺ انهم من ذرية نوح ﷺ (يعني ټوله انسانان له ذرية څخه د نوح ﷺ دي تر ورځي د قيامت پورې) وكان ثلثة اولاد (يعني في السفينة، ولي كنعان كه څه هم دده زوی وُ لكن كافرُ پلار ورته وويل چي راسه پکښتی کي راسره سپور سه يعني بشرط الايمان هغه ورته وويل كما حكى الله عنه في موضع آخر من القرآن. كريمه: سأوى الى جبل يعصمونى من الماء، پلار يې ورته وويل. كريمه: لا عاصم اليوم من امر الله (يعني من عذابه بالغرق) فسام ابو العرب وفارس والروم واليهود والنصارى، وحام ابو السودان من المشرق الى المغرب، والسند والهند والنوبة والزنج والحبشة والقبط والبربر وغيرهم، ويافث ابو الترک والخزر وياجوج و ماجوج وما هنالک انتهى عبارته العربية، وروسته روح البيان د كشف الاسرار څخه داسي عبارت په فارسي ژبه نقل کړی دی: اصحاب التواريخ گفته اند: فرزندان يافث هفت بودند. نامهای ايشان (۱) ترک (۲) خزر (۳) وصقلاب (۴) تاريس (۵) منسلک (۶) كماري (۷) صين. ومسكن ايشان ميان مشرق ومهب شمال وهرچه ازين مردم است از فرزندان اين هفت برادرانند، وهمچنين فرزندان حام بن نوح ﷺ هفت بودند نامهای ايشان (۱) سند (۲) هند (۳) زنج (۴) قبط (۵) حبش (۶) نوب (۷) كنعان.

پوښتنه: تا د مخه وويل چي كنعان كافرُ د پلار سره په کښتی کي نه سو سپور او آيت قرآنيه دي دليل پر ووايه، نو دلته څرنګه كنعان راورل سو؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: کنعان که څه هم په کښتۍ کې نه سو سپور، د هغه زوی چې د نوح علیه السلام مسلمان وُ په کښتۍ کې د خپل نیکه سره سپور سو، نو ځکه اووه قبیله د حام په اولاد کې په نامه د کنعان یاده سوه، اما فرزندان سام میگویند پنج بودند وقومی میگویند که هفت بودند (۱) ارم (۲) دارفخشد (۳) وعالم (۴) ویفر (۵) واسود (۶) تارخ (۷) تورخ، ارم پدر عاد و ثمود بود، دار فخشد پدر عرب بود، از ایشان فانع و قحطان بودند، فانع جد اعلی ابراهیم علیه السلام وقحطان ابو الیمن بود، وعالم پدر خراسان بود، واسود پدر فارس ویفر پدر روم بود، وتورخ ارمین صاحب ارمنیه، و تارخ پدر کرمان بود واین دیار همه بنام ایشان باز میخوانند، وبعد از وفات نوح علیه السلام خلیفه وی سام بود بر سر فرزندان نوح علیه السلام ده بود، وکار ساز ایشان بود ومسکن وی زمین عراق وایران شهر، انتهی عبارت کشف الاسرار که روح البیان نقل کرده بود.

وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ ۝ سَلَامٌ عَلَىٰ نُوحٍ فِي الْعَالَمِينَ ۝

او موږ پرې اینښی دی پر نوح علیه السلام په راتلونکو امتو کې دا کلام بعینه یعني سلام الخ.

پوه سه: چې سلام مبتداء ده علی نوح یې خبر دی.

سوال: سلام خو نکره ده تخصیص هم نه لري، نو مبتداء څرنګه واقع سوه؟

خواب: محقق جامي رحمه الله په شرح کې د کافیة ابن الحاجب وایي چې تنکیر د مبتداء په دعاء کې روا دی لان المراد سلام من قبلی علیک، نو تخصیص یې په من قبلي سره وکړه سو.

پوښته: سلام علی نوح خو مفعول د ترکنا ده دی، نو مرفوع ولي دی؟

خواب: دا کلام واقع دی پر حکایت د قوم د امم آتیه وُ لکه یو سړی چې قرائت سورة انزلناها په رفع سره د سورت علی الحکایة مع انه مفعول قرئت دی فافهم، وهذا ما قاله القراء وغیره من الکوفیین، وقال آخرون چې دلته قول ورسره مقدر دی ای ترکنا في الآخرین قولهم سلام علی نوح في العالمین، والمراد علی کل تقدیر اي ابقینا له دعاء الناس وتسلیمهم علیه امة بعد امة الی اخیر الدهر ونسب هذا الی ابن عباس رضي الله عنه ومجاهد وقتادة والسدي، او بعض مفسرین وایي تقدیره ترکنا علیه الثناء والذکر في العالمین.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿٨٠﴾

يعني نجزي كل محسن جزاء كذالک الجزاء اتيناه نوحًا، يعني نوح ته موږ جزاء كامله وركړه، اول: اجابة الدعاء كمامر. دوهم: ابقا ذريته الى يوم القيامة، دريیم: والذكر الجميل، څلورم: تسليم العالمين ابدًا داغسي جزاء موږ وركوو كاملانو ته په احسان كي لا جزاء ادنى منه، كريمه: هل جزاء الاحسان الا الاحسان احسان د نوح ؑ مجاهده دده وه د اعداء سره د خداى ﷻ بالدعوة الى دينه والصبر الطويل على اذاهم ونحو ماذكر.

إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿٨١﴾

تعليل لكون نوح محسنًا يعني عبوديته وكمال ايمانه، وفيه اشارة واظهار لجلالة قدر الايمان واصالة امره وترغيب في تحصيله والثبات عليه كه څه هم د دېرو كړاوونو سره مخامخ سي لكه نوح ؑ.

سوال: نبوت خو اشرف دى تر ايمان لان كل نبي مؤمن كامل وليس كل مؤمن نبيًا؟

ځواب: په دې آيت كي اظهار د شرف د ايمان او مؤمنينو دى لا لشرف نوح من قبيل قول الشاعر في مدح النبي ﷺ:

ما ان مدحت محمدًا بمقالتي ..... ولكن مدحت مقالتي بمحمد

پوه سه: چې په دې آيت كي زېرى دى د محسنين ته د امت د عليه الصلوة والسلام.

ثُمَّ أَغْرَقْنَا الْآخَرِينَ ﴿٨٢﴾

وروسته غرق كړه موږ په طوفان سره هغه نور له قوم څخه د نوح ؑ چې مؤمنين او محسنين نه وه. دا جمله عطف ده پر انجينا.

پوښتنه: چې اغراق د كافرانو او انجاء د مؤمنانو خو په يوه زمانه كي وُ، او ثم په حروفو كي د عطف لپاره د تراخي في الزمان دى كما تقرر في النحو؟

ځواب: ثم لپاره د تفاوت د اغراق او انجا دى يعني التراخي الرتبي مجازًا وهو كثير في كلام العرب.

وَإِنَّ مِنْ شِيعَتِهِ لَإِبْرَاهِيمَ ﴿٨٣﴾

په تحقيق له دلې څخه د نوح ؑ يعني شايعه في الايمان ودعوة الناس اليه او په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اصول کي د دين بلکي په فروع کي د دين کلها او اکثرها.

پوه سه: چي په مابين کي د نوح ﷺ او ابراهيم ﷺ (۲۶۴۰) کاله وه، او په منځ کي ددوی دوو هود ﷺ او صالح ﷺ نبيان تير سوي وه.

فائده: د ابراهيم ﷺ د قصې ذکر د نوح ﷺ تر قصې وروسته په دې مناسبت دی چي ابراهيم ﷺ لکه آدم ثالث دی نسبت و انبياء او مرسلينو ته چي تر ابراهيم ﷺ وروسته وه، ولي چي ټوله دغه وروستني رسولان او انبياء له اولاد څخه د ابراهيم ﷺ وه، خو يو لوط ﷺ دده له اولاد څخه نه ؤ، لکن لوط ﷺ لکه د ابراهيم ﷺ ولد ؤ، ولي چي د ورور زوی يې ؤ، او بله وجه د اتصال د ابراهيم ﷺ د قصې د نوح ﷺ په قصې پوري داهم ده چي نوح ﷺ ته خدای ﷻ له غرق څخه په طوفان نجات ورکړی، او ابراهيم ﷺ ته خدای ﷻ نجات ورکړی له حرق (سوځېدلو) څخه في نار نمرود، او بل مناسبت د اتصال يې داهم دی چي دواړو تصلب في الدين ود دعوت الناس اليه درلودی، او دواړو پر ازار د کافرانو په اکمله وجه صبر درلودی، حتی انتهى سلسلة نبوتها وذريتها الى سيد المرسلين شفيع المذنبين حامل لواء الحمد يوم الدين محمد المصطفى والمجتبى ﷺ وعلى آله واصحابه اجمعين.

إِذْ جَآءَ رَبَّهُۥ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴿٨٤﴾

(اذ جاء ربه) يعني توجه الى ربه والمشهور ان اذ منصوب محلاً باذ المقدر، او داسي هم روا ده چي منصوب دي وي په فعل مقدر سره چي د (من شيعته) څخه مفهوم سو کانه قيل متى شايعه فقيل شايعه اذ جاء ربه آه (بقلب سليم) په داسي زړه سره چي سالم ؤ له ټولو آفاتو دينيه ؤ څخه لکه فساد العقائد والسيئات السيئة والصفات القبيحة كالحسد وغيره، وايضًا ابراهيم ﷺ كان سليم من لاشتغال بغير الله كما يدل عليه قصة ذبيح ابنه بامر الله ﷻ، يعني ذبح ته يې پېش کړی که څه هم ذبح نه سو فافهم.

إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦ مَاذَا تَعْبُدُونَ ﴿٨٥﴾

چي وويل ابراهيم ﷺ (اذ بدل دی د دمخه اذ څخه، يا ظرف دی د جاء يا د سليم) و خپل پلار ته او قوم ته دده چي څه شی تاسي عبادت کوئ يعني الاصنام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: ابراهیم علیه السلام ته خو دا معلومه وه چې دوی د بتانو عبادت کاوه، نو استفهام ته څه حاجت وُ؟

ځواب: دا استفهام لپاره د طلب د علم نه دی بلکې لپاره د توبیخ او سرزنش دی او د انکار دی.

فائده: د ابراهیم علیه السلام پلار آذر بن باعر بن ناخور بن فالغ بن سالح بن ارفخشد بن سام بن نوح کما ذکره روح البیان، لکن مظهري په یو ځای کې د خپل تفسیر وایي چې آذر د ابراهیم علیه السلام اکاوُ، وقد مر دلیله والرد علیه فتذکر.

اَئِفْكًا اٰلِهَةً دُوْنَ اللّٰهِ تُرِيْدُوْنَ ۝

پوه سه: چې دا استفهام لپاره د توبیخ بعد توبیخ دی، او آلهة مفعول له دی د تریدون ای لاجل الافک (یعني درواغ)

فائده: افکا چې مفعول لهؤ مقدم یې کړی پر فعل لپاره د اثبات ددې چې مبني د امر ددوی چې عبادت د بتانو دی پر درواغو او باطل ده.

ترجمه: آیا اشد او سخت درواغو سره (د افکاً معنی سخت درواغ ده) د خدایانو چې بتان دي ماسوی له خدای جل جلاله څخه تاسي اراده لرئ.

فَمَا ظَنُّكُمْ بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝

ستاسي څه خیال دی یعني هغه ذات چې رب د ټولو عالمیانو دی او په هم دې سبب مستحق د عبادت خو دی دی، او تاسي د هغه عبادت پرېښو او بتان مو ورسره شریکان کړه یعني تاسي د هغه رب العالمین له عذاب څخه په امن کې یاست، والمعنی انکار مایوجب الظن فضلاً عن موجب القطع چې څوک دې له عبادت څخه منع کړي او یا شریک دې وده ته روا کړي او له عذاب څخه د هغه دې په امن کې وي یعني ستاسي خو یقین دی چې زموږ خدایان بتان د خدای شریکان او مستحق د عبادت دي او عذاب موږ لره نسته، ولې زموږ خدایان زموږ له عذاب څخه د یوم القیامة خلاصونکي دي.

پښتانه یو متل وایي: زه دي پر ایمان شک لرم ته مرید ان نسې

یعني ابراهیم علیه السلام ورته وویل چې ظن د دغو امورو هم منتفي دی تاسي یې دعوی د یقین کوئ کما مر آنفًا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي پلار د ابراهیم ؑ او قوم یوه ورځ درلوده په کال کي چي ددوی د اختر ورځ وه، دوی یوه لویه بت خانه درلوده چي په هغه کي لوی او کوچني خدایان ولاړ وه او دوی په دغه ورځ به بتان بنه صافه کړه او ورچي ؤ غوښي او نور خوراکي مواد به یې ددوی و مخ ته کښېښول تبرګا بالاصنام دوی به ځني ولاړه په صحراء کي به یې خوشالي کوله سات بې تېراوه چي ځانونه به یې د هر ستړي کړه، نو به راغله هغه متبرک خواړه ددوی په خیال کي بې وخوړل کورو ته به سره ولاړه، دا ؤ ددوی رسم او رواج، په کشف الاسرار کي وایي: تا ایشان بحجت او دلیل الزام دهد وآشکارا نماید که ایشان (یعنی بتان) معبودی را نشایند به همان روز عید پدر ابراهیم ویاران وی گفتند ای ابراهیم بیا تا بصحرا رویم ودر عید ما شرکت نمایند وشان وشوکت معبودان ما را (یعني چي په بت خانه کي دی) بچشم خود ببیند تاکه تو باز نه گوئید لآ اله الا الله.

فَنَظَرَ نَظْرَةً فِي النُّجُومِ ۝ فَقَالَ إِنِّي سَقِيمٌ ۝

نو ابراهیم نظر وکړی په ستورو کي (یعني په علم د ستورو کي او د دوی په احوالو کي من الاتصالات.

فائده: فقیر د نظرة في النجوم ترجمه په دې وکړه ای في علم النجوم. له دې سببه که کاته و نفس ستورو ته مراد وای باید داسي ویل سوي وای فنظر نظرة الی النجوم په عوض کي د في النجوم. دا خبره ابراهیم ؑ له دې سببه وکړه چي قوم دده منجمین وه یعني د ستورو په احوالو سره من الاتصال بینها والافتراق بینها وطلوع الکواکب من الجهة الشرقیة والغارب في جهة الغرب او نورو ورته احوالو سره به یې دلیل پر حوادثو زمانیه او یومیه وایه، نو ابراهیم ؑ ددوی سره ددوی معتاده معامله اختیار کړه. والا فلم یکن ابراهیم منجمًا تا چي دوی پر ده انکار ونه کړي په تخلف کي د وتلو بلکې عذر د تخلف ددوی له اختر څخه یې داسي وویل (اني سقیم) زه ناجوړی یم.

پوښتنه: ابراهیم ؑ خو ناجوړی نه ؤ، تو دا خبره به درواغ نه وي؟

ځواب: ابن عطاء ؒ وایي چي مراد د ابراهیم ناجوړي د بدن نه وه کما هو المتبادر بلکې ناجوړي د روح یې وه په سبب د مخالفت د قوم او د عبادت د بتانو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وهو صدق بلا ريبة په اصطلاح داسي خبري ته تعريض وايي ای ميل الكلام الى جانب آخر، او بل جواب دادی چې عز الدين بن عبد السلام وايي چې خبري واسطه دي د مقاصدو نه نو هر مقصود چې محمود وي يعني ښه کار وي او توصل وه هغه مقصود تهپه صدق او کذب دواړو کېداسي، نو کذب پکښې حرام دی، مثلاً: يو سړی وړی وي که بل چاته ووايي چې زه وړی يم لږه وده ماته راکړه! هغه يې ورکړي، دا صدق دی، او که دی ووايي چې ما مانښام لا ده ودی نه ده خوړلې، او درواغ وي، نو دا کذب حرام دی، او که هغه مقصد ته رسېدل په درواغو کېدای سوای او په صدق رسيدګي نه سوای ورته کېدای فالكذب فيه مباح ان كان تحصيل ذالک المقصود مباحًا والكذب واجب اذا كان المقصود واجبًا، وكلام ابراهيم عليه السلام من القسم الآخير انتهى.

پوښتنه: پر اول جواب دا سوال واردېږي چې په حديث کي د بخاري او مسلم راغلي دي، عن ابی هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لم يكذب ابراهيم الا ثلاث كذبات (دوه يې لپاره د رضا د خدای ج وه) (۱) قوله اني سقيم (۲) بل فعله كبيرهم كما سيئاتي بيانها (۳) قوله لسارة هذه اختي، وقد مر الحديث مع بيانه في تفسير سورة الانبياء، نو حاصل د سوال دادی چې عليه الصلوة والسلام پر درو سره ؤ اطلاق د کذب کړی دی؟

ځواب: د عليه الصلوة والسلام مراد، الكذب من حيث الظاهر المتبادر دی. او الضحاک رح تأويل د قول د ابراهيم ع دا کړی دی ای ساء سقم وهو ايضًا تعريض والا فهذا التأويل غير مناسب، او بعض علماء يې تأويل داسي کوي چې د چا په غاړې کي چې د مرګ وړ غندی وي هغه تاجوړی دی.

ښځانه وايي: مرګ را پسې دی خوشالي له کومه ده، له هم دې قسمه څخه دی چې يو سړی جوړ تيار وي نا ببره مړ سي، خلګ د تعجب په لهجه وايي مات وهو الصحيح. يو صحرائي وويل اصحيح من الموت في عنقه.

پوه سه: چې مظهري رح وايي دا آيت يعني فنظر آه دلالت پر دې کوي چې نظر په علم النجوم کي او تعليم او تعلم يې روا ؤ په شريعت کي د ابراهيم ع لكن صار منسوخًا في شريعتنا حيث قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من اقتبس شعبة من علم النجوم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اقتبس شعبة من السحر زاد مازاد، رواه احمد و ابو داؤد و ابن ماجه من حديث ابن عباس ؓ، ورواه رزين وزاد المنجم كاهن والكاهن ساحر والساحر كافر، والمعنى ان ثلثتهم في الكفر بمنزلة واحدة انتهى قول المظهري ؒ.

دروښ وايي: چې ابراهيم ؑ خو منجم نه وُ كما مر حتى يدل عليه هذه الآية على جواز علم النجوم وتعليمه في شريعة ابراهيم، بلكې ابراهيم ؑ دا خبره له دې سببه وكړه چې قوم دده منجمين وه هغه خو كافران وه، د هغو كړه وړه ته خو اعتبار نسته فافهم. او په حديث كې د زيد بن خالد الجهني ؓ راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام مورږته د سهار لمونځ راكړى په حديبيه كې وروسته تر دې چې د شپې باران سوى وُ، فلما انصرف اقبل على الناس، خلګو ته يې مخ راواړاوه، وقال هل تدرون ما ذا قال ربكم؟ قالوا الله ورسوله اعلم! قال عليه الصلوة والسلام قال يعني ربكم اصبح من عبادي مؤمن وكافر بي، نو كه چا وويل چې پر موږ باران وسو په فضل د خداى ورحمته فذالك مؤمن وكافر بالكواكب، واما من قال مطرنا بنوء كذا (يعني فلاني ستوري) فذالك كافر بي ومؤمن بالكواكب، دا حديث مظهري ؒ هم رانقل كړى دى، او متفق عليه يې هم بللى دى، او بل حديث د ابى هريره ؓ چې مسلم ته يې حواله كړې ده عن رسول الله ﷺ قال ما انزل الله من السماء من بركة الا اصبح فريق من الناس بها كافرين ينزل (اى الله) فيقولون بكوكب كذا وكذا.

دروښ وايي: چې زما مطلب دادى چې مظهري ؒ كوشش د دې كړى دى چې په اسلام كې هم و علم نجوم ته يوه نرى لاره پيدا كړي وهيهات د بعض احاديثو تأويل يې كړى دى.

دروښ وايي: چې علامه بغدادي محمود آلوسي ؒ د روح المعاني (۲۰) صفحه د دغه مبحث په څېړلو بنائسته كړې ده، مظهري ؒ دا قول د امام ابو حامد محمد الغزالي قدس سره د خپلي نرى لاري وعلم النجوم ته راوړى دى چې امام غزالي ؒ وايي په خپل كتاب المنقذ من الضلال چې علم الطب والنجوم انزلها الله تعالى على بعض الانبياء عليهم السلام ثم بقى العلمان بأيدى الكفرة آه.

دروښ وايي: چې دا خبره د امام غزالي ؒ و علم نجوم ته لاره نه پرانېزي، ولي كفارو علم الطب ته رواج وركړى الى يومنا هذا، يا په يوناني طبابت سره يا د دا كټرى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په مسلک سره چې هغه اغلب الاوقات علم ظني فائده کوي او علم نجوم کفار و هم خوشې کړی، مظهري ؒ دا خبره هم کړې ده چې منجمانو فرعون ته خبر ورکړی چې په بني اسرائیلو کې یو مولود پیدا کیږي چې زوال د سلطنت د فرعون به کړځي، آه.

دروښ وایي: چې هغو د نجوم له لاري فرعون ته خبر نه دی ورکړی، بلکې د کهانت له لاري کما هو المصرح في کتب التفاسیر، کهانت خو په استراق السمع سره د شیطانانو خبره د ملکو په اسمانو کې ده، ولې چې د شیطانانو لار و اووه اسمانو ته ایله وه چې عیسیٰ ﷺ نبي سو د دوی لاري له درو اسمانو څخه بندي سوې، او چې خاتم الانبیاء محمد ﷺ نبي سو له کردو اسمانو څخه یې لاري بندي سوې، صرف استراق السمع ورپاته سوه.

پوښتنه: ته ولې و علم النجوم ته یوه نرۍ لاره نه پرېږدې؟

ځواب: که نرۍ لاره پاته سي، نو بیا دغه نرۍ لار پراخه کړځي، بیا به خلک د ټولو حوادثو او واقعاتو نسبت و ستورو ته کوي، له دې سببه حضرت النبوة ﷺ منع و کړه له دې لاري څخه کمامر.

په خپله مظهري ؒ وایي په توجیه کې د منع د رسول الله ﷺ لکن لما کان الاشتغال به ای علم النجوم موجبًا للمفسدة وهي اسناد الحوادث الی الکواکب وکان الاشتغال به ای بعلم النجوم اضاعة للاوقات لکونها غیر نافعة في الدین نهی النبي ﷺ عن الاشتغال به انتهی.

پوښتنه: چې نو څه ضرورت دی چې دې علم ته لار پرېښول کیږي، او دا لوی مفسده چې مظهري ؒ ذکر کړه ورسره ده، مظهري ؒ په اخیر کې وایي والظاهر ان الاشتغال بعلم النجوم کان جائزًا في دین عیسیٰ ﷺ والا لم یشتغل به علماء النصاری انتهی؟

ځواب: که دا خبره صحیح هم سي په اسلام کې، حجة نسي کیدای لانه یحتمل النسخ کما یدل علیه الاحادیث المرویة المذکورة عن رسول الله ﷺ.

فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِينَ ﴿٩٠﴾

نو دوی ځنې راهي سول د خپل اختر د مراسمو پر خوا، (مدبرین) حال دی له ضمیر څخه د تولوا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي روح البیان او روح المعاني د مدبرین ترجمه په هاریښ سره کړي ده، د هرب سبب یې دا بیان کړی دی چي ابراهیم علیه السلام چي دوی ته وویل "اني سقیم" دوی وبېرېدل چي نبایده داسي ناجوړي د ابراهیم مونږ ته سریان او تجاوزونه کړي لکه طاعون، لکه ابن عباس رضي الله عنهما چي د سقیم ترجمه یې په مطعون سره کړې ده.

فَرَاغَ إِلَىٰ آلِهَتِهِمْ فَقَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴿٩١﴾

نو ابراهیم پټ داخل سو پر خدایانو د قوم (بغوي وایي چي (راغ) هغه ځای استعمالېږي چي فاعل د راغ مخفیًا وي په ورتګ کي) ابراهیم علیه السلام بتانو ته وویل یعني استهزاءً، ولي خورک نه کوئ له هغه طعام څخه چي ستاسي په حضور کي پروت دی، کما مر من ان قوم ابراهیم یأتون بالاطعمة الشهیة ویضعونها بین ایدی الآلهته للتبرک ثم یترکون الالهة والاطعمة ویذهبون الی اللعب في الصحراء.

مَا لَكُمْ لَا تَنْطِقُونَ ﴿٩٢﴾ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًا بِالْيَمِينِ ﴿٩٣﴾

څه سبب دی خبري نه کوئ (یا یو دبل سره یا زما د سوال جواب ولي نه راکوئ) نو یې حمله وکړه پر دوی په پټه (ضربًا) منصوب دی په فعل محذوف سره ای فضرب ضربًا یعني مفعول مطلق دی د راغ لان في راغ معنی ضرب.

(بالیمین) په راسته لاس سره لانه اقوی من الیسار غالبًا، او بعض مفسرین وایي چي له یمین څخه مراد قسم دی چي ابراهیم د مخه دا قسم کړی وؤ، تا الله لاکیدن اصنامکم بعد ان تولوا مدبرین، په قصه کي راغلي دي چي ابراهیم د ځان سره یو تبر یا سندان راخستی وؤ، تولې کوچني بتان یې په یو ټوک ټوک کړه، یو هغه تر ټولو لوی بت یې پرېښود او تبر یا سندان یې د هغه مخ ته کښېښود او ابراهیم له بت خانې څخه ووتی.

فَأَقْبَلُوا إِلَيْهِ يَزِفُّونَ ﴿٩٤﴾

(فاقبلوا الیه) په قصه کي راغلي دي چي قوم ابراهیم چي د خپل لهو او لعب څخه فارغ سوه بتخانې ته راغله بتان ټولې ریز ریز دي، نو مخ یې پر ابراهیم راواړوی او دوی پوښتنه له ابراهیم څخه وکړه بقولهم: من هذا بآلهتنا انه من الظالمین، او دوی په دې پوه سوه چي دا کار به ابراهیم کړی وي، ولي چي د بتانو دښمن او له عبادت څخه یې منکر وؤ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چې ابراهیم ؑ څو وروسته تر ماتولو د بتانو څان پټ کړی وو، نو څرنګه صحیح کېږي ترجمه د آیت په دې سره (نو مخ یې راواړوی)؟

ځواب: ددې سوال د دفع لپاره روح البیان وایي ای توجه المأمورون باحضاره یعني یو څو کسه دوی امر کړه چې ابراهیم ؑ حاضر کړي، نو هغه مأمورین و ابراهیم ؑ ته ورغله، دی چې یې حاضر کړی دوی ورته وویل من فعل هذا الخ؟ یعني تا دا کار کړی دی، په بل ځای کې د قرآن مبارک راغلي دي چې ابراهیم ؑ ورته وویل بل فعله کبیرهم الآیة.

(یزفون) یعني یسرعون په ډېر تلوار پسې ولاړه، دا جمله حال ده له فاعل څخه د فاقبلوا.

قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ ﴿٩٥﴾ وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ ﴿٩٦﴾

ابراهیم ؑ ورته وویل (په استفهام توبیخي او انکاري، آیا تاسي عبادت کوئ د داسي شیانو چې تاسي په خپله تراشلي دي یا له ډبرو څخه یا له لرګو څخه) او خدای تاسي پیدا کړي یاست او ستاسي اعمال.

درویش وایي: چې عمل په معنی د مصدر دی چې په فارسي یې کردن بولي، او په پښتو یې کول (یعني کارکول) بولي، د اهل السنة والجماعة په نېز عمل په معنی مذکور مخلوق د خدای ﷻ دی یعني بنده ته خدای ؑ اقتدار ورکړی دی پر عمل متعدي وهو ظاهر، نو مظهري ؒ ددې غرض لپاره وایي والظاهر ان ما مصدریة او دا جمله حال ده له فاعل څخه د تعبدون، فالمعنی والحال ان الله خلقکم وخلق اعمالکم بالمعنی المذکور فمالکم تترکون عبادة الخالق المطلق وتؤثرون عبادة المحتاج الیکم چې هغه بتان دي چې ستا و نحت ته محتاج دي کما مر، وتعبدون ما تنحتون. او دا جمله لپاره د تاکید د انکار او د توبیخ بعد توبیخ ده، والاحتجاج من جانب ابراهیم علی قومه یعین لاینبغي تلک العبادة، او روح المعاني او روح البیان وایي چې ما موصوله دی عائد یې محذوف دی ای تعملونه (ضمیر د عائد محذوف دی) له ما تعملون څخه مراد بتان دي کما هو الظاهر.

سوال: کلمه د ما موصوله کرځول څو عین مذهب د معتزله ؤ دی، کما قال الزمخشري المعتزلي في الکشاف، ولي چې مذهب ددوی دا دی چې عمل په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مصدري مخلوق د بنده دی او عمل په معنی د معمول چې بتان دي مخلوق د خدای ﷻ دي. نو مظهري ؒ له دې سببه ما مصدریه کړ ځولی دی تا چې د عمل په معنی مصدري خالق یې خدای ﷻ سي، کما هو مذهب اهل السنة والجماعة او ما موصوله یې مذهب د معتزله وُ کړ ځولی دی، ولکن دروښ وایي چې روح المعاني او روح البیان له دې سوال غافله نه دي حیث قال صاحب روح المعاني وروح البیان چې که ما موصوله سي او مراد ځني بتان سي چې مواد د هغوله جواهرو څخه دي او صورت یې په نحت د دوی حاصل سو یعني المشرکین وکون المواد المذکورة مخلوقة لله ﷻ ظاهر. ویقول المعتزلة ایضًا ذالک وکون الصور والاشکال کک ای مخلوقة لله ایضًا ظاهر مع کونها بفعلهم ای النحت باعتبار ان الاقدار علی الفعل (وهو العمل بالمعنی المصدري) وخلق مایتوقف علیه ذالک الاقدار من الدواعي والاسباب (لکه کولنګ او تیښه وغیرهما منه تعالی ای مخلوقة له تعالی وکون الاصنام معمولة باعتبار الاقدار الذي هو المصدري یعني قدرت دادن اشکال انتهی عبارة روح المعاني) وقال الشیخ ابراهیم الکوراني ؒ في المتعة للمسئالة المهمة (چې تصنیف د علامه کوراني ؒ دی) صریح الکلام (ای الآیة) دال علی ان الله تعالی خالق للاصنام واجزائها (چې مواد د بتانو دي او اشکال د بتانو دي) ومعلوم ان الاشکال انما حصلت بتشکیل المشرکین فیکون التشکیل ای شکل داون (الذی هو المعنی المصدري) عین خلق الله انتهی کلام الکوراني ؒ بقدر الضرورة في هذه المسئلة.

دروښ وایي: چې دا ؤ تطبیق د آیت قرآني د مذهب سره د اهل السنة والجماعة. والله اعلم.

قَالُوا ابْنُوا لَهٗ بُنْيَانًا فَاَلْقُوْهُ فِي الْجَحِيْمِ ﴿۹۷﴾

وویل (یعني مشرکانو د قوم ابراهیم چې له دلیل څخه عاجزه سوه) جوړ کړئ تاسي د ابراهیم لپاره یعني دده د عذاب لپاره یوه ابادي، نو ابراهیم واچوئ ؑ په اور کي چې سخت بلیږي کذا في القاموس.

دروښ وایي: چې دا قانون دی چې تر اوسه پاته دی چې سر سخت دښمن چې له دلیل څخه عاجزه سي، نو جنګ ته اماده سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: لام په الجحیم کې بدل دی له مضاف الیه څخه ای جحیم ذالک البنیان چې اور پکښې بل وي، مقاتلؒ وایي چې قوم د ابراهیمؑ په امر د نمرود په ډبرو یې دیوال جوړ کړی چې جګوالی یې دېرش (۳۰) ګزه، او پسور یې شل (۲۰) ګزه ؤ، د لرګیو یې ډک کړی او اور یې ورواچاوه، له ابراهیم علیه السلام څخه یې قمیص وکښی لاسونه او پښې یې ورو تړلې.

دروښ وایي: چې دا قصه ډېره اوږده ده چې تفصیل یې په تفسیر کې د سورة الانبیاء تېر سوی دی، لکن ما لایدرک کله لایترک کله، روایان د قصې وایي چې دا واقعه د بابل په مځکه کې د نمرود الجبار په امر واقع سوې ده، لکن نمرود یا نو چې د بتو خړې ته اول اور ورواچاوه چې وروسته به ابراهیم و وغورځوو، نو د اور لمبې چې پورته سوې نژدې څوک نسوای ورتلای، نو ابراهیمؑ به یې څرنګه ورغورځولای، که د بتو خړې ته دوی اور نه وای اچولی اول به یې د ابراهیمؑ لاسونه او پښې تړلې وای پر بتو به یې اینبی وای بیا به یې اور واچولی وای، خیر دوی حیران وه چې اوس به څه په کوو، نو په دې وخت کې شیطان د سړي په صورت کې ورته راغلی له نژدې غره څخه او دوي ته یې وویل چې د منجنیق په ذریعه یې ورو غورځوئ چنانچه دوی هم هغسې وکړه، اور ته نارسیده جبرائیلؑ وابراهیمؑ ته راغلی او ورته وه یې ویل هل لک من حاجة؟ ابراهیمؑ ورته وویل: اما الیک فلا، تاته خو حاجت نه لرم، جبرئیلؑ ورته وویل چې خدای څه سوال وکړه چې له اوره نجات درکړي، ابراهیمؑ ورته وویل حسبي من سؤالي علمه بحالي، کافي دی ما لره له سوال څخه علم د خدای زما په حال سره وعند ذالک قال الله تعالی: وقلنا یا نار کوني بردًا وسلامًا علی ابراهیم، راویان د قصې وایي چې اور صرف د ابراهیمؑ د لاسو او پښو تناؤ (مرانده) وسو وبس په امر د خدای ﷻ جبرئیلؑ دستي په منځ کې د اور ځای خالي کړی او ابراهیمؑ ته یې د جنت قمیص راوړی په ده یې واغوستی.

دروښ وایي: چې دا هغه قمیص دی چې یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم علیهم السلام ته په مرور د زمانې ورسېدی او یعقوبؑ هغه جنتي قمیص د خپل زوی یوسفؑ په غاړه کټ کړی تعویذ یې ګرځولی ؤ، او هغه وخت چې ورونو دده قمیص وکښی چې پلار ته یې په وینو رنګ وروړی چې یوسف لهوانو وخوړی جبرئیلؑ ورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راغلی هغه تعویذ یې ورخلاص کړی او هغه قمیص یې په یوسف واغوستی، راویان دقصې وایي چې نمرود الجبار چې دا حال ولیدی، نو ابراهیم ته یې ویل ان ربک لعظیم ستا د خدای خو لوی شان او قدرت لري زه به دپر غوایي او پسونه ذبح کړم لپاره د تقرب ستا و خدای ته او داغسي یې هم وکړه چې په زرو حیوانان یې ذبح کړه لکن فائده یې ونه کړه، ولي دی پر خپل اعتقاد یعني د خدایي دعوې او خپل پر سوء عمل باقي وُ.

فَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَسْفَلِينَ ﴿٩٨﴾

د دوی نمرودیانو و ابراهیم ته د شر اراده وه (یعني په اوریې وسوځي تاچې خپل عجز له عوامو څخه پټ وساتي) موږ و ګرځول دوی کښته یعني ذلیل چې د دوی کید زائل سو او سره د هغه د ابراهیم علو شان او صدق د دعوی د نبوت یې اظهر من الشمس دوی ته بښکاره سو، حیث جعل النار علیه بردًا وسلامًا کما مر بیانه.

وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَىٰ رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴿٩٩﴾

او وویل ابراهیم (چې له اوره راووتی سالم، او دا معجزه دده نمرود او نمرودیانو هم ولیدل بیا یې هم ایمان را نه وړی) زه هجرت کوم له دار الکفر څخه او څم هغه ځای ته چې زه خدای امر کړی یم چې هورې د خدای عبادت په بېغمې سره وکړم، ژر دی چې خدای به ماته هدایت د هغه ځای وکړي چې زما صلاح د دین پکښې وي، وهو الشام.

مسئله: دا آیت دلیل دی ددې چې سړی دي هجرت کوي له دیار الکفر څخه چې دین او اسلام خپل په خطره کي بولي وداسي مځکي ته چې وظائف د خپل دین او طاعت د خدای ښه په چون و چرا کولای سي هجرت وکړي، اول چې هجرت یې کړی دی ابراهیم علیه السلام وُ، راوي وایي چې ابراهیم له بابل څخه ووتی د شام پر خوا سره د کور والا چې ساره یې نوم وُ و کانت من اجمل نساء عصرها، نو په روایت د احمد په مسند کي او د بخاري او مسلم په روایت عن ابی هریرة رضي الله عنه چې هغه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی دی: بینا هو (یعني ابراهیم) وسارة اذا اتی (چې تهر پدل) علی جبار من الجبابرة، چې نوم یې په شرح کي د بخاري سنان بن علوان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او بعض وايي چي نوم يې عمرو بن امرء القيس ؤ، يو چا له عسکرو څخه د جبار مذکور راپور ورورې چي هورې يو سړی دی چي د هغه سره يوه ښځه ده من احسن النساء، نو هغه جبار ابراهيم ؑ ورو غوښتی چي دا ستا سره ښځه ستا څه ده، ابراهيم ؑ ورته وويل چي زما خور ده.

پوښتنه: ولي ابراهيم ؑ ورته ويل چي زما خور ده؟

ځواب: ابراهيم ؑ په مذهب د جبار خبرؤ چي ښځه چي مېړه کوي اول به بادشاه يعني جبار ته ورځي، که د هغه خوښه سوه هغه به يې مانه کړي او که يې نه وه خوښه د مېړه سره به د نکاح اجازه ورکړي. او چي مېړه يې نه کولای کار يې نه په درلودی، نو جبار ورته وويل چي ورسه ښځه راواستوه چي زه له هغې څخه پوښتنه وکړم، ابراهيم ؑ چي راغلی ساره ؓ ته يې وويل يا سارة ليس على وجه الارض مؤمن غيري وغيرک.

دروښ وايي: چي له دې قول څخه دا معلومه سوه چي جبار ته چي ده ووېل چي دا ښځه زما خور ده اخوة في الدين دی، دده دا مراد ؤ، دې ته په فارسي کي (صدق دروغ نما) وايي كما مر هذا التأويل في حديث لم يكذب ابراهيم الا ثلاثة كذبات.

ابراهيم ؑ ساره ؓ ته وويل حي دې جبار چي ماته ووېل چي دا ښځه دي څه؟ ما ورته ووېل چي دا مي خور ده چي له زما تکذيب ونه کړې يعني داسي ورته ووايي چي هغه سړی زما مېړه دی، نو يې د عسکر سره راهي کړه و د دربار ته د جبار (او ابراهيم ؑ پر لمانځه و در پسې) جبار چي د ساره حسن او جمال ولیدی لاس يې ورو غځاوه (يعني پله پوښتنې چي غېږي ته يې راکش کړي) فأخذ و في رواية فغط (يعني خپه کړل سو لکه ترستوني چي يې څوک ونسي پښې يې غورځولې) نو يې ساره ته ووېل: ادعى الله لي ولا اضرک (ته زما لپاره خواست وکړه چي زه جوړ سم تا ته ضرر نه رسوم، يعني زنا نه در سره کوم) ساره چي خدای ﷻ ته خواست وکړی جبار جوړ سو، بيا يې له طاقته و وتل لاس يې ورو غځاوه، فأخذ و في رواية فغط مثل الاول او اشد، بيا يې ساره ؓ ته ووېل چي ته دعاء راته وکړه چي زه جوړ سم ضرر نه درسوم فدعت الله فاطلق، ثم ثالثا فاخذ اشد من الاولين، بيا يې ساره ؓ ته ووېل يعني مثل الاولين. اخير جبار بعض ساتنديه عسکر راوغوښتل، فقال الجبار: انكم لم تأتيني بانسان انما اتيتني بشيطان يعني جن دی، نو د جبار يوه مينځه وه چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هاجره يې نوم ؤ جبار و ساره ته وروبخښل. نو ساره سره د مينځي هاجره راغله، ابراهيم عليه السلام پر لمانځه ولاړ ؤ په عين حال کي يې اشاره ورته وکړه، چې د اشارې مطلب دا ؤ په عربي مهيم چې معامله د جبار او ستا تر منځ پر څه تمامه سوه، ساره ورته وويل: رد الله کيد الفاجر و اخدمني هاجر (خدای پاک رد کړی مکر د فاجر يعني الجبار او ماته يې د خدمت لپاره هاجر راوبخښل)

دروښ وايي: چې وروسته يې تفصيل وا ره قصه ورته وکړه.

فائده: هاجره د اسماعيل عليه السلام مورده، وروسته ساره چونکه عيال نه درلودی يعني عقيم وه ددې په خيال هاجر يې ابراهيم عليه السلام ته وبخښل وقالت لابراهيم ان هاجر امرئة مرغوبة ماتاته در بخښلې ده (په اميد ددې چې ګوندې خدای ابراهيم ته يو زوی ورکړي) نو ابراهيم چې جماع ورسره وکړه (يعني وروسته تر دې چې ابراهيم هاجره ازاده کړه او په نکاح يې کړه) څو زمانه وروسته خدای عزوجل و هاجر يې ته زوی ورکړی، چې ابراهيم عليه السلام نوم اسماعيل پر کښېښو. دا هغه دعاء د ابراهيم خدای قبوله کړه:

رَبِّ هَبْ لِيْ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝ فَبَشَّرْنٰهُ بِغُلٰمٍ حَلِيْمٍ ۝

ای هب ولدًا کائنًا من الصالحين (مقاتل وايي چې دی ارض مقدس ته د شام ورسېدی سوال د ولد يې وکړی) موږ زېری وکړی ده ته يعني ابراهيم ته يعني ملکي مو وروا ستولې د زيري لپاره، له غلام څخه مراد زوی دی، د حليم معنی صاحب قاموس داسي کړې ده: ذا اناة (يعني صبر او حلم به لري) وعقل (يعني عقل کامل به لري) يعني اسماعيل عليه السلام وهو الصحيح.

دروښ وايي: چې له من الصالحين څخه چې جمع مذکر ده دا معلومېږي چې د ابراهيم په نيت کي نر ؤ يعني زوی ؤ.

دروښ وايي: چې په دې مسئله کي لوی اختلاف دی چې له غلام حليم څخه مراد څوک دی يعني اسماعيل دی او که اسحاق دی، او ذبيح الله کوم يو له دوی څخه دی، مفسرين لکه روح المعاني، روح البيان، مظهري او نور وايي چې صحيح داده چې اسماعيل دی واليه ذهب ابن عمر رضي الله عنه وهو قول سعيد بن المسيب والشعبي والحسن البصري ومجاهد والربيع بن انس ومحمد بن كعب القرظي والكلبي وهو رواية عن عطاء بن ابی رباح ويوسف بن مالک رحمهم الله عن ابن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عباس ؓ واخرج الواقدي وابن عساكر عن طريق عامر بن سعيد عن ابيه انه كانت سارة تحت ابراهيم يعني دده زوجه وه او ډېره زمانه يې د ابراهيم ؑ سره تېره كړې وه عيال يې نه ؤ، ساره چې دا بې اولادي د ابراهيم ؑ وليدل هاجره قبطيه يې وده ته وبخښل كما مر عنقريب فولدت له اسماعيل ؑ فغارت من ذالک سارة (يعني كست يې په وسو) او دا قصه موږ په سورة ابراهيم كې ذكر كړې ده، نو ابراهيم ؑ په امر د خداى ؑ هاجره او زوى يې چې رضيع ؤ شپلې ته د مكې يې راوړه هورې يې پرېښول كما في حديث البخاري وقد مر في سورة ابراهيم ؑ، غرض دادى چې اول زوى د ابراهيم ؑ اسماعيل ؑ ؤ، حتى په تورات كې راغلي دي چې اسماعيل ؑ چې زوكېدى ابراهيم ؑ د شپږاتيا (۸۶) كالو ؤ، او اسحاق ؑ چې زوكېدى ابراهيم ؑ د سلو (۱۰۰) كالو ؤ، نو په منځ كې د اسماعيل ؑ او اسحاق ؑ څورلس (۱۴) كاله فاصله ؤ، او هم په تورات كې راغلي دي چې په ابراهيم ؑ خداى ؑ امتحان كاوه، نو يې وويل يا ابراهيم! ده ورته وويل لبيک، قال الله تعالى خذ ابنک وحيدک الذي تحبه هغه قرباني كړه الخ، دا معنى د وحيدک چې معنى يې داده چې ته بل زوى نه لرې لايصدق على اسحاق حين الامر بالذبح لان اسماعيل كان موجودًا، او داغه رنګه الذي تحبه اليق دى په اسماعيل سره دى لانه اول ولد له د اول زوى سره د سړي محبت زيات وي غالبًا تر وروسته اولاد.

فائده: دروپش و تورات ته حواله ورکړه لانه كتاب لليهود ومع ذالک يهودان د دې دعوى كوي چې ذبيح اسحق ؑ دى بغضًا للعرب چې اسماعيل ؑ يې نيكه دى، بغوي ؒ وايي چې محمد بن كعب القرظي ؒ وايي چې عمر بن عبد العزيز د يو سړي د علماؤ څخه د يهودو چې ايمان يې راوړى ؤ (وحسن اسلامه) پوښتنه وكړه چې اى ابنى ابراهيم ؑ امر بذبحه؟ قال (يعني هغه سړي چې اسلام يې راوړى ؤ وويل) اسماعيل ؑ، ثم قال يا امير المؤمنين ان اليهود يعلم ذالک (يعني چې ذبيح اسماعيل دى) ولكنهم يحسدونكم يا معشر العرب على انيكون اباكم يعني اسماعيل ؑ كان من امر الله ابراهيم ؑ فذبحه، او دوى وايي چې ذبيح اسحق ؑ دى، فقولهم ذالک كذب بحت سببه الحسد مع العرب كما لايخفى.

دروښ وايي: چې قائلان د ذبح د اسحق ؑ هم بيخي ډېر دي ونسبه القرطبي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

للاکثرین واختاره فقیه ابو جعفر ابن جریر الطبري ؒ وجزم به القاضي عیاض في الشفاء، والسهیلي في التعریف والاعلام او دوی دلائل هم ویلي دي او د هغو جواب روح المعاني ورکړی دی او په بعض احادیثو کې نسبت د ذبح د اسحاق ؑ و علیه الصلوة والسلام ته کړل سوی دی، هغه احادیث روح المعاني په سبب د ضعف استاد رد کړي دي.

فقیر وایي: چې مسئله د ذبح د اسماعیل ؑ یا د اسحٰق ؑ روح المعاني په دې تفصیل او په سوال او جواب وبیان د مذاهب العلماء ښه څېرلې ده چې نقل د ټوله مبحث د روح المعاني څخه پر متعلمینو د تفسیر ایوبي به دې پر بوج سي، فلهذا ترکناه، قال الاصمعي ؒ سئلت ابا عمر بن العلاء عن الذبیح اهو اسماعیل او اسحٰق؟ قال یا اصمع این ذهب عقلک متی کان اسحٰق بمکة انما کان اسماعیل ؑ وهو الذي بني البیت الشریف مع ابیه، او مظهري ؒ دا دلیل پر ذبح د اسماعیل ؑ راوړی دی چې هغه دوه ښکره د جنتي پسه چې اسماعیل ؑ یې له ذبح څخه د ابراهیم ؑ خلاص کړی هغه پر کعبه شریفه معلقین وه په تصرف کې د اولاد د اسماعیل تر هغو پورې چې کعبه شریفه د حجاج بن یوسف چې د یزید پلید له خوا مأمور ؤ پر نیولو د عبدالله بن الزبیر ؓ چې مکې والو د هغه سره بیعت د خلافت کړی ؤ، او عبدالله بن الزبیر ؓ په حرم محترم کې پناه اخستې وه، نو حجاج بن یوسف د منجنیق په ویشتلو سره کعبه شریفه د مځکې سره برابره کړه، او هغه دوه ښکرونه هم وسول، او عبدالله بن الزبیر ؓ یې د زمزم پر غاړه ذبح کړی، او مور یې اسماء بنت ابی بکر ؓ چې د ام المؤمنین عائشې ؓ خور وه ژوندۍ وه او دده په ذبح کې دا حاضره سوه چې تخمیناً د نیوي (۹۰) کالو په عمر کې وه، کله چې دې ولیدل چې ددې د زوی عبدالله پر غاړه چاړه کش سوه او وینه د هغه وبهېدل دې ته هم حیض ورغلی او هم تر تیو یې شیدې وبهېدلې، نو دې داسي وویل چې زویه هغه ځای چې ته قبل الولادة پکښې خوندي وې او هغه دو تیو زما چې تا شیدې ځني رودلې دوی درپسي وژړل زه نو نه درپسي ژاړم، انا لله وانا الیه راجعون یې ووایه راهي سول، او مظهري ؒ د بغوي ؒ پر خلاف هیڅ وخت داسي رد نه ؤ کړی لکه په دې مسئله کې، عبارة البغوي ؒ ذهب الی ان الذبیح هو اسحاق من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصحابة عمر و علي وابن مسعود وعكرمة ﷺ ومن التابعين واتباعهم كعب الاحبار وسعيد بن جبير وقتادة ومسروق وعطاء ومقاتل والزهري والسدي آه مظهري وايي فلعل من قال منهم هذا القول يعني چي ذبيح اسحاق ؑ دی اعتمد على اخبار اليهود من التورات فيما بين الناس، قال المظهري ؒ والدليل على كون اسماعيل ؑ مذبوحًا انه هو المولود اولاً بعد هجرت ابراهيم ؑ الى الشام اجماعًا وقد عطف الله قوله فبشرناه بغلام حليم، وقال اني ذاهب الى ربي سيهدين بالفاء الموضوع للتعقيب بلا فصل باجماع النحات، واما اسحق ؑ فقد ولد بعد ذالك بتراخ والمأمور بذبحه هو المبشر به فلما بلغ معه السعي كما سيئاتي الخ.

درويش وايي: نه قاضي يم نه مفتي يم .... خوشه جمع ايوبي يم
د حاسد ژبه دي پرې سي چي بهتان پر فقير وايي

فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ

پوه سه: چي دا جمله عطف ده پر مقدر باندي تقديره فولد الغلامه فلما بلغ السعي معه يعني دا سن ته ورسېدی چي د ابراهيم ؑ سره دي سعي په اعمال کي دده کومک ورسره وکړي، قيل کانه سنه (۱۳) کاله وقيل (۷)

پوه سه: چي معه چي ظرف دی په قول د مظهري ؒ متعلق دی په محذوف پورې لا بالسعي المذكور لانه مصدر او نحات وايي چي مصدر ضعيف العمل دی معمول تر ده نسي دمخه کېدای، لكن روح المعاني وايي چي معمول خو دلته ظرف دی وقد اشتهر ان الظرف يكفيه رائحة الفعل معرفًا كان او منكرًا د معرف مثال خو دا موجوده آيت دی او د نكره مثال قوله تعالى ولا تأخذكم بهما رافة ولي چي جار او مجرور په دې آيت چي حكم د ظرف دی معمول د رافة متاخر دی چي مصدر هم دی والى هذا ذهب الرضي في شرح الكافية، نو د مظهري ؒ قول ممنوع دی.

درويش وايي: چي مزيد تفصيل په روح المعاني كي دي مطالعه كړل سي او روح البيان هم داغه مختاره كړې ده چي معه متعلق او معمول د السعي او علت يې هم داغه ويلی دی لانه ظرف يكفيه رائحة الفعل انتهى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ يٰبُنَيَّ اِنِّيْ اَرٰى فِي الْمَنَامِ اَنِّيْ اَذْبَحُكَ

وویل ابراهیم ؑ خپل زوی ته چې اسماعیل ؑ وای زویکه زه ویښم په خوب کې چې زه تا ذبح کوم، مفسرین وایي چې یا دغه عبارت مذکور یې په خوب لیدلی وو یا خوب نور الفاظ وه چې دا یې تعبیر وو.

پوه سه: چې ما تفسیر په زویک سره وکړ، اشاره ودې ته ده چې بنې د تصغیر لفظ دی په عربي کې تصغیر ګاهي د تحقیر لپاره وي او ګاهي د شفقت د اظهار لپاره راځي. دلته په دې آیت کې لپاره د اشفاق دی لکه پښتانه ګاهي و زوی ته وایي زویه او ګاهي ورته وایي زویکه چې پښتو تصغیر دی لپاره د اشفاق ای اظهار الشفقة.

پوښتنه: ابراهیم ؑ خو په شام کې او اسماعیل ؑ خو په مکه کې وو، نو ده څرنګه اسماعیل ؑ ته دا ویناوکړه او سره د دې چې د شام او د مکې تر منځ ډیر مسافت وو؟

ځواب: تاریخ صحیح دا وایي چې د ابراهیم ؑ چې به د هاجرا او اسماعیل ؑ د لیدو شوق وسو پر خپل آس چې د براق په نامه یاد ېدی په سبب د ټیز رفتاری سهار وختي به په پر براق سپور سو غرمه به مکې ته راورسېدی قیلوله به یې په مکه کې وکړه. تر زوال وروسته به له مکې څخه روان سو مابنام ته به شام ته ورسېدی.

مصرع:.... باکریمان کارها دشوار نیست

دروښ وایي: چې اوس هم په یوه ناحیه کې د مکې نوشته دي (طریق ابراهیم ؑ) نو چې اسماعیل ؑ ودې سن ته ورسېدی یعني فلما بلغ معه السعي کمامر او ابراهیم ؑ په ده کې عبادات د خدای ؑ او ترک د محرماتو ولیدی امید د سعادت یې ورته پیدا سو. امر في المنام ان یذبحه، قصه دا وه چې ابراهیم ؑ په شپه د ترویه یعني اته (۸) د ذوالحجه دا خوب ولیدی، سهار چې راویښ سو ګرده ورځ یې په دې کې فکر واهه یعني متردد وو چې دا خوب به د خدای ﷻ د خوا وي او که د شیطان (ځکه دا ورځ ترویه بولي چې معنی تردد او فکر وهل دي) مابنام یعني نهه د هغې میاشتې یې بیا دا خوب ولیدی. ابراهیم ؑ چې پوه سو چې د خدای ؑ د خوا دی ځکه تر اوسه نهه د ذی الحجه ته عرفه وایي. نو کله چې شپه د لس د دغې میاشتې سوه او خوب یې ولیدی چې یو پسه ذبح کړه، ابراهیم ؑ پوه سو چې دغه ورځ به د زوی د ذبح ورځ وي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې تر اوسه پورې يې يوم النحر بولي. قتادهؒ وايي چې درې ورځې پرله پسې يې دا خوب وليدی نو اسماعيلؑ ته يې د خوب اظهار وکړی.

فائده: د آيت له هغه ځای څخه چې ابراهيمؑ خدای ﷻ ته خواست وکړی (رب هب لي من الصالحين فبشرناه بغلام حليم) دا معلومه سوه چې مبشر به اسماعيلؑ وای دا اتفاقي خبره ده چې مبشر به هو المذبوح، نو ځرنګه به مبشر به او مذبوح اسحاقؑ سي لکه يهودان چې وايي او سره ددې چې زهری د اسحاقؑ په هغه آيت کې راغلی فبشرناها (ای سارة) باسحاقؑ ومن وراء اسحاقؑ يعقوبؑ يعنې چې د اسحاقؑ زوی دی، نو ځرنګه ابراهيمؑ په ذبح د اسحاقؑ امر سوی دی چې صرف مراهق ؤ چې يعقوب بن اسحق په کتم العدم کې ؤ. فافهم هذه الفائدة السنية.

دروښ وايي: چې بعض کسان وايي چې ابراهيمؑ چې هغه خواست وکړی رب هب لي من الصالحين او خدایؑ يې اجابت د خواست وکړی وبشر به، ابراهيمؑ وويل هو اذا ذبيح الله (زه به يې ذبح کوم لپاره د رضا د خدایؑ، نو چې اسماعيلؑ پيدا سو وبلغ معه السعي نو ابراهيمؑ ته وويل سول يعنې د خدای ﷻ له خوا (اوف بنذرک) په نذر دي وفا وکړه يعنې اسماعيلؑ ذبح کړه.

فقير وايي: چې دا قول له نقل او عقل څخه خلاف دی کما لا يخفٰی.

فائده: دا خبره ابراهيمؑ و اسماعيلؑ ته چېرې وکړه! په دې کې اختلاف دی بعض وايي ده اسماعيلؑ ته وويل چې دا رسی او چاړه دروا خله چې د غې شعب يعنې درې (چې مابين الجبلين ته وايي) شايد بوتې به راوړو، چې په شعب ثبير کې سره دوه په دوه سوه، نو يې دا خبره ورته وکړه اني اریٰ في المنام آه. او بعض مفسرين وايي چې ابراهيمؑ اسماعيلؑ ته وويل چې دا چاړه او رسی دروا خله چې يو ځای به خيرات وکړو (چې په عربي قربان ورته وايي) اسماعيلؑ هم داغسې وکړه. نو ابراهيمؑ په منځ کې د غرو د مټی روان ؤ چې يو محفوظ ځای يې پيدا کړی چې هورې اسماعيلؑ ذبح کړي، نو اسماعيلؑ ورته وويل يا ابت اين قربانک، وويل ابراهيمؑ (يابني اني اریٰ آه)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَانْظُرْ مَاذَا تَرَىٰ ۚ قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ ۖ

ته د ځان سره فکر وکړه چې ستا څرنګه رایه یې ده (یعني په ذبح راضي یې یانه، اسماعیل ؑ ته خدای ﷻ صبر جمیل په امید د اجر جزیل ورکړی او داسي یې ځپل پلار ابراهیم ؑ ته وویل بلا تأمل وتوقف) ای بابا زما ته وکړه هغه کار چې ته په امر سوی یې.

فائده: چونکه نداء و پلار ته کثیر الوقوع وه نو ځکه الفاظ د نداء یې هم دپر دي یا ابی یا اباه یا ابت یا ابتی یا ابتاه.

فائده: کلمه د ما موصوله ده عائد یې محذوف دی، والتقدیر ما تؤمر به او یا ما مصدریه دی یعني امرک بمعنی مأمورک.

فائده: له دې قصې څخه دا معلومه سوه چې رؤیا یعني خوبونه د انبیاء علیهم السلام وحي دي واجب الامتثال دي، وقد روی عبد بن حمید عن قتادة ؓ ان رؤیا یعني خوبونه د انبیاء وحي دي، وروی البخاري في الصحیح عن ابی سعید الخدري ؓ و مسلم عن ابن عمر ؓ وابی هریرة ؓ ان الرؤیا الصالحة جزء من (۴۶) جزء من النبوة.

درویش وایي: وجه ذالک چې آنحضرت ﷺ قبل النبوة شپږ میاشتي صحیح خوبونه لیدل او درویشت (۲۳) کاله دده د نبوت زمانه وه، نو شپږ میاشتي د (۲۳) کالو چې زمانه د نبوت وه یوه حصه کېږي، ولاشک ان رؤیا الانبیاء کلها صالحة لایحتمل الفساد؛ واما رؤیا د غیر الانبیاء فبعضها صحیحة وبعضها کاذبة.

سَتَجِدُنِي إِن شَاءَ اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ ۝

نژدې ده چې ته به ما وویني که د خدای ﷻ رضا وه له صبر کونکو څخه پر ذبح باندي، اسماعیل ؑ چې تفویض د امر و خدای ﷻ ته وکړی تبرګا و اظهاراً العجزه علی مقتضی البشریة علی الذبح بدون مشیة الله، وایضاً هذه الجملة عند الوعد بالامور المستقبلة من عادة عباد الله الصالحین.

نکته: سوال دا پیدا کېږي چې اغلب وحي د انبیاء علیهم السلام خو په ویښه وي، نو څه حکمت د خدای ﷻ دی چې ابراهیم ؑ یې په خوب کې په ذبح د زوی امر کړی؟

ځواب: حکمت الهی دا ؤ چې خدای ﷻ مبادرة د ابراهیم ؑ او ددې د زوی او کمال انقیاد ددوی او اخلاص ددوی وعالم الملائکة او عالم الانس ته وښیي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلَمَّآ أَسۡلَمَا وَتَلَّهُۥ لِلۡجَبِينِ ۝١٠٣

نو هغه وخت چې تسليم سوه ابراهيم او زوی ددده او منقاد سوه د امر ته د خدای (د سلم او استسلم معنی یوه ده) "وتله للجبين" یعنې غځاریې کړی پر مخکه، ابن عباس رض وایي پرې یې ایستی علی جنبه.

پوه سه: چې تندی په مابین کې د جنبین دی عن یمین الجبهة ویسارها.

فائده: دغه پرې ایستل دده عند الصخرة بمنی او في الموضع المشرف (چې لوړ دی) علی مسجد منی او في المنحر الذي ینحر فیه الیوم، په صحیح حدیث کې راغلي دي چې ابلیس و ابراهیم ته ورانده سو په نېږد جمره عقبه چې ستا خوب لیدل د اصغاث احلام له قسمه څخه ؤ، فرماه ابراهیم سبعة حصیات یعنې شیګو سره چې ابلیس له دغه ځایه ولاړی بیا د هغه بل ځلي سره ورته ودرېدی ثم مع الثالث ومن ثم شرع رمی الجمرات في الحج فهو من واجبات الحج یجب بترکه الفدیة بالاتفاق کما في کتب الفقه.

واقعه دل خراش: راویان د قصې وایي چې بغوي روایت کړی دی چې ابراهیم ته خپل زوی وویل: یا ابتی ما تینګ په رسی وتړه حتی چې زه لغتي ونه وهم، او خپل کالي دي ښه درتول کړه چې زما په وینو رنګ نه سي زما ثواب به کم سي او زما مور چې ستا کالي زما په وینو رنګ وویني غمجنه به سي او چاړه ښه تېره کړه او ژر ژر یې زما پر حلق تېروه چې پر ما زکندن اسان سي فان الموت شدید خصوصًا عند الذبح. او چې زما مور ته ورغلې زما سلامونه پرووایه او که ستا خوښه وه زما په وینو رنګ قمیص زما مور ته وروړه چې ددې تسلي په وسي، قال ابراهیم نعم العون انت یابني علی اجراء امر الله یعني الذبح، ففعل ابراهیم ما قال ابنه، وروسته یې پر مخ مچ کړی وهو یبکی، راوي وایي چې ملائکه د اوو اسمانو په دریاب کې د تعجب او تحیر غرقي وې ودې زوی او پلار ته، بیا ابراهیم د زوی پر حلق چاړه کښېښول او چابک چابک یې پر تېرول چرې کار نه کاوه یعني د اسماعیل پوست یې لا نه کړی پرې، اسماعیل به ورته وویل چې پلاره جانه زه نه یم ذبح سوی چاړه ښه تېره کړه، راوي وایي چې دوه درې واره یې چاړه ښه تېره کړه خو هیڅ کار یې نه کاوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي ابن جرير وابن ابی حاتم له سدي څخه روايت کړی دی چي ابراهيم پـه ټوله قوت خپل چاړه څو واړه پر حلق د اسماعيل تپره کړه خدای ده حلق لکه د ميسو ټوټه کړ خو لی ؤ. اسماعيل پلار ته وويل چي پلار جانه ما پرمخي واړوه يعني څټ مي لوړ کړه ولي چي ته زما مخ ته وګورې زړه دي رابانديږي سوځي، وادرکت الرقة او ضعف درته پيښيږي چي ستا او د امر الله حائل ګرځي، او زه به هم چې ته نه ګورم چي جزع راځخه ونه سي، ابراهيم پر مخي واړاوه او چاړه يې پر څټ ور کښيښول خو هم يې فائده ونه کړه يعني اسماعيل ذبح نه سو.

فائده: ابو هريره رضي الله عنه له کعب الاحبار څخه روايت کړی دی چي څه وخت چي ابراهيم ؑ و ذبح ته د زوی اماده سو، ابليس د ځان سره فکر وواهه ان لم افتن عند هذا آل ابراهيم (که زه په فتنه کي واقع نه کړم آل ابراهيم په دې وخت کي د ذبح د ولد لا افتن منهم احدًا ابدًا) مراد د آل ابراهيم څه د ابليس لعين د اسماعيل ؑ مور وه او په خپله اسماعيل ؑ ؤ، نو شيطان ځان د سړي په بڼه کړی نو هاجرې ته ورغلی او وره وه يې ويل چي ته خبره يې چي ابراهيم ستا زوی چېرې بوتلی، هاجرې ورته وويل چي دغه د غرو منځ ته ولاړه بوتي راوړي، شيطان ورته وويل لا والله ماذهب به الا ليذبحنه (ده نه دی بيولی مګر د ذبح لپاره) قالت لا هو ارحم به واشد حبًا من ذالک (دې ورته وويل يا پلار يې ډېر مهربانه پر خپل زوی ؤ او ډېر سخت محبت يې ورسره لری) شيطان ورته وويل چي ابراهيم دا وايي چي زه خدای امر کړی يم په ذبح د دغه زوی، هاجرې ورته وويل چي که چېرې خدای ؑ امر کړی وي، نو خو بنه کار دی چي ابراهيم ؑ د خدای ؑ د امر اطاعت وکړي، نو شيطان چي له دې څخه نا اميده سو، نو په رنګ د سړي يې اسماعيل ؑ ته ځان ورساوه چي هغه د قضا حاجت لپاره له پلار څخه يو څه مسافت وروسته ورپسي روان ؤ، شيطان ورته وويل يا غلام هل تدري اين يذهب بک ابوک (ته خبر يې ای ځوانه چي ستا پلار تا چېرې بيايي) اسماعيل ؑ ورته وويل چي موږ په دغه دره کي بتي ټولوو د کور لپاره، شيطان ورته وويل لا والله ما يريد الا ان يذبحک (دا غسي نه ده بلکې پلار دې اراده نه لري مګر دا چي تا ذبح کړي) اسماعيل ؑ ورته وويل چي ولي ما ذبح کوي؟ شيطان ورته وويل چي د پلار د خوب ليدلو په سبب دا ګمان دی چي تا ذبح کړي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسماعیلؑ ورته وویل فلیفعل ما امربه ربه سمعًا و طاعةً (زما پلار دي هغه کار وکړي چې خدایؑ په امر کړی وي) زه یې خبره اورم او فرمانبرداري یې کوم فلما امتنع عنه الغلام، په ابراهیمؑ پسې یې ځان راورساوه، ده ته یې وویل اینې تذهب ایها الشیخ، قال الی هذا الشعب لحاجة لنا فیه (زما یو کار دی په دغه شپله، شعب یا دره کې) شیطان ورته وویل والله زما دا خیال دی چې شیطان په خوب کې تاته درغلی دی هغه امر کړی یې زوی ذبح کړه او اوس هم روان یې زوی ذبح کوې د شیطاني خوب لیدلو په سبب، ابراهیمؑ په نورد نبوت دی وپېژندی چې شیطان دی، نو یې ورته وویل الیک عني یا عدو الله (ګوښه سه زما څخه ای دښمنه د خدایؑ) زه به حتمًا پر ځای کوم ما امر ربي یعني في المنام چې ذبح د زوی ده، فرجع ابلیس په خپل غم کې ډوب چې له ابراهیمؑ او آل څخه مې څه لاس ته رانغله من اضلالهم لانهم کلهم امتنعوا من اطاعته بعون الله ﷻ.

وَنَادَيْنَاهُ أَنْ يَا إِبْرَاهِيمُ ۝ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا

او موږ وو ورناړې کړې.

پوه سه: چې نداء کونکی که څه هم ملکه وه یعني جبرئیلؑ غالبًا لکن چونکه نداء د ملکي په امر د خدایؑ وه، نو ځکه خدایؑ نسبت د نداء و ځان ته وکړی، بغويؒ وایي چې واو زائد دی نادیناه جواب د لما دی في قوله تعالی: فلما تله للجبین آه، او مظهريؒ وایي چې واو لپاره د عطف دی پر جواب د لما چې محذوف دی، والتقدیر فلما اسلما وتله للجبین منعنا عنه الذبح (دا جواب محذوف د لما دی) ونادینا آه، او قاضي ناصر الدین البیضاويؒ وایي چې جواب د لما محذوف دی تقدیره فلما اسلماه آه کان ماکان (یعني تاسي یې قصه واورېدل) چې فما ینطق به الحال ولا یحیط به المقال، آه، اشاره هغه د مخه حالاتو ته د ابراهیمؑ او د زوی چې تاسي مفصلاً واورېدل.

(ان یا ابراهیم) دا جمله بیان او تفسیر دی د نادینا (قد صدقت الرؤیا) تا رښتیا کړی خپل خوب یعني ته په خوب کې امر سوی وې یعني په ذبح اسماعیلؑ.

سوال: اسماعیلؑ خو ذبح نه سو؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: د ابراهیم ؑ په قدرت چې پوره وه هغه کار ونه خو یې تهول وکړه کما مر تفصیله، والمقصود من التکلیف ای بذبح الولد هو الابتلاء والامتحان حسب المقدور لاغیره یعني نه حقیقة الذبح واراقة الدم، کریمه: لایکلف الله نفسًا الا وسعها، او بعض مفسرین وایي چې ابراهیم ؑ په خوب کې صرف دا لیدلي وه چې زه چاره پر حلق د اسماعیل لپاره د ذبح کشوم، وقد اتی به (هغه ده وکړه) ولم یر فی المنام اراقة الدم و جریانه، وعلی هذا قد صدقت محمول علی الحقیقة ولاحاجة الی حمل الآیة علی ترتیب المقدمات الذبح فافهم.

سوال: پر درپیم تقدیر باندې خو حقیقت ذبح د ولد چې معنی یې اراقة الدم ده پر ابراهیم ؑ نه ؤ واجب بل امرار السکین علی حلق اسماعیل ؑ حسب ما راء فی المنام، فما معنی قوله تعالی وفدیناه کما سیئاتي لان الفداء بالذبح کما سیئاتي لایکون الا بعد وجوب الذبح حقیقة علی ابراهیم ؑ ولم یکن کذالک کما هو معنی التقدیر الثالث؟

ځواب: معالجة الذبح چې تېرول د چرې پر حلق د اسماعیل ؑ کما مارئ فی المنام خو پرده واجب وه اصالة یعني بصریح النص علی التقدیر الثالث، نو خودي ذبح هم واجب وه بدلالة النص ولي د تېرولو سره د تېرې چارې پر حلق د بشر اراقة د دم لازم دی عادةً وان لم یقع لمانع القدرة الالهیة، فصح اطلاق د نداء علیه کویا حقیقة ذبح منسوخ قبل القدرة علی اتیانه سوه لکه چې په بخاري وغیره کې راغلي چې پر علیه الصلوة والسلام او پر امت دده په شپه د معراج پنځوس لمونځونه خدای ؑ په شبانه روز کې فرض کړه لکن په هدایت د موسی ؑ چې ده مبارک ته یې وویل چې پنځوس لمونځونه په شبانه روز کې بېخي ډېر دي ورسه د خدای ؑ څخه طلب او سوال د تخفیف وکړه ثم وثم وثم حتی اخیري پنځو لمونځو ته راورسېدل او پنځه ځلو پښت منسوخ سوه قبل الاتیان بها.

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١٠٥﴾

موږ داغسي جزاء ورکوو د محسنین او مخلصینو ته، په عمل کې دا د آیت بیان د علت دی د دفع د شدت في التکلیف له ابراهیم ؑ او زوی څخه په سبب د اخلاص کامل دده او صبر جمیل د ذوی پر اتیان د مامور به، یعني عفوه د حقیقت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذبح د ولد ابراهیم ؑ ته په سبب د اقدام دده پر حقیقت ذبح چي تهیه د اسبابو یې وکړه په لوی زړه سره، او ثواب د حقیقت ذبح وده ته منظور سو په لوی دربار کي زما وفضلناه بذالک علی العالمین، او په بعضو روایاتو کي راغلي دي چي د خلیل الرحمن لقب یې هم په غه موضوع کي ورکړه سو.

اِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْبَلٰٓؤُا الْمُبِيْنُ ﴿۱۰۶﴾

دغه امر په ذبح سره د ولد اختبار او امتحان ؤ ظاهر چي مخلص د غیره سره په معلوم سو او یا صعوبة او محنت بنکاره ؤ چي تر دې لوی صعوبت تصور یې نه کیږي، او بعض مفسرین وایي چي مراد له بلا څخه نعمت دی لان لفظ البلاء من الاضداد، مراد له نعمت څخه فدی ابنه بالکبش انتهی لیس بشیئ لان الفداء المذکور غیر مذکور قبل هذا بل بعده فکیف یصح الاشارة بهذا وکیف یصح ارجاع الضمیر الیه فافهم.

وَفَدَيْنٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۰۷﴾

دا جمله عطف ده پر نادینا، په روایت کي راغلي دي چي ابراهیم ؑ چي هغه نداء واورېدل د اسمان و خواته یې وکتل جبرئیل ؑ سره دیو نر مړ اقرن یعني بنکرور بور رنګه پسه، وقال جبرئیل ؑ هذا فداء ابنک فاذبحه په حضور کي د اسماعیل ؑ فکبر جبرئیل ؑ الله اکبر وکبر الکبش وکبر ابراهیم ؑ وکبر ابنه، فاخذ ابراهیم ؑ الکبش واتی المنحر من منی فذبحه.

دروښ وایي: چي حقیقت د (فدیناه بذبح عظیم) داغه دی چي موږ بیان کړی لکن د دې قصې کونکي امامان داسي وایي چي ابراهیم ؑ چي دوه واړه چاړه پر د اسماعیل ؑ پر حلق تېره کړه دی نسو ذبح اخیریې پرې مخي پرې ایستی کمامر، نو یې چاړه بنه نوره پسي تېره کړه او چاړه یې په دواړو لاسو ونیول او سترګي یې پټي کړې په خپل قوت یې د اسماعیل ؑ پر غاړه چاړه کښول، نو په دې وخت چي جبرئیل ؑ پسه راوستی اسماعیل ؑ یې ګوښه کړی پسه یې تر چړې لاندي کړی، امامان وایي چي ابراهیم ؑ خو سترګي پټي کړي وې او چاړه چي یې په دواړو لاسو د پسه پر غاړه کش کړه د وینو بڼهار یې تر غوږ سو، دده ګمان دا ؤ چي دا وینه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسماعیل څخه روانه ده، نو یې چاړه وغورځول او ابراهیمؑ لویه ناره وکړه پر مځکه غځار سو بیهوشه سو، اسماعیلؑ ورته راولاړ سو د پلار سر یې راپورته کړی پر خپل ورانه یې کښېښو او پیوسته یې دا ناري پر وهلې چې پلار جانه زه نه یم ذبح سوی بلکې یو پسه ذبح سو، یو ګړی وروسته چې ابراهیمؑ په هوش کې راغلی چې وه یې کتل زوی یې ورته ناست دی پسه یې ذبح ولیدی، نو حمد د خدایؑ یې ووایه، دا قصه ټوله درواغ ده.

پوښتنه: فدیه خو ابراهیمؑ ذبح کړه او په قرآن کې وفدیناه نسبت یې خدایؑ و ځان ته وکړی یعنې وفدیناه؟

ځواب: نسبت په دې خدای ﷻ ځان ته وکړی لان الله المعطي له والآمر به یعنې دا اسناد مجازي دی، قاله المظهريؒ، ذبح په معنی د مذبوح ده.

(عظیم) یعنې په بدل کې غټ ؤ او ډېر چاغ ؤ، یا عظیم القدر ؤ په ثواب کې، او حسین بن فضل وایي چې عظیم یې په دې سبب وباله چې من عند الله ؤ، او مجاهد وایي چې متقبل عند الله ؤ، بغویؒ وایي چې مفسرین وایي چې دا مېږه په جنت کې څلوېښت کاله تېر کړي وه، او مظهري او روح البیان وایي چې سعید بن جبیر له ابن عباسؓ څخه داسې روایت کړی دی چې دا مېږ چې ابراهیمؑ ذبح کړی هغه پسه ؤ چې ابن آدم هابیل ذبح کړی ؤ انتهی.

دروښ وایي: چې هابیل په مقابل کې د قابیل چې دده ورور ؤ هغه د اسمانه اور راغلی او د هابیل قرباني یې وسوځل او د قابیل دا یې ونه سوځل چې په هغه زمانه کې د خیرات د قبولیت علامه وه، نو هغه پسه بیا څرنګه راوړل سو چې ابراهیمؑ ذبح کړی؟ روح البیان ددې سوال په ځواب کې یوه توجیه کړې ده تاسې یې وګورئ، ہماری سمجھ میں تو نہیں آتا ہے۔

مسئله: حنیفیه په دغه آیت سره دلیل وایي چې که چا پر ځان نذر کړی چې زه به زوی ذبح کوم، وذبح شاة، قیاس خو ددې تقاضا کوي چې هیڅ شی نه پر لازم ږي لانه نذر بالمعصیة، قاله المظهري، او قیاس ته امام ابو یوسفؒ چې شاګرد د امام اعظمؒ دی تګ کړی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: دا روایت چې دا پسه هغه پسه ؤ چې هابیل د آدم علیه السلام زوی ذبح کړی ؤ روح المعاني هم راوړی دی، لکن سوال او جواب ته یې اشاره نه ده کړې، والله اعلم.

وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ ﴿١٠٨﴾

عطف دی پر صدر د قصې د ابراهیم یعني جاء ربه بقلب سلیم، او ضمیر د علیه و ابراهیم ته راجع دی، یعني موږ پرې ایښې ده پر ابراهیم (في الآخرین) یعني ثناء او صفت او ذکر حسن دده په وروسته امتو کې.

سوال: معفول یعني ثناء او ذکر حسن یې ولې حذف کړی؟

ځواب: سیاق د کلام دلالت پر کوي.

سَلَامٌ عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ ﴿١٠٩﴾ كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١١٠﴾

سلام دي وي پر ابراهیم ای سلام من الله تعالی، داغسي ثواب او جزاء موږ ورکوو محسنینو ته وقد مر معناه.

إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿١١١﴾

دی زموږ د بنده ګانو مؤمنانو څخه دی ای بالایمان الکامل خص الایمان بالذکر لانه رأس الحسنات.

وَبَشَّرْنَاهُ بِإِسْحَاقَ نَبِيًّا مِّنَ الصَّالِحِينَ ﴿١١٢﴾

موږ ده ته یعني ابراهیم ته زېرى وکړی (یعني ملکو زېرى پرو کړی په امر زما ولهذا نسب الله البشارة الى نفسه) په اسحاق سره یعني زوی به وي او نوم به یې اسحاق وي.

بوه سه: اسحاق د ابراهیم زوی دی د سارة له بطن څخه، چې تر دغه وخته سارة پرځان د (عقیم) وچې خیال کاوه، دا زېرى داسي وخت وسو چې ابراهیم د یوسل اوشلو (۱۲۰) کالو په شاوخوا کې ؤ او سارة د نیوي (۹۰) کالو په شاوخوا کې وه.

درویش وایي: چې ددې بشارت ټوله قصه په اوږد تفصیل سره ده، خو بیا هم علماء وایي ما لایدرک کله لایترک کله، نو د متعلمینو لپاره یې اجمالي قصه دا ده چې خدای په مشرى د جبرئیل څو ملکي (والله اعلم بعدده) لپاره د اهلاک د قوم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لوط را استولي وې او ضمنًا يې بشارت د اسحاق بن ابراهيمؑ ورته سپارلی ؤ. نو ملکي په بڼه د رجالو وې چې د ابراهيمؑ کورته ورغلې (نو ابراهيمؑ ورته وويل) انکم قوم منکرون يعني تاسي ځرنګه نابلده مهمانان ياست چې د سفر هيڅ نښې نښانې نه دي درپکښې او نه ددې ديار خلګ ياست (يعني د ابراهيمؑ ګمان د غلو پر راغلی) ملکو ورته وويل انا رسل ربک چې تاته زېرى د زوى وکړو، وروسته ځو قوم لوط ته چې پر هغو عذاب استيصال نازل کړو، سارهؓ په دروازه کې ولاړه وه وه يې خندل يعني د تعجب د لاري پر بشارت د زوى او وه يې ويل ابشرتموني علی ما مسنی الکبر (تاسي زېرى راته کوئ وروسته تر دې چې د سپين سر تو ب زمانې ته ورسېدم) وهذا بعلي شيخًا دامي خاوند دى يعني چې ډېر عمر رسيده دى فېم تبشروني (تاسي داڅه عادت خلاف زېرى راته وکړى) ملکو وويل هو علی الله هينّ (د اولادت خلاف العادة خداى ځته اسانه دى الى اخير القصة.

سوال: اسحاق خو په وخت د ولادت نبي نه ؤ؟

ځواب: نعم! دې ته حال مقدره په اصطلاح وايي والمعنى مقضيًا ومقدرًا نبوته کما في آية اخرٰى لبيان حال الکفار وقت دخولهم جهنم فادخلوها خالدين، نو دلته خو هم خلود په وخت د ابتدائي دخول نسته بلکې وروسته دى، نو مفسرين هورې هم داسي ترجمه کوي مقدرين خلود کم فيها.

(من الصالحين) اى مقضيًا ومقدرًا کونه من الصالحين، نو په دې اعتبار نبيًا او من الصالحين چې دواړه حال دي له اسحٰقؑ ځخه صحيح دى.

سوال: مبشر به چې اسحٰقؑ دى په وخت کې د زېرې خو موجود نه ؤ او سره ددې چې په نحو کې وايي زمانه د حال او د عامل د ذى الحال به يوه وي (يعني ذوالحال چې اسحٰقؑ دى چې تر اوسه موجود نه دى او عامل يې بشرناه دى چې هغه بالفعل موجود دى فاين المقارنة)؟

ځواب: حاصل د جواب دادى چې د اسحٰقؑ سره مقارنت د تقدير د نبوت دده او د تقدير د کونه من الصالحين کافي دى په صحت کې د حاليت فتدبر ليکون ذوقيًا لک ولاتکون من المنکرين لذالک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې بعض مفسران چې تېر سوي جواب ته يې فکر سوي نه وه، نو د دفع د سوال مذکور يې مضاف مقدر عامل په دواړو کې ګرځولي دي يعني وبشرناه بوجود اسحاق (لفظ د وجود مضاف عامل مقدر دی) وبين ذالک المفسر ای بان يوجد اسحقؑ ونبيًا من الصالحين.

وَبٰرَكْنَا عَلَيْهِ وَعَلٰٓى اِسْحٰقَ

ای علی ابراهيم ای قضينا علی ابراهيم برکات الدين والدنيا او برکت مو ورکړی دی و اسحقؑ ته چې زر انبياء ددې له نسل څخه خدای ﷻ پيدا کړه چې اول يې يعقوبؑ ؤ چې اسرائيل يې لقب ؤ يعني عبدالله چې د ټولو انبياؤ د بني اسرائيلو منتهی د نسب يې يعقوب دی. او اخيری نبي يې عيسیٰؑ دی.

وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ وَّظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ مُبِيْنٌ ۝

او بعض د اولاد د ابراهيم او اسحاق نېک عمله دي (او يا معنی داده چې د خپل ځان سره ښه کوي بالايمان والطاعة) او بعض يې ظالمان دي پر خپلو ځانو بالکفر والمعاصي. د مبين معنی داده چې ظاهر ظلمه، له دې آيت څخه دا معلومه سوه چې نسب لره تاثير په هدايت کې نسته... بيت:

پسر نوحؑ بابدان بنشت.... خانه نبوتش گم شد

او نه په ضلال کې نسب لره دخل سته.

مصرع: .... گل از خارست ابراهيمؑ زآذر

فائده: په ضلال او کفر کې د نسل ضرر نسته و اصل ته، کريمه: ولاتذر ازرة وزر اخرٰی، نو د يهودانو د عصر نبويؐ چې فخر به يې کاوه چې موږ چې موږ اولاد د انبياء يو موږ چې هرڅه معاصي وکړو دوی زموږ شفاعت کوي، نو ځکه رسول الله ﷺ بني هاشمو ته دا وينا وکړه: يا بني هاشم لايأتيني الناس باعمالهم (ای الحسنة) وتأتوني بانسابکم.... يو شاعر وايي:

اتفخر باتصالک بعلي ..... واصل البولة الماء القراع

وليس بنافع نسب زکي ..... تدنسه صنائعک القباح

او بل شاعر په فارسي ژبه وايي:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اصل را اعتبار چندان نیست ..... روی همچو ورد خندان نیست
می زغوره شود شکر از نی ..... عسل از نحل حالست بقیٔ

درویش وایي: چي قصه د ابراهیم علی نبینا و علیه الصلوة والسلام پای ته ورسېدل، ورځ دوشنبه اتلس د ذوی القعدة الحرام سنه (۱۴۳۱) هجري قمري.

وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ۝

په تحقیق موږ احسان وکړی (بالنبوة وغیرها من المنافع الدینیة والدنیویة. دا جمله عطف ده پر وقد نادانا نوح) پر موسیٰ او هارون چي دواړه سکه وروڼه وه هارون پر موسیٰ مشر ؤ.

وَنَجَّيْنٰهُمَا وَقَوْمَهُمَا مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ۝

او موږ نجات ورکړی دوی دوو ته او ددوی قوم ته (چي بني اسرائیل وه) له غم څخه چي لوی یعني د فرعون او د قوم له خوا څخه چي قبط وه پر دوی تپل سوی ؤ کما مر یسومهم سوء العذاب یذبحون ابنائهم الخ.

وَنَصَرْنٰهُمْ فَكَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ۝

موږ کومک ورکړی موسیٰ او قوم ته ددې، نو سوه موسیٰ او قوم ددې په نصرت د خدای پر فرعون او قوم ددې یعني فرعون او قوم ددې ټوله په دریاب کي غرق سوه.

وَاٰتَيْنٰهُمَا الْكِتٰبَ الْمُسْتَبِيْنَ ۝ وَهَدَيْنٰهُمَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۝

او ورکړی موږ دوی دوو ته کتاب چي تورات ؤ چي ښه بیانونکی د احکامو او د شرائعو د خدای ؤ، او هدایت وکړی موږ دوی دوو ته د هغې لاري چي موصل و خدای ته او صواب ته ده في کل باب.

وَتَرَكْنَا عَلَيْهِمَا فِي الْاٰخِرِيْنَ ۝ سَلٰمٌ عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ۝

موږ پریښو د دوی ذکر حسن په وروسته امتو کي کما مر مثل ذالک، سلام دي وي د ملکو او مؤمنانو، وقیل من الله پر موسیٰ او هارون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿١٠٥﴾ إِنَّهُمَا مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٦﴾

مونږ دغسي ثواب ورکوو محسنانو بندګانو ته (وقد مر مثله فتذکر) په دې آیت کې اشاره ودې ته ده چې طریقه د احسان هو الایمان، نو ایمان مرتبة الغیب ده او احسان مرتبة المشاهدة ده.

وَإِنَّ إِلْيَاسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٢٣﴾

عطف دی علی قد منّا، مظهري وایي چې د عبدالله بن مسعود ؓ روایت دی ان الیاس هو ادریس وفي مصحفه یعني د ابن مسعود ؓ ان ادریس لمن المرسلین، وقال الآخرون هو نبي من انبیاء بني اسرائیل قال ابن عباس ؓ هو ابن عم الیسع محمد بن اسحٰق نسب داسي بیان کړی دی هو الیاس بن بشر بن فنحاس بن عیزار بن هارون بن عمران وهو من سبط هارون اخی موسیٰ ؑ وهذا هو المشهور وعلیه الجمهور، او روح البیان ویلي دي چې په بعض معتبرو تاریخو کې راغلي دي چې موجود له انبیاؤ علیهم السلام څخه په خپلو ابدانو عنصریه سره څلور کسه دي دوه په اسمان کې دي چې ادریس او عیسیٰ ؑ دي، او دوه په مځکه کې دي چې خضر او الیاس ؑ دي، نو بناء علی هذا ادریس او الیاس دوه کسه دي من حیث التشخص، او بعض علماء وایي چې یو له هغو څخه احمد بن حنبل ؒ دی صاحب المذهب چې ادریس یعني اخلوخ بن متوشلخ بن لمک کان قبل نوح ؑ، نو هغه خبره چې دی له انبیاؤ څخه د بني اسرائیلو او سلسله د نسب یې و هارون علیه السلام ته رسولې ده، د احمد بن حنبل ؒ په نښه نه ده صحیح، والله اعلم.

دروښ وایي: چې دا یوه مجمع علیه خبره ده، یعني مظهري، روح المعاني، روح البیان او نورو تفسیرو راوړې ده چې بعل د یوبت نوم ؤ چې طول یې شل ګزه ؤ او څلور مخه یې درلوده، او روح المعاني ویلي دي چې د سرو زرو ؤ، رواه عن الضحاک وابن زید والحسن، او دې بت ته دوی څلور سوه (۴۰۰) خادمان مقرر وه او دا څلور سوه کسه د بعل چې دوی خدای باله انبیاء یې بوللل او شیطان په بعل ننوتی او د ضلالت خبري به یې کولې او خادمانو چې څلور سوه کسه وه و خلګو ته بې هغه د ضلالت لار بیانول.

دروښ وایي: چې مظهري ؒ دا قصه په اتم مخ کې د خپل تفسیر راوړې ده، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حیرت انګیزه خبري یې پکښې راوړي دي، یوې واقعې ته یې تاسي غوږ ونسئ، دی وایي چې الیاس ؑ دغو بت فرستانو ته نبي استول سوی ؤ، د هغه وخت د باچا نوم آجب ؤ او د هغه مینه ازبیل نومیده، کانت قاتلة الانبیاء، یحییٰ او زکریا ؑ هم دې وژلي دي، او دا په نفس کې محصنه نه ده یعني زانیه وه، او دې د اوو بادشاهانو سره نکاح کړې وه یعني د بني اسرائیلو بادشاهان او هغه ټوله دې ازبیل وژلي وه بالاغتیال یعني یا په زهرو یا به یې نابیره چې هغه به بیده وه پر سر به یې په لوډه بره وویشتی الی غیر ذالک، او په دغه وخت کې دا د آجب مینه پخه بنځه وه او دا ازبیل اوویا (۷۰) واړه لنګه سوې وه.

دروښ وایي: چې نوري ورته واقعې مظهري ؒ په طول کې د دې قصې راوړي دي چې هیڅ کتاب ته یې حواله هم نه ده کړې، پښتانه وایي: د مرچو د کراره یې اتکل کړه، او فارسي زبان خلګ وایي: مشت نمونه خروار، د فقیر مطلب دادی چې هغه نوادري چې مظهري کړي دي پر مذکوره نادره یې قیاس کړئ، والله اعلم بصحتها وعدمها.

پوه سه: چې طبري وایي چې الیاس له سبط څخه د هارون دی او بیهقي وایي چې له سبط څخه د یوشع بن نون دی، وهب بن منبه ؒ وایي چې الیاس ؑ ته خدای ﷻ ډیر دراز عمر ورکړی دی لکه د خضر ؑ تر فناء پورې د دنیا، واخرج ابن عساکر عن الحسن چې الیاس پر بیابانو او بښارو او قریو مقرر دی تر قیامته، او خضر ؑ پر دریابو او جزیرو کارفرما دی، او دوی دوه په موسم کې د حج سره جمع کیږي، او حدیث د اجتماع دوی دوو مع النبي ﷺ في بعض الاسفار واکل معهما من مائدة نزلت علیها علیهما الصلوة والسلام من السماء هي ای المائدة خبز وحوت وصلاتهما العصر معًا ای مع النبي ﷺ، رواه الحاکم عن انس ؓ، دا حدیث بیهقي ؒ ضعیف ګڼلی دی، او امام الذهبي ؒ چې امام د جرح او تعدیل دی وایي چې دا حدیث موضوعي دی قبح الله من وضعه.

سوال: حاکم ؒ دغه حدیث صحیح بللی دی، نو څرنګه ذهبي ؒ یې موضوع بولي؟

ځواب: ذهبي ؒ وایي ما کنت احسب ان الجهل یبلغ بالحاکم الی ان یصح هذا الحدیث، انتهی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾

روح المعاني وايي چي مشهور روايت په الياس کي دادی چي دی د بني اسرائيلو له سبط څخه وُ، څه وخت چي يوشع بن نون چي شام فتح کړی. نو دغه سبط يې د بعلبک په بنار کي ځای پر ځای کړ (د اذ عامل اذکر دی چي مقدر دی)

أَتَدْعُونَ بَعْلًا وَتَذَرُونَ أَحْسَنَ الْخَالِقِينَ ﴿١٢٥﴾

آيا تاسي عبادت کوئ (همزه لپاره د استفهام انکاري دی) د بعل (چي د يو غټ بت نوم دی چي بيان يې د مخه تېر سو) او تاسي پرې ايښی دی عبادت د احسن الخالقين.

پوه سه: چي په عبارت کي مضاف محذوف دی يعني لفظ د عبادت کما اشرنا اليه في ترجمة الآية، يا مضاف دادی طلب جميع حاجاتكم منه ﷻ.

سوال: خالق خو يوازي خدای ﷻ دی، د جمعيت د خالقين څه معنی ده؟

ځواب: روح المعاني وايي چي مراد له خالق څخه من ما يطلق عليه الخالق يعني سواء كان مجازًا او كسبًا وله الاعتبار افراد كثيرة، لان الخلق يستعمل بمعنى التقدير اى الاراد والتصوير، او مخصوص په خدای ﷻ پوري خلق په معنی د ايجاد او اختراع دی فافهم.

اللَّهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ آبَائِكُمُ الْأَوَّلِينَ ﴿١٢٦﴾ فَكَذَّبُوهُ فَإِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴿١٢٧﴾

او خاص الله ستاسي پالونکی دی او پالونکی دی ستاسي د پلرو چي د مخه تېر سوي دي، دوی د تکذيب د الياس ؑ وکړی، نو دوی به حاضر کړل سي يعني په عذاب کي به ورځ د قيامت.

پوه سه: چي نصب د لفظ د الله او د رب مبنی پر دې دی چي بدل دی له احسن څخه.

فائده: د عذاب لفظ يې نه ووايه په قهر نه د مقام چي د کفارو بيان دی. او بعض علماء وايي چي احضار په عرف کي احضار ته د شر وايي.

إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿١٢٨﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْآخِرِينَ ﴿١٢٩﴾

استثناء له فاعل څخه د كذبوه، يعني تكذيب دده يې ونه کړی بنده ګانو د خدای ﷻ چي څانونه يې خالص لپاره د عبادت د خدای ﷻ کړ ځولي وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: اشتثنا، يې د لمحضرون څخه نه سي صحيح کيداى، ولي چې معنى يې فاسد پرې، ولې چې عباد مخلصين څو محضرون في العذاب نه دي.

سَلٰمٌ عَلٰٓى اِلْ يَاسِيْنَ ﴿۱۳۰﴾

پوه سه: چې د نبي نوم که څه هم الياس ؑ دى، لكن بل لغت دى په الياس کې لکه سيناء و سينين و اسماعيل و سمعين و ميكائيل و ميكائين، او فراء ؒ وايي چې مراد له الياسين څخه الياس او اتباع دده دي من المؤمنين، نو لکه اشعريين چې امام اشعري او دده و اتباع ته د مذهب وايي.

اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۳۱﴾ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۳۲﴾

قد مر مثل هذه العبارة مع الترجمة مرارًا.

دروښ وايي: چې مظهري ؒ پر هغه توجيه چې د الياسين څخه الياس او دده اتباع مراد وي رد کړى دى، چې علم چې جمع سي تعريف باللام غواړي لکه الاشعريين عوضًا عما فاته من العلمية.

دروښ وايي: چې که څه هم ابن حاجب ؒ دا خبره په شرح کې د مفصل کړې ده لكن دا خبره اتفاقي نه ده، ولې چې ابن يعيش په شرح کې د مفصل وايي يجوز استعماله نكرة بعد التثنية والجمع نحو زيدان كريمان وزيدون كريمون وهو مختار الشيخ عبد القاهر كذا في روح المعاني.

فائده: د څو آياتو په اخير کې خداى ﷻ د انبياء عليهم السلام په اخير کې د وصف دغه عبارت ويلى دى انه من عبادنا المؤمنين، په دې عبارت کې اضافت د عباد و ځان ته ډېر لوى نعمت دى كما قال الشاعر:

اگر بنده خويش خوانى مرا ..... به از مملكت جاودانى مرا

شهانى كه بابخت فرخنده اند ..... همه بندگان ترا بنده اند

د عارف بالله بايزيد بسطامي قدس سره وايي چې زه د حساب څخه د ورځې حساب نه پيرېږم، ولې که د حساب په جريان کې يو وار خداى ﷻ ماته وويل: يا عبدي د بايزيد دغه عبارت او اضافت كافي دى.. بيت:

آنان كه زره وار بصورت محقراند ..... فردا ز خيان وناز بفردوس ننگرند

يعني د خداى څخه خداى غواړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: اخیر کار د قوم د الیاس علیه السلام په دنیا کي څرنګه سو او کم عذاب پر نازل سو او که څرنګه؟

ځواب: په دې باره کي روح المعاني او بیضاوي خو مفصل بیان نه دی کړی او روح البیان او مظهري ډېر اوږد بیان کړی دی چې د فهم سره د متعلمینو د تفسیر مناسب نه دی یعني تر فهم د هغو لوړ دی د دې سببه دروېش یې نقل نه وکړی. والله اعلم وعلمه اتم واحکم.

وَاِنَّ لُوْطًا لَّمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ۝

پوه سه: چې لوط علیه السلام زوی د هاران دی چې هغه ورور د ابراهیم خلیل الرحمن علیه السلام او نو لوط علیه السلام د ابراهیم علیه السلام وراره ؤ، دی را استول سوی ؤ د خدای ﷻ له خوا څخه و خپل قوم ته چې اهل سدوم وه چې یو بنارد قوم لوط ؤ، او دوی یې تکذیب وکړی او اراده دده د قتل یې هم وکړه.

اِذْ نَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗۤ اَجْمَعِيْنَ ۝ اِلَّا عَجُوْزًا فِي الْغٰبِرِيْنَ ۝

مونږ ده او دده اهل ته نجات ورکړی یعني له هغه عذابه چې پر قوم یې نازل سو، مګر یوه عمر رسیده سپین سرې (چې د لوط علیه السلام ماینه وه او کافره وه، او د لوط د قوم پر لواطت د مهمانانو سره د لوط دا همکاره وه)

ثُمَّ دَمَّرْنَا الْاٰخَرِيْنَ ۝

او بیا یعني وروسته تر وتلو د لوط او دده د اهل د سدوم څخه نور قوم دده چې کافران وه مونږ هلاک کړل.

دروېش وایي: چې د لوط علیه السلام او د اهلاک د قوم دده قصه ډېره اوږده وه چې په بل ځای کي د قرآن مفصل راغلي وه.

وَاِنَّكُمْ لَتَمُرُّوْنَ عَلَيْهِمْ مُّصْبِحِيْنَ ۝ وَبِالَّيْلِ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝

یعني ای اهل مکة تاسي د دوی پر کنډوالو چې تاسي په سفر شام ته ځئ فان سدوم واقع في طریق الشام، یعني په سهار کي داخلېږي، دا لفظ حال دی له ضمیر څخه د تمرون (وبالليل) یعني ګاه د شپې تېرېږئ.

فائده: د سدوم خرابه بنار و ځای ته د نزول د مسافرانو د شام ذهابا و ایابا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نژدې دی، نو بعض مسافر چې له شام څخه راهي سوي وي، صباحًا دوی ته را رسېږي وبالعکس (افلا تعقلون) آیات تاسي اهل مکه عقل نه لرئ چې له کنډوالو څخه د قوم عبرت واخلئ... بیت:

پند گیر از مصائب دیگران..... تا نگیرند دیگران ز تو پند

وَاِنَّ یُوْنُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِیْنَ ۝

پوه سه: چې یونس د متی بتشدید الیاء، څوک وایي د پلار نوم یې ؤ وهو الاصح او څوک وایي د مور نوم یې ؤ، مورِ اول اصح وبالهٔ ولي چې نبي مور ته نه دی منسوب سوی الا عیسیٰ بن مریم ؑ، او یونس ؑ له اولاد څخه د هود ؑ ؤ، ذوالنون او صاحب الحوت هم دی دی چې ماهي تېر کړی ؤ (لمن المرسلین) الی بقیة ثمود چې د نینوی (بکسر النون الاول وفتح الثاني) په وطن کي استوګنه کول، راوي وایي چې یونس ؑ چې یې نبي را واستاوه ده قوم ته دعوت د توحید ورکړی څلوېښت (۴۰) کاله، وکانوا یعبدون الاصنام، نو قوم یې تکذیب وکړی او خپل بت پرستی ته یې دوام ورکړی، نو یونس ؑ ددوی څخه ووتی او قوم ته یې وعده د نزول عذاب ورکړه درې ورځي وروسته، او بعض رواة وایي چې څلوېښت ورځي وروسته، والاول هو الاشهر، نو قوم ته دده چې علامې د عذاب ښکاره سوې یعني پر اسمان تورہ وریځ پیدا سوه سره د دخان شدید، کرار کرار وریځ سره د دوده راکښته کېدل تاچې دوی په لېټ کي راولي (یعني دوی را ونغاړي) فقط یو میل مسافت پاته ؤ، نو دوی شروع په دعاء او تضرع او د شرک څخه یې توبه وکښل او دوی و صحراء ته ووتل ښځي او شیرخواره لولاد یې سره جلا کړه تاچې موریې هم ژاړي او طفل یې هم او دغه رانګه د نورو حیواناتو ښځي او اولاد یې سره جلا کړه حتی چې د انسانانو او حیواناتو بغاري تر اسمانه پورې تقریبًا ورسېدې او دوی په خپله زېره کالي اغوستي وه او دلآ اله الا الله یونس نبي الله خدای ﷻ ته یې توبه وکړه او عذاب پورته سو، نو وریځ او دود له منځه ولاړه..... بیت:

چون فرود آید بلا بی دافعی ..... جز تضرع نبود دیگر مانعی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او یونس ؑ په یو غره کي پټ ؤ او انتظار ددوی د هلاک یې کاوه چي ما ښام له یو سړي څخه چي په غره کي یې بتي تولول پوښتنه وکړه کیف کان حال قومي؟ هغه ورته وویل چي سالمون وبخیر وعافیة سره وه، نو یونس ؑ د ځان سره فکر وواهه چي زه به څرنګه وهغوته یعني قوم ته ورځم، دوی به وایي چي تا ولي دروغ موږ ته ویل چي پر تاسي عذاب نازلیږي، نو ده انتظار د وحي ونه کړی او مخ یې ونیوی د دریاب پر خوا، وذالک قوله تعالی:

إِذْ أَبَقَ إِلَى الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ ﴿١٤٠﴾

چي دی وتښتېدی

سوال: تښتته ودې ته وایي په عرف کي چي مریی له باداره وتښتي، نو دلته د دغه اسناد د اباق و یونس ؑ ته به څرنګه وي؟

ځواب: یونس ؑ له قوم څخه ولاړی کمامر، لکن چونکه دا تګ دده پیله اجازې د رب د یونس ؤ، حسن اطلاق هذا اللفظ علیه.

ترجمه: یونس ؑ وتښتېدی د کښتی پر لور چي ډکه وه د خلګو څخه او ددوی د مالو څخه، راوي وایي چي کښتی چي حرکت وکړی ودرېده، نو کښتی چلونکو آب بازانو وویل چي زموږ د کښتی دا عادت دی چي عبد آبق من المولی چي پکښي سپور وي حرکت نه کوي هیڅ چا ډغ نه وکړی چي زه عبد آبق یم من المولی. اتفاق یې پر دې وکړی چي قرعه اندازي به سره وکړو، نو قرعه پر یونس ؑ وختل. بعض روات وایي چي درې واره یې قرعه استعمال کړه هر واره به قرعه پر یونس تپه سوه. فقال یونس ان العبد الآبق من المولی، ورمی نفسه سره د کالوا الی البحر، وهذا معنی قوله تعالی:

فَسَاهَمَ فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِينَ ﴿١٤١﴾

قرعه اندازي یې وکړه (کمامر) ای المغلوبین في القرعة.

دروښ وایي: چي بغوي ؒ یو روایت راوړی دی چي مظهري رانقل کړی دی، وایي چي یونس ؑ چي له قوم څخه د فرار نیت وکړی دده سر دوه زامن او مایني هم درسره وه، نو یو کښتی راغله د یونس ؑ دا اراده وه چي پکښي سپور سي مایني یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تلوار وکړی چې په کښتۍ کې سپر دسي، د بلې خوا درياب څپه ووهل ماينه يې په درياب کې غرقه سوه، چونکه دوی د درياب پر غاړه ناست وه بله څپه د درياب راغله هغه مشر زوی يې ځنې يووړی د بلې خوا لپوه راغلی هغه کشر زوی يې ځنې پورته کړی فبقی يعني يونس ؑ فريداً تنها. انتهى كلام البغوي الذي نقله المظهري.

فقير وايي: چې دا قصه په هيڅ تفسير کې او په يو روايت د راويانو نه ده راغلې د پر تلاش مې وکړی، انا لله وانا اليه راجعون، والعلم عند الله العظيم.

فَالْتَقَمَهُ الْحُوتُ وَهُوَ مُلِيمٌ ۝

نو يونس ؑ تېر کړی ماهي.

په روايت کې د قصې راغلي دي چې وروسته تر قرعه کشۍ يونس ؑ د کښتۍ پر طرف ودرېد ی چې ځان درياب ته وغورځوي يو ماهی يې وليدی (چې ددې ماهي نوم ابن ابی حاتم ؒ او نورو راويانو ويلي دي نوم يې نجم ؒ) دې ماهي تر اوبو درې گزه سر دباندې را ايستلی ؒ او خوله يې وازه نيولې وه يعني په انتظار د يونس ؑ ؒ. يونس ؑ ځنې وبېرېدی يعني په دې چې د ماهی خو نو ؒ ما غوښې او هډوکي تولې غذا ده. نو دی بل طرف ته د کښتۍ ولاړی ماهی هغه طرف ته پسې ورغلی. پر دې هيئت يونس ؑ بل طرفته وهکذا شاوخوا يونس ؑ پر کښتۍ گرځېدی ماهی هم ورسره گرځېدی، اخير يونس ؑ په دې پوه سو چې دا ماهی په حکم د خدای ﷻ را روان دی، نو ده ځان اوبو ته غورځاوه ماهي دمخه تر اوبو گوله کړی او تېر يې کړی ماهی د درياب پای ته ولاړی، ماهي ته الهام د خدای ﷻ وسو چې دا يونس ستا غذا نه ده بلکې ستا نس دده لپاره بندي خانه ده.

(وهو مليم) ای داخل في الملامة على ان بناء افعل چې مليم د هغه باب څخه دی للدخول في الشئ، نحو احرم اذا دخل في الحرم او يا معنى دا د آت بما يلام عليه يعني چې فرار يې له قوم څخه بېله اجازې د خدای ﷻ وکړی.

سوال: مجاهد ؒ له ابن عباس ؓ څخه داسي ترجمه د مليم نقل کړې ده ای مسئ و مذنب. نو دا معنى صحيح ده؟

ځواب: دا بيان د حاصل د معنى د مليم ده لان حسنات الابرار سيئات المقربين.

فائده: جمله د وهو مليم د مفعول څخه د التقمه چې ارجع و يونس ؑ ته دی حال ده،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلَوْلَآ اَنَّهٗ كَانَ مِنَ الْمُسَبِّحِيْنَ ﴿۱۴۳﴾

که نه وای یونس، دی ؤ د مسبحین څخه.

درویش وایي: چي روح المعاني یې ترجمه داسي کړې ده ای من الذاکرین الله تعالی کثیرًا بالتسبیح یعني سبحان الله.

درویش وایي: چي مشهور او صحیح تفسیر یې هغه دی چي په قرآن مبارک کي راغلی دی فنادٰی في الظلمات ان لا اله الا انت سبحانک اني کنت من الظالمین، له ابن عباس رضی الله عنهما څخه منقول ده ای من المصلین، وقال وهبؒ من العابدین، وقال الحسنؒ ما کانت له صلوة في بطن الحوت لکن وقد عمل عملاً صالحًا (ای التسبیح والذکر الکثیر) مظهري وایي په رد کي د قول د حسنؒ، قلت ویمکن انیکون هو مصلیًا بالاشارة لکونه حیًا مضیقًا انتهی قول المظهري، دده خیال دادی چي حسنؒ چي نفي د صلوة کړي دي له دې وجهه څخه چي د ماهي په نس کي خو په ولاړه لمونځ نسي کېدای، نو مظهري رد وکړی چي په اشاره به یې کاوه، ولیس المراد الحسنؒ ذالک، ولي چي دومره لوی ماهی ؤ چي یونسؑ یې سره د کالو په ستوني کي تېر کړی، نو نس د دغه ماهي به څومره فراخه ؤ یقینًا په ولاړي لمونځ پکښي کېدای سوای، بلکې الحسنؒ له دې وجهي د صلوة نفي وکړې چي لمونځ کول یې نه دي ثابت او قول د ابن عباس رضی الله عنهما الحسنؒ پر معنی لغوي حمل کړی دی ای الدعاء والتضرع الی الله عزوجل فافهم.

په یوه روایت کي راغلي دي چي یونس علیه السلام په نس کي د ماهي د شګو او ډبرو د دریاب تسبیح واورېدې، نو ده هم تسبیح شروع کړې.

لَلَبِثَ فِيْ بَطْنِهٖٓ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿۱۴۴﴾

دا جواب دی د لولا، ترجمه: نو ده درنګ کړی وای په نس کي د ماهي تر هغه ورځي پوري چي خلګ په نفخه ثانیه سره ژوندي کېدای.

پوه سه: چي د دې آیت قرآني معنی دا نه ده چي یونسؑ تر یوم یبعثون پوري ژوندی د ماهي په نس کي وای بلکې معنی یې داده چي یونسؑ چي پر خپل اجل مړ سوی وای نس د ماهي دده لکه قبر د نورو خلګو وای، او اجزاء دده به د اجزاء سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د ماهي يعني که هغه هم مړ سوی وای کله سوي به وای حيث ماکان في علم الله تعالى الي يوم القيامة لکه د قبرو د انسانانو هډوکي چي خاوري سي او د خاورو سره د مځکي کله سي الى يوم يبعثون.

دروښ وايي: چي په حديث کي راغلي دي چي روايت يې عبد الرزاق او ابن جرير او ابن ابی حاتم او ابن مردويه له انس رضي الله عنه څخه مرفوعًا کړی دی چي يونس عليه السلام چي ماهي تېر کړی او کښته ماهي ولاړی سره د يونس الى ما انتهى من الارض فنادى في الظلمات لا اله الا انت سبحانک اني کنت من الظالمين، دا دده دعاء تر عرشه پورې ورسېدل، نو ملکو د عرش وويل يا ربنا نسمع صوتًا ضعيفًا (مور اورو يو اواز چي ضعيف دی من بلاد غربة د نابلده بنارو څخه) خدای پاک ورته وويل چي پوهېږئ چي دا د چا اواز دی؟ ملکو ورته وويل لا يا ربنا! خدای پاک ورته وويل عبدي يونس، ملکو ورته وويل هغه سړی دی چي همېشه به مور پورته کول دده مقبول عملونه او دده قبول خواستونه؟ خدای پاک ورته وويل نعم! هو هغه سړی دی، ملکو ورته وويل يا ربنا الا ترحم ماکان يصنع في الرخاء وتنجيه في البلاء، قال الله تعالى بلى فامر عز وجل الحوت فلفظه، کما قال الله تعالى:

فَنَبَذْنٰهُ بِالْعَرَآءِ وَهُوَ سَقِيْمٌ ۝

نو وغورځاوه ماهي په امر زمور پر يوه خالي مځکه چي نه ځنګل ؤ او نه درختي پر وې، او دی ناجوړی ؤ غوښي يې سره تويی سوي وې او د ولاړي قوت يې نه درلودی.

اختلاف: په مدت کي د لبث د يونس عليه السلام په نس کي د ماهي: البغوي رحمه الله وايي چي مقاتل بن حبان رحمه الله وايي چي درې ورځي يې د ماهي په نس کي تېري کړي وې، وقال البغوي رحمه الله چي عطاء رحمه الله وايي چي اووه ورځي وې، وقال البغوي رحمه الله چي الضحاک رحمه الله وايي چي شل ورځي د ماهي په نس کي ؤ، او السدي، الکلبي او مقاتل بن سليمان وايي چي څلوېښت ورځي د ماهي په نس کي ؤ، او بغوي رحمه الله له شعبي رحمه الله څخه روايت کړی دی چي د څابښت په وخت کي ماهي تېر کړی او مازديګر يې وغورځاوه.

لکن دروښ وايي چي په معتبراتو کي د تفاسيرو وايي چي يونس عليه السلام پر داسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حال کړځېدلی وٗ لکه کوچنی چې د مور له نسه پیدا سي. قاله ابن عباس ؓ والسدي، او ابن جبیر ؒ وایي چې یونس ؑ چې ماهي وغورځاوه نه یې وپښتان پر بدن وه او نه یې نو کان وه.

درویش وایي: چې له دې څخه دا معلومیږي چې مده د لبث د یونس ؑ دپاره وه. نو بناءً علی هذا دا لنډې لنډې مدې چې په بعض روایاتو کې راغلې قابل د اعتبار نه دي، والله اعلم.

وَأَنْبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً مِّن يَقْطِينٍ ﴿١٤٦﴾

موږ شنه کړه پرده (یعني فوقه) درخته د یقطین.

فائده: یقطین وضع دی لپاره د مفهوم کلي هر هغه نبات ته وایي چې پر مځکه باندې پروت وي لکه هغه درخته چې تنه نه لري لکه خټکی، هندوانه، ژړکډو، بادرنګ، مرغونې، چمبر خیال وغیرها، یقطین اسم جنس دی او یقطینة یې واحدة ته وایي، دلته مستعمل په عرف عام کې په قرع کې چې کډو ته وایي استعمالاً للعام في فرد خاص.

سوال: شجره په لغت کې درختي ته وایي چې تنه نه کوي، نو پر یقطین اطلاق څرنګه وسو؟

ځواب: بعض مفسرین وایي چې خرق العادة یقطین لکه درخته پورته سو او پرده لوړ وغوړېدی، فائده یې داده چې پرده سایه وکړي ولي دده بدن نازل وٗ ګرمي بده پر پرېوتل، او بله فائده یې داده چې یقطین پر بلګو مچ نه کښېني.

درویش وایي: چې دا فضل د خدای ﷻ دی پر خپل دوست، او د یونس ؑ معجزه ده، او بعض مفسرین وایي چې خدای ؒ د یقطین بغل ته درځته چې ساق او تنه یې درلوده پیدا کړه، او یقطین د هغې درختي ته پورته سو او مجموع لکه درخته د یقطین وګرځېدل، او دا هم معجزه د یونس ؑ ګڼل کېږي، په یو روایت کې راغلي دي چې یو چا و رسول الله ﷺ ته وویل چې ستا قرع یعنې کډو د پر خوښ دی؟ ده ورته وویل اجل هي شجرة اخي یونس ؑ، په حدیث کې راغلي دي چې (وعل) په بل روایت (ارویة) چې د غیره مېږه ده یا بزه چې سهار او مانښام به یونس ؑ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته راتله ده به يې شيدې څيښلې حتى چې بدن يې قوي سو او غوښې د بدن يې کلکې سوې او وېښتان يې پر سر او پيره پيدا سوه او قوة برجا سو.

دروښ وايي: چې يونس عليه السلام وروسته تر دې چې روغ رمټ سو يوه ورځ تر درختي لاندې ويده سو چې راويښ سو درخته وچه سوې وه، نو ډېر غمجن سو او لمر هم په تکليف کړی فجعل يبکی فجائه جبرئيل، فقال اتحزن على شجرة ولا تحزن على مأة الف او يزيدون من امتک قد اسلموا وتابوا.

دروښ وايي: چې دا قصه مقاتل بن حبان رحمه الله راوړې ده او مظهري رحمه الله يې نقل کړی دی او روح المعاني او روح البيان يې هم نقل کړی دی بالفاظ متفاوتة لکن متحد المآل، نورو مفسرينو خو وروسته هيڅ نه دي ويلي لکن مظهري وروسته په دې عنوان سره بيان کړی دی.

مسئله: لايجوز ذکر ذلة الانبياء فان ذلتهم توجب کمال الانابة الى الله عز وجل ورفع درجاتهم؟

سوال: مظهري رحمه الله په خپله بيان د تولو حالاتو د يونس عليه السلام چې په قرآن کريم کې راغلي وه وکړی کمامر آنفًا، نو دا به ذکر د ذلت د يونس عليه السلام نه وي او که څرنګه؟

ځواب: د مظهري رحمه الله مراد دادی چې پر طريقه د اعتراض دي ذکر نه کوي کمايدل عليه عبارته فيما بعد يعني قوله ومن اعترض على احد من الانبياء عليهم السلام فقد کفر، کريمه: لانفرق بين احد من رسله.

وَأَرْسَلْنَاهُ إِلَىٰ مِائَةِ أَلْفٍ أَوْ يَزِيدُونَ ﴿١٤٧﴾

او موږ واستاوه يونس رحمه الله ويو لک کسانو ته او يزيدون، قال مقاتل والکلبي رحمهما الله بل يزيدون يعني کلمة د او په معنى د بل ده، او سيد المفسرين عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وايي ويزيدون يعني کلمة د او په معنى د واو ده، واختلفوا في مبلغ تلک الزيادة فقال ابن عباس رضي الله عنهما ومقاتل رحمه الله عشرين الف، رواه الترمذي، او الحسن رحمه الله وايي دېرش زره يو څه بالا او سعيد بن جبير وايي اوويا زره لکن د عشرين الفًا روايه قابل د اعتماد دی لمامر من قول ابن عباس رضي الله عنهما ولما روى ابی بن کعب رضي الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم يزيدون عشرين الفًا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: یونس علیه السلام د مخه خدای ﷻ رسول استولی ؤ نو ددې ارسال معنی څه ده؟

جواب: روح المعاني وايي والارسال على ما اخرج غير واحد من مجاهد والحسن وقتادة هو الارسال الاول الذي كان قبله قصة الحوت، نو دا جمله عطف ده على قوله تعالى وان يونس آه على سبيل بيان لابتداء حال يونس وانتهائه او بل داوجه ده چې په دې ارسال کې تصريح بماهو المقصود من الارسال وهو الايمان کما ستسمع صرف په منځ کې د ارسال اول او ثاني قصه د التقام په طورد جمله معترضه راوړه لغرابتها.

سوال: حمل ددې ارسال پر ارسال اول باندې مانع يې فاء في قوله:

فَاٰمَنُوْا فَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰى حِيْنٍ ۝

(فآمنوا) فان قوم يونس ؑ خو ايمان نه ؤ راوړی د ارسال اول په وخت کې بلکې چې يونس علیه السلام ځنې ولاړی او قوم ته دده علامات د عذاب ښکاره سوه، نو دوی توبه وکښل او ايمان يې راوړی کما مر في تفصيل القصة، نو که دا ارسال عين ارسال اول وي نو تفريع د آمنوا بالفاء څرنګه صحيح کېږي؟

ځواب: روح المعاني په دفع کې ددې سوال داسې ويلې دي: اجيب بانه تعقيب عرفي (اى بعد الارسال الاول) كما في قولهم تزوج فلان فولد له، مع ان التولد متراخ بزمان كثير من التزوج كما لا يخفى، وقيل الاقرب ان الفاء للتفصيل والسببية ولا ريب ان الاول من الارسال سبب لايمانهم ولو بعد زمان طويل.

(فَمَتَّعْنٰهُمْ اِلٰى حِيْنٍ) نو موږ دوی ژوندا ء ته نفع ورکړه تر يو وخت پورې يعني الى انقضآء اجلهم المعلوم عند الله.

فائده: ذكرها روح البيان وروح المعاني چې په يو حديث طويل کې چې له ابن مسعود رضی الله عنه څخه روايت دی راغلي دي چې يونس علیه السلام بعد نبذ بالعراء وانبت عليه الشجرة وصح جسده وحسن حاله كما مر خرج (راووتی د خپل ځايه من موضع الشجرة) نو ده يو شپانه وليدی چې پسونه يې پوول، نو يونس علیه السلام ورته وويل ممن انت يا غلام (ته د چا له قوم څخه يې يا غلام) هغه ورته وويل من قوم يونس يونس علیه السلام ورته وويل چې ته چې ورسې قوم يونس ته زما سلام پرووايه او دا ورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ووایه چي ما یونس ولیدی، غلام ورته وویل چي که ته یونس یې خو په دې به خبر یې چي د یونس په قوم کي دا قانون وُ چي چا به درواغ وویل او شاهدان به یې نه درلوده هغه سړی دوی قتل کاوه، فمن یشهد لي اذ قلت رئیت یونس، نو یونس ورته وویل چي دغه درخته او دغه مځکه دي شاهدان زما د رؤیت دي، شپانه ورته وویل چي ته یې زما په مخ کي تجربه کړه یعني دا درخته او مځکه، یونس علیه السلام و هغې درختي او مځکي ته وویل چي دا غلام چي هر وخت تاسي ته راسي فاشهدوا له، مځکي او درختي ورته وویل نعم! شپانه ولاړی پسونه یې بوتله قوم ته ورغلی او دا قصه د لیدلو د یونس علیه السلام یې ورته وکړه، دې شپانه تکړه وړونه درلوده چې د ملک په دربار کي یې آمد و رفت درلودی، نو شپانه یې ملک ته ورواستاوه، شپانه ملک ته وویل چي ما یونس علیه السلام ولیدی سلام یې هم وایه، ملک امر وکړی چي دا غلام قتل کړئ، د ملک په خیال کي دا وُ چي درواغ یې وویل، غلام ورته وویل چي زه شاهدان لرم، ملک خلک ورسره واستول فانتهوا الی الشجرة والبقعة، غلام ورته وویل چي زه تاسي ته قسم په خدای عزوجل درکوم چي یونس علیه السلام تاسي زما شاهدان ونه گرځولاست؟ قالتا نعم! فرجع القوم مذعورین یقولون تشهد لک الشجرة والبقعة. نو دوی ملک ته ورغله قصه یې ټوله ورته وکړه ملک غلام تر لاس ونیوی پر خپل تخت یې کښېناوه و ورته وه یې ویل انت احق بهذا المقام مني، غلام پر تخت کښېنستی څلوېښت کاله یې بنه حکمراني پر وکړه.

دروېش وایي: چي دا حدیث چي په اصطلاح یې خبر بولي امام احمد یې په زهد کي راوړی دی، او بل جماعت هم راوړی دی، روح المعاني وایي چي له دې قصې څخه دا معلومېږي یعني ظاهراً چي یونس علیه السلام لم یرجع الی قومه بعد ان اصابة ما اصابه منهم انتهی قول روح المعاني.

دروېش وایي: چي د انبیاء علیهم السلام زړونه خدای عزوجل له بغض او عداوت څخه پاک ساتلي دي، نو د یونس علیه السلام مانع له ورتګ څخه دا وُ چي یونس علیه السلام له خدایه داغه غوښتل چي قوم ایمان راوړي، او بله خبره داده چي ملک که څه هم سلطنت و غلام ته وسپاری او هغه څلوېښت کاله بنه حکمراني کوله لکن ابتدائي حالت د تبلیغ د یونس علیه السلام خو صرف توحید وُ، وروسته چي دوی ایمان راوړی د اسلامي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

احکامو چې په هر دین کې سته یونس علیه السلام ته د ښوونې ضرورت سته.

سوال: چې داسې ده نو ولې یونس علیه السلام سلام د شپانه په لاس ورکاوه؟

ځواب: هغه صرف د قوم د بشارت لپاره ؤ چې یونس علیه السلام ژوندی دی، قوم به یې د راتلو د خوشحالی شپې او ورځې تېرولې ..... بیت:

چه خوش باشد که بعد از انتظاری ..... با امید رسد امیدواری

او بله فائده د سلام قبل الکلام داده چې قوم د یونس چې د غلام سره راغله او شاهدي د درختي او د بقعې یې واورېل، او نور قوم ته یې بیان وکړی دا یوه معجزه وه چې ایمان د قوم یې پر رسالت د یونس تر پخوا چې دوی په غیاب کې د یونس ایمان راوړی ؤ نور مستحکم سو، الی غیر ذالک من الفوائد.

پوښتنه: د نورو انبیاء کرامو علیهم السلام قصه چې به خلاصه سوه په پای کې به یې سلام علی الیاسین انا کذالک نجزی المحسنین انه من عبادنا المؤمنین وکذالک قصة موسیٰ او هارون وغیر ذالک، لکن قصه د لوط او د یونس یې په عبارت نه کړه بدرګه، سر یې څه دی؟

ځواب: لپاره د فرق بینهما ای بین لوط و یونس وبین اصحاب الشرائع الکبری و اولی العزم من الرسل او اکتفاءً بما في اخیر السورة یعني وسلام علی المرسلین، لانه شامل لکل الرسل، او په عین حال د دوو یعني لوط و یونس او نور فرق سره وسو بالتصریح په نورو رسولانو کې مع دخولهم في الآخیر او د دوی دوو په باره کې یې هغه اجمالي سلام کافي وګرځاول سو.

فَاسْتَفْتِهِمْ أَلِرَبِّكَ الْبَنَاتُ وَلَهُمُ الْبَنُونَ ﴿۱۴۹﴾

هذه الجملة عطف علی قوله تعالی فاستفتهم اهم اشد خلقا ام من خلقنا.

پوښته: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم امر سو اولاً عن انکارهم البعث په داسې دول چې دوی واقرار ته مجبور کړي یعني ای المخلوقین اشد خلقهم ام خلق غیرهم من السماء والارض والملائکة، دوی مجبور دي چې وایي به چې خلق د سماء والارض والملائکة اشد من خلقهم نو هغه خدای قادر دی پر بعث بعد الموت باندې ستاسي، وروسته خدای یو څو قصې د انبیاء سره د قومو د دوی وکړې چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مناسب ددې سره وې چې انکار البعث باطل دی، په دې اوسنې آیاتو کې خدای علیه الصلوة والسلام امر کړی چې پوښتنه ددې قسمت ددوی څنې وکړه چې دوی خدای ﷻ ته بنات وایي او خپلو ځانو ته زامن وایي چې دوی وایي چې ملائکه د خدای ﷻ لونې دي او خپلو ځانو ته ته زامن نو دې کفارو پر کفر بل شی هم بالا کړی چې خدای جسم دی فان الولادة مخصوصة بالاجسام وتجویز البنات علی الله او ځانونه یې تر خدای ﷻ بالا کړه، ولي و خدای ﷻ ته یې هغه بیکاره له دوو صفتو څخه د اولاد چې لونې منسوب کړې واشرفهم لانفسهم یعني البنین او سپکاوی د ملکو یې هم وکړی چې د انوثت نسبت یې ورته وکړی، ځکه خدای ﷻ دا صنیع شنیع ددوی مکرره په قرآن کې ذکر کړې دی کریمه: انکم الذکر وله الاوثنی تلک اذا قسمة ضیزی وغیر ذالک في القرآن.

اَمْ خَلَقْنَا الْمَلٰٓئِكَةَ اِنَاثًا وَّهُمْ شٰهِدُوْنَ ۝

انتقال من کفرهم الی کفرهم الآخر آیا پیدا کړې موږ ملکي ښځي لکه ښو مدلج او بنو خزیمه به ویل چې خدای د جناتو لونې په نکاح کړي دي ملکي یې لونې راوړي دي، ولهذا عبدو الملائکة دوی وایي چې ملکي ځانونه مستور کړځوي چې څوک یې نه وینې لکه ښځي د انسانانو (وهم شاهدون) حال دی من فاعل خلقنا دا حال د استهزاء او د تجهیل ددوی سبب دی یعني دوی حاضر وه چې ملکي زېږېدلې، ولي چې د نر او ښځي زېږېدل په حضور پورې اړه لري نه په بداهت سره معلومېږي او نه په دلیل سره.

اَلَآ اِنَّهُمْ مِّنْ اِفْكِهِمْ لَيَقُوْلُوْنَ ۝ وَلَدَ اللّٰهُ ۙ وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ۝

پوه سه! (الا حرف تنبیه دی یعني بدانکه) دوی له خپلو عظیمو دروغو څخه (چې معنی د افک ده) دوی وایي چې خدای وزېږولې لونې، او په تحقیق دوی دروغ وایي:

اَصْطَفَى الْبَنٰتِ عَلَى الْبَنِيْنَ ۝

اصل د استفی ؤ اول همزه د استفهام انکاري او استبعاد چې مفتوح دی او دوهم الف د باب د افتعال دی چې مکسور دی، نو الف د افتعال یې حذف کړی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولي دا الف د وصل ذی په وخت د ..... کي د کلمې د وصل حذف کېږي، او همزه د استفهام انکاري پاته سو، والمعنی اتقولون انه تعالی اخص ای اختار لنفسه اخس الصنفین من الرجال والاناث، تفسیر حسیني وایي: آیا برګزید خدای تعالی دختران راکه مکروه طبع طباع شما اند بر پسران که مادهٔ افتخار شما ایشانند.

مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿۱۵۴﴾ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿۱۵۵﴾ أَمْ لَكُمْ سُلْطَانٌ مُّبِينٌ ﴿۱۵۶﴾

څه شی دی تاسي لره دلیل په دې قسمت تاسي ځرنګه حکم کوئ)یعني پر عَلي من العالمین بهذا الحکم الفاسد الباطل بالبداهة العقلیة) آیا تاسي پند نه اخلئ چي خدای ﷻ منزه دی له ولد څخه مطلقًا.

فائده: حسب القانون النحوي وروسته تر همزه د استفهام چي حرف عطف راسي هغه معطوف پر محذوف دی، والتقدیر ههنا الا تتفکرون فتتذکرون.

(ام لکم سلطان مبین) آیا تاسي لره حجت واضحه سته د خدای ﷻ چي ملائکه بنات الله دي؟ ومعنی الآیات چي اسباب د علم حصر دي په دروکي العقل، والحس، والخبر الصادق، او دا معلومه خبره ده نفس خبر مفید د علم نه دی چي یا پر حس بنا، نه وي لکه سړی چي ووایي: زید رجل او علی الاعلام من الله العالم الغیب کالاحکام الالهیة المذکورة في القرآن المنزل من عند الله، نو په دې آیتو کي خدای پاک انکار وکړی پر دلالة العقل علی ان الملائکة بنات الله بقوله الربک البنات ولهم البنون، ولي سره ددې چي برهان قوي سته مطلق الولد پر خدای ﷻ ممتنع دی، نو دوی ځرنګه ادراک ددې کولای سي چي ملائکه انثی دي په عقل صرف سره، ولا یجوز العقل ان یثبت اخس الفریقین للخالق ای الانثی واشرفها للمخلوق ای البنون، وروسته بیا خدای پاک انکار وکړی د دلیل حسي څخه ددوی یعني المشرکین بقوله ام خلقنا الملائکة وهم شاهدون یعني تاسي خو نه واست حاضر وخلق ته د ملکو چي د انوثیت دعوه یې کوئ، وروسته خدای پاک انکار وکړی چي په دې دعوی کي تاسي یو خبر صادق من الله العلیم الخبیر په لاس کي نه لرئ (ام لکم سلطان مبین؟)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأْتُوا بِكِتَٰبِكُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٥٧﴾

راوړئ ستاسي کتاب چي منزل من عند الله دی چي ملکي د خدای لونې دي. که رښتيا ويونکي ياست په دې دعوی کي چي ملائکه بنات الله دي.

بوه سه: چي پر جزاء د ان شرطيه ماقبل دلالت پر کوي.

وَجَعَلُوا بَيْنَهُۥ وَبَيْنَ ٱلْجِنَّةِ نَسَبًا

د دې آيت په ترجمه کي لوی اختلاف دی.

قال الكلبي "قالوا يعني كفار قريش (لعنهم الله) ان الله سبحانه وتعالى تزوج من الجن (د پيرانانو يعني د دوی د لونو يا خويندو سره) فخرج منها الملائكة. وقال بعض قريش لكه ابن عباس رضي الله عنهما چي روايت کړی دی نزلت هذه الآية په درو قبيلو کي د قريشو سلمة، خزاعة و و جهنية چي دوی به ويل ملائکه بنات الله دي، نو ابوبکر الصديق رضي الله عنه ورته وويل فمن امهاتهم؟ قالوا سروات الجن (هغه سردارني ښځي دي د پيرانانو) كذا اخرجه البيهقي في شعب الايمان عن مجاهد.

دروښ وايي: چي دا دواړه روايتونه نسبًا په معنی د مصاهرة دي، قتاده" وايي چي مراد له جن څخه ملائكة دي سموها جنة لاستتارهم عن الابصار (ولي د جن لفظ د پټ معنی ورکوي، له دې وجهي د مور په نس کي کوچني ته جنين وايي، او قيامت ته جنت وايي لاستتار ارضها باغصان اشجارها المثمرة).

مظهري" وايي: چي ملکي چي په دې نامه يادي کړل سوې تحقيرًا لشانهم عن مرتبة النبوة لله سبحانه تعالى انتهى، يعني په عرف کي ظاهرًا پيريان حقير ګڼل کيږي.

وَلَقَدْ عَلِمَتِ ٱلْجِنَّةُ إِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴿١٥٨﴾

دا جمله معترضه ده، لام موطئه د قسم محذوف دی، او پوهيږي جن انهم ای قائلي هذا القول او الانس مطلقًا او الجنة بمعنی د امهات الملائكة حاضره کړه کيږي ونارته.

سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٥٩﴾

پاکي ده و خدای ل لره د هغه شي څخه چي دوی توصيف په کوي من النسب. دا جمله معترضه اخرلی ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۴۰﴾

مګر نه بندګان د خدای چې ځان يې د کفر او معاصي ؤ څخه ساتلی وي چې مؤمنان دي.

بوه سه: چې دا استثناء له ضمير څخه د انهم نو له هغه ضمير څخه مراد قائلين دي د ولد د خدای نو استثناء منقطع ده ولې چې مؤمنان يا ملکي خو قائلين ددې قول نه دي. او که مراد له ضمير څخه عام سي ای الکافر والمؤمن من الانس والجن والملائکة، نو دا استثناء متصل ده لپاره د اخراج د مؤمنانو من الجن والانس والملائکة لان هؤلاء غير محضرون الی النار.

فَاِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُوْنَ ﴿۱۶۱﴾ مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ بِفٰتِنِيْنَ ﴿۱۶۲﴾ اِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ الْجَحِيْمِ ﴿۱۶۳﴾

په تحقيق تاسي (يعني يا اهل مکه. التفات دی له غيبت څخه و خطاب ته او کلمه د فاء جزائيه ده او شرط محذوف دی، والتقدير اذا جعلتم بينه تعالی وبين الجنة نسبا فانکم) او چې تاسي يې عبادت کوئ چې بتان دي، نه ياست تاسي پر خدای په فتنه کي اچونکي يعني په ضلال کي اچونکي پر خدای ﷻ، مګر نه هغه څوک چې داخل اور ته ګرځي ای کان في علمه القديم، انه شقي کافر.

بوه سه: چې جار ؤ مجرور يعني عليه متعلق دي بقوله (بفاتنين).

وَمَا مِنَّآ اِلَّا لَهٗ مَقَامٌ مَّعْلُوْمٌ ﴿۱۶۴﴾

دروښ وايي: چې دا حکايت دی د اقرار د ملکو په عبوديت سره لپاره د هغو کسانو چې د دوی عبادت يې کاوه بناءً علی انهم بنات الله کما مر.

فائده: مقام معلوم څخه مراد يا عبوديت لکل واحد منهم يا مقام معلوم دی په آسمانو کي يعبد الله فيه، او يا مقام معلوم دی و قرب الی الله ته، لايتجاوز منه، ابوبکر الوراق ؒ وايي چې له مقام معلوم څخه مراد هغه مقامات د خوف او د رجاء او محبت او رضاء دي.

حاصل دا دی چې هره ملکه خپله وظيفه لري او خپله نوع د عبادت لري او خپل ځای په آسمانو کي لري، مثلاً د جبرئيل ؑ وظيفه عمومي وه چې راوړل دي وحي و انبياء کرامو عليهم السلام ته او د يو قوم د اهلاک لپاره لويه نعره کول دي، لکن اصلي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مقام دده صدرة المنتهی دی، یعنی تر هغه مقام لوړ نسي تېرېدای، د نبي اکرم ﷺ د معراج په شپه چې په ټولو اسمانو کې د علیه الصلوة والسلام همراه وۍ صدرة المنتهی ته ورسېدی و علیه الصلوة والسلام ته یې وویل: ستا یې په مخه ښه زه دلته پاتېږم، چې سعدي شیرازي ؒ دا موضوع داسي بیان کړې ده:

چنان گرم ورتبه قربت بماند..... که در سدره جبرئیل ازو باز ماند

بدو گفت سالار بیت الحرام..... که ای حامل وحی بر تر خرام

بگفتا فراتر مجالم نماند..... بماند که نیروی بالم نماند

اگر یک سر موی بر تر پرم..... فروغ تجلی بسوزد پرم

تر هغه وروسته علیه الصلوة والسلام د نور په پردو کې روان ؤ حتی لامکان ته ورسېدی ..ع: مه پرسید از ما کیفیت که چون بود.

درویش وایي: چې د معراج تفصیل واړه بیان ما په تفسیر کې د سورة بني اسرائیل کړی دی.

وَإِنَّا لَنَحْنُ الصَّافُّونَ ۝

او موږ یعني د ملکو ډله (لام د تاکید لپاره دی) موږ په صف درېږو په عبادت کې د خدای ﷻ. ابن ابی حاتم له زید بن مالک ؓ څخه روایت کړی دی چې صحابه کرام ؓ به په جماعت کې پس او پېش درېدل، څو دغه آیت نازل سو. رسول الله ﷺ دوی امر کړه په برابر صف درېدو سره، تر اوسه دا مرد امام المسجد پر ذمه پاته دی چې خلګو ته به په عربي وایي: استووا پر راسته طرف، او پر چپه طرف دي وایي اعتدلوا. او پښتانه ملایان به وایي: صفونه برابر کړئ پښو او وږو ته سره وګورئ، وامثال ذالک، له جابر بن سمره ؓ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ خلګو ته وویل الا تصفون کما تصف الملائکة عند ربها (یعني تاسي په صفو کې داسي نه درېږئ لکه چې ملکي په صف کې درېږي په نېز د رب ددوی) فقلنا یا رسول الله کیف تصف الملائکة عند ربها (یعني ملکي څرنګه د خدای ﷻ ته په صف کې درېږي) قال ﷺ یتمون الصفوف الاولی (یعني اول صفونه پوره کوي یعني که په اول صف کې ځای وي تر شا نه درېږي، وهکذا الصف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الثاني والثالث، فقهاءٌ وايي كه په اول صف كي ځاى وٌ تر شا دريدل مكروه دى) ويتراصون في الصف (او جوت سره دريږئ يعني فرجه په مابين كي نه پريږدي)

وَاِنَّا لَنَحْنُ الْمُسَبِّحُوْنَ ﴿۱۶۶﴾

او موږ د خداى پاكي وايو د هغه شي چي دده د ذات سره لائق نه وي كاتخاذ الولد ونحو ذالك.

فائده: په دې آيت كي اول تاكيد په ان سره راغلى بيا په لام سره بيا ضمير فصل چي نحن دى راغلى، دا ټوله لپاره د رد دي چي دوى به ويل چي ملائكه بنات الله دي.

سوال: ملكو ولي حصر پر ځان وكړى، مؤمنان خو هم نه وايي چي ملائكه بنات الله دي؟

ځواب: دا حصر حقيقي نه دى بلكې حصر اضافي دى، يعني موږ داسي نه وايو لكه كفار مشركين چي وايي چي ملائكه بنات الله دي.

وَاِنْ كَانُوْا لَيَقُوْلُوْنَ ﴿۱۶۷﴾

پوه سه: چي كلمه د ان مخفف ده له مثقل څخه اسم يې ضمير شان محذوف دى، والمعنى شان دادى او كانوا خبر دى د ان ليقولون ضمير مرفوع يې راجع دى و كفارو ته د مكې او دا خبره دوى هغه وخت كوله چي عليه الصلوة والسلام نه وٌ مبعوث سوى.

فائده: كلمه د لام فارق ده په منځ د ان نافيه او د ان مخفف من المثقل.

لَوْ اَنَّ عِنْدَنَا ذِكْرًا مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۶۸﴾ لَكُنَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۱۶۹﴾

مراد له ذكر څخه كتاب دى، يعني كه موږ ته كتاب راكړل سوى واى لكه د مخه امتونه چي ورکړل سوى وٌ، موږ به بندگان د الله ﷻ واى په ښه اخلاص سره، يعني موږ به خالص عبادت د الله پاك كولاى مخالفت به مو نه كولاى له حكم څخه د خپل كتاب.

فَكَفَرُوْا بِهٖ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۷۰﴾

كلمة الفاء فصيحية يعني پر محذوف بنا ده يعني چي دوى ته راغلى اشرف الاذكار چي قرآن مجيد دى، دوى كفر او انكار له هغه څخه وكړى (فسوف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعلمون) کلمة الفاء سببیة لان الکفر سبب للوعید چي دوی په پوه سي په عاقبت د خپل کفر او هغه شی چي پر دوی راځي من الانتقام والعذاب کما في یوم بدر او یا عذاب الجوع والقحط.

وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۷۱﴾ إِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُوْرُوْنَ ﴿۱۷۲﴾

لام موطئه د قسم محذوف دی ای بالله چي دمخه تېره سوې ده په ازل کي یا په لوح محفوظ کي کلمتنا وعده زمونږ مع قدرتنا علی ایفاء الوعد زما د بندګانو سره اضافة لپاره د تشریف د مضاف دی ای الذین اخلصوا العبادة لنا في کل وقت وفي الحرکة والسکون، المرسلین چي زما له خوا خلکو ته استول سوي دي یعني پر شرف د اخلاص یې شرف د رسالت زما د خوا څخه هم ورکړل سوی وي، ثم فسر الله ذالک بطریق الاستیناف چي دوی یعني خاصة کما یدل علیه ضمیر الفصل بین اسم ان چي هم اول او بین خبر ان چي المنصورون دی.

وَإِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿۱۷۳﴾

په تحقیق زمونږ لښکر یعني چي في سبیل الله د کافرانو سره جنګېږي، خامخا دوی دي غالبه پر اعداء الله.

پوښتنه: په احد کي خو هم مسلمانان في سبیل الله د کفارو سره د قریشو جنګېدل او سره د دې لوی هزیمت یې په برخه سو، حتی چي د علیه الصلوة والسلام غاښ مبارک مات سو او سر مبارک یې مات سو او نورو پر شهیدان یې دلاسه ورکړه؟

ځواب: د احد هزیمت په سبب د شوم د عصیان د بعضي کسانو چي د علیه الصلوة والسلام د امر مخالفت یې وکړی چي هغه د عبدالله بن جبیر رضی الله عنه په مشری په یوه دره کي پنځوس کسان کښېنولي وه، اولاً کفارو ته شکست ورکړل سو، چي جنګ پای ته ورسېدی د عبدالله رضی الله عنه ملګرو ده ته وویل چي نور نو موږ دلته د څه لپاره ناست یو هغه دی کفارو شکست وکړی او په عین حال کي یې دا هم وویل یا قوم الغنیمة، هر څو چي عبدالله رضی الله عنه په قرار د وصیت د علیه الصلوة والسلام دوی منع کول خو دوی نه سوه منع، صرف ۱۴ کسه د عبدالله رضی الله عنه سره پاته سوه، خالد بن الولید چي په هغه وخت کي لا مسلمان نه ؤ، د دوو سو کسو په مشری له هغې درې څخه پر راووت هغه څورلس یې سره د مشر شهیدان کړل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي وقد مر الفصیل لغزوة احد فیما قبل فتذکر.

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۱۷۴﴾

(فتول) جواب د شرط محذوف دی ای اذا علمت ان النصرة والغلبة لک ولاتباعک فاعرض عن کفار مکة واصبر علی آذاهم (حتی حین) ای مدة یسیرة ای مدة الکف عن القتال (یعني چي د جهاد امر درکړل کېږي) نو دا آیت محکمه دی په آیة القتال منسوخ نه دی، ولي چي په قتال سره مقید دی، نو څوک چي وایي چي دا آیت منسوخ دی په آیت القتال سره لم یأت بشئ فافهم

وَّاَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۷۵﴾

ته ګوري دوی ته مغلوبین مقتولین معذبین (په دې اشاره ودوی ته چي دا مغلوبیت ددوی کائن لامحالة لکه دده په مخ کي چي وي، واقرب مثاله مغلوبیة المشرکین یوم بدر وهکذا سائر غزواته او فتح مکة) ژر دی چي دوی به هم وینې ستا نصرت والتائید في الدنیا والثواب في الآخرة آه، او یا د دارین جزاء به وینې لان عذاب الآخرة وان کان بعیدًا لکنه قریب لانه آتٍ لا محالة، حتی که څوک قسم واخلي چي قیامت نژدې دی تر پرون ورځي حانث نه دی، قالوا ما اقرب ما هو آتٍ وما ابعد ما هو فات.

پوه سه: چي ابن جریر له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کړی دی چي انه لما نزل فسوف یبصرون مشرکان د مکې وویل متی هذا العذاب فنزل.

اَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۱۷۶﴾

آیا زموږ د عذاب تلوار کوي استفهام لپاره د انکار او توبیخ دی، والفاء للعطف علی محذوف کما هو القانون النحوي وقد مر مرارًا تقدیره ههنا ایجهلون شانتا (زموږ د قدرت حال دوی ته نه دی معلوم اذا اراد شیئًا فیقول له کن فیکون) فبعذابنا یستعجلون، یعني باید دوی د عذاب غوښتنه ژر تر ژره نه وي کړې.

فَاِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَآءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۱۷۷﴾

چي نازل سو عذاب یعني پر غولې ددوی، الفراء وایي چي عرب یکتفی بذکر الساحة من القوم، فالمراد بالساحة القوم او بعض مفسرینو یو له مقام څخه بعید

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

احتمال راوړی دی یعني ضمیر د نزل یې و علیه الصلوة والسلام ته راجع کړی دی، حیث قال اذا نزل الرسول ﷺ مع جیشه بساحة الکفار انتهی وجه د بعد یې ظاهره ده (فساء صباح المنذرین) نو بد دی سهار د منذرینو له عذاب څخه. نو ساء په معنی قبح دی او لام المنذرین لپاره د عهد دی ای صباحهم.

پوه سه: چې په عربي کي مستعار دی لپاره د وخت د نزول د عذاب اي وقت کان، یعني که مابنام وي او که ماپښین وي او که بل وخت وي، ولما کانت الهجوم والغارة عادةً في وقت الصباح یعني حین الغفلة سموا الغارة صباحًا وان وقعت في وقت آخر کما ورد في الحدیث المروي عن انس بن مالک ﷺ چې رسول الله ﷺ چې اراده د جنګ او غزاء د خیبر وکړه اتاها لیلاً (د شپې خیبر ته ورسېدی، او عادت د علیه الصلوة والسلام دا ؤ چې د شپې به یو ځای د کافرانو د جنګ لپاره ورغلی تر سهاره یې حمله نه کول (سریې دا ؤ چې د شپې د بنځو او د کوچنیانو تمیز د لویانو څخه نه کېږي، او د بنځي او صبیانو وژل ممنوع دی په شرع کي) نو چې سهار سو یهودان د خیبر ناخبره د باغو د کارو لپاره راووتل او یومان او بېلچې ورسره وې، او ټوکرۍ او سودې هم ورسره وې، علیه الصلوة والسلام وویل: الله اکبر خربت خیبر (یعني په آلاتو د خراب چې د دوی سره ورسره وه نېک فالي یې وکړه) او دا خبره یې وکړه انا اذا انزلنا بساحت قوم فساء صباح المنذرین یعني و مضمون ته د آیت فاذا انزلنا بساحتهم فساء صباح المنذرین ته یې اشاره وکړه، په وروسته آیت کي خدای پاک مکرر کړی تاکیداً لوعید العذاب، وقال:

وَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۱۷۴﴾ وَّاَبْصِرْ فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۷۵﴾

مخ واړوه له دوی څخه تر یو وخت پورې ته وویني عذاب چې پر دوی واقع سي، دوی به هم وویني.

دروښ وایي: چې معنی یې هغه ده چې قبلاً قریبًا ذکر سوه.

سُبْحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۸۰﴾

پاکي ده رب لره ستا یعني مما لایلیق بشانه وسلطانه چې رب د قوت او غلبې دی،

فائده: رب چې یې و العزة ته مضاف کړی لپاره د دې چې عزة او قوة او غلبه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

خاص په خدای ﷻ پوري ده یا په هغه چا پوري ده چې خدای ﷻ ته منسوب وي لکه رسول ده او مؤمنان (عما یصفون) له هغه څه څخه چې مشرکان او کافران یې ده ته نسبت کوي چې په دې سورت کې تېره سوه چې صفات..... او سلبیه ټولو ته شامل دۍ، او دا آیت اجمالاً و هغو صفاتو ته شامل دی.

وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ۝

او سلام دی د خدای ﷻ له خوا څخه پر رسولانو چې د خدای ټوله اوامر او منهیات او شیون او صفات یې په اکمله وجه سره خلکو ته بیان کړه.

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝

او حمد کامل یا جنس د حمد یا ټوله محامد خدای ﷻ لره دي چې رب د ټولو عالمیانو دی، د امیر المؤمنین علي ؓ څخه روایت دی چې ده وویل چې که چاته په ډکه پیمانه (یعني عظیم ثواب) خدای ﷻ ورکړي په ورځ د قیامت، نو باید آخیر کلام دده چې له مجلسه ولاړیږي دغه آیت وي سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ۝ وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ۝ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ رواه البغوي في تفسيره.

وقد اخرج الخطيب البغدادي ؒ عن ابی سعید الخدري ؓ چې رسول الله ﷺ به د لمانځه څخه سلام وګرځاوه دغه آیت به یې وایه، واخرج الطبراني عن زید بن ارقم ؓ عن رسول الله ﷺ من قال دبر کل صلوة (که چا ووایه په وروسته کې د هر لمانځه) سبحان ربک تر اخیره پورې دري واره) فقد اکتال بالمکیال الاوفی من الاجر (نو ده ځان ته پیمانه کړه په ډکه پیمانه د ثواب) واخرج ابن ابی حاتم عن الشعبي قال قال رسول الله ﷺ من شره ان یکتال بالمکیال الاوفی من الاخیر یوم القیامة فلیقل اخیر مجلسه حین یرید ان یقوم سبحان ربک الی اخیر الآیة.

دروښ وایي: چې زه هم ددې سورت د تفسیر له ختم کولو څخه فارغ سوم د مازدیګر لمانځه ته ولاړیږم: ۲ شهر ذی الحجة سنه ۱۴۳۱ هـ، فاقول:

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ۝ وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ ۝ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ صٓ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ ثَمَانٍ وَثَمَانُوْنَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

دروښ وايي: چې شروع په تفسیر د سورة صٓ په تاریخ ۲ شهر ذی الحجة سنه ۱۴۳۱ هـ د مابنام پر شپږ بجې شروع سو.

الحمد لله رب العلمين، مالك يوم الدين جل جلاله وعم رحمته واحسانه والصلوة والسلام على سيد المرسلين رحمة للعالمين شفيع المذنبين وعلى آله واصحبه المختارين الطيبين وبك نستعين واشهد ان لآ اله الا الله وان محمدًا رسول الله.

اللهم سهل على عبدك الظلوم الجهول تفسير هذه السورة بالخير والعافية والصحة والسلامة انك على كل شيئ قدير وبالاجابة جدير.

صٓ وَالْقُرْاٰنِ ذِي الذِّكْرِ ۝۱

روایت کړی دی ترمذي، احمد، نسائي او الحاکم رحمهم الله چې ابو طالب چې د علیه الصلوة والسلام مهربان اکاؤ ناجوړی سو، نو اشراف د قریشو پوښتنې ته راغله ولي چې ابو طالب د بني هاشم مشر سړی ؤ، او نبي کریم ﷺ یې هم پوښتنې ته راغلی، نو د مشرکانو رئیسانو د علیه الصلوة والسلام شکایت وکړی چې دی زموږ خدایان په بد نامه یادوي، نو ابو طالب و علیه الصلوة والسلام ته وویل: یا ابن اخی (ای د ورور زویه!) ما تريد من قومک، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې له دوی څخه یوه خبره غواړم چې هغه خبره که دوی وکړي عرب به ټوله د دوی منقاد سي، وتؤدی الیهم العجم (او عجم به دوی ته جزیه ورکوي) ابو طالب ورته وویل یوه کلمه؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل نعم! ابو طالب ورته وویل چې هغه کلمه کومه خبره ده علیه الصلوة والسلام ورته وویل لا اله الا الله، حاضرینو مشرکانو ناري کړې اجعل الآلهة الهًا واحدًا، ان هذا لشيئ عجائب (دا ټوله خدایان یې پریږده ودرول) دا عجیبه خبره ده، فنزل صٓ الی قوله تعالی بل ما یذوقوا العذاب.

پوه سه: چې کله څه هم په صٓ کې اختلاف دی، بعض وایي چې نوم د دغه صورت دی لکه په نورو حروف تهجي ؤ کې یعني (قٓ، نٓ حٰمٓ) وغیرها، محمد بن

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

کعبؒ وایي چي صٓ مفتاح د نوم د خدایؒ ده چي صمد او صادق الوعد دی، ضحاکؒ وایي چي معنی یې ده صدق الله، او له ابن عباسؓ څخه داسي روایت منقول دی چي معنی یې صدق محمد رسول اللهﷺ ده، لکن مظهريؒ وایي والحق انه من المتشابهات (يعني كسائر المقطعات القرآنية)

دروښ وایي: چي آنفًا ذکر سو کلمة د واو او د عطف لپاره نه ده بلکې د قسم لپاره ده، د ذی الذکر ترجمه ابن عباسؓ داسي کړی ذی البیان لما یحتاج الیه في الدین من العقائد والشرائع والمواعید، او مجمل معنی یې داسي بیان کړې ده ذی عظة خاوند د نصیحت دی، فیشمل کل مامر وغیرها فافهم، وقال الضحاکؒ معناه ذی الشرف.

بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ عِزَّةٍ وَّشِقَاقٍ ۝

بل لپاره د انتقال دی بلکې هغه کسان چي مشرکان په استکبار کي دي د منلو د قرآن بناء علی حمیة الجاهلیة (وشقاق) په خلاف کي د قرآن او په عداوت لمحمدﷺ، او یا معنی د شقاق داده چي په اختلاف کي دي د مایقتضیه العقل والنقل.

فائده: تنکیر د عزة او شقاق للدلالة علی شدتهما.

سوال: کلمه د واو چي والقرآن ده که د قسم لپاره سي نو جواب د قسم څه شی دی؟

ځواب: د قسم جواب محذوف دی دل علیه مابعده، والتقدیر المشرکون لایؤمنوا به ای بالقرآن، نو کلمه د بل لپاره د انتقال ده له جواب څخه و اغلظ تر جواب کما لا یخفٰی فتدبر، او روح البیان خو جواب د قسم محذوف بولي، او جواب یې داسي مقدر کړی دی ان محمدًا لصادق في دعوی رسالته وحق نبوته ولیس في حقیته شک ولا فیما انزل علیه ریب.

دروښ وایي: وهذا الجواب ایضًا صحیح فتأمل.

كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ فَنَادَوْا وَّلَاتَ حِيْنَ مَنَاصٍ ۝

ژوبه سه: چي کم خبریه مفید د کثرت دی یعني څومره دهر هلاک کړي دي موږ تر کفارو دمخه من قرن.

فائده: قرن سل (۱۰۰) کاله ته وایي، مراد دلته ځني اهل د قرن دي، او روح البیان یې تفسیر په دې سره کړی دی والقرن القوم المقترنون في زمن واحد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې کم منصوب محلاً دی په اهلکنا سره، یعني مفعول به دی. فالمعنی قرنًا کثیرًا اهلکنا من القرون المتقدمة ای امة من الامم بسبب الاستکبار والانکار علی رسلهم.

درویش وایي: چې دا آیت وعید دی و کفارو ته د مکې علی استکبارهم وشقاقهم مع رسول الله ﷺ.

(فنادوا) نو ناري کړې دوی یعني کفارو د امم ماضیه وٴ حین نزول العذاب بهم، یا استغاثةً یا توبةً واستغفارًا.

درویش وایي: چې په وخت کې د نزول د عذاب نه استغاثه او نه توبه او استغفار فائده کوي، کما قال الشیخ السعدي قدس سره.

تو پیش از عقوبت در عفو کوب ..... که سودی ندارد فغان زیر چوب

(ولات حین مناص) نه دی وخت د خلاصون ستاسي له عذاب څخه، دا جمله حال ده له ضمیر څخه د نادوا، والعائد محذوف.

پوه سه: چې جمله د کم اهلکنا آه بیان د مآل ده د دوی وروسته تر بیان د حال د دوی یعني په قوله تعالی بل الذین کفروا في عزة الخ، والحاصل انهم یهلکون کما هلک من قبلهم یعني هلاک د دوی حتمًا مقضیًا دی.

فائده: کلمه لا مشبه بلیس ده تا د تانیث پر زیاته سوه لتاکید معناها وهو النفي لان زیادة البنا تدل علی زیادة المعنی، او یا د دې لپاره چې تاء ګاهي د مبالغې لپاره راځي کما في علامة، یا تا یې د دې لپاره زیاده کړه چې مشابهت د لا د لیس سره محکم سي، ولي چې لیس دریې حرف ساکن الاوسط وٴ او لات وروسته تر زیادة تا هم دریې حرف ساکن الاوسط ګرځي.

فائده: لات چې مشبه بلیس دی نو اسم یا خبر یې محذوف دی والغالبهٗ حذف المرفوع ای الاسم پر قرائت د جمهورو قراؤ ای لیس الحین (وهو الاسم المحذوف المرفوع) حین مناص دا یې خبر منصوب مذکور دی، هذا مذهب الخلیل وسیبویه، او مذهب د اخفش دادی چې کلمه د لا نافیه للجنس ده تاء یې پر زیاته کړه لتاکید النفي کما مر عنقریب، نو د اخفش پر مذهب لا عمل د ان کوي فحین مناص اسمها والخبر محذوف یعني لفظ لهم ای کائنًا لهم، او بعض مفسرین وایي چې کلمه د لا

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

تنافيه للفعل ده والفعل محذوف، تقديره لاترى حين مناص حاصلاً لهم.

فائده: وقف پر لات په نبز د الزجاج په تا سره دی وعند الكسائي وقف په لاه تا سره نه دی.

فائده: مناص مصدر ميمي دی مشتق دی د ناسه ينوسه اذا فاته، او قاموس والا وايي چې د نوص معنی تاخر ده او مناص منجًا يعني ځای د نجات، او رضي په شرح کي د کافيه وايي چې تا د لات لپاره د تانيث ده په تأويل د لا په کلمه سره د تکون لتاکيد التانيث واختص بلزوم لآه والله اعلم بالصواب.

وَعَجِبُوٓا۟ أَن جَآءَهُم مُّنذِرٌ مِّنْهُمْ

او کفار مکه تعجب کوي (دا جمله عطف ده پر عامل د في عزة وشقاق تقديره كانوا في عزة وشقاق وعجبوا) چې دوی ته پيرونکی راغلی دی له دوی څخه ای بشر مثلهم لاملک، چې رسول الله ﷺ دی چې دوی وپيروي د خدای ﷻ له عذاب څخه يعني في يوم القيامة.

وَقَالَ ٱلْكَٰفِرُونَ هَٰذَا سَٰحِرٌ كَذَّابٌ

او ويل کافرانو (هذا ساحر) يعني دا معجزې چې دی يې دليل د رسالت خپل بولي سحر او جادو دی، نو دوی جادوګر او سخت درواغ ويونکی دی.

پوښتنه: ځای خو د ضمير وُ ای قالوا السبق المرجع، نو د اسم ظاهر د راوړلو څه حکمت دی؟

ځواب: لپاره د دلالت پر دې چې کفر دوی دلاوره کړه چې دا وروسته خبره يې وکړه، او بل پاره د ذم ددوی او د اظهار د غضب الهي.

(کذاب) صيغه د مبالغې ده يعني دعوه رسالت يې درواغ ده، چه خوش گفته شاعری که ميگويد:

گشتهٔ طالع آفتاب اينچنين عـــالم فروز... ديدهٔ خفاش رايکذره از وی تورنه

از شعاع روز روشن روی گيتی مستنير... تيرگی شب هنوز از ديده وی دورنه

أَجَعَلَ ٱلْـَٔالِهَةَ إِلَٰهًا وَٰحِدًا ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ عُجَابٌ

استفهام لپاره د تعجب دی يعني څرنګه، دا توحيد د محمد (ﷺ) يو لوی

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

عجب کار او کردار دی چې زموږ د نیکه ګانو دین په اجماع سره باطل دی. او بل د تعجب وړ خبره داده چې دا دومره لوی عالم من العلویات والسفلیات والحیوانات والنباتات وغیرها څرنګه دیوه خدای تر قدرت لاندې راتلای سي او یا تر علم لاندې کېدای سي، قال البغوي ؒ چې عمر بن الخطاب ﷺ چې مسلمان سو چې په ټوله مکه کې د زړه ډک سړی ؤ (حتی چې رسول کریم ﷺ د عمر ؓ یاد عمرو بن هشام چې د ابوجهل په نامه یې مسلمانان پېژني) د ایمان راوړلو خدای ؒ ته خواست کړی ؤ، نو دا اسلام د عمر ﷺ پر قریشو ډېر سخت اثر د غم وکړی. او په عین حال کې مؤمنان دده په ایمان سره ډېر خوشاله سوه.

دروښ وایي: چې عمر ﷺ د اسلام قصه تخمینًا څو صفحې بیان غواړي، نو ولید بن المغیرة و جماعت ته د قریشو چې پنځه ویشت تنو ته بالغ ؤ او دا ټوله د قریشو اشراف او رئیسان وه چې په عمر کې تر ټولو دغه ولید بن المغیرة مشر شخصیت ؤ، ده داسي وینا ودوی ته وکړه چې درځئ ابو طالب ته ورسو (ابو طالب د بني هاشم مشر او سردار ؤ) نو دوی ټوله ورغله ابو طالب ته یې داسي وینا وکړه: انت کبیرنا وشیخنا، وقد علمت ما فعل هؤلاء السفهاء (یعني چې ته خبر یې چې دغه بېوقوفان چې مراد یې مسلمانان وه چې یو په بل پرله پسې ستاد وراره د سحر په دام کې داخلېږي) وانا اتیناک لتقضی بیننا وبین ابن اخیک، فارسل ابو طالب الی النبي ﷺ چې ته راسه، علیه الصلوة والسلام چې راغلی ابو طالب ورته وویل یا ابن اخی هؤلاء اشراف قومک یسئلونک، فلا تمل کل المیل علی قومک (ته هم ډېر میل د دوی له خبرو څخه مه کوه) قال رسول الله ﷺ ماذا یسئلون؟ قالوا یعني (۲۵) ورته وویل چې پرېږده ذکر زموږ د معبودانو په بد نامه (یعني چې دا جمادات دي لاتنفع ولاتضر شیئًا) موږ به تا او ستا خدای سره پرېږدو، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې تاسي زما یوه خبره ومنئ، تملکون بها العرب او ستاسي اطاعت به کوي عجم، ابو جهل ورته وویل چې ته یوه یا دوې خبرې یادوي موږ به ستا لس خبرې ومنو قال رسول الله ﷺ چې زما یوه خبره داده چې: قولوا لآ اله الا الله، فتفرقوا دوی سره متفرق سوه وقالوا اجعل الالهة الهًا واحدًا الی اخیر الآیة، چې ودې قصې ته خدای پاک په دې آیتو کې اشاره کړې ده،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَانْطَلَقَ الْمَلَأُ مِنْهُمْ أَنِ امْشُوا وَاصْبِرُوا عَلَىٰ آلِهَتِكُمْ ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيْءٌ يُرَادُ ۝

ولاړه هغه اشراف چې پنځه ویشت کسه وه له مجلس څخه د ابو طالب یعنې تاکام ولاړه (منهم) ای من قریش.

پوه سه: چې جمله د انطلق عطف ده علی قالوا اجعل الالهة الهًا واحدًا (ان امشوا) دا جمله حال ده په تقدیر د قول ای قائلین ان امشوا، درځئ چې ځو له دې ځایه څخه (واصبروا) صبر وکړئ یعنې ثابت او محکم اوسئ (علی الهتکم) په حذف د مضاف ای علی عبادة الهتکم پر عبادت د خپل خدایانو یعنې خبرې او عذر فائده نه کوي (ان هذا) ای توحید المعبود (لشیئ یراد) دا جمله تعلیل ده لامر بالثبات یعنې دغه چې موږ واورېدی له محمد (ﷺ) څخه من امر التوحید ونفي الهتنا بالمرة هر آئینه یو شی دی چې له جهت څخه د محمد (ﷺ) امضاء او تنفیذ پر موږ مراد دی یعنې دی له دې خپلې خبرې څخه نه اوړي چې د خپل اکا ابو طالب شفاعت یې زمونږ په حق کې هم نه ومانه، او بعض مفسرین یې ترجمه داسې کوي ان هذا الذي نرٰی من زیادة اصحاب رسول الله ﷺ لشیئ من الله یراد بنا فلا مرد له.

دروښ وایي: چې دا توجیه نهایته ضعیفه ده، ولې چې که دوی دا منلای چې داد خدای ﷻ له جانبه څخه ده رد یې څوک نسې کولای، بیا یې ولې ویل واصبروا الخ کما لا یخفٰی، او بعض مفسرین وایي ان هذا ما یراد محمد ای یتمناه من الریاسة علی العرب والعجم الی غیر ذالک من تفاسیر المفسرین.

مَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِي الْمِلَّةِ الْآخِرَةِ ۖ إِنْ هَٰذَا إِلَّا اخْتِلَاقٌ ۝

موږ نه ده اورېدلې دا دده دعوٰی د توحید د معبود په مخکې ملتو کې.

ابن عباس ﷺ، او کلبي او مقاتل ؒ هم چې مراد ددوی له ملة الآخرة څخه نصرانیه دي چې اخیر د ملتو دي، یعنې هغه هم د توحید المعبود قائله نه دي بل یقولون ثالث ثلاثة، او مجاهد ؒ وایي چې مراد ددوی خپل د قریشو دین شرک دی یعنې اخیري اجداد او نیکه ګانو د توحید د معبود خبره نه ده کړې.

(ان هذا الا اختلاق) نه دی دغه دین چې دی دعوه کوي یعنې التوحید مګر دروغ دی چې له ځانه جوړ کړی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَءُنزِلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ مِنۢ بَيْنِنَا ۖ بَلْ هُمْ فِى شَكٍّ مِّن ذِكْرِى ۖ

(الذکر) ای القرآن

پوه سه: چي همزه لپاره د استفهام انکاري دی په معنی د نفي فهو تاکید لمضمون قولهم ان هذا الا اختلاق (من بيننا) زمونږ په منځ کي يعني مونږ موجود يو، ددوی غرض دا ؤ چي نه خو دی پر مونږ مشر دی او نه ددده دومره مال، جاه او جلال سته لکه مونږ چي يې لرو.

فائده: له دې خبري څخه دا معلومه سوه چي تکذيب ددوی مبني صرف پر حسد ؤ، او نظريې پر اموال، جاه او جلال ؤ د دنيا ؤ.

بَل لَّمَّا يَذُوقُوا عَذَابِ ۸

بلکې دوی په شک کي دي زما د ذکر يعني القرآن الکريم چي الله تعالی پر ما نازل کړی دی چي قرآن کريم مملو او ډک دی له توحيد څخه، نو ځکه دوی په باره کي د قرآن يوه قطعي فيصله نه کوي، ګاهي وايي چي مختلق من عند محمد ﷺ دی، ګاهي وايي کهانت دی، ګاهي وايي يعلمه البشر، ګاهي وايي چي يوه معجزه ووينې دا سحر دی (بل ما يذوقوا العذاب) دا بل اضراب دی له مجموع څخه د کلامينو سابقينو چي يو حديث يعني خبره د حسد وه في قوله: انزل عليه الذکر من بيننا، او بل حديث ؤ في قوله بل هم في شک، يعني لم يذوقوا دوی ته نه دی رسېدلی عذاب زما، يعني اذا ذاقوا العذاب زال مابهم من الحسد والشک ويضطروا دوی په هغه وخت چي عذاب زما ووينې يعني مجبور به سي و تصديق ته، لکن لاينفعهم التصديق حين نزول العذاب، لکه فرعون چي د غرق عذاب وليدی چي اوبو راپورته کړی، نو ده وويل: لا اله الا الذي آمنت به بنوا اسرائيل، لکن دې کلمې فرعون له غرق څخه خلاص نه کړی.

أَمْ عِندَهُمْ خَزَآئِنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ ٱلْعَزِيزِ ٱلْوَهَّابِ ۹

آيا ددوی سره کلي د خزانو د رحمت د رب ستا يعني النبوة چي دوی هغه چا ته ورکوي چي هغه ددوی خوښ وي، يعني ليس الامر کذالک فان النبوة موهبة عطية من الله ﷻ يتفضل بها علی ما يشاء من عباده ولا مانع لما اعطاه الله لانه عليم حکيم يفعل مايشاء لامعقب لحکمه، او نبوت په کبر سن يا ثروت مالي يا په رياست پورې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دچا اړه نه لري (العزيز) چې دی غالب دی هیڅ شی یې نه سي مغلوبولای (الوهاب) صیغه د مبالغې ده یعني ماشاء لمن یشاء، نو ام منقطعه دی په معنی د بل، نو بل لپاره د دعوی څخه د مشرکانو چې نبوت باید په اختیار کې وای وبل دعوی ته چې نبوت هبه الهي ده. انکار د دوی پر خبره وکذالک ام في قوله تعالی:

أَمْ لَهُمْ مُّلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا فَلْيَرْتَقُوا فِي الْأَسْبَابِ ۝

آیا دوی لره سلطنت او تصرف د هغو شیانو چې په اسمانو کې دي من الملائکة والشمس والقمر والکواکب وغیرها او د مځکې من الحیوانات والنباتات والجبال وخزائن الارض.

فائده: اولاً خدای ﷻ انکار پر دوی وکړی د تصرف په نبوت کې بان لیس عندهم خزائن رحمته التي لانهایت لها، په دې آیت کې رد دی چې دوی لره په امر کې د عالم علوي او سفلي مدخل نسته چې دا عالم جسماني یو کوچنی جزء دی د قدرت الهي.

(فلیرتقوا في الاسباب) دوی دي پورته سي په لارو کې د اسمانو او تر عرش دي ځانونه ورسوي نو پرچا چې یې د نبوت پېرزوینه وي هغه ته دي وحي ورواستوي او نبي دې وګرځوي، قتاده او مجاهد ؒ وایي چې مراد له اسبابو څخه دروازې د اسمانو دي، او بعض وایي چې مراد طرق د اسمانو، اهل لغت وایي چې هر شی چې تا ویوشي ته وصل کوي من باب او طریق فهو سببه (پوه سه! چې دا امر د توبیخ او تعجیز دی)

جُندٌ مَّا هُنَالِكَ مَهْزُومٌ مِّنَ الْأَحْزَابِ ۝

پوه سه: چې تنوین لپاره د تحقیر او تقلیل دی، او هنالک بیان د مادی، او خبر د جند خبر د مبتداء محذوف دی، والتقدیر ای هؤلاء الذین یقولون هذا القول جند قلیل حقیر (مهزوم) یعني شکست به وخوري عنقریب، دا صفت د جند دی (من الاحزاب) قال قتاده ؒ اخبر الله تعالی نبیه ﷺ انه سیهزم جند المشرکین کما قال سیهزم الجمع ویؤلون الدبر فجاء تأویلها یوم بدر، دی وایي اشاره و بدر ته ده، لکن اکثره مفسرین یې داسي معنی کوي چې دا کافران ستاد زمانې یا رسول الله، له جملې څخه د هغو کفارو دي چې دوی د رسولانو د خپلو زمانو سره سوي وه في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

القرون الماضية چې د رسولانو سره مقابله وکړي او د رسولانو دين پرشا وتمبوي، هغه مغلوب او هلاک سوه، نو ستا قوم چې په تدابير الهيه کي لاس وهنه کوي او تصرف په امور ربانيه وکي کوي چې نبوت ستا دی دوی به هم مقهور او مغلوب سي.

دروېش وايي: قد تحقق هذا الموعود بفتح مكة وقبل ذالک بفتح بدر.

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَّعَادٌ وَّفِرْعَوْنُ ذُو الْأَوْتَادِ ﴿۱۲﴾

تکذيب کړی وُ تر مخه د اهل مکه د نوح ؑ قوم او قوم د عاديانو (نبيهم هود ؑ) او قوم د فرعوه چې ذو الاوتاد وه (نبيهم موسىٰ ؑ) ابن عباس ؓ او محمد بن کعب ؒ تفسير په ذو البناء المحكم سره کړی دی، او بعض مفسرين وايي محکمه مملکت، او ضحاک ؒ وايي ذو القوة والبطش الشديد، او عطيه وايي ذو الجنود والجموع الكثير يعني ډېر درونه فوج يې درلودی او اتباع کثير يې درلوده.

سوال: قوم خو لفظ مذکر دی، نو فعل مسند وده ته يعني كذبت يې ولي مؤنث راوړی؟

ځواب: قوم په اعتبار د معنی مؤنث دی ای الجماعة.

دروېش وايي: چې اوتاد جمع د وتد ده چې موږی يا مختبيله يې بولي په پښتو، نو چنانچه خېمه په موږيو او مختبيلو محکمه کېږي، دغه رنګه خېمه د مملکت د فرعون د لوی لښکر په موږيو او د ډېرو اتباعو په درولو سره چې لکه مختبيلې وي محکم او مضبوطه وه، او بعض تاريخ پوهان وايي چې فرعون به وچاته ډېر په غضب سو، نو ده په خپل دربار کي څلور متفرق موږي ټکوهلي وه، نو هغه سړی به يې دربار ته حاضر کړی او قميص به يې ځني وکښی، يو لاس به يې په يوه موږي پوري وروتړی، بل لاس به يې په بل موږی پوري وروتړی، داغه رنګه يوه پښه په يوه موږي پوري بله په دوهم موږي پوري او ستوني ستنځ به يې پرې ايستی، نو لرمان چې ده ساتلي وه ور ايله به يې کړه پر ځيګر او نس باندې تر څو چې مړ کېدای، او بعض تاريخ پوهان وايي چې د فرعون په دربار کي څلور جګې مختبيلې ده ټکوهلي وې چاته چې به په غضب سو د هغو مختبيلو په سر پوري به يې وتاړه يعني يو ځای يو لاس بل لاس بل ځای وهکذا دواړې پښې، نو تر مرګه به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر هغه څلورو مختبیلو پر هواءؤ.

فائده: د فرعون د لښکرو او د اتباعو اندازه له دې څخه معلومیږي چې بني اسرائیل په امر د خدای ﷻ د موسیٰ او هارون علیهما السلام چې د شپې ووتل، فرعون چې سهار خبر سو، خپل جنډ او اتباعو ته یې داسې وویل: ان هؤلاء (یعني بني اسرائیل) شرزمة قلیلون، نو ده بني اسرائیل لږه له وبلل، او سره ددې چې بني اسرائیل شپږ لکه په څه بالا وه.

وَثَمُودُ وَقَوْمُ لُوطٍ وَّأَصْحٰبُ لْـَٔيْكَةِ أُولٰٓئِكَ الْأَحْزَابُ ﴿١٣﴾

(ثمود نبیهم صالح ؑ، قوم لوط نبیهم لوط ؑ) او اوسېدونکي د لوی څنګله چې قوم د شعیب ؑ وه، اللام في الاحزاب للعهد الذکري یعني دغه مذکوره احزاب په دې آیت کې هغه احزاب وه چې دمخه یې ذکر تېر سو، یعني مهزوم من الاحزاب.

إِنْ كُلٌّ إِلَّا كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ عِقَابِ ﴿١٤﴾

نه دي دغه احزاب (کلمه د ان نافیه ده او د کل تنوین عوض د مضاف الیه دی ای الاحزاب، الا استثناء ده د محذوف څخه، والتقدیر ما کل حزب فعل شیئًا الا کذب الرسل، (فحق عقاب) ای وجب علیهم او انزل بهم عذاب زما (کسره د عقاب عوض د مضاف الیه ده محذوف ای عقابي، یعني عذاب د کفر ددوی مناسب لحال کفرهم.

بوه سه: چې په کل کذب الرسل مقابلة د جمع ده د بلي جمعې سره لان کل جمع معنی.

وَمَا يَنْظُرُ هٰٓؤُلَآءِ إِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً مَّا لَهَا مِنْ فَوَاقٍ ﴿١٥﴾

انتظار نه کوي دغه کسان یعني کفار د قریشو، عطف علی قوله وقال الکافرون (الا صیحة واحدة) ای نفخة الصور یعني دوی ایمان نه راوړي تر هغو چې عذاب الیم ونه وینې چې هغه ایمان هیڅ فائده نه کوي.

دروښ وایي: چې په یو کتاب کې ما ولیدل چې د ابدي دوزخ لپاره نه داخلیږي و دوزخ ته الا المؤمنون، په دریاب کې د تعجب او د تحیر غرق سوم چې کلمې د حصر یې راوړې او د خلود په قید یې هم مقید کړې بیا یې هم حکم پر مؤمنون کړی دی، فالهمني الله ﷻ او رئیته في کتاب انا اشک في ذالک ي مراد په دې مقوله مؤمنان د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه ورځي د قیامت دي فقط یعني چي په دنیا کي یې ایمان نه وي راوړی، نو زه پوهه سوم چي مؤمنان د هغې ورځي د قیامت فقط خو ټوله کافران دي وهم خالدون فیها.

پوه سه: چي (مالها من فواق) صفت بعد الصفة دی لصیحة، ابن عباس ؓ وایي معناه من رجوع، او مجاهد ؒ وایي انتظار کول، او الضحاک ؒ وایي صرف یې نسته.

دروښ وایي: چي نوري متحدة المآل ترجمې هم کړل سوي دي، کلبي ؒ وایي چي څه وخت چي په سورة الحاقة کي دا آیت نازل سو فاما من اوتی کتابه بیمینه آه واما من اوتی کتابه بشماله آه کفارو د مکې استهزاءً داسي وویل ربنا عجل لنا قطنا، نو خدای ﷻ دې قول حکایت وکړی او رد یې پرو کړی.

وَقَالُوا رَبَّنَا عَجِّلْ لَّنَا قِطَّنَا قَبْلَ يَوْمِ الْحِسَابِ ﴿١٦﴾

(وقالوا) عطف علی قال الکافرون، سعید بن جبیر ؒ له ابن عباس ؓ څخه روایت کړی دی چي ددوی مراد دا ؤ یا ربنا موږ ته راکړې کتاب یعني عمل نامه په دې دنیا کي کي چي د عجل ترجمه ده (قبل یوم الحساب) د مخه تر ورځي د حساب.

سوال: د یوم الحساب څخه مشرکان منکر وه نو څرنګه دوی قبل یوم الحساب ووایې؟

ځواب: دا خبره ددوی استهزاءً وه یعني لکه محمد (ﷺ) چي وایي او دده کتاب هم دا غه خبره کوي، او الحسن، قتادة مجاهد او سدي رحمهم الله وایي ددوی قصد دا ؤ چي زموږ برخه د عقوبت او د عذاب اوس په دنیا کي راکړی لکه النضر بن الحارث چي به ویل اللهم ان کان هذا (ای ما یقوله محمد ﷺ) هو الحق من عندک فامطر علینا حجارة من السماء آه، یعني موږ خو یې حق نه بولو، نو موږ ته په دې دنیا عذاب راکړې. او له مجاهد ؒ څخه دا هم روایت راغلی دی قطنا ای حسابنا، او له سعید بن جبیر ؒ څخه دا هم روایت راغلی دی چي معنی د قطنا حظنا ونصیبنا من الجنة في الدنیا التي یقول محمد، وهذا المعنی بعید جدًا الا انیکون استهزاءً.

اِصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوٗدَ ذَا الْاَيْدِ ۚ اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ ﴿١٧﴾

صبر وکړه یا محمد هغه څه چي دوی یعني اهل مکه استهزاءً وتکذیبًا وعطف علیه قوله واذکر آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: د (واذکر عبدنا داؤد) د ماقبل یعني معطوف علیه سره چي اصبر ؤ څه مناسبت ستة؟

ځواب: ذکر د قصو د انبیاء علیهم السلام د صبر فائده کوي پر مکروهاتو د طبع بشري او حبس پر طاعت (ذا الاید) چي خاوند د قوت ؤ پر طاعت او د بطش شدید ؤ پر کافرانوا.

پوه سه: چي اوب رجوع ته وایي، اواب صیغه د مبالغې وه ای رجاع الی الله عما سواه او الی الطاعة عن المعصیة، وقال ابن عباس رضي الله عنهما مطیع ای لله او سعید بن جبیر وایي چي د اواب معنی په لغت کي د حبشو مسبح ده یعني تسبیح سبحان الله په ډېره ویل.

سوال: قرآن کریم خو عربي دی نو د حبشي لغت راوړل پکښې څرنګه صحیح دی؟

ځواب: په قرآن کریم کي لغات مشترکه بین الالسنة ډېر دي لکه لفظ د تنور چي د تولو ژبو مشترک لفظ یا یا قرطاس چي د رومي او عربي مشترک لفظ دی الی غیر ذالک، په صحیح حدیث کي چي روایت یې بخاري، مسلم، احمد، ابن ماجه، او نسائي کړی دی عن ابن عمر رضي الله عنهما عن النبي صلى الله عليه وسلم قال احب الصیام الی الله صیام داؤد کان یصوم یومًا ویفطر یومًا، واحب الصلوة الی الله صلوة داؤد (ای صلوة اللیل) کان ینام نصف اللیل ویقوم ثلث اللیل (ای التهجد) وینام السدس الآخیر من اللیل.

دروښ وایي: چي دا حدیث تائید د تولو معناؤ د اوّاب چي ذکر سوې کوي والله اعلم.

إِنَّا سَخَّرْنَا الْجِبَالَ مَعَهُ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِشْرَاقِ ﴿١٨﴾

پوه سه: چي له دې ځایه څخه الی قوله فصل الخطاب بیان د کرامت د داؤد علیه السلام عند الله تعالی، نو بعید نه ده چي بدل اشتمال وي د ای اذکر کرامة داؤد عند الله حیث سخرنا له الجبال آه.

فائده: داؤد علیه السلام بن ایشا من سبط یهودا بن یعقوب علیه السلام ؤ، او دده او د موسی علیه السلام ترمنځ (۵۶۹) کاله وه او پر شریعت د موسی علیه السلام ؤ او عمر یې سل (۱۰۰) کاله ؤ.

(یسبحن) چي دوی به تسبیح ویلې (یسبحن، حال دی له سخرنا څخه)

پوښتنه: یسبحن چي حال ده نو مضارع یې د څه حکمت لپاره راوړه سَبَّحْنَ یې ولي نه ووایه؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: هو ! لکن جمله فعلیه لپاره د احضار د حالت ماضیه یې راوړه او بل لپاره د تجدد د تسبیح منه حالاً بعد حال ویدل علی کلا الفائدتین الفعل المضارع (بالعشي والاشراق) الکبيؒ وایي ای غدوة وعشیًا والاشراق هغه وخت دی چې لمر راوخېژي او رڼا ښه پر مځکه پیل سي، فسره ابن عباسؓ بصلوة الضحیٰ یعني د څاښت لمونځ.

فائده: د څاښت د لمانځه ادنیٰ څلور رکعته دی په یوه تحریمه، اګرچه تعین د سورتو کوم شرط نه دی، لکن اهل تجربه علماء وایي چې په اول رکعت کي دي سورة والشمس والضحٰها الخ ووایي، په دوهم رکعت کي والليل ذا يغشى ووایي بیا دي قعده وکړي یعني د مابین ناسته، اللهم صل دي پوره ووایي کما هو قانون الفقه في النوافل الرباعية چې درېیم رکعت ته ولاړ سي بیا دي سبحانک اللهم پوره ووایي کما هو قانون النوافل الرباعية او په درېیم رکعت کي دي والضحى ووایي او په څلورم رکعت کي دي الم نشرح ووایي، او له عشي څخه مراد اخیر د ورځي دی، روح البیان او بغويؒ په خپل سند سره له ابن عباسؓ څخه روایت کړی دی چې ما به دغه آیت د قرآن عظیم الشان تلاوت کاوه، لکن په دې نه پوهېدم چې صلوة الاشراق د څه وخت لمونځ دی حتی چې ماته ام هاني بنت ابی طالب وویل چې رسول الله ﷺ په کال د فتح د مکې زما کور ته راغلی او وبه یې زما څخه طلب کړې، ما چې اوبه وروړلې ده اودس تازه کړی ثم صلی الضحیٰ فقال یا ام هاني هذا صلوة الاشراق، ای نهایة سورة الاشراق، والله اعلم.

وَالطَّيْرَ مَحْشُورَةً ۖ كُلٌّ لَّهُ أَوَّابٌ ﴿١٩﴾

موږ مسخر کړي وه ده ته مرغان (والطير عطف دی پر جبال یعني سخرنا الطير) چې راجمع کېدلې به په وخت کي د تسبیح د هر جانبه څخه.

پوه سه: چې طیر جمع د طائر ده څکه یې محشورة مؤنث راوړی (کل) ای کل واحد من الجبال والطير (له اواب) یعني رجوع یې و تسبیح ته کوله په تسبیح د داؤد، یعني په تسبیح ویلو کي به یې د داؤد سره ګډون کاوه.

پوښتنه: په تېر سوي حدیث کي صلوة الاشراق د صلوة ضحیٰ نوم سو، او په بل حدیث کي راغلي دي من صلی صلوة الفجر بجماعة ثم قعد يذكر الله تعالى حتى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تطلع الشمس (يعني رمح او رمحين) ثم صلى ركعتين كان له كاجر عمرة تامة تامة وهي صلوة الاشراق، نو ددې دوو حديثو ترمنځ به تدافع نه وي؟

ځواب: جمع يې ممكنه ده په دوو وجهو سره، اول چې اشراق دى په معنى د اشرق القوم في وقت مشروع يعني لمريوه يا دوې نيزې را پورته سي، اى الصلوة بالقدر المذكور فلا بدل على الضحى الذي هو الوقت بين طلوع الشمس وزوالها والوجه الثاني ان اول وقت الاشراق هو اذا طلع بقدر رمح او رمحين واخير وقتها هو اول الضحى؛ وحاصل الجوابين ان الاشراق لفظ مشترک بين الاول وبين الثاني، لكن په اوسنى زمانه كي صلوة الاشراق اول ته وايي او ثاني ته صلوة الضحى وايي د اشراق په نامه سره نه دى مشهور.

دروښ وايي: چې دا يو سر خفي ؤ چې اميان خو څه كوې بعض علماء يې په دقيقه نه دي پوهه فافهم.

وَشَدَدْنَا مُلْكَهٗ

موږ قوي كړه بادشاهي دده، يا په دې چې د خلكو په زړو كي خداى ﷻ دده هيبت وروا چاوه يا په ډېر والي د جنود دده، ابن عباس ؓ وايي كان داؤد ؑ اشد ملك الارض سلطانًا حتى چني محراب دده (له محراب څخه يا محراب متعارفه مراد دى، يا قلعه دده چې قلعې ته هم په عربي وايي چې ځاى د جنګ د دښمن دى لكه محراب متعارف چې ځاى د جنګ دى د شيطان سره) نو هره شپه (۳۶۰۰۰) عسكرو پهره پر كول، مفسر قديم للقرآن الكريم حسين كاشفي الهروي ؒ وايي: ومحكم كرديم بادشاهى وى را بدعاى مظلومان يا به رايهٔ نصيحت كنندگان يا بكوتاه كردن دست ظلم از رعيت يا بالقاى رعب وى در دلهاى دشمنان يا به بافتن زره (زغره چې جنګي قميص ؤ په پخوا زمانه كي) وساختن آلات الحرب يا به بسيارى لشكر او يا بكثرت پاسبانان وى (يعني پهره كونكي) كه هر شب (۳۶۰۰۰) مرد پاس خانه او ميداشتند، انتهى كلامه.

فائده: په بخاري او نورو كتابو كي د حديث چې عليه الصلوة والسلام چې اول مدينې ته راغلى چونكه دښمنانو د دين اسلام او د عليه الصلوة والسلام ډېر وه من اليهود وغيرهم، نو هره شپه به له انصارو او مهاجرينو څخه څلويښت (۴۰) كسانو تر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سهاره پهره پر کول تاچي دا آیت نازل سو: والله یعصمک من الناس، تاسي خدای ﷻ له خلکو یعني اعداؤ څخه، چي سهار سو علیه الصلوة والسلام خلکو ته یعني پهره کونکو ته وویل فقد رضی عنکم نبي الله وعصمني الله، وروسته تر دې عصمت الهي رسول الله ﷺ به د شپې یوازي په کوڅو کي د مدیني ګرځیدی.

دروبش وایي: چي هم دا قانون د پهره داری هم تر اوسه پوري پاتې دی چي د هر باچا سره ساتنډویان د شپې او د ورځي په حضر او په سفر کي ورسره وي او ددوی تنخوا ورکول کیږي.

روی البغوي عن عکرمة عن ابن عباس ؓ چي په دوره د حکومت د داؤد ﷺ یوه سړي د بني اسرائیلو ددوی پر مشر سړي دعوی دائره کړه په نبي د داؤد ؑ چي ده زما څخه غویی په زوره بهولی دی، له مدعي علیه څخه چي داؤد ؑ پوښتنه وکړه هغه له غصب څخه د غوایي منکر سو، داؤد ؑ له مدعي وغوښتل چي شاهدان لري؟ هغه ورته وویل یا! داؤد ؑ دوی ته وویل چي تاسي اوس ولاړ سئ زه به ستاسي په دعوی کي غور وکړم، نو خدای پاک په خوب کي داؤد ؑ ته وویل یعني خوب یې ولیدی چي دغه مدعي علیه قتل کړه، چي راویښ سو د ځان سره یې ووېل چي دا خو یو خوب ؤ او زه تلوار باید ونه کړم، چي بنه راته ثابته نه سي، دوهمه شپه یې بیا هغسي خوب ولیدی، بیا داؤد ؑ مدعی علیه قتل نه کړی، درېیمه شپه یې بیا خوب ولیدی او ورته وویل سول چي یا به دغه سړی قتل کوې یا به پر تا عقوبت نازل سي، نو داؤد ؑ هغه مدعی علیه ته سړی ورواستاوه، هغه چي راغلی داؤد ﷺ ورته وویل: ان الله قد اوحی الي ان اقتلک! هغه ورته وویل: اتقتلني بغیر بینة یعني چي مدعي ګواهان نه لري، داؤد ؑ ورته وویل نعم والله لانفذن امر الله فیک هغه سړی چي پوهه سو چي وژني دي، نو یې وویل چي ته تلوار زما په قتل کي مه کوه چي زه صورت حال درته ووایم، داؤد ؑ اجازه ورکړه چي ووایه: هغه وویل والله ما حکم الله علي بالقتل یعني تاته یا داؤد بهذا الذنب یعني د غوایي د غصب په سبب، بلکي ما د دغه مدعی علیه پلار په پته په چم وژلی ؤ، نو ځکه خدای ؑ تاته زما د قتل امر وکړی، نو داؤد ﷺ د قتل امر صادر کړی هغه سړی قتل سو، ددې قصې په اوریدلو سره په بني اسرائیلو کي غم او شدت پیدا سو په دې معنی چي داؤد ؑ په ناحقه دعوه کي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای پاک وحي کوي فاشتد ملکه او پرتولو بني اسرائیلو د رعب کمبله وغورول سول، دا قصه روح البیان مختصراً بدون السند بیان کړې ده، او مظهري "له بغوي" څخه کمامرت مطولاً سره د سنده نقل کړې ده.

وَاٰتَيْنٰهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ الْخِطَابِ ۝

موږ داوُد ؑ ته ورکړی وُ حکمت.

پوه سه: د حکمت معنی دلته نبوة او کمال علم او محکم عمل دی (وفصل الخطاب) په شرح کي د فصوص للمولی الجامي ؒ راغلي دي چي مراد له فصل الخطاب بیان د خپل حکمت دی علی الوجه المفهم چي څوک په ده پوهیږي، نو حاصل د معنی یې دا دی چي خطاب الفاصل المميز بين الحق والباطل، نو په دې تقدیر فصل په معنی د فاصل دی او یا فصل په معنی د مفصول دی یعني الخطاب المخلص الذي ينبه على المرام، روح المعاني د فصل الخطاب تعبیر داسي کړی دی الكلام الذي يفصل (چي جلا والی کوي) بين الصحيح والفاسد، والحق والباطل والصواب والخطاء وهو كلامه عليه السلام في القضايا والحكومات وتدابير الملك، او دا ترجمه هم جواز لري چي مراد له فصل الخطاب څخه دي کلام متوسط مراد وي چي نه دومره مختصر وي چي مخاطب يې فهم نسي کولای، او نه دومره طویل وي چي مخاطب په ملال کي واچوي چي کلام د نبینا ﷺ داغسي وُ، او د حضرت علي ؓ روایت دی چي فصل الخطاب دا دی چي "البينة على المدعي واليمين على من انكر، لان كلام الخصوم ينقطع بينفصل به" ويروى ذالک عن ابی بن كعب، حيث قال فصل الخطاب الشهود والايمان وهو قول مجاهد وعطاء بن ابی رباح، او مشهوره داده چي فصل الخطاب قول الانسان بعد الحمد لله والثناء عليه اما بعد، يعني چي شروع په مقصود کوي، بيضاوي ؒ وايي انما سمي به لانه يفصل المقصود عما سبق من الحمد لله والصلوة على رسوله.

وَهَلْ اَتٰىكَ نَبَؤُا الْخَصْمِ اِذْ تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ ۝

بوه سه: چي دا استفهام دی معنی يې تعجب د سامع ده، والتشويق الى استماع القصة والجملة معطوفة على اذكر، او خصم په اصل کي مصدر دی، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اطلاق يې پر تثنیه او جمع دواړو روا دی، مراد په دې ځای کې دوه کسه دي چې خصومت يې سره ؤ.

(اذا تسوروا) چې دوی د قلعې پر دېوالې را ووانښتل.

سوال: متخاصمان خو دوه وه، نو صیغه د جمع يې څرنګه راوړه؟

ځواب: د جمع راوړل مجاز دی کما في قوله تعالى فقد صغت قلوبكما مكان قلباكما لان المخاطب في الآية المتلوة اثنان.

(المحراب) المحراب کمامرد لته په معنی د کلا دی، او بعض وايي محراب د مسجد دی.

دروېش وايي: چې وجه تسمیه د دواړو په محراب سره وړاندې تېره سوه.

دروېش وايي: چې د داؤد عليه السلام قصه په مختلف دول قصه کونکي بیانوي، چې به بعضو کې د کذب آثار ښکاره معلومېږي او په بعضو کې توهین د داؤد ؑ نارې وهي، نو فقیر لپاره د بیان صحیح د قصې د داؤد ؑ څو فوائد بیانوم، بیا به د قصې بیان وکړم (۱) د تسوروا معنی ای علوا سوره ونزلوا الیه یعني د کلا د لوړې خوا څخه و داؤد ؑ ته دوه خصم راشوه سوه، نو باب د تفعل لپاره د علو دی نحو تسنم الجمل ای علا سنامه یعني پر بوک يې سپور سو وقذری الجبل یعني سر ته د غره ورسېدی.

تفریع علي هذه الفائدة: هغه قصه خوانان چې وايي چې داؤد ؑ ته دوه کسان راغله په حقیقت کې انسانان وه غلطه خبره ده، ولي حقیقت انسانان دده د کلا د لوړې خوا څخه څرنګه راشوه سوه؟ ولي چې دده د کلا (قلعې) دېوال ۹۰ پر لوړؤ او بل (۳۵۰۰۰) نفر پهره پر ولاړ وه فافهم، ابن عباس ؓ وايي چې داؤد ؑ د ژوند شپې او ورځې څلور حصې کړې (۱) یومًا للعبادة (۲) للقضاء بین الناس (۳) د ځان په خصوصي مشغولیت به بوخت ؤ (۴) لعامة بني اسرائیل چې دوی ته به يې نصیحت کاوه او دوی به ژړل.

إِذْ دَخَلُوا عَلَىٰ دَاوُودَ فَفَزِعَ مِنْهُمْ

دی ځني وېرېدی، ولي خدای ؑ دوې ملکي ورته را استولي وې په صورت د انسان چې جبرئیل او میکائیل ؑ وه، سبب د فزع هم داؤ چې دوی یعني دا دوو ملکو د پهره کونکو څخه وغوښتل چې موږ ور پرېږده چې موږ د داؤد سره ملاقات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړو، هغو منع ورته وکړه، نو ملکي د کلا پر دېوال د لوړي خوا ورغلې چې دده د عبادت ورځ وه، او بعض وايي چې شپه وه او (۳۵۰۰۰) پهره داران پر کلا چار چاپېره موجود هم وه، دی وېرې دی چې دا دوه خلک تاته یو ازار پېښ نه کړي مَن القتل وغیره، بعض علماؤ یې سبب د نورو شیانو بیان کړی دی.

قال روح المعاني والظاهر ان سبب فزعه (یعني د ېېرې) لیس الا لتوقع الاذی بمخالفة المعتاد یعني چې سره د دېوال د کلا د جګوالي او سره د (۳۵۰۰۰) پهره دارانو دوی څرنګه راغله؟ دې ملکو چې د داؤد ؑ خوف محسوس کړی، نو یې ورته وویل:

قَالُوْا لَا تَخَفْ خَصْمٰنِ بَغٰى بَعْضُنَا عَلٰى بَعْضٍ

هغو وویل ېېرېږه مه چې موږ به تاته ازار درورسوو (خصمان) خبر د مبتداء محذوفي دی ای نحن خصمان.

تېرې او ظلم کړی دی بعض زموږ پر بعض آخر.

سوال: دوی خو ملکي وې، نو دا خبره د دوی به درواغ نه وي، او ملکي خو له کذب څخه پاکي دي؟

ځواب: دا کلام د دوی مبني پر فرض دی یا غرض یې تعریض پر داؤد دی کذب به هلته وای که د دوی مراد اخبار حقیقت وای.

فَاحْكُمْ بَيْنَنَا بِالْحَقِّ وَلَا تُشْطِطْ وَاهْدِنَآ اِلٰى سَوَآءِ الصِّرَاطِ ۝

نو ته حکم وکړه زموږ تر منځ په حق سره یعني ملامت به ملامت وایه، او ظلم او تجاوز تر حق مه کوه.

پوهه: چې سواء مصدر دی په معنی د فاعل او اضافت د سواء بالمعنی المراد اضافت د موصوف و صفت ته دی ای الطریق المستوي چې مراد ځني عدل دی، دا وروسته جمله مستانفه ده لپاره د بیان د مافیه اختلافها.

اِنَّ هٰذَآ اَخِيْ لَهٗ تِسْعٌ وَّتِسْعُوْنَ نَعْجَةً وَّلِيَ نَعْجَةٌ وَّاحِدَةٌ

بېشکه دا زما ورور دی (ای في الدین والطریق) دده نهه نیوي (۹۹) مایني دي، او زما یوه ماینه ده.

پوهه: چې نعجة په اصل لغت کې مېږي ته وایي لکن عرب د مایني کنایه په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نعجه سره کوي، دا هم تعریض دی پر داؤد کما سیئاتي او دی پوهه کوي.

فَقَالَ اَكْفِلْنِيْهَا وَعَزَّنِيْ فِي الْخِطَابِ ﴿۲۳﴾

نو ده وویل دا ستا یوه نعجه ماته راکړه کذا قال ابن عباس رضي الله عنه، مجاهد رحمه الله وایي چې ته یې طلاقه کړه چې زه نکاح ورسره وکړم، وحقیقة الکفالة الضم، فالمعنی ضمها الي والمآل واحد.

(وعزني في الخطاب) او پر ما غالب سو په دلائلو کي، عطف دی پر قال، الضحاک رحمه الله وایي که زه دلیل ورسره وایم دی تر ما افصح دی، او که جنګ ورسره کوم دی تر ما قوي دی.

دروښ وایي: چې صورت حال د داؤد علیه السلام څه وُ چې خدای ﷻ جبرئیل او میکائیل ورته راواستول، او څه تنبیه یې داؤد علیه السلام ته ورکوله، بعض مفسرین وایي چې داؤد علیه السلام ماینه د یو سړي چې نوم یې اوریاؤ (چې د مؤمنانو څخه د قوم داؤد علیه السلام وُ او په بعض روایاتو کي راغلي دي چې دده وزیر وُ) ولیدل او میل طبعي یې ورته وسو. یعني داسي نه وه چې په اختیار وه بلکې طبع انساني ددې تقاضا کوي چې بنائسته ښځه وویني د انسان میل ورته کېږي، نو یې اوریا ته وویل چې دا ماینه دي طلاقه کړه چې زه یې په نکاح کړم اوریا ځني وشرمېدی ماینه یې طلاقه کړه او داؤد علیه السلام په نکاح کړه، داؤد علیه السلام دغه وخت نهه نیوي (۹۹) ماینې وې او د اوریا داغه یوه ماینه وه.

تنبیه: د داؤد علیه السلام په شریعت کي دا کار روا وُ او په امت کي رواج وُ، مخل په مروة او غیرت سره هم نه وُ چې د سړي به د بل ماینه خوښه سوه د هغې مېړه ته به یې وویل چې ته ستا ماینه را طلاقه کړه یا به سره اشنایان وه یا به یې ورته وویل چې زه ستا پر ماینه عاشق یم، دا دی تر پر خپل طبعیت ماینه پیدا کړه ولور به زه درکړم، یا به طالب د قوم مشر سړی وُ چې ماینه والا به یې خوا نسوای بدولای الی غیر ذالک.

سوال: دا کار چې د داؤد علیه السلام په زمانه کي روا وُ، نو د اوریا د ماینې د طلاق چې ده طلب وکړی نو پر ده څه ملامتیا وه چې خدای ﷻ ده ته تنبیه ورکول؟

ځواب: د داؤد علیه السلام منزله په دربار کي د خدای ﷻ لوړه وه تر افرادو د امت دده، نو باید داؤد علیه السلام چې نهه نیوي ماینې یې هم درلودې د اوریا د یوې ماینې طالب باید ګرځېدلی وای، بلکې مناسبه دا وه چې ده خپل محبت قلبي مهار کړی وای او خپل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نفس یې مغلوب کړی وای او د امت پر ډول رفتار یې نه وای کړی، لما قیل ان حسنات الابرار سیئات المقربین، او بعض مفسرین وایي چې داؤد علیه السلام له اوریا څخه د ماینې د طلاق طلب نه دی کړی، بلکې په زړه کې یې دا وه چې اوریا چې همیشه به د داؤد ؑ له طرفه قومندان د لښکرؤ چې که دی قتل کړل سو ماینه به یې زړه په نکاح کړم، والی هذا مال الحافظ ابن حجر ؒ في التحفة (چې دده تصنیف دی) او بعض علماء وایي چې اوریا دا ښځه نه وه په نکاح کړې صرف مرکه یې ورته کړې وه، وروسته داؤد علیه السلام مرکه ورته وکړه، او د ښځې قریبانو داؤد ؑ ته په نکاح ورکړه، نو دی لعلو شانه عند الله په دې ملامت سو چې خطبه پر خطبه د اخیه المسلم ولي کوله (یعني ورور د داؤد ؑ یعني في الدین چې مرکه ورته کړې وه، نو ده ولي مرکه ورته کوله، او بعض علماء وایي چې په شریعت کې د داؤد ؑ حکم داسې ؤ چې یو سړی چې به مړ سو او ماینه به یې پاته سوه اول هغه اولیاء د میت لکه ورور، اکا وغیره حق دارد نکاح ؤ (لکه په پښتنو کې چې هم دا رواج سته) نو که هغو اولیاء د میت نه په نکاح کولای نیاد بل مېړه اجازه ورته وه، نو اوریا چې قتل سو داؤد ؑ مرکه ورته وکړه په ګمان ددې چې د قریبانو د اوریا نه ده په کار، نو چې داؤد ؑ مرکه ورته وکړه نو اولیاد میت یعني اوریا جلالت شان او هیبت د داؤد ؑ منع کړه له اظهار څخه د خپل ارادت، نو ملامتیا د داؤد ؑ چې ده به اولاد اوریا له اولیاؤ څخه پوښتنه کړې وای، چې په تاسې کې څوک راغب د اوریا د ماینې سته او کدنه، او بعض علماء وایي چې داؤد ؑ په عبادت بوخت ؤ، چې یو نر او یوه ښځه په یو خصومت کې چې ددوی تر منځ ؤ ورته راغله، داؤد ؑ و ښځې ته صرف د تعین لپاره وکتل چې دا کتل مباح دي و قاضي ته وروسته یې میل د طبع پیدا سو، نو بعض نوافل عبادات ځنې پاته سول، د عتاب سبب یې دا ؤ.

دروښ وایي: وقیل غیر ذالک لکن علامه بغدادي السید محمود آلوسي په روح المعاني کې وایي چې المقبول من هذه الاقوال وامثالها مایبعد من الخلال بمنصبة النبوة لداؤد علیه السلام وللقصاص کلام مشهور لایکاد یصح لما فیه من مزید الخلال بمنصه علیه الصلوة والسلام انتهی کلام آلوسي ؒ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وایي: چې شاید په کلام کې د آلوسي اشاره و هغو قصو ته وي چې مظهري ذکر کړې، یا البغوي ؒ ویلي دي چې تاسي له (۱۶۲) څخه تر (۱۶۷) صفحې پورې مطالعه کړئ عجائبي قصې به پکښې وویني والله اعلم بالصواب، واقول سبحان ربک رب العزة عما یصفون وسلام علی المرسلین والحمد لله رب العالمین.

قَالَ لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ إِلَىٰ نِعَاجِهِ ۖ

داؤد علیه السلام وویل، لام موطئه د قسم دی قصد له راوړلو څخه یې انکار دی له قول څخه د ذی النعجات الکثیرة او عیب د صنع د هغه دی.

پوښتنه: لقد ظلمک خو یکطرفه حکم دی یعني د هغه بل سړي څخه چې ذی نعجة واحدة ؤ معلومات یې نه و کړی او یکطرفه حکم خو نه دی روا؟

ځواب: په کلام کې د داؤد ؑ قید محذوف دی یعني لقد ظلمک کلام محذوف دی ای فاقر المدعی علیه فقال لقد ظلمک آه.

سوال: په قرآن کریم کې یې ولي اعتراف د مدعی علیه نه راوړی؟

ځواب: لانهٗ معلوم من الشرائع کلها انه لایحکم الحاکم الا بعد جواب المدعی علیه یعني بلفظ نعم، او له دې سببه بعض مفسرین داسي وایي بعد اعتراف صاحبه به آه.

پوه سه: سوال مصدر دی مضاف و مفعول او متعدي والی یې و بل مفعول ته په الی سره په سبب د تضمن دی معنی لره د اضافت، والتقدیر ظلمک بسوال ان یضیف نعجتک الی نعاجه یعني چې سل پوره سي.

فائده: بعض جاهلان وایي چې د داؤد ؑ حکم داغه وه چې د مدعی تصدیق یې وکړی او حکم د ظلم یې صادر کړی دمخه تر سوال د مدعی علیه څخه.

دروښ وایي: چې هذا کذب ینافي ما سیئاتي في القرآن.

وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ الْخُلَطَاءِ لَيَبْغِي بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ

په تحقیق د پر د شریکانو چې مالونه یې سره گډوي، خلطا جمع د خلیط ده.

دروښ وایي: چې شراکت که څه هم عام دی لکن شائع د ماشیه په شراکت کې دی ظلم کوي یو پر بل یعني مراعات د حق د شرکت او صحبت نه کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَقَلِيلٌ مَّا هُمْ

مګر نه هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي او عمل د ځصلات صالحات کوي، ولي چې دغه کسان ظلم پر هیڅ چا نه کوي، یعني دغه کسان لږ دي.

پوه سه: چې جمله د ان کثیرًا عطف ده علی قوله لقد ظلمک.

پوه سه: چې قلیل خبر مقدم دی او هم مبتداء او کلمه د ما زائده ده لپاره د ابهام والتعجب ولقلتهم، او په روح المعاني او مظهري کي وایي چې داوٗد چې دا فتوی صادر کړی دی دوو کسانو یعني په صورت کي د انسانانو وه او په حقیقت کي جبرئیل او میکائیل و یو و بل ته یې وکتل وه یې خندل او اسمان ته ولاړل.

دروښ وایي: چې هغه احتمالات چې بعض مفسرین ورته تللي وه او فقیر دمخه هغه احتمالات چې په بعضو کي یو نر او یوه ښځه راغلي وه، او په بل روایت کي راغلي دي وه چې دواړه حقیقةً انسانان وه، ټوله د مابین ځخه ولاړل او دا یقیني سوه چې دا دوه کسه ملکي وې چې د اسمان و خوا ته ولاړې.

وَظَنَّ دَاوُودُ أَنَّمَا فَتَنَّاهُ فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهُ وَخَرَّ رَاكِعًا وَأَنَابَ

(وظن داوٗد) عطف دی پر لقد ظلمک.

پوه سه: چې ظن دلته په معنی د علم او یقین دی، په تفسیر بحر العلوم کي وایي چې ظن چونکه طرف راجع ته وایي نو علم ته نژدې دی، ځکه په دې ځای کي یې مجازًا په علم او یقین کي استعمال کړی.

(انما فتناه) یعني خدای ﷻ له ده ځخه امتحان واخست په دغه قضاوت سره چې دی به وپوهیږي چې د نهه نیوي (۹۹) نعجة درلوونکو ځخه ته مراد یې او د نعجة واحدة درلوونکي ځخه اوریا مراد دی (فاستغفر ربه) طلب د مغفرت یې وکړی له خدای ﷻ ځخه، یعني ما ذکر من قصته وقصة اوریا (وخر راکعًا) او پرې وتی پر سجده، نو رکوع دلته مجازًا په معنی د سجدې ده، وجه د مجاز یې داده چې چونکه سړی ورکوع ته ځي نو ګویا رکوع سبب د سجدې ده، فاستعمل السبب في المسبب، یا دا اطلاق استعاره ده یعني مبني پر مشابهت د رکوع او سجدې په انحناء او خضوع کي، عرب وایي نخلة راکعة ونخلة ساجدة.

(وانا ب) یعني رجوع یې و خدای ﷻ ته وکړه بالتوبة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَغَفَرْنَا لَهُ ذٰلِكَ ۭ وَاِنَّ لَهُ عِنْدَنَا لَزُلْفٰى وَحُسْنَ مَاٰبٍ ۝

موږ بخښنه ورته وکړه د ماجری، اخرج احمد وعبد بن حمید عن یونس بن حبان ان داؤد ﷺ بکی اربعین لیلة حتی چې دده د سجده ګاه پر شاوخوا وابنه راشنه سوه چې دده اوښکي به بهېدلې (ثم قال یارب قرح الجبین) تپې سو تندی مي (ورقاء الدمع) اوښکي مي ودربدلې، یعني سترګي مي وچې سوې (وخیئتي کماهو) یعني ګناه مي پاته ده، راویان وایي چې داؤد ؑ به په هغه اوږده سجده کې څلوېښت شپې داسي به یې ویل: یا رب ذل داؤد ذلة ابعد مما بین المشرق والمغرب، رب ان لم ترحم ضعف داؤد ولم تغفرله ذنبه جعلت ذنبه حدیثًا في المخلوق یعني که ته نه وبخښې ګناه دده، نو تا دده ګناه قصه وګرځولې په وروسته زمانو کې، فجائه جبرئیل بعد اربعین لیلة، فقال یا داؤد ان الله غفرلک الهم الذي هممت به (اشاره ده و قصې ته د اوریا کمامر) فقال داؤد الرب قادر علی ان یغفر لي الهم الذي هممت به واخرج احمد وغیره عن ثابت عن صفوان وعبد بن حمید من طریق عطاء بن ثابت عن ابی عبد الله الجدلي، ما رفع داؤد رأسه الی السماء بعد الخطیئة حتی مات.

(وان له عندنا) او په تحقیق زما په نېږ یعني بعد المغفرة (لزلفٰی) ای قربًا بلا کیف او مکانة حصلت له بکمال الندم والاستغفار، بحیث لو لا تلک الخطیئة لما حصلت له تلک المنزلة (وحسن مآب) او ښه مرجع په آخرت کې.

دروښ وایي: چې ما تاسي ته وړاندي وویل چې تاسي د تفسیر مظهري فلانی او فلانی صفحه مطالعه کړئ عجیبه قصې به ووینئ، یوه له هغو څخه دا قصه ده چې ده په دې ځای کې یعني حسن مآب ته چې را رسېدلی دی، نو یې داسي لیکلي دي قلت والظاهر ان من روی ان داؤد ؑ بعث اوریا مرة بعد اخری الی المغازي واراد ان یقتل لیتزوج زوجته فهو کذب مفتری حاشاه عن ذالک انتهی بعبارته، نو دروښ د مظهري ؒ ته تعجب کوي چې دا قصه ځو تا په خپله کړې وه په صفحه (۱۶۳) کې نو چې ظاهر په نېږ ستا دا وای چې دا قصه درواغ ده، اول خو دي ولي راوړه؟ بیا چې رادي ورڼ په دې هر شد ؤ مد او تفصیل سره، نو خو هم هوري یعني په (۱۶۳) کې به دي ویلي وای چې دا قصه درواغ ده، لکن نه دي وویل دلته چې ورسېدې ودي ویل چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دا قصه درواغ ده، د ځان تکذیب دي په خپله وکړي، نو ستاد تفسیر مطالعه کونکي چې هغه ځای یعني (۱۶۳) صفحې ته ورسېږي خو دوی په مزه مزه دا قصه کوي، دوی څه خبر دي چې مفسر مظهري" په اخیر کي ددې قصې تکذیب کوي یعني په (۱۷۱) صفحه کي یعني تخمیناً دوولس صفحې وروسته.

پوښتنه: انبیاء علیهم السلام خو له ګناه څخه معصوم دي قبل النبوة و بعدها، نو له داؤد علیه السلام څخه دا ګناه څرنګه صادره سوه هم د عین نبوت په حال کي؟

ځواب: روح المعاني په خپل تفسیر د (۲۳) جزء صفحه (۱۸۶) کي لیکلي دي انه لم یکن منه الا ترک ماهو الاولی بعالي شانه والاستغفار منه (لکه اقرب الی الله انبیاء علیهم السلام یا اولیاء کرام رحمهم الله پر ترک الادنی دومره بخښنه د خدای ﷻ څخه غواړي چې عمومي خلک پر کبائرو ګنهو دومره استغفار او خدای ﷻ ته ژړل لکه دمخه د داؤد" د استغفار بیانولو په تفصیل کي چې تېر سو) په پای کي روح المعاني ویلي دي وهو لایخل بالعصمة انتهی.

فائده: دروېش په عصمت کي د انبیاء علیهم السلام (۳۵) کال تخمیناً دمخه یوه رساله تصنیف کړې وه چې پر هغه رساله د علماؤ ټولو د قندهار او د هرات د حضراتو امضاوي او دستخطونه درج دي، او چهاپ ته هم په هغه وخت کي سپارل سوې وه او په زرو نسخې چهاپ او خرڅي سوې، اوس نه پوهېږم چې په کتب فروشانو کي د کوټې د بنار یا د قندهار د بنار به دستیاب سي او که نه، د رسالې نوم "کشف الغطاء عن عصمة الانبیاء" دی.

یٰدَاوٗدُ اِنَّا جَعَلْنٰكَ خَلِیْفَةً فِی الْاَرْضِ

الیاء للنداء دا جمله په تقدیر د قلنا عطف ده علی قوله فغفرنا له، والتقدیر فغفرنا له وقلنا له یا داؤد، موږ ګرځولی یې ته مسلط پر ملک د مځکي، او یا معنی داده چې جای نشین یې په مځکه کي د من قبلک من الانبیاء العالمین بالحق.

په حدیث کي راغلي دي چې عمر بن الخطاب رضي الله عنه چې د امیر المؤمنین پر وظیفه مقرر سو، نو پوښتنه یې وکړه د طلحة، عبد الله بن الزبیر، کعب او سلمان فارسي رضي الله عنهم څخه چې (ما الخلیفة؟) یعني څه فرق دی د خلیفه او د ملک ترمایین؟ نو طلحه رضي الله عنه او زبیر رضي الله عنه خو وویل (ماندري) او سلمان الفارسي رضي الله عنه ورته وویل چې خیفه هغه چا ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي چي په رعايتو کي عدل کوي او تقسيم د غنيمت يا د بيت المال په برابري سره کوي يعني مراعات د قوميت وغيره نه کوي او دومره شفقت پر رعيتو لري لکه سړی چي يې پر اهل کوي، ويكفٰى بكتاب الله وسنة رسوله ﷺ، فقال كعب ما كنت احسب زما ګمان نه وُ چي په دې مجلس کي دي څوک خبر وي په فرق د خليفه او ملک پيله ما، له سلمان ؓ څخه روايت دی چي عمر ؓ ده ته وويل انا ملک او خليفة؟ سلمان ؓ ورته وويل چي که تاته راغلی د مځکي د مسلمانانو څخه يعني د بيت المال لپاره يو درهم يا اقل يا اکثر هم وصنعته في غير حقه فانت ملک لا خليفة، عمر ؓ وژړل، او روح المعاني کي وايي چي ابوبکر ؓ خليفه سو صحابه کرامو ؓ به ده ته وويل يا خليفة رسول الله (وبذالک يدعٰى الى ان توفٰى) وروسته تر ده چي عمر ؓ دا وظيفه سنبال کړه يا خليفة خليفة رسول الله ﷺ، وروسته صحابه کرامو ؓ اتفاق پر دې وکړی لپاره د اختصار په عبارت کي پر لفظ د امير المؤنين هر څوک چي وي، نو دا لفظ متعارف سو

فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى فَيُضِلَّكَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ

کلمه د فاء لپاره د سببيت ده يعني ستا خلافت له جانبه څخه د خداى ؑ سبب ددې دی چي ته به حکم کوې په منځ د خلګو په حق سره يعني په حکم د خداى ﷻ، (ولا تتبع الهوى) عطف دی پر فاحكم عطف الانشاء على الانشاء ته به متابعت نه کوې د هوٰى يعني چي ستا د نفس خوښه وي يعني که د حکم الله سره مخالفه وي.

(فيضلک) منصوب دی په جواب کي د نهي يعني هغوی به تا ګمراه کړي د لاري څخه د خداى ؑ يعني د هغو دلائلو څخه چي پر حق باندي قائم دي.

فائده: له دې آيت څخه دا معلومه سوه چي څوک متابعت د هوا نفساني کوي د هغه قوت عاقله ګډوده کړي او اجتهاد يې ناکامه کړي لکه د دوشپيته ډلو د اهل الهوى چي دعوه د اسلام هم کوي، ناکام سوه يو ازي اهل السنة والجماعة پاته سوه.

إِنَّ الَّذِيْنَ يَضِلُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۢ بِمَا نَسُوْا يَوْمَ الْحِسَابِ ۝

په تحقيق هغه کسان چي ګمراه سي د لاري څخه د خداى ؑ دوی لره عذاب دی سخت چي عبارت له جهنم څخه دی، کلمه د ما مصدريه ده او کلمه د با سببيه ده، والمعنى بسبب نسيانهم چي دوی هيره کړې وه ورځ د حساب چي قيامت دی، ولي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځوک چې په حقه سره معتقد د حساب وي په ورځ کي د قیامت هغه به حتمًا ملاځم د سبیل الله وي او معاند د سبیل الهوٰی وي.

درویش وایي: چې په سلسة الذهب (چې د خوارې کتاب نوم دی په فارسي ژبه) کي داسي راغلي دي:

نص قرآن شنو که حق فرمود .... درمقام خطاب به داؤد
که ترا ازان خلیفگی دادیم .... سوی خلقان فرستادیم
تادهی ملک را از عدل اساس .... حکم رانی بعدل بین الناس
هرکرا نه زعدل دستور است .... از مقام خلیفگی دور است
آنکه گیرد ستم زدیو سبق .... عدل چون خواندش خلیفهٔ حق
پیشه کرده خلاف فرمان را .... گشته تائب متاب شیطان را
حق زشاهان بغیر عدل نخواست .... آسمان وزمین بعدل بناست
شمان باشد شبان خلق همه .... رمه وگرگ آن رمه ظلمه
بهر آن های وهوی شبان .... تابیابد رمه زگرگ امان
چون شبان سازگاری گرگ بود .... رمه را افت بزرگ بود
هرکرا دل بعدل شد مائل .... طمع از مال خلق گو بگل
طمع وعدل آتش وآبند .... هر دورا یکجا قرار کی یابند
هرکه را از خلیفگی خدای .... نشود اسیر نفس بد فرمای

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَاطِلًا

او نه دي پیدا کړي ما اسمانونه او مځکه او په مابین کي د اسمان او د مځکي من کرة الهوٰی باطل، یعني عبث چې هیڅ حکمت دي نه وي پکښې، بلکې د حق لپاره مي پیدا کړي دي چې دلیل پر وجود د صانع وګرځي بلا مشارک، او د دې لپاره چې خلګ د خدای شکر ووایي یعني اوامریې پر ځای کړي او له منهیاتو ځخه یې پرهېز وکړي، دا جمله معترضه ده وکذالک قوله.

ذٰلِكَ ظَنُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنَ النَّارِ

دا د هغو خلګو ګمان (یعني چې آسمانونه، مځکي او مابینهما عبث دي) د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغو کسانو چي کفر يې اختيار کړی وي يعني المشرکين چي نه بعث بعد الموت
مني، نه ثواب د مؤمن مطيع مني او نه عذاب د کافر عاصي مني.

پوه سه: چي "ويل" کي تنکير د تعظيم لپاره دی ای ويل عظيم (کلمه د فاء
لپاره د سببيت ده يعني د دوی کفر او انکار سبب د ويل عظيم وګرځېدی)

پوښتنه: چي ويل لهم ويل سوی وای اخصر به نه وای، ولي د دې سببه چي الذين
کفروا خو قبلاً قريبًا ذکر سو، نو په اسم ظاهر راوړلو کي څه حکمت الهي دی؟

ځواب: حکمت يې ذم او تقبيح د شان د دوی ده.

أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِينَ فِي الْأَرْضِ

پوه سه: چي کلمه د ام منقطعه ده په معنی د بل او همزه لپاره د انکار د برابری
دی د دې دوو دلو چي مؤمنان او عمل صالح والا دي، او هغه کسان چي په مخکه
کي فساد کوي بالکفر والمعاصي او کلمه د بل لپاره د اضراب ده عما سبق چي
کافرانو به خلق السمٰوات والارض باطل باله.

أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ ﴿٢٨﴾

دا (ام) هم منقطعه دی په معنی د بل او همزه لپاره د انکار دی پر ظن الذين
کفروا، او بل پاره د انتقال دی، په حديث شريف کي راغلي دي چي کافرانو د
قريشو به مؤمنانو ته ويل چي بعث بعد الموت لکه تاسي چي واياست واقع سي،
موږ ته به خدای هغه نعمتونه او جنتونه راکوي لکه تاسي ته بلکې تر تاسي بالا،
او دا به يې هم ويل: نحن اکثر اموالاً و اولادًا ومانحن بمعذبين، فنزل هذه الآية.

كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿٢٩﴾

دا کتاب (کتاب) خبر د مبتداء محذوف دی ای هذا القرآن کتاب من الله
تعالی موږ نازل کړی دی تاته يا محمد (ﷺ) چي مبارک او کثير الخير دی چي
خير د دنيا او آخرت پکښي بيان سوی دی، چي غور او فکر وکړئ ته او ستا د امت
علماء، نو به دوی ته تأويلات او معاني صحيحه د قرآن معلومي سي يا په دې
پوهېدو وروسته له غور او فکر څخه چي دا قرآن بلا شک وشبه من الله ﷻ دی او د
بشر په طاقت کي ممتنع ده چي مثل د دې کتاب دي جوړ کړي بلکې مثل د لسو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورتو بلکې مثل د يوه سورت، کريمه: ان کنتم في ريب مما نزلنا على عبدنا فأتوا بسورة من مثله، تفصيل يې د سورة بقره په تفسير کې تېر سو.

(وليتذكر اولوا الالباب) او ددې لپاره قرآن نازل سو چې پند او نصيحت ځني واخلي لرونکي د عقولو سليمه ؤ چې د وهم ګډون نه وي پکښې.

پوه سه: چې لب په لغت کې مغز ته وايي يعني لکه د بادام مغز يا د جوز مغز، نو اصلي مغز د انسان عقل سليم دی او بدن يې قشر دی (يعني پوست) او کالي يې قشر القشر دي.

فائده: تدبر يې عام کړی لعموم العقلاء والعلماء او تذکير يې خاص کړی په خاص د علماؤ لکه مجتهدين د امت يا روات د احاديثو مبارکه ؤ.

حکايت: شبلي رحمه الله وايي: چې ما څلور زره احاديث زده کړه يعني له استاذانو څخه، چې په ګردو کې ما فکر وواهه يو حديث مې مختار کړی چې علم د اولينو او د اخيرينو په هغه ورځ وي، او دنياوي او اخروي کار آمد احکام په هغه کې موجود وه چې هغه دا دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم و اصحابو رضي الله عنهم ته وويل: اعمل لدنياک بقدر مقامک فيها واعمل لآخرتک بقدر بقائک فيها واعمل لله بقدر احتياجک اليه واعمل للنار بقدر صبرک عليها، انتهى کلام الشبلي النعماني رح، او اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم به بعض سور قرآنيه پياد کړه ويسئلون العمل بها، فان المقصود من القرآن العمل به، په بل صحيح حديث کې راغلي دي چې يو سړي (يعني چې قرآن يې نه ؤ زده) و عليه الصلوة والسلام ته راغلی او ورته وه يې ويل: علمني مما علمک الله (مقصود يې قرآن مبارک ؤ) عليه الصلوة والسلام هغه سائل يوه صحابي ته وسپاری چې د قرآن بعض سورتونه په زده کړه، هغه صحابي رض سورة اذا زلزلت الارض الخ ورته شروع کړی، ودې آيت ته چې راورسېدی فمن يعمل مثقال ذرة خيرا يره (يعني ثوابه) و من يعمل مثقال ذرة شرا يره (يعني عقابه) هغه سائل و صحابي رض ته وويل: حسبي زما بس دی نور سبق زه نه وايم، هغه صحابي و عليه الصلوة والسلام ته دا موضوع بيان کړه، عليه الصلوة والسلام ورته وويل دعوه فقد فقه الرجل (سړی فقيه سو) يعني د اعمال د خير او د شر جامع آيت يې زده کړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَوَهَبْنَا لِدَاوٗدَ سُلَيْمٰنَ ؕ نِعْمَ الْعَبْدُ ؕ اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ ۝

او موږ هبه کړی (دا جمله عطف ده په قوله تعالی: فغفرنا له، او د مابین جملې یې تولې معترضه جملې وې) و داؤد ته سلیمان علیهما السلام، ښه بنده ؤ سلیمان (انه اواب) دا جمله تعلیل د ماسبق ده، یعني دی رجوع کونکی ؤ خدای ته بالتوبة.

اِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ بِالْعَشِيِّ الصّٰفِنٰتُ الْجِيَادُ ۝

(اذ عرض علیه) ظرف دی یاد اواب یاد نعم العبد) چې پېش کړل سو پر ده یعني پر سلیمان ؑ باندې، په (بالعشي) کې باء په معنی د فاء ده ای في العشي یعني بعد الظهر.

پوه سه: چې صافن چې جمع یې صافنات ده په آسانو کې هغه آس ته وایي چې درې پښې پر مځکه ایږدي او څلورمې پښې صرف نوک یې پر مځکه تکیه کړی وي، چې دا ډول ولاړه د صفات محموده څخه د آسانو ده، کما هو المتعارف في اصحاب الخیل، او جیاد جمع د جید ده، هغه آس ته وایي چې ښه تکلیف ورکولو و راکب ته تېز رفتاره وي.

فائده: دوه وصفه د صفوف او جودة یې سره جمع کړه، اشاره ودې ته ده چې دا اسان په وخت کې د ولاړې او د تګ دوه صفته محموده درلوده، کلبي ؒ وایي چې سلیمان ؑ چې د دمشق او نصیبین غزا وکړه دغه (۱۰۰۰) آسان یې په غنیمت راوستل.

پوښتنه: په دې اسانو کې نر اسان او مادیانې دواړې وې، نو جمع مؤنث یعني بالالف والتاء یې څرنګه ورته راوړه؟

ځواب: بعض مفسرینو په جواب کې داسې ویلي دي چې جمع بالالف والتاء کې یې تغلیب د مؤنث پر مذکر کړی دی، لکن روح المعاني وایي چې دغه دواړه وصفه په مذکر او مؤنث دواړو کې د اسانو مستعملېږي، والجمع بالالف والتاء لایختص بالمؤنث انتهی، او مقاتل ؒ وایي چې اسان و سلیمان ؑ ته د خپل پلار داؤد ؑ څخه په میراث پاته سوي وه.

ورده المظهري ؒ بان النبي ﷺ قال نحن معشر الانبیاء لانورث ماترکناه صدقة؟ واجاب عنه روح البیان و روح المعاني بان المراد في الحدیث الملک، یعني زمونږ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

انبیا څخه چې پاته سي هغه د چا ملک نه ګرځي بلکې د بیت المال دی، او مقاتلؒ چې ویل دا اسان ورث لسلیمانؑ من ابیه داؤدؑ دا یې مراد نه دی چې د سلیمانؑ ملک وګرځېدل بلکې په تصرف کې د سلیمانؑ وه او په بیت المال کې حق د تصرف هر امیر المؤمنین لري، فافهم، او عکرمهؓ وایي: چې دا آسان شل زره وه (۲۰۰۰۰).

فائده: مظهري په څو سنده روایت کړی دی چې دې اسانو وزر درلوده، او په بعض روایاتو کې دا هم راغلي دي چې مظهري ذکر کړي دي چې دا زر اسان چې وزر یې هم درلوده له دریاب څخه خدای پاک د سلیمانؑ لپاره را ایستلي وه وزاد لم یکن لاحد قبله ولا بعده انتهی عبارة المظهري، روح المعاني وایي ماسولی له استبعاد څخه بل مانع خو نسته لکن قدرة الله عامة (یعني المستبعد وغیرها) چې سړی و اخبار ته نظر ونه کړي، اذ لیس فیها خبر صحیح مرفوع او ما فیه حکمه چې سړی اعتماد پرو کړي، روح المعاني زیاته کړې ده قلنا ان تقول هي خیل کانت له (ای سلیمانؑ) کالخلیل التي تکون عند الملوک (یعني عادي اسان وه نه یې وزر درلوده او نه له دریابه راوتلي وه) وصلت الی سلیمانؑ باي سبب کان انتهی قول روح المعاني، په هر صورت سلیمانؑ چې اراده د لوی غزاء یې درلوده د ماپښین لمونځ چې یې وکړی په خپله کرسی ورته کښېنستی آسان یې تېروله او سلیمانؑ په سبب د حسن ددې آسانو په دریاب کې د تعجب غرق ؤ نهه سوه (۹۰۰) آسان چې تېر سوه فکر یې سو د مازدیګر لمانځه ته چې لمر لوېدلی ؤ او د مازدیګر لمونځ قضا سوی ؤ، فافهم لذالک.

سوال: خلک خو د سلیمانؑ سره دېر ناست وه بل چا ولي ده ته تر قضا کېدو دمخه خبر نه ورکاوه؟

ځواب: له جهته څخه د غایت هیبت دده، په کشف الاسرار کې وایي چې د مازدیګر لمونځ پر ده فرض ؤ، او بعض مفسرین وایي چې سلیمانؑ د مازدیګر په وخت کې یو ورد درلودی هغه ځني قضا سو.

فَقَالَ إِنِّيٓ أَحْبَبْتُ حُبَّ ٱلْخَيْرِ عَن ذِكْرِ رَبِّي

(فقال آه) دا جمله عطف ده پر محذوف باندې والتقدیر فاشتغل بها وفاتته صلوة العصر فقال، ما محبت وکړی محبت د مال کثیر له ذکر الله څخه، یعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اشتغلت بحب المال الكثير چي اسان وه چي يا د مازديگر لمونځ ؤ او يا دده ورد ؤ په دغه وخت کي.

فائده: اسان يې ولي خير وبلل؟ يا له دې سببه چي نهايت دېر وه يعني زر (۱۰۰۰) داني وه، يا له دې سبب چي په حديث کي د بخاري او مسلم وغيرهما کي راغلي دي: الخيل معقود في نواصيها الخير الى يوم القيامة الاجر و المغنم.

دروېش وايي: چي مظهريؒ ويلي دي: اطلق الخير على الخيل لان العرب تعاقب بين اللام و الراء فيقول ختلت الرجل و اخترته اى خدعتها انتهى، زه وايم چي دا وجه د مناسبت د خير او د خيل تر منځ بعيد ده جدًا لانه يفهم منه انه القرائة في القرآن، د خير په ځاى کي په خيل سره هم روا دى، وليس كذالك فافهم.

پوه سه: چي سليمان عليه السلام چي دا خبره وکړه يعني اني اجبت آه اعتراضًا بما صدر عنه من الاشتغال وندمًا چي پر هغه پښېمانه ؤ.

حَتّٰى تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ ﴿۳۲﴾

چي لمر پټ سو په پرده کي د غروب يعني د مغرب تر افق لاندي سو.

فائده: اطلاق د حجاب استعارةً دى لكه يوه حسناً ښځه چي پورني پر مخ واچوي مخ په پټ کړي.

سوال: لمر خو دمخه نه دى ذکر سوى، نو ارجاع د ضمير څرنګه ورته صحيح دى؟

ځواب: د عشي د لفظ څخه فهمېږي، ولي چي د عشي لفظ ما بعد زوال الشمس ته وايي.

رُدُّوْهَا عَلَيَّ ؕ فَطَفِقَ مَسْحًۢا بِالسُّوْقِ وَالْاَعْنَاقِ ﴿۳۳﴾

(ردوها علي) په تقدير د قول علي قال اني، والتقدير قال ردوا آه والمعنى راوګرځوئ دغه صافنات جياد پر ما باندي (فطفق) نو شروع يې وکړه.

فائده: طفق د افعال متقاربة څخه دى چي دلالت کوي پر شروع د فاعل په مضمون کي د خبر يعني (مسحًا بالسوق والاعناق) يعني وهل په تورو پر پښو د اسانو، د پښو وهل يې د دې لپاره وه چي ذبح يې اسانه سي، او پر غاړه د خيل مذکور؛ وجاء في الحديث الصحيح عن ابى بن كعب رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال قطع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوقها واعناقها بالسيف وكان ذالک باذن الله تعالى توبة عما غفل عن ذكره وتقربًا اليه تعالى وطلبًا لمرضاته، راوي وايي چي سليمان عليه السلام چي زر (۱۰۰۰) سره اسان ذبح کړه او غوښي يې خيرات کړې، خداى عزوجل د اسانو په عوض کي تر اسانو ښه شی ورکړی يعني باد چي دده تخت به يې په هوا وړی، ښه په دې وُ چي تر آسانو دهر چابک وُ او علف او خورک ته يې هم ضرورت نه درلودی لکه اسان، او دده په اراده به يې رفتار کاوه حيث يشاء سرعة وبطوء او تهوله کايناته به يې هم ورسره ناست وه پر تخت باندي وهذا فضل من الله على من ترک الهواء بطلب مرضات الله تعالى.

مسئله: د دې خيراتو څخه د آسانو چي سليمان عليه السلام وکړی، دا معلومه سوه چي د آس غوښي حلالي دي لکه زمونږ په شريعت کي عند الجمهور خلافًا لابی حنيفة رحمه الله چي هغه يې مکروه بولي، دی وايي چي اسان اله د جهاد دي، او بعض مفسرين وايي چي ذبح کړي يې نه دي بلکې في سبيل الله يې وقف کړه، او دغه مفسر مسح بالسوق والاعناق معنی دا کوي چي پر پښو او غاړه يې داغ د صدقة ولګاوه.

دروېش وايي: چي بعض ضعيف روايتونه نور هم سته لا فائدة في ايرادها، روح المعاني د دې آيت په معنی کي ډېرې اوږدې خبرې کړي دي کما هو ديدنه او نقض او ابرام يې راوړی دی، او روح البيان هم د دې ايت تفسير و اوج ته د طول رسولی دی، نو چونکه د دروېش د تفسير ميدان ډېر تنګ دی او پر متعلمينو د تفسير ډېر لوی بوج دی، له دې سببه هغه طويل ابحاث چي په ان قيل وقلنا سره بدرګه کېدل هغه مي صرف نظر کړه.

وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمٰنَ وَاَلْقَيْنَا عَلٰى كُرْسِيِّهٖ جَسَدًا ثُمَّ اَنَابَ ۝

(جواب د قسم محذوف دی، او عطف دی پر وهبنا) والمعنى اختبرناه وابتليناه يعني امتحان دده مو وکړی.

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: چي سليمان عليه السلام وويل چي زه به طواف کوم (مراد له طواف څخه جماع دي) پر نهه نيوي (۹۹) ماينو، او په بل روايت کي پر سلو (۱۰۰) ماينو چي تهوله به نر اولاد ونه راوړي چي پر اسانو به سپاره في سبيل الله جنګ کوي، ملکي ورته وويل (او په روح البيان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي وايي چي دده وزير آصف بن برخيا ورته وويل، وهذا اقرب الى الصواب) قل ان شاء الله تعالى، فلم يقل ونسي، نو ده طواف وکړی په معنی مذکور سره پرنهه نيوي يا سل ماينو باندي فلم تحمل منهن غير واحدة (يوه ماينه يې حامله سوه) وجائت بشق رجل (هغې هم غير تام الاعضاء زوی راوړی) قال رسول الله ﷺ والذي نفس محمد بيده لو قال ان شاء الله تعالى فجاهدوا في سبيل الله فرسانا اجمعون، بخاري و مسلم يعني متفق عليه حديث دی.

نو دايي چي قابله يې بولي هغه نيم بدن زوی دده پر کرسی، ورته کښېښوی، فذالک قول الله تعالى ولقد فتنا آه.

(ثم اناب) بيا ده رجوع وکړه له ترک څخه د ان شاء الله په مستقبل کي، کذا قال طاؤس، مظهري وايي چي دا تأويل او ترجمه د دې آيت پر دغه ډول اقرب الاقاويل في تفسيرها لصحة حديث الصحيحين، اى البخاري و مسلم.

او دا تأويل پاک دی له نسبت څخه د سوء د انبياء عليهم السلام لان الجسد جسم لاروح فيه فيصدق على هذا التأويل بلا تكلف، قاضي عياض ؒ په خپل کتاب شفاء کي وايي چي که څوک پوښتنه وکړي چي سليمان ؑ ولي ان شاء الله ونه ويل:

(۱) اول جواب مافي الحديث الصحيح انه نسي ان يقول ذالک (۲) سليمان ؑ د صاحب دده يعني آصف خبره نه واورېدل انتهى (۳) دغه قصه چي حديث متفق عليه کي راغلې ده، روح البيان، روح المعاني او مظهري کردو راوړې ده، وروی الطبراني في الاوسط وابن مردويه چي د سليمان ؑ يو زوی پيدا سو، نو شيطانانو او پېرانانو پر دې اتفاق وکړی پر دې باندي چي د سليمان ؑ زوی به مړ کړو يا به يې ژوبل کړو يعني دماغ به يې ورخراب کړو، دا د دې لپاره چي دوی په خپلو دماغو کي دا سنجولې وه چي سليمان ؑ به يو وخت مري او موږ به د دوی د تسخير څخه ازاد سو، او که يې زوی ژوندی پاته سي، نو بيا به يې د زوی تر تسخير لاندي ژوند کوو ثم وثم، سليمان ؑ چي په دې خبر سو، نو يې وريځي ته امر وکړی چي ته دا زما زوی وساته يعني پټ يې کړه له شيطانانو څخه، راوي وايي چي غذاء دده به باد ورته راوړل، په دې کي د سليمان ؑ دا پره که څه هم گناه خو نه وه، ولي په عالم اسباب کي خلګ خپل د سرای دېوالونه ډېر جګ کړي چي غل را نسي يا د حفاظت لپاره ځان ته

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

پهره دار و دروي الی غیر ذالک، په شرح المقاصد کي وایي وفیه خطاء سلیمانؑ في ترک التوکل علی الله، والقی ابنه کرسیه میتًا فهو المراد من الجسد الملقی علی کرسیه فاستغفر ربه واناب وغایته ان هذا الفعل ترک الاولی وٗ.

درویش وایي: چي محدثین وایي چي ددې روایت سند دېر ضعیف دی، والله اعلم، کاشفيؒ په تفسیر حسیني کي وایي: ومشهور آنست که بواسطهٔ انگشتری مملکت سلیمان که بر آن اسم اعظم نوشته هم بود، عادت سلیمانؑ همین بود که به قضاء حاجت میرفت انگشتری خود بزن خود میداد چون بر می آید انگشتری خود ازو میگرفت، روزی بنام صخر از جن بشکل سلیمانؑ درآمد قبل خروج سلیمانؑ از زن وی انگشتری گرفت وبرخت سلیمانؑ نشست چهل روز فیکون المعنی ولقد ابتلیناه بسبب ملکه والقینا علی کرسیه جسدًا وهو صخر صاحب البحر وسماه جسدًا لانه تمثل بصورة سلیمانؑ ولم یکن هو فیکون جسدًا محضًا بلا معنی ثم اناب ای رجع الی ملکه بعد (۴۰) یومًا.

درویش وایي: چي دا وه ترجمه د کاشفيؒ د قول په عربي ژبه لکن هذا لیس بشیئ اول په دې سبب چي په دې کي معنا د القاء نسته، ولي چي جن خو پر کنبښتی را غورځول خو نسته، دوهم دا چي دا قوله انبیاء له دې څخه معصوم دي چي شیطان دي ددوی په صورت سي نومًا کان او یقظة ووقع علیه اجماع الامة المرحومة.

درویش وایي: چي دا قصه پر دغه ډول مشهوره ده په عربو او عجمو کي لکن قطعًا ویقینًا کذب محض دی، او روح المعاني وایي چي ابو حیان وغیره وایي چي دا قصه یهودیانو او زندیقانو وضع کړې ده، کذا في روح البیان او روح البیان په دې باره کي دېر دلائل راوړي دي.

درویش وایي: چي مظهريؒ دېر روایتونه راوړي دي په دې باره کي په نقل د وهب بن منبهؒ څخه چي عقل ورته حیرانېږي، تاسي یې مطالعه کړئ، والعلم عند الله تعالی.

قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَهَبْ لِي مُلْكًا لَّا يَنبَغِي لِأَحَدٍ مِّن بَعْدِي ۖ

وویل سلیمانؑ ای زما ربه ماته بخښنه وکړې او ماته راکړې داسي سلطنت چي نه ښایي لاحد یعني هیڅ چا ته وروسته تر ما، او بعض مفسرین وایي چي معنی د من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بعدي من سوائي، مظهري، روح المعاني او روح البيان وايي چي استغفاريې دمخه کړی پر طلب د هبه د ملک لايبقی لاحد مبني دی پر عادت د انبياء عليهم السلام او د صالحانو چي استغفار د مخه تر طلب د حاجت او سوال وايي له دې آيت څخه دا فهميږي چي فتنه د سليمانؑ انما کانت ابتلاء من الله اياه لرفع درجاته في الدنيا والآخرة، کفتنة ايوب عليه السلام ولم يکن معصية بل غايته خلاف الادبی ولي که معصيت وايي نو سليمانؑ به ډېره مبالغه په ندم او استغفار کي کړې وای ولم يسئل غير المغفرة، او که هغه معصيت وای خدای پاک به ويلي وای فغفرنا له ذالک کما في قصة داؤد عليه السلام مقاتلؑ وايي چي سليمانؑ خو ملک ؤ نو مراد د لاينبغي لاحد من بعدي داؤدؑ چي انس او جن والشياطين والرياح والطير يې تو له مسخر وه بدليل مابعده.

إِنَّكَ أَنتَ الْوَهَّابُ ﴿٣٥﴾

په تحقيق ته ای خدايه کثير الهبة يې (لفظ د وهاب صيغه د مبالغې ده)

پوه سه: چي دا جمله تعليل ده لسؤاله بقوله وهب لي ملکا الخ، د بعض جاهلانو دا خيال دی چي سليمانؑ چي دا خواست وکړی "وهب لي ملکا آه" غرض يې بخل د مملکت عامه پر انس او جن و الشياطين وغير ذالک او حسد ؤ د بني نوع انبياء عليهم السلام سره، او بل حرص پر دنيا جاه و جلال باندي.

دروښ وايي: چي دا خيال غلط دی او د سليمانؑ توهين دی بلکې اصل سبب ددې سوال دادی چي چونکه سليمانؑ د مذکور سلطنت عامه ؤ بالمعنی المذکور، لهذا الهم اليه هذا السؤال، واما سلطان الانبياء ﷺ فاختار لنفسه الجوع يومًا والشفع يومًا، وقال الفقر فخري واختار تجلی الذات في مرتبة الذات لم ينلها احد من افراد الخلق سابقًا ولا حقًا واکتفی ﷺ علی الرياسة المعنوية ولواء الحمد الذي تحته آدم ومن دونه واکتفی بما بشره الله من المقام المحمود في يوم الموعود للشفاعة اکبري في ذالک اليوم.

فائده: با اين همه وسعت مملکت سليمانؑ لم يکن له نظر الی الدنيا ونعيمها بلکې د وسعت ملک خدا داده سره سره ده له کسب څخه د خپلو لاسو ډوډی پيدا کوله يو مسکين به يې بل را وباله هغه ډوډی به يې د هغه مسکين سره خوړل، او دا به يې ويل مسکين يأکل مع مسکين.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَسَخَّرْنَا لَهُ الرِّيحَ تَجْرِي بِأَمْرِهِ

موږ مسخر وګرځاوه دده لپاره باد، دا جمله عطف ده پر محذوف یعني فاستجبنا دعائه فسخرنا له الریح، د کلمه څخه د فا چي لپاره د تعقیب بلا فصل ده دا معلومه سوه چي سوال د سلیمانؑ عقیب دعائه بلا فصل زمان مقبول سو.

سوال: سلیمانؑ خو د دوو شیانو خواست کړی وُ اول رب اغفرلي، دوهم وهب لي آه، نو داسي د څه حکمت لپاره نه وویل سول فغفرنا له وسخرنا له؟

ځواب: دمخه موږ وویل چي سوال د مغفرت تمهید وُ لپاره د سوال د وهب لي آه علی عادة الانبیاء علیهم السلام وعباد الله الصالحین، نو ځکه هغه نه کړی ذکر او بل جواب دادی چي اول سوال د اجابت و ذکر ته ضرورت لانه من ضروریات الدین ان الانبیاء علیهم السلام معصومون مغفرون، ومعنی تسخیر الریح اطاعت دی بالامر سلیمانؑ حیث شاء لیلاً ونهاراً ورخاءً وسرعةً.

پوه سه: (لتجري بامر) صفت د ریح ده.

سوال: الریح خو معرفه دی باللام او جمله چي تجري ده په حکم کي د نکرې دی کما تقرر في النحو، نو څرنګه تجري صفت د الریح کېدای سي؟

ځواب: دا صفتیت د قسم د هغه قول د یو شاعر دی:

لقد امر علی اللئیم یسبني .... معنی داده چي په اللئیم کي لام لپاره د عهد ذهني دی ای لئیم من اللئام لا لئیم معین فهو حکم النکرة فصح وقوع جملة یسبني صفت له وکذا اللام في الریح لپاره د عهد ذهني دی ای ریح من الریاح غیر معین فهو نکرة فیصح جعل جملة تجری صفت له والتفصیل لهذا الجواب في شرح المولی عبد الرحمن الجامي قدس سره في شرح الکافیه.

رُخَآءً حَيْثُ أَصَابَ ۝

(رخاء) یعني جالس ته اضطراب نه ورکوي ولا تخالف ارادة سلیمان (حیث شاء) چېري چي به د سلیمانؑ اراده وه ظرف لتجري.

پوښتنه: په بل ځای کي د قرآن کریم راغلي دي (ولسلیمان الریح عاصفة) عاصف خو تند باد ته وایي یعني ضد د رخاء فکیف التوفیق بین الآیتین؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: دا ریځ رخاء خو له جنس څخه د ریح عاصفة ؤ لکن چونکه په امر د سلیمانؑ ؤ نو رخاءً یې رفتار کاوه، او بعض مفسرین وایي چې د سلیمانؑ چې به یو ځای تلوار ؤ نو باد به عاصف روان ؤ یعني بلا اضطراب جالسه کما هو طبعه، او چې سلیمانؑ به معاینه د مصنوعاتو د خدایؑ کوله نو باد به رخاءً روان ؤ.

(حیث اصاب) ظرف دی د تجري او اصاب په معنی د قصد او ارادې دی کما روی عن ابن عباسؓ وقتادة والضحاکؒ، اوجاجؒ له عربو څخه حکایت کړی دی چې دوی وایي اصاب الصواب فاخطاء الجواب یعني دده قصد او اراده د حق وه په جواب کې خطا وتی.

وَالشَّيٰطِيْنَ كُلَّ بَنَّآءٍ وَّغَوَّاصٍ ۙ

او شیطانان مو ده ته مسخر کړي وه (کل نباء) یعني بنایان به وه چې کوتیانې او کلاوي به یې جوړولې (وغواص) چې په دریاب کې به یې غوتې وهلې او له دریاب څخه به یې ملغلري او مرجان سلیمانؑ ته را ایستل، مفسرین وایي چې سلیمانؑ اول سړی ؤ چې له دریاب څخه یې ملغلري را ایستلي دي.

فائده: لفظ د کل بدل دی د شیاطین څخه کما هو ظاهر.

وَّاٰخَرِيْنَ مُقَرَّنِيْنَ فِي الْاَصْفَادِ ۝

عطف دی پر "علی کل" او نور شیطانان چې ترلي یې وې په زولنو پښې ددوی او لاسونه یې اولچک وه، دا هغه ډله وه چې مردهؑ یعني سرکښه ډله وه چې د سلیمانؑ حکمراني یې نه منل، نو یو د بله سره به یې ترلي وه په ځنځیرانو چې شر پیښ نه کړي.

سوال: شیطان یعني ابلیس یې ولي نه تاړه؟

ځواب: ابلیس خو له خدای ﷻ څخه مهلت اخستی ؤ: بانک من المنظرین الی یوم الوقت المعلوم.

هٰذَا عَطَآؤُنَا فَامْنُنْ اَوْ اَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ۝

په تقدیر د قول ای قلنا له هذا الذي اعطیناک من الملک والبسط (فراخي د مملکت) والتسلط علی مالم یسلط غیرک (لکه بیان چې یې تاسي واورېدی)

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

عطا زمورږده (فامنن) ته احسان کوه یعني د من شئت سره، (او امسک) یا منع کوه د من شئت سره (بغیر حساب) حال دی د مستکن ځخه في الامر، والمعنی چي ستا سره به حساب نه کړل کېږي علی منه وامساکه یعني خدای ﷻ تفویض وتاته کړی دی، او مقاتلؒ وایي هذا ای تسخیر الشیاطین عطائنا اعطیناک فامنن یعني خل منهم من شئت وامسک منهم في وثاقک من شئت لاتبعه علیک (یعني خدایؒ یې ستا ځخه بازخواست نه کوي) لا في الاطلاق ولا في الامساک.

وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلْفَىٰ وَحُسْنَ مَـَٔابٍ ۝

په تحقیق سلیمان لره قرب سته (یعني په آخرت کي سره د ملک عظیم في الدنیا) او ښه ځای د رجوع سته یعني الجنة.

دروښ وایي: چي قصه د سلیمان ﷺ پای ته ورسېده.

وَٱذْكُرْ عَبْدَنَآ أَيُّوبَ

ته ذکر کړه قصه د ایوبؑ.

پوه سه: چي ایوب عطف بیان دی لعبدنا او دا جمله عطف ده پر واذکرنا عبدنا داؤد.

فائده: نسب د ایوب ﷺ دادی: ایوبؑ بن اموس بن رازخ بن روم بن عیص بن اسحاق بن ابراهیم ﷺ، او دده مور د لوط ﷺ له اولاد ځخه وه، او زوجه دده رحمة بن افرایم بن یوسف ﷺ، قرطبي په ځپل تفسیر کي وایي چي پر ایوبؑ ایمان نه دی راوړی مګر دري نفرو، او دده عمر درونیوي (۹۳) کاله وؤ، وهذا عجیب والله اعلم بالصواب.

دروښ وایي: چي تمامه قصه د ایوب صابر ﷺ سره د لوی تفصیل د سورة انبیاء په تفسیر کي فقیر ذکر کړې ده، په دې ځای کي حسب ضرورت فهم المقام بعض بیانات به وکړل سي ان شاء الله تعالی.

دروښ وایي: چي بناء پر تفصیل مذکوره له سببه ایوب ﷺ تر موسی ﷺ دمخه وؤ، وقال ابن جریرؒ کان بعد شعیب ﷺ، وقال ابن ابی خثیمة کان بعد سلیمان.

نکته: په قصه کي د سلیمانؑ یې دا عنوان نه راوړی "واذکر عبدنا سلیمان" لکمال الاتصال بین سلیمان وبین داؤد ﷺ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِذْ نَادٰى رَبَّهٗٓ اَنِّيْ مَسَّنِيَ الشَّيْطٰنُ بِنُصْبٍ وَّعَذَابٍ ۝

چې ده خواست وکړی خدای ﷻ ته (دا بدل اشتمال دی له ایوب څخه) انې بتقدیر البا ای باني، ماته ورساوه شیطان (یعني د مس معنی ممس بالید نه ده) مشقت او سترپا (تنوین لپاره د تعظیم دی یعني لوی مشقت) او عذاب، بعض مفسرین وایي چې مراد له عذاب څخه الم او درد دی وهو المراد بالضر وقیل النصب والضر في الجسد والعذاب في الاهل والمآل.

فائده: په دې آیت کې خدای ﷻ حکایت د قول د ایوب علیه السلام وکړی الذي نادی به ربه والا لقیل انه مسه په ضمیر او صیغه د غائب، بعض مفسرین وایي چې اسناد د مس و شیطان ته پر ظاهر دی، ولي ابلیس علیه اللعنة به واورېده ثنا او صفت د ایوب علیه السلام له ملکو څخه حسد یې ورسره پیدا سو، نو ده علیه اللعنة و خدای ﷻ ته خواست وکړی چې دده پر حسد او مال او اولاد آفت مسلط کړې، خدای ﷻ هم دغسي وکړه ترغیمًا للشیطان وابتلاءً لایوب علیه السلام، او په بعضو روایتو کې راغلي دي چې دا رسوونکی د نصب او ضر او عذاب و ایوب علیه السلام ته یو شیطان ؤ چې نوم یې مسوط ؤ، لکن علامه زمخشري په کشاف کې چې دده د تفسیر نوم دی دا خبره په کلکه رد کړې ده، دی وایي لایجوز ان یسلط الله تعالی الشیطان علی انبیائه علیهم الصلوٰة والسلام چې دوی دي په اتعاب (یعني تکلیف) او تعذیب کې واچوي دی وایي چې که شیطان پر دې قادر سي لم یدع صالحًا ولا نبیًا الا قد اهلکه وقد تکرر في القرآن چې شیطان لره بله لار پر مؤمنانو نسته الا الوسوسة فحسب، او صاحب کشاف اسناد د مس و شیطان ته مجاز بولي، فقال لما کانت وسوسته الی ایوب ؑ وطاعته له (چې ایوب ؑ هغه د شیطان) په وسوسه عمل وکړی، سببًا فیما مسه الله تعالی من النصب والعذاب نو ځکه ایوب علیه السلام نسبت و شیطان ته وکړی (یعني دا اسناد و شیطان ته مجاز دی له اسناد څخه و سبب و موسوس ته) مګر مع انه تعالی فاله ولایقر علیه الا هو انتهی کلام صاحب الکشاف.

پوه سه: چې بعض علماء وایي هغه وسوسه دا وه چې ایوب علیه السلام په خپله خواست د بلا وکړی تا چې امتحان د صبر ورکړي او دوی تجربه د خپل صبر وکړي علی ماتصیبه من البلاء في جسده ومااله وعیاله کما قال ابن الفارض ؒ وبما شئت في هواک (ای في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مجئتک) اختبر لي فاختاري ما فيه رضاگا، لکن سؤال د بلا بدون العافية ذنب بالنسبة لمقامه لا حقيقة والمقصود بندائه بذالک المذکور الاعتراف بالذنب لان حسنات الابرار سيئات المقربين، او نور غير مناسبة اقوال بمنصب الانبياء عليهم السلام يعني وقيل ان رجلاً استغاثه على ظالم فوسس اليه الشيطان بترک استغاثته فلم يغثه فمسه بسبب ذالک بما مسه، وقيل کانت مواشيه في ناحية ملک کافر نو د هغه سره يې مداهنه کوله (ده به د هغه کافر سره غوړه مالي کوله او غزا يې نه ورسره کوله) بوسوسة الشيطان بذالک العمل فعاقبة الله بما اصحابه، روح المعاني وايي وکل هذه الاقوال عندي متضمنة ما لا يليق بمنصب الانبياء عليهم السلام، او بعض علماء وايي چې وسوسه و ايوب عليه السلام ته نه وه بلکې بل چا ته وه (۱) قيل ان الشيطان تعرض لامرئته بصورة طبيب ومعه من الشياطين، نور مريضان وه ده به دوا ورکول، نو دا ورته ودرېده چې زه هم يو مريض لرم تداوي به يې نه راوکړې؟ شيطان ورته وويل چې تداوي يې مفته درکوم په دې شرط چې دی چې جوړ سي دا خبره به کوي چې تا ماته شفا راکړه، نو ددده د ماينې دې ته رغبت وسو په دې معنی چې په دې خبره کې نو څه بدي سته؟ دا د شيطان خبره يې و ايوب عليه السلام ته وکړه، نو ايوب[۴] پوه سو چې شيطان دی ترخپلي ناجوړې دا خبره بده پر پرېوته، په دې سبب چې د شيطان زما و ارتداد ته طمع پيدا سوه، فنادلی آه.

او بعض وايي چې ده دې کسه مؤمنان درلوده يو مرتد سو، ايوب عليه السلام پوښتنه ځنې وکړه چې ته ولې مرتد سې؟ هغه ورته وويل چې زما په زړه کې دا راوګرځېدل چې خدای پاک لا يبتلی الانبياء والصالحين (دا وسوسه شيطان و دغه سړي ته په زړه کې ور اچولې وه) نو ايوب عليه السلام دې سړي ډېر خوږ کړی، فقال بعضهم لبعض ما اصاب هذا الا بذنب اصاب (دې نفرو ته دا وسوسه شيطان په زړو کې ورپيدا کړې وه) وقيل غير ذالک، والله اعلم.

دروښ وايي: چې له قتاده[۳] څخه روايت دی چې ايوب عليه السلام مريض وُ يعني ابتلی وُ اووه کاله او څو مياشتې، نو خلګو دی وغورځاوه پر تپ (ډېران) يعني چې خلک مرداری وغيره پر هغه ځای غورځوي چې دا کناسه او تپ د بني اسرائيلو وُ، نو بدن يې چينجيان وکړه، فصبر ففرح الله عنه واعظم له الاجر، واحسن يعني ښه اجر يې ورکړی، او له ابن عباس[۵] څخه روايت دی چې ايوب عليه السلام د مابين القدمين څخه نيولې تر قرن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الرأس پوري يوه دانه سوه چي توري وينې تر بهېدلې، نو خلګو پرامبارو وغورځاوه حتى چي حجاب القلب يې بنګاره سو يعني غوښه يې تولې توى سوه، ماينې يې خدمت کاوه ولاړه په سوال به يې څه پيدا کړه ده ته به يې راوړه، يوه ورځ يې ماينې ورته وويل: اما تری يا ايوب قد نزل الله بي واله من الجهد والفاتحة چي ما خپلې څو کوڅې، خرڅې کړې پر يوه پتيره چي تاته مي راوړه، فادع الله ان يشفيک ويرحمک، نو څه وخت چي امتحان د ايوب ﷺ پای ته ورسېدی قال الله تعالى:

اُرْكُضْ بِرِجْلِكَ هٰذَا مُغْتَسَلٌۢ بَارِدٌ وَّشَرَابٌ ﴿۴۲﴾

ووهه په پښه سره خپل، يعني محکه وواهه (دا جمله مستأنفه ده په تقدير د قول يعني قلنا له اركض آه) دا اوبه د غسل لپاره دي "بارد" (فاغتسل منه فذهب كل مرض بظاهر جسده) "وشراب" يعني اوبه و څيښنه، چي د باطن تولې امراض يې دفع سوه.

دروښ وايي: چي ظاهر د قرآن خو دادی چي مغتسل او شراب دواړه يوه چينه وه، بعض مفسرين وايي چي دوې چينې وې په دوه واړه د محکي وهلو په پښه سره، يوه د ګرمو اوبو چي په هغه کي غسل وکړی او يوه د يخو اوبو چي هغه يې د څيښلې، راويان د قصې وايي چي ايوب ﷺ نوی ځوان غوندي وګرځېدی او د حسن او جمال خاوند سو، په دغه وخت کي يې منانه په ده وډې پسې تللې وه او ايوب ﷺ پر لوړ ځای کښېنستی، او جبرئيل ﷺ جنتي کالي ورته راوړه، دده مانه چي راغله نو هغه ناجوړی مېړه يې پر ډېران د ايرو ونه ليدی، او ايوب ﷺ چي په بل لباس کي ؤ هم يې ونه پېژندی، نو دې ورنارې کړې يا عبدالله ابن المبتلى الذی كان ههنا، بغاري يې کړې چي سپو خوړلی دی که نورو ځناورو خوړلی دی، ايوب ﷺ يو ګړی خبرې ورسره وکړې وروسته يې ورته وويل ويحک انا ايوب قد رد الله علي جسدي وشفاني من كل مرض.

وَوَهَبْنَا لَهٗۤ اَهْلَهٗ وَمِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنَّا وَذِكْرٰى لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿۴۳﴾

(ووهبنا له اهله) دا جمله عطف ده پر مضمون د کلام سابق ای فشفيناه ووهبنا له (ومثلهم آه) او يو مثل د هغو سره هغو چي مضاعف سي، دا رحمت ؤ زمونږ له خوا، منصوب دی مفعول له دی د وهبنا او دا پند دی لپاره د عبرت د خاوندانو د عقلو.

دروښ وايي: چي د مثلهم په معنى کي اختلاف دی، طبرسي د ابی عبدالله ؒ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه روایت کړی دی چې خدای ﷻ ژوندي کړه ده ته اهل الذین ماتوا قبل البلیة واهله الذین ماتوا وهو في البلیة.

پوه سه: چې ظاهره داده چې دا هبه په دنیا کې وه.

سوال: د ابی عبدالله ؒ په روایت چې دغه زامن دده چې ایوب ؑ په بلیه کې ژوند و دمخه تپره سوه چې په بلیه کې د ایوب ؑ یې ماینې خدمت کاوه، نو دې زامنو یې ولې خدمت نه کاوه؟

ځواب: دغه زامن خو دده بلیه قربانیان سوه هغه دمخه چې مړه وه هغه د بلیه قربانیان وه، او د امام اعظم ؒ څخه روایت دی چې د مړو زامنو یعنې د بلیه قربانیان خدای ﷻ په اخرت کې اجر جزیل ورکوي او هغو مړه زامن خدای پاک نور ورکړه یعنې د هغې ماینې څخه برد قوتها، مطلب دا چې مړي یې نه دي ژوندي سوي.

درویش وایي: چې یوه ورځ چې رحمة د ایوب ؑ ماینې هغه د شیطان خبره و ایوب ؑ ته وکړه، نو ده قسم واخستی که زه جوړ سوم زه به تا سل لرګي وهم، نو ایوب ؑ چې جوړ سو د قسم په باره کې خدای ﷻ ورته وویل:

وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا

فائده: دا جمله عطف ده پر (ارکض) یا پر (وهبنا) بتقدیر وقلنا خذ بیدک تا چې عطف د انشاء چې خذ دی پر اخبار چې وهبنا دی رانه سي، والاول اقرب لفظا ولې تقدیر ته د قلنا حاجت نه لري لانهما انشاءان، والثاني اقرب معنًی فان الحاجة الی هذا الامر یعني خذ بیدک لاتمس الا بعد تمام الصحة واعتدال الوقت.

پوه سه: چې ضغث یو لږ وښوو، شپیشتو وغیره ته وایي چې تارونه یې سل وي او سړی په خوږ ویږي نه، او ریحان او قضبان لکه جارو، وقیل غیر ذالک.

فَاضْرِبْ بِّهٖ وَلَا تَحْنَثْ

په هغه سره وواهه، یعنې خپل ماینه رحمة (فالمفعول محذوف) ځان مه حانث کوه بترک الضرب بالکلیة.

پوښتنه: خدای پاک ددې ښځې په وهلو کې پر ایوب ؑ ډېره اسانې نه وکړه؟

ځواب: دا د خدای ﷻ رحمت ؤ پر هم پر ایوب ؑ او هم پر رحمة لحسن خدمتها ایاه ورضاه عنها هغه قسم دده څخه د غضب په وخت کې اخستل سوی ؤ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: ورته حیله رخصت باقیه دی زموږ په شریعت کي په حدود و کي هم باقي دی چي حدود مبني پر تخفیف دي مهما امکن.

إِنَّا وَجَدْنَٰهُ صَابِرًا ۚ نِّعْمَ ٱلْعَبْدُ ۖ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ﴿٤٤﴾

موږ دی پیدا کړی ذی صابر بنده فیما اصابه في النفس و المال و العیال (دا علت دی د وهبنا) بنه بنده ؤ یعني ایوب ؑ، مقبل پر خدای ﷻ ؤ په ټولو حالاتو من الصحة و البلیة.

سوال: د شکایت و خدای ﷻ ته ونه کړی د شیطان څخه، نو دا شکایت د صبر سره منافي نه دی؟

ځواب: دې ته ځو جزع نه وایي چي مقابل د صبر ده، کتمنی العافیة و طلب الشفاء اما بالدعاء او بالدواء.

وَٱذْكُرْ عِبَٰدَنَآ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ أُو۟لِى ٱلْأَيْدِى وَٱلْأَبْصَٰرِ ﴿٤٥﴾

او ته ذکر کړه یا محمد (ﷺ) زما بندګان (الاضافة لتشریف المضاف) چي دا یې عطف بیان دی، وروسته ابراهیم و ابنه اسحاق و ابنه یعقوب (علیهم السلام) الایدي جمع د ید ده معنی یې دلته قوة في العبادة ده و الابصار جمع د بصر ده مراد څنې بصیرت د زړه دی او معرفت د خدای ﷻ دی بصفات الجمال و الجلال کذا قال ابن عباس ؓ و مجاهد و قتادة ؒ، تعبیر یې وکړی د قوت في العبادة کي په ایدي ولي اکثر اعمال شاقه په لاسو کېږي، او تعبیر یې وکړی د معارف الهیئة ؤ څخه په ابصار سره، ولي چي ستر ګي د اقوی اسبابو څخه د معارفو دي.

إِنَّآ أَخْلَصْنَٰهُم بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى ٱلدَّارِ ﴿٤٦﴾

موږ دوی کړ خولي دي خالصین لنا، بخصلة خالصة فیهم.

پوه سه: چي دا جمله تعلیل او دلیل دی د ما وصفوبه یعني اولی الایدي آه، و الباء للسببیة او خالصة اسم فاعل دی تنوین یې لپاره د تعظیم دی.

(ذکری الدار) په یادول د دار آخرت دائمًا او تذکیر یعني نصیحت کول دي د خلکو ته کما هو عادة الانبیاء علیهم السلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: ذکری مصدر دی مضاف دی و مفعول ته او ذکری الدار بیان دی د خصلة چې د مخه یې مبهم راوړی په دې کې هم تعظیم د خصلة دی قال العارف الجامي قدس سره:

چه خوش باشد که بعد از انتظاری ..... به امید رسد امیداوری

فائده: ذکری الدار یا مرفوع محلاً دی خبر د مبتداء محذوفي دی یا منصوب محلاً دی مفعول د اعني محذوف دی، یا مجرور محلاً دی بدل د خالصة دی.

فائده: تعریف د الدار د عهد دی یعني الدار المعهود وهي الآخرة په دې کې اشاره و دې ته ده چې دار په حقیقت کې اخرت دی او دار دنیا مجازًا دار بولي لفنائها، او بعض مفسرین وایي چې په ذکری الدار کې مضاف محذوف دی ای ذکری صاحب الدار وهو الله سبحانه و تعالی.

فائده: مالک بن دینار ؒ وایي چې ترجمه د آیت داده ونزعنا عن قلوبهم حب الدنیا وذکرها واخلصنا هم لحب الاخرة وذکرها.

وَإِنَّهُمْ عِنْدَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْأَخْيَارِ ﴿٤٧﴾

او په تحقیق دوی زمونږ په نېز یعني په الهی دربار کې غوره کړه سوی دی تر نورا بنا جنس ددوی، اخیار جمع د خیر ده چې په اصل کې افعل تفضیل دی.

سوال: قیاس صرفي خو دادی چې افعل تفضیل پر افعال نه جمع کېږي، نو اخیار څرنګه جمع راغله؟

ځواب: دا قانون په هغه افعل تفضیل کې دی چې پر خپل اصل باندې پاته وي او د خیر سره خو تخفیف لازم دی فافهم.

وَاذْكُرْ إِسْمَاعِيلَ وَالْيَسَعَ وَذَا الْكِفْلِ ۖ

او ته ذکر کړه یعني خلګو ته اسماعیل ؑ یعني ابن ابراهیم ؑ، او الیسع چې زوی د اخطوب ؤ.

پوښتنه: چې الیسع یعني الیاس ؑ پر بني اسرائیلو په طور د یو مقتداء تاکل سوی ؤ، او یا ورو سته نبوت ورکړل سو.

پوښتنه: د اسماعیل ؑ ذکر یې د پلا یعني ابراهیم ؑ او وروړ اسحاق ؑ له ذکره جلا وکړی، نکته یې څه ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: لپاره د اشعار پردې چې دده ربښې په صبر کې علی الذبح د هغې محکمې وې، او بله وجه یې داده چې عرب په اسماعیل علیه السلام کې ځوک له ځانه سره نه ګډوي.

فائده: د الیسع الف لام زائد دی لازم دی لمقارنتهما الوضع.

سوال: الیسع خو لفظ عجمي دی او الف لام په عربي الفاظو پوري خاص دی؟

ځواب: روح المعاني وایي چې دا منافات نه سره لري، ولې چې په نورو اسماؤ عجمیه ؤ کې هم الف لام لازم سته، نحو الاسکندر، لکن تحقیق دا دی چې الف ولام چې د اسم اعجمي سره په اول وضع کې راغلی بیا حکم په زیادت سره ځطا دی.

پوه سه: چې ذ الکفل د الیسع د اکا زوی ؤ، او نوم یې بشر بن ایوب ؤ او ذوالکفل یې لقب ؤ، اختلف في نبوته ولقبه ذوالکفل، ذوالکفل یې په دې بولي چې بعض علماء وایي چې ده ته فراره سوي وه سل (۱۰۰) نبیان چې ده پناه ورکړې وه او دی به یې ضامن ؤ چې زه یې ستاسي په لاس درکوم ده به خوشي کړه، او بعض علماء وایي چې ذوالکفل د ایوب علیه السلام زوی ؤ، له وهب بن منبه رحمه الله څخه روای دی چې خدای پاک وروسته تر موت د ایوب علیه السلام شرف بن ایوب نبي کړی و سمّاه ذوالکفل او امر یې کړی چې خلګو ته دعوت د توحید ورکوه، وکان مقیمًا بالشام عمره حین مات (۷۵)، او نور غیر تائید شده اقوال هم سته.

وَكُلٌّ مِّنَ الْأَخْيَارِ ﴿٤٨﴾

دوی ټوله د ښو و بندګانو څخه د خدای وه، دا جمله حال ده له مفعول څخه د اذکر، یعني اسماعیل آه.

هٰذَا ذِكْرٌ ۚ وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ لَحُسْنَ مَآبٍ ﴿٤٩﴾

اشارة الی ما تقدم من امور، ذکر ای شرف لهم یا معنی داده چې دغه آیتونه د قرآن کریم څخه پر تاسي یې تلاوت وکړل سو ذکر جمیل دی د دوی، وروسته خدای پاک احوال د ما اعد الله لهم ولامثالهم في دار الآخرة، ن وایي: په تحقیق تقوا دارانو لره مثل هؤلاء المذکورین وامثالهم هر آئینه بنه مرجع سته یعني په آخرت کې.

جَنَّاتِ عَدْنٍ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ الْأَبْوَابُ ﴿٥٠﴾

جنتونه دي د اوسېدو (جنات عدن، عطف بیان دی یا بدل دی د حسن مآب)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي خلاصي به وي و دوی ته دروازې د هغو جنتو تاچي الم د انتظار پرراته سي.

دروښ وايي: چي عدن اقامت ته وايي، نو له جنات څخه ټوله جنتونه مراد دي، ولي چي هر جنت ځای د اقامت دی، دا معنی په دې ځای کي انسب ده، ولي متقين عام دی شامل و انبیاء علیهم السلام او اولیا الله ؒ ته او عوامو مؤمنانو ټولو ته شامل دی، او په دې کي شک نسته چي جنتونه د مذکوره کسانو علی حسب تفاوت درجاتهم من القرب الی الله متفاوت دي، نو جنات عدن په معنی مذکور سره هم ټولو جنتیانو ته شامل دی، او جنت عدن یوه معنی علمي هم لري چي د یو خاص جنت نوم دی یعني علم بالغلبة دی، لکه مظهري ؒ چي ویلي دي هي من الاعلام الغالبة چي په هغه کي روح البیان یو طویل حدیث هم را نقل کړی دی، او دده له حدیث څخه دا فهمېږي چي جنت مذکور ځای د خواصو د مؤمنانو دی، او لکل متقي فالانسب لعموم المتقين المعنی العام ده که څه هم معنی عام جنت عدن بالمعنی العلمي سره هم شامل دی، والله اعلم بالصواب.

فائده: مفتحة منصوب دی والعائد في الحال هغه فعل دی چي د متقين څخه فهمېږي ای الحصول والكون، او لهم الابواب مرفوع محلاً دی چي د مفتحة اسناد ورته سوی دی، والعائد الی ذی الحال محذوف، والتقدير مفتحة لهم منها الابواب او یا الف ولام عوض دی دی د مضاف الیه څخه ای ابوابها.

مُتَّكِـِٔينَ فِيهَا يَدْعُونَ فِيهَا بِفَٰكِهَةٍ كَثِيرَةٍ وَشَرَابٍ ۝

(متكئين فيها) حال دی له متقين څخه یعني دوی به تکي وهلي وي پر بالښتانو كما في موضع آخر ونمارق مصفوفة، دوی به راغواړي یعني د غلمانو څخه په میوو ډېرو سره لکه انګور، سیب، مالټي، انار وغیرها او شراب.

پوه سه: چي د شراب سره یې کثیر نه راوړی اکتفاءً بالاول.

فائده: نبه داده چي یدعون جمله مستأنفه ده لپاره د حال ددوی، او متكئين حال دی له ضمیر څخه د هغو یعني له ضمیر څخه د یدعون وانما قدم الحال لكونه نكرة، ولي چي په نکره کي واجب دی تقدیم د عامل ذی الحال.

فائده: د جنت ټولو میوو ته یې فاكهة وویل که څه هم میوې د جنت غذائي شیان دي لکن دوی یې د تفکهه لپاره خوري لعدم ضرورة ابدانهم الی التغذی، او بعض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مفسرين وايي چي د فاكهة سره يې كثيرة راوړى لكثرة انواعها بخلاف الخمر، وفيه نظر لان الخمر ايضًا يتعدد ويتكثر بتعدد انواع الاثمار وكثرتها فتأمل، الا ان يقال ان التعدد في الثمار باعتبار اسمائها ومسمياتها والتعدد في الخمر بالاضافة الى الثمار دون الاسم وهذا القدر كاف في توصيف الفاكهة بالكثرة دون الخمر فافهم.

وَعِندَهُمْ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ اَتْرَابٌ ۝

او ددوى سره (نساء) هغه ماينې وي يعني الحور چي قصر او حصر وي طرف كتل ددوى پر خپلو مړو باندې، چي په بل پسې د سترګو تر كنج نه ګوري، لكه په دنيا كې چي يوه ښځه تر خپل مېړه ښائسته نر ووينې د سترګو تر كنج ورته ګوري الا ما شاء الله، يعني وهري حوري ماينې ته خپل مېړه تر ټولو رجالو ښائسته ايسي، يا معنى داده چي ازواج ددوى يعني حورات قاصرات الطرف به وي پر خپلو زوجاتو من الحور يعني په بله حوره پسې بې سترګي نه وي كړې، ولي جنتي ته خپله ماينه تر ټولو حورانو ښائسته ايسي، وهذا الاحتمال ذكره روح المعاني.

(اتراب) هم سنه به وي مېړه او ماينه چي د درود هرش (۳۳) كالو په عمر كې به وي ابدًا لا يهرمون، اى الازواج والزوجات لان الجنة ليس محل التغير بمرور السنين كما في الدنيا، او مجاهد[۳] وايي چي زوجات يعني حوراني د جنت يود بل سره بغض او نفرت نه لري، يعني لكه ضرات (بوني) د دنيا.

پوه سه: چي جمله ظرفيه يعني عندهم حال ده، وقد جاء في الحديث الصحيح يدخل اهل الجنة الجنة جردًا (چي پر بدن به يې وېښتان نه وي، ماسيوا له هغو ځايو څخه چي وېښتان يې زېنت وي لكه ورځي او باڼو ګان) مردًا (جمع د امرد ده يعني بې ږېرې) مكحلين (سترګي به يې بيله استعماله د رنجو لكه په رنجو داسي توري وي) ابناء (۳۳) سنه به وي، الى اخير الحديث.

هٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِيَوْمِ الْحِسَابِ ۝

"هذا" اى المذكور من احوال الجنة "ماتوعدون" على صيغة الخطاب چي ستاسي سره يې وعده كړې ده يعني په دنيا كې په واسطه د رسولانو، وقرء مايوعدون بياء الغيبة فالضمير راجع الى المتقين (ليوم الحساب) د ورځې د حساب لپاره، ولي چي حساب علت وګرځېدى الى الوصول الى تلك النعم الاخروية.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ هٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهُ مِنْ نَّفَادٍ ﴿٥٤﴾

په تحقیق دغه مذکوره اشیاء من قوله تعالی وان للمتقین الی ههنا زموږ رزق دی چې نسته دې رزق لره انقطاع او نیستي والی.

پوه سه: چې جمله ماله من نفاد له رزقنا څخه یا خبر بعد الخبر دی، ان هذا یا مرفوع محلاً دی ای الامر هذا (یعني حال د اهل الجنة هم دغه دی) یا هذا کما ذکره یا منصوب محلاً دی ای خذ هذا و هو الاشهر في امثال ذالک.

هٰذَا ۙ وَإِنَّ لِلطّٰغِيْنَ لَشَرَّ مَآبٍ ﴿٥٥﴾

(وان للطاغین) عطف دی پر وان للمتقین آه مراد له طاغین څخه کافران دي من الطغیان (سرکښي کول) لشر مآب، بد مرجع دی وهو النار.

جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا فَبِئْسَ الْمِهَادُ ﴿٥٦﴾

"جهنم" بدل یا عطف بیان دی د شر مآب "یصلونها" چې ډوی داخلیږي (جهنم مؤنث سماعي دی، دا جمله حال ده له جهنم څخه) "فبئس المهاد" بد فراش دی جهنم، مستعار دی له فراشه څخه، فافهم، په دنیا کي.

هٰذَا فَلْيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَّغَسَّاقٌ ﴿٥٧﴾

"هذا" دغه عذاب منصوب محلاً دی په فعل محذوف سره چې وروسته فعل دلالت پر کوي (ودې ته په نحو کي منصوب علی شریطة التفسیر وایي) "فلیذوقوه" ای لیذقوا هذا فلیذقون، وفائدة الحذف والتفسیر تاکید العذاب، یا خبر د مبتداء محذوفي دی ای العذاب هذا "حمیم" ای هو حمیم، نهایته تودې اوبه دي "وغساق" عطف علی حمیم.

دروښي وایي: چې په معنی کي د غساق اختلاف دی، ابن عباس ؓ وایي چې غساق بلا نهایة یخي اوبه دي چې زمهریري بولي چې په سبب د ډیر یخوالي د بدن غوښي سوځي لکه اور چې په ګرمي سره سوځي، او بعض وایي چې نهایت بد بویه اوبه دي، په لغت کي د ترک، او قتادة ؒ وایي چې غساق هغه نوونه او زوي دي چې له غوښو څخه د اهل النار بهیږي، او ابن جریر ؒ روایت کړی دی له کعب ؓ څخه چې غساق یو حوض دی په جهنم کي هغه حوض ته وربهیږي زهر د هر خاوند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د زهرو لکه لړم، مار، لندۍ او غوندک چې کافر په حوض کې غوټه کړي، نو پوستکي او غوښې یې ټولې توی سي.

وَاٰخَرُ مِنْ شَكْلِهٖۤ اَزْوَاجٌ ۝

"واخر" ای عذاب آخر "من سکله" صفت دی د آخر، یعني ای مثل الحمیم والغساق "ازواج" یعني تور انواع د عذاب.

سوال: ضمیر د شکله خو مفرد دی، نو دوو ته څرنګه راجع کېدای سي؟

ځواب: په تأویل مشهور ای ماذکر، او یا راجع دی و شراب ته چې د ماقبل څخه وفهمېدی چې هغه حمیم او غساق دواړو ته شامل دی یا ضمیر د مفرد راجع دی و عذاب ته چې هم غساق او حمیم دواړو ته شامل دی.

پوه سه: چې ازواج خبر دی د آخر او یا صفت د هغه دی یا د درو سره صفت دی، او یا مرفوع دی په جار او مجرور یعني من شکله والخبر محذوف ای لهم.

هٰذَا فَوْجٌ مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ

ابن عباس رضي الله عنهما وایي چې دا کلام دی د خزنة النار و مشرانو او رئیسانو ته د اهل النار یعني چې رئیسان د کافرانو چې دوزخ ته ورسي، او وروسته اتباع د دوی پسې ورسي، نو خزنه ورته ووایي چې هذا (ای الاتباع) یو فوج او ډله ده چې داخل سوه و دوزخ ته ستاسي سره (یعني ای رئیسانو د کفر) او بعض مفسران وایي چې دا قول د رئیسانو دی بعضهم الی بعض (یعني چې دا اتباع یو جماعت دی) خو داخل سوه اورته یعني دوی ای الاتباع خو هم هغه دي راغلله اورته ستاسي سره.

پوه سه: چې د اقتحام معنی داده چې یو سړی په خپله ځان وغورځوي و یوې کندې ته.

سوال: له کندې څخه دوزخ مراد دی، نو دوی څرنګه خپل ځانونه دوزخ ته ورغورځوي؟

ځواب: کلبي رحمه الله وایي چې ملکي دوی په غمچینو د اور وهي حتی چې دوی د بېرې د وهلو ځانونه دوزخ ته وغورځوي، والله اعلم بمراده في کتابه.

لَا مَرْحَبًۢا بِهِمْ

پوه سه: چې مرحبًا مصدر دی په معنی د رحب چې وسعت او فراخي ته وایي ولفظ بهم بیان دی د هغه چا چې لا مرحبًا ورته وویل او نصب د مرحبًا په دې سبب

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دی چې مفعول به د فعل مقدر دی ای لایصادفون رحبًا وسعة دوی دي نه کړي پیدا پراخي، داد عربو بنهراده چې یو چاته یې کوي وحاصله لا کرامة لهم.

فائده: دا قول د رئیسانو د کافرانو دی، د بهم ضمیر راجع دی و تابعانو ته، حسین کاشفعي" وایي: مرحبا کلمه ایست برائ اکرام مهمان می گویند وبرائ اظهار خوشنودی بآمدن مهمان چون کلمه لا برو داخل شود برائ دعای سوء است انتهی بزیادة، وفي بعض شروح الحدیث التکلم بکلمة مرحبًا سنته یعني للضیف النازل اقتداءً بالنبي ﷺ حیث قال مرحبًا یا ام هاني، چې دا راغله و علیه الصلوة والسلام ته په کال د فتح د مکې واسلمت ایمان یې راوړی وهي بنت ابی طالب عم رسول الله ﷺ، او علیه الصلوة والسلام چې معراج ته تللی وُ ددې له خوني څخه ولاړی کما قال المولی الجامي قدس سره:

چو دولت شد بد خواهان نهائی ..... سوی دولت سرائ ام هانی

فائده: جمله د لا مرحبًا بهم په تقدیر د قول ای قالوا متصله ده په ماقبل پورې.

إِنَّهُمْ صَالُوا النَّارِ ﴿٥٩﴾

دا جمله علت ده لقوله لا مرحبًا بهم، یعني دوی یعني الاتباع داخل سوه اور ته په اعمالو سره خپل لکه موږ چې داخل یو په اور کې باعمالنا.

قَالُوا بَلْ أَنتُمْ لَا مَرْحَبًا بِكُمْ ۖ

("قالوا" جمله مستأنفه ده یعني جواب د سوال ده چې اتباعو و متبوعینو ته څه وویل فاجیب قالوا ای التابعین للمتبوعین) بلکې تاسي متبوعین د لا مرحبا لائق یاست ترموږ، او علت یې دا بیان کړی چې تاسي هم ضال او مضل یاست، دیل یې دا ووایه.

أَنتُمْ قَدَّمْتُمُوهُ لَنَا ۖ فَبِئْسَ الْقَرَارُ ﴿٦٠﴾

تاسي موږ اتباع ته پیش کړی دا کفر او ضلال او عذاب "لنا" موږ ته، یعني تاسي موږ ته دعوت راکاوه د کفر، نو بد ځای دی موږ او تاسي لره د قرار یعني جهنم.

قَالُوا رَبَّنَا مَن قَدَّمَ لَنَا هَٰذَا فَزِدْهُ عَذَابًا ضِعْفًا فِي النَّارِ ﴿٦١﴾

بل استیناف بیاني دی یعني دوی وویل ای زموږ خدایه هر چا چې راپیش کړی دغه کفر موږ ته و هغه ته زیات کړې عذاب دوه چنده په اور کې یعني یو عذاب د خپل کفر او ضلال او بل زموږ د راباللو و کفر ته چې اضلال یې بولي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَالُوا مَا لَنَا لَا نَرٰى رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُمْ مِّنَ الْاَشْرَارِ ۝

"وقالوا" دا جمله عطف ده على قالوا ربنا من قدم لنا آه، او مقاتلؒ وايي چې ددې قول قائلين كفار د قريشو دي په دوزخ كي، نو دوی وايي څه سبب دی موږ لره چې موږ نه وينو يعني په دوزخ كي هغه كسان چې موږ به په دنيا كي دوی اشرار بلل، ددوی غرض فقراء د مؤمنانو دي لكه عمار بن ياسر و خبيب وبلال و صهيب او ابن مسعود ﷺ.

پوه سه: چې جمله د لانرٰى له ضمير څخه د متكلم په لنا كي حال ده، والاشرار جمع د شرير ده، والشر ضد الخير والخير ما يرغب فيها الكل والشر ما يكرهه، يعني زموږ ددوی څخه كراهت كېدی او په نظر د تحقير مو ورته كتل په دنيا كي دوی ته، يعني كفارو د قريشو به ويل د دغو فقراؤ په باره كي اهؤلاء من الله عليهم من بيننا.

اَتَّخَذْنٰهُمْ سِخْرِيًّا

په قطع د همزه، ولي چې دا همزه د وصل نه دی بلكې همزه د استفهام دی اصل يې أ اتخذتم او همزه د وصل يې حذف كړی استغناءً عنه بهمزة الاستفهام، روح المعاني وايي چې دا قرائت دی د حجازيانو قاريانو او د ابن عامر او عاصم او د ابو جعفر او د اعرج او د حسن او د قتاده رحمهم الله انتهى او دا جمله مستأنفه ده محل د اعراب نه لري، دا خبره د دوی هلته وكړه چې دوی فقراء المسلمين په دوزخ كي ونه ليدل چې دوی په دنيا كي اشرار بلل انكاراً على انفسهم، مظهريؒ وايي چې اهل بصرة او الكسائي يې په همزه د وصل وايي يعني په كسره د همزه چې يا صفت اخرٰى دی د رجالاً يا حال دی په تقدير د قد كما هو القانون النحوي، او سخريًا بضم السين وكسرها مصدر ده سخره يعني پسخندي يې په وواهه، والاسم السخرية زياته كړه ياء النسبة مبالغة كما في احمري، والغرض من الاستفهام الانكار والتوبيخ وللئوم دوی پر خپلو ځانو.

اَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ الْاَبْصَارُ ۝

يا كړې سوې له دوی څخه زموږ ستركي يعني په دوزخ كي به وي لكن زموږ ابصار به يې نه وينې، الفراء النحوي وايي چې دا استفهام د توبيخ او تعجب دی، وكلمة ام معادلة د هغه همزه ده چې و فهمبده من قوله مالنا، والتقدير مالنا لانرٰى هؤلاء الذين اتخذناهم يعني اليسوا ههنا يعني في النار او زاغت عنهم الابصار.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ ذٰلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ أَهْلِ النَّارِ ﴿٦٤﴾

په تحقیق دغه چې موږ حکایت وکړی (لحق) وقوعه وتکلهم به، د ذالک بیان یې په دې قول سره وکړی، مخاصمه یو د بل سره د اهل النار، مراد له مخاصمه څخه هغه خبره ده چې مشرانو او رئیسانو د کافرانو و خپل اتباع ته وکړه لا مرحبًا بهم آه، او اتباع دوی ته وویل بل انتم لا مرحبًا بکم آه.

درویش وایي: چې اغنیاء باید فقراؤ ته په نظر د حقارت ونه ګوري، حافظ شیرازيؒ وایي:

نظر کردن بدرویشان منافی بزرگی نیست
سلیمان با چنان حشمت نظرها بود با مورش

یعني د مېرۍ انو خیال یې ساتی کما في سورة النمل.

قُلْ إِنَّمَا أَنَا مُنْذِرٌ ﴿٦٥﴾

ته ورته ووایه یا محمد (ﷺ) و قریشو ته د مکې.

پوه سه: چې کلمه د انما لپاره د قصر قلب ده متصل بقوله تعالی قال الکافرون هذا ساحر کذاب، د قصر قلب معنی داده چې د مدعی د خبرو رد وکړی بل خبریه په ځای کې وکړی یعني زه ساحر نه یم لکه تاسي چې وایاست بلکې زه پیرونکی یم ستاسي له عذاب څخه د خدای ﷻ.

پوه سه: چې قل سه د مقولې جمله مستأنفه ده.

وَمَا مِنْ إِلٰهٍ إِلَّا اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿٦٦﴾

نسته معبود بالحق بې یوه خدای ﷻ، دا جمله عطف ده پر انما انا الخ رد دی د هغه قول د کافرانو اجعل آلهة الهًا واحدًا (الواحد) چې یو دی او نه په ذات کې او نه په صفاتو جمالیه او جلالیه ؤ کې شریک لري (القهار) چې غالب دی هر کار چې اراده ورته وکړي هغه کولای سي بلا امکان مانع عنه ومن جملتها الاحیاء بعد الموت ده.

فائده: په دې عبارت سره بشارت دی للمؤمنین بالجنة و وعید للکافرین بالنار.

رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الْعَزِيزُ الْغَفَّارُ ﴿٦٧﴾

چې خالق او مالک دی د اسمانو او مځکې او د هغه شیانو چې په مابین کې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسمانو او مځکي دی چي کائنات الجو يې بولي لکه وريځ، پېلبو، تنا، تکه وغیر ذالک مما یعلمه الله (العزیز) چي غالب دی که چاته عذاب ورکوي څوک يې نسي مغلوبه کولای (الغفار) چي بخښونکی دی د مایشاء من الذنوب صغائرها وکبارها لمن شاء ما عدا الکفر والشرک.

فائده: ددې اوصافو په راوړلو کي تاکید د توحید و وعد للمؤمنین و وعید لکافرین.

قُلْ هُوَ نَبَؤٌا عَظِيمٌ ﴿٦٧﴾

ووایه ته یا محمد (ﷺ) چي قرآن مبارک یو خبر عظیم دی، دا معنی ابن عباس ؓ، مجاهد او قتاده ؒ کړې ده، او بعض مفسرین وایي چي ضمیر د هو راجع دی ویوم القیامة ته المفهوم من الآیات کما في قوله جل ذکره عم یتساءلون عن النباء العظیم.

أَنتُمْ عَنْهُ مُعْرِضُونَ ﴿٦٨﴾

چي تاسي له هغه څخه اعراض کونکي یاست یعني القرآن، او یوم القیامة چي نه قرآن منئ او نه یوم القیامة منئ او سره ددې چي پر حقیت د قرآن عزیز دلائل واضحه سته من المعجزات الظاهرة علی ید رسول الله ﷺ بل القرآن في نفسه معجزة او دلیل د حقیت دی کریمه: ان کنتم في ریب مما نزلنا علی عبدنا فأتوا بسورة من مثله الآیة، وقد مر بیانه في تفسیر سورة البقرة، او د قیامت هم دلائل عقلیه او نقلیه موجود دي، فما لکم ایها الکفار عنهما معرضون.

فائده: في خواص الاسماء الآلهیة في الآیات السابقة (۱) خاصیة اسم الله الواحد چي څوک هره ورځ زر (۱۰۰۰) واره وایي خلګ به يې له زړه څخه ووځي او یوازي محبت د خدای ﷻ بې په زړه کي قرار پیدا کړي، وهذا البیت یدل علی هذا المعنی ..... بیت:

اذا کان ماتهواه في الحسن واحدًا .... فکن واحدًا في الحب ان کنت تهواه

(۲) د اسم القهار مبارک خاصیت دادی، وتل د حب د دنیا دی له زړه څخه او تعظیم د ماسوی الله له زړه څخه، څوک چي دا اسم مبارک ډېر وایي اثار د غلبه پر دښمن به ورته ښکاره سي، او بل خاصیت يې دادی چي څوک چي په رشتیا ګو ظالم وي، نو په وخت کي د لمر د راختلو او د تهجد په وخت پر دې ډول، یا جبار یا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قهاريا ذا البطش الشديد يو وار وروسته داسي ووايي خذ حقي ممن ظلمني وعدا علي، هغه ظالم به خداى هلاک کړي ان شاء الله تعالى.

دروښ وايي: چې دا بيتونه د خداى ﷻ د قهاريت بيان دى.

غيرتش غير درجهان نگذاشت .... وحدتش اسم اين وآن برداشت

گم شود ظلمت پندار .... نزد انوار واحد قهار

(۳) خاصيت اسم العزيز: شيخ السهروردي قدس سره وايي که څوک دا اسم مبارک اووه ورځي پرله پسې هره ورځ زر (۱۰۰۰) واره ووايي اهلک الله خصمه ان كان مستحقا للهلاک، او بل خاصيت يې دادى که په مقابل کي د صف د کافرانو يعنې په وخت کي د جنګ اوويا (۷۰) واره ووايي او هر وار و لښکرو ته د کفارو اشاره کوي د کافرانو لښکر به ماتي وخوري، ان شاء الله تعالى.

(۴) خاصيت اسم الغفار وجود المغفرة: که يې څوک وروسته د جمعې تر لمانځه سل (۱۰۰) واره ووايي ظهر اثار المغفرة، وقد قال رسول الله ﷺ من لزم الاستغفار جعل الله له من كل هم فرجًا ومن كل ضيق مخرجًا ويرزقه من حيث لايحتسب، په صحيح حديث کي راغلي دي اذا قال العبد يا رب اغفرلي قال الله تعالى اذنب عبدي ذنبًا فعلم ان له ربًا يغفر الذنب ويأخذ به اشهد كم اني قد غفرت، يعني دا خطاب ملکوته وکړي.

مَا كَانَ لِيَ مِنْ عِلْمٍ بِالْمَلَإِ الْأَعْلَىٰ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ﴿٦٩﴾

(اى علم بوجه ما كان دل كلمة من الاستغراقية بعد حرف النفي) ما لره نه وَ هيڅ علم په جماعت بلند سره چې مراد ځني ملائکه دي، هغه وخت چې ملکو بحث کاوه په يو امر کي د امورو د دنيا او الآخرة، ولي چې اخبار د تقاول او بحث څخه د ملکو و ماجرى بينهم موافق د مافي الكتب المتقدمة من التورات والانجيل وغيرهما من غير سماع و مطالعة الكتب كما هو حال وشان النبي ﷺ لكونه نبيًا اميًا لا يتصور الا بالوحي.

فائده: په دې آيت کي اثبات د نبوت او رسالت دده دى، او بعض مفسرين وايي لکه روح البيان مراد له اختصام څخه د ملکو اختصام د دوى دى چې خداى پاک مشورة و دوى ته وويل اني جاعل في الارض خليفة، ملکو ورته وويل (لا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

على وجه الاعتراض على الله حاشاهم الله عن ذالک بل لان يزيل شبههم الذي كان في قلوبهم وطلب الحكمة الالهية في استخلاف آدم۴) قالوا اتجعل فيها من يفسد فيها (اى بالمعاصي والظلم ويسفک الدماء)

پوه سه: چې نسبت د فساد في الارض وسفک الدماء وآدم۴ته په اعتبار د اولاد د آدم۴ دی لما طالعه من اللوح المحفوظ او لقياس اولاد آدم على الجن الذي كانوا ههنا قبل آدم وذريته كما مر في تفسير سورة البقرة.

إِنْ يُوحَىٰٓ إِلَيَّ إِلَّآ أَنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٥٠﴾

ان نافيه دی يعنې من حال الملاء الاعلى وغيره من المغيبات (الا انما آه) والمعنى ماته نه دي وحي سوي د حالاتو د ملاء الاعلى او نورو غيبو شانو لکه احوال د آدم۴ د سجدې و ملكوته او احوال د امم ماضيه الى غير ذالک، مګر لانما (بحذف لام التعليل) چې زه بېرونکی يم د کافرانو له عذاب اليم څخه په ورځ د قيامت، والحاصل چې دا معلومات چې تاسي واورېدل دليل د دې دی چې نبي مرسل يم د خداى ﷻ له خوا څخه، فافهم... اعتذار لازم الاظهار.

دروېش وايي: چې د مذكوره آيتونو په تفصيل کې روح المعاني ډېر طويل بحث کړی دی او نقل او رد د بعض تفسيرو يې راوړی دی، او لوی حديث که څه هم صحيح خو دی لكن د متشابهاتو څخه دی چې طالبان خو څه کوې کاشکې د متوسطي درجې علماء د هغو په تأويل پوهېدلای، او مظهري" هم ورته کار کړی دی يعنې متشابه حديثونه يې راوړي دي، نو ما په خپل تفسير کې د هغو حديثو له راوړلو څخه ډډه وکړه تاچې زما د تفسير مطالعه کونکي چې اکثره يې د کښتي درجې يا د اوسطي درجې ملايان دي په سبب د نه پوهېدو په تأويل د هغو احاديثو صحيحه ؤ په لويه فتنه کې واقع نه سي.

إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي خَٰلِقٌۢ بَشَرًا مِّن طِينٍ ﴿٧١﴾

څه وخت چې وويل ستا رب و ملكوته چې زه پيدا كونكی يم د يو بشر له خټو څخه. دا جمله بدل ده له اذ تختصمون څخه او د هغې جملې بيانونكې ده، ولې چې هغه سابقه جمله چې اذ پر داخل ؤ مشتمل ده اجمالاً چې په دې آيتو کې بې تفصيل بيان سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُوا لَهُ سَاجِدِينَ ﴿٧٢﴾

نو چې ما د هغه خلق تمام ته ورساوه، ما پکښې پوه کړی يعني داخل مې کړی خپل روح، تاسې په واقع کې سولاست و هغه ته پر سجده.

پوه سه: چې اضافت د روح و ځان ته لپاره د تشريف د آدم عليه السلام دی يا لپاره د تشريف د روح انساني دی چې اشرف د روحانو دی.

دروښ وايي: چې تفصيلي بيان د سجدې د ملکو و آدم عليه السلام ته د سورة البقرة په تفسير کې مطالعه کړئ.

فَسَجَدَ الْمَلَائِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ ﴿٧٣﴾

نو سجده وکړه ملکو (دا جمله عطف ده پر قال ربک، باندې) کلهم اجمعون: ددې دوو لفظو معنا جلا ده يعني کلهم تاکيد افرادي دی يعني ټولو افرادو د ملکو سجده وکړه، او اجمعون تاکيد د اجتماع د ملکو دی په سجده کې يعني په يوه وار پس او پېش په سجده کې د ملکو نه وُ.

إِلَّا إِبْلِيسَ اسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ ﴿٧٤﴾

مګر ابليس چې طلب د کبرياء خپل يې وکړی تر آدم.

پوه سه: چې استکبر علت دی د استثناء د ابليس د سجده کونکو څخه.

پوښتنه: ابليس خو په ماضي کې د کافرانو څخه نه وُ بلکې لوی عابد وُ چې په نامه د عزازيل يادېدی يعني عزت من بنده د خدای جل جلاله، نو د ماضي د صيغې د راوړلو به څرنګه توجيه کوو؟

ځواب: بعض مفسرين وايي چې کان په معنی د صار دی يعني اوس و ګرځېدی له کافرانو څخه، او بعض مفسرين وايي کان في علم الله القديم من الکافرين ... بيت:

تکبر عزازيل را خوار کرد .... بزندان لعنت گرفتار کرد

تکبر من زينها ای پسر .... که روزی زدستش بر آيی بسر

پوښتنه: ډېر مسلمانان سجده يعني لمونځ نه کوي نو هغه کافران دي؟

ځواب: کفر د ابليس په سبب د صرف نه سجده کولو نه دی، بلکې ده انکار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکړی له حکم څخه د خدای ﷻ او امر د سجدې د خدای له خوا څخه و آدم ته یې بد وبالله، کما یفهم مما سیئاتي.

قَالَ يَا إِبْلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَسْجُدَ لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ

خدای پاک ورته وویل چې ای ابلیسه ته څه شی منع کړې له سجدې کولو څخه و هغه چاته چې په خپل قدرت یې پیدا کړی ؤ.

پوه سه: چې لفظ د یدي له متشابهاتو څخه د قرآن دی ولي چې خدای ﷻ جسم او اعضاء نه لري نو سلف علماء یې تأویل نه کوي او ایمان یې پرې دی چې څه چې د خدای ﷻ مراد وي هغه حق دی او تفصیلي علم یې و خدای ﷻ ته سپارلی دی، لکن متأخرین علماء یې تأویل کوي، ددې آیت معنی دا کوي خلته بقدرتي خلته بقدرتي من غیر توسط الاب و الام.

سوال: نو چې معنی یې قدرت دی نو یدي تثنیه ولي راوړه؟

ځواب: لپاره د مزید قدرت د خدای ﷻ په خلق کې د آدم من طین یعني خمیرول د خټو دده څلو پښت ورځې او خلقت د آدم مخالف ؤ، د نورو انباء جنس څخه دده لکه نور حیوانات.

أَسْتَكْبَرْتَ أَمْ كُنْتَ مِنَ الْعَالِينَ ﴿٧٥﴾

همزه د استفهام د توبیخ او د انکار داخل سو پر همزه د وصل نو اصل یې أاستکبرت ؤ همزه د وصل یې حذف کړی استغناءً عنه بهمزة الاستفهام.

پوه سه: چې ام په معنی د بل دی، بل لپاره د توبیخ پر شق اول دی یعني تا طلب د کبریاء وکړی او همزه یې لپاره د انکار دی پر شق ثاني چې ته دي په واقع عالي یې تر آدم ﷺ.

قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِنْهُ خَلَقْتَنِي مِنْ نَارٍ وَخَلَقْتَهُ مِنْ طِينٍ ﴿٧٦﴾

ابلیس وویل چې زه تر ده اعلی رتبةً یم یعني شق ثاني یې مختار کړی او ابلیس د خپل خیر والی تر آدم داسي بیان کړی، یعني زما خلقت د اور دی چې جوهر مضیئ دی، او دده ماده د خټې ده چې جوهر کثیف دی.

پوښتنه: د بعض شیطان پرستانو په زړو کې به داشک وي چې د ابلیس جواب خو ډیر معقول ؤ، نو د لعنت ابدي ولي مستحق وګرځېدی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: (۱) معقول به هتله وای که د خالق خپل د امر بالسجود لآدم تقبیح یې نه وای کړې او له انا خیر منه څخه دا واضح من الشمس ده چې د ابلیس تقبیح د امر د خالق خپل و کړه (۲) طبعیت د اور فساد او اتلاف دی د هغه شي چې د اور سره تماس و کړي، بخلاف التراب ولي د خاورو چې شی په تماس کې سي لکه غنم، جوار، وریجې او نور خوراکي مواد چې په مځکه کې یې وپاشې اضعاف مضاعفه د پاشلي تخم راباسي کما هو المشاهد (۳) طبعیت د اور بې کاري او تېزي او سپک والی دی بخلاف التراب طبع د خاورو او ثبات ده (۴) په مځکه کې ارزاق د انسانانو بلکې د ټولو حیواناتو او لباس د انسانانو چې له پنبه یا وریښمو څخه وي لکه شړی، تلتکان، قالین وغیرها هم پکښې سته، ولي د حیواناتو وړی لکه د اوښ وړی چې په عربي یې وبر بولي او د پسو وړی چې په عربي یې صفوف بولي او د بزو وجغوني چې په عربي یې شعر بولي ټوله د مځکې د نباتاتو د خوړلو نتیجه ده او د غه رنګه په مځکه کې خلګ کورونه او کلاوي جوړوي.

(۵) خاوره ضروري ده د هر حیوان لپاره ولي چې علف او هر خواړه د دوی د مځکې څخه دي، او اورته خو هر حیوان ضرورت نه لري بلکې بعض وخت انسانان ای بعض د دوی و اورته په شبانه روزو او ختو کې بلکې په میاشتو کې لکه په حدیث شریف کې د سیدتنا عائشة رضی الله عنها څخه روایت دی چې موږ په وخت کې د حیات اکرم د نبي ﷺ چې موږ به په دوو میاشتو کې درې سپوږمی ولیدلې چې د علیه الصلوة والسلام د ازواجو مطهراتو رضی الله عنهن په نهه حجرو کې اصلاً به اور نه سو بل، راوي پوښتنه څنې و کړه چې تاسي په څه شي دا دوې میاشتي ګزاره کول؟ دې جواب ورکړی "الاسودان" په دوو تورو شیانو مو ګزاره کول الماء والتمر.

(۷) اور محتاج دی و خاورو ته، ولي په هوا کې خو اور نه بلږي، او مځکه و اورته نه ده محتاجه (۷) اور محتاج دی و محل حامل ته او مځکه محل حامل نه غواړي، نود محتاج درجه کښته ده تر مستغني (۸) الله تعالی د مځکې ذکر په قظر آن مجید کې د هر ځای کړی دی او اخبار یې کړی دی د منافعو د مځکې، او ویلي یې دي چې مځکه فراش او بساط ده د انسانانو الاحیاء والاموات، او خلګ یې امر کړي په تفکر په آیاتو او عجائبو ولم یذکر النار الافي معرض العقوبة ذکرها تذکرة لنا الآخرة ومتاع لمقوین (مسافرو لره)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې الی غیر ذالک من دلائل فضیلة الارض علی النار.

قَالَ فَاخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ﴿٧٧﴾

ووېل اللهﷻ نو ووځه له دې جنت څخه (وقیل من السموات) نو بېشکه ته ترتلی یې. لانک لست فیک خیر اصلاً.

وَإِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِي إِلَىٰ يَوْمِ الدِّينِ ﴿٧٨﴾

او په تحقیق پر تا لعنت دی زما تر ورځې پورې د جزاء.

پوښتنه: آیا پر یوم الجزاء، لعنت د خدای ﷻ ختم کېږي پر شیطان او که څرنګه؟

ځواب: د لعنت سره سره په یوم الدین عذاب د جهنم ورکول کېږي.

قَالَ رَبِّ فَأَنظِرْنِي إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿٧٩﴾

ووایي شیطان ای زما ربه ماته مهلت راکړه یعني فوراً مي دوزخ ته مه استوه تر هغه ورځې پورې چې انسانان یعني اولاد د آدم ژوندي کېږي یعني النفخة الثانیة.

قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ الْمُنظَرِينَ ﴿٨٠﴾ إِلَىٰ يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُومِ ﴿٨١﴾

خدای پاک ده ته ووېل: ته د منظرینو له ډلې څخه یې یعني تاته مهلت دی الی یوم یبعثون، تر ورځې پورې د وقت معلوم چې نفخه اولی ده.

پوښتنه: شیطان خو مهلت غوښتی ؤ تر الی یوم یبعثون پورې چې ورځ د قیامت ده؟

ځواب: خدای ﷻ هغه سوال مسترد کړی بلکې په ځای کې یې د هغه مهلت ورکړی تر نفخه اولی یعني په نفخه اولی سره به شیطان او ددې اولاد تولې مري.

پوښتنه: څه حکمت د خدای ﷻ دی چې شیطان ته یې مهلت ورکړی تر نفخه اولی پورې او سمدستي یې و دوزخ ته نه واستاوه؟

ځواب: حکمت د خدای ﷻ امتحان دی د انسانانو چې څوک زما د رسولانو متابعت کوي او څوک د شیطان وړغنده و غاړي ته اچوي. کریمه: لئلا یکون علی الناس حجة بعد الرسل.

سوال: خدای ﷻ ته خو په علم ازلي سره کافران منکران او مؤمنان تولې معلوم وه نو امتحان ته څه ضرورت ؤ؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: علم ازلي د ځدای ﷻ مناط د ثواب او عقاب نه دی کریمه: هلا ارسلت الینا رسولاً.

قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٨٢﴾

شیطان وویل ستا په عزت او سلطان دي زما قسم وي چي زه به ګمراه کوم یا په کفر یا په عصیان سره تیوله اولاد د آدم چي د "اني جاعل في الارض خليفة" څخه وفهمیدی لان الخلافة لیست مقصورة علی آدم بل الخلافة له ولاولاده الی یوم النفخة الاولی.

پوه سه: چي کلمه د فا. سببیه ده ولي مهلت د ځدای ﷻ سبب سو د عزم دده پر اغواء د بني آدم.

إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ ﴿٨٣﴾

مګر ستا هغه بندګان له ذریت څخه د آدم چي تا خالص کړي دي لپاره د طاعت او دوی دي له ضلالته څخه پاک، دا ترجمه پر تقدیر د قرائت د مخلصین په فتح د لام ده چي صیغه د اسم مفعول ده، او پر هغه قرائت چي په کسره د لام دی ترجمه یې داده چي دوی خالص ګرځولي دي خپل ځان ونه د ځدای ﷻ لپاره.

قَالَ فَالْحَقُّ وَالْحَقَّ أَقُولُ ﴿٨٤﴾

بالرفع خبر د مبتداء محذوف دی ای انا الحق، او یا مبتداء ده خبر یې محذوف دی تقدیره الحق یميني، فالحق من اسماء الله تعالی اقسم به (والحق اقول) زه حق خبره کوم چي هغه داده.

لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٨٥﴾

زه به ډکوم جهنم "منک" ای من جنسک لتناول جمیع الشیاطین، او د هغه کسانو څخه چي ستا متابعت کوي له بني آدم څخه یعني لا اترک من بني آدم المذکورین (اجمعین) تاکید دی، والمراد بمن تبعک ههنا الکفار.

قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ ﴿٨٦﴾

ته ووایه کفارو ته د قریشو یا محمد (ﷺ) چي زه ستاسي څخه نه غواړم پر قرآن یا پر تبلیغ او انذار مزدوري، چي په عربي جُعل ورته وایي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې کلمه د من لپاره د استغراق د نفي ده يعني هيڅ مزدوري او تنخوا مثل ما من رجل في الدار يعني يو نر نسته په سرای کې.

(وما انا من المتكلفين) او نه يم زه له تکلف کونکو څخه چې قرآن دي په ډېر تکليف د ځانه جوړوم او خدای ﷻ ته يې نسبت کوم، ولي څلويښت کاله ما ستاسي سره تېر کړه چې تاسي هم خبر ياست چې امي وم، حتی چې يوه کلمه مي نسوای نوشته کولای، نه تاريخ دان وم چې تاسي به داتو هم وکړئ چې دا قصې د انبياؤ او د ماضيه چې دی کوي تاريخونه پسې ګوري يعني لا ادعی النبوة بلا حقيقة کريمه: ان هو الا وحی يوحٰی الآية.

اخرج البخاري عن عمر رضی الله عنه نهينا عن التكلف يعني في ترجمة القرآن، البغوي رحمه الله روايت کړی دی له ابن مسعود رضی الله عنه څخه چې مسروق وايي دخلنا علی ابن مسعود رضی الله عنه فقال يا ايها الناس من علم شيئًا فليقل به (که څوک علم پرېږو امر ديني لري خو هغه دي وخلکو ته بيان کړي) ومن يم يعلم فليقل الله (او که څوک په مسئله ديني نه وي خبر نو د خپې حکم دي نه ورکوي) بلکې داسي دي سائل ته ووايي والله اعلم، ابن مسعود رضی الله عنه دا آيت دليل وګرځاوه، قال الله تعالی لنبيه: قل ما اسئلكم من اجر وما انا من المتكلفين، ولي هغه څوک چې اجر او تنخواه نه غواړي نو څه ضرورت لري چې په خبرو تکلف کوي، لکه بعض جاهلان ملايان چې له مقتديانو څخه اجر او تنخوا غواړي، نو که مقتديان له ده څه ديوې مسئلې پوښتنه وکړي که څه هم دی نه وي په خپر تکلفًا د خپې يو حکم ورته بيان کړي، والله اعلم نه وايي دفعًا للعار.

إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۸۷﴾

نه دی قرآن مګر پند او نصيحت دی د ټولو اهل عالم لپاره يعني من الانس والجن، ماته يې وحي سوي دي او زه يې تاسي ته رسوم.

وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَاَهٗ بَعْدَ حِيْنٍ ﴿۸۸﴾

تاسي به پوه سئ يا کفار مکة (لام جواب د قسم محذوف دی) په خبرو د قرآن من الوعد والوعيد وروسته تر يو وخت تېرېدو، قتادة رحمه الله وايي ای بعد الموت، عكرمة رحمه الله وايي يوم القيامة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي بحمد الله وحسن توفیقه پای ته ورسېدی تفسیر د سورة ص من التفسیر الایوبي (۲۰) د ذی الحجة الحرام د یکشنبې په ورځ پر نهه بجې سنه (۴۳۱ هـ ق) وروسته به تفسیر د سورة الزمر ان شاء الله تعالی هم په دغه تاریخ شروع سي.

درویش وایي: چي تفسیر د سورة چي تمام ته ورسېږي یو عالم بار مي له زړه څخه پورته کېږي او یو عالم خوشحالي راته پیدا کېږي.

فائده: په اتصال کي د اخیر د سورة ص په اول پوري د سورة الزمر داده چي په اخیر د سورة ص خدای ﷻ وویل: ان هو الا ذکر للعالمین، او د سورة الزمر په اول کي یې وویل: تنزیل الکتاب من الله العزیز الحکیم نو که بسم الله الرحمن الرحیم په منځ کي نه وای لم یتنافر الکلام ویتلاهم کل الالتیام. وایضًا ذکر الله سبحانه په اخیر کي د سورة ص قصة خلق آدم آه، او ذکر في صدر سورة الزمر قصة خلق زوجه منه وخلق الناس منه ای آدم الی اخیره.



تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا

سکین او pdf سو. د بدعه محتاج احمدي! واتساپ

۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ سُورَةُ الزُّمَرِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ خَمْسٌ وَسَبْعُوْنَ اٰيَةً وَثَمَانِي رُكُوْعَاتٍ

تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ①

(تنزيل الكتاب) خبر د مبتداء محذوف في دی ای هذا، یا مبتداء ده خبر یې دا قول د خدای ﷻ دی (من الله العزيز الحكيم) د خدای ﷻ له خوا دی چې هغه غالب دی یعني مانع د ماشاء څوک نسي کېدای، او په هر کار او صنع کي حکمت لري، یعني عبث دده په صنع کي نسته.

تنبیه: که هذا مبتداء سي نو ظاهره داده چې مراد له کتاب څخه قرآن دی او که خبر د مبتداء سي نو ظاهره داده چې مراد له کتاب څخه دا سورت دی.

اِنَّآ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ فَاعْبُدِ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ②

په تحقیق موږ تاته نازل کړی دی کتاب یعني القرآن متلبسًا بالحق (او یا کلمه د با سببیه ده ای بسبب اثبات الحق و اظهاره چې مراد ځني توحید دی) ته عبادت کوه د خدای (ظاهر که څه هم خطاب دی و علیه الصلوة والسلام ته لکن مراد ځني ټوله خلک دي) په داسي حال کي چې خالص به وي عبادت ستا له شرک څخه او داغه رنګه له ریاء څخه چې شرک خفي دی.

پوښتنه: انا انزلنا به تکرار د تنزیل نه وي؟

ځواب: لا! ولي چې اول لکه عنوان د کتاب دی او دوهم تفصیل د ما في القرآن دی.

پوه سه: چې مراد له دین څخه عبادت دی کما في الجلالین وغیره ... مصرع:

گر نباشد نیت خالص چه حاصل از عمل؟

اَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ الْخَالِصُ ۭ

خبردار سه چې الله لره دی هغه عبادت چې له شرک جلي او خفي څخه خلاص وي، له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی، ده وویل چې ما له علیه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه چې زه یو شی خیرات کوم یا یو عمل کوم مراد مي وجه الله وي او ثناء د خلکو، فقال علیه الصلوة والسلام والذي نفس محمد بیده لایقبل الله شیئًا (که صدقه وي که بل عمل وي) شورک فیه (چې شریک کړل سوی وي یعني د خدای ﷻ سره بل شی) ثم قرء رسول الله ﷺ الا لله الدین الخالص، وقال علیه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام قال الله سبحانه وتعالى من عمل عملاً اشرک فيه معي غيري (که چا يو عمل وکړی او شريک يې کړی په هغه عمل کې د ما سره بل څوک، نو هغه عمل ټوله د هغه غير دی) وانا بريء منه وانا اغنى الشركاء عن الشرک.

بيت:... ز عمرو ای پسر چشم اجرت مدار .... چو در خانهٔ زيد باشی به کار

وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ

بعض مفسرين وايي چې مراد له موصول څخه مشرکان د مکې دي چې د بتانو عبادت يې کاوه لکن ظاهره داده چې مراد مطلق مشرکان دي که د بتانو عبادت کوي، يا ملائکه بنات الله بولي د هغه عبادت کوي او يا عيسىٰ ابن الله بولي د هغه عبادت کوي لکه نصارىٰ، يا عزير ابن الله بولي د هغه عبادت کوي لکه يهودان وغير ذالک (من دونه) ماسولى له خدای ﷻ څخه.

پوه سه: چې من دونه حال دی ای حال کونهم متجاوزين الله وعبادته (اولياء) دوستان او معبودان.

مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَىٰ

(ما نعبدهم) په تقدير د قول يعني قالوا ما نعبدهم (الا ليقربنا) استثناء مفرغ ده ای ما نعبدهم لشيئ من الاشياء الا ليقربنا يعني دغه معبودان موږ نژدې کړي ؤ خدای ﷻ ته (زلفىٰ) مصدر دی په معنى د قرب دی، نو محلاً منصوب دی مفعول مطلق دی د يقربنا نحو قعدت جلوسًا، او البغوي ؒ وايي چې اسم دی قائم مقام المصدر چې په نحو کې يې اسم مصدر بولي، نحو سبحت بتشديد الباء سبحانًا ولي چې د سبحت اصل مصدر خو تسبيحًا دی او سبحانًا چې مصدر د مجرد دی د هغه مصدر په ځای کې درېدلی دی، حسين کاشفي ؒ وايي: درخواست کنند تا به شفاعت ايشان منزلت يابم آه.

إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ

په تحقيق خدای (ﷻ) به فيصله وکړي يعني په ورځ د قيامت په منځ کې د دوی يعني المخلصين والكافرين العابدين لغير الله، دا جمله خبر ده د موصول يعني والذين آه او فيصله د خدای ﷻ داده چې محق به جنت ته داخل کړي او مبطل به دوزخ ته (فيما فيه يختلفون) ای الدين الذي اختلفوا فيه من التوحيد والاشراک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ ۝

په تحقیق خدای (ﷻ) توفیق د هدایت نه ورکوي (لان امور الدین اختیاریة لا اجباریة) وهغه چاته چې دروغ ګویه وي په نسبت د ولد و خدای ﷻ ته وبقوله الاصنام تشفع عند الله (کفار) صیغه د مبالغې ده چې ناشکره وي د نعمتو د خدای ﷻ حتی معطي د نعمتو خدای ﷻ دی، او دوی یې نسبت و اصنامو ته کوي.

لَوْ أَرَادَ اللَّهُ أَنْ يَتَّخِذَ وَلَدًا لَاصْطَفَىٰ مِمَّا يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ ۚ

که چېرې اراده د خدای ﷻ وي چې ځان ته ولد پیدا کړي لکه دوی چې ګمان باطل کوي چې ملائکه بنات الله دي یا عیسیٰ ابن الله دی یا عزیر ابن الله دی، ده به مختاره کړی وای له ما یخلق څخه چې د خدای ﷻ اراده وای.

پوه سه: چې عائد و موصول ته محذوف دی ای ما یشائه، او موصول سره د صله مفعول دی د اصطفیٰ.

فائده: لو اراد الله الی اخیره استیناف دی لپاره د تحقیق د حق او ابطال القول بان الملائکة بنات الله، و عیسیٰ ابنه، تعالی الله عن ذالک علوًا کبیرًا، په بیان سره د اتخاذ الولد في حقه سبحانه وتعالی یعني مطلقًا لیندرج فیه ما یقولون اندراجًا اولیًا، حاصل د معنی د آیت دادی لو اراد الله سبحانه وتعالی اتخاذ الولد لامتنعت تلک الارادة لتعلقها بالممتنع اعنی الاتخاذ لکن لایجوز للباري تعالی ارادة ممتنعة، ولي چې اراده د هغه په هغه شي پوري تعلق نسي چې هغه ممکن وي وجود او عدم یې برابر وي تاچې په تعلق د ارادة الهیه یوه ترجیح پیدا کړي اصل الکلام داسي وٴ، لو اتخذ الله الولد لامتنع ذالک لاستلزامه ماینافي الالوهیة، ولي ولد چې څوک غواړي ددې لپاره یې غواړي چې زما به معاون سي عند ضعفي وکبر سني، او یا به زما قائمقام او وارث وي عند موتي او دا دواړه شق محال دي په خدای ﷻ کې لعدم العجز والموت في حقه تعالی لانه الواجب الوجود الغني عن الاحتیاج، وروسته یې اصل جواب چې لامتنع ذالک وٴ حذف کړی او پر ځای یې دلیل د هغه راوړی فافهم غایة الفهم.

سُبْحَانَهُ ۖ هُوَ اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ۝

پاک دی خدای (ﷻ) له اتخاذ الولد څخه، خدای (ﷻ) یو دی په ذات او په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صفاتو کي لعدم وجوب الوجود لغيره كما ثبت في محله، كريمه: لو كان فيهما (اى السماء والارض) آلهة الا الله لفسدتا، پوه سه! چي دې ته برهان تمانع وايي چي تفصيل يې په كتابو كي د عقائدو دى، او معبوديت چي تابع د وجوب الوجود دى مستلزم دى امتناع المماثلة و المشاركة فاني يكون له ولد اذ الولد لايكون الا من جنس الوالد چي د بعض اجزاؤ څخه د والد به جلا سوى وي وذالك ممتنع على الله عزوجل (القهار) او قهاريت مطلقه منافي دى له مشاركت څخه او د زوال څخه چي ولد ته حاجت پيدا سي، دا دليل دى د سابق بيان د نفي د ولد له خداى ﷻ څخه.

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ يُكَوِّرُ الَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى الَّيْلِ

پيدا كړي دي خداى ﷻ اسمانونه او مځكه متلبس په حق سره يعني عبث نه دي بل ليكون دليلاً على الصانع المطلق، پيچي يعني پټوي خداى ﷻ شپه په ورځ كي يعني شپه چي راسي ورځ پټه سي، او پيچي ورځ پر شپه يعني ورځ چي راسي شپه ورځه سي لكه په لباس سره چي ملبوس پټېږي، يا لكه ولونه د لنګوټ چي يو پر اچول كېږي هغه بل پټوي، او الحسن و كلبي ؒ وايي چي معنى د آيت داده چي ساعتونه د شپې پر ورځ وراچوي يعني شپه لنډه سي ورځ اوږده سي لكه په دوبي كي او ساعتونه د ورځې په شپه كي بالا كي چي ورځ لنډه او شپه اوږده سي لكه په ژمي كي.

وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَّجْرِيْ لِاَجَلٍ مُّسَمًّى

او مسخر يې گرځولي دي لمر او سپوږمى ترېو وخت معين پورې چي ورځ د قيامت ده يعني ترهغه وخته پورې لمر او سپوږمى په خپل فلك كي روان يې گرځولي دي.

پوښتنه: تو له ستوري خو داسي دي لكه لمر او سپوږمى د هغو بيان خداى پاك نه وكړى؟

خواب: د لمر او سپوږمى رفتار په خپل فلك كي مځكي والو ته معلوم او محسوس دى بخلاف سائر الكواكب، او بل جواب دادى چي مځكي وال لمر او سپوږمى ته دنيوي او ديني احتياجات لري بخلاف سائر الكواكب كما لايخفى.

اَلَا هُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ ۝

آگاه اوسئ چي خداى ﷻ غالب دى او قادر دى پر هر شي، لامانع لخلقه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وارادته، او دهر بخښونکی دی، ولي چي دروازه د رزق يې پر هر چا نه ده ټرلې.

بیت: ... ادیم زمین سفرهٔ عام اوست .... بدین خوان یغما چه ظالم چه دوست

او کافرانو ته يې مهلت ورکړی دی، او عاجل عذاب يې نه دی پر مسلط کړی او د رزق دروازه يې نه ده پر بنده کړې.

خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا

تاسي يې پیدا کړي ياست له يوه سړي څخه (چي ابو البشر آدم عليه السلام ؤ، چي دې نفس نه مور درلوده او نه يې پلار، بلکې له خټو څخه يې جوړ کړی او روح يې پکښې داخل کړی، فصار انسانًا بعد ما کان جمادًا) وروسته يې پیدا کړه دده څخه نفس کور ودانه دده، يعني حوا رضي الله عنها.

پوه سه: چي دا بل دليل دی په عالم سفلي کي پر قدرت د خدای جل جلاله، او عطف يې په ثم سره وکړی له دې سبپه چي په مابين کي د معطوف او معطوف عليه يعني خلقكم او د معطوف يعني جعل منها آه ډير فرق سته، ولي چي معطوف عليه خو عادت مستمره دی بخلاف المعطوف اعني خلق الانثى من الرجل الذي هو زوج لها، هغه خلق د حوا رضي الله عنها داسي ؤ چي پر آدم عليه السلام خدای پاک خوب غالب کړی او د چپه طرف د آدم يعني د پای يوه پوښتی يې ځني وکښله ماده د خلق د حوا رضي الله عنها يې وکړځول، لهذا عليه الصلوة والسلام د ماينې په باره کي داسي ارشاد فرمايلی دی: د ماينو سره ښه کوئ د دوی بد اخلاق زهمت برداشتوئ، ولي دوی له پوښتی څخه پیدا کړل سوي دي، نو که څوک غواړي چي زه به پوښتی سيده کړمه که يې زور ورسره وکړی پوښتی حتمًا ماتېږي يعني که مېړه غواړي چي زما ماينه من كل والوجوه پر خپل طبعيت را اړوم، نو اخير نتيجه به يې دا وي چي طلاق به ورکوي، قال عليه السلام الا فاستوصوا بالنساء خيرًا.

وَأَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ الْأَنْعَامِ ثَمٰنِيَةَ أَزْوَاجٍ

او نازل کړي يې دي ستاسي لپاره له انعامو څخه، د انعام اته جوته يعني ذكر و انثى من الابل، و ذكر و انثى من البقر، وذكر و انثى د پسو او ذكر و انثى د بزو.

پوښتنه: انعام خو له اسمانه نه دي نازل سوي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: د نزول معنی دلته داده قضٰی وقسم لکم، ولي قضایا او تقسیمات د خدای ﷻ په نزول د اسمان له خوا موصوف کېدای سي کما کتب في اللوح المحفوظ الذي هو في السماء، او یا معنی داده چې اسباب د انعام د اسمان له خوا ځخه دي لکه بارانونه یا شعاع د ستورو لکه په هغه آیت کي قد نزلنا علیکم لباسًا الخ او سره ددې کالي خو له اسمانو ځخه نه دي نازل سوي بلکې د اسمانه بارانونه نازل سوه چې سبب د پنبه ؤ او د وریو د پسو وګرځېدل واللباس منهما.

يَخْلُقُكُمْ فِي بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ خَلْقًا مِّن بَعْدِ خَلْقٍ فِي ظُلُمَاتٍ ثَلَاثٍ ۚ

(یخلقکم) دا جمله مبینه ده د ماقبل ای یخلق الانس والانعام په نسو یعني په رحمو کي د میندو یو خلق وروسته تر بل خلق (یعني نطفه بیا علقه بیا مضغه بیا هډوکي بیا غوښي پُر هوا رول بیا روح پکښي اچول) په درو تارکیو کي چې یو ظلمت د نس دی بل ظلمت د رحم دی بل ظلمت د بچه دانی دی.

سوال: ضمیر د کم خو په ذوی العقول کي استعمالیږي، انعام خو ذوی العقول نه دی؟

ځواب: په دې کي تغلیب دی د ذوی العقول لپاره علی غیرهم.

ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ۖ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ تُصْرَفُونَ ۝

دغه افعال چې کړي دي الله تبارک وتعالی چې ستاسي تربیه کونکی دی، ده لره دي ملک او سلطنت، نسته معبود بالحق بېله ده، ولي چې په صانعیت او خالقیت کي ځوک دده شریک نه دی، نو په استحقاق کي د عبادت هم شریک ځوک نه لري (فانی تصرفون) یعني پر کومه خوا تاسي مصروف سواست و عبادت ته د غیر الله او د حق لارمو پرېښول وروسته تر بیاناتو شافیه ؤ چې دال پر وحدت د خدای ﷻ دي.

پوه سه: چې ذالکم مبتداء ده لفظ الله یې خبر دی "ربکم" خبر ثاني دی "الملک" خبر ثالث دی "الاهو" یې خبر رابع دی.

پوه سه: چې کلمه د استفهام یعني انا لپاره د استبعاد ده او د تعجب ده.

إِن تَكْفُرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنكُمْ

که تاسي کفر او شرک مختاره کړی نو خدای غني دی ستاسي له ایمان ځخه (بحذف المضاف) ولي چې ستاسي په ایمان کي د خدای ﷻ کومه نفع نسته،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بلکې نفع د ایمان و تاسي ته راجع ده او ضرر د کفر ستاسي هم و تاسي ته راجع دی د خدای ﷻ کوم ضرر نسته.

فائده: ان تکفروا شرط دی جزاء یې محذوفه ده او دلیل د جزاء یې په ځای کې د جزاء درولی دی، والتقدیر ان تکفروا فان وبال کفرکم راجع الیکم لا الی الله تعالی (دا جزاء محذوفه ده) فان الله غني عن ایمانکم، دا دلیل د جزاء محذوفي دی، و دلیل ذالک انکم تحتاجون الیه تعالی لتضرر کم بالکفر و انتفاعکم بالایمان.

وَلَا يَرْضَىٰ لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ

او راضي نه دی د بندګانو لپاره په کفر سره که څه هم اراده د خدای ﷻ تعلق پوري لري ای عدم الرضاء بکفر عباده، لپاره د منفعت ددوی ده، او لپاره د دفع د ضرر له دوی څخه رحمةً علیهم لا لتضرره تعالی.

پوه سه: چې لا یرضٰی آه، عطف دی پر شرطیه یعني ان تکفروا آه.

فائده: ددې آیت مفهوم دادی چې کفر مبغوض د خدای ﷻ دی وان کان بارادته وهو قول السلف وعلیه اجماع اهل السنة والجماعة خلافًا للمعتزلة، دوی وایي چې کفر د کافر او کذا عصیان د عاصي په اراده د خدای ﷻ نه ده لان الکفر والعصیان قبیح، دوی وایي د قبیح اراده قبیح ده ولا ینسب الیه تعالی القبیح اهل السنة والجماعة وایي قبیح خو کفر او عصیان دی لا ارادته، وهذا معنی قولنا والقدر خیره وشره من الله تعالی... بیت:

ټوله اندازه د خیر او شر بوله له خدایه څخه
کله پېښېږي نېک او بد له خپلي رایه څخه

دروېش وایي: چې د مبغوضیت د یو کار او اراده د هغه کار ژوندی مثال یې په افعالو کې د عبادو هم سته مثلاً: د یو غني سړي زوی پلار ته ووایي چې ماته پاسپورټ راوکړه زه امریکا ته ځم، پلار یې ورته ووایي چې زما د امریکا لپاره ستا سفر نه دی خوښ چې د کفر او ازادی ملک دی په ناروا به مبتلا سې، خو یا هم زوی یې اصرار پرو کړي، نو پلار یې د امریکا پاسپورټ ورجوړ کړي، نو دغه د پاسورټ جوړېدل په اراده د پلار دي اما خوښه یې نه ده.

دروېش وایي: ویدل علیه مذهب اهل السنة والجماعة قوله تعالی: ومن یرد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الله ان يهديه يشرح صدره للاسلام اى يوفقه ومن يرد الله ان يضله اى باختيار الضلال يجعل صدره ضيقًا حرجًا (يعني لايخلق فيه الايمان بالامر التكويني)

دروښ وايي: چې دا مسئله د قدر روح المعاني په ورقو ورقو صفحې په ډكي كړي دي لكه دده چې عادت دى، لكن د تفسير ايوبي سره دومره تفصيل مناسب نه دى لحال المستفيدين منه فافهم.

وَإِنْ تَشْكُرُوا يَرْضَهُ لَكُمْ

كه تاسي شكر د خداى (ﷻ) ووياست يعني بالايمان والطاعة (يرضه لكم) ومعناه يثيبكم به فان الرضى يستلزم الاثابة خصوصًا من رب كريم.

فائده: الف د يرضى په سبب د جزم د ان شرطيه يې حذف كړى.

وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ

نه سي اخستلاى يو نفس ګناه د بل نفس، نو نفس چونكه مؤنث سماعي ؤ ځكه نو فقير نفس ورسره مقدر كړى.

پوښتنه: په حديث شريف كي راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام وايي: لاتقتل نفس ظلمًا، مګر قاتل د هابيل د قابيل له خوا ځكه چې دواړه د آدم عليه السلام زامن وه ورسره شريك دي. نو دا پر قابيل د نورو خلګو قتل ظلمًا ګناه نه واردېږي؟

ځواب: په هغه حديث كي د دې سوال دفع راغلې ده بقوله عليه الصلوة والسلام لانه اول (يعني قابيل) اول من سن القتل ظلمًا يعني دا ګناه د نورو قتلو ظلمًا چې پر قابيل په سبب د دې چې قابيل اول سړى ؤ چې طريقه د قتل ظلمًا يې وضع كړه كما جاء في الحديث الصحيح عليه الصلوة والسلام فرمايي: من سن في الاسلام سنة حسنة فله اجرها واجر من عمل بها الى يوم القيامة من غير ان ينقص من اجورهم شيئًا ومن وضع في الاسلام سنة سيئة (كالروافض والمعتزلة والجبرية وغيرهم من اهل الاهواء) فله وزرها و وزر من عمل بها من غير ان ينقص من اوزارهم شيئًا.

دروښ وايي: چې د دې په رنا كي هغه سوال هم دفع سو چې بعض د كفارو د مكې خلګ منع كول له ايمان ځخه پر عليه الصلوة والسلام او پر قرآن باندي چې هغه بل سړي به د دوى په دفع او منع سره عمل هم وكړى و هغو مانعانو ته جزاء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مضاعف ورکول کېږي، وجه الدفع چې یو عذاب او جزاء د مانع د ضلال او کفر جزاء ده او بل جزاء د اضلال یعني ده په منع سره د هغه ایمان نه راوړی.

فائده: په دې آیت کې اشاره و دې ته ده وبال د کفر ستاسي یا اهل مکة وتاسي ته راجع دی لا الی غیرکم فلا یتضرر به النبي ﷺ لان ما علیه انما هو الانذار وقد فعل نو دی چې پر ایمان ستاسي حرص لري لنفعکم شفقة علیکم.

ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۖ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ۝

بیا ستاسي و خدای ﷻ ته رجوع ده یعني په ورځ د قیامت (نو مرجع مصدر میمي دی) نو خدای ﷻ به تاسي خبر کړي په عملو ستاسي (نو کلمه د ما مصدریه ده) او یا په هغو عملو چې تاسي یې عمل کاوه (نو کلمه د ما موصوله ده والعائد الی الموصول محذوف ای ما تعملونه فافهم)

(انه علیم بذات الصدور) خدای ﷻ ښه ترا عالم دی بذات الصدور ای بما في الصدور فضلاً عن الاعمال الظاریة، مطلب د دې آیت دادی چې خدای ﷻ به تاسي ته جزاء درکړي که ظاهري عملونه وه که باطني.

وَإِذَا مَسَّ الْإِنسَانَ ضُرٌّ دَعَا رَبَّهُ مُنِيبًا إِلَيْهِ

او کله چې ورسېږي و انسان ته یو ادنی ضرر په نفس کې یا په مال کې، مونږ ادنی ووایه چې لفظ مس پر دې دلالت کوي (له دې انسان څخه مراد کافر دی بقرینة مابعدها) دی خواست کوي و رب ته دده، چې ضمیر راجع و خدای ﷻ ته دی او استغاثه پر خدای ﷻ کوي.

ثُمَّ إِذَا خَوَّلَهُ نِعْمَةً مِّنْهُ

وروسته چې خدای ﷻ و ده ته ورکړي دده مطلوب، او دفع د ضرر څنې وکړي، او بعض مفسرین یې ترجمه داسي کوي جعله ذا حشم و اتباع یعني د دفع د ضرر علاوه لوی نعمتونه ورکړي دي.

پوه سه: چې پر تقدیر ثاني تنکیر د نعمة لپاره د تعظیم دی، او نعمت که خوّله په معنی د اعطاه سي مفعول ثاني د خوّله دی چې اول مفعول یې ضمیر د له ؤ او که په دوهمه معنی سي نو نعمة منه مفعول له دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نَسِيَ مَا كَانَ يَدْعُوٓا إِلَيْهِ

پوه سه: چې د الیه ضمیر راجع دی و خدای ﷻ ته یعني هېر به یې سي هغه څوک چې ده خواست ورته کاوه، نو پر دې تقدیر کلمه د ما په معنی د من ده علی المشهور وانما قلنا ذالک لان بعض من النحات وایي چې کلمه د من د ذوی العلم لپاره د او کلمه د ما عامه ده کما في قوله تعالی وما خلق الذکر والانثی وغیر ذالک.

مِن قَبْلُ وَجَعَلَ لِلَّهِ أَندَادًا

ای قبل النعمة او خدای ﷻ لره وګرځوي شریکان کما کان قبل مس الضر.

دروښ وایي: چې دا قرینه پر دې ده چې مراد له انسان څخه کافر دی، ولي چې مسلمان خو داسي نه دی چې خدای ﷻ لره انداد او شریکان وایي بلکې شکر د دفع الضر او د نعمت د خدای ﷻ وایي.

مثنوي معنوي مولانا جلال الدین الرومي قدس سره داسي ښه خواږه ابیات په پاره کې د کافر مبتلی بالبلاء ویلي دي:

آن ندامت از نتیجهٔ رنج بود ..... نی زعقل روشن چون گنج بود
چونکه شد رنج آن ندامت شد عدم ..... می نیرزد خاک آن توبه ندم
میکند او توبه و پیر خرد ..... بانگ لوردو السعادو امیزند

لِّيُضِلَّ عَن سَبِيلِهِ

ددې لپاره چې خلګ ګمراهان کړي له لاري څخه د خدای ﷻ چې توحید دی.

سوال: د دغه کافر خو دده په قصه کې دا غرض نه ؤ چې خلګ ګمراهان کړي بل غایة امره الرجوع الی الشرک، نو د لام په دې آیت کې معنی څه ده ولي چې لام في امثاله خو لپاره د غایة والغرض وي؟

ځواب: چونکه پر فعل د کافر چې رجوع یې و کفر ته وړه اضلال مرتب کېدی کما کان في الابتداء که څه هم دلته خو غرض دده نه ؤ نو دا اضلال یې مشابه وګرځاوه د علت غایي سره کما في قوله تعالی: فالتقطه (ای موسٰی ؑ) آل فرعون لیکن (ای موسٰی ؑ) لهم عدوًا و حزنًا، نو فرعون خو یې د دې غرض لپاره ژوندی نه پرېښو یعني موسٰی ؑ چې زموږ دی دښمن وګرځېدی، دې لام ته لام غرض نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي بلكې لام عاقبت وايي و كما في المقولة المشهورة لدوا للموت وابنوا للخراب، چې دې مقولې بعض كتابو دې نسبت و حضرت علي رضي الله عنه ته كړې دی، وان لم يثبت في حديث صحيح.

قُلْ تَمَتَّعْ بِكُفْرِكَ قَلِيلًا ۖ إِنَّكَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ ﴿٨﴾

ووايه يا محمد ودغه كافر ته، ته فائده اخله پر خپل كفر سره لږ وخت د دنيا، يعني الى اجلك، په تحقيق ته له اصحابو څخه د اوريې يعني دوزخ دا جمله استيناف د علت ده د تمتع قليل لپاره.

فائده: دا امر ته امر تهديد وايي او په دې كې نا اميدي د كافرانو لپاره ده تمتع في الآخرة كې.

أَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ آنَاءَ اللَّيْلِ سَاجِدًا وَقَائِمًا

آيا هغه څوك چې قائم وي په وظائفو سره د طاعاتو، د ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې قنوت قرائت دی د قرآن، يعني په لمانځه كې وطول القيام وتقدير الكلام امن هو قانت الله كمن جعل له انداداً (آناء اليل) په ساعاتو كې د شپې (ساجداً وقائماً) دواړه لفظه حال دي له ضمير څخه د قانت، يعني پر لمانځه ولاړ وي سجده او قيام تعبير دی له كل څخه چې لمونځ دی په دوه اهم جزء سره.

پوه سه: چې آناء جمع د انى بكسر الهمزة وفتحها مع فتح النون بمعنى الساعة.

يَحْذَرُ الْآخِرَةَ وَيَرْجُو رَحْمَةَ رَبِّهِ

او بيا هم له آخرت څخه بيرې وي يعني من عذاب الله تعالى په دې سبب چې زما لمونځ له جانب څخه د خداى جل جلاله قاصر وي... بيت:

بنده همان به كه ز تقصير خويش .... عذر بدرگاه خدا آورد
ورنه سزاوار خداوندیش .... كس نتواند كه بجا آورد

(ويرجوا رحمة ربه) او اميد و رحمت ته د خداى جل جلاله هم لري، حاصل دا چې پوره اعتماد پر خپل عمل نه لري، بلكې په مابين كې د خوف او رجاء وي كما هو شان الصلحاء او په خوف كې تر حد تجاوز نه كوي چې اياس ته مفضي نه سي، كريمه: لايئس من روح الله (اى رحمته) الا القوم الكافرون، او داسي هم بايد نه وي چې له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عذابه بيغمه وي، کريمه: لايأمن مکر الله (ای عذابه) الا القوم الخاسرون.... دو بيت:

گـرچـه داری طاعتی از هيبتش ايمن مباش
ور گنه داری زفيض رحمتش دل بر مدار
نيک ترسان شو که قهر اوست بيرون از قياس
باش پس خوشدل که لطف اوست افزون از شمار

فائده: دا دوې جملې واقع دي په ځای کې د حال.

پوه سه: چې په دې آيت کې تحريض يعني باعثه کول دي پر قيام الليل يعني التهجد، له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی: من احب ان يهون الله عليه الموقف يوم القيامة فليزه الله في سواد الليل ساجدًا وقائمًا.

ترجمه: که د چا خوښه وي چې اسان کړي خدای ﷻ پر ده د ربدل خدای ﷻ ته په ورځ د قيامت نو دی دي خدای ﷻ و ويني په تاريکه کې د شپې په سجده او قيام کې يعني د شپې دي د تهجد لمونځ کوي.

فائده: علماء د امت مرحومه پر دې متفق دي چې افضل د نوافلو د تهجد لمونځ دی دوی دا هم وايي چې که يو سړي د تهجد لپاره وخت تاکلی وي مثلاً چې زه به د شپې نيم ساعت لمونځ کوم، نو په رکعتو کې دي اوږده سورتونه وايي تاچې طول القيام راسي.

قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ

ووايه ته (يا محمد ﷺ) خلګو ته چې آيا برابر دي (الاستفهام للانکار يعني نه دي سره برابر) هغه کسان چې خدای ﷻ پيژني متصف په صفاتو سره د جلال، نو يې له عذاب څخه بېرېږي، او په صفاتو سره د جمال نو اميد يې و رحمت ته د خدای ﷻ وي، نتيجه داسي چې طاعات د خدای ﷻ کوي او د معاصيو څخه پرهېز کوي، او هغه کسان چې خدای ﷻ نه پيژني لکه چې ذکر سول نو نه طاعت د خدای ﷻ کوي او نه له عصيان څخه پرهېز کوي.

إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ

پند اخلي په مواعظو د قرآن هغه څوک چې لرونکي د عقلو وي يعني عقول سليمه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي الالباب جمع د لب ده چي مغز ته د مېوې وايي لکه مغز د بادام مغز د جوزو وهکذا، نو د انسان پوستکي او کالي يې قشر القشر دي لکه بادام چي دوه پوستکي لري او يو مغز، کما هو المعلوم بالتجربة.

په صحيح حديث کي راغلي دي يشفع يوم القيامة ثلاث (۱) الانبياء (۲) العلماء (مراد ځني هغه علماء دي چي په خپل علم يې عمل کړی وي) والله اعلم.

مصرع:.... وگرنه چه آيد زمغز پوست

(۳) الشهداء ای لاعلاء کلمة الله تعالی فقط.

فائده: شرف د علم لوړ دی تر شرف د نسب، ولذا قيل، ان عائشة رضي الله عنها افضل من فاطمة الزهراء رضي الله عنها لان النبي ﷺ قال خذوا ثلثی دينكم من عائشة رضي الله عنها، واليه اشار صاحب الامالي ..... بيت:

وصديقة الرجحان فاعلم ..... على الزهراء في بعض الخصال

ای العلم واما في كثرة الخصال المحمودة فالرجحان للزهراء رضي الله عنها لقوله عليه الصلوة والسلام كمل من الرجال كثير (يعني في غير النبوة ولم يكمل من النساء الا مريم بنت عمران وآسية امرئة فرعون وخديجة بنت خويلد يعني زوج النبي ﷺ يعني الزوج الاولى، ومنها اولاد النبي ﷺ الذكور والاناث غير فانه من مارية القبطية.

(۴) وفاطمة بنت محمد ﷺ ورضی الله تعالی عنهن، وفي الحديث قال رسول الله ﷺ اعوذ بالله من علم لاينفع (ای لايعمل به)

قُلْ يٰعِبَادِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوْا رَبَّكُمْ ؕ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا

ته ووايه يا محمد (ﷺ) ای زما بندگانو (د انداء لپاره د اظهار د شرف د مؤمنانو ده، کسره د دال قائمقام د يا اضافت ده) چي ايمان مو راوړی دی، وبپرېږئ له رب څخه خپل يعني له عذاب څخه د هغه يعني په امر او نهي د خدای ﷻ عمل کوئ.

پوه سه: چي که څه هم ايمان مانع د خلود في النار دی لکن په صورت کي د عدم تقولی يعني په ترک د مأمور به يا په کولو د منهي عنه احتمال د دخول د دوزخ سته، نو د دغه احتمال د دفع لپاره خدای ﷻ امر په تقولی وکړی، او هغو کسانو لره چي عمل يې د احسان پر طريقه کړی وي يعني په خشوع او خضوع کما جاء في الحديث الذي رواه البخاري ومسلم عن عمر رضي الله عنه چي عليه الصلوة والسلام په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جواب کي د سائل "ما الاحسان" داسي وويل: الاحسان ان تعبد ربک کانک تراه فان لم تکن تراه فانه یراک (یعني یعلم بحالک ظاهرًا وباطنًا)

فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ

په دغه ناقص ژوند کي، الظرف متعلق بقوله احسنوا (حسنة) ښه ځای سته په آخرت کي یعني الجنة.

پوه سه: چي حسنة مبتداء ده خبر یې الذین امنوا دی.

فائده: په سبب د تقدیم د خبر ابتدائیه د نکرة صحیح دی نحو في الدار رجل کما في کتب النحو، او مجموع جمله تعلیل ده د اتقوا ربکم.

وَاَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةٌ

د خدای ﷻ مځکه فراخه ده یعني که یو ای دي د خدای ﷻ طاعت نه سوای کولای په سبب د مزاحمت د کافرانو نو مځکه د خدای ﷻ فراخه ده بل ای ته هجرت وکړهۏ ولهذا قال ابن عباس ؓ في تفسیر هذه الآیة ارتحلوا من مکة، لکه مؤمنانو چي په مکه مکرمه کي د خدای ﷻ طاعت په ازاده توګه نسوای کولای علیه الصلوة والسلام دوی ته د خدای ﷻ په امر د هجرت اجازه ورکړه چي بعض مؤمنان مدیني منورې ته ولاړل چي هورې یې د انصارو په برکت خپل ازاد عبادت کولای سوای، او بعض مؤمنان حبشې ته ولاړل، اخیر الامر انحضرت ﷺ چي سیدنا ابوبکر ؓ هم ورسره ملګری ؤ مدیني منورې ته یې هجرت وکړی، مطلب دا چي د چارسوء ځخه چي تا له عبادت ځخه منع کوي هجرت لازم دی.

اِنَّمَا يُوَفَّى الصّٰبِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۱۰﴾

په تحقیق ورکول کیږي صبر کونکو ته ثواب د دوی بیله حسابه.

پوه سه: چي مراد له صابرانو ځخه په دې آیت کي هغه کسان دي چي صبر یې کړی وي پر خپل دین او دین د لاسه ورنه کړي په سبب د ازارد کافرانو، او یا معنی داده چي صبر یې کړی پر هجرت د خپل محبوب وطن ځخه او پر مفارقت د قریبانو په وطن کي، بعض مفسرین وایي چي دا آیت په شان کي د جعفر بن ابی طالب ؓ او دده د ملګرو مسلمانانو چي تعداد یې تخمینًا اتیا (۸۰) کسو ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رسېدی نازل سوی دی چې هجرت یې حبشې ته وکړی، چې د هغه ملک بادشاه اصحمة النجاشي چې په هغه وخت کې دی د نصارلی وُ په دین وُ، لکن په سلطنت کې دده د هر دین ازادي وه چې هغه اصحمة النجاشي بیا مسلمان سو په دعوت د جعفر بن ابی طالب رضي الله عنه خو د علیه الصلوة والسلام سره یې ملاقات په برخه نه سو، لکن اصحمة چې وفات سو علیه الصلوة والسلام له مدینې منورې څخه غائبانه د جنازې لمونځ ورکړی، کما جاء في الاحادیث الصحیحة في مقامه.

دروېش وایي: چې شان د نزول د آیت که څه هم جعفر بن ابی طالب او دده ملګري رضي الله عنهم دي، لکن لفظ د آیت عام دی چې دوی ته هم او نورو کسانو ته هم شامل دی چې پر بلا او مشقت د طاعت یې صبر کړی وي او ځان یې له معصیت څخه ساتلی وي، له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی چې علیه الصلوة والسلام وویل چې ترازو ګان په ورځ د قیامت ودرول سي، لمونځ کونکو کسانو ته د دوی ثوابونه ورکړل سي، او اهل صدقه والاؤ ته هم خپل د صدقاتو ثواب او اجرور کړل سي وهکذا اهل الحج ته هم خپل ثوابونه ورکړل سي، نو اهل بلاء في الدین چې راسي هغو ته ترازو نه اینبوول کېږي او عمل نامه هم نه ورکول کېږي، بلکې پر هغو ثوابونه تویېږي بغیر حساب حتی چې هغه کسان چې ژوند د دنیا یې په عافیت کې تېر کړی وي او بلاء في الدین یې نه وي لیدلي تمنّی ددې به وکړي چې کاشکې زمونږ په دنیا کې داسي حال وای چې غوښې په غچیو خلګو راڅخه پرې کولای، یعني چې د اهل البلاء حال وویني غبطه یې وسي، وذالک قوله تعالی: انما یوفّی الصابرون اجرهم بغیر حساب، وفي حدیث صحیح علیه الصلوة والسلام وایي: من فر بدینه وجبت له الجنة.

فائده: فر بدینه یې ووایه ددې لپاره چې بل غرض نه پکښې لري لکه مهاجر د ام قیس، بخاري روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام وویل: انما الاعمال بالنیات وانما لامرء مانوی فمن کان هجرته الی الله ورسوله فهجرته الی الله والی رسوله ومن کان هجرته الی دنیا یصیبها او الی امرئة ینکحها فهجرته الی ماهاجر الیه انتهی (صحیح بخاري ص۱)

قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ ﴿١١﴾ وَأُمِرْتُ لِأَنْ أَكُونَ أَوَّلَ الْمُسْلِمِينَ ﴿١٢﴾

ته کفارو ته د مکې وغیرهم ته ووایه چې زه امر کړل سوی یم یعني له جانبه څخه د خدای جل جلاله په دې سره چې زه به عبادت کوم د خدای ﷻ په داسي حال کې چې خالص به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وي زما عبادت د واحد لاشریک لپاره، او زه په دې سره امر سوی یم چې زه اول د مؤمنانو مخلصانو به یم، دا ددې لپاره چې په دنیا او اخرت کې پیشوا وګرځم، یا یې معنی داده چې زه اول مسلمان د قریشو څخه وګرځم ومن علی ملة قریش ای الشرک.

فائده: مراد له اول المسلمین څخه مسلمانان ددې امت دي، والا فدین الاسلام دین قدیم من لدن آدم علیه السلام الی بعثة محمد الامي ﷺ.

فائده: ظاهره داده چې کلمه د لام زائده ده کما في آیت اخری (وامرت ان اکون اول من اسلم)

تنبیه: مسبوق د سابق درجې ته نسي رسېدلای لکه تابعین یا تبع تابعین هلم جرا د اصحابو کرامو رضي الله عنهم و درجې ته نسي رسېدلای بالاجماع.

قُلْ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٣﴾

ته ورته ووایه چې زه ببرېږم که زه عصیان وکړم د رب څخه زما (بترک الاخلاص یا میل وکړم ستاسي مذهب ته چې شرک او عصیان دی) له عذابه څخه دلوی ورځې چې قیامت دی، په دې آیت سره ببرول دي له عصیان څخه او هڅول دي د دوی و اسلام ته بالاخلاص کما في الآیة السابقة.

بغوي ؒ وایي چې دا ایت هلته نازل سو چې کفارو د قریشو و علیه الصلوة والسلام ته دعوت ورکړی چې دین ته د اباؤ راواوړه، مور به ستا سره داسي او داسي وکړو کما فصل في موضع آخر.

قُلِ اللَّهَ أَعْبُدُ مُخْلِصًا لَّهُ دِينِي ﴿١٤﴾

ته ورته ووایه چې زه عبادت کوم د خدای جل جلاله چې خالص به وي خدای ﷻ لره زما عبادت یعني شرک به نه وي ورسره ګډ، نو په دې سره درخته د طمع د قریشو چې ده مبارک ته یې دعوت د رجوع الی دین الاباء ورکاوه له بېخه وکښل سوه.

فَاعْبُدُوا مَا شِئْتُم مِّن دُونِهِ

نو تاسي هر شی چې ستاسي ورته اراده سي د هغه عبادت کوئ.

پوه سه: چې دا امر لپاره د تهدید دی.

فائده: دا عبارت جواب د شرط محذوف دی تقدیره ان لم توافقني في العبادة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لله خالصًا فاعبدوا ماشئتم يعني تاسي به و وينئ اخيره نتيجه د اصرار پر كفر من العذاب في الدنيا كما في يوم بدر وفي الآخرة اى النار.

قُلْ إِنَّ الْخٰسِرِيْنَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَاَهْلِيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ

ته ورته ووايه چي په كامل خسران كي دي هغه كسان چي په تاوان كي يې اچولي وي خپل ځانونه يعني بالضلال والكفر، او خپل اتباع من الاولاد والازواج والخدم، يعني بالاضلال ودعوتهم الى الضلال، په ورځ د قيامت يعني په هغه وخت كي چي دوزخ ته داخل كړل سي، نو تابعان به جزاء د ضلال و وينې او متبوعان به د ضلال او د اضلال دوارو جزاوي و وينې، له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دى وذالك (اى خسران الاهل) دادى ان الله خلق لكل انسان منزلاً في الجنة واهلاً (من الحور العين والخدم والغلمان) فمن عمل بطاعة الله كان ذالك المنزل والاهل له ومن عمل بمعصية كان ذالك المنزل والاهل لغيره فمن عمل بالطاعة (اى من شاءه الله تعالى)

اَلَا ذٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ ؕ

خبردار دغه (يعني خسران يوم القيامة) تاوان دى لوى (چي ضمير فصل دلالت پر كوي) او بنكاره (بخلاف خسران الدنيا فانه سهل عسى ان يبدل)

فائده: په دې آيت كي دېري مبالغې دي په خسران كي د دغو كسانو (۱) جمله مستأنفه يې راوړه (۲) مصدريه په حرف تنبيه چي الا دى وګرځول (۳) په مابين كي يې ضمير فصل راوړى چي دلالت پر حصر كوي (۴) خسران يې معرفه راوړى (۵) موصوف يې په مبين سره وګرځاوه، كذا قال المظهري.

لَهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ وَمِنْ تَحْتِهِمْ ظُلَلٌ ؕ

دوى لره دي د لوړې خوا ددوى.

پوه سه: چي ظلل مبتداء ده او لهم يې خبر دى، والضمير راجع الى الخاسرين والظلل جمع ظلة ده لكه غرف جمع د غرفة ده، سحابة تظلل الشيئ (بالفارسية سائبان) والمعنى الخاسرين ظلل من النار كثيرة، يو پر بل سربېره حال كون تلك الظلل من فوقهم (نو من فوقهم) حال دى له ظلل څخه، والمراد طبقات النار ودخانها.

سوال: اوريې ولي ظلل وبالله؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: په سبب د غلظ او کثافت، او بل ددې سببه چې دا اور غلیظ مانع ددې دی چې لوړو کوري یعني اطلاق مجازي دی قوله تعالی: ومن تحتهم آه، مظهريؒ دا ترجمه کړې ده فرش ومهاد من النار آه فرش خو د ظلال د لفظ سره سمون نه خوري، وروسته مظهريؒ رد کړې ده په دې سره چې دا خو په اخیره طبقه کې نه جوړیږي ولې چې اخیره طبقه خو من تحتهم نه لري چې د هغو لپاره ظلل سي، او په خپله روح المعاني وايي چې اطلاق د ظلل پر من تحتهم له بابه ځخه د مشاکلة دی د من وفوقهم.

سوال: ظلل چې په معنی د سائبان ده څرنګه يې ظلل وبولی، ولې چې ظلل خو لپاره د تبرد وي خصوصًا في الارض الحارة کارض الحجاز يعني مکة المکرمة واطرافها، نو چې دا ظلل د اور وي کانت اشد حرارة؟

ځواب: اطلاق د ظلل د اور پر سائبان تهکم بهم، واصل المراد احاطة النار بهم من جميع الجوانب کما في قوله تعالی: احاط بهم سرادقها، وهو الخيمة شبه مايحيط بهم من النار بالخيمة ونظير هذه الآية قوله تعالی (يوم يغشاهم العذاب من فوقهم ومن تحت ارجلهم)

ذٰلِكَ يُخَوِّفُ اللّٰهُ بِهٖ عِبَادَهٗ ؕ يٰعِبَادِ فَاتَّقُوْنِ ۝

"ذالک" ای المذکور من العذاب (دا مبتدا ده) "او یخوف الله آه" يې خبر دی تا چې دوی پرهېز وکړي د ما يوجب ذالک العذاب، ای زما بندګانو د ما ځخه وبېرېږئ يعني له عذاب ځخه زما معنی دا چې تعرض و داسي کار ته مه کوئ چې موجب زما د سخط او عذاب ګرځي.

فائده: په روح المعاني کې وايي چې بعض مفسرين وايي چې مراد په يخوف الله به عباده او په يا عبادي فاتقون کې مراد مؤمنان دي لانهم هم المنتفعون بالتخويف، او بعض مفسرين وايي چې مؤمنان او کافران دواړه مراد دي.

دروښ وايي: چې پر تقدير د عموم مسلمانان بېرول د عصيان اوله ارتکاب ځخه د منهياتو، او کافران بېرول دي چې کفر پرېږدي ايمان راوړي.

فائده: په دې آيت کې خدای ﷻ له غايت لطف او رحمت په لهجه بندګانو ته هدايت کړی دی، او په وسيط کې وايي ددې آيت په تفسير کې يخوف به عباده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المؤمنين يعني ان ما ذكر من العذاب معدة للكفار وهو تخويف للمؤمنين ليخافوه بالطاعة والتوحيد انتهى.

دروښ وايي: چي د تفسير سره د وسيط هغه قانون چي علماء وايي چي اضافت په يا عبادي سره لپاره د تشريف د مضاف سره پوره سمون لري، والله اعلم بمراده في كتابه.

وَالَّذِيْنَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوْتَ اَنْ يَّعْبُدُوْهَا وَاَنَابُوْٓا اِلَى اللّٰهِ لَهُمُ الْبُشْرٰى ۚ فَبَشِّرْ عِبَادِ ۙ

هغه كسان چي اجتناب كوي (دا مبتداء ده) چي عبادت به وكړي (بدل اشتمال دى له طاغوت څخه) او رجوع يې وي خداى ﷻ ته و اقبلوا اليه جميع اعضائه الى الله تعالى كمامر، دوى ته زېرى دى پرځايه د رسولانو او پرځايبود ملكو وقت الموت يعني دوى مستحق د زېرې دي ولهذا امر رسوله، نو ته زېرى وكړه يا محمد ﷺ زما بندګانو ته.

دروښ وايي: چي د طاغوت ترجمه مظهري ؒ په بتانو سره كړې ده، دى وايي چي په ان يعبدوها كي چي بدل اشتمال دى تانيث د ضمير يې دلالت كوي چي مراد څنې اوثان دي، وفيه ان الطاغوت لفظ مفرد فكيف يراد به الاوثان بصيغة الجمع، او نور مفسرين لكه روح المعاني روح البيان وايي چي طاغوت وزن فعلوت دى بتقديم اللام على الغين لپاره د مبالغې په مصدر كي اى الطغيان كالرحموت للمبالغة في الرحمة والجبروت للمبالغة في الجبر، ولهذا اختص بالشيطان و وصف به مبالغةً لا بالغ نهاية الطغيان الا الشيطان، لكن تشبيهًا يې پر غير د شيطان هم اطلاق كېږي څكه صاحب الصحاح وايي چي طاغوت شيطان او كاهن او ساحر ته هم وايي وكل رأس في الضلال، او ورته خبره راغب الاصفهاني هم كړې ده، او كشاف وايي چي په دې سورة لايطلق على غير الشيطان وباقي التفصيل في روح المعاني.

شان نزول: عطاء الخراساني ؒ له ابن عباس ؓ څخه روايت كړى دى چي كله حضرت ابو بكر صديق ؓ ايمان راوړى نو عثمان بن عفان، عبد الرحمن بن عوف، طلحة بن عبيد الله، زبير بن عوام، سعد بن ابى وقاص او سعيد بن زيد ؓ دوى ټولو له ابو بكر ؓ څخه دده د ايمان راوړلو په باره كي پوښتنه وكړه، نو ابو بكر ؓ خپل د ايمان دا دول بيان ورته وكړى، نو هغو ټولو ايمان راوړى، فنزلت هذه الآية.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَلَّذِيْنَ يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهٗ

نو پر دې تقدیر احسن په معنی د حسن دی په معنی د تفضیل نه دی اذ لا حسن في قول الكفار اصلاً، نو مراد له احسن قول د ابی بکر ﷺ په معنی کي د ایمان د فضائل دا قول د کفارو چي اشراک بالله ؤ، او ابن زید ﷺ وایي چي دا آیت په درو کسانو کي د جاهلیت نازل سوی دی چي هغو به لآ اله الا الله وایه (۱) زید بن عمرو بن نفیل (۲) ابی ذر غفاري (۳) سلمان الفارسي، وزید علیهم رابعًا في بعض الروایات، وهو سعید بن زید ﷺ، نو مراد له احسن څخه لآ اله الا الله دی، او سدي ؒ وایي چي څه وخت چي دا آیت نازل سو یعني لها (ای لجهنم سبعة ابواب) د دوزخ اووه دروازې دي، جابر بن عبدالله ﷺ وایي چي علیه الصلوة والسلام ته یو سړی ورغلی چي د انصارو له قبیلې ؤ، فقال یا رسول الله زه شپږ مریان لرم او زه د هري دروازې لپاره یو مریی ازادوم، فنزلت هذه الآیة، او بعض روات وایي چي مراد په دې آیت کي احسن د مامؤمرون به متابعت کول دي مثلاً خدای پاک په قرآن کي له ظالم څخه کسات اخستل ذکر کړي دي او عفو هم راغلې ده، عفو یې احسن ده او خدای پاک په قرآن کي عزائم ذکر کړي دي لکه د مثال په توګه روژه نیول په سفر کي او رخصت یې هم بیان کړی دی لکه روژه خوړل په سفر کي. نو عزائم یې احسن دی، یا لکه قصاصول د قاتل او عفوه ورته کول عفوه یې احسن ده، یا د نفلي صدقه ابدأ هم روا ده یعني په ښکاره ورکول، او اخفاء یې اولی او احسن ده او په فرضي زکوة کي بالعکس.

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدٰىهُمُ اللّٰهُ وَاُولٰٓئِكَ هُمْ اُولُوا الْاَلْبَابِ

دا هغه کسان دي چي خدای پاک هدایت کړی دی دوی ته، او هم دغه کسان خاوندان د عقولو یعني سلیمه ؤ دي.

اَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ كَلِمَةُ الْعَذَابِ ۭ اَفَاَنْتَ تُنْقِذُ مَنْ فِي النَّارِ

"افمن حق علیه" ای في علم الله القدیم کذا قال ابن عباس ﷺ (کلمة العذاب) یعني هؤلاء في النار ولا ابالي، آیا ته یا محمد (ﷺ) خلاصولای سې له عذابه هغه څوک چي په ازل کي دوزخي وي؟ الاستفهام للانکار یعني لا تقدر علیه ابن عباس ﷺ وایي چي مراد په دې آیت کي ابو لهب و ولده چي علیه الصلوة والسلام د ابو لهب او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د هغه د زوی پر ایمان ډېر حریص وُ، والحاصل انت نذیر الکفار من عذاب الله یوم القیامة وقد ادیت الامانة واما الانقاذ من النار فامر آخر مفوض الی الله ﷻ.

لٰكِنِ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ

حسین کاشفي ؒ وایي: لیکن آنانکه بترسیدند از عذاب پروردگار خویش وبایمان وطاعت متصف شدند آه، روح المعاني وایي چي دا آیت استدراک دی بین ما یشبه الضدین وهم المؤمنون والکافرون واحوالهما، والمراد بالموصول المتصفون بما عدد من الصفات الفاضلة الباطنة والظاهرة.

لَهُمْ غُرَفٌ مِّنْ فَوْقِهَا غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ ۙ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ

ددوی لپاره لوړ ځایونه سته په جنت کي، نور تر هغو ذکر سوو لوړ ځایونه سته حسب مراتبهم في التقوٰی والطاعة في الدنیا، جوړ سوي دي، بهېږي به لاندي تر دواړو غرفو ویالې یعني څلور ویالې اوبه، شیدې، شراب او عسل.

(لهم غرف) مبتداء ده خبر یې متقدم دی.

پوه سه: چي له دواړو غرفو څخه فوقاني او تحتاني غرف مراد دي.

وَعْدَ اللّٰهِ ؕ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ الْمِيْعَادَ ۝

پوه سه: چي وعد الله مفعول مطلق دی د فعل محذوف، والتقدیر وعدهم الله الغرف، په علم نحو کي دې مصدر ته مصدر مؤکد لنفسه وایي لان قوله تعالی: لهم غرف په معنی د وعد دی.

ترجمه: او وعده کړې ده خدای ﷻ. او خلاف نه کوي خدای ﷻ د خپلي وعدې څخه (میعاد مصدر میمي دی، لان خلف الوعد نقض وهو محال علی الله تعالی عن ذالک له ابی سعید الخدري ؓ څخه روایت دی عن النبي ﷺ ان اهل الجنة (یعني عمومي اهل الجنة) یتراؤن اهل الغرف من فوقهم (دوی ګوري اهل الغرف ته چي تر دوی لوړ وي) کما تتراؤن الکوکب الغابر في الافق من المشرق والمغرب (لکه تاسي چي ګورئ ویو ستوري ته په کناره کي د اسمان یا د مشرق څخه و مغرب ته یا بالعکس لتفاضل مابینهم) چي اهل الجنة او اهل الغرف والوتر مابین بالا بود سته) خلګو یعني اصحاب کرامو ؓ ورته وویل چي دا غرف به نو منازل د انبیاء علیهم السلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وي بل څوک به نسي ور رسېدلای؟ قال رسول الله ﷺ بلی جواب د نفي اثبات دی يعني ور رسېدلای سئ، والذي نفسي بيده قسم په هغه خدای دی چې زما روح دده په قدرت کي دی، رجال آمنوا بالله ورسوله وصدقوا المرسلين، يعني والله اعلم بعض هؤلاء فافهم يدفع عنک التردد في ذالک.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَلَكَهٗ يَنَابِيْعَ فِي الْاَرْضِ

ته علم نه لرې ای مخاطب غیر معین (نو رؤیت علمي دی چې دوه مفعوله غواړي، نو ان الله انزل آه يې قائم مقام د مفعولينو دی) چې خدای ﷻ نازلي کړي له اسمان څخه يا له وريځي څخه فان ما علاک يسمٰی سماء او به يعني باران، نو يې داخلي کړي دي دغه اوبه په مځکه کي.

فائده: همزه لپاره د استفهام انکاري دی او نفي د نفي اثبات دی، يعني ته پر دې نزول علم لرې.

فائده: في الارض متعلق دی په سلکه پوري کما في قوله تعالی کذالک سلکناه في قلوب المجرمين، او ينابيع حال دی له مفعول څخه د سلکه، قال الشعبي "کل ماء في الارض (يعني که د چينو اوبه وي او که د څاهانو او که د کاږو وي) فمن السماء دا هغه د اسمان اوبه دي.

دروېش وايي: چې ددې مطلب دا دی چې څو کاله چې پرله پسې باران نه وسي، څاهان، چينې او کاږې وچ سي، يا يې اوبه پر مخ ورکي سي او يا نقصان پذيره سي.

پوه سه: چې ينابيع جمع د ينبوع ده په معنی د چينې.

ثُمَّ يُخْرِجُ بِهٖ زَرْعًا مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهٗ

وروسته راباسي په هغو اوبو سره (پس بيرون می ارد به ان آب) او مظهري" داسي ترجمه کړې ده ای اخرج بالماء (يعني مضارع په معنی د ماضي ده) "مختلفًا الوانه" ای اصنافه وانواعه، لکه غنم، جوار، اوربشي وغيرها.

ثُمَّ يَهِيْجُ فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَجْعَلُهٗ حُطَامًا

بيا څه زمانه وروسته وچ سي هغه زرع چې په اول کي ښه سرسبزه او شاداب وُ يعني چې وړې يې پاڅه سي نو وچ سي (فتراه) ته وينې ای مخاطبه هغه کښت چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په ابتداء کي شین او زرغون ؤ (مصفرًا) ژړ رنګ، نو بیا خدای پاک وګرځوي هغه ژړ وړي توک توک سره، چي کښته ګرغوبل پر وکړي یا د غویو څپړ پر وګرځوي لکه په پخوا زمانو کي، یا په آلات جدیده ؤ سره یې میده کړي کما في هذه الایام.

اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِاُولِی الْاَلْبَابِ ۝

په تحقیق په دغه تغیراتو کي د کښتو پند او وعظ سته پر وجود د صانع مقتدر القدیم الحکیم (نو باید عاقل سړی خپل ځان پر کښت قیاس کړي نو په حیوة الدنیا دي نه غولیږي) خاوند ان د عقل، تخصیص د اولی الالباب چي یې وکړی هغه په دغو شیانو کي د قدرت فکر و وهي او خالق مقتدر او صانع حکیم به وپیژني ویر اولو الالباب که څه هم په صورت خو د انسان دي لکن په حقیقت کي لکه انعام دي بل هم اضل سبیلاً، شیخ سعدي قدس سره وایي:

برگ درختان سبز در نظر هوشیار ..... هر ورقی دفتریست معرفت کردگار
بود حال دنیا چو آن سبزه زار ..... که بس تازه بینی بفضل بهار
چو بر وی خزه تند باد خزان ..... یکی سبز برگی نیابی ازان

ورځ دي تېره په خندا کړه شپه له خابه .... خدای په کله یادوي خانه خرابه

دروېش وایي: چي ځواني ببهوشي وه چي تېره سوه.

اَفَمَنْ شَرَحَ اللّٰهُ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ

آیا هغه څوک چي سینه (یعني زړه یې)

پوه سه: چي همزه لپاره د استفهام انکاري دی و کلمة من شرطیة او موصولة، وخبرها محذوف و علی الشق الاول جزائها محذوف دل علیه مابعده.

فائده: اصل معنی د شرح بسط اللحم و نحوه یقال شرحت اللحم (په پښتو وایي سړه وپېړېږئ لکه د لاندي غوښي) و منه شرح الصدر بنور الهي وسکینته من جهته تعالی وروح منه کما في المفردات حتی چي په نور سره پېژني حق حقًا والباطل باطلاً، نو په دې نو سره یقین جازم به وي پر ټوله ماجاء به النبي ﷺ بلاشک ولاشبهة، نو په دې آیت کي تعبیر د هغه نور الهي څخه په شرح الصدر سره وکړی لان الصدر محل القلب والروح القابل للاسلام فاذا کان قبله قابلاً لاحکام الاسلام صار کظرف انشرح حتی حال فیه المظروف.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَهُوَ عَلٰى نُوْرٍ مِّنْ رَّبِّهٖ

نو دغه سړی پر نور (يعني البصيرة وي) له جانبه څخه د خدای ﷻ دده.

فائده: خبر محذوف دادی چې د مخه فقير اشاره ورته وکړه کمن طبع علی قلبه فعصی، وروی البغوي ؒ والحاکم ؒ والبيهقي ؒ في شعب الايمان عن ابن مسعود ؓ قال تلی رسول الله ﷺ افمن شرح الله الاسلام فهو علی نور من ربه فآمن واهتدی قلنا يا رسول الله كيف انشرح صدره قال اذا دخل النور القلب انشرح صدره وانفسخ (فراخه سي) موږ ورته وويل يا رسول الله علامه د هغه څه ده؟ قال ﷺ الانابة الی دار الخلود (يعني بالطاعة والذكر وغير ذالک والتجاء في عن دار الغرور (او ځان کوښه ساتي له دار الغرور څخه چې دنيا ده) والتاهب للموت قبل نزوله (او ځان يې اراسته کړځولی وي مرګ ته د مخه تر نزول د مرګ)

فَوَيْلٌ لِّلْقٰسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ مِّنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ؕ اُولٰٓئِكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۲﴾

نو هلاک دي وي چې زړونه يې سخت وي د الله تعالی له يادې څخه (من ذكر الله) متعلق دی بالقاسية، والمعنی من اجل ذكر الله يعني چې ذكر د نامه د خدای ؒ يعني په توحيد سره و دوی ته وسي يا تلاوت د قران پاک د آياتو دوی ته وسي، سخت سي د دوی د زړو غلظت او نفرت له ايمانه څخه، نو دغه کسان په ګمراهی کي دي يعني الكفر والشرک چې بنکاره ګمراهي ده، له ابن عباس ؓ څخه روايت دی چې يو قوم و عليه الصلوة والسلام ته وويل يا رسول الله ﷺ حدثنا باحاديث حسان واخبار الدهر (يعني د امم ماضيه ؤ قصې) فنزلت (ای الآية الآتية) وعن ابن مسعود ؓ ان اصحاب رسول الله ﷺ څه ملال او دغت پر راغلی ؤ فقالوا لرسول الله ﷺ حدثنا، ته موږ ته يو څو خبرې وکړه چې زموږ ملال په دفع سي، فنزلت يعني په دې آيت کي خدای ﷻ ارشاد و دوی ته وکړی چې دفع کونکی د ملال تلاوت القرآن دی واستماعه منه ﷺ غضا طريا (نوی تازه)

اَللّٰهُ نَزَّلَ اَحْسَنَ الْحَدِيْثِ كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ ۖ

خدای ؒ نازل کړي دي هغه ښه د خبرو، وهو القرآن الكريم.

سوال: د علم الكلام په کتابو کي راغلي دي چې قرآن قديم دی، نو د حديث اطلاق يې څرنګه پر وکړی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: اولاً، مراد له حدیث څخه ضد د قدیم نه دی بلکې مراد دادی چې تاسي ته تازه په تازه تلاوت کېږي، وثانیًا اطلاق د حدیث پر قرآن مشاکلةً دی لما قال الصحابةﷺ حدثنا یا رسول الله.

پوه سه: چې لفظ الله یې مبتداء وګرځول او احسن الحدیث یې خبر وګرځاوه، تفخیم او تعظیم دی د احسن الحدیث واستشهاد علی احسنیة، اما الاستشهاد علی احسنیته فلانه مکنون القرآن لایتصور اکمل منه بل لا کمال شیئ ما في جنب القرآن، ولهذا قیل کلام السادات سادت الکلام، واما لتنفیخه فلانه من باب قولهم الخلیفة عند فلان واما توکید الاسناد الیه تعالی فتکرر الاسناد الیه تعالی کما قال النحات ان زید ضرب او کد من ضرب زید، فتدبر، روح البیان وایي ان القرآن الکریم لانهایة لحسنه ولاغایة لجمال نظمه وملاحة معانیه والقرآن احسن مما نزل علی جمیع الانبیاء والمرسلین، واکثره احکامًا ولیس کتابًا من الله عزوجل یکون معجزة في ذاته الا القرآن.

پوه سه: چې (کتابًا) بدل دی من احسن الحدیث (متشابهًا) صفت دی لکتابًا یعني یو د بل سره په صحت کې د معنی او په دلالت کې پر منافع عامه او په حسن الاعجاز سره متشابه دی، ویصدق بعضه بعضًا.

دروښ وایي: چې دلته د متشابه معنی هغه نه ده چې په اصول الفقه کې یې راوړي دي ای الخفي والمشکل والمتشابه (مثاني) دوهم صفت د کتابًا دی.

پوه سه: چې مثاني جمع د مثنات ده صیغه د ظرف ده، والمعنی چې مکرر راوړل سوي دي په قرآن کې وعد او وعید او امر او نهي واخبار الامم والانبیاءؑ وغیر ذالک، نو دا وصف د کتاب دی په تفاصیل دا جزاؤ دده کما في قولک للقرآن سور و آیات طویلات وقصیرات، یا سړی ووایي الانسان عروق وعظام واعصاب.

تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ

یعني خوفًا مما فیه من الوعید علی العصیان، دا جمله صفت ثالث دی د قرآن.

ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ

ای لذکر عموم الرحمة والمغفرة لله الغفور الرحیم.

فائده: دا دوې جملې په اعتبار د عطف استیناف دی لپاره د بیان د آثار ظاهره ؤ د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قرآن په سامعينو کي بعد بيان اوصافه في نفسه، نو دا جملې تقرير دي لکون القرآن احسن الحديث، په قاموس کي وايي: اقشعر جلده اخذته قشعريرة اى رعدة يعني ورڅېري لکه په ژمي کي چې يخي اوبه سړی پر ځان توی کړي، او بعض مفسرين وايي چې اقشعرار تغير يحدث في جلد الانسان عند الوجل والخوف، په پښتو وايي: وپښتان مي پر بدن جګ جګ ودرېدل، يا مجملاً داسي وايي بدن مي ببرکی سو.

فائده: په دې دوو آيتو کي اشاره ده وخوف او رجاء ته د مؤمنانو والقبض والبسط (اى الروحيات) والهيبة والانس وتجلى الانوار واستتارها.

ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِيْ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ۝

"ذالک" اى الکتاب الذي بين احواله، راهنمايي د رب العزت ده مؤمنانو ته، چې راهنمايي په کوي يعني الدلالة الموصلة الى المطلوب اى الايمان وهغه چاته چې د خداى ﷻ اراده ورته وسي، او په چا کي ضلالت پيدا کړي خداى ﷻ په سبب د صرف د بنده خپل اختيار و اسبابو ته د ضلال، نو نسته هغه لره هدايت کونکی لانه لا اکراه في الدين ولا اجبار بدون الاختيار.

حکايت: له ابو علي النسفي ؒ څخه روايت دی چې د يو مسلمان څرورک وُ دی يې په طلب پسي وتلی وُ، نو يو مجوسي په مخه ورغلی، نو صاحب طلب الحمار بيرته راوګرځېدی يعني طلب د خره يې پرېښو او داسي يې وويل انا فقدت الدابة فخرجت في طلبها، وهذا (اى المجوسي) فقد الدين الحق ولم يطلبه فمعصيته (اى المجوسي) اعظم من معصيتي.

وعن حذيفة ؓ قال سمعت رسول الله ﷺ قال: يو سړی مړ سو له قوم څخه د موسىٰ ؑ نو د قيامت په ورځ به خداى ﷻ و ملکو ته ووايي چې تاسي وګورئ چې دغه سړی چې زما بنده دی يو شی له اعمالو څخه د خير لري (يعني پېله ايمانه) نو ملکي ووايي چې هيڅ عمل د خير يې نسته پېله دې چې په ګوتمی کي يې لآ اله الا الله نوشته وه، فيقول الله تعالى لملائكته ادخلوا عبدي الجنة قد غفرت له.

دروېش وايي: چې ولنعم ما قيل: به بها نمی بخشد وبه بهانه می بخشد

بيت:.. عبيد را خاتمه بالخير گردان .... بحق مصطفٰی وچهار ياران

بضاعت نه ياوردم الا اميد .... مکن از درت اين گدا نا اميد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَفَمَنْ يَّتَّقِيْ بِوَجْهِهٖ سُوْٓءَ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

"افمن يتقى" الهمزة للاستفهام الانكاري والفاء للعطف على مقدر تقديره ايستوى الفريقان اى المؤمنين والكافرين فمن يتقى آه "بوجهه" يعني مخ وقايه د ځان وګرځوي يعني لاسونه پر مخ ونسي، ولي چې د انسان طبعي دا قانون دی چې د يو خوفناکه شي سره مواجهه سي د خوفناکه شي څخه د خلاصون لپاره لاسونه د هغه خوفناکه شي و خواته وګرځوي تاچې مخ يې وساتي، ولي په مخ کې اعضاء شريفه ستة، نو کافر چې دوزخ ته اچول کيږي لاسونه يې په غاړه کې ترلي وي، نو ځان نسي ساتلای مګر نه په مخ سره.

پوه سه: چې اضافت د سوء و عذاب ته اضافت د صفت دی و موصوف ته ای العذاب السوء او سوء مصدر دی او توصيف د عذاب په ده سره مبالغة دی، يا په معنی د مشتق دی ای السيئ.

فائده: خبر د من محذوف دی ای کمن هو امن من العذاب كما في نظائره.

وَقِيْلَ لِلظّٰلِمِيْنَ ذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْسِبُوْنَ ۝

او وويل سي و ظالمانو ته، برداشتوئ (يعني ليس من ذوق الفم) ما كنتم چې تاسي واست كسب مو كاوه يعني الكفر والمعاصي، والمضاف محذوف ای جزاء ما كنتم آه، وكلمة ما مصدرية ای جزاء كسبكم او يا موصوله ده والعائد محذوف تقديره ما كنتم تكسبونه.

پوه سه: چې لهم يې نه ووايه بلکې اسم ظاهر يې راوړی لپاره د تسجيل پر دوی د ظلم چې هغه سبب د وروسته ايت دی يعني ذوقوا آه.

فائده: جمله د "وقيل آه" يا حال ده په تقدير د قد "كما هو القانون النحوي في الماضي الذي وقع حالاً" له فاعل څخه د يتقى آه.

كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَاَتٰىهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝

تكذيب کړی دی د رسولانو هغو کسانو چې دمخه تر کفارو د مکې وه په عذاب راتلونکي کې پر دوی، نو دوی له راغلی عذاب له داسې خوا څخه چې د دوی په زړو کې هم نه ورګرځيدی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَذَاقَهُمُ اللَّهُ الْخِزْيَ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا

دوی ته ورسول خدای رسوایي او ذلت د دنیا په ژوند کي، لکه مسخ پر بعض کافرانو لکه د داؤد علیه السلام په زمانه کي، یا خسف په مخکه کي لکه د قارون د موسی علیه السلام په زمانه کي، یا یې پر قتل باد مسلط سو لکه د نمرود په زمانه کي، یا رمي بالحجارة د لوط علیه السلام په زمانه کي.

وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٥٢﴾

او هر آئینه عذاب د آخرت چي د دوی لپاره تاکل سوی دی لوی دی تر عذاب د دنیا، ولي چي هم سخت دی چي عذاب د اور دی او هم ابدي دی، نو که وای دوی له پوهیدونکو څخه، یعني لو کان اهل مکة من اهل العلم.

فائده: جزاء د لو محذوف ده تقدیره لاعتبروا دوی به عبرت اخستی وای له من قبلهم څخه او ایمان به یې راوړی وای، یا معنی د آیت عامه ده یعني لو کان المکذبون یعلمون مآل التکذیب للرسل ما کذبوهم.

وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ مِن كُلِّ مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٢٧﴾

په تحقیق مو بیان کړي دي لپاره د نفع د بندګانو (فاللام للانتفاع) په دې قرآن کي هره غریبه خبره چي په غرابت لکه مثل دائر علی الانسبة (چي په پښتو یې مثل بولي) یعني چي په امورو کي د دین ورته ضرورت وي، صاحب د تفسیر وسیط وایي چي مراد له ناس څخه اهل مکة دي (لکن العموم اولی واحری لان القرآن الکریم بیان للناس الی یوم القیامة)

(لعلهم یتذکرون) شاید دوی به پند او عبرت واخلي، ولي چي په قرآن کي قصص د پیشو امتو او د رسولانو موجودي دي، او د مکذبینو د هلاک قصې هم راوړه سوي دي دا ټوله عبرت دي د سید المرسلین ﷺ د امة الدعوة او امة الاجابة لپاره... بیت:

پند گیر از مصائب دیگران ..... تا نگیرند دیگران زتو پند

نـرود مرغ سوئ دانه فراز ..... چو بینند مرغ دیگر اندر بند

قُرْآنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِي عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٢٨﴾

قرآن دی په عربي لغت چي افصح الالسنة ده، هیڅ کږوالی نسته په قرآن کي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوجه ما لا من حيث الفصاحة والبلاغة باعتبار اللفظ ولا باعتبار المعنى.

پوه سه: چې قرائنا منصوب دی په حذف د اعني چې فعل او فاعل دی، ابن عباس ؓ د غير ذی عوج ترجمه په مختلف کړې ده، او مجاهد ؒ وايي: غير ذی لبس ای اشتباه.

پوه سه: چې لعل په معنی د لام کی دی، يعني ددې لپاره چې انسانان په مواعظو سره د قرآن عمل وکړي او کفر او معاصي به پرېږدي.

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيْهِ شُرَكَآءُ مُتَشٰكِسُوْنَ

بيانوي خدای ﷻ يو مثل د مشرک او موحد لپاره "رجلاً" بدل دی من مثل بتقدير المضاف ای مثل رجل.

پوه سه: چې د متشاکسون معنی مختلفون ده، صفت دی د شرکاء او شرکاء فاعل د ظرف مستقر دی، يعني فيه او داسي اعراب هم روا دی چې شرکاء دي مبتداء وي فيه دې خبر مقدم وي، قدم الخبر لان المبتداء نكرة وتقديم الخبر مصحح، كما في قولهم في الدار رجل كما تقرر في النحو، والجملة صفت لرجل يعني مثال د اهل الشرک چې دی د الهه متعدد ؤ عبادت کوي داسي دی لکه يو مربی چې د ډېرو کسانو ترمنځ شريک وي، او هغه کسان بد خوی او بد اخلاقه وي، نو پر مربي د ټولو شرکاؤ مراعات ډېر ګران تمامېږي يعني که يو مراعات کوي هغه بل شريک ناراضه کېږي وهكذا.

سوال: د مشرکانو بتان خو جمادات دي يو د بل په خدمت يې خو نه بدېږي؟

ځواب: په تمثيل کي مطابقت من كل الوجوه شرط نه دی، او بل جواب دا دی چې مثال مبني دی پر زعم د مشرکانو چې دوی خپل معبودات ذا علم او شعور بلل ولهذا قالوا: ما نعبدهم الا ليقربونا الى الله زلفى، وايضًا قالوا هؤلاء شفعائنا الى الله.

وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ

او يو سړی چې خالص د يوه سړي مربی وي، دا مثال د مؤمن دی چې موحد دی چې عبد الله الواحد الغفور الرحيم دی.

هَلْ يَسْتَوِيٰنِ مَثَلًا ۚ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ۚ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝

نو آيا سره برابر دي دغه دوه مربيان په مثل او په صفت کي او په حال کي، والاستفهام للتقرير ای لحمل المخاطب چې مشرکان دي پر اقرار په دې سره چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوی هم ووایي چي نه دي سره برابر حالاً فان العبد للواحد احسن حالاً من المشترک، او په بل عبارت همزه لپاره د انکار دی یعني لایستویان في الواقع که مشرک اقرار کوي او د شرمه اقرار نه کوي.

"الحمد لله، بل اکثرهم لایعلمون" او ټوله حمد خدای ؒلره دی لایشارکه فیه احد في الحقیقیة بلکې اکثره د مشرکانو په دې حقیقت نه پوهیږي فیشرکون به غیره لغایة جهلهم.

پوښتنه: بعض کسان د یو چا صفت په علم او یا حلم وغیرهما سره کوي، نو هم حمد خدای ؒلره دی که څرنګه؟

ځواب: داغه هم حمد د خدای ؒدی لان معطي العلم والحلم وغیرهما من الصفات المحمودة اللهﷻ.

سوال: اکثره یې ولي ووایه او سره ددې چي ټوله مشرکان خو داغسي دي؟

ځواب: بعض مشرکان په مذکوره حقیقت پوهیږي لکن لایؤمنون عناداً، او داسي معنی هم روا ده الحمد لله علی نعمة التوحید والاسلام واختصاص التوحید بالمولی الواحد الحمید بصفات الجلال والجمال.

فائده: کلمه د بل پر دې تقدیر لپاره د اضراب نه ده بلکې ابتدائیه ده حکایةً عن حال المشرکین الجاهلین.

شان نزول: کفارو د مکي به ویل پرپږدئ محمد (ﷺ) هر څه چي وایي یو وخت به مړ سي موږ به ځني خلاص سو، فنزلت هذه الآیة.

إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ ﴿٣٠﴾

المعنی ستموت یعني کفار مکة کما مر من شان النزول، او یا معنی داده چي ټوله خلګ د مرګ د کندي پر غاړه ولاړ دي.

سوال: صیغه د صفت مشبه یې ولي راوړه چي دلالت پر ثبوت حالاً کوي مثل زید ضارب عمرو دا معنا حالاً ده وان ارید الاستقبال کان مجازًا علی المذهب الصحیح؟

ځواب: لکون الموت متیقن الوقوع وان لم یقع حالاً، جلال الدین المحلي ؒوایي: چي کفارو د مکې چي ولیدل چي علیه الصلوة والسلام نه مري، نو دا آیت نازل سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ ﴿٣١﴾

"ثم انكم" يعني انت يا محمد (ﷺ) وكفار مكة بل جميع الناس، د قيامت په ورځ يو د بل خصم به ګرځي، نو عليه الصلوة والسلام به ستاسي په الزام کي وايي رب ان قومي اتخذوا هذا القرآن مهجورًا، وانهم كذبوني وكنت على الحق في دعوى التوحيد وكانوا على الباطل في التشريك واجتهدت في الارشاد والتبليغ ولجوا في العناد والتكذيب، او كفار پر خپل وار په اکاذيبو سره خبري کوي، مثل والله ربنا ما كنا مشركين وقولهم ماجاءنا من نذير وقولهم انا اطعنا سادتنا وكبرائنا الى غير ذالک من معاذيرهم الباطلة الكاذبة غير النافعة في يوم القيامة.

دروښ وايي: چي که څه هم په آيت شريف کي مراد اختصام ؤ په مابين کي د عليه الصلوة والسلام او د کفارو د مکي لکن په مناسبت د لفظ د اختصام عمومي اختصامات الواقعة بين الناس يوم القيامة بيان به يې بې ځايه نه وي، نو واوره چي اول چي قضاوت کړل کېږي وينه به وي، بخاري او مسلم له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت کړی دی ده وويل قال رسول الله ﷺ او ما يقضى بين الناس يوم القيامة الدماء الدماء، او په دې هرو روايتو له ابن عباس رضي الله عنه څخه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول يأتى المقتول متعلق (نيولي وي) رأسه باحدى يديه متكيًا (نيولى به وي قاتل په لاس سره) شخب اوداجه دمًا (بهېږي تر بنارګو وينې) حتى يأتى العرش فيقول المقتول لرب العالمين هذا قتلني (يعني حق شرعي کالقصاص) فيقول الله تعالى للقاتل: تعسب (هلاک سې) ويذهب به الى النار.

واخرج البخاري عن ابى هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ من كان عنده مظلمة لاخيه (که څوک وي چي دده سره ظلم وي دده د ورور يعني مؤمن که څه هم حقيقي ورور نه وي) فليحلله (ځان دي ځني خلاص کړي په دنيا کي يعني يا دي بخښنه ځني وغواړي يا دې حق ورکړي) ولي چي نسته په قيامت کي نه دينار او نه درهم، يعني چي ظالم له مظلومه ځان په خلاص کړي، که دا ظلم عمل صالح ؤ هغه عمل صالح يې و مظلوم ته ورکو کېږي په اندازه د ظلم دده وان لکن يكن (او که نه وي ظالم لره حسنات د مظلوم له سيئاتو څخه پر ظالم حمل سي)

او مسلم او ترمذي له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت کړی دی قال رسول الله ﷺ آيا تاسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خبر یاست چي مفلس څوک دی؟ صحابه کرامو ﷺ وویل چي مفلس په موږ کي هغه څوک دی چي لا درهم له ولا متاع. قال رسول الله ﷺ المفلس من امتي من یأتي بصلوة وصیام وزکوة وقد شتم هذا وقذف هذا یعني په درواغو یې د زنی نسبت ورته کړی وي، واکل مال هذا وسفک دم (بهیولې یې وي وینې د بل سړي) وضرب هذا (نو دغه مدعیان ورته راجع سي په ورځ د قیامت هر یو خپل حق غواړي) نو څنې قبض کړي له حسناتو څخه د هغه ظالم که د ظالم حسنات خلاص سوه د مخه د مظلومانو د پورو ورکولو، اخذ من خطایاهم فیطرح علیه، ثم طرح في النار، وروسته ظالم اورته وغورځوي.

فائده: مراد له حسناتو څخه د ظالم چي مظلوم ته یې ورکوي ماسوی له ایمان څخه دی.

معجزة نبویة: یوه ورځ علیه الصلوة والسلام وویل: انا خصم عثمان ؓ یعني دده له خوا و ظالم ته عند الرب تعالی، ابراهیم النخعي ؒ وایي چي صحابه کرامو ﷺ وویل موږ خو سره وروڼه یو، ما خصومتنا فلما قتل عثمان ؓ قالوا هذه خصومتنا یعني د صادق مصدوق ﷺ پیشګویي رشتیا سوه، وعن ابی سعید الخدري ؓ کنا نقول ربنا واحد ودیننا واحد وکتابنا واحد فما هذه الخصومة، فلما کان یوم صفین او موږ یو بل په تورو سره ووهل قلنا هو هذا، وعن الزبیر بن العوام ؓ قال لما نزلت علی رسول الله ﷺ: ثم انکم یوم القیامة الآیة قلت ای رسول الله ایکرر علینا ما کان بیننا في الدنیا (یعني من الخصومات مع خواص الذنوب، ای الذنوب المخصوصة بیننا) سوی الخصومات، قال علیه السلام نعم حتی تؤدون الی کل ذی حق حقه، قال الزبیر ؓ ان الامر اذاً لشدید، قال ابن مسعود ؓ چي فراق د علیه الصلوة والسلام نژدې سو (یعني چي دی مریض وُاو د زکندن وخت یې نژدې سو، جمعنا في بیت امنا عائشة ؓ ثم نظر الینا فدمعت عیناه (موږ ته چي یې وکتل ترسترګو مبارکو یې اوښکي راغلې) فقال مرحبًا بکم حیاکم الله رحمکم الله اوصیکم بتقوی الله عزوجل وطاعته قد دنا الفراق (نژدې سو جلا والی زموږ او ستاسي ترمنځ) وحان المنقلب الی الله والی سدرة المنتهی وجنة المأوی، ماته دي غسل راکړي هغه کسان چي له اهل بیت څخه زما وي لکه جعفر بن ابی طالب ؓ واخیه علي ؓ ویکفوني في ثیابي هذه ان شاؤا، او في حلة یمانیة چي (چي له یمن څخه راځي) نو چي ماته مو غسل او کفن راکړل ضعوني علی سریري في بیتي علی شفیر لحدي ثم اخرجوا عني ساعةً فاول من یصلی علي حبیبي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جبرئيل ثم ميكائيل ثم اسرافيل ثم ملک الموت ثم ادخلوا علي فوجًا فوجًا فصلوا علي، صحابة کرامو ﷺ بغاري کړې (يعني لا على الوجه الممنوع في الشرع) او وه يې ژړل وقالوا يا رسول الله ﷺ انت رسول ربنا وشمع جمعنا (څراغ زمونږ د جمعيت يې) وبرهان ربنا فاذا ذهبت عنا فالى من نرجع (چاته به په دينې امورو کې رجوع کوو) قال ﷺ ترکتکم على المحجة البيضاء (ما تاسي پرې ايښي ياست پر واضح طريقه چې روښانه ده) ليلها كنهارها (شپه يې لکه ورځ داسي ده) يعني في الوضوح، وتركت لكم واعظين ناطقًا وصامتًا (چې يو خبري کوي او په خبرو سره خلکو ته وعظ کوي، او بل په پټه خوله خلکو ته تبليغ کوي) فالناطق هو القرآن والصامت هو الموت، فاذا اشكل عليكم فارجعوا الى القرآن والسنة (که تاسي ته يو مشکل پيښ سو يعني په امورو کې د دين نو رجوع وکړئ و قرآن ته چې يا به په عبارة النص يا په اشارة النص و اقتضاء النص به هغه مشکل حل سي، او که يې په قرآن کې نه کړئ پيدا يا سنت يعني احاديث قوليه يا فعليه ته رجوع وکړئ، او که موزړونو غلظت او قسوة پيدا کړي نو نرمې کړئ بالاعتبار في حال الاموات، نو اول خو رسول الله ﷺ د سر له درده په تکليف ؤ و كان اخيرًا مريضًا (۱۸) يوم، خلک به په جماعت پوښتنې ته ورتله ثم مات صلى الله عليه وسلم د دوشنبې په ورځ پر دوولسمه (۱۲) د ربيع الاول، ودفنوه ليلة الاربعاء (چهارشنبې په شپه في حجرة عائشة ﷺ، او بعض روات وايي چې په شپه د سه شنبې دفن کړل سو.

په صحيح حديث کې راغلي دي چې که چا ته يو مصيبت پيښ سو (يا يې پلار مړ سو يا يې ورور يا يې زوی وغيره) نو دي په ياد کړي مصيبت زما د وفات فانها افظع المصائب، ولنعم ما قال الشاعر:

اصبر لكل مصيبة وتجلد ..... واعلم ان المرء غير مخلد
واذا اعترتك وساوس بمصيبة ..... فاذكر مصابك بالنبي محمد ﷺ

دروښ وايي: چې لله الحمد والمنة ومنه التوفيق والرحمة وعلى سيد رسله الصلوة والتحية وعلى آله وصحبه الكملة النجيبة، تفسير د جزء ۲۳ په شپه د چهارشنبې پای ته ورسېدی، او ان شاء الله تعالى تفسير د جزء ۲۴ به د چهارشنبې په ورځ شروع سي.

اللهم منک واليک تبارکت ربنا وتعاليت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

الجزء الرابع والعشرون

فَمَنْ اَظْلَمُ ٢٤



الحنفي النقشبندي القندهاري
تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا
سکین او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ
مکتبة القراءة والتجويد
۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹
کاسي روډ کوټه بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

دروښ وايي: چې تفسير د جزء (۲۴) من اجزاء القرآن الكريم تخمينًا پر اته بجې د ورځې د چهار شنبې اخيري د مياشتې د محرم الحرام سنه (۱۴۳۲هـ) شروع کېږي.

اللهم وفقني لاتمام تفسير هذا الجزء بالخير والصحة والسلامة و اجعله لوجهک الكريم انک على كل شيئ قدير وبالاجابة جدير.

فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَبَ عَلَى اللّٰهِ

څوک دی ډېر ظالم (كلمه د فاء د سببيت ده فان اختصام الكفار مع النبي ﷺ سبب لكونهم اظلم الناس والاستفهام للانكار يعني لا احد اظلم منهم) له هغه چا څخه چې پر خداى ﷻ درواغ وايي، يعني چې يا وايي خداى ﷻ لره ولد سته يعني عيسىٰ ابن الله و عزير ابن الله والملائكة بنات الله بولي، يا وايي خداى ﷻ لره شركاء په عبادت کې سته چې بتان دي د مشرکانو.

وَكَذَّبَ بِالصِّدْقِ اِذْ جَآءَهٗ

او تكذيب کوي د صدق چې مراد څنې قرآن كريم دى وغيره من المعجزات الواضحات، هغه وخت چې صدق دوى ته ورسېدى يعني من غير توقف وتأمل في شانه بلكې سره د دلائل قطعيه پر صدق د هغه تكذيب وکړي او پر قرآن مبارک يې حكم د اساطير الاولين وکړى، يا د كهانت يا د شعر نوم يې پر کښېښو، او پر معجزاتو يې نوم د سحر کښېښو، او عليه الصلوة والسلام ته يې نسبت د كاهن، شاعر، متقول او ساحر په نومانو سره وکړى.

اَلَيْسَ فِيْ جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ۝

آيا نسته په دوزخ کې منزل او مقام د كافرانو لپاره؟

پوه سه: چې همزه لپاره د استفهام انكاري دى داخل دى پر حرف نفي، وقد تقرر ان النفي النفي اثبات، يعني سته منزل او ځاى د كفارو لپاره.

پوه سه: چې په هغه آيت كې "انک ميت وانهم ميتون" بيا تر دې ځايه پورې تسلي ده و نبي كريم ﷺ ته على تكذيب القوم اياه والقرآن حتى چې عليه الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام په انتقام کي د کفارو په فکر غمجن نه سي، تسلي په دې معنی ده چې جهنم کافي دی په انتقام کي د دوی.

وَالَّذِي جَاءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهِ أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ ﴿٣٣﴾

پوه سه: چې مراد له "الذي آه" څخه عام مصدق دی تا چې علیه الصلوة والسلام او مؤمنانو ته شامل سي.

ترجمه: هغه څوک چې راتګ یې کړی دی په صدق سره (له صدق څخه مراد قرآن او راوړونکی یې علیه الصلوة والسلام دی) او د هغه کسانو تصدیق یې کړی وي، مراد مؤمنان دي، د هغه کسان له خدای ﷻ څخه ببرېږي (هم ضمیر فصل لپاره د حصر دی)

تنبیه: له دې سببه چې په دې آیت کي "اولئک، هم او متقون" په صیغه د جمع راغلي دي، نو له هم دې سببه موږ وویل چې مراد له الذي جاء آه، څخه عام دی تا چې په الذي کي چې مراد علیه الصلوة والسلام او مؤمنان دي د علیه الصلوة والسلام او مؤمنانو هم یو لوی جماعت دی جمع پیدا سي.

فائده: د دې آیت په رښا کي دا هم معلومه سوه چې په خپله علیه الصلوة والسلام هم د متصدقینو په ډله کي دی په جاء به سره، بل هو اول المصدقین بما جاء به کما في قوله تعالی آمن الرسول بما انزل الیه من ربه والمؤمنون الآیة.

روایات: قال السدي ؒ الذي جاء بالصدق هو جبرئیل ؑ وصدق به محمد ﷺ تلقاه بالقول، وقال الکلبي ؒ و ابو العالیة ؒ الذي جاء بالصدق هو رسول الله ﷺ وصدق به ابوبکر ؓ، لکن التعمیم انسب، ولهذا قال مقاتل ؒ وقتاده ؒ الذي جاء بالصدق هو رسول الله ﷺ وصدق به الاتباع، قال ابن عباس ؓ یعني رسول الله ﷺ جاء بلا اله الا الله وهو المراد بالصدق وصدق به انتهی.

پوښتنه: خبر یې ولي جمع راوړی؟

ځواب: علی ان المراد هو ومن تبعه کما في قوله تعالی: ولقد آتینا موسی الکتاب لعلهم یهتدون (یعني کتاب خو یوازي موسی ؑ ته ورکړل سوی ؤ، نو د یهتدون ضمیر و چاته راجع دی؟ نو مراد دی او دده اتباع دي، کذا في هذه الآیة)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳۴﴾

دوی لره یعني متقین لره هغه شی دی چې د دوی اراده ورته وسي او خوښ یې وي، سته په نېز د رب د دوی یعني په جنت کې (کذا قال المظهري ؒ) دغه مذکور في الآیة ثواب دی د مخلصینو په اعمالو کې.

دروښ وایي: چې مظهري ؒ یوازې جنت ذکر کړی دی لکه چې فقیر تبعًا له وویل یعني في الجنة، لکن روح المعاني وایي لا في الجنة فقط، ولي چې بعض مایشاؤن لکه بخښنه د ګناهو و الامن من الفزع الاکبر وسائر اهوال القیامة انما یقع لهم قبل دخول الجنة.

پوښتنه: متقین خو دمخه ذکر سوي وه، نو څه حکمت د رب العزة دی چې ضمیر د لهم یې نه راوړی، بلکې اسم ظاهر چې لفظ د محسنین دی رایې وړی؟

ځواب: لپاره د تنبیه پر علت د لهم ما یشاؤن فافهم، او روح البیان هم لا في الجنة فقط عبارت ویلی دی علی خلاف المظهري والله اعلم.

لِيُكَفِّرَ اللّٰهُ عَنْهُمْ اَسْوَاَ الَّذِيْ عَمِلُوْا

چې پټ کړي (یعني خدای ﷻ په مغفرت سره هغه ډېر بد عمل د دوی تخصیص د اسوأ یې وکړی په ذکر سره للمبالغة في المغفرة لانه اذا کفر الاسوء فغیره اول.

فائده: په دې آیت سره رد دی پر معتزله ؤ چې دوی وایي چې مرتکب د کبیره ګناه که بې توبې مړ سي ابدي ځای یې دوزخ دی بخښنه یا شفاعت یې څوک نسي کولای، وجه الرد: اسوأ ګناه کبیره ته وایي او په دې آیت کې د مغفرت وعده خدای پاک کړې ده، او بله نکته په راوړلو کې د اسوأ اشاره ودې ته ده چې دغه متقون چې ذکر سوه د دوی د غایت خوف من الله هر ګناه چې د دوی څخه صادره سي دوی یې اسوأ الذنوب بولي، او بعض مفسرین وایي چې صیغه د افعل چې اسم تفضیل ده لپاره د نفس زیادت ده لا علی ما اضیف الیه ای الذي عملوا، والتفصیل في روح المعاني بکلام طویل.

وَيَجْزِيَهُمْ اَجْرَهُمْ بِاَحْسَنِ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۳۵﴾

او دوی ته ورکوي ثواب د اعمالو د دوی، یعني چې خدای ؒ دوی ته ورکوي پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عادي اعمالو حسنه ددوی پر اندازه د احسن د عملو د دوی ورکوي في زيادة الاجر وعظمه وذالک لفرط اخلاصهم في جميع الاعمال، او بعض مفسرين وايي چې احسن دلته لپاره د زيادت مطلق دی کما مر في الاسوء يعني لا باضافة الى المضاف اليه کما مر فافهم، او مقاتلؒ وايي يجزيهم المحاسن اعمالهم ولا يجزيهم بالمساوي.

اَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ ؕ وَيُخَوِّفُوْنَكَ بِالَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ؕ

استفهام لپاره د انکار دی پر حرف نفي چې ليس دی داخل سو، نو نفي د نفي مبالغه په اثبات کي ده يعني الله کاف ضرورة (عبده) المراد به محمد ﷺ دی چې فرد اکمل د عباد الله دی (ويخفونک) دا جمله عطف ده پر مضمون الیس الله بکاف تقديره الله کاف عبده، او کفار مکه بيروي تا په هغه بتانو سره چې دوی يې عبادت کاوه، يعني عليه الصلوة والسلام ته به دوی ويل چې زمونږ د خدايانو څخه خوله ونسه، او دا مه وايه چې دوی نه و عابدون ته د دوی نفع رسولای سي او نه دفع د ضرر څني کولای سي، ولي که زمونږ آله درته په غضب سوه يا به دي لېونی کړي يا به دي دماغ درخراب کړي، کذا اخرج عبد الرزاق، په دې آيت کي تسلي ده و عليه الصلوة والسلام ته، ځکه چې په حديث شريف کي راغلي دي "من اصبح وهمومه هم واحد کفاه الله هموم الدنيا والاخرة" ترجمه: که چا سهار کړی غمونه يې ټوله يو غم ؤ (لکه د عليه الصلوة والسلام چې يو غم ؤ يعني ايمان د قريشو د مکې) نو خدای ﷻ به يې کفايت او کفالت وکړي د هغه شخص د غمو د دنيا او آخرت، او د غسي خدای پاک هم وکړه چې د دنيا دده غم چې اعلاء د کلمة التوحيد لآ اله الا الله په ټوله اهل مکه بلکې د ټولو عربو رفته رفته خدای پاک پای ته ورسول او په آخرت کي چې د عليه الصلوة والسلام غم دامت ورسره ؤ په دې قول د رب عزوجل وعده ورکړه سوه "ولسوف يعطيک ربک فترضٰی" او د هم محمود زېری پر وسو.

دروښ وايي: چې په کشف الاسرار کي (چې د يو تفسير نوم دی په فارسي ژبه) وايي که اين ايت يعنی "ويخوفونک آه" نازل شده در حق مصطفٰی ﷺ (لکه چې موږ يې دمخه بيان وکړی) و ديگر بار در حق خالد بن الوليد رضی الله عنه نازل شده چنانچه اهل تفسير ميگويند که سورة الفاتحة دو بار نازل شده يکبار در مکه و يک بار در مدينه عند تحول القبلة الى الكعبة، و نزولش در حق خالد بن الوليد رضی الله عنه آنست که قومی از

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مشرکان عرب درختی رابمعبودی گرفته بودند ورب العزة ان را سبب ضلالت ایشان گردانیده بود، او درپیخ ان درخت دیوی قرار گرفته بود ونام آن دیو عزیٰ بود وان دیو کسی که عبادت آن درخت میکرد سخن میگفت ومردم درضلالت افتاده بودند، مصطفیٰ ﷺ خالد بن ولید ؓ را امر فرمود تا آن درخت را از بیخ برآورد وزیر آن درخت دیو است آنرا بکشد، مشرکان آنجا گرد آمدند وخالد ؓ را بترسانیدند که این کار نکند که عزی ترا یا هلاک یا دیوانه کند، خالد ؓ خبر ایشان بمصطفیٰ ﷺ رسانید ورب العزة درحق خالد ؓ این ایت فرستاده ویخفونک آه، خالد ؓ پس به پیش ان درخت رفت آن درخت را از بیخ بکند وزیر آن درخت یک شخصی یافت عظیم سیاه گریه میکرد خالد ؓ ان را کشت پس خبر که خالد ؓ بمصطفیٰ ﷺ آورد علیه الصلوة والسلام گفت تلک عزیٰ ولن تعبد ابدًا انتهی، واللہ اعلم بالصواب، بنده میگوید من نه انکار میکنم ونه این کار میکنم، والعلم عند اللہ العظیم.

وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ۝

څوک چې خدای ﷻ گمراه کړي، یعني له کفایت څخه د خدای ﷻ یعني لرسول اللہ ﷺ او بیرول دده بما لایضر ولا ینفع، نسته هغه لره و حق ته د رسېدلو لار.

وَمَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّضِلٍّ ؕ اَلَيْسَ اللّٰهُ بِعَزِيْزٍ ذِي انْتِقَامٍ ۝

او چاته چې هدایت وکړي خدای ﷻ نو نسته هغه لره گمراه کونکی، ولي چې د خدای ﷻ د فضل رد کونکی نسته، الاستفهام للانکار و نفي النفي اثبات (یعني اللہ ﷻ غالب ینفع ویثبت من شاء لامرد لحکمه) وهذا لاولیائه ای المؤمنون او مالک د انتقام دی لاعدائه ولا ناصر لهم یخلطهم من عقابه.

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ

او که ته یا محمد (ﷺ) سوال وکړې له کفارو څخه د مکې، چې چا پیدا کړي دي اسمانونه او مځکه، دوی به وایي حتمًا چې خدای ﷻ پیدا کړي دي ولي چې بدهي اولي خبره ده چې بتان د دوی صالح د دې خلقیت نه دي او اهل مکه هم په دې اعتراف کاوه چې دا خالقیت خالصةً للہ دی.

پوه سه: چې یو سبب د جمع راوړلو د اسمانو او مفرد راوړه د مځکې دادی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي اسمانونه چي اووه طبقې دي يو له بله سره مختلف الماهية دي او مځکه که څه هم اووه طبقې ده لکن حقيقت يې يو دی په عوارضو سره اختلاف ده، نو اسمانونه لکه انواع د حيوان يعني مختلف الماهية دي او د مځکي طبقات لکه نوع د انسان مختلف بالعوارض ده، ولا تنس هذه الدقيقة في جميع القرآن.

قُلْ أَفَرَءَيْتُم مَّا تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ

ته ووايه يا محمد (ﷺ) وروسته تر اعتراف ددوی لپاره د الزام ددوی (افرأيتم) مجموع په معنی د اخبروني دی بعد ما اعترفتم بان خالق العالم هو الله وحده لاشريک له في خالقيته تعالى ذالک، تاسي د څه شي عبادت کوئ يعني الاوثان بېله خدايه (پوه سه! چي عائد و ماته محذوف دی ای تدعونه)

إِنْ أَرَادَنِيَ اللَّهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كَٰشِفَٰتُ ضُرِّهِۦٓ

که اراده وکړي ماته خدای ﷻ په يو ضرر سره لکه شدت او مرض، آيا هغه يعني ستاسي بتان دفع کونکي دي د ضرر د خدای ﷻ زما څخه؟

أَوْ أَرَادَنِي بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ مُمْسِكَٰتُ رَحْمَتِهِۦ

يا اراده وکړه خدای ﷻ ماته په رحمت سره لکه صحت او عافيت آيا کولای سي ستاسي بتان منع د رحمت د خدای ﷻ له ما څخه؟ يعني ستاسي د اعتراف سابق چي خالق العالم خدای ﷻ فقط دی بايد تاسي انکار وکړئ له دې څخه چي زمونږ خدايان قادر دي پر کشف الضر او امساک الرحمة، مقاتل ؒ وايي چي داغه پوښتنه عليه الصلوة والسلام ددوی څخه وکړه دوی سکوت مختاره کړی لان القول بذالک يرد عليهم ابناء خالتهم.

دروښ وايي: چي دا يوه کنايه ده، ولي چي زامن د خاله ددوی خو پخپله دوی دي يعني ځانونه په خپله ملامت وبولي.

قُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ ۖ عَلَيْهِ يَتَوَكَّلُ الْمُتَوَكِّلُونَ ﴿٣٨﴾

ته ورته ووايه کافي دی خدای ﷻ ما لره په رسولو کي د خير او په دفع کي د ضرر، بتان ددوی په دې کفايت کي پوچ دي، خاص پر خدای ﷻ باندې تکيه کوئ (نو جار او مجرور د تقديم لپاره د حصر دي)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي له متوکلون څخه مراد مؤمنان دي ولي چي مؤمنان په دې پوهېږي چي ضار او نافع یوازي خدای ﷻ دی وبس، وجه د تعبیر د مؤمنانو څخه په متوکلون سره اشاره ودې ته ده چي شان د مؤمن باید توکل وي.

فائده: توکل د اسبابو سره منافي نه دی مثلاً یو سړی مریض وي دوا کوي، یو سړی مسکین وي مزدوري کوي الی غیر ذالک یعني د اسبابو سره سره تکیه او توکل پر خدای ﷻ، چنانچه گفته اند.... ع: کشت کن په تکیه بر جبار کن.

په حدیث شریف کي راغلي دي چي یو له صحرائي مؤمنانو د علیه الصلوة والسلام د زیارت او ملاقات لپاره راغلی ؤ، نو له ډېر محبت او له عشقه د اوښ څخه کښته سو او اوښ یې پرېښو و مسجد نبوي ته ورغلی، خیر وروسته علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي پر څه شي راغلی یې یعني پرېښو راغلی یې که پر دابه؟ هغه سړي ورته وویل چي پر اوښ راغلی یم، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي نو اوښ دي څه په وکړه، هغه ورته وویل چي د خدای ؒ پر توکل مي هسي پرېښو، علیه الصلوة والسلام ورته وویل ورسه ځنګنونه یې وتړه بیا توکل پر خدای ﷻ وکړه، او کما قال علیه الصلوة والسلام، فارسي مثل دی:

چو شیر را ببینی و ازو بترسی پیش او، درزمین بغلط و تواضع کن تا بر شما شیر اگرچه عظیم بود اماده کریم بود.

حکایت: ان سفینة مولی رسول الله ﷺ اخطاء الجیش بارض الروم واسر (بند کړه سو یعني د رومیانو په لاس) دی وایي: فهربت یلتمس الجیش فاذا باسد (ناګاه د شپې په دوران کي د یوه غره په لمن کي زمری راباندي پېښ سو، ما ورته وویل) یا ابا الحارث (چي د زمري مشهور کنیت دی عند العرب) انا سفینة مولی رسول الله ﷺ فکان امري کیت وکیت (زما حال داسي او داسي ؤ یعني خپل حال مي زمري ته ووایه) فاقبل الاسد یتبصبص (زمری زما خوا ته راهي سو او لکی یې ښورولې چي علامه د صلح د حیوان ده) حتی قام الی جنبي (چي ما داسي وفهمول دده له د ربد و څخه چي راباندي سپور سه، نو زمری راهي ؤ داغه رنګه حتی سمع صوت الجیش فقام (اشاره یې دا وه چي کښته سه لښکر ته راورسېدو، نو زه کښته سوم زمری راهي سو ولاړی)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فوائد: (۱) حیوان مفترس لایقدر علی الاضرار اذا کان المرء في عصمة الله نکیف یضر الجمادات یعني بتان.

(۲) ان طاعة الله والتوکل علیه سبب النجات من المهالک.

(۳) ان الاستشفاع برسول الله ﷺ والتقرب الیه بالایمان والتوحید والعمل بسنته یهدي الی سواء الصراط کما هدی سفینة ﷺ.

درویش وایي: چي سعدي شیرازي ؒ په بوستان کي وایي چي یوه ورځ د ځنګلله خوا څخه یو سړی راووتی چي پر پرانګ سپور ؤ، چنان حول ازان حال بر من نشست که پای گریختن به بست، سعدي ؒ وایي چي هغه سړی یعني د پرانګ سپور په ما وفهمېدی چي سعدي وار خطاء سو، نو زما و برابر ته چي راغلی تبسم کنان دست بر لب گرفت که سعدی مدار آنچه دیدی شگفت:

تو از حکم داور گردن مپیچ ..... که از حکم تو گردن نه پیچند هیچ

قُلْ يٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنِّيْ عَامِلٌ ۚ فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۙ

ته ووایه ای قومه زما (نو کسره د میم عوض د مضاف الیه ده یعني قومي) تاسي عمل کوئ پر حالت چي شرک او معاصي دي، ژر دی چي تاسي به پوه سئ.

فائده: اصل مکانت خو اسم مکان دی استعیر ههنا للحال کما ان حیث اسم زمان دی استعور للمکان في بعض المواضع.

پوه سه: چي په آیت کي امر بالشرک نه دی بلکي تهدید دی کما یدل مابعده (انی عامل) ای مکانتي ای علی حالي من التوحید والتبلیغ فحذف علی مکاني للاختصار والاشعار علی ان حالهٗ لاتقف علی حد بل الله سبحانه یزیده کر الدهور ومر الازمان قوة ونصرة فلذا توعدهم بکونهٗ منصورًا علیهم في الدارین بقوله تعالی.

مَنْ يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ يُّخْزِيْهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ۙ

چاته به راځي هغه عذاب چي دی پر ذلیل سي کما في یوم بدر (مقیم) ای دائم وهو عذاب النار في یوم القیامة)

اِنَّآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ لِلنَّاسِ بِالْحَقِّ ۚ

موږ نازل کړی دی پر تا باندي چي قرآن جلیل الشان دی لپاره د خلګو (کلمه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لام لپاره د نفع دی چي دوی نفع پر واخلي او راهنمايي د دوی وکړي و مصالحو ته د دوی په دنيا او اخرت کي (بالحق) ای متلبسًا ببيان الحق.

فَمَنِ اهْتَدٰى فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ فَاِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۚ

که څوک په هدايت د قرآن عمل وکړي هغه د خپلي نفع لپاره دی يعني يعود نفعه من الامن من عذاب النار، او که څوک ګمراه سي يعني په قرآن کريم سره يعني په نبوونه د قرآن کريم عمل ونه کړي نو نه دی عذاب او ضرر د هغه ضلال مګر پرده يعني دده ضلال و بل چاته سرايت نه کوي، کريمه: ولاتذر وازرة وزر اخرلی.

وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ۝

او نه يې ته يا محمد (ﷺ) پر دوی باندي ګمارل سوی چي ته به يې حتمًا مسلمانانوې، يعني ما ته امر کړی يې په رسولو سره د آيات الهيه ؤ سره و دوی ته و قد فعلت، نو د دوی ضلال تاته تاوان نه رسوي، په صحيح حديث کي راغلي دي: ان مثل ما بعثني الله به من الهدٰى والعلم (ای بامور الدنيا والآخرة) کغيث لکه باران چي مځکي ته ورسېږي يوه يوه مځکه ښه خوږه او پسته مځکه وي چي اوبه د باران جذب کړي او هغه تخمونه چي په دې مځکه کي موجود وي ښه وابنه راشنه کړي او که انسانانو تخم پکښې پاشلی ؤ لکه غنم وغيره هغه هم ښه شان پکښې راشنه سي، ومنها اجادب يعني کلکه مځکه وي چي اوبه خو نه جذبوي لکن په عين حال کي دب مځکه وي چي اوبه پکښې درېږي، نو ددې اجادب مځکي پر اوبو که څه هم وابنه خو نه راشنه کېږي لکن پر ولاړو اوبو يې خلګ نفع اخلي يعني څيښې يې او بوده ګان پر اوبوي، او که باران بل ځای وه اوربږي چي بنوی دبري وي چي نه وابنه راشنه کوي او نه اوبه خوندي کوي لکه دويم قسم مځکه، نو عليه الصلوة والسلام وويل چي دا مثال دی د فقه في دين الله (چي علم نافع حاصل کړي په دين کي د خدای ﷻ ونفعه الله بما بعثني به يعني پخپله هم عمل په وکړي او نورو خلګو ته يې هم تعليم کوي، د اول قسم مثال دی، او مثال دی د هغه عالم چي په علم عمل نه کوي لکن نورو خلګو ته ښوونه کوي چي هغه دده په تعليم عمل کوي: داد اجاذب مځکي مثال دی، ومثل من لم يرفع اليه ای القرآن رأسًا ای لم يلتفت اليه

مکتبة القراءت والتجويد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بالعمل ولم يقبل هدى الله الذي ارسلت به، دا مثال دی د درېیم قسم محکي چي قیعان یې نوم وُ انتهى الحديث مع الترجمة او كما قال رسول الله ﷺ.

دروښ وایي: چي د ملایانو د اوسنۍ زمانې همدغه درې حاله دي فتدبر فيه.

اَللّٰهُ يَتَوَفَّى الْاَنْفُسَ حِيْنَ مَوْتِهَا وَالَّتِيْ لَمْ تَمُتْ فِيْ مَنَامِهَا

موږ قبض کوو روحان د انسانانو د ابدانو څخه د دوی یا پرداسي ډول چي تعلق د روحانو له ابدانو سره بالكلية ظاهراً و باطناً دا په وخت د مرګ د انفسو، او یا داسي قبض کوو چي روحانو لره بعض تصرفات نسي پاته ظاهراً لکه لیدل اوریدل او حرکت ارادي، دا پرداسي ډول قبض چي روحان متوجه وګرځول سي و عالم مثال ته چي په پښتو یې خوبونه بولي د عالم الشهادة لپاره د استراحت په خواب د غفلت د عالم الشهادة څخه.

بوه سه: چي په معنى اول حقيقت دی د قبض او توفی بالمعنى الثاني مجاز دی.

سوال: علماء په یوه خوله وایي چي جمع په منځ کي د حقيقت او د مجاز في اطلاق واحد نه ده روا؟

ځواب: دا جمع د حقيقت بخصوصه او د مجاز بخصوصه نه ده بلکې په اصول الفقه کي دې ته عموم مجاز وایي یعني مراد معنى ثالث وي چي حقيقت او مجاز دواړه پکښې داخل وي وهو ههنا مطلق القبض چي قبض ظاهراً وباطناً هم پکښې داخل وي كما في حالة الموت او قبض ظاهراً فقط هم ترلاندي دی لکه د خوب په حالت کي.

دروښ وایي: چي عموم مجاز په دېرو ځایو کي په عربي ژبه کي سته كما لايخفى على من يعرف اللغة العربية، او بل جواب دا دی چي انسان لره یو نفس او بل روح سته، نو د خوب په دوران تخرج النفس ويبقى الروح، حاصل دا دی چي نفس چي په هغه سره تعقل د شیانو او تمییز د خره او غوایي او زید او عمرو مثلاً په کېږي هغه باقي وي او په وخت کي د مرګ دواړه چي نفس او روح دي بدن ته خیرباد وایي، ددې جواب بنا خو پردې ده چي نفس لره ددې حقيقي معناوي سته چي یوه معنى نفس دراکه دی او بله معنى یې نفس تنفس ده، نو پردې تقدیر خو عموم د مشترک لازمېږي وهو غير جائز ايضاً لكه جميع بين الحقيقة والمجاز، والجواب بالتقدير بان يقال الانفس التي لم تمت آه فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَيُمْسِكُ الَّتِي قَضٰى عَلَيْهَا الْمَوْتَ وَيُرْسِلُ الْأُخْرٰى إِلٰى أَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ

نو خدای ﷻ خوندي کوي يعني بدن ته يې نه ايله کوي تر نفخه ثاني پورې چې نفخة البعث يې بولي يعني پس له مرګه ژوند، او هغه نفس وقت النوم پيرته را اله کوي للتصرف في الابدان يعني چې نائم د نوم وينې سي (الى اجل مسمّٰى) ای الوقت المعلوم لموته.

سنت طريقه د خوب او د وينې: په حديث شريف کې د بخاري راغلي له براء بن عاذب رضي الله عنه څخه چې نبي ﷺ به بيد بدی او پر ځای به پرېوتی، نو راسته لاس به يې تر بارخو مبارک لاندې کښېښو، وروسته به يې داسې وويل: اللهم بک اموت واحياء (ستا په قدرت زه بيد پرېږم او را ويښېږم) او چې له خوب څخه به را ويښ سو داسې به يې وويل: الحمد لله الذي احيانا بعد ما امتنا واليه النشور (ای البعث بعد الموت) وعن ابی هريرة رضي الله عنه برواية البخاري قال قال رسول الله ﷺ اذا آوی احدکم الی فراشه (چې ورسي يو ستاسي څخه خپل فرش ته د بيد بدو لپاره يعني کمبله، تاټ، بوريا وغيرها) فلنيفض فراشه بداخلة ازاره (نو دي پاک کړي فرش لکه سړی چې يو شی جارو کوي يا دي وخنډي په داخل سره د لنګ) فانه لايدري من خلفه عليه (ولي چې دی نه دی خبر چې دده تر ويښېدو وروسته به پر فراش څه شی دده په عوض کې به راغلی وي يعني يا لړم يا مېږی يا خاشې مثلاً) ثم يقول باسمک ربي وضعت جنبي وبک ارفعه ان امسکت نفسي فارحمها وان ارسلتها فاحفظها بما تحفظ به عبادک الصالحين.

پوښتنه: په دمخه حديث کې د بيد بدو لپاره بل قسم دعاء نه سوه تېره، نو جمع د دواړو به څرنګه کېږي؟

ځواب: وجه الجمع ګاهي چنين و ګاهي چنان ده، يا ګاهي دي هغه دمخه دعا کوي او ګاهي اوسنی دعاء کوي.

إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَآيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ۝

په تحقيق په دغه يکباره توفی او په امساک ګاهي او ارسال کې ګاهي (په تأويل د مذکوره تأمل) دلائل د قدرت تامه د خدای او پر حکمت د رب حکيم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مطلق او پر شمول د قدرت او رحمت دده، د هغو خلګو لپاره چې دوی په دغو کیفیاتو کې د تعلق د نفوسو په ابدانو پورې او توفی د هغو بالکلیة عند الموت او په بقا کې د نفسو یعنې چې فنا د ابدانو د دوی نفوس نه فنا کېږي او د بعض نفوسو په سعادت کې او د بعض په شقاوت کې او په دې کې هم فکر وهي چې توفی احیانًا و ارسال احیانًا الی انقضاء الاجل المعلوم، نو چې په دې اشیاؤ کې دوی فکر وهلی وای، نو دا به یې یقین سوی وای چې قادر پر دغو تحولات قادر پر بعث الابدان بعد الموت هم دی.

اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ شُفَعَآءَ

دا آیت په کفارو کې د مکې نازل سوی دی چې دوی به ویل چې دا بتان شفاعت کونکي دي عند الله، نو الله تعالی پر دوی انکار وکړی په ام اتخذوا سره.

پوه سه: چې کلمه د ام منقطعه ده په معنی د بل او همزه د انکار ده.

ترجمه: بلکې دوی ګرځولي دي بتان شفعاء خپل من دون الله ای من غیر اجازة الله، کریمه: من یشفع عنده الا بأذنه.

قُلْ اَوَلَوْ كَانُوْا لَا يَمْلِكُوْنَ شَيْـًٔا وَّلَا يَعْقِلُوْنَ ۝

همزه لپاره د انکار دی او واو د عطف دی پر مقدر کما هو القانون النحوي وقد مر مرارًا، والتقدیر یشفعون لکم ولو کانوا علی هذه الصفة چې دوی مالکان د هیڅ شي نه دي او نه هم په هیڅ شي پوهیږي ولي چې ټوله جمادات دي.

دروښ وایي: چې که فرضًا دوی یعنې کفار مکه ووایي چې موږ عبادت کوو دا بتان د هغو مقربینو بندګانو د خدای ﷻ تماثیل یعنې تصویرونه دي، خدای ﷻ هغه رد کړه.

قُلْ لِّلّٰهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيْعًا

ته ورته ووایي چې شفاعت د خدای ﷻ په اذن پورې اړه لري، په دې آیت کې خدای ﷻ د هغه رد په دې قول سره وکړی او تقریر یعنې تائید یې وکړی د دمخه آیت یعنې قل لله الخ، آیت دا دی.

لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ۝

خاص خدای ﷻ لره ده بادشاهي او تصرف او خلق د اسمانو او د مځکې یعنې هیڅ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څوک په هیڅ شي کي خبره نسي کولای مګر نه په اراده او رضا دده فهو مالک الشفاعة دون الاصنام ولو کانت تلک الاصنام تماثیل المقربین الی الله فرضًا (ثم الیه ترجعون) وروسته یعني تر نفخة الثانیة تاسي و خدای ﷻ ته راجع کړه کیږئ یوم القیامة نو هوري ملک حقیقةً د خدای ﷻ دی لا ملک مجازي لغیره تعالی کما في الدنیا حتی چي په هغه ورځ به اعلان وکړل سي، لمن الملک الیوم؟ فلا یجیبه احد فیقول الله الواحد القهار، اوس خدای ﷻ بیان کوي د کافرانو د مکې د حال.

وَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَحْدَهُ اشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ ۖ

او چي ذکر کړل سي نوم د خدای ﷻ یوازي یعني لا اله الا الله نفرت کوي او قبض سي زړونه د هغو کسانو چي ایمان نه لري پر آخرت، والمراد بهم المشرکون.

وَإِذَا ذُكِرَ الَّذِينَ مِن دُونِهِ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ۝

او هغه وخت چي ذکر کړل سي هغه شیان چي ماسوا د خدای ﷻ څخه دي یعني بتان، نو په دغه وخت کي دوی یعني کفار مکه خوشاله سي.

دروښ وایي: چي مظهري ؒ په نقل د بغوي ؒ په دې آیت کي وایي چي مقاتل او مجاهد ؒ وایي چي یوه ورځ علیه الصلوة والسلام د کعبې پر مقابل سورة والنجم تلاوت کاوه چي په هغه سورت کي واللات والعزی راغلی دی، شیطان دده د قرائت په دوران کي داسي وویل چي کافرانو هم واورېدل تلک الغرانیق العلی وان شفاعتهم لترتجی، نو کفار خوشاله سوه او ناري یې کړې لقد صالحنا محمد.

دروښ وایي: چي دا قصه په ډېر تفصیل سره په بل ځای کي تېره سوې ده.

دروښ وایي: چي البیضاوي ؒ بالغ في الامرین حتی بلغ الغایة فان الاستبشار ان یمتلی قلبه سرورًا حتی ینبسط له بشرة وجهه (یعني اثر د خوشالی یې پر مخ بنکاره سي) والاشمیزاز ان یمتلی غمًا وغضبًا حتی ینقبض ادیم وجهه انتهی.

قُلِ اللَّهُمَّ فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِي مَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ۝

ته ووایه یا محمد یا الله پیدا کونکی یې د اسمانو او د مځکي، علم لرونکی پر غیب او پر بنکاره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې اصل د اللّٰهم یا الله وٌ حرف نداء یې ځنې حذف کړی لکثرة نداء الله بهذه الکلمة عوض یې میم مشددة راوړی په اخیر کې اللهم سو، لکن دا حذف او ابدال له خواصو څخه د لفظ جلیل دی یعنې په نورو نومانو کې د خدای ﷻ داسې نه ده روا. کذا قال العلماء ای خدایه چې خالق د اسمانو او ځمکې یې او په غیب یعنې عن الناس او په حاضرو خلکو ته عالم یې.

پوه سه: چې خدای ﷻ خپل رسول ﷺ امر کړی چې التجاء او زاری کوه خدای ته چې علیه الصلوة والسلام حیران وٌ په امر کې د کفارو د مکې، وعجزه عن عنادهم واذیتهم له ﷺ او ډېر سخت طبعیت یې دده سره پر کار اچولی وٌ .. بیت:

چون فرود آید بلا بی دافعی ..... چون تضرع نبود دیگر شافعی

ترجمه: ته حکم کوې په منځ کې د بنده ګانو خپل ای بین المحق والمبطل، نو مرسته کوې د محق سره او رسوا کوې مبطل په هغه شي کې چې د دوی پکښې اختلاف دی یعنې التوحید والشرک، له ابی سلمة ؓ څخه روایت دی چې ما سوال وکړی له عائشة ؓ څخه چې په څه شي سره رسول الله ﷺ د شپې لمونځ یعنې تهجد شروع کاوه؟ دې ؓ راته وویل کان یقول اللهم رب جبرئیل ومیکائیل واسرافیل فاطر السمٰوات والارض عالم الغیب والشهادة ان تحکم بین عبادک فیما کانوا یختلفون اهدني لما اختلف فیه من الحق باذنک انک تهدي من تشاء الی صراط مستقیم.

دروښ وايي: چې مقصود له امر څخه بقوله تعالی "قل اللهم آه" بیان د حال د کافرانو دی او وعید د دوی دی، و تسلیة نبیه الاکرم ﷺ او دا ورته ویل دي چې ستا سعي معلومه ده او مقبوله ده عند الله عزوجل، او تعلیم دی مؤمنانو ته چې په وخت کې د سختۍ التجاء او زاری و خدای ﷻ ته کوئ باسمائه العظمٰی، وللّٰه در ای الخیر الکثیر الربیع بن خیثم ؒ چې له ده څخه چا پوښتنه وکړه په باره کې د قتل د حمزة ؓ، نو ده سړه ساه وکښل وتلا هذه الآیة "قل اللهم آه".

وَلَوْ اَنَّ لِلَّذِیْنَ ظَلَمُوْا مَا فِی الْاَرْضِ جَمِیْعًا

فائده: چونکه لو حرف شرط دی د دخول یې پر ان نه دی روا، نو له دې کبله بعض مفسرینو یې تقدیر داسې بیان کړی دی لو ثبت ان الخ، ترجمه: که چېرې وای هغه کسانو لره چې ظلم یې کړی دی هغه شیان چې په مځکه کې دي ټول.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې کلمه د لو امتناعیه ده مثل لو کان زید حمارًا لکان ناهقًا یعني سره د فرض ددې محال چې ما في الارض ومثله معه د کافرانو ظالمانو هم ملک سي لابه هم دوی له عذابه د ورځې د قیامت په فرضي فدیه سره به نه وای خلاص سوي وهذا وعید شدید او اقناط بلیغ لهم من الخلاص بهذه الفدیة.

وَمِثْلَهُۥ مَعَهُۥ لَٱفْتَدَوْا۟ بِهِۦ مِن سُوٓءِ ٱلْعَذَابِ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ

او مثل د هغه سره د ما في الامور دوی به د ځانو فدیه کړځولې وای د شدید عذاب په ورځ د قیامت کې.

وَبَدَا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مَا لَمْ يَكُونُوا۟ يَحْتَسِبُونَ ﴿٤٧﴾

او ښکاره به سي دوی ته هغه عذاب چې دوی یې په دنیا کې ګمان نه کاوه بلکې منکر وه، ولې چې دوی خو بعث بعد الموت نه مانه او نه یې هم ثواب بالجنة منی او نه یې هم عذاب بالنار مانه.

فائده: په دې آیت کې مبالغه شدیده ده په وعید کې د ظالمانو کما في قوله تعالى للمؤمنین بالوعد والثواب، قال عزوجل فلا تعلم نفس (ای مؤمنة) ما اخفی له من قرة اعین، مقاتلؒ وایي ظهر للظالمین حین بعثوا ما لم یحتسبوا في الدنیا انه نازل بهم في الآخرة، او بعض وایي چې مراد دادی چې ددوی خیال داؤ چې بتان به زمونږ شفاعت وکړي او هغسي نه وسوه، او یا به دوی ویل که بعث بعد الموت ؤ، او ثواب او عقاب ؤ، نو مونږ به احسن حالاً یو تر مؤمنانو کما في الدنیا لکن هغسي هم ونه سوه بلکې د عذاب شدید في النار سره مخامخ سوه.

وَبَدَا لَهُمْ سَيِّـَٔاتُ مَا كَسَبُوا۟ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٤٨﴾

او ښکاره به سي دوی ته هغه بد عملونه ددوی من الشرک والظلم علی اولیاء الله تعالی هغه وخت چې ددوی عملنامې په چپه لاس یا وراء ظهرهم دوی ته توزیع سي، او احاطه به وکړي پر دوی هغه عذاب النار چې دوی به په دنیا کې په هغه پسخند واهه، یعني چې مسلمانانو به دوی ته بیان کړی دوی به پر خندل او استهزاء په یې په کوله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي کلمه د ما یا موصوله ده او عائد یې محذوف دی ای الذي یستهزءون به (هذا هو المعائد المحذوف) یا ما مصدریه ده فافهم.

فَإِذَا مَسَّ الْإِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَانَا

چي ورسېږي انسان ته (مراد له انسان څخه جنس انسان دی په اعتبار د اغلب افرادو دده) یو ضرر لکه فقر یا مرض وغیر ذالک موږ ته خواست کوي په دفع کي د هغه ضر، یعني له بتانو څخه دفع نه غواړي، ولي دافع الضر خو فقط خدای ﷻ دی لیس الا هو.

پوه سه: چي دا جمله عطف ده پر هغه جمله واذا ذکر الله وحده الی اخیره.

پوښتنه: عطف بالفاء یې د څه حکمت لپاره وکړی؟

ځواب: لپاره د بیان د تناقض د دوی په دې جمله او د دوی د دمخه حال تر منځ چي د مخه حال خو د دوی دا ؤ چي ذکر الله وحده اشمأذت قلوبهم او چي ذکر د بتانو به مخ ته راغلی اذاهم یستبشرون، اوس چي ضر دوی ته ورسېدی معامله یې بالعکس کړه چي من اشماذوا به (یعني خدای ﷻ ته خواست کوي) دون من استبشروا به ته (یعني چي بتان دي)

پوه سه: چي د معطوف او د معطوف علیه تر منځ جملې جمل معترضه دي.

ثُمَّ إِذَا خَوَّلْنَاهُ نِعْمَةً مِّنَّا

وروسته چي موږ ورکوو هغه کافر ته چي زموږ څخه یې غوښتل او خواست د کشف الضر یې کاوه، یو نعمت زموږ له خوا څخه پر مبنی د تفضل بالعبادة.

پوه سه: چي تخویل خاص په نعمت پوري دی، کذا في کتب اللغة.

قَالَ إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَىٰ عِلْمٍ

دغه کافر وایي چي ماته چي دا نعمت یعني مال وغیره چي ورسېدی په سبب د دې چي زه د تجارت او د کسب په لارو چارو بلد پوهېدم یعني دا نه وایي چي خدای ﷻ راکړی، او د خدای ﷻ احسان یې منلی وای او د شرک قید د هغه نعمت یې وپښو ته اچولی وای کما قیل: النعمة صید وشکرها قید، او یا یې ترجمه داده چي زما علم ؤ پر دې چي ژر دی چي زه به نعمت پیدا کړم ولي چي زه یې مستحق یم، وبالفارسیة: خدا دانست که من مستحق این نعمت هستم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي والانسب بحال الكافر المعنى الاول كما لايخفى.

بَلْ هِيَ فِتْنَةٌ وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۸﴾

بلكې دا نعمت (فتنة) يعني امتحان دى د خداى ﷻ له خوا څخه چې ته يې شكر نه وايې سبب د عذاب ستا به وګرځي، لكن د هر خلګ چې كفار دي په حكمت الهي نه پوهيږي.

قَدْ قَالَهَا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

ويلې ده دغه كلمه (يعني انما اوتيته على علم) هغه كسانو چې تر دوى د مخه وه، يعني تر كفارو د مكې يا نور كافران د زمانې د عليه الصلوة والسلام، قال مقاتلؒ يعني قارون حيث قال انما اوتيته على علم مني.

سوال: قارون خو يو سړى وُ، نو ضمائر د جمع څرنګه ورته راجع سوه؟

ځواب: ضمائر د جمع راجع دي و قارون او و من رضى بقول قارون.

دروښ وايي: چې فقير قريبًا وويل چې توجيه اول انسب ده، دا آيت د هغې خبرې تائيد كوي كما لايخفى.

فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۵۸﴾

پس فائده ونه كړه يعني قارون او اتباعو ته دده هغه اموالو چې دوى كسب كړي وه، قال الله تعالى في بيان حال اموال قارون: من الكنوز ما ان مفاتحه لتنوء بالعصبة اولى القوة.

فَاَصَابَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا ۚ

نو ورسېده دوى ته جزاء د ما كسبوا.

پوښتنه: جزاء د بد عمل خو سيئه نه ده، نو سيئآت كلمه څرنګه استعمال سوه؟

ځواب: دا استعمال لپاره د مقابلې راغلى دى نحو جزاء سيئة سيئة بمثلها.

وَالَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْ هٰٓؤُلَآءِ سَيُصِيْبُهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا ۚ وَمَا هُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۵۱﴾

او هغه كسان چې ظالمان دي يعني كافران دي د دغو كسانو څخه چې اهل مكه دي، ژر دى چې وبه رسېږي دوى ته جزاء د سيئاتو د ما كسبوا لكه د مخه كفارو ته چې رسېدلې وه، او دوى خداى نسي عاجزه كولاى له ما اراد څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي کفارو د مکې اووه کاله قحط ورسېدی په سبب د بېپرا د علیه الصلوة والسلام، اللهم اعني بسبع کسبع یوسف، او رئیسان ددوی اوویا کسه وه په شمول د فرعون الامة ابوجهل په بدر کي ووژل سول، و ادخلوا النار الا من تاب وآمن منهم ای کفار مکة.

أَوَلَمْ يَعْلَمُوٓا أَنَّ اللَّهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ ۚ

آیا نه پوهېږي کفارد مکې چي خدایٔ فراخه کوي رزق و هغه چاته چي اراده د فراخی د رزق ورته وسي امتحانًا لشکره او تنګوي رزق و من یشاء ته ابتلاء لصبره.

پوه سه: چي استفهام انکاري دی والعطف بالواو علی مقدر مناسب تقدیره ایقولون هذا القول یعني انما او تیته علی علم ولم یعلموا ان توسعة الرزق وتزیقه من الله قد یوسع الرزق لمن لایعلم وجوه الکسب ولیس له استحقاق الکرامة اصلاً وقد یضیق علی ذالک کما هو ثابت بالتجربة المتواترة.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ۝

په تحقیق په دغه قبض او بسط کي د رزق دلائل دي پر دې چي حوادث ټوله په قدرت کي د خدای ﷻ دي او اسباب بناء پر عادت ظاهري دي .... بیت:

کلید نیست در دست کس ..... توانایی مطلق خدایست وبس
کم عاقل عاقل اعیت مذاهبه ..... وجاهل جاهل تلقاه مرزوقًا
هذا الذی ترک الاوهام حائرة ..... وصیر العالم النحریر زندیقًا
هرچه باید بهر که میشاید ..... تو دهی انکه می اید
تو شناسی صلاح صلاح کارهمه ..... که تویی آفرید گار همه

پوه سه: چي عاقل ته په کار ده چي خدای ﷻ ته په شدت او رخا کي متوجه وي اضطراري عجز او محبت او التجاء و خدای ﷻ ته په درد نه خوري لکه د کافرانو عجز چي په مخني آیتو کي تېره سوه، وفي الحدیث تعرف الله في الرخاء لیعرفنک في الشدة، بخاري او مسلم رحمهما الله تعالی روایت کړی دی چي بعض اهل الشرک نا حق مړي کړي وه او ډېري زناوي یې کړي وې، نو علیه الصلوة والسلام ته راغله او وه یې ویل چي دغه دین چي ته موږ دور بولې دا خو ښه دین دی که موږ ته دا خبر راکړې چي زموږ کړي کارو لره یوه کفاره سته او که څرنګه، نو دا آیت نازل سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ

ته ووایه یا محمد (ﷺ) ای زما بندګانو.

پوه سه: چې دا قرائت دی د لاري د ابو عمرو او یعقوب، او همزه او کسائي ؒ یې په سکون د یاء وایي، او چې د الذین سره وصل وکړي یا حذف کوي لاجتماع الساکنین، او نور قراء یې په فتح د یاء وایي کما هو المتعارف في المصاحف المطبوعة.

پوه سه: چې ابن ابی حاتم په صحیح سند د ابن عباس ؓ څخه روایت کړی دی چې دا آیت په شان کې د مشرکینو د مکې نازل سوی دی لکه په حدیث کې د بخاري او مسلم چې تېره سوه، او بعض مفسرینو په سند ضعیف سره راوړی دی چې دا آیت په شان کې د وحشي قاتل همزه ؓ نازل سوی دی فلا حاجة الی نقله لانه یثور منه الفتنة في شان القرآن العزیز ان شئت فطالع تفسیر المظهري وروح البیان، او بغوي ؒ وایي انه روی عن ابن عمر ؓ چې دا آیت په شان کې د عیاش بن ربیعة والولید بن الولید ونفر من المؤمنین چې دوی اسلام راوړی ؤ یا کفارو د مکې دوی ته قسم قسم عذابونه ورکول یعني چې یرته خپل قدیم دین یعني الشرک ته راواوړئ او هغو هغسي هم وکړه یعني شرک یې مختاره کړی، نو مورږ مسلمانانو به ویل چې ددې کسانو به هیڅ عبادت خدای ﷻ قبول نه کړي، نو عمر ؓ په خپل لاس دا آیت نوشته کړی او و عیاش بن ربیعه، ولید بن ولید او هغه نورو کسانو ته یې ورواستاوه، هغو یرته اسلام راوړی او هجرت یې و مدینې ته وکړی، والله اعلم.

پوه سه: چې راغب اصفهاني وایي چې سرف تجاوز دی ترحد في کل ما یفعله الانسان چې کفر او معاصي دي، او بغوي ؒ له ابن عمر ؓ څخه روایت کړی دی چې مراد له اسراف څخه کبائر ګنهونه دي، راغب ؒ وایي چې که څه هم دا لفظ د اسراف په انفاق مالي کې متعارف دی لکن دا آیت عام دی که اسراف في الاموال وي او که غیروي لکه کفر او معاصي کبیره لکه زنی والسرقة وغیرهما انتهی قول الراغب ؒ مع زیادة.

لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ

مه ناامیده کیږئ له رحمت او مغفرت څخه یعني اذا امنتم وتبتم من الشرک، دا قید په دې ایت ثابت دی ان الله لا یغفر ان یشرک به الآیة، او اجماع د امة مرحومه هم پر دغه ده، او بل د هغو روایاتو څخه چې په شان نزول کې ددې آیت تېره سوه هم دا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ښکاره خبره ده چې د شرک په باره کې توبه له شرک څخه شرط د مغفرت ده، نو حاصل د آیت دادی چې تاسي ایمان راوړل په دې سبب مه پریږدئ چې نا امیدي کوئ د خدای ﷻ د رحمت او د مغفرت د تېرو ګنهو یعني په وخت کې د شرک.

إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿٥٣﴾

یعني صغائرها و کبائرها، اذا تبتم من الشرک و امنتم بالله وحده فان الاسلام یهدم ماقبله کما في حدیث، رواه مسلم عن عمرو بن العاص رضي الله عنه عن النبي ﷺ.

فائده: شان نزول د دې آیت که څه هم خاص دی کما مر یعني من ارتکب الکبائر حال الشرک ثم اسلم لکن اعتبار عموم لره د لفظ دی یعني بنده چې اسلام راوړي که څه هم کبائرو ګنهونه وکړي بعد الایمان امید د مغفرت د خدای ﷻ دي دلاسه نه ورکوي یعني قنوط دي نه کوي کما جاء في الآیة، که یې څه هم له هغو ګنهو څخه توبه نه وي کښلې، کریمه: ان الله لایغفر ان یشرک به ویغفر مادون ذالک لمن یشاء، او له وروسته آیت څخه هم دا فهمیږي یعني (انه هو الغفور الرحیم) ولي چې په دې آیت کې تاکیدات دي (۱) کلمة ان (۲) ضمیر فصل چې پر حصر دلالت کوي (۳) وعده په رحمت سره بعد المغفرة.

دروېش وایي: چې علامه بغدادي ؒ اوولس (۱۷) دلیلونه د عموم د مغفرت بعد التوبة عن الشرک راوړي دي فارجع الی تفسیره، او تفسیر مظهري هم یو څو دلیلونه راوړي دي فارجع الیه ... ابیات:

ندارم هیچ گونه توشۂ راه ..... بجز لاتقنطوا من رحمة الله
تو فرمودی که تو میدی مبارید ..... ببخشا زانکه بس امیدواریم
ایمد دردمندان را دوا کن ..... دل امیدواران را رها کن

عبد الرحمن الجامي قدس سره ویلي دي:

بلی نبود درین ره نا امیدی ..... سیاهی رابود رو در سفیدی
ز صد دردی گر امیدت نیابد ..... بنو میدی جگر خوردن نه شاید
دردیگر بباید زد که ناگاه ..... ازان در سوی مقصود اوری راه

روی في الحدیث الصحیح ان الله یقول یوم القیامة لبعض المؤمنین (یعني اراده د مغفرت ورته لري) سترتها علیک في الدنیا (ما پټ ساتلي وه ستا ګنهونه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په دنیا کي) و انا اغفرها لک الیوم (نن یې زه دربخښم) داسي نور احادیث هم سته چي پر مغفرت بلا توبه دلالت کوي.

پوښتنه: د شرک او نورو ګنهو څه فرق دی چي شرک بلا توبه عنه نه بخښل کیږي، او نور کبائر بلا توبه بخښل کیږي په اراده د خدای ﷻ؟

ځواب: فرق یې دادی چي کافر خو خپل دین حق بولي که شرک وي او که یهودیت وي او که نصرانیت وي، بلکې دین د اسلام نعوذ بالله حق نه بولي، نو طلب د عفو او مغفرت نه کوي.

دروېش وایي: چي معالم التنزیل چي یو تفسیر دی په فارسي ژبه او لغت، او په تفسیر مظهري کي چي عبارت یې عربي دی د دواړو د پښتو ژباړه داده چي لبن مسعود ؓ یو مسجد ته ورغلی یو واعظ وعظ کاوه او د دوزخ سلاسل او اغلال یې بیانول، ابن مسعود ؓ ورته وویل چي ولي خلګ د خدای ﷻ له رحمت څخه نا امیده کوې، تا په قرآن کي دا آیت نه دی ویلی: قل لعبادي الذین اسرفوا علی انفسهم لا تقنطوا من رحمة الله آه، په صحیح حدیث کي راغلي دي: ان الله یغفر الذنوب جمیعًا ولا یبالي انه هو الغفور الرحیم.

دروېش وایي: چي ورته احادیث مقید په ان شأ سره دي (یعني که اراده وکړي) رواه احمد والترمذي.

مسئله: په اجماع سره دا ثابته ده چي توبه د کافر او توبه د مؤمن عاصي تر وخته پورې د غرغرې د روح قبلیږي، او په حال د غرغرې نه قبلیږي، ولي چي فرعون او قوم ددې چي په بحر کي خدای ﷻ غرق کړه، نو فرعون چي دا وبو څپې راپورته کړې داسي یې وویل: لآ الا الا الله الذی آمنت به بنوا اسرائیل، لکن جبرئیل ؑ په خوله کي خټ ور تخته کړې، یحیٰی بن معاذ ؒ وایي چي په کتاب الله کي خزانې دي چي سبب به ان شاء الله تعالی د عفو د هولو مؤمنانو وګرځي چي یو یې دا آیت دی: یا عبادي الذین اسرفوا الآیة، او بل علماء وایي چي د اهل التوحید لپاره د هر د امید ایت په قرآن کریم کي دا ایت دی ان الله لا یغفر ان یشرک به ویغفر ما دونک ذالک لمن یشاء، او بل دا آیت دی ولسوف یعطیک ربک فترضیٰ.

شیخ سعدي قدس سره وایي:

عطای شفاعت چنانش دهند ..... که امت تمامی ز دوزخ رهند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وتفصيل قوله تعالى ولسوف يعطيك ربك فترضى دادی چي هر نبي مرسل مظهر دی د بعض احکامو د رحمت د خدای ﷻ، نو له دې کبله رسالت د هغو مقيد او حصرؤ پر يوه طائفه باندي، لکه د موسى او عيسى عليهما السلام مقصود پر بني اسرائيلو ؤ، لکن چونکه نبينا ﷺ مظهر د حقيقت رحمت الهي ؤ نو ځکه دده رسالت عام ؤ عرب او عجم، انس او جن، ترک و تاجک ټوله پکښې شامل وه، قال الله تبارک وتعالى خطابًا لنبيه ﷺ وما ارسلناک الا رحمةً للعالمين وتم ظهور حکم رحمانيته تعالى بالشفاعة التي بها تظهر سيادته على جميع الناس حتى چي چاته چي درجه د شفاعت او اذن د شفاعت ورکړل کبرې من الملائكة والانبياء والاولياء وغيرهم من المؤمنين شفاعت نسي کولای چي اول عليه الصلوة والسلام شفاعت ونه کړي، کريمه: عسى ان يبعثک ربک مقامًا محمودًا چي مراد ځني مقام د شفاعت کبرى دی فلا تقنطوا ايتها المرحومة من رحمته تعالى المطلقة ان يغفر الله الذنوب جميعًا.

درويش وايي: چي د لوی اميد د مغفرت د خدای ارحم الراحمين بعض احاديث صحيحه واورئ (۱) د عبدالله بن عمر ؓ څخه روايت دی، ده وويل چي موږ په بعض غزاؤ کي د عليه الصلوة والسلام سره ملګري وو فمر بقوم، فقال عليه الصلوة والسلام من القوم (تاسي څوک ياست يعني مسلمانان ياست که کافران) قالوا نحن مسلمون، نو په دغه قوم کي يوه ښځه وه کتو يې باندي کړې وه او اور پسي بل ؤ، ددې ښځي سره يو کوچنی زوی ورسره ؤ، نو چي د اور لمبې به لوړي سوې دې به دا کوچنی را لپرې کړی، نو له اور څخه دا ښځه و عليه الصلوة والسلام ته راغله او داسي يې ورته وويل: انت رسول الله؟ قال "نعم، قال بابی انت وامي (زما پلار او مور دي ترتا قربان سي)

درويش وايي: چي دا يو داسي کلمات دي چي عرب يې په غايت تعظيم کي د چا استعمالوي) قالت: اليس الله بارحم الراحمين؟ (آيا خدای ﷻ تر هر مهربان مهربان نه دی؟) قال ﷺ بلى، بيا دې ښځي وويل چي خدای ؒ ارحم پر خپلو بندګانو نه دی تر مور پر خپل خيال؟ قال ﷺ بلى، دې ښځي وويل چي مور خو خپل زوی و اور ته نه اچوي، فاكبّ رسول الله ﷺ يبكى (سر يې کښته ؤ ژړل يې)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثم رفع رأسه اليها، فقال ان الله لايعذب من عباده الا المارد التمرد (يعني سر کښه) او عالي الذي يتمرد على الله وابى ان يقول لآ اله الا الله، رواه ابن ماجه.

(۲) عن ابى ذر رضي الله عنه ده وويل قال رسول الله ﷺ ما من عبد قال لآ اله الا الله ثم مات على ذالک الا دخل الجنة، قلت وان زنى وان سرق؟ قال عليه السلام وان زنى وان سرق، قلت وان زنى وان سرق، قال عليه السلام وان زنى وان سرق، قلت وان زنى وان سرق، قال عليه السلام وان زنى وان سرق على رغم انف ابى الذر (كه څه هم ستا پزه په خاورو سي)

دروښ وايي: چي دا يوه محاوره ده چي په وخت کي د منت پر چا يې عرب اسعمالوي.

(۳) ابو داؤد له عامر الرام رضي الله عنه څخه داسي حديث رانقل کړی دی چي مورږيو ورځ د نبي کريم ﷺ سره ناست ؤ چي يو سړی راغلی چي کسا (پټو) يې پر ځان پېچلی ؤ او په لاس کي يې يو شی ؤ چي پټو يې پر اچولی ؤ، فقال يا رسول الله ﷺ زه پر يو ځنګله د درختو تېرېدم نو ما د يو مرغه د بچيانو اواز واورېدی، نو ما د هغه مرغه بچيان له ځالګی څخه را واخستل په پټو کي مي کښېښول موريې راغله شا وخوا زما پر سر ګرځېده له ما له پټو څخه د دوی بچيان وربښکاره کړه مور يې پر بچاينو را غوځاره سوه، نو ما يې مور د بچيانو سره په پټو کي وپېچل، دغه دی مور او بچيان يې تول زما په پټو کي دي، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي ته يې کښېږده، هغه چي کښېښول موريې که څه هم له قيده څخه خلاصه سول خو بيا هم له عيال څخه نه تله، فقال رسول الله ﷺ، وګورئ و رحم ته د ام الفراخ (چيچيان) د خپل فراخ سره فو الذي بعثني بالحق (زما دي په هغه خدای سره قسم وي چي زه يې په حقه سره نبي را استولی يم) الله ارحم بعباده من ام الفراخ بفراخها، وروسته عليه الصلوة والسلام وويل هغه سړي ته چي يو سه د غه چيچيان په هغه ځای کي يې کښېږده چي تا را اخستي دي، موريې په هوا ورسره روانه وه.

(۴) بغوي رحمه الله له ضمضم بن حوشب رحمه الله څخه روايت کړی دی چي ده وويل چي زه چي داخل سوم و مسجد نبوي ته په مدينه منوره کي، نو يو شيخ چي مانه پېژندی را ناري کړې يا يماني تعالي (دلته راسه) زه چي ورغلم ده راته وويل چي ته به هيڅ مسلمان ته (يعني که هر ګناه کار وي) داسي نه وايي والله لايغفر لک ولايدخلک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الجنة (يعني چې په يوه سخته ګناه مبتلی وي) دی وايي چې ما ورته وويل چې ته څوک يې يرحمک الله؟ ده راته وويل ابو هريره يم، ما ورته وويل چې دا کلمه خو وايي احدنا لبعض اهله اذا غضب (چې درد ورسي) يا يې ماينې ته وايي يا خادم ته) ابو هريره رضي الله عنه راته وويل سمعت رسول الله ﷺ يقول ان رجلين من بني اسرائيل متحابين (سره اشنايان وه) يو يې مجتهد في العبادة وُ او هغه بل ګناه کارؤ، نو دې مجتهد في العبادة به هغه مذنب ته ويل چې توبه وکاږه دا ګناه مه کوه، مذنب به ورته ويل چې ما وُ خدای سره پرېږده، حتی چې مجتهد في العبادة مذنب پريوه سخته ګناه وليدی، بيا مجتهد ورته وويل چې دا ګناه پرېږده، مذنب ورته وويل خلني وربي (ما و خدای سره پرېږده) ته خو پر ما رقيب نه يې استول سوی يعني د خدای له خوا، نو مجتهد ته درد ورغلی او وه يې ويل والله لايغفرنک الله ابدًا ولا يدخلنک الله الجنة ابدًا، نو خدای ﷻ ملکه ورته را واستول د دواړو روحان يې قبض کړه يعني دواړه مړه سوه، نو د خدای ﷻ په حضور کې دواړه حاضر کړل سوه، فقال للمذنب ادخل الجنة برحمتي، او هغه مجتهد في العبادة ته يې وويل چې ستا په طاقت دا پوره ده چې ته منع کړې زما له بندګانو څخه زما رحمت؟ هغه ورته وويل لا يا رب، فقال اذهبوا الى النار، الى اخير الحديث.

(۵) عن ابی سعيد الخدري رضي الله عنه عن رسول الله ﷺ چې په بني اسرائيلو کې يو سړی وُ چې نهه نيوي (۹۹) کسان يې بغير حق وژلي وه، ثم خرج الى راهب (راهب ته دپوښتنې لپاره ورغلی ځکه چې په زړه کې يې پښېماني ورګرځېدلې وه لکن په دې فکر جنۍ وُ چې نهه نيوي مړي به په توبه بخښل کېږي که يا) فسأله راهب، نو د راهب څخه يې پوښتنه وکړه، راهب ورته وويل ليس لک توبة (پښتانه وايي: سر څخه په لوټه سپېره څه په ډبره) نو هغه راهب يې هم قتل کړی، سل پوره سوه، بيا يې هم په زړه کې پښېماني کوله، نو د بنه عالم پوښتنه يې کوله يو چا ورته وويل چې فلاني ته ورسه له هغه څخه پوښتنه وکړه چې هغه ډېر برجسته عالم دی، نو اجل ورسېدی لکن په حال کې د زکندن يې ځيګر د هغې قريې و خواته کړی چې کوم عالم ته دی ورتلی، نو چې مړ سود ملکو د رحمت اود ملکو د عذاب پکښې اختلاف وُ چې کوم قسم به يې روح وړي يا اسمانو ته يا اسفل السافلين ته، نو د خدای ﷻ امر ورته وکړل سو چې تاسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دا مځکه دده د مړينې له ځای څخه تر کوره پورې يعنې چې ده په هغه کلي کې سل مړي کړي وه او د مرګ له ځای څخه د هغې بلې قريې چې دی د تو بې لپاره ورتلی، حقيقةً خو دی د خپل کلي و خوا ته نژدې وَ. لکن خدای ﷻ وحي وکړې و هغه مځکې ته چې دی د عالم و خوا ته وه چې يو څه سره کش سه، او د هغه بلې قريې و مځکې ته يې حکم وکړی چې يو څه سره نژدې سه، نو ورو سته چې ملکو د رحمت او ملکو د عذاب مځکه سره کچه کړه نو هغه د عالم قريې ته يې وه لو ښت نژدې وُ فغفرله، او ملکو د رحمت يې روح يووړی.

دروښ وايي: چې د دې محکمې سر دادی چې په حديث نبوي کې راغلي دي الندم هو التوبة، لقوله تعالى ان الله هو التواب الرحيم.

(٦) و عن ابی هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ ان الله عزوجل ليرفع الدرجة للعبد الصالح في الجنة فيقول، دا بنده و وايي چې زما درجه له کوم سببه څخه پورته ده؟ خدای پاک ورته و وايي باستغفار ولدک، رواه احمد.

(٧) و عن ابن عباس ﷺ ده و ويل قال رسول الله ﷺ مړي په قبر کې داسې دي لکه يو سړی چې په اوبو کې غرق سي او مدد غواړي انتظار کوي د يو ې دعاء يعني الاستغفار من اب او ام او اخ او صديق چې دعاء ور ورسېږي کان احب اليه من الدنيا و مافيها، او خدای ﷻ داخلوي پر اهل قبور باندې په سبب د اهل الارض (يعني په سبب د مځکې و لو من الاقارب و غيرهم) امثال الجبال او هديه د ژوندو مړو ته الاستغفار لهم، رواه البيهقي في شعب الايمان.

(٨) و عن ابی ذر ﷺ قال قال رسول الله ﷺ ان الله ليغفر لعبده مالم يقع الحجاب، قالوا يا رسول الله و ما الحجاب؟ قال ان تموت النفس و هي مشركة، رواه احمد و البيهقي.

(٩) روايت کړی دی بخاري او مسلم عن ابی هريرة ﷺ قال سمعت رسول الله ﷺ چې ده مبارک و ويل: چې خدای ﷻ خپل رحمت سل (١٠٠) جزء کړی دی نهه نيوي (٩٩) جزئ يې له ځان سره ساتلي دي يعني د رحمت پر بندګانو په ورځ د قيامت، او يو جزء يې په مځکه کې نازل کړی دی، نو له يوه جزء څخه خلائق د مځکې يو پر بل رحم سره کوي (يعني که ذوی العقول دي که نور حيوانات دي)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حتى ترفع الدابة حافرها عن ولدها وهو يمص ان تصيبه، يعني تر دې پورې چې دابه يعني غوا، مېږ وغيرهما پورته کوي خپل نوک يعني پښه د خپل بچي څخه هغه وخت چې دا بچی د مورتی روي، ان تصيبه (يعني كراهة ان تصيبه) اى الولد.

درويش وايي: چې علماء وايي چې په دې حديث کامله کې رجاء او زېرى دى د مؤمنانو لپاره لانه قد حصل من رحمة واحدة هغه چې تر سو آنګا په حديث شريف کې فما ظنک په نهه نيوي (۹۹) کې.

درويش وايي: چې د اميد په باره کې د مغفرت د رب العزة په ورځ د قيامت نور احاديث صحيحه هم ستد، که د تطويل ېيره نه وای هغه به هم رانقل کړل سوي واى، لکن با اين همه سعدي شيرازي قدس سره وايي:

بنده همان به که ز تقصير خويش عذر بدرگاه خدا آورد
ورنه سزاوار خداوندیش کس نتواند که بجا اورد

وَأَنِيبُوٓا۟ إِلَىٰ رَبِّكُمْ

او رجوع وکړئ و رب ته ستاسي، مظهريؒ وايي بالتوبة من الشرک، او روح البيان وايي ارجعوا بالتوبة من المعاصي انتهى، يعني مطلق معاصي يې ويلي دي په شرک سره يې نه دي مقيد کړي، والاولى ما ذكره المظهريؒ بقرينة قوله تعالى ثم لاتنصرون ولي د مؤمن عاصي خو په شفاعت د عليه الصلوة والسلام وغيره من اتباعه نصرت کېږي.

وَأَسْلِمُوا۟ لَهُۥ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَكُمُ ٱلْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ﴿٥٤﴾

(واسلموا له) اى انقادوا او اخلصوا العمل لوجه الله فمعنى السالم الخالص من الرياء والنفاق) دمخه تر دې چې عذاب تاسي ته راځي يا په قبر کې يا بالبعث، ولي چې په هغه وخت کې ايمان فائده نه کوي، بيا ستاسي سره کومک نه کړل کېږي، دا جمله عطف ده پر محذوف، والتقدير تعذبون ثم لاتنصرون ... بيت:

تو پيش از عقوبت در عفو کوب ..... که سودی ندرد فغان زير چوب

وَٱتَّبِعُوٓا۟ أَحْسَنَ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُم

او تاسي متابعت وکړئ يعني په حلال او حرام د هغه شي چې نازل کړه سوى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی تاسي ته، یا مراد ځني قرآن کریم دی لانه احسن من کل کلام، کریمه: الله نزل احسن الحدیث، الآیة، یا مراد عزیمت او رخصت دی یعني په عزیمت عمل کوه لکه روژه په سفر کي چي مستریح سفر وي که څه هم خوړل د روژې رخصت دی.

مِّن قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَكُمُ الْعَذَابُ بَغْتَةً وَّاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ۝

دمخه تر دې چي تاسي ته راځي عذاب یعني د خدای ﷻ له خوا څخه او حال به دا وي چي علم په وخت د مجئ نه لري، په پښتو وایي: نابیره، په فارسي وایي ناگاه، په اردو وایي اچانک.

پوه سه: چي عذاب یې مقید کړی په بغتة سره، له دې سببه چي بغتة عذاب پر سړي دپر بد تاثیر کوي.

دروښ وایي: چي بعض مفسرین وایي چي مراد له عذاب بغتة څخه مرګ دی لانه مفتاح العذاب الاخروي کما ورد من مات فقد قامت قیامته یعني د مړي قیامت له قبر څخه دده شروع کېږي که څه هم لوی قیامت نه دی ولهذا قید: بالضمیر الراجع الی من یعني في قوله من مات ویدل علیه قوله ﷺ القبر روضة من ریاض الجنان او حفرة من حفرات النیران.

اَنْ تَقُوْلَ نَفْسٌ يّٰحَسْرَتٰى

دروښ وایي: چي روح البیان وایي چي ان تقول مفعول له دی د افعالو سابقه؛ یعني الانابة والاخلاص واتباع القرآن یعني افعلوا ما ذکر من المأمورات کراهة ان تقول آه، او مظهري ؒ هم ورته خبره کړې ده ای کراهة ان تقول، لکن زمخشري صاحب الکشاف چي معتزلي دی هم یې دا تقدیر راوړی دی ای کراهة ان تقول او زیاته کړې یې ده وهو منصوب بفعل محذوف یدل ما قبله ای انذرکم وامرکم باحسن ما انزل الیکم کراهة ان تقول آه، لکن دا دي ستا په یاد وي چي مراد له کراهت څخه د خدای ﷻ چي په دې آیت کي ذکر دی خلاف د رضا دی یعني خدای ﷻ وایي چي په دې راضي نه یم ان تقول، دا معنی نه ده چي ان تقول زما د ارادې خلاف دی لکه معتزله او صاحب کشاف چي وایي چي خلاف د اراده د خدای ؒ روا دی، دوی وایي چي خدای ؒ له کافر څخه اراده د ایمان لري او له عاصي څخه اراده د طاعت لري؛

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکن شیطان یې و اسلام او اطاعت ته نه پریږدي، نو کافر یا یې عاصي وګرځوي، وتفصیل هذه المسئلة وایراد دلائل المعتزلة والجواب عنها من جانب اهل السنة والجماعة في شرح العقائد النسفي وشرح المقاصد کلاهما للعلامة الثاني سعد الملة والدین التفتازاني ؒ، وکذا في المواقف للقاضي عضد الملة والدین وشرحه للسید الجرجاني وغیرها من کتب علم الکلام.

پوه سه: چې نفس یې نکره راوړی ددې سببه چې قائل د وروستنی خبرې خو بعض نفس دی یعنی الکفرة، او تاد تنکیر لپاره د تکثیر ده، ولي کافران په اکثرو زمانو کې دې پرې دي تر مؤمنانو وهم القائلون لهذا القول.

پوه سه: چې حسرت په لغت کې غم ته وایي، اصل یې یا حسرتي ؤ یا یې په الف بدله کړه لکن په وخت کې د استغاثة تخفیفًا لکثرة وقوع الاستغاثة او لمد الصوت المقصور في الاستغاثة، او بعض اوقات وروسته تر الف یا د متکلم هم راوړي یعني یا حسرتای چې ابو جعفر دلته هم داغسې قرائت کړی دی.

دروښ وایي: چې چې دا کلمه عرب په وخت کې د شدة غم وایي او نداء و حسرت مجاز ده، والمعنی چې یې غمه راځه چې وخت دي دی، ونحوه واویلاه یا ندامتاه یا اسفا.

عَلٰى مَا فَرَّطْتُّ فِيْ جَنْۢبِ اللّٰهِ وَاِنْ كُنْتُ لَمِنَ السّٰخِرِيْنَ ۙ

کلمه د ما مصدریه ده ای علی تفریطي وتقصیري، د جنب الله معنی الحسن ؒ په طاعت الله سره کړې ده او مجاهد ؒ وایي في امر الله سعید بن جبیر وایي في حق الله.

دروښ وایي: چې مآل د ټولو معناؤ چې مفسرینو کړی دی یو دی.

پوه سه: چې ان مخفف دی ان په تشدید د نون اسم د ان ضمیر شان دی محذوف (یعني انه شان دادی) کنت لمن الساخرین یې خبر ده.

پوه سه: چې فرق په منځ کې د ان شرطیه او مخففه لام دی یعني په لمن الساخرین کې.

ترجمه: شان دادی چې زه وم یعني په دنیا کې پسخنډ وهونکی او تکذیب کونکی په دین د خدای ؒ او په کتاب د خدای ؒ او په رسول د خدای ؒ او په مؤمنانو او دا جمله منصوب محلاً ده حال ده له ضمیر څخه د فرطت یعني فرطت حال کوني کنت الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَوْ تَقُوْلَ لَوْ اَنَّ اللّٰهَ هَدٰىنِيْ لَكُنْتُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ۝

یا به وایي دا نفس که ما ته خدای ﷻ په نصیب کړی وای هدایت زه به له شرک او معاصیو څخه له پرهیز کونکو څخه وای.

اَوْ تَقُوْلَ حِيْنَ تَرَى الْعَذَابَ لَوْ اَنَّ لِيْ كَرَّةً فَاَكُوْنَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ۝

او یا به وای دا نفس چې وویني عذاب یعني دوزخ په ستر ګو کاشکي ما لره رجوع وای و دنیا ته (فاکون) منصوب دی بعد الفاء جواب د تمنّی دی زه به وای له احسان کونکو څخه په عقیده کي د توحید او عمل په مقتضیٰ د توحید سره.

فائده: پوه سه! چې راوړل د کلمه د "او" څو ځایه ددې لپاره دی چې کافران دغه خبري کوي یا د حیرت له کبله یا د بهانو لپاره لکن دا خبري دوی ته هیڅ فائده نه کوي. په صحیح حدیث کي راغلي "ما من احد یدخل النار حتی یری مقعده من الجنة" یعني که چېرې مؤمن وای نو دي دغه خبره وکړي او ان الله هداني لکنت من المتقین.

بَلٰى قَدْ جَآءَتْكَ اٰيٰتِيْ فَكَذَّبْتَ بِهَا وَاسْتَكْبَرْتَ وَكُنْتَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ۝

دروښ وایي: چې اول ددې سوال جواب ضروري دی چې بلیٰ خو خاص ده په ایجاب پورې د نفي یعني نفي سابق مثبت ګرځوي کما في قوله تعالی الست بربکم (زه ستاسي خدای نه یم؟ دا نفي دی) قالوا بلیٰ (هو ته زمونږ خدای یې، دا اثبات دی) نو سوال دا دی چې یوه د مقالاتو د کفارو خو نفي نه وې، نو څرنګه خدای ﷻ رد پر دوی په بلیٰ سره وکړی؟

ځواب: په نفي سابق تر بلیٰ نفي صریح شرط نه دی باتفاق النحات بلکې نفي ضمني هم کافي دی، نفي ضمني په اول قول کي ددوی سته یعني لو ان الله هداني لکنت من المتقین، لان کلمة لو لامتناع الثاني لامتناع الاول کما تقرر في النحو، نو ددوی د قول حاصل دا دی لکن ما هداني الله (دا نفي ضمني چې له کلمې څخه د لو وفهمېدی) نو حاصل د جواب د خدای ﷻ او رد پر دوی چې هو ما هدایت ورکړی وُ، ولي مراد له هدایت څخه د دوی څه شی دی، که مراد ددوی ارائة الطریق وي یعني (یعني چې موږ ته د حق لارښوونکي نه وه) نو معنی د بلیٰ دادې چې هو ما لار د حق درښوولې وه، ولي چې ما رسول در استولی وُ او زما کتاب هم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درغلی ؤ فکذبت بها (په هدایت زما تاسي تکذیب وکړی) او که مراد دا وي بها (ای بالهدایة چي نفي وکړي) خلق د هدایت په دوی کي او ایصال الی المطلوب وي (یعني جبراً) نو دا خو دوی بناء کړه پر جبر یعني موږ به دي پر ایمان راوړلو مجبور کړي وای، نو ددې معنی خو داده چي موږ قدرت نه درلودی پر کسب د ایمان او طاعت، نو حاصل د جواب او رد د خدای ﷻ په بلی دادی چي هو ما په تاسي کي قدرت د کسب د ایمان پیدا کړی ؤ (یعني بالغ وي یا عاقل وي) نو باید تا په خپل خدا داده عقل سره په معجزاتو کي د رسول غور کړی وای. ولي مبنی د ثواب او عقاب پر قدرت کاسبه ده، فکذبت باختیارک لما جائت ایایی.

فائده: دا قدرت کاسبه د بنده منافي ددې سره نه دی، چي خالق د افعالو د بندګانو خدای ﷻ دی کما هو مذهب اهل السنة والجماعة خلافًا للمعتزلة چي دوی خالق د افعالو د بندګانو بندګان بولي.

دروښ وایي: چي فرق په منځ کي د قدرت کاسبه او خالقه دقیق دی کامل بیان یې خو په کتابو کي د علم کلام لکه شرح العقائد و شرح المقاصد للعلامة التفتازاني وغیرهما من کتب علم الکلام لکن ما لایدرک کله لایترک کله، فرق داسي دی لکه یو سړی چي د بل لاسونه او پښې وروتړي له یوه ځایه څخه یې بل ځای یوسي چي په اوسنی زمانه کي یې اغواء (سړي تښتونه) بولي دا مثال دی د قدرت خالصه، یا استاذ و شاګرد ته یا شیخ و مرید ته ووایي چي ولاړ سه له بازاره فلانی شی راوړه، نو که څه هم د شاګرد یا مرید دلاسه نه کیږي لکن په مراعات د استاذ یا د شیخ هغه کار یعني شی له بازاره په خپل اختیار راوړي، دا مثال دی د قدرت کاسبه، وعلی هذا فقس وعلیک بالتدبر التمام في هذه المثال.

دروښ وایي: چي دلته یو دقیق سوال پیدا کیږي چي دا قول د خدای ﷻ بلی قد جائتک آیاتی الخ خو جواب د هغه قول د قائل دی "لو ان الله هداني لکنت آه" نو دا دوه قوله د کافرانو یعني یا حسرتی علی ما فرطت آه چي دمخه تر لو ان الله هداني آه دي، او دا قول د کافرانو لو ان لي کرة آه چي تر لو ان الله هداني لکنت آه، چي دا آیت جواب دی ولي یې سره جلا کړه په لو ان لي کرة یعني چي جواب د لو ان الله هداني آه جواب یې وروسته کړی تر لو ان لي کرة آه دځه حکمت له مخه په جواب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د لو هداني ان الله يعني بلى قد جائتک آياتي آه يې متصل په هغه پوري نه راوړی.
او يا يې ولي جمله د لو ان هداني الله آه وروسته تر ان لي کرة نه راوړه تا چې جواب
اورد د هغې جملې چې دا آيت د بلى قد جائتک اياتي آه پوري متصل سوی واى؟

ځواب: دا دري جملې هره يوه په خپل ځاى کې ده يعني له جهته ځخه د معنى
يعني چې تحسر پر تفريط چې د هغې جملې مدلول دى يا حسرتا على ما فرطت آه په
وخت کې د ورکولو د صحائف الاعمال دى كما يدل عليه مواضع من القرآن العظيم،
او دليل د کافرانو په طور د بهانې چې موږ ته که خداى هدايت کړى واى چې مدلول
د هغه آيت دى لو ان الله هداني آه دا هغه وخت دى چې کافران و وينې په سترګو حال د
متقيانو چې جنتونه روان دي، نو يې غبطه په وسي، نو وايي لو ان الله هداني لكنت
من المتقين، او تمنّى د رجوع و دنيا ته هغه وخت دوى کوي چې د دوزخ پر غاړه و
درول سي لپاره د وقوع په دوزخ کې، نو دوى وايي لو ان لي کرة آه كما يدل عليه قوله
تعالى (اذ وقفوا على النار فقالوا يا ليتنا نرد (يعني الى الدنيا) ولا نكذب آه،
حاصل د جواب دادى چې تناسب معنوي او تقديم او تأخير په اعتبار د وقوع د
مضامينو د دو درو آيتو په ازمنه مرتبو کې كما بينا اولى او افضل دى تر مراعات د
لفظي تناسب چې په اتصال کې د جواب اورده د کفار د قول چې قول د دوى داؤ، لو
ان الله هداني لكنت آه او جواب يې داؤ بلى قد جائتک آه.

دروښې وايي: چې دې جواب ته مظهري، روح البيان او بيضاوي په مجمله
توګه اشاره کړې ده، اما روح المعاني د هر يو نه تحقيق پکښې کړى دى.

ترجمه د آيت: هو راغلي وه په تحقيق تاسي ته آيات زما، نو تا تکذيب وکړى
په هغو سره، يعني درواغ دي وبلل او کبر دي وکړى د هغو له قبول ځخه، او ته وې
د کافرانو ځخه يعني په آياتو سره زما.

وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ تَرَى الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ

په هغه ورځ د قيامت ته به وويني يا محمد (ﷺ) او يا مخاطب غير معين هغه
چې درواغ يې وويل پر خداى باندې يعني نسبت د هغه شي يې ورته کاوه چې پر
خداى ﷻ محال وه، لکه نسبت د ولد يې ورته کاوه كالنصارى يقولون عيسى ابن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الله، يا يهودان چې وايي عزير ابن الله يا نسبت د شريک يې ورته کاوه لکه مشرکان يا نسبت د لونو يې ورته کاوه لکه بني مخزوم چې وايي الملائکة بنات الله.

وُجُوهُهُمْ مُسْوَدَّةٌ

مخان ددوی به تور وي

پوه سه: چې وجوههم يې مبتداء ده او مسودة يې خبر دی، او جمله حال دی له مفعول څخه د ترلی چې الذين کذبوا دی، مظهري وايي لانه من رؤية البصر دی يعني دوه مفعوله نه غواړي، او روح البيان وايي چې دا جمله حال ده و اکتفی بالضمير عن الواو پر دې چې رؤية بصري سي يا مفعول ثاني د ترلی دی چې اول الذکر دی، که رؤية علمي يعني چې دوه مفعوله غواړي، او تفسير حسيني وايي: روئ های ايشان سياه کرده شده پيش از دخول دوزخ وآن علامه او خيال است از جهت سختی حال ايشان، کريمه: يعرف المجرمون بسيماهم.

أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِّلْمُتَكَبِّرِينَ ۝

آيا نسته په دوزخ کي ځای د اوسېدو د متکبرانو يعني عن الايمان.

پوه سه: چې همزه لپاره د انکار دی او نفي د نفي اثبات دی يعني سته، دا جمله دليل دی د هغه جمله: ترلی وجوههم مسودة.

وَيُنَجِّي اللَّهُ الَّذِينَ اتَّقَوْا بِمَفَازَتِهِمْ

او نجات ورکوي خدای ﷻ هغو کسانو ته چې ځان يې له شرکه ساتلی وي.

پوه سه: چې مفازة مصدر ميمي دی په معنی د فلاح او کاميابي دی بالمطلوب.

دروښ وايي: چې که چېرې مراد له اتقوا څخه ځان ساتنه له شرک څخه وي لکه مظهري چې ويلي دي، نو مراد فلاح له ابدي دوزخ څخه ده، او عصات د مؤمنانو و مشيت ته د خدای ﷻ موکول دي، او که مراد له تقوی څخه شرک او معاصي وي لکه روح البيان چې ويلي دي، نو مراد له فلاح څخه فرد کامل دی والله اعلم.

لَا يَمَسُّهُمُ السُّوءُ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ۝

دوی ته رسېږي مساس د عذاب، او نه به دوی ته غم رسېږي، دا دوې جملې يا حال دي يا استيناف دي لپاره د بيان د مفازة ددوی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ۫ وَّهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ۝

خدای ﷻ پیدا کونکی د هر شي دی (من العلویات والسفلیات والعاملین واعمالهم کما هو مذهب اهل السنة والجماعة) او خدای ﷻ پر هر شي وکیل یعني موکول الیه دی، معنی چي د هر شي محافظ دی یعني حفاظت د هر شي په رب ﷻ پوري مربوط دی، نو دا جمله عطف ده پر ما قبل جملې باندي.

لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ

پوه سه: چي مقالید سره د مضاف الیه مبتداء ده او لهٗ یې خبر مقدم دی، تقدیم لپاره د حصر دی.

فائده: مقالید جمع د مقلاد ده لکه مفاتیح جمع د مفتاح ده، یا جمع د مقلید ده لکه مناديل چي جمع د منديل ده، د مقلاد او مقلید معنٰی یوه ده چي په پښتو یې کیلي بولي، و معنی الآیة: کیلي د خزانو د اسمانو او د مځکي په لاس کي د قدرت د خدای ﷻ دي چي امکان د تصرف د غیر یې منع دی بلکې محال دی، قتاده او مقاتل ؒ وایي چي مراد له خزائنو څخه چي کیلي یې د خدای ﷻ سره دي بخښنه او رحمت دی، او کلبي ؒ وایي چي خزائن د باران په اسمانو کي او خزائن د نباتاتو په مځکه کي، له عثمان بن عفان ﷺ څخه روایت دی چي ده سوال وکړی له نبي ﷺ څخه چي له مقالید څخه مراد څه شی دی؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل لآ اله الا هو، الله اکبر و سبحان الله وبحمده واستغفر الله ولاحول ولاقوة الا بالله هو الاول والآخر والظاهر والباطن بیده الخیر، یحیی ویمیت وهو علی کل شیئ قدیر، دا حدیث ابو یعلی په خپل مسند کي راوړی دی او ابن ابی حاتم په خپل تفسیر کي راوړی دی.

دروښ وایي: چي سبط ابن الجوزي چي په موضوعي احادیثو کي راوړی دی هغه ته اعتبار نسته، ولي دا حدیث ډېر شواهد لري، ولي چي له ابو هریره ﷺ څخه هم مثل د دغه حدیث مروي دی او له ابن عباس ؓ څخه هم مثل د دې حدیث مروي دی.

دروښ وایي: چي حدیث د عثمان ﷺ روح البیان هم راوړی دی لکن مختصر تر ما ذکرنا، او داغه رنګه روح المعاني هم راوړی دی تر دې ځایه پوري لکن وروسته یې الحدیث ویلی دی، چي معنی یې داده چي تر پایه د حدیث لکه آه یا الخ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې په کتابو کې راځي، او په روایة کې د ابن مردویة له ابن عباس ؓ څخه هم راغلی دی چې په هغه روایت کې خواص د دغه الفاظو هم ذکر کړې دي، او روح المعاني د ابن الجوزي د موضوع والي ددې حدیث په باره کې هم راوړی دی او داسې یې ویلي دي چې دا خبره د ابن الجوزي چا نه ده منلې، والله اعلم بحقیقة الحال.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ هُمُ الْخَاسِرُونَ ﴿٦٣﴾

او هغه کسان چې تکذیب کوي (یعني نسبت د کذب کوي، مراد له آیاتو څخه آیات قرآنیه دي یا کلمات د توحید او تمجید د خدای ﷻ دي یا دلائل د قدرت د خدای ﷻ دي یا استقلال د خدای ﷻ په امورو کې د اسمانو او محکي) داغه کسان لوی تاوان والا دي.

پوه سه: چې هم ضمیر فصل دی په منع کې د مبتداء او خبر چې دواړه معرفه دي چې علماء د معاني وُ یې لپاره د حصر بولي، یعني چې خسران حصر پر دغو کسانو دی، دلیل د حصر یې دا دی چې مؤمنان که څه هم بعض د دوی فقراء او مساکین دي په دنیا کې لکن په ثواب او رحمت کې لویه برخه لري یعني الجنة چې په هغه کې خیرات بلا نهایت دی ای مالا عین رئت ولا اذن سمعت ولا خطر علی قلب بشر یعني په ورځ د قیامت کې، او کافران که څه هم لویه برخه ولري په خزانو کې د رزق د خدای ﷻ او د بارانو د خدای ﷻ لکن لا حظ لهم من الرحمة والثواب في الآخرة والحظوظ الدنیویة فانیة عنقریب، نو دا حظوظ دنویه فقط به د دوی لپاره حسرت او ندامت وي، یقولون رب ارجعنا یعني الی الدنیا نعمل صالحًا، مظهري وایي چې طبراني ؒ او ابن ابی حاتم له ابن عباس ؓ څخه روایت کړی دی چې قریشو رسول الله ﷺ ته دعوت ورکړی چې موږ به تاته مالونه درکړو خپلې بڼځې یعني خوښدي یا لونې چې ستا اراده وي، فقالوا هذا لک یا محمد (دا خو یې زموږ د خواستا یا محمد) لکن ته په عوض کې ددې زموږ خدایانو ته د بنکنځلو څخه لاس واخله، ولا تذکرها بسوء، او که داسې نه کوې داسې خو نو وکړه زموږ د خدایانو عبادت کوه یو کال (یعني بالشرک لها في العبودیة) موږ په ستا د خدای عبادت کوو یو کال (یعني بالتوحید) نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې زه ګورم چې خدای ﷻ ماته څه امر راکوي په دې باره کې، فنزل من الله تعالی: قل یا ایها الکافرون الی اخیر السورة، وانزل هذه الآیة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قُلْ اَفَغَيْرَ اللّٰهِ تَاْمُرُوْٓنِّيْٓ اَعْبُدُ اَيُّهَا الْجٰهِلُوْنَ ﴿۶۴﴾

ته ورته ووایه یا محمد (ﷺ) آیا په غیر د خدای تاسي امر کوئ چي زه یې عبادت وکړم ای جاهلانو، الاستفهام للانکار.

دروښ وایي: چي روح المعاني فاء لپاره د تعقیب بولي او داسي وایي ای بعد الآیات المقتفیة لعبادته تعالی وحده غیر الله اعبد، نو استفهام لپاره د انکار دی، او د غیر لفظ مفعول مقدم د اعبد او د تقدیم وجه یې داده چي محل د انکار غیر الله دی، وقوله تأمروني جمله معترضه ده او ردها للدلالة علی انهم امروه بذالک کمامر في شان نزول الآیة المذکورة لفرط غباوتهم، له دې سببه یې دوی ته نداء په عنوان د جهل وکړه.

فائده: ابن عامر ؒ تأمرنني په دوه نونه سره وایي علی الاصل، او نافع ؒ یې په نون وایي او یاء ته فتح ورکوي، او نور قراء یې په سکون د یاء وایي والکل جائز.

وَلَقَدْ اُوْحِيَ اِلَيْكَ وَاِلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكَ ۚ

الواو للحال واللام جواب القسم المحذوف، او په تحقیق وحي کړه سوي دي وتاته یا محمد ؐ او هغو کسانو ته چي تر تا دمخه وه، ای الانبیاء ؑ.

لَىِٕنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۶۵﴾

که ته شرک وکړې هر آئینه لغوبه سي، یعني بیکاره به سي ستا عمل سابق تر شرک.

پوه سه: چي دا کلام مبنی دی پر فرض محض، مطلب دا دی چي د کافرانو ناامیدي کلي راسي له ثواب څخه د بعض اعمالو، او په عین حال کي د تنبیه و امت مسلمه ته ده چي شرک باید ځني ونه سي چي اعمال حسنه سابقه له منځه ځي، ددې په ریا کي موږ وایو چي شرک بلکې مطلق ارتداد له دین څخه د اسلام مهبط د ټولو حسناتو دی، لکه اسلام چي هادم د ټولو سیئاتو دی چي په وخت کي د شرک یې کړي وي.

مسئله: که یو چا لمونځ وکړی وروسته مرتد سو العیاذ بالله او وخت د هغه لمانځه باقي وؤ، نو هغه لمونځ به ییرته راګرځوي، تا چي اول لمونځ ده کړی وؤ په سبب د ارتداد له منځه څخه ولاړی، وکذا یجب الحج ثانیًا بعد الارتداد لان وقت الحج جمیع العمر، نو وروسته تر ارتداد وخت د حج باقي دی کذا قال ابن الهمام في شرح الهدایة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: په آیت کي خو "الیک والی الذین من قبلک" دواړه وروسته یوازي لئن اشرکت یوازي خطاب و علیه الصلوة والسلام ته راوړی ترپایه پوري د آیت.

ځواب: په لئن اشرکت کي مراد ټوله انبیاء دي یعني و هر نبي ته دا خطاب کړل سوی ؤ "لئن اشرکت آه" وقال العلامة التفتازاني "فالمخاطب هو النبي ﷺ مع ان عدم اشراکه مقطوع به وجيئ بلفظ الماضي يعني لئن اشركت لپاره د ابرازد اشراک په معرض کي ده، حاصل علی سبیل الفرض والتقدیر لپاره د تعریض لمن صدر منه الاشراک بعد الاسلام بان عمله قبل الارتداد من الحسنات قد قبط، او په کشف الاسرار کي وایي هذا خطاب مع الرسول ﷺ، والمراد به غیره انتهی.

دروېش وایي: لاحاجة الی ارادة الغیر لان الکلام مبني علی الفرائض المحض کما قلنا سابقًا، نعم هذا الخطاب تعریض علی غیره ممن صدر عنه ذالک وفرق عظیم بین الارتداد والتعریض فافهم، او حسین کاشفي "په تفسیر حسیني کي وایي: واصح آنست که مخاطب بسبب ظاهر پیغمبرانند و از روی حقیقت افراد مسلمانان ایشان اند آه، دروېش میگوید اگر مراد کاشفی "آن باشد معنای تعریضی مقصود بالحقیقة میباشد فهو صحیح واگر مراد او آن باشد که مراد از لفظ ایت ایشانند فهو لیس بشيئ فتدبر.

فائده: صاحب المواقف القاضي عضد الدین "دا آیت دلیل ګرځولی دی پر دې خبره چي صدور د کبائرو له انبیاء علیهم السلام څخه روا دی، لکن روح المعاني وایي لیس بشيئ ولي دا آیت خو محمول پر فرض محض دی فافهم.

بَلِ اللّٰهَ فَاعْبُدْ وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۶۶﴾

بلکي خاص یعني په توحید سره د خدای ﷻ عبادت کوه ولهذا قدم المفعول به، هذا رد لما امروه "به کما مر في شان نزول الآیة.

فائده: اسم جلیل منصوب دی په اعبد سره والفاء زائدة، شان نزول الآیة: ترمذي له ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چي یو یهودي تېرېدی د علیه الصلوة والسلام په حضور کي نو یې وویل کیف تقول یا ابا القاسم اذا وضع الله السمٰوات علی ذه (پردي ګوته) والارضین علی ذه والماء علی ذه والجبال علی ذه.

دروېش وایي: چي اشاره و ذه د لاس و څلورو ګوتو ته ده، فانزل الله تعالی هذه الآیة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖٓ

دروښ وايي: چې مذکوره شان نزول روح البيان او مظهري بيان کړی دی، او وايي: ای ما عظموه جل جلاله حق عظمته اذ عبدوا غيره تعالى وطلبوا من نبيه عبادة غيره، قال الحسن والسدي، ترجمة الآية عبارة روح المعاني: دوی (يعني مشرکانو د مکې) تعظيم د خدای ﷻ نه دی کړی په حق عظمت سره، ولې چې دوی عبادت د غير د خدای (يعني بتانو) کاوه، او دوی طلب د نبي د عبادت د غير الله کاوه کما مر في شان نزول قوله تعالى "قل افغير الله الآية" وقال المبرد اصله من قولهم فلان عظيم القدر يريدون بذالک جلالته انتهى، او هغه تفسير چې راغب اصفهاني راوړی دی دډې آيت په اړه بقوله "لايعرف کنهه غيره انتهى" پر هغه دا سوال وارديږي چې پېژندل د خدای ﷻ په حقيقت او په ماهيت سره په دغو کسانو سره چې په آيت کې راوړه سول يعني د ما قدروا الله آه خاص نه دی، بلکې هيڅ څوک يې نه کولای، چنانچه په شرح کې د سلم العلوم للقاضي محمد مبارک دلائل قطعيه راوړه سوي دي چې تصور د خدای بالکنه يعني ذاتيات د خدای و پېژندلو ته د خدای مرئۍ کې ممتنع دی لعدم الذاتيات له تعالى ذهنًا وخارجًا ولا بکنهه لاستحالة الاحاطة على حقيقته تعالى: ولنعم ما قيل:

العجز عن درک الادراک ..... والبحث عن کنه ذات الله اشراک

فائده: بعض علماء په دې سبب چې د فقير حواشي پر درسي کتابو دهر شهرت او مقبوليت لري د خپل شهرت او مقبوليت لپاره دی څه ناڅه حاشيه پر هغه کتاب وکړي، کتاب فروشانو ته يې ورکړي هغه يې چهاپ کړي ضمنًا دده شهرت هم پکښې راسي، او چاته حواله هم نه کوي ..... مصرع:

نه هر که سر بتراشد قلندری داند

ولايخفى ان هذا فعل غير مقبول اوس هغه عالم د قرآن عظيم تفسير په عربي ژبه شروع کړی دی تاسي به يې وويني چې تفسير ايوبي ورسره گوري، او عبارت به يې عربي ته نقل کوي، البته عنوان به بدلوي مثلاً يقول بلاغة القرآن يا هذه فوائد هذه الآية وامثال ذالک، فلا يجز الفقير لنقل تفسيره الى العربية بدون اجازة الفقير او الحوالة الى تفسيره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې په څومره عرق ریزي او جګر خوني د مختلفو تفاسیرو څخه په مطالعه ما دا تفسیر و عالم دنیا ته په پښتو ژبه تصنیف کړی دی، دا ملا صاحب و دې تفسیر ته ګوري او عربي ته یې نقل کوي.

برادرانو: نیت د شهرت د دنیا مقبول عند الله نه دی، اعبدوا الله مخلصین له الدین..... بیت:

عبادت باخلاص نیت نیکو ست..... وګر نه چه آید ز مغز پوست

فائده: دروښ د هغه عالم د نوم اخستلو څخه ډډه وکړه، ولي هر مدرس عالم دده په سوء صنیع پوهیږي.

وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

یعني تر اوو مځکو پورې سره د ټولو اجزاؤ، که پټ وي او که لڅ وي، د هغه په قبضه کې دي په ورځ د قیامت.

پوه سه: چې "قبضته" یو وار قبض (یعني په موټه سره نیولو ته وایي) مراد ځني المقبوض دی بالکف من قبیل تسمیة المفعول بالمصدر وهو کثیر في لسان العرب.

پوه سه: چې مظهري ؒ وایي هذه الآیة من المتشابهات عن الظاهر (ولي چې ظاهري معنی خو یې داده چې مځکه ټوله یو موټ د خدای ﷻ ده په ورځ د قیامت او دا اسمانونه پیچل سوي دي په راسته لاس کې د خدای ﷻ، نو دا معنی خو مقتضی د جسمیت د خدای ﷻ ده او د اعضاء درلودل د خدای ﷻ ده وهذا مال) لایعلم تأویله الا الله، انتهی قول المظهري ؒ، وروسته مظهري ویلي دي چې علماء د بیان (والله اعلم من اراد بعلماء البیان) چې دا آیت وارد دی پر طریقه د تمثیل او تخییل من اعتبار القبضة والیمین حقیقةً ولا مجازًا انتهی.

دروښ وایي: چې په ورته آیتو کې لکه "ید الله فوق ایدیهم، الرحمن علی العرش استوی، اینما تولوا فثم وجه الله، وامثالها" او دا غه رنګه په ورته احادیث شریفه وکې دري مذهبه دي.

(۱) مذهب د سلف الصالحین دی چې په نقل له مظهري څخه تاسي واورېدی.

(۲) مذهب د ډېرو متأخرینو دی چې دا تمثیل د حال د عظمت د خدای ﷻ دی ونفاذ قدرته ؒ وحقارة الافعال العظام التي یتحر فیه الاوهام نسبت و قدرت ته د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ بحال من یکون له قبضة فیها الارض جمیعًا ویمین بها یطوی السمٰوات من غیر اعتبار یمین ولا قبضة حقیقة ولا مجازًا، لکه مظهري چې په عبارت د علماء البیان راوړه، او بعض متأخرین وایي چې په دې آیت کې اشاره دې ته ده چې هغه شیان چې مشرکان یې د خدای ﷻ سره تنزه ذاته عن الشرکة. شریکان بولي ارضیًا کان ام سماویًا لکه بتان یا ملائکه تحت سلطانه ﷻ.

(۳) مذهب د بعض متأخرینو دی، دوی وایي چې قبضه مجاز دی عن الملک والیمین مجاز من القدرة التامة وامثال ذالک من المجازات.

فائده: په ورته احادیثو شریفه ؤ کې هم دغه مذهب سته، چنانچه بخاري، مسلم، ترمذي، نسائي وغیرهم له ابن مسعود ﷺ څخه روایت کړی دی قال: جاء حبر من الاحبار (له ملایانو څخه د یهودانو) الی رسول الله ﷺ فقال یا محمد انا نجد الله (یعني في التورات) انه تعالی یحمل الله السمٰوات یوم القیامة علی اصبع والارضین علی اصبع والشجر (یعني جنسه) علی اصبع والماء والثری علی اصبع وسائر الخلق علی اصبع فیقول انا الملک، فضحک رسول الله ﷺ حتی بدت نواجذه تصدیقًا لقول الحبر، ثم قرء رسول الله ﷺ وما قدروا الله حق قدره.

دروښ وایي: چې مظهري او روح المعاني دواړو دا حدیث راوړی دی، او روح المعاني نور احادیث هم راوړي دي، که ګفته اند، مشت نمونه خروار است.

وَالسَّمٰوٰتُ مَطْوِيّٰتٌۢ بِيَمِيْنِهٖ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ۝

پوه سه: چې سبحانه لپاره د تعجیب دی یعني ما ابعد عمن هذه قدرته وعظمته تعالی عن اشراکهم (که کلمه د ما مصدریه وي، او عما یشرکونه به، که کلمه د ما موصوله وي، نو عائد یې محذوف دی کما اشرنا الیه) سعدي ؒ وایي:

ای برتر از قیاس و گمان و وهم .. وزهر چه گفته اند شنیدیم وخوانده ایم
مجلس تمام گشت وبپایان رسید عمر .. ما همچنان دراول وصف تو مانده ایم

روی الرزوقي ؒ اذا اردت استعمال حزب البحر لپاره د سلامتیا د هلاک څخه د دریاب فقدم عند رکوبه بسم الله مجریها ومرساها ان ربي لغفور رحیم، وما قدروا الله حق قدره الی قوله عما یشرکون، ولي چې په حدیث صحیح کې راغلي دي انه امان من الغرق ومن الله الخلاص.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې مراد له حزب البحر څخه دعاء د سپرتيا په کښتۍ کې هغه چې اوس مشهور په حزب البحر سره دی هغه نه دی مراد.

وَنُفِخَ فِي الصُّوْرِ

اوپوه به کړل سي په شپېلي کې چې قرن يې هم بولي، دا نفخة اولی ده، المشهور ان النافخ واحد وهو اسرافيل" بل حکی القرطبي" الاجماع عليه في تفسيره، او په بعض آثارو کې راغلي دي چې نافخ دوې ملکي دي چې هغه آثار روح المعاني روا ړي دي.

پوه سه: چې صور قرن عظيم دی چې په ده کې سوري سته په عدد د تولو ارواحو، او ابو الشيخ له وهب بن منبه" څخه روايت کړی دی چې صور د سپينې ملغلري څخه جوړ دی صفايي يې لکه د ښيښې ده.

فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ

نو مړه به سي هغه احياء که په اسمانو کې وي او که په مځکه کې وي يعني من الملائكة والانس والجن وغيرهم من الحيوانات، مګر نه هغه څوک چې د خدای" ورته اراده وي، مشهوره داده چې مستغنی جبرئيل، اسرافيل، ميکائيل او ملک الموت دی، او بعض مفسرين وايي چې اته ملکي حملة العرش هم مستغنی دي چې مجموع دوولس سي، او اخيري چې مړي ملک الموت عزرائيل" دی، او النقاش" وايي چې اخيري چې مړي جبرئيل" دی والله اعلم، او بعض مفسرين وايي چې رضوان د جنتو مشر، او حوري د جنتو او مالک خازن النار او زبانيه ملي د دوزخ هم په استثنياتو کې داخل دي.

فائده: په ترتيب کې ددوی اختلاف دی چې په درمنثور کې ذکر سوی دی.

ثُمَّ نُفِخَ فِيْهِ اُخْرٰى فَاِذَا هُمْ قِيَامٌ يَّنْظُرُوْنَ ۝

بيا به پوه کړل سي، دويمه نفخه د احياء، نو نا ببره به اموات ټوله يعني من لدن آدم عليه السلام تر نفخة ثانيه، من المؤمنين والكافرين والجن والشياطين له قبرو وغيرها څخه راوتلي وي، سترګې به لغړوي شاوخوا به ګوري، لکه يو حيران سړی، او يا معنی د ينظرون داده چې انتظار کوي چې په دوی به څه کړه کيږي.

دروښ وايي: چې په قول د مظهري په مابين کې د نفختينو څلوېښت ورځې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دي، او په سورة والنازعات کي يعني په تفسير کي د دغه سورت مظهريؒ ډېر احاديث راوړي دي دليل پر فصل مذکور باندي يعني ځلو ېښت ورځي، وفي الحديث: انا اول من يشق عنه الارض (۱) و اول من يحى من الملائكة اسرافيل لينفخ في الصور (۲) و اول من يحى من الدواب براق النبي ﷺ (۳) و اول من يستظل في ظل العرش رجل انظر معسرًا او محّا عنه (چي مسکين پوروړي ته يې مهلت ورکړی وي او يا يې پورور بخښلی وي) (۴) و اول من يرد الحوض (اى حوض الكوثر النبي ﷺ فقراء الامة) (۵) و اول من يكسنى ابراهيم خليل الله ﷺ لانه القى في النار عريانًا. (۶) و اول من يكسى (چي کالي د اورپه اغوستل کېږي ابليس عليه اللعنة دی) (۷) و اول من يحاسب جبرئيل لانه كان امين الله على رسله (۸) و اول ما يقضى في الدماء قابيل چي هابيل يې مړ کړی كما جاء في القرآن الكريم في موضع آخر (چي د چا وينې يې توی کړي وي يعني بغير حق) (۹) و اول ما يحاسب الرجل على صلوة.... بيت:

روز محشر که جان گداز بود ..... اولين پرسش ز نماز بود

(۱۰) و اول من تسأل المرئة عن صلاتها (۱۱) ثم من حق بعلها (اى زوجها) (۱۲) و اول العبد مايسأل العبد على نعمته (يعني چي شکر يې وايه که نه) (۱۳) و اول من يحاسب المرء المتوضي من الماء البار (۱۴) و اول من يوضع في الميزان الخلق الحسن (۱۵) و اول ما يوضع في الميزان ما يسأل العبد على عياله (۱۶) و اول من يدخل من الاغنياء يوم القيامة عبد الرحمن بن عوف ﷺ و اول من يعلم عليه الحق سبحانه اى غير الاولين عبد الرحمن بن عوف (۱۷) و اول من سلم الحق او خوش آمديد عمرؓ.

وَأَشْرَقَتِ الْأَرْضُ بِنُورِ رَبِّهَا

مراد له ارض څخه مځکه د عرصات د قيامت ده، او مراد له نور څخه هغه دی چي خداى ﷻ يې خالق دی، او بغوي ؒ وايي چي خداى ﷻ په هغه نور سره تجلی کوي د فصل د قضا لپاره بين العباد آه.

دروېش وايي: چي دا د رؤيت الهي بلا کيف نور نه دی، ولي هغه ديدار د رب جل وعلا خو په جنت کي دی، او د جنت دخول خو وروسته تر فصل القضاء دی وقد بعد المظهريؒ حيث قال فما يتضارون في نوره كما لا يتضارون بالشمس في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اليوم الضحو (چې وريځ نه وي) دليل د بعد يې دادی چې دغه الفاظ چې ده راوړي دي فيما يتضارون دا جزء د هغه حديث دی چې بخاري راوړی دی په رؤيت کې د خدای ﷻ في الجنة و دخول الجنة بعد فصل القضاء کمامر عنقريب، فخلط المظهري احدهما بالآخر، او السدي او الحسن ؒ وايي چې مراد له نور ربها عدل ربها دی، سماه نورًا لانه يظهر به الحقوق کما سمی الظلم ظلمة، قال رسول الله ﷺ الظلم ظلمات يوم القيامة، متفق عليه، او روح المعاني وايي چې دا نور علی ما روی عن ابن عباس ؓ نور يخلقه الله تعالی بلا واسطة اجسام مضيئة کالشمس والقمر واختاره الامام الهمام الرازي ؒ (نو د دغه نور اضافت و خدای ﷻ ته داسې دی لکه اضافت د ناقة الله في قصة صالح ؑ ای ناقة مخلوقة لله تعالی) بيا روح المعاني د محي السنة يعني البغوي ؒ څخه تفسير په تجلی د رب جل وعلا لفصل القضاء راوړی دی، وروسته روح المعاني د الحسن او السدي ؒ تفسير کمامر راوړی دی وجعله من باب الاستعمارة.

فائده: استعاره د نور و قرآن او برهان ته په څو ځايه کې د قرآن راغلې ده، واختار هذا التفسير الزمخشري في الکشاف، وروسته روح المعاني ډېر طويل بيان کړی دی فارجع اليه، او روح البيان هم تفسير د نور په عدل سره استعارةً مختاره کړی دی او نور طويل بيان يې هم کړی دی فارجع اليه.

وَوُضِعَ الْكِتٰبُ

وربه کړل سي عمل نامې په لاس کې عمال.

سوال: عمل نامې پر اندازه د عمال بېخي ډېرې دي کما لايخفی او لفظ د کتاب خو مفرد دی، نو څرنګه د عمل نامو اراده ځنې صحيح ده؟

ځواب: الف و لام په الکتاب کې لپاره د جنس دی والجنس يطلق علی الکثير والقليل فيصح ارادة الکثير منه فافهم، البيهقي له انس ؓ څخه روايت کړی دی عن النبي ﷺ قال الکتب کلها (عمل نامې ټولې) تحت العرش دي فاذا کان الموقف (چې خلک د عرصات پر ميدان و درېږي) بعث الله ريحًا فتطيرها (خدای جلت قدرته يو باد پيدا کړي هغه ټوله باد راوړي) بالايمان والشمائل (په راسته او په چپه لاس کې يې د خلکو ورکړي په اول کې د هرې عمل نامې دا آيت نوشته وي) اقرأ کتابک کفٰی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بنفسک الیوم علیک حسیبًا (وویایه عمل نامه دي کافي ده ستا نفس والباء زائدة کام في کفٰی بالله، ننه ورځ پر تا باندي یعني پر عملو باندي د حساب لپاره)

وَجِایْٓءَ بِالنَّبِیّٖنَ وَالشُّهَدَآءِ

راتګ وکړل سي په انبیاؤ علیهم السلام سره، جلال الدین السیوطيؒ وایي قال العلماء یکون الحساب بمشهد من النبین وغیرهم انتهی قول السیوطي (والشهداء) او حاضر به کړل سي شاهدان چي مراد ځني شاهدان دي چي رسولانو تبلیغ د رسالت کړی وُ، وهم امة محمد ﷺ کما مر آنفًا، او عطاءؒ وایي چي مراد له شهداء څخه کرام کاتبین حفظه دي استدلالاً بقوله تعالی "وجائت کل نفس معها سائق و شهید"

پوه سه: چي ابن المبارکؒ له سعید بن المسیبؒ څخه روایت کړی دی چي هیڅ ورځ نسته مګر داسي چي و علیه الصلوة والسلام ته امتیان دده پیښېږي سهار او مانښام ته نژدې، نو علیه الصلوة والسلام خپل امتیان پېژني په علامو (علامه یې په بل حدیث کي داسي راغلې ده چي مخان او لاسونه به یې سپین وي من اثار الوضوء) او اعمال یې هم ورته معلوم وي (یعني د ملائکه په ذریعه) فلذا لک یشهد علیهم، نو دی ﷺ پر دوی یعني امتیانو شاهدي د عدالت ادا کوي، کریمه "لتکونوا شهداء علی الناس" چي بعض کافران د خپل نبي له تبلیغ څخه انکار وکړي، نو امتیان د هغه نبي پر تبلیغ وقوم ته شاهدي اداء کړي، څه وخت چي د هغه نبي امت جرح د فسق وکړي پر شاهدانو د امت د علیه الصلوة والسلام ویکون الرسول علیکم شهیدًا (و به ګرځي رسول چي نبي ﷺ دی پر تاسي یعني ستاسي پر عدالت شاهد)

وَقُضِیَ بَیْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا یُظْلَمُوْنَ ۝

او فیصله به وکړل سي په منځ کي د بندګانو په عدالت سره او پر دوی به ظلم نه کړل کیږي چي یا سیئات وربالا کړي یا د حسناتو څخه څه کم کړي.

وَوُفِّیَتْ کُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُوَ اَعْلَمُ بِمَا یَفْعَلُوْنَ ۝

او کافي به ورکړل سي هر نفس ته جزاء د ما عملت من حسن وسوء في عملها.

پوه سه: چي اسم تفضیل پر خپل معنا نه دی بلکي په معنی د علیم دی ولي چي بل څوک خو د بندګانو په عملو نه دی خبر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: خدای ﷻ د هر سړي په ټولو احوالو خبر دی، نو کاتب چې حفظه دي او شاهدی ته څه ضرورت دی؟

ځواب: د دې پوښتنې په جواب کې عطاء ؒ وایي چې ضرورت له دې کبله دی چې عادت الهي دغسې دی، او بل دا چې پر کافرانو منکرانو الزام راسي (چې تفصیل یې فقیر بیان کړی)

وَسِيقَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًا

و به شړل سي هغه کسان چې کافران وي (یعني کفر یې اختیار کړی وُ په دنیا کې و) دوزخ ته "زمر" جمع د زمرة ده یعني جماعت جماعت، ډله ډله یوه دمخه بله په پسې یعني چې په ضلالت او کفر کې اول لمبر وي هغه به اول دوزخ ته ځي وهکذا دوهم لمبر درپیم لمبر.

تنبیه: په لفظ د سیق سره اشاره و توهین ته د دوی ده، ولې چې لفظ د سوق عموماً په حیواناتو کې استعمالیږي و مثل ساق فلان غنمه او ابله، او بقرة الی غیر ذالک.

حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوهَا فُتِحَتْ أَبْوَابُهَا

حتی چې دوی ورسي (ها ضمیر جهنم ته راجع دی مؤنث سماعي دی) یعني د دخول لپاره خلاصې کړل سي ټولې اووه دروازې چې د دوی ترور تلو دمخه بندي وي.

سوال: د ټولو دروازو د دوزخ و خلاصولو ته څه ضرورت دی؟

ځواب: بعض کفار د یوې طبقې مستحق وي بعض د بلې، بعض د اسفل السافلین وړ وي، نو د دې لپاره چې هر کافر و هغه مستحق ځای ته ورسول سي ټولې دروازې خلاصې کړل سي.

پوښتنه: دمخه تر رسېدو د کافرانو یې ولې دروازې نه خلاصولې؟

ځواب: تاچې تو دوخی د دوزخ في الجملة کمه نه سي.

وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ

و وایي دوی ته ساتندویان د دوزخ، لپاره د سرزنش او توبیخ او تقریع، آیا نه وه درغلي تاسي ته رسولان چې ستاسي د جنسه به وه یعني انسانان، دا مقوله یعني مفعول به دی، قال د استفهام د تقریر دی یعني باعثه د دوی پر اقرار کما یدل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جوابهم بقوله بلى، په دې آيت کي مقابله د جمع چې ضمير د کم ده په جمع سره چې رسل دی چې مفاد يې توزيع د احاد پر احاد ده يعني هري فرقې ته خپل رسول.

يَتْلُوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِ رَبِّكُمْ وَيُنْذِرُوْنَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ؕ

چې تلاوت کړی وای هغو رسولانو پر تاسي باندې د آيات د رب ستاسي او تاسي يې بيرولي وای د راتلو څخه ددې ورځې يعني د قيامت چې مشتمل پر عذاب د دوزخ دی، او يا مراد د "يومكم هذا" څخه وقت دخولهم النار (نو يوم په معنی د مطلق وخت ده چې تعيين يې په هذا سره وسو) بيضاوي وايي چې ددې آيت څخه دا معلومه سوه چې تکليف قبل الشرع نسته، دليل يې دا ويلی دی چې خزنه ؤ د دوزخ توبيخ و دوی ته مربوط په ارسال الرسل او په انذار د کتابو پورې وګرځاوه، مظهري، روح المعاني او تفسير کبير دا خبره رد کړې ده چې دا آيت دليل ددې نه دی چې پر اشراک بالله باندې به هم عذاب نه ورکوي چې رسل نه وي او انذار الکتب هم نه وي، ولي خزنة النار چې توبيخ مربوط کړی په ارسال الرسل او انزال الکتب سره هغه درجه کامل د توبيخ ده يعني با اين همه تاسي کفر اختيار کړی، دليل دا دی چې عقل که څه هم کافي نه دی په ادراک کي د ټولو شرائعو د دين لکه لمونځ، روژه، زکوة وغيرها لکن پر وحدانيت د خداى ﷻ کافي دی لحکم العقل بلزوم التوحيد لصانع العالم بدون ورود الشرع والرسل والکتب، حتی چې د عقائدو په کتابو کي وايي چې يو سړی په شواهق الجبال کي وي ايمان پر وحدانيت د صانع العالم پر لازم دی او که چېرې دغه سړي شرک مختاره کړی په ورځ د قيامت به معذب بالنار وي او عذر نه لري، سعدي شيرازي وايي:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار ..... هر ورقی دفتريست معرفت کردگار

يو بل شاعر مسئله مذکوره په خپل دغه بيت کي راوړې ده:

گر انبياء هم نآمدی نی شرع بودی درجهان
واجـــب شدی بردمان ايمان بخالق مقتدر

لکن خداى ﷻ چې رسولان را واستول او کتابونه يې نازل کړه او احکام د دين يې روښانه کړه لم يبق للمکلفين عذر من الاعذار په هيڅ حکم کي د دين.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالُوْا بَلٰى وَلٰكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ الْعَذَابِ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿۷۱﴾

دوی وویل، یعني دوزخیانو و خزنة النار ته چې هو موږ ته رسولان راغلي وه او کتابونه د خدای له جانبه هم نازل سوي وه لکن استدراک په جواب کې د سوال چې نو ولي و دوزخ ته وارد سوي واست، پر موږ ثابته سوې وه کلمه د عذاب یعني کلمة الله بالعذاب حکمه في الازل بانهم من الاشقیاء باختیارهم پر کافرانو.

پوښتنه: قائلین ددې قول خو کافران دي نو ځای خو د ضمیرؤ یعني علینا نو ولي دوی کافرین ووایه؟

ځواب: لپاره د دلالت پر دې چې دا عذاب پر موږ ثابت سو په سبب د کفر زموږ.

قِيْلَ ادْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ

و به ویل سي، یعني د خزنة النار له خوا په قرینه ددې چې خبري ددوی سره وي، او یا من جانب الله عزوجل چې داخل سئ و دروازې ته د دوزخ چې همیشه به یاست په دوزخ کې ابدًا ابدًا.

پوښتنه: په وخت کې د دخول خو خلود نسته، نو حالیت د خالدین څرنګه دی او سره ددې په نحو کې وایي چې زمانه د حال او د عامل د ذی الحال به یوه وي؟

ځواب: په علم النحو کې داسي حال ته حال مقدره وایي چې معنی یې داده چې داخل سئ دوزخ ته چې مقدر دی خلود ستاسي په اور کې، نو زمانه د دخول او د تقدیر د خلود خو یوه ده، وعلی هذا فقس جمیع الاحوال المقدرة وهي في القرآن العزیز کثیرة فافهم.

فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۷۲﴾

بد دی قرار ګاه د متکبرانو (یعني چې د خدای ﷻ او د رسول او د کتاب د منلو څخه یې تکبر کاوه)

پوه سه: چې مخصوص بالذم یې محذوف دی لذکره فیما سبق ای جهنم، او کلمه د فاء لپاره د سببیت ده فان السابق من الکلام سبب للاحق .... بیت:

تکبر عزازیل را خوار کرد ..... بزندان لعنت گرفتار کرد

نو له دې آیت څخه دا معلوه سوه چې وروسته تر کفر لویه ګناه کبیره ده، بلکې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کفر له تکبر څخه پیدا کیږي کما قال الله تعالی في شان ابلیس "ابی واستکبر" منع یې وکړه له سجدې څخه د آدم علیه السلام او تکبر یې وکړی له امر څخه د خدای ﷻ بالسجود لآدمؑ، وقال انا خیر منه "فکان من الکافرین" ای صار من الکافرین.

وَسِيقَ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ إِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا ۖ

دروښ وایي: چې د سیق معنی دلته هغه د اهانت معنی نه ده لکه د کافرانو په حال کې چې یې ذکر کړه، بلکې معنی یې داده چې چابک چابک روان سئ و دار الکرامة ته، وقیل سیق مراکبهم (ولا یذهب بهم الا راکبین) "زمرًا" ډلې ډلې، علی تفاوت مراتبهم في الشرف وعلو الطبقة یعني الافضل فالافضل.

حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوهَا وَفُتِحَتْ أَبْوَابُهَا

بوه سه: چې جمله د فتحت د کوفي قراء په تخفیف د حا وایي، او نور قراء یې په تشدید وایي، او کلمه د فتحت حال ده قد ورسره محذوف دی کما هو القانون النحوي في الماضي الواقع حالاً، والمعنی وقد فتحت، دروازې د جنت خلاصې ولاړې وي دمخه تر ورتګ ددوی تعظیمًا لهم واکرامًا لهم تا چې د انتظار تکلیف هم دوی ته ورنه کړي.

وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلَامٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوهَا خَالِدِينَ ۝

او وایي ساتندویان د جنتو سلامتي دي وي پر تاسي، تاسي پاک یاست له خیرو څخه د ګنهو یا مو ګناه هرګز نه ده کړې، او لطهارتهم منها بالشفاعة او یا بالمغفرة بالرحمة العامة لرب المغفرة او بعد طهارتهم بالعقوبة في جهنم مدةً.

بوه سه: چې سلام اخبار دی د ملکو له خوا، والمعنی لا یعتریکم مکروه ابدًا.

دروښ وایي: چې دروازې د جنتو اته دي بالاجماع وقد دلت علیه الاحادیث الشریفة علی ذالک.

"فادخلوها خالدین" حال مقدرة کمامر، له امیر المؤمنین علي رضی الله عنه څخه روایت دی چې جنتیان چې سوق سي و جنت ته، نو جنت ته چې ورسیږي دوی پیدا کړي په دروازه کې د جنت یوه درخته چې لاندې تر تنې یې دوې چینې روانې وي، نو هر مؤمن یعني په ښوونه د ملکو په یوه چینه کې غسل وکړي چې ظاهر بدن یې پاک او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ښائسته سي او د هغه بلي چينې څخه اوبه څيښي چې باطن ده پسې پاک سي، نو ملکي په دروازه کې د جنت تيار سی ولاړي وي، و ويقولون سلام عليکم الی اخيره.

وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ صَدَقَنَا وَعْدَهٗ

او ووايي (جنتيان چې و جنت ته داخل سي او دوی ووينې په جنت کې ما لا عين رئت ولا اذن سمعت ولا خطر علی قلب بشر ولا سمع بيانه العقال، نو دوی وايي شکرًا لما انعم الله عليهم) تولـه ثناء او صفت خدای ﷻ لره دی چې زمونږ سره يې رشتيا کړه هغه وعده چې زمونږ سره يې کړې وه، يعنې په دنيا کې پر ژبه د رسولانو، او په کتب منزله وُ کې.

وَاَوْرَثَنَا الْاَرْضَ نَتَبَوَّاُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ نَشَآءُ ۚ فَنِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ۝

"و اورثنا الارض" يعني ارض الجنة، والمراد بايراثها دخولهم اياها، مونږ گرځو په جنتو کې هر چېرې چې مو اراده وي، اولاً لان ارض الجنة وسيعة جدًا، دويم چې مونږ ته خدای ﷻ اسانه کړې ده "فنعم اجر العاملين" د پر بنه دی اجر د عاملينو ای الجنة، طبراني او ابو نعيم ؒ د سيدتنا عائشة ؓ څخه داسي روايت نقل کړی دی چې دې وويل يو سړی (د سړي نوم يې نه دی ښوولی) نبي کريم ﷺ ته راغلی "فقال يا رسول الله ﷺ انک لاحب الی من نفسي ومن اهلي و ولدي" او چې زه کور ناست يم ته مي را پياد سې طاقت مي نه کېږي چې تاته درنه سم او و دي نه وينم او ستا مبارک مخ ته ونه ګورم "واذا اذکرت موتي و موتک" او زه چې خپل مرګ او ستا مرګ را پياد کړم، نو په زړه کې مي دا يقين سي چې ته که مړ سوې يا رسول الله نو د انبياؤ ﷺ په لوړو درجو کې به يې، او که زه مړ سم په ډېرو کښتو درجو کې به يم، نو زه پر دې بېرېږم چې زه به تا نه وينم، عليه الصلوة والسلام دې سړي ته هيڅ جواب ور نه کړی حتی چې نازل سو هغه آيت چې په بل ځای کې ذکر کړل سوی دی "ومن يطع الله والرسول فاؤلئک مع الذين انعم الله عليهم من النبيين والصديقين والشهداء والصالحين و حسن اؤلئک رفيقًا".

دروښ وايي: چې بشارة عظيم لمن کان يحب رسول الله ﷺ محبةً شديدةً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَتَرَى الْمَلٰٓئِكَةَ حَآفِّيْنَ مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ ۚ

ته به ويني، اى مخاطب غير معين، ملائكه چې احاطه يې كړې وي (حافين حال دى له ملكو څخه) پر شاو خوا د عرش چې تسبيح وايي، متلبسين بحمد ربهم يعني سبحان الله وبحمده.

فائده: دا تسبيح صرف او صرف لپاره د عبوديت او لذت دي لا تسبيح عبادة التكليف، لان التكليف ساقط في الوقت المذكور اى يوم القيامة.

وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَقِيْلَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝

او قضاوت د رب العزة وكړل سي، يعني په منځ كي د ټولو خلكو، په عدل سره، چې مؤمنان جنت ته داخل كړي او كافران و اورته، او وايي يعني اهل الجنة شكرًا لما انعم الله عليهم هغه وخت چې خپله وعده خداى ﷻ د دوى سره پوره كړي، او بعض مفسرين وايي چې ملكي شكر او حمد وايي پر ادخال د اولياء الله و جنت ته او د اعداء الله د وبرخ ته، د عائشة رضي الله عنها څخه روايت دى چې عليه الصلوة والسلام هره شپه سورة الزمر او سورة بني اسرائيل وايه، رواه الترمذي والنسائي والحاكم (رواه المظهري في تفسيره)

دروښ وايي: بعونه تعالى وحسن توفيقه تفسير د سورة الزمر په وخت كي: څابنت (۱۹) تخمينًا د محرم الحرام سنه (۱۴۳۲) هـ پاى ته ورسېدى.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سكين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹
مكتبة القراءت والتجويد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ الْمُؤْمِنِ وَهِيَ حٰمٓ وَقِيْلَ غَافِرٍ وَقِيْلَ طَوْلِ الطَّوْلِ وَهِيَ خَمْسٌ وَثَمَانُوْنَ اٰيَةً تِسْعُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د سورة المؤمن بل نوم سورة غافر دی، او بل نوم يې سورة الطول دی، له ابن عباس، ابن الزبير او سمرة بن جندب ﷺ څخه روايت دی چې دا سورت مکي دی، او ابو حيان نقل د اجماع پر دغه کړې ده، وقيل غير ذالک.

قال البغوي ؒ عن ابن مسعود ؓ چې ده وويل چې زه واقع سم په هغه سورتو کې چې په سر کې يې حٰمٓ وي زه ځان داسې ګڼم لکه باغوته چې ورسم استريح فيهن، داغه رنګه بغوي ؒ په خپل سند سره ويلي دي له ابن عباس ؓ څخه "لکل شيئ لباب (خلاسه ستة) ولباب القرآن الحوا ميم" (چې په سر کې يې حم وي) او حاکم له ابن مسعود ؓ څخه روايت کړی دی چې "الحوا ميم ديباج القرآن" حم د قرآن لکه ورېښم دي.

حٰمٓ ۝١ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ۝٢

دروښ وايي: چې حٰمٓ له مقطعات قرآنيه څخه دي على الاصح، وقد مر الاختلاف واقوال العلماء فيها في اول سورة البقرة، او تنزيل خبر د مبتداء محذوف دی، ای هذا تنزيل الکتاب له جانبه څخه د خدای ؒ چې غالبه دی په خپل ملک او تصرف کې يعني څوک يې مانع نه سي کېدای او په هر شي د خپل مخلوق ښه خبر دی.

دروښ وايي: چې روح المعاني، روح البيان، بيضاوي او مظهري چې تخصيص ددې دوو اوصافو وکړی لما في القرآن من الاعجاز (يعني چې سړی په مثل سره دده د کوچني سورت راتګ نسي کولای) او نور علوم متنوعه پکښې سته چې دا دال دی پر دې چې منزل يې خاوند د قدرت کامله دی او د علم بالغ دی، وقد نسب الى الامام الاعظم ؒ جميع العلم في القرآن لکن تقاصرت عنه افهام الرجال.

غَافِرِ الذَّنْۢبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ شَدِيْدِ الْعِقَابِ ۙ

چې بخښونکی د ګناه دی و مؤمنانو عصيانو ته او قبلونکی د توبې دی و کافرانو ته چې له کفره توبه و کاږي، سخت دی عذاب دده، يعني هغه چا ته چې لا اله الا الله نه وايي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي "توب" مصدر دی د تاب یتوب توبة، او بعض مفسرین وایي چي توب جمع د توبة ده، او له ابن عباس ؓ څخه روایت دی "غافر الذنب لمن قال لا اله الا الله، وقابل التوب لمن قال محمد رسول الله".

فائده: دواړه لفظه صفتان دي د لفظ الله.

سوال: په نحو کي وایي اضافت د صفت و خپل معمول ته اضافت لفظي د اضافت لفظي څو تعریف نه فائده کوي، نو څرنګه صفت د لفظ الله کپدای سي چي معرف دی؟

ځواب: په علم نحو کي وایي چي اضافت و معمول ته هلته لفظي دی چي صفت په معنی د حال یا استقبال وي دلته اضافت معنوي دی لعدم ارادة الزمان المخصوص بل هي للاستمرار.

فائده: ددې وصفین تر منځ چي واو راوړی دی لافادة الجمع بین الوصفین یعني محو الذنب وقبول التوبة کذا قال المظهري ؒ.

پوه سه: چي توبه ترک د ګناه دی، او هغه درې قسمه ده (۱) تائب ووایي چي ما دا ګناه نه ده کړې (۲) یا ووایي چي دا ګناه ما د فلاني سبب کړې ده، مثلاً زما مشر د قوم راته وویل چي دا فلانی بد کار وکړه (۳) یا داسي چي دا ګناه ما کړې ده بد کار مي وکړی بیا یې نه کوم، وهذا ابلغ الوجوه للتوبة، همدغه ته توبه په شرع کي وایي. او په شرع شریف کي توبه هغه ده چي یو ګناه پریږدي په سبب د بدوالي یعني داسي نه وي چي یو سړی غلا وي کوي د خلګو کورونه لوټوي اخیر په ستر کورونو سي یا شل سي مثلاً نو غلا پریږدي، دا توبه نه ده، او بل رکن د توبې دادی چي پر ما مضی ګناه به پښیمانه وي، او دریم دادی چي پخپل قصد به کوي چي آئینده به زه دا کار نه کوم او هغه ګناهونه چي امکان د تدارک یې وي د هغه به تدارک کوي، مثلاً لمونځونه یې نه وي کړي، روژې یې بې عذره خوړلي وي الی غیر ذالک، نو د هغو به قضاء راوړي، یا یې د چا حق خوړلی وي د هغه حق به ورکوي یا به عفو ځني غواړي، فمن اجتمعت فیه هذه الاربعة فقد کملت شرائط التوبة، وفي هذه الصورة ورد "التائب من الذنب کمن لا ذنب له" دا خو د توبې معنا وه، او استغفار طلب المغفرة من الله تعالی لپاره د ګناه چي ده کوله، نو توبه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تر استغفار دمخه ده او صرف استغفار بلا توبة لايكون توبة بالاجماع، نو داسي به وايي تبت واسأت ولا اعود اليه فاغفرلي يا رب.

فائده: په منځ کي د غافر الذنب او قابل التوب يې واو راوړی دی، مظهري ؒ خو لکه دمخه چي تېره سوه وايي لافادة الجمع بين الوصفين، ددې توضيح داده چي په يوه موصوف کي دوه وصفه سره جمع کېدای سي نظر ويوې طائفې ته د مذنبينو تائبينو. فالمغفرة محو الذنوب بالتوبة والقبول يجعل تلك التوبة طاعة مقبولة يثاب عليها، حتی چي په عمل نامه کي دده سيئات چي محو سي په ځای کي يې حسنات نوشته کېږي، او يا يې واو ددې لپاره راوړی دی چي که واو نه وای خلګو به توهم ددې کاوه چي قابل التوب لپاره د مجرد توضيح د غافر الذنب راوړل سو.

پوه سه: چي "شديد العقاب" بل صفت دی د اسم جليل.

سوال: شديد خو صفت مشبه دی، او د صفت مشبه معنی خو د استمرار لپاره نه سي کېدای، نو اضافت يې لفظي دی، نو څرنګه صفت د معرفې چي اسم جليل دی کړ ځېدای سي؟

ځواب: شديد په دې آيت کي په معنی د اسم فاعل دی ای مشدد العقاب لکه دمخه صفات لکه (اذين) په معنی د مؤذن دی.

ذِي الطَّوْلِ

مجاهد ؒ وايي ذی السعة والغنٰی، او قتاده ؒ وايي ذی النعيم، او بعض وايي صفات القدرة الكاملة، او الحسن ؒ وايي ذی الفضل.

فائده: بعض مفسرين وايي چي اضافت د دراول صفات اضافت لفظيه د تعريف نه فائده کوي يعني په معنی د استمرار نه دی، نو صفت د اسم جليل نه دی بلکې دې سره بدل د اسم جليل دی، نو ذی الذول هم بدل دی صفت نه دی، ولي چي په علم نحو کي وايي چي تقدم د بدل پر صفت روا نه دی كذا قال صاحب المدارک.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ اِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ۝

نسته معبود بالحق مګر الله (فيجب الاقبال على عبادته يعني قلبًا و قالبًا، صاحب المدارک وايي دا صفت اخرٰی دی د اسم جليل لکه ذی الطول) وده ته مرجع د ټولو عبادو دی يعني فيجازي المطيع والعاصي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مَا يُجَادِلُ فِيْ اٰيٰتِ اللّٰهِ اِلَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

جدال يعني ناحقه بحث نه کوي په آياتو کي د خداى، مګر نه هغه کسان چې کافران وي او مؤمنان ددوى په زړو کي يو شائبه د شک نه پيدا کېږي. فضلاً عن الطعن في الآيات القرآنية. دا آيت په قول د روح المعاني نازل سوى دى په شان کي د حارث بن قيس السلمي. احد المستزئين ونقل ذالک عن ابى العالية، والمعنى مايخاصم في آيات الله بالطعن فيها بان يقول في حقها سحر او شعر او اساطير الاولين او نحو ذالک، او يا په آيات کي تأويل کوي يعني په متشابه آيتو کي لکه "الرحمن على العرش استوى، يد الله فوق ايديهم، اينما تولوا فثم وجه الله" او نحو ذالک مخالف له هغه څخه چې په تواتر د عليه الصلوة والسلام ثابت وي.

فائده: يو بحث دى په آياتو کي د قرآن لپاره د حل د مشکلاتو د قرآن او اثبات د حقائقو د قرآن او ابطال د شبهاتو د اهل الزيغ و الضلال کالروافض والخوارج وغيرهما فمن اعظم الطاعات کجهاد رسول الله ﷺ. روى البغوي عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده هغه وايي چې يوه ورځ عليه الصلوة والسلام واورېدله د يو قوم څخه چې په قرآن يې مجادله کوله (يعني يوه به ويل چې فلانى آيت د فلاني ايت څخه مخالف دى) فقال ﷺ انما هلک من کان قبلکم بهذا ضربوا کتاب الله بعضه ببعض چې دوى آيات د يو په بل سره جنګول (يعني دا فلان آيت د فلاني آيت څخه يې حکم مخالف دى) وانما نزل کتاب يصدق بعضًا فلا تکذبوا بعضه ببعض (تاسي تکذيب د بعضو آياتو په بل سره مه کوئ) فما علمتم فقولوه (هغه چې په پوهېږئ هغه وايي) وما جهلتم فکلوه الى عالمه (چې نه په پوهېږئ هغه وسپارئ د عالم ته، يعني د عالم څخه پوښتنه وکړه) لانه قد ورد ان من العلم ان تقول لما لا تعلم لا اعلم (د علم لويه حصه ده په هغه آيت يا يو مسئله کي چې ته نه په پوهېږئ نو ته ووايې چې زه نه په پوهېږم، لکن د دور حاضر ملايان نسبت د جهل و ځان ته نه کوي يعني چې زه نه په پوهېږم د فلاني عالم څخه پوښتنه وکړئ، نه پوهېدل دى د ځان عار بولي خصوصًا که د غټ مقتدي په مخ کي څوک پوښتنه ځني وکړي)

حکايت: قاضي القضات امام ابو يوسف چې هارون الرشيد پر دې رتبه مقرر کړى په عوض کي د امام اعظم چې امام اعظم له قبول څخه د هغې رتبې منع وکړه او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هارون الرشید دی بندي کړی، امام اعظمؒ په بندي خانې کې ناجوړی سو ... بیت:

بو حنیفه قضا نکرد وبمرد ..... توبه میری اگر قضا نه کنی

نو امام ابو یوسفؒ چې د امام اعظمؒ ستر شاګرد وُ، هارون الرشید ته ورغلی چې امام اعظمؒ په بندي خانې کې ناجوړی دی زه به دا عهد د قاضي القضات پر غاړه واخلم، خو امام له بنده څخه ازاد کړه، هارون الرشید دا خبره ومنل او امام اعظم یې له بندي خانې څخه ازاد کړی امام ابو یوسفؒ هغه عهده سنبال کړه لکن د مخالف المذهب په دې تقرر کې د قاضي ابو یوسف پر دې لویه رتبه حسد پیدا سو او دا یې عزم وکړی چې په اوله جمعه چې ابو یوسف وعظ او تبلیغ کوي او هارون الرشید هم حاضر وي خجالت او رسوا کوو به یې، نو لس (۱۰) دقیقي مسئلې یې له کتابو څخه راجمع کړې او ویو عالم ته چې په دوی کې وُ وسپارلې چې ته د یوې یوې مسئلې پوښتنه ځنې کوه چې دی څه جواب درته وایي، خیر د جمعې ورځ چې راغله عموماً اهل بغداد او هارون الرشید په خپله هم حاضر وُ، نو قاضي ابو یوسفؒ چې څو خبرې وکړې هغه په خزه کې د بنکار حاسد د یوې مسئلې د هغو لسو څخه پوښتنه ځنې وکړه، امام ورته وویل لا اعرف، زه نه یم په خبر ثم وثم الی اخیر عشرة مسائل امامؒ تر لا اعرم بالا جواب نه ورکاوه، حاسد مذکور ورته وویل چې ته چې دومره جاهل یې. نو ولي دې څینې د منبر تر موږ لوړ ناست یې؟ امام المسلمین ابو یوسفؒ ورته وویل: چې زما جهل زما تر علم دومره ډېر دی که زه په اندازه د جهل خپل لوړ کښېنستلای زه به په پر اسمان وای تاسي به په پر مځکه وای.

دروېش وایي: چې حقاني عالم او عالم زموږ د زمانې باید له دې قصې څخه عبرت حاصل کړي لکن هیهات، دا جمله معترضه وه اوس بیرته د جدال في آیات القرآن پر لور، نژدې د البغويؒ و روایت ته مسلم هم روایت کړی دی "عن ابی هریرةؓ عن النبي ﷺ انه قال ان جدلاً في القرآن کفر" رواه البغويؒ، وفي حدیث آخر رواه ائمة الحدیث من حدیث عبد الله بن عمرو و عن ابی هریرةؓ ایضاً بلفظ المرأ في القرآن کفر، قاضي بیضاويؒ وایي: لما حقق الله سبحانه امر التنزیل (ای القرآن المنزل) سجل بالکفر علی المجادلین فیه بالکفر، یعني بحیث الطعن وابطال الحق، روح المعاني وایي چې په حدیث کې د ابی هریرةؓ چې جدالاً نکره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راغلی دی اشاره و دې ته ده چې جدال في القرآن کې څو قسمه دي یو قسم یې کفر او ضلال دی و هو ماکان من قبیل الطعن و ادحاض الحق، ونوع آخر منه محمود بل طاعة وجهاد کمامر عنقریب فتدبر.

فَلَا يَغُرُّكَ تَقَلُّبُهُمْ فِي الْبِلَادِ ۝

الفاء لجزاء الشرط المحذوف یعني اذا علمت یا محمد ﷺ ان هؤلاء (یعني کفار مکة) شدید في الکفر قد خسروا الدنیا والآخرة (یعني چې دوی مجادله په آیتو کې د العزیز العلیم اختیاره کړه او په کفر هم تینګ سوه) نو ته مه ختاوزه په استدراج سره د خدای ﷻ دوی لره په فراخي د رزق وامهالهم چې خدای ﷻ دوی ته مهلت ورکړی دی او دوی سفرونه کوي و بلاد و ته د یمن او شام د ګټورو تجاراتو لپاره ای رحلة الشتاء والصیف کما جاء في القرآن لان الآیة في کفار قریش چې دوی به په ژمي کې یمن ته تله د تجارت لپاره او په دوبي به شام ته تله، ووجه النهي عن التغرر آه، دا امهال د خدای ﷻ دی اهمال نه دی، فان عاقبتم الهلاک عنقریب، په تفسیر عین المعاني کې وایي فلا یغرنک ایها المغرور، والمراد غیره ﷺ یعني خطاب للمقلدین من المسلمین، انتهی کما فعل الله بامثالهم حیث قال:

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَالْأَحْزَابُ مِنْ بَعْدِهِمْ

تکذیب کړی دی تر کفار مکه د مخه یعني د رسول قوم د نوح، او نورو ډلو او قومو وروسته تر قوم نوح چې هغو هم د رسولانو تکذیب کړی ؤ، کعاد و ثمود.

فائده: تانیث د کذبت په اعتبار د تأویل د قوم دی په قبیله سره.

وَهَمَّتْ كُلُّ أُمَّةٍ بِرَسُولِهِمْ لِيَأْخُذُوهُ وَجَادَلُوا بِالْبَاطِلِ

او قصد کړی ؤ هر قوم و خپل رسول ته، ابن عباس رض د "یأخذوه" معنی دا کړې ده: لیقتلوه و یهلکوه، او بعض مفسرین وایي چې بندي یې کړی، او هغو هم جدال کاوه د خپل رسول سره په باطل سره، یعني قول اهل مکة ما انتم الا بشر مثلنا، او یا لو لا انزل علینا بالملائکة او نری ربنا ونحو ذالک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لِيُدْحِضُوا بِهِ الْحَقَّ فَأَخَذْتُهُمْ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ۝

چي دوی باطل او زائل کړی په ځپله حق چي توحيد دی، ما دوی ونيول په اهلاک (جزاءً دا جمله عطف ده پر جادلوا)

پوه سه: چي په عقاب کي يا، عوض دی له مضاف اليه ځخه ای عقابي الذي عاقبتم يعني اخير د امم ماضيه. استفهام لپاره د تقرير او تعجب دی د اهل مکه. ولي چي دوی پر اثار د امم ماضيهؤ د اهلاک تېرېږي په اسفار کي، نو بايد ددوی لپاره دا اثار عبرت وګرځي ورنه دوی به هم د دغه عذاب سره مخامخ سي لاتحادهم في الطريقة واشتراكهم في الجريمة كما ينبئ عنه قوله تعالى.

وَكَذٰلِكَ حَقَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ ۝

يعني كما ثبت و وجب حكمه تعالى و قضائه تعالى (د حقت معنى ثبت ده، له كلمة ربک ځخه مراد قضاء الهي ده په تعذيب سره پر امم ماضيهؤ چي تكذيب د رسولانو يې كاوه المتحزبة المجادلة، د الذين كفروا ځخه مراد قوم د عليه الصلوة والسلام دی چي دوی تاته په ډليزه توګه ولاړ دي او ستاد قتل بنت و بست يې هم کړی دی) دوی ملازمين د اور دي يعني د دوزخ، بحذف لام التعليل اى لانهم اصحاب النار و مستحقوا اشد العذاب و العقوبات لكون كفار مكة معاندين لرسول الله ﷺ كعادة كفار الامم الماضية.

اَلَّذِيْنَ يَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهٗ

مبتداء ده خبر يې وروسته يسبحون دی، هغه ملكي چي عرش الرحمن ددوی پراوږو پروت دی او هغه ملكي چي پر شاوخوا د عرش دي يعني طواف پر کوي چي کروبيون يې بولي چي سادات د ملائكو دي.

پوه سه: چي روح المعاني وايي چي دا ملائكه په غايت كثرت كي دي لايعلم عدتهم الا الله.

فائده: كروبيون جمع ده بفتح الكاف وضم الراء المهملة المخففة وتشديدها خطاء ثم واو بعدها ياء مشددة مشتق من كرب بمعنى قرب (لقربهم الى الله) كذا في روح المعاني.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دا حملة العرش په باره تتبع د اثار يعني احاديث نبوي په کار ده د عقل کار نه دی، فما جاء في الحديث الصحيح بسند مروي في واحد من کتب الصحاح فهو حق.

(۱) په حديث کي چې ابو الشيخ ؒ يې له وهب ؒ څخه روايت کړی دی چې حملة العرش څلور دي چې په ورځ د قيامت نوري ملکي د کومک لپاره ورسره يو خاي کيږي. يو د ملکه په هغو کي په صورت د انسان ده چې هغه شفاعت د بني آدمو خدای ﷻ ته په باره کي د رزق د دوی کوي، او بله ملکه په صورت کي د نصر (باښه) ده چې شفاعت د مرغانو د رزق کوي، او بله ملکه په صورت د ثور (غوايي) ده چې شفاعت د حيواناتو کيږي، او بله ملکه په صورت د اسد (زمري) ده چې شفاعت د سباع (درندګانو) د ارزاقو کوي فلما حملوا العرش، نو دوی پر زنګنو سي من عظمته تعالى، نو دوی ته تلقين وکړل سي د خدای ﷻ له خوا څخه په لا حول ولا قوة الا بالله سره، نو دوی پر پښو جګي ودريږي.

(۲) ابو الشيخ او البيهقي په شعب الايمان کي له هارون بن زياب ؒ څخه روايت کړی دی، وايي چې حملة العرش اته دي (يعني يوم القيامة کما مر عنقريب) څلور ملکي د هغو په صوت ضعيف سره وايي: سبحانک وبحمدک على حلمک بعد عفوک، او څلور ملکي وايي: سبحانک وبحمدک يعفوک بعد قدرتک، او په يوه روايت کي د اولو څلورو ملکو په باره کي داسي راغلي دي: سبحانک و بحمدک على حلمک بعد علمک، او روح المعاني وايي چې ظاهره چې حمل پر حقيقت محمول دی او دا حمل د عرش الرحمن د لوی ملکو پر ذمه دی.

(۳) ابو يعلى او ابن مردويه ؒ په صحيح سند سره له ابی هريرة ؓ څخه روايت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ اذن لي (ما ته اجازت راکړل سوی دی يعني د خدای ﷻ له خوا) چې زه تاسي ته بيان وکړم د يوې ملکي د حملة العرش چې پښې يې په ارض سفلى کي بنځي دي او عرش يې پر اوږو دی او داسي وايي: سبحانک انى كنت واين تكون.

(۴) و اخرج ابو داؤد بسند صحيح عن جابر ؓ بلفظ اذن لي ان احدث عن ملک من ملائكة الله من حملة العرش ما بين شحمة اذنه الى عاتقه مسيرة (۷۰۰).

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي روح المعاني په قيل سره روايت کړی دی د من حول العرش د ملکو په عدد کي چي دوی اوويا زره صفه دي د ملکو چي پر عرش باندي طواف کوي چي لآ اله الا الله وايي او الله اکبر وايي، او د هغو تر شا اوويا زره صفه دي چي هغه هم تهليل او تکبير وايي او تر هغه وروسته يو لک (۱۰۰۰۰۰) ملکي دي چي راسته لاسونه يې پر چپه لاسو ايښي دي او هره ملکه د دوی داسي تسبيح وايي چي بله ملکه هغه تسبيح نه وايي بلکې بله تسبيح وايي: سبحانک ما اعظم شانه.

درويش وايي: چي دا به زېبا خبره وي: ولا يعلم جنود ربک الا هو.

يُسَبِّحُونَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ

تسبيح د خداى ﷻ وايي متلبسين بحمد ربهم يعني تنزيه د خداى ﷻ بيانوي عن کل ما لا يليق بشانه، او حمد يې وايي پر غير متناهي نعمتو د خداى ﷻ، په تفسير فتح الرحمن کي وايي چي دوی په دې کلماتو د خداى ﷻ تسبيح وايي سبحان ذی العزة والجبروت سبحان ذی الملک والملکوت سبحان الملک الحي الذي لايموت سبوح قدوس رب الملائکة والروح، بيضاوي وايي چي تسبيح يې اصل وګرځاوه او حمد يې حال وګرځاوه، ولي حمد خو مقتضٰی د حال ددوی وه او حال او صفت د خداى ﷻ په صفاتو سره د جلال او جمال اورد پر هغو کسانو چي خداى ﷻ ته نسبت د ملا لا يليق بشانه کوي ترجمه اولی ده.

وَيُؤْمِنُونَ بِهِ وَيَسْتَغْفِرُونَ لِلَّذِينَ آمَنُوا

او طلب د بخښني کوي يعني د خداى ﷻ څخه د هغو کسانو لپاره چي ايمان يې راوړی وي، په دې آيت کي تنبيه پر دې ده چي مشارکت په ايمان کي يوجب الشفقة که څه هم اجناس يې مخالف وي لکه ملائکه او انسانان لان الايمان اقوی المناسبات، کريمه: انما المؤمنون اخوة الخ.

رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَّعِلْمًا

يعني دوئ داسي وايي.

پوه سه: چي ربنا چي په تقدير د قول سره د وروسته کلماتو حال دی له فاعل څخه د يستغفرون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې رحمةً و علمًا تميز دي له نسبت څخه د وسعت و خدای ﷻ ته چې تميز مجول د فاعل يې بولي، په علم نحو کې وايي والاصل وسعت کل شئ رحمتک و علمک وقدم الرحمة لانه مقصود بالذات ههنا لان المغفرت فرع لها.

فَاغْفِرْ لِلَّذِينَ تَابُوا وَاتَّبَعُوا سَبِيلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيمِ ۝

(الفاء للسببية، فان الرحمة سبب المغفرة كما مر آنفًا) هغه کسانو ته چې رجوع يې کړې وي له کفر څخه و اسلام ته او متابعت ستا د دين يې کړی وي چې تا رسولان په هغه دين سره را استولي وي، او وې ساتې له عذاب څخه د دوزخ، مطرف بن عبد الله ؒ وايي چې انفع د عباد الله للمؤمنين الملائكة دي، او ابغض د مؤمنانو من خلق الله الشياطين دي.

رَبَّنَا وَأَدْخِلْهُمْ جَنَّاتِ عَدْنٍ الَّتِي وَعَدْتَهُمْ

ای ربه ته داخل کړې دوئ، يعني مؤمنان جنتو ته په اقامت (چې ټوله جنتونه ځای د اقامت ابدي دي) چې تا وعده ورسره کړې ده د دوی سره.

فائده: نداء يعني ربنا چې اصل يې يا ربنا دی حرف نداء يې حذف کړی په مکرر راوړلو لپاره د جلب د رحمت د رب العزت.

فائده: مفعول ثاني د وعدتهم محذوف دی (ایاها).

وَمَنْ صَلَحَ مِنْ آبَائِهِمْ وَأَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّيَّاتِهِمْ ۚ

پوه سه: چې من صلح عطف دی پر في ادخلهم.

پوه سه: چې مراد په دې ځای کې نفس ايمان دی فان المؤمن صالح لدخول الجنة که څه هم مرتکب د کبائرو ګنهو وي، بغفر ان الله تعالى فانه يغفر الذنوب جميعًا لمن يشاء قال المظهري وانما قلنا ذالک (چې مراد له صلاح څخه نفس ايمان دی) ليتحقق التغاير بين المعطوف و المعطوف عليه (المعطوف هو من صلح آه دی، والمعطوف عليه الذي تابوا دی) ولي که چېرې مراد له صلاح څخه صلاح د عقائدو او د ټولو اعمالو وي، نو من صلح به داخل سي په الذين تابوا واتبعوا سبيل الله کې کما لايخفى.

ترجمه: او ته داخل کړې جنات عدن ته هغه کسان چې ايمان يې راوړی وي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ددوئ د پلرو، زوجاتو او اولادو څخه، قال البغوي ؒ قال سعید بن جبیر ؒ یدخل المؤمن الجنة نو دوی ووایي این ابي این امي این ولدي این زوجي (زما پلار چېري دی زما مور چېري ده، زما زوی چېري دی یا لور زما او زوج چېري دی، زوج نر او ښځي دواړو ته وایي).

ملکي ورته ووایي چي هغو خو دومره عمل نه ؤ کړی چي هغه دي سبب د دخول جنت ګرځېدلی وای، مؤمن ورته ووایي چي ما خو عمل د خیر د ځان او ددوی لپاره کاوه، نو خدای ﷻ دا امر وکړي چي هغه کسان چي مؤمن کامل یې غواړي هغه هم جنت ته داخل کړي.

پوښتنه: دا حدیث مرفوع و علیه الصلوة والسلام ته دی، بلکې پر سعید بن جبیر باندي ولاړ دی، نو په دې حدیث استدلال څرنګه صحیح دی؟

ځواب: محدثین په اجماع دا وایي چي هغه حدیث چي و مضمون ته یې د عقل لار نه وي لکه امور د اخرت هغه که څه هم موقوف وي حکم د مرفوع لري.

إِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۝

په تحقیق ته قادر یې پر هر هغه شي چي ستا اراده ورته وسي، او مانع دي څوک نه سي کېدلای، حکم یې چي بې حکمته کار ته نه کوې، و من ذالک الوفاء بالوعد.

وَقِهِمُ السَّيِّئَاتِ ۚ وَمَن تَقِ السَّيِّئَاتِ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمْتَهُ ۚ

ته وساتې دوی له عذابو څخه (یا مراد دادی له جزاء څخه د اعمال سیئه ؤ په دنیا کي او یا معنی داده چي تې وساتې دوئ له اعمال سیئه ؤ څخه په دنیا کي یعني هغه کسان ژوندي وي) او هغه څوک چي ته یې یا الله ؒ) وساتې له سیئاتو څخه په دغه ورځ، یعني یوم الجزاء له عذاب څخه د سیئاتو یا په دنیا کي له عمل څخه د سیئاتو.

فائده: "فقد رحمته" دا جمله دلیل دی د جزاء د شرط (ولي چي من شرطیه ؤ) دا دلیل په ځای کي د جزاء راوړل سوی دی، والتقدیر و من تق السیئات یفلح (دا جواب محذوف دی) او قد رحمته د دې سببه چي یا رحم پرو کړې (دا دلیل د جزاء دی)

وَذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ۝

او دا رحمت، یا دا ساتنه یا مجموعهما، کامیابي ده لویه، وبالفارسیة: آن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پیروزی بزرگشت که هر که امروز درسایهٔ عصمت الهیست یعنی در دنیا فردا یعنی در قیامت سایهٔ رحمت نامتناهی خواهد بود، ودرین باب گفته اند:

امروز کسی راه درآری به پناه ..... فردا بمقام قربتش بخشی راه
اوراکه رهش ندارد بـر درگاه ..... فردا چه کند که نکند ناله و آه

پوښتنه: خدای ﷻ خو وعده کړې ده د مؤمنانو سره په دخول د جنت سره او خلف په وعد کې د خدای ﷻ محال دی، نو څه فائده د سوال د ملکو د ادخال د مؤمنانو و جنت ته، او ورته سوال پر دعاء د مسلمانانو و نبي ﷺ ته چې ورروسته تر آذان وایي: اللهم رب هذه الدعوة التآمة والصلوة القائمة آت محمداً ن الوسيلة والفضيلة والدرجة الرفيعة وابعثه مقامًا محمودًا ن الذي وعدته، مع ان کل ما دعوتهم له ﷺ حاصل و موعود من جانب الله ﷻ له ﷺ لان الخلف محال في وعده تعالى؟

ځواب: ددې دوارو سوالونو جواب دادی چې باعث پر دعاء د ملکو للمؤمنین یا پر دعاء د مؤمنانو و علیه الصلوة والسلام ته اظهار د محبت د ملکو دی د مؤمنانو سره او دغه رنګه اظهار د محبت د مؤمنانو دی د علیه الصلوة والسلام سره لما القادم الله في قلوبهم (ای الملائکة والمؤمنون) او فائده مزید رحمت د خدای ﷻ دی للمؤمنین في دعاء الملائکة او مزید رحمت د خدای ﷻ دی و نبي ﷺ ته او چونکه علماء وایي چې محبت نسبت متکرره دی، نو په دعاء کې د ملکو یا په دعاء کې د مؤمنانو و علیه الصلوة والسلام ته جلب د رضوان الله ورحمته ودعاء کونکو ته چې ملکي دي یا مؤمنان دي رائجي په سبب د محبوبانو.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنَادَوْنَ

پوه سه: چې دا آیت په قول د مظهري ؒ وغیره متصل بقوله تعالى: ما يجادل في آيات الله الا الذين كفروا آه، وما بينهما جمل معترضة في مدح الملائكة الموصوفين بالايمان المستغفرين للمؤمنين الذين هم اعداء الكافرين "ينادون" و دوی ته ناري وهل کېږي د خزنة النار له خوا په ورځ د قیامت او دوی به په اور کې د دوزخ وي، او دوی یعني دوزخیان پر نفوسو امارة بالسوء سره په حال کې د غضب وي په داسي حال کې چې دوی ماجرى عليهم من العذاب و وينې په سبب د کفر او عصیان چې نفوسو اماره ؤ دوی په امر کړي، نو خزنة النار داسي دوی ته ووایي:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَمَقْتُ اللّٰهِ اَكْبَرُ مِنْ مَّقْتِكُمْ اَنْفُسَكُمْ اِذْ تُدْعَوْنَ اِلَى الْاِيْمَانِ فَتَكْفُرُوْنَ ﴿۱۰﴾

هر آئینه غضب د خدای ﷻ پر تاسي لوی دی تر غضب ستاسي پر خپلو ځانو (یعني انفس اماره ؤ) هغه وخت چي تاسي بلل کیداست د رسولانو د خدای ﷻ له خوا و ایمان (یعني بالتوحید) نو تاسي به خپل کفر ته ادامه ورکړه او د رسولانو دعوت مو نه قبلاوه.

پوه سه: چي په "لمقت الله" کي لام جواب د قسم محذوف دی او کلمه د اذ منصوب محلاً ده په اذکر سره، شیخ سعدي قدس سره وایي:

نظر دوست نادر کند سوی تو ..... چو درروئ دشمن بود روئ تو
گرت دوست باید کزو برخوری ..... نباید که فرمان دشمن بری
ندانی که کمتر نهد دوست پای ..... چو بیند که دشمن بود درسرای

حقیقت یې ظاهر دی، اشاره یې داده چي مراد له دوست څخه خدای ﷻ دی او له دښمن څخه مراد نفس او شیطان دي، یعني چي ته د نفس او شیطان په امر کار کوې خدای پاک په نظر د محبت تاته نه کوري فافهم.

قَالُوْا رَبَّنَآ اَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ وَاَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ

ووایي یعني کافران په ورځ د قیامت چي عذاب د دوزخ وویني، یا ربنا موږ دي پیدا کړي ؤ مړي یعني نطفې په ملاؤ کي د پلرو یا دي ژوندي کړو په رحمو کي د میندو، یا دي مړه کړو په وخت کي د انقضاء الآجال یا دي ژوندي کړو په ورځ د قیامت، کذا قال ابن عباس وقتادة والضحاک ؒ کما في قوله تعالى: كنتم امواتا فاحياكم ثم يميتكم ثم يحييكم، او السدي ؒ وایي امتنا في الدنيا ثم احيينا في القبر للسوال اى لسوال النكير والمنكر، ثم امتنا في القبر يعني بعد السوال ثم احييتنا يوم البعث.

دروښ وایي: چي مبنی د قول د السدي ؒ پر دې ده چي اماتة خامخا دمخه ژوند غواړي، نو د پلرو په ملاو کي دمخه ژوند دوی نه درلودی، نو څرنګه یې هغه ته اماتة وایه، وهذا المبنى فاسد لان معنى الماتة جعل الشيئ عديم الحيوة ابتداءً كان (لکه دوی چي نطف وي په ملاؤ کي د پلرو) يا بالتفصيير لکه اماتة بعد الحيوة في الدنيا كما في قولهم سبحان من صغر البعوض وكبر الفيل لان معنا هذا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

القول دا نه ده چې بعوض دمخه لويه وه خدای ﷻ کوچنۍ کړه يا فيل دمخه کوچنی وُ خدای ﷻ لوی کړی، بلکې معنی يې داده چې خلق الله ابتداءً البعوض صغيرًا و الفيل كبيرًا و كما في ضيق فم الركية، ددې دا معنی نه ده چې د څاه خوله فراخه ده تنګه يې کړه، بلکې معنی يې داده چې ابتداءً د څاه خوله تنګه شروع کړه او بل پر قول د السدي ؒ دا سوال وارد پرې چې سوال في القبر خو داسي ژوند نه غواړي لکه حيوة الدنيا كما لايخفٰى، ولي که يې داسي ژوند غوښتلای لکه د دنيا نو عذاب القبر هم بايد داسي وای لکه عذاب الدنيا، او بله خبره داده چې بايد له کفارو څخه عذاب القبر قطع سي چې وروسته تر ژوند په قبر کي لکه سدي ؒ چې وويل يې ر ته مړه سئ مع ان الامر ليس كك بل عذاب قبورهم دائم الى يوم البعث فافهم.

فَاعْتَرَفْنَا بِذُنُوبِنَا فَهَلْ إِلَىٰ خُرُوجٍ مِّن سَبِيلٍ ﴿١١﴾

نو موږ اقرار يو په خپلو ګنهو سره، کلمه د فاء لپاره د سببيت ده سبب د اقرار ددوی په معاصيو او کفر سره چې دوی حيوة ثانيه بعد الموت وليدی چې دوی په دنيا کي ځني منکر وه، آيا سته ويو قسم ته د خروج له اور څخه که ژر وي او که څه مده وروسته وي يعني دنيا ته يوه لار چې موږ پر هغه رفتار وکړو.

فائده: ظاهر خو يې استفهام دی او معنا او مراد ددوی تمنی د وتلو و دنيا ته، نو دوی ته جواب ورکړل سي لاسبيل لكم الى الخروج، دا جمله يې حذف کړه ولي وروسته آيت دلالت پر کوي.

ذَٰلِكُم بِأَنَّهُ إِذَا دُعِيَ اللَّهُ وَحْدَهُ كَفَرْتُمْ

دا انتفاء د خروج و دنيا ته او دا عذاب د دوزخ چې تاسي پکښې ياست په سبب ددې دی چې تاسي به وبلل سوا ست د خدای ﷻ په توحيد سره يعني لآ اله الا الله تاسي به کفر اختيار کړی او دا به مو ويل، اجعل الآلهة الهًا واحدًا يعني پر طريقه د استفهام انکاري.

پوه سه: چې وحده په معنی د متوحدًا دی حال دی د اسم جليل څخه او ضمير د انه لپاره د شان دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِنْ يُشْرَكْ بِهِ تُؤْمِنُوا ۚ فَالْحُكْمُ لِلَّهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيرِ ﴿١٢﴾

او که چا شریک خدای ؑته ووایه غیر الله تاسي به یې تصدیق کاوه په اشراک کي (نو دا سبب د دخول ستاسي سو په اور کي یعني الی الابد) نو دا حکم لله دی خاصةً الذي هو المستحق للعبادة المنزه عن الشریک، هغه خدای ؑپر تاسي حکم د عذاب شدید دائم کړی دی بسبب کفرکم طول حیوتکم في الدنیا، نو که خدای ؑ لره شریک وای نو هغه به تاسي خلاص کړي وای له دې عذابه څخه و اذا کان الامر کذالک فلا سبیل لکم الی الخروج "العلي الکبیر" الله ﷻ چې عالي دی شریک نه لري او عظیم الشان دی.

هُوَ الَّذِي يُرِيكُمْ آيَاتِهِ وَيُنَزِّلُ لَكُمْ مِنَ السَّمَاءِ رِزْقًا ۚ

خدای ؑ هغه ذات کبریاء دی چې په تاسي وینې آیات چې دال پر توحید د خدای ؑ دي ..... بیت:

برگ درختان سبز در نظر هوشیار ..... هر ورقی دفتریست معرفت کردگار

"وینزل آه" او نازلوي، یعني اوروي ستاسي د نفع لپاره له اسمانه څخه اوبه، یعني باران د رزق چې سبب د رزق ستاسي دی، ولي چې ارتزاقي مواد عمومًا په باران پوري مربوط دي، په دې آیت کي عذر ددوی په جهل سره یعني دوی به دا شاید ووایي چې مورِ خو جاهلان ؤ په توحید د صانع نه پوهیدلو خدای ﷻ رد په دې سره وکړی چې ستاسي په حضور کي دې هر داسي آیات وه چې صالح ددې وه چې تاسي دلیل پر توحید کړ ځولي وای، لکن تاسي عناداً یا تکبراً یا تقلیداً للآباء شرک مختار کړی.

وَمَا يَتَذَكَّرُ إِلَّا مَنْ يُنِيبُ ﴿١٣﴾

او پند نه اخلي له آیاتو څخه مګر هغه څوک چې رجوع وکړي له تعصب او عناد څخه او د تکبر او تقلید الآباء څخه، په دې وروسته آیتو کي مخاطب نبي ﷺ والمؤمنون دي، پس له دې چې جواب د اهل النار وپای ته ورسېدی او غائبې ماتونکی جواب ورکړل سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَادْعُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۱۴﴾

جواب د شرط محذوف دی یعني اذا سمعتم مایؤل امر المشرکین، نو تاسي ایها المؤمنین عبادت کوئ د خدای ﷻ په داسي حال کي چي خالص له شرک څخه به کړ ځوئ خپل طاعت، یعني که څه هم اعداؤ ته ستاسي غم او غصه زیاتوي پروا مه کوئ یعني وقل لهم موتوا بغیضکم.

رَفِيْعُ الدَّرَجٰتِ ذُو الْعَرْشِ ۚ

لوړ دي درجات د کمال د خدای ﷻ چي په مقابل کي د کمالاتو الهیه ؤ ټوله کمالات کان لم یکن شیئًا دي، او بعض مفسرین وایي چي رفع که څه هم صفت مشبه دی لکن دلته په معنی د رافع اسم فاعل دی، فالمعنی رافع درجات انبیائه و اولیاء في مراتب القرب الیه تعالی وفي الجنة بعضها فوق بعض "ذو العرش" ای مالکه وخالقه، دا بل خبر دی د هو، یعني خدای ﷻ د عرش عظیم چي محیط دی پر ټوله عالم علوي او سفلي باندي چي راویان وایي چي عرش ځورلس رکنه لري، چي له یوه رکنه تر بل رکن پوري د ځلورو لکو مسافت دی، خلقه فوق السمٰوات وفوق الکرسي اظهارًا لقدرته داسي نه ده چي عرش د خدای ﷻ مکان دی لکه مجسمه چي وایي بل الله علی ماکان علیه قبل خلق العرش.

فائده: داسي هم نه ده چي د خدای عزوجل بالاد عرش تر جسم په قدرت کي نسته بل العرش مثل خردلة في جنب جلالته وقدرته او عرش مطاف دی د ملکو لکه بیت الله الشریف د انسانانو د طواف ځای دی الی غیر ذالک من الحکم والمصالح.

يُلْقِي الرُّوْحَ مِنْ اَمْرِهٖ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ لِيُنْذِرَ يَوْمَ التَّلَاقِ ﴿۱۵﴾

نازلوو وحي په خپل حکم سره پر هغه چا چي اراده یې وسي له خپلو بندګانو څخه د دې لپاره چي و بهروي خلګ د ورځي له ملاقات څخه یعني قیامت.

فائده: وحي ته روح وایي له دې کبله چي په وحي سره ژوند د زړو دی لکه په روح سره چي ژوند د بدنونو دی "من امره" بغوي ؒ وایي چي ابن عباس ؓ وایي ای من فضله، نو کلمه د من لپاره د ابتداء ده "علی من یشاء آه" پر هغه چا چي د خدای ﷻ اراده ورته وسي له بندګانو څخه خپل یعني نبوت کسبي شی نه دی بلکې فضل الهي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی، او ضحاکؒ وایي چي له روح څخه مراد جبرئیلؑ دی ای یرسله الی من یشاء، نو کلمه د علی په معنی د الی ده، والاول هو الاولی "لینذر" غایة وحکمة الالقاء.

فائده: ضمیر مستکن راجع دی یا لفظ الله ته یا روح ته یا من ته وهو اقرب، چي وبهروي خدایؒ یا روح یا من یلقی الله چي مراد ځني رسول دی من کان.

بوه سه: چي مراد له یوم التلاق څخه ورځ د قیامت ده چي په هغه ورځ کي ټوله اهل السماء والارض سره یو ځای کیږي یا خلق او خالق سره یو ځای کیږي، قاله مقاتل وقتادهؒ: یا ظالم و مظلوم سره یو ځای کیږي، قاله میمون بن مهرانؒ والخصوم ایضًا، وقیل یلتقی فیه العابدون والمعبودون وقبل المرء مع عمله، یقول الفقیر الکل صحیح.

يَوْمَ هُم بَارِزُونَ ۖ لَا يَخْفَىٰ عَلَى اللَّهِ مِنْهُمْ شَيْءٌ ۖ

هغه ورځ چي دوی، یعني خلک بنکاره وي چي مراد ځني د قیامت ورځ ده، یعني حاضر وي، او نه دی پټ پر خدایؒ له دوی څخه هیڅ شی.

لِّمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ۖ لِلَّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ ﴿١٦﴾

چا لره ملک او سلطنت او تصرف دی؟ هغه خدایؒ لره دی چي یو دی په ذات او صفاتو کي، او منزه دی له شریک څخه چي قهار دی قهر الخلق بالموت.

دروښ وایي: چي مظهريؒ وایي چي دا منادي یعني اعلان کونکی خدایؒ دی وذالک بعد فناء الخلق قبل البعث په دې وخت کي خو هیڅ څوک نسته چي جواب ورکړي، ولي چي ټوله خلک په کتم کي د عدم دي، نو خدایؒ په خپله خپل سوال ته جواب ورکوي لله الواحد القهار، بیا مظهري تر دې عبارت وروسته یې یو حدیث راوړی دی چي د پر طویل دی چي دده د ذکر کړي خبري هیڅ تائید نسته پکښې، په اخیر کي مظهري ویلي دي وحق حقیق بالقبول چي روح البیان او روح المعاني راوړې ده رجوع یې کړې ده، وقال وسیاق الایة حقیقي انه (یعني لمن الملک آه، انه حکایة لما یسئل عنه في ذالک الیوم بعد احیاء الخلق یوم هم بارزون انتهی) اوس غوږ وسه د روح المعاني او روح البیان د عبارت و حاصل ته ای یقال حین بروزهم (ای بعثهم بعد الموت) وظهور احوالهم (مؤمن او کافر دواړو ته خپل احوال معلوم دي یعني یا جنتي کېدل او یا دوزخي کېدل)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو یو منادي ناره وکړي (یعني من الملائکة) یا رب ﷻ لمن الملک الیوم، نو بعینه هغه منادي جواب د استفهام داسي ورکړي، لله الواحد القهار، او یا جواب ورکړي تولـه اهل المحشر مؤمنهم و کافرهم، لله الواحد القهار لحصول العلم البدهي للکافر بالواحدانیة، نو کافر چي دا خبره کوي د هوان او ندامت په لهجه دا جواب وایي، او مؤمن یې د خوشحالۍ او د سرور او د افتخار په توګه دا جواب وایي ولي چي مؤمن په دنیا کي د لآ اله الا الله اواز بلند کړی وُ.

سوال: په دنیا کي خو هم ملک الخاص د خدای ﷻ وُ، نو دا ورځ یعني د قیامت ورځ یې ولي په ندا سره خاص کړه؟

ځواب: ملک لله ﷻ وُ په تولو ایامو او اوقاتو کي خاصةً لکن الله عزوجل په دنیا کي بعض بندګانو ته ملک عطاء کړی وُ که څه هم کافر وایي په ورځ د قیامت هغه دعوی د ملک قطع سوې وي، ولي هیڅ څوک په دغه ورځ د قیامت د ملک یا ملکیت دعوی نسي کولای، ولهذا قیل في ذالک الیوم "لمن الملک الیوم".

پوه سه: چي الیوم منصوب دی ظرف دی د تجزی تقدیم یې لپاره د حصر دی، والمعنی دغه ورځ د قیامت چي ملک مجازي د خلګو څخه سلب سي چي په دنیا کي یې درلودی ویکون الملک لله خاصة ظاهرًا وحقیقةً که څه هم ملک حقیقي د خدای ﷻ دی دائمًا في الدنیا والآخرة.

اَلْيَوْمَ تُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ ؕ

جزاء ورکول کیږي هر چا ته چي ده کسب کړی وي د ایمان او طاعت یا د کفر او معصیت.

فائده: له دې آیت څخه دا معلومه سوه چي بندګان کاسب دي په تولو عملونو او خالق خدای ﷻ دی، کریمه: والله خلقکم وما تعملون، خلافًا للمعتزلة، والدلائل والجوابات مذکورة في کتب علم الکلام للمتأخرین.

لَا ظُلْمَ الْيَوْمَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ۝

هیڅ ظلم نسته نن ورځ (چي یا دي نېک عمل ورکم کړي یا زیادت د عذاب دي ترګناه بالا ورکړي، لان الحاکم في الیوم هو الله تعالی وحده ولا یتصور ولا امکان للظلم منه تعالی لان الظلم صفة النقصان والله منزه عن النقصان في صفاته تعالی)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په تحقیق خدای ﷻ ژر دی حساب دده، په حدیث شریف کي راغلي دي چي په نیمه ورځ کي له ایام څخه د دنیا د مخلوق حساب پای ته ورسیږي.

وَأَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْآزِفَةِ

وبیروه یا محمد (ﷺ) یعني اهل مکة.

پوه سه: چي یوم منصوب دی مفعول به دی د انذرهم ولي چي منذر به دغه ورځ ده، او آزفة پر وزن د فاعلة دی، من ازف الامر ای قرب، والمراد به القیامة ځکه یې آزفة مؤنث راوړی، ونظیره ازفت الآزفة ای قربت القیامة یعني فعل یې مؤنث راوړی دی.

پوښتنه: قیامت ولي آزفة بولي؟

ځواب: لقربها لان کل ما هو آت قریب، ولهذا قیل ما ابعد ماهو فات وما اقرب ما هو آت.

إِذِ الْقُلُوبُ لَدَى الْحَنَاجِرِ كَاظِمِينَ ۚ

کلمه د "اذ" بدل ده له "من یوم الآزفة" څخه، زړونه د خلګو په نېز د حلقو ددوی یعني زړونه یې د خپلو ځایو څخه راپورته سي حلقو ته ددوی راورسیږي د ډېرې ډېرې په سبب "کاظمین" یعني د ډېرې ډک او مکروب (غمجن وي) والکظم تردد الخوف والحزن في القلب.

پوه سه: چي القلوب مبتداء ده او لدی الحناجر یې خبر دی، والکاظمین حال دی من القلوب محمول علی اصحابها اذا الاصل اذ قلوبهم، نو په ځای کي د اضافت یې الالف واللام راوړی چونکه کظم د ذوی العقول شان دی ځکه یې کاظمین جمع سلامت راوړه.

مَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ حَمِيمٍ وَلَا شَفِيعٍ يُطَاعُ ۝

نسته ظالمانو لره، یعني کافرانو لره.

بوه سه: چي ظالمین یې د کافرانو پر ځای راوړی اشاره و دې ته ده چي کافرانو ته چي دا حالات مذکوره پېښیږي په سبب د ظلم ددوی لان الظلم وضع الشیئ في غیر محله، نو مشرکان هم عبادت چي محل یې خدای پاک ؤ یې ځایه استعمال کړی یعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د بتانو لپاره "من حميم" يعني يو قريب مشفق لکه پلار يا زوی وغيرهما "ولاشفيع يطاع" نه شفاعت کونکی سته چې د هغه شفاعت دي قبول سي.

پوه سه: چې وصف يطاع مفهوم نه لري يعني چې شفاعت خو يې څوک کوي لکن شفاعت يې نه قبلېږي ای لايشفع اصلاً، کريمه: فمالهم من شافعين، يا معنی د يطاع داده چې فرضًا که يې څوک شفاعت وکړي هغه نه قبلېږي، دا بناء پر زعم ددوی ده چې دوی به ويل چې زمونږ بتان زمونږ شفاعت کوي په ورځ د قيامت.

پوه سه: چې د حميم او د شفيع تر منځ عموم او خصوص من وجه دی، فتأمل في مادتی الافتراق ومادة الاجتماع كما يقتضيه العموم والخصوص من وجه.

يَعْلَمُ خَآئِنَةَ الْأَعْيُنِ

خدای ﷻ خبر دی په کتلو د سترګو (نو د خاينة موصوف محذوف دی ای النظره) لکه کتل و داسي نا محرمي ښځي ته چې دده کتل نه وي ورته روا او په غلا ورته کتل.

سوال: نظرة يې څرنګه خائن وباله؟

ځواب: دا مجاز دی وي خائن خو هغه سړي ته وايي، نو مبالغةً يې و کتلو ته خائن ووايه، او بعض مفسرين وايي چې خائنة مصدر دی لکه عافية چې په معنی د معافات دی، فالمعنی يعلم خيانة الاعين، په حديث شريف کې راغلي دي يا ابن آدم لک النظرة الاولی معفوة لو قوعها مفاجاة (تاته اول کاته و نامحرمي ښځي ته عفو دی، ولي چې هغه نابېره واقع کېږي) دون الثانية لکونها مقارنة الفهم (ولي دوهمه پلا کتل د قصد سره يو ځای دی يعني په قصد او اختيار ورته ګوري) فهو من قبيل زنی النظر، قال الحسين الكاشفي ؒ: به چشم نظر کردن بآنچه حرامست يا غمزه کردی بمعائب مرد ای الرمز بالعين على وجه العيب حرام است.

بيت:... دوچشم از پی صنع یاری نکوست... زعيب برادر فروگير دوست

وَمَا تُخْفِي الصُّدُوْرُ ﴿١٩﴾

او په هغه شي خبر دی چې زړه يې پټ ساتي، قيل ما يتفكر الرجل في جمال امرئة اجنبية بعد ما ينظر اليها بشهوة مسارقة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاللّٰهُ يَقْضِيْ بِالْحَقِّ ۭ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَقْضُوْنَ بِشَيْءٍ ۭ

او خدای ﷻ شمل علمه بکل شیئ حکم کوي په حق سره (لانه العلیم الحکیم المالک علی الاطلاق، دا جمله عطف ده پر یعلم باندي) او هغه شیان چې مشرکین یې عبادت کوي ماسوی له خدای ﷻ څخه چې بتان او اصنام دي یا شیطانان دي یا د ملکو عبادت کوي، ظالمان دي لایقفون بشیئ لعدم قدرتهم علی القضاء.

سوال: په بتانو کې خو عدم قضاء صحیح ده، لکونها جمادات او شیطانان یا د ملکو ظالمان قضاء خو حکم کولای سي؟

ځواب: مراد له قضاء څخه قضاء بالحق ده وهي لا یتحقق فیما ذکره في السوال.

اِنَّ اللّٰهَ هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ۝

په تحقیق خدای ﷻ عالم دی په مسموعاتو او په مبصراتو سره، په دې آیت کې د علم معنی خدای ﷻ وکړه په خائنة الاعین سره، او تعریض یې وکړی پر مشرکانو چې د دوی بتان خو نه شی اوري او نه یې وینې فلا یلیق عبادتها ان کانوا یعلمون.

اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ

آیا تګ نه کوي کفار مکه په مځکه کې.

دروښ وایي: چې موافق د قانون نحوي سره وروسته تر همزه د استفهام چې حرف عطف راسي هه معطوف پر محذوف دی لان حرف الاستفهام مانع العطف علی ماقبل حرف الاستفهام لفوات صدارته، فالتقدیر ههنا اینکرون وبال بالکفر ولم یسیروا في الارض.

فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ كَانُوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ

نو دوی وګوري چې څرنګه سوی دی عاقبت (اخیر کار) د هغو کسانو چې تر دوی دمخه وه یعني هغه امتونه چې تکذیب د رسولانو یې کړی ؤ چې د هلاک بالاستیصال وکندي ته ور واچول سول، نو تاسي باید له هغو څخه عبرت واخلئ او شرک پرېږدئ او تکذیب د آنحضرت ﷺ ونه کړئ .... بیت:

پند گیر از مصائب دیگران ..... تا نگیرند دیگران زتو پند

مراد له قبلهم څخه عاد او ثمود دي چې کفار مکه ؤ ته نژدې دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كَانُوا هُمْ أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَآثَارًا فِي الْأَرْضِ فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ

وه هغه من قبلهم سخت په قوت کي (يعني په جسم کي) تر دوی يعني اهل مکة، او اثار د قوت په مځکه کي سته يعني قلا وي او محکم ښارونه الی غير ذالک، نو هغه خدای ﷻ ونيول يعني هلاک يې کړه ددوی د ګنهو په سبب من الشرک والمعاصي يا يې په چغه او ناره د جبرئيل ؑ يا په باد صرصر سره او نحو ذالک.

وَمَا كَانَ لَهُمْ مِنَ اللَّهِ مِنْ وَاقٍ ۝

او دوی لره نه سو پيدا له عذابه څخه د خدای ﷻ يو ساتونکی چې دوی له عذاب څخه د خدای ﷻ خلاص کړي، دا جمله حال ده له ضمير څخه د اخذهم.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ كَانَتْ تَأْتِيهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ فَكَفَرُوا فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ

دا اخذ د خدای ﷻ دوی لره په عذاب سره په سبب ددې وُ چې دوی ته راتلک کړی رسولانو (د خدای ﷻ) په معجزاتو واضحاتو سره يا احکام واضحات لکه توحيد د معبود يا ترک د فساد في الارض، نو دوی کفر ته دوام ورکړی او د رسلانو پيغامونه يې نه ومنل نو خدای ﷻ دوی ونيول يعني په عذاب د دنيا.

إِنَّهُ قَوِيٌّ شَدِيدُ الْعِقَابِ ۝

په تحقيق خدای قادر دی په قدرت تامه سره ددوی پر عذاب بلکې هر شی چې اراده ورته وکړي او سخت دی عذاب د خدای ﷻ فمن اخذه لمن لم يقلته، نې پريږدي.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُبِينٍ

لام موطئه د قسم دی کما مر مرارًا، او په تحقيق موږ استولی وُ موسیٰ ؑ په معجزاتو سره (چې نهه معجزې وې) او په ښکاره حجت سره ددې پر نبوت.

پوه سه: چې مراد له سلطان څخه لکړه د موسیٰ ؑ ده، جلا يې راوړه سره ددې چې په نهه معجزو کې خو لکړه هم شامله وه تفخيمًا يعني ددې د تعظيم لپاره، ولې چې پر ساحرانو د فرعون دی په دغه لکړه غالب سو او هغو ايمان راوړی او د ذکر د لکړې تخصيص بعد التعميم دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَهَامَٰنَ وَقَارُونَ

فرعون خو رئیس د عمالقه د مصرؤ که دعوه د ربوبیت یې هم کړې وه او هامان چې دده وزیر مشاور ؤ چې د هامان بې مشورې به فرعون هیڅ کار نه کاوه، نو ارسال دې دوو ته ارسال و ټول قوم ته دی تر ارسال و فرعون او هامان ته ولې چې قارون خو اسرائیلي ؤ د موسیٰ ؑ دا کار وی ؤ په اولامرکي مؤمن ؤ وروسته چې یې اموال او کنوزه ډیر سوه او موسیٰ ؑ طلب د زکوة ځني وکړی ده له زکوة څخه انکار وکړی نو کافر سوء فصار ملحقًا بفرعون وهامان.

فَقَالُوا سَٰحِرٌ كَذَّابٌ ۝

دوی وویل چې موسیٰ ساحر دی او ډیر غټ درواغ وایي یعني په دعوی کې د رسالت من الله په دې آیت کې تسلي و نبي کریم ﷺ ته ده چې ته واوره عاقبت د هغه کسانو چې ستا تر قوم یعني اهل مکه اشد قوت وه او اکثر مالاً و جاهًا وه، واقرب زمانًا مکې والوته وه، نو عاقبت په دې دنیا کې غرق په اوبو کې او اخرت په اور کې، کریمه: اغرقوا فادخلوا نارًا، او ستا قوم قریش به هم د سوء عاقبت څخه خلاص نه سي په دنیا کې لکه د بدر په غزاء او په عقبیٰ کې من النار.

فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلْحَقِّ مِنْ عِندِنَا قَالُوا ٱقْتُلُوٓا۟ أَبْنَآءَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ

چې څه وخت موسیٰ راتلګ وکړی په حق سره (چې توحید دی زموږ له خوا څخه یعني چې ما رسول وګرځاوه) فرعونیانو وویل چې وژنئ زامن د هغو کسانو چې دده سره یې ایمان قبول کړی دی یعني لکه د مخه تر موسیٰ ؑ چې مو ابناء د بني اسرائیلو وژل عمومًا، دا وار هغه قتل جاري وساتئ لکن پر زامنو د هغو کسانو چې د موسیٰ ؑ سره یې ایمان راوړی وي.

وَٱسْتَحْيُوا۟ نِسَآءَهُمْ ۚ

او باقي پریږدئ ښځي ددوی لپاره د خدمت د کورو د فرعونیانو یعني کما کنتم تفعلون اول مرة تا چې مؤمنان د موسیٰ ؑ دده له کومک څخه لاس واخلي او دی فریدًا وحیدًا پریږدي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا كَيْدُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ۝

نه دی چم او فریب د کافرانو مګر په ناکامی کي لکه چي فرعون او فرعونیانو چي په ابطال کي د دین موسیٰ ؑ فوق العادة خواری، وکښلې او هغه کید ددوی پر دوی وګرځېدی او دوی خدای ؑ د هلاک و کندي ته واچول چي په بحر قلزوم کي یې غرق کړه او موسیٰ او بني اسرائیل یې ملوک الارض کړل.

پوښتنه: د فرعون او هامان وغیرهما من اتباعهما ذکر خو دمخه تېر سو نو ضمیر یې نه کړی ورته راجع، بلکې صریح لفظ د الکافرین یې ذکر کړی حکمت یې څه دی؟

ځواب: (۱) حکمت یې تسجیل د حکم د کفر دی پر دوی (۲) فائده یې داده چي نور ورته کافرانو هم شامل سي (۳) حکمت یې علت بیانول دي لقوله تعالی وما کید الکافرین آه.

وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُوْنِيْٓ اَقْتُلْ مُوْسٰى

وویل فرعون و خپل قوم ته چي تاسي ما پرېږدئ چي زه ووژنم موسیٰ ؑ.

سوال: فرعون ولي دا خبره وکړه چي تاسي ما پرېږدئ؟

ځواب: په خاص قوم کي د فرعون چي فرعون یې له قتل څخه د موسیٰ ؑ منع کاوه خوفاً من الهلاک ظاهراً به دوی فرعون ته ویل چي موسیٰ ؑ هغه سړی نه دی د پخواني خوب لیدلو په سبب ځني پېرېدی " بل هو ساحر" او دا به یې هم ورته ویل چي که ته دی مړ کړې فعلاً خلګ به وایي چي فرعون عاجزه وُ د معارضې سره دده بالحجة نو ځکه یې پر وژلو دده تلوار وکړی، او بیضاوي ؒ وایي چي فرعون دده پر نبوت یې یقین وُ، نو له قتل څخه یې بېرېدی کما یدل علیه ما روی ان موسیٰ ؑ قال له لو امنت که ته ایمان راوړې ځواني به دي باقي وي حکمراني به دي جاري وي او خوند د طعام او شرابو او د جماعو به دي هم جاري وي د مرګ تر وخته پورې او چي مړ سې جنت ته به ورځې د فرعون په زړه کي خوښه سوه لکن هامان دده وزیر مشاور غائب وُ چي فرعون د هغه بې مشورې هیڅ کار نه کاوه، نو چي هغه راغلی فرعون خپل رایه ورپېش کړه، نو هامان شیطان ورته وویل چي زما خیال وُ چي ته صاحب الفکر یې څرنګه ته خپل معبودیت یعني چي خلګ دي خدای بولي په عبدیت بدلوې یعني عبدالله و ګرځې نو فرعون خپل رایه ملتوي کړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلْيَدْعُ رَبَّهٗ

او موسیٰ ؑ دي را و بولي خپل خدای چي دی موږ و هغه ته وربولي چي زموږ څخه يې خلاص کړي په دې خبره کي فرعون خپل تجلد (دلاوري) وعدم المبالات (چي زه باک نه په کوم په رابللو سره د موسیٰ خپل خدای) نو ځکه يې ذروني اقتل موسیٰ وليدع ربه تمويها علی قومه (چي پر قوم خبره پوشيده کړي چي فرعون لکه چي بېرېږي له موسیٰ څخه) يعني تاسي ما ځني منع کوئ چي قتل کړم بيا فرعون وويل خپل قوم ته.

إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُبَدِّلَ دِينَكُمْ

په تحقيق زه بېرېږم که يې زه قتل نه کړم پر دې چي پر دې دی به ستاسي دين دربدل کړي من عبادة الاصنام (چي فرعون کوچني کوچني بتان پر خپل صورت جوړ کړي وه او پر قوم يې وېشلي وه چي د ټول قوم خو زما وعبادت ته لار نسته نو تاسي دغه زما مجسمو ته سجدې کوئ کافي دی) ولذا قال اللعين انا ربكم الاعلى.

أَوْ أَن يُظْهِرَ فِي الْأَرْضِ الْفَسَادَ

او يا به ښکاره کړي موسیٰ که يې مړ نه کړم په مځکه کي (يعني په مصر کي فساد، مراد له فساد څخه د لعين دا وه چي د بني اسرائيلو او زما د قوم به جنګ او قتل و قتال پيدا کړي.

وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِنِّي عُذْتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُم مِّن كُلِّ مُتَكَبِّرٍ لَّا يُؤْمِنُ بِيَوْمِ الْحِسَابِ

وويل موسیٰ ؑ خپل قوم بني اسرائيلو ته چي فرعون و موسیٰ د قتل پېښرو وواهه، زه پناه غواړم په رب سره خپل او په رب سره ستاسي له متکبر څخه چي په سر کي د ټولو متکبرينو فرعون دی چي ايمان نه لري پر ورځ د حساب يعني ورځ د قيامت.

فائده: موسیٰ ؑ په اول د کلام خپل يې ان د تاکيد راوړی دی پر دې چي سبب واحد په دفع کي پناه خدای ؑ ته ور وړل دي لانه تعالى قادر على دفع كل شيئ و ان كان الشرير اشد شرًا لکه فرعون في الحال الحاضر، وانما خص في اسمائه تعالى اسم الرب له دې سببه چي مقصود د موسیٰ خو حفظ له شر څخه د هر متکبر او د حفظ رجوع و تربيت ته دده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: موسیٰ ؑ اضافت د رب و ځان او قوم ته وکړی اولاً لان حفظ موسیٰ ؑ متضمن لحفظهم، وثانیًا ددې لپاره چې تاسي په دې استعاذه کي شرکت راسره وکړئ، ولي اجتماع په هره دعاء کي چې دلته استعاذه د اقرب الی الاجابة والقبول في جناب الرب جل وعلا ده.

سوال: مقصود اصلاً د موسیٰ ؑ په استعاذه کي فرعون وٗ نو ولي یې د فرعون نوم نه واخستی؟

ځواب: ددې لپاره چې استعاذه عامه سي او نورو متکبرینو ته دده د قوم هم شامله سي، او بل جواب دادی چې اشاره یې ودې ته وکړه چې باعث پرشر د فرعون تکبر دی.

تکبر عزازیل را خوار کرد ..... به زندان لعنت گرفتار کرد

فائده: امام رازي ؒ او قاضي بیضاوي او مظهري وایي چې موسیٰ ؑ چې نوم د فرعون نه واخستی رعایةً لحق التربیة لفرعون، ولي چې موسیٰ ؑ خو د رضاع له وخت څخه تر ځوانی پورې د فرعون په تربیه کي وٗ.

دروپش وایي: چې دا توجیه تر دې سوال لاندې راځي چې موسیٰ ؑ مشافهةً و فرعون ته وویل کریمه: واني لاظنک یا فرعون مثبورًا، او دا نوم اخستل مشافهةً او د مثبورًا په نامه یادول خو اشد دی تر دې چې په دې آیت کي یې داسي ویلي وای من فرعون فتدبر.

فائده: له امام اعظم ابو حنیفه ؒ څخه چا پوښتنه وکړه چې ای ذنب اخوف علی سلب الایمان؟ قال ؒ ترک الشکر علی الایمان وترک خوف الخاتمة وظلم العباد، ده زیاته کړه چې په هر چا کي چې دا درې خویه وي فالاغلب ان یخرج من الدنیا کافرًا په اخیر کي یې وویل الا من ادرکه السعادة، انتهی.

وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ إِيمَانَهُ

او وویل یو سړي له قوم څخه د فرعون چې پټ یې ساتی ایمان خپل (یعني له فرعون څخه نه د بېري له سببه بلکې له دې سببه چې زما خبري پر موقع د موسیٰ ؑ په ګټه سي کما ههنا او له موسیٰ ؑ څخه یې هم پټ نه ساتی)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوه سه: چې مؤن اول صفت دی د رجل دا یې دمخه راوړی لانه اشرف الاوصاف او یکتم ایمانه یې دریم صفت دی من آل فرعون یې دویم صفت دی.

بوه سه: چې آل الرجل هغه بولي چې د قرابت یا د صحبت له لاري یا د موافقة في الدين له کبله یې یو چاته نسبت کړل کېږي، بعض مفسرین وایي چې دا رجل مؤمن قریب د فرعون ؤ یعني د اکا زوی یې ؤ، او دا مؤمن هغه سړی دی چې موسیٰ ؑ یې وېپراوه بقوله: ان الملاء یأتمرون بک لیقتلونک یعني چې موسیٰ ؑ یو قبطي وژلی ؤ چې قصه یې تېره سوې ده په سورة القصص کې، ځوک وایي چې نوم یې شمعان ؤ وهو اشهر ماقیل فیه، بعض وایي چې نوم یې جبرؤ، بعض وایي چې نوم یې خریبل بن نوحائیل ؤ، او بعض وایي چې نوم یې خرقیل ؤ، پر دې نامه هغه حدیث دلالت کوي "سباق الامم" (یعني چې اولیت یې په ایمان کې درلودی، خرقیل مؤمن آل فرعون و حبیب النجار صاحب یٰس وعلي بن ابی طالب کرم الله ؑ وهو وانفسهم کذا في انسان العیون.

أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَنْ يَقُولَ رَبِّيَ اللَّهُ وَقَدْ جَاءَكُمْ بِالْبَيِّنَاتِ مِنْ رَبِّكُمْ

یعني تاسي قصد لرئ د وژلو د هغه سړي، یعني په دې سبب چې دی وایي چې رب زما الله دی یعني وحده، او تاسي ته یې راتلګ کړی دی په دې پرو معجزو چې شاهد دده د صدق دي په دعوی کې د رسالت "من ربکم" یعني بېله خدایه بل څوک قادر نه دی پر راوړلو د معجزاتو یعني د دې څخه دا معلومه سوه چې موسیٰ ؑ رسول الله دی.

بوه سه: چې جمله د وقد جائکم حال ده له فاعل څخه د یقول، یا هغه رجل مؤمن دلائل شروع کړه په دې آیتو کې.

وَإِنْ يَكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهُ

که دی درواغجن وای په دعوی کې د رسالت لکه تاسي چې زعم کوئ چې دی درواغ وایي، نو وبال او عذاب خو وده ته راجع کېږي، نو دده قتل ته تاسي څه ضرورت لرئ.

وَإِنْ يَكُ صَادِقًا يُصِبْكُمْ بَعْضُ الَّذِي يَعِدُكُمْ

او که دی صادق وي په خپل دعوه کې د رسالت لکه دده معجزې چې دلالت پر کوي تاسي ته به ورسېږي بعض د هغو عذابونو چې ستاسي سره دي وعده کوي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعني چي اقلاً بعض د هغو تاسي ته ورسېږي هم ستاسي د هلاک لپاره کافي دی.

پوه سه: چي دې سړي لطف او مبالغه ددوی په تحذیر کي وکړه او انصاف یې وکړی او له تعصب څخه یې کار وانه خستی ځکه په شق د کذب یې دمخه راوړی.

إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ ﴿٢٨﴾

په تحقیق خدای ﷻ هدایت او لارښوونه نه کوي و هغه چاته چي تر خپل حده تېری وکړي او لوی درواغ په خدای ﷻ پوري وتړي، مراد د مؤمن داؤ چي کهډه یعني موسیٰ ﷺ تر خپل ځان تېر کړی وای یعني د درواغو دعوی د رسالت یې کړې وای نو به خدای ﷻ ده پر لاس معجزات بینات نه ښکاره کولای.

له عروه بن زبیر رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما له عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه: اخبرني باشد ماصنعه المشرکون برسول الله ﷺ، یعني هغه سخت ترین کار چي مشرکانو د علیه الصلوة والسلام سره کړی دی هغه کوم کار وؤ؟ ده راته وویل چي په دې وخت چي علیه الصلوة والسلام پر لمانځه ولاړؤ د کعبې شریفې په وړاندي، نو عقبه بن ابی معیط راغلی علیه الصلوة والسلام یې تر دواړو اوږو تینګ کړی او خپل پټو یې د علیه الصلوة والسلام په مبارکه غاړه کي وروا چاوه او سخت یې وپېچی علیه الصلوة والسلام یې خپه کړی، ابوبکر رضي الله عنه راغلی عقبه بن معیط یې تر اوږو ونیوی او د علیه الصلوة والسلام څخه یې پرې واهه، او ابوبکر رضي الله عنه دا آیت ووایه "اتقتلون رجلاً ان یقول ربي الله وقد جائکم بالبینات من ربکم" رواه البخاري.

يَا قَوْمِ لَكُمُ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ظَاهِرِينَ فِي الْأَرْضِ

ای قومه زما تاسي لره سلطنت دی ننه ورځ په داسي حال کي چي تاسي غالب یاست (نو ظاهرین حال دی له ضمیر څخه د کم) په مځکه کي د مصر.

فَمَنْ يَنْصُرُنَا مِنْ بَأْسِ اللَّهِ إِنْ جَاءَنَا

نو به څوک زمونږ سره مرسته وکړي له عذاب څخه د خدای که چېرې مونږ ته دا عذاب راسي، یعني څوک به مو له عذاب څخه د خدای خلاص کړي، مقصد دا ؤ چي ننه ورځ تاسي ته غلبه او سلطنت درکړي نو خپل سلطنت او غلبه د لاسه مه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورکوئ یعني چي و عذاب ته ځانونه آماده کول په قتل د رسول دي یعني موسیٰ ؑ، نو که عذاب د خدای ﷻ له موږ څخه څوک نسي دفع کولای.

فائده: مؤمن آل فرعون ځان ددوی په جمله کي راوستی لانه کان منهم في القرابة تاچي دوی ته دا وښیي چي زه خو هم ستاسي له جملې څخه یم غرض مي صرف نصیحت دی.

قَالَ فِرْعَوْنُ مَآ أُرِيكُمْ إِلَّا مَآ أَرَىٰ

فرعون ورته وویل چي زه تاسي ته مشوره نه درکوم مګر نه هغه شی چي زه په پوهیږم یعني چي موسیٰ قتل کړم، ده لعین دا درواغ ویل بلکې ده چي د موسیٰ ؑ معجزات ولیدلې ځني بېرېدی لکن قوم ته یې خپل جلاده او دلاوري ښکار کړه چي زه د موسیٰ ؑ په قتل کي باک نه کوم لکن ستاسي څخه صرف مشوره غواړم که دی لعین نه بېرېدلای علی الفور به یې قتل کړی وای دهیڅ چا سره به یې مشوره نه وای کړې لانه کان یقول انا ربکم الاعلی.

پوه سه: چي اری مشتق دی له رأی څخه.

وَمَآ أَهْدِيكُمْ إِلَّا سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ﴿٢٩﴾

او زه نه کوم تاسي ته هدایت مګر د حق لاري یعني موسیٰ دي قتل کړل سي.

وَقَالَ ٱلَّذِيٓ ءَامَنَ يَٰقَوْمِ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيْكُم مِّثْلَ يَوْمِ ٱلْأَحْزَابِ ﴿٣٠﴾

او وویل هغه چا چي ایمان یې راوړی ؤ یعني مؤمن آل فرعون ای قومه په تحقیق زه بېرېږم پر تاسي یعني چي پر موسیٰ ایمان نه راوړي، او قتل یې کړئ لکه د فرعون رایه چي ده "مثل یوم الاحزاب" په حذف د مضاف ای مثل عذاب (دا مضاف محذوف دی) د ورځي د احزابو یعني الامم الماضیة چي د رسولانو به یې تکذیب کاوه او عذاب د خدای ﷻ به پر نازل سو او استیصال ددوی بې وکړی.

مِثْلَ دَأْبِ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ

د "مثل" مضال الیه محذوف دی ای عذاب، لکه عادت د قوم نوح چي تکذیب د نوح ؑ یې وکړی او په طوفان غرق سوه، او قوم د هاد او قوم د ثمود.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: عاد لفظ ته يې تنوين ورکړی يعني چې منصرف دی او د ثمود لفظ ته يې تنوين نه دی ورکړی يعني چې غير منصرف دی وجه يې څه ده؟

ځواب: د علم نحو په کتابو کې وايي چې نومان د قبائلو تابع د استعمال د عربو دي که يې يو نامه ته تنوين ورکړی ؤ نو منصرف دی يوازي علميت پکښې سته په تأويل داب يې بولي او که يې تنوين نه ؤ ورکړی نو غير منصرف دی چې علميت او تا تانيث پکښې سته په تأويل د قبيلة، وهذا هو القانون الكلي في جميع ماجاء في القرآن من اسماء القبائل فتدبر.

وَالَّذِينَ مِنْ بَعْدِهِمْ

او هغه قومونه چې تر دوی وروسته وه لکه قوم لوط و نمرود الجبار چې د دې تولو عادت تکذيب الرسل ؤ او علاوه تر دې ازار به يې هم ورسوه.

تنبيه: له دې آيت څخه دا معلومه سوه چې قوم فرعون د تاريخ له لارې پر احوال د امم ماضيه ؤ علم درلودی.

فائده: قوم نوح کمامر په طوفان هلاک سوه او قوم هاد په باد صرصر هلاک سوه او قوم ثمود په صيحة د جبرئيل هلاک سوه.

وَمَا اللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ ۝

او نه دی خدای ﷻ چې اراده د ظلم لرې پر بندګانو.

فائده: چونکه ظلمًا مصدر ؤ نو پر مفعول د هغه چې د عبادت لفظ دی لام زيات کړی لتقوية عمل المصدر لانه ضعيف العمل كما تقرر في النحو والمراد انه تعالى عدل چې چاته عذاب بې ګناه نه ورکوي او حسنة د عمل د چا ثواب نه ورکموي او ظالم بې انتقامه او کسات او عذاب نه پريږدي او عقوبت تر ګناه بالا نه ورکوي.

وَيَا قَوْمِ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ يَوْمَ التَّنَادِ ۝

ای زما قومه، زه په تحقيق ببريږم.

(پوه سه: چې مؤمن د آل فرعون په دمخه آيتو عذاب د دنيا ؤ ددوی يعني قوم ته بيان کړی او په هغه يې وبپرول او اوس يې په عذاب د اخرت بپروي)

فائده: اصل د التناد التنادي بالياء ؤ چې مصدر دی يقال تنادي القوم بعضهم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بعضًا تناديًا په ضمه د دال پر وزن د تفاملاً وروسته يې دال ته کسره ورکړه په سبب د يا بعده وروسته يې يا حذف کړه اکتفاء يې په کسره وکړه، وبالفارسية يکديگر را نداء کردن، او نصب د يوم د لفظ بناء پر دې دی چې مفعول به بحذف المضاف ای عذاب يوم التناد حذف المضاف واقيم المضاف اليه مقامه و اعرب باعرابه، والمراد بيوم التناد يوم القيامة.

پوښتنه: ورځ د قيامت ولې ورځ د تناد بولي؟

ځواب: انه ينادی بعضهم بعضًا للاستغاثة (لپاره د کومک) او يا له دې سببه چې کفار د يا ويلی يا ثبورا ناري وهي يا اهل الجنة و اهل النار ته ناري وهي هل وجدتم ما وعدکم ربکم آه کما في سورة الاعراف يا و خلګو ته ناري وهل کښې چې محشر ته راجمع سئ، يا مؤمن صالح ناري وهي هاؤم اقرؤ کتابيه، او يا کافر ناري وهي يا ليتني لم اوت کتابيه، وجاء هذا برواية ابی هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ

يَوْمَ تُوَلُّوْنَ مُدْبِرِيْنَ ۚ

دا يوم بدل دی د يوم التناد څخه، مجاهد رح وايي چې: فارين غير معجزين، وفي التفسير الحسيني: روزيکه برګردانيده شويد از موقف حساب حال کونکم منفرين الی النار يعنی باز گشته گان بسوی دوزخ، روح المعاني وايي فارين من النار کما قال مجاهد رح، په حديث شريف کې راغلي دي چې کافران اوازد دوزخ واوري هربوا (دوی تښتي ته ځانونه چمتو کړي، نو پر هره خوا چې ولاړ سي صفونه د ملکو ولاړ وي را وه يې ګرځوي) فلا ينفعهم الهرب، او دا قول ته ترجيح ورکړه سوې ده لانه اتم فائدة، واظهر ارتباطًا بقوله تعالى.

مَا لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ عَاصِمٍ ۚ

نسته تاسي لره يو ساتونکی (کلمه د من لپاره د استغراق د نفي ده) چې تاسي دې وساتي له عذاب څخه، يعني غير د خدای ﷻ څخه بل څوک دا توان، طاقت او قدرت ددې نه لري چې عذاب دي له چا څخه دفع کړي قطعًا، بلکې عذاب د خدای ﷻ، رحمت د خدای ﷻ دفع کولای سي، او کافرانو لره د رحمت د خدای ﷻ برخه نسته بالکتاب والسنة واجماع الامة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ۝

څوک چې خدای ﷻ ګمراه کړي يعني په علم ازلي کې د خدای ﷻ پر ګمراهي وي، نو نسته هغه لره يو هدايت کونکی يعني چې هغه دي مسلمان کي (نو دا کلمه د من هم زائده ده لپاره د استغراق د نفي ده).

فائده: که هدايت د غير الله په قدرت کې واى، نو آدم ﷺ به خپل زوى قابيل د هابيل قاتل پر لاره برابر کړى واى، او نوح ﷺ به خپل زوى ته هدايت کړى واى، او ابراهيم ﷺ به خپل پلار آذر ته رهنمايي کړې واى، او رسول الله ﷺ به خپل اکا ابو طالب ته بنوونه کړې واى فالله تعالى خالق للعباد وافعالهم، فالتوفيق والاختيار لله الواحد القهار، وانما العبد كاسب صرف وهذا مذهب اهل السنة والجماعة، خلافًا للمعتزلة چې دوى وايي چې خالق د افعالو د بندګانو په خپله بنده ګان دي، او خلافًا للجبرية چې بنده مجبور محض بولي قدرت كاسبه هم نه ورته وايي.

وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوْسُفُ

لام موطئه د قسم دى، تاسي ته راغلى ؤ يوسف، يعني بن يعقوب بن اسحاق بن ابراهيم عليهم السلام، بعض مفسرين وايي چې فرعون د يوسف هغه فرعون د موسىٰ ؤ چې د فرعون عمر ډېر دراز سو چې تر موسىٰ ؑ پورې راورسېدى، ابن قتيبة رح وايي چې عمر د فرعون موسىٰ تر (۴۰۰) کاله څه بالاؤ، او د ابراهيم ؑ او د موسىٰ ؑ تر منځ (۹۰۰) کاله وه، فيجوز ان يكون بين يوسف بن يعقوب بن اسحاق بن ابراهيم عليهم السلام مدة عمر فرعون فافهم، او بعض مفسرين وايي چې مراد د يوسف څخه په دې آيت کې يوسف بن افرائيم بن يوسف الصديق كان نبيًا (۲۰) کاله.

مِنْ قَبْلُ بِالْبَيِّنٰتِ

(من قبل) اى قبل موسىٰ ؑ (بالبينات) اى بالمعجزات الظاهرات من جملتها تعبير الرؤيا كما هو المذكور في القرآن، ومنها شهادة الطفل على برائة من تهمة امرئة العزيز عليه الى غيرها.

فَمَا زِلْتُمْ فِيْ شَكٍّ مِّمَّا جَآءَكُمْ بِهٖ ؕ

نو همېشه په شک کې واست د هغه شي څخه چې ده راتلک په کړى ؤ (قال ابن عباس رض من عبادة الله وحده مخلصًا له الدين)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حَتّٰۤى اِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِهٖ رَسُوْلًا

تر وخته د مرګ د یوسف ؑ پوري، تاسو به ویل چې هرګز به نه راواستوي خدای ﷻ وروسته تر یوسف رسولاً یعني هیڅ رسول، نو تاسي پر خپل کفر مقیم واست.

كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابُ ۚ

(کذالک) ای اضلالاً مثل ذالک الاضلال، په ګمراهي او عصیان اخته کوي خدای ﷻ هغه څوک چې مسرف وي (مسرف) ای مشرک (مورد مسرف ترجمه په مشرک سره وکړه، لان اصل معنی الاسراف التجاوز عن الحد المحدود، ولا تجاوز اعظم من جعل الاصنام شرکاءً لله تعالی في العبادة کما لایخفٰی (مرتاب) چې شک وي په توحید کې د خدای ﷻ چې پر هغه باندې آیات بینات سته العقلیة والنقلیة صرف په تقلید سره د اباء او اجدادو.

الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْۤ اٰيٰتِ اللّٰهِ بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ؕ

هغه کسان چې بحث بالباطل کوي په آیاتو کې د خدای، مثلاً دوی وایي: لو شئنا لقلنا مثل ذالک (ای القرآن) او سره ددې چې خدای ﷻ وایي: قل لو اجتمعت الانس والجن علی ان یأتوا بمثل هذا القرآن لا یأتون بمثله ولو کان بعضهم لبعض ظهیرًا، بیله کوم دلیله چې دوی ته دي راغلی وي بلکې یا په تقلید او یا په بعض شبهات زائغهٔ سره.

فائده: الذین یجادلون آه بدل دی د اول موصول څخه یعني من هو مسرف.

سوال: دا موصول خو جمع دی او موصول چې من دی مفرد دی فکیف یصح البدلیة؟

ځواب: من که څه هم مفرد دی لفظًا لکن جمع دی معنًی ولي چې هو مسرف مرتاب خو د هر خلک دي.

كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ

پوه سه: چې په کبر کې ضمیر دی راجع دی و من ته او افراد یې په سبب د لفظ د من دی او مقتًا تمییز د نسبت څخه د کبر و من ته، والمعنی دغه من د هر لوړ دی از روئ مقت او غضب په نېز د خدای ﷻ او د هغو کسانو چې ایمان یې راوړی وي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او روح المعاني وايي چې په کبر کې ضمير راجع دی و جدال ته چې د يجادلون څخه وفهم ېدی نو پر دې تقدير الذين يجادلون په حذف تد مضاف مبتداء دی، والتقدير وجدال الذين يجادلون في آيات الله كبر مقتًا يې خبر دی، والله اعلم.

كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿۳۵﴾

(كذالک) ای مثل ذالک الطبع الفظيع يطبع الله، پر هر زړه چې متكبر وي او ظالم وي نو د هغه څخه هم ورته خبري د مجادلة بغير الحق صادريږي سره د اسراف او ارتياب.

فائده: بعض قراء قلب ېېله تنوينه وايي، يعني مضاف يې بولي و متكبر ته، دا قرائت توجيه ته ضرورت نه لري، او بعض قراء قلب په تنوين سره وايي چې متكبر يې صفت سي، پر دې قرائت دا پوښتنه پيدا کېږي چې متكبر صفت د سړي دی د زړه خو نه دی، نو بعض مفسرين وايي چې مراد له قلب څخه صاحب القلب دی په سبب د دې چې زړه چې متكبر سي صاحب يې هم متكبر کېږي وبالعكس يعني مجاز دی، او بعض مفسرين ومضاف ورسره مقدر بولي (يعني ذی قلب متكبر آه) نو متكبر صفت د مضاف دی، ابراهيم الخواص قدس سره وايي چې د قلب قاسي يعني سخت زړه نرمونكي شيان پنځه شيان دي (۱) قرائت القرآن بالتدبر (يعنی كه په معنی پوهېدی) (۲) خلاء البطن (يعني ډوډی لږ خورل) (۳) قيام الليل (يعني التهجد) (۴) والتضرع الى الله تعالى عند السحر (يعني په اخير کې د شپې) (۵) مجالسة الصالحين.

حكايت بمناسبة مجالسة الصالحين، په مدينه منوره کې يو غني سړی وُ چې خپل اشنايان يې مېلمانه کړي وه او هغه د خپل مري په لاس څلور درهمه ورکړه چې په بازار کې به فواكه د مېلمنو لپاره راوړې (فاكهة هغه مېوې ته وايي چې د ډوډی وروسته يې خلک خوري ډوډی يې هضم کوي لکه نارنج، مالټه، کېله وغيرها) دا مريی تېرېدی پر دروازه د مسجد د منصور بن عمار قدس سره، منصور مذكوره د يو سړي لپاره سوال کاوه او دا يې ويل چه كه چا دغه فقير ته څلور درهمه ورکړه زه به هغه ته څلور دعاوي وکړم، نو هغه مريي هغه څلور درهمه چې ده ته باندار د فواكه لپاره ورکړي وه ورکړه، نو منصور رح ورته وويل ما الذي تريد ان ادعولک اولا مريي ورته وويل چې زما باندار سخت طبعيت دی دعاء وکړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي ما ازاد کړي فدعا له، ثم قال منصور ما الذي ترید ثانیًا فقال چي ماته د څلورو درهمو عوض راکړي (یعني که بادار پوښتنه راځخه وکړي) فدعاه له فقال منصور ما الذي ترید ثالثًا قال ان یتوب الله علی سیدي (یعني چي په ده کي بعض بد عملونه ستة) فدعاله ثم قال ما الذي ترید رابعًا؟ قال ان یغفر الله لي ولسیدي ولک والقوم (یعني الذین عندک او عند سیدي) فدعاله، نو مریی خالي لاس بادار ته ورغلی یعني فواکه یې نه راوړه، بادار ورته وویل چي ولي وخندیدې؟ مریي ټوله قصه سر تر پایه ورته وکړه، بادار ورته وویل چي دعاء منصور درته وکړه اولا؟ غلام ورته وویل چي دعاء داده چي ستا د مریي توبه زه خلاس سم، بادار ورته وویل انت حر، ته پر ما ازاد یې، بادار ورته وویل ای شیئ الثاني؟ غلام ورته وویل چي دوهمه دعاء دا وه چي خدای ﷻ ما ته د څلورو درهمو عوض راکړي، بادار ورته وویل لک اربعة الاف درهم من عندي، بادار ورته وویل چي درېیمه دعاء یې څه درته وکړه؟ غلام ورته وویل ان یتوب الله علیک (یعني چي خدای ﷻ تاته توفیق د توبې درکړي) بادار ورته وویل تبت الی الله، بیا بادار ورته وویل چي څلورمه دعاء یې څه درته وکړه؟ مریي ورته وویل ان یغفر الله لي و سیدي ولک والقوم یعني الذین عندک او عند سیدي، بادار ورته وویل چي دا څلورم زما په قدرت کي نه ده بلکې دا د خدای ﷻ په اراده پوري اړه لري، ما ښام چي هغه بادار د غلام بیده سو خوب یې لیدی چي یو قائل (یعني ملکه د الله عزوجل له خوا ورته وایي انت فعلت ما کان الیک اتری ان لا افعل مافوضت الي فقد غفرت لک و للغلام و لمنصور وللقوم الحاضرین، انتهی الحکایة وفیها فوائد لاتخفی علی ذوی العقول الصافیة.

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰهَامٰنُ ابْنِ لِيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ اَبْلُغُ الْاَسْبَابَ ۙ

او وویل فرعون و خپل وزیر ته، ای هامان جوړه کړه ماته یوه مناره، او بلند ځای چي هر چا ته شکار پېږي د لېري، شاید زه به ورسېږم و لارو ته د لارو څخه د اسمان.

اَسْبَابَ السَّمٰوٰتِ فَاَطَّلِعَ اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى

"اسباب السموات" بدل دی یا بیان دی د اسباب څخه یعني لارو ته له یوه اسمانه تر بل اسمانه پوري، زما به اطلاع سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: هر شی چي سړی و یو شي ته رسوي هغه ته سبب وایي لکه ځینې و بام ته، سولاغه او مرانده د اوبو لپاره الی غیر ذالک.

پوه سه: چي حفص رح د قراء سبعه ؤ یې په نصب سره وایي جواب د لعل یې بولي او نور قراء یې په رفع سره وایي عطف یې بولي پر ابلغ الی اله موسٰی، روح المعاني او مظهري او بیضاوي وایي چي دده لعین مراد دا ؤ چي یوه لوړه بناء دي جوړه سي هغه لکه رصد د اهل ریاضي ؤ چي په هغه رصد کي احوال د ستورو معلومېږي چي اسباب سماویه دي چي هغه پر احادیث ارضیه ؤ یعني پر نورو خبرو چي په محکه کي پېښېږي دلالت کوي، تاچي دا معلومه کړي چي موسٰی ؑ رسول دی او که نه، دده لعین غرض دا ؤ چي خلګو ته وښیي چي موسٰی درواغ وایي چي د اله سمٰوات د خوا رسول یم ولي دی کله و اله السمٰوات ته پورته سوی دی لکه زه چي پورته سوم.

وَإِنِّي لَأَظُنُّهُ كَاذِبًا

او زما غالب ګمان دادی چي دی درواغ وایي، په دعوی کي د رسالت من الله.

وَكَذٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرْعَوْنَ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ وَصُدَّ عَنِ ٱلسَّبِيلِ ۚ

او داغه رنګه، لکه فرعون ته دا ښائسته سوي وه چي صرح دي جوړه کړي او پر رب السموات دې علم راسي، ښائسته کړه سوی ؤ فرعون ته بد عمل دده (من دعوی الربوبیة چي عقل سلیم اباء ځني کول او قتل د اولاد د بني اسرائیل او استخدام ددوی کمامر، یعني دده لعین په ځیال کي دغه هر کار چي ده کاوه ښه ورتله، نو ځکه پر دغو کارو یې ده ؤ) دی بند کړل سوی ؤ له حق لاري څخه.

پوه سه: چي کوفي قراء او یعقوب د بصري له قاریانو څخه (صد) په پېښ د صاد وایي مبني للمفعول یې بولي، او فاعل خو په حقیقت کي خدای ج دی، کریمه: یضل من یشاء ویهدي من یشاء، او نور قراء یې په زور صاد وایي چي مبني للفاعل سي، ضمیر مستتر راجع دی و فرعون ته، والمعنی صد فرعون الناس عن الهدی ودین الحق بمثل تلک التوهمات والشبهات.

وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ إِلَّا فِي تَبَابٍ ۝

او نه دی چم او حیله د فرعون په ابطال کي د امر د موسٰی مکر نه په تاوان کي دده او په خسران کي او په ضیاع کي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَالَ الَّذِيْٓ اٰمَنَ يٰقَوْمِ اتَّبِعُوْنِ اَهْدِكُمْ سَبِيْلَ الرَّشَادِ ۝

او وویل هغه سړي چې ایمان یې راوړی ؤ یعني مؤمن آل فرعون، ای قومه زما متابعت وکړئ (بحذف الیاء في الموضعین والکسرة دلیل علیها اصله یاقومي اتبعوني) زه به تاسي ته دروښییم هغه لار چې تلونکي پر هغې لاري حق ته رسیږي او مقصود اصلي ته رسیږي، په دې عبارت ده اشاره ودې ته وکړه چې د فرعون لار د ضلال ده.

يٰقَوْمِ اِنَّمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا مَتَاعٌ ۫ وَّاِنَّ الْاٰخِرَةَ هِيَ دَارُ الْقَرَارِ ۝

یا قومه زما نه دی دا ژوند په دنیا کې مګر متاع (ای شیئ یسیر چې خلک نفع پر اخلي لږ مدت وروسته قطع کیږي) او په تحقیق اخیرت چې دی سرای د قرار دی چې بیا زوال نه لري، له ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ پر بوریا بیده ؤ، نو چې راویښ سو نو موږ ولیدی جسد مبارک ده چې د بوریا لښتو اثر پکښې کړی ؤ، نو ابن مسعود رضی الله عنه ورته وویل یا رسول الله که ته موږ ته امر راکړې موږ به پر بوریا سرپېره یو شی درته اوارووو مثلاً لکه سترنجي یا کورپچه، فقال علیه السلام مالي وللدنیا وما انا والدنیا الا کراکب استظل تحت الشجرة ثم رجع وترکها، لکه یو سړی چې په سفر کې د ګرمۍ له کبله د یوې درختي تر سایې لاندې استراحت وکړي ماپښین څنې ولاړ سي او درخته پریږدي، نو مؤمن آل فرعون قوم ته زیاته کړه.

مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً فَلَا يُجْزٰٓى اِلَّا مِثْلَهَا ۚ

که چا عمل وکړی د بد کار، نو عذاب نه ورکول کیږي مګر په اندازه د هغې ګناه (وهذا عدل من الله تعالی)

وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ

او که چا عمل وکړی صالح (که قولي وي او که مالي وي او که بدني وي) که عمل کونکی نر وي او که ښځه، او په داسي حال کې چې دی مؤمن وي (قید بالایمان لان الایمان شرط في کل عمل صالح) ای لثوابه، ولي ثواب ورکونکی خو خدای ج دی فلا بد للایمان به مثلاً لکه یو سړی چې لمونځ په ښه ترتیب و تعدیل الارکان سره وکړي مګر بې اوداسه یې وکړي ثواب یې نسته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأُولَٰئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ يُرْزَقُونَ فِيهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٤٠﴾

دغه کسان داخلېږي و جنت ته، او دوی ته رزق ورکول کېږي په جنت کې بې حسابه، يعني پر اندازه د اعمالو حسنهٔ بلکې اضعاف مضاعفه ورکول کېږي، وهذا فضل من الله ورحمته.

وَيَا قَوْمِ مَا لِي أَدْعُوكُمْ إِلَى النَّجَاةِ وَتَدْعُونَنِي إِلَى النَّارِ ﴿٤١﴾

حسين الكاشفي رح وايي: چې آل فرعون از سخنان خريبل كه نام مؤمن آل فرعون بود فهم گردند كه ايمان آورده است بموسىٰ زبان ملامت بكشادند كه شرم نه داری كه فرستش فرعون روی بديگری می آری، خريبل تكرار نداء كرد از روی تنبيه تا شايد از خواب غفلت بيدار شوند وگفت و يا قوم آه "مالي" (ما الاستفهام للانكار والتوبيخ) تاسي زه بولم او دعوت دركوم ساتلو ته د اور څخه بالايمان والتوحيد "وتدعونني الى النار" او تاسي ماته دعوت راكوئ د اور، يعني و شرک ته چې سبب د دوزخ دی.

فائده: ځای د تعجب د مؤمن د آل فرعون او دده د توبيخ دعوت ددوی ده لره اورته يعني شرک ته، نه دعوت دده و دوی ته و نجات ته كما لايخفىٰ.

تَدْعُونَنِي لِأَكْفُرَ بِاللَّهِ

(دا جمله بدل يا بيان ده دمخه تدعونني الى النار) تاسي دعوت راكوئ ماته چې زه كافر په خداى ج سم يعني خداى ته شريک روايم.

فائده: دعاء لكه هدايت ګاهي متعدي په الى سره راځي او ګاهي په لام سره لكه په دې آيت كې.

دروښ وايي: چې كفر چونكه ډير اقسام درلوده نو په دې آيت كې توضيح د كفر وكړه.

وَأُشْرِكَ بِهِ مَا لَيْسَ لِي بِهِ عِلْمٌ

او زه شريک وګرځوم د خداى ج سره هغه شى چې نه دى ما لره په خداى سره د شريک نيولو هيڅ علم، لكه فرعون چې ځان رب اعلى بولي بلكې زما سره دليل قاطع سته چې شريک د خداى ج سره ممتنع دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَأَنَا أَدْعُوكُمْ إِلَى الْعَزِيزِ الْغَفَّارِ ﴿٤٢﴾

او زه تاسي بولم و هغه خدای ﷻ ته چي غالب او قادر دی پر انتقام د من کفر به یعني عذاب دی "الغفار" چي بخښونکی دی د من آمن به، نو هغه د ربوبیت د صفت شایان دی چي کمال قدرت او علم او اراۀ لري نه فرعون رزیل او بې قدرته یا بتان وغیرها.

لَا جَرَمَ أَنَّمَا تَدْعُونَنِي إِلَيْهِ لَيْسَ لَهُ دَعْوَةٌ فِي الدُّنْيَا وَلَا فِي الْآخِرَةِ

کلمه د لا رد دی د هغه شي چي قوم ده ته دعوت ورکاوه د عبادت د هغه چي بتان دي، او جرم فعل ماضي ده په معنی د حق. او فاعل يې ان مع جملة دی يعني حق د عدم دعوت ستاسي د خدایانو چي بتان او جمادات دي و عبادت ته خپل نه په دنیا کي او نه په آخرت کي لانها جمادات لا دعوة لهم او في الدنيا الى عبادتها او نه په آخرت کي چي راسئ مورږ مو شفاعت کوو بلکې دغه بتان په قدرت د خدای ﷻ بیزاري وکړي ددوی له عابدانو څخه كما جاء في موضع اخر من القرآن العزيز، نو دا شیان د الوهیت وړ نه دي.

پوښتنه: قوم فرعون خو دعوت د فرعون د ربوبیت ورکاوه، نو بتان دلته څرنګه راوړل سول؟

ځواب: لکه مخته چي تېره سوه فرعون پر خپل صورت مجسمې د بتانو تر اندازه ډېري جوړي کړي وې او په خلګو يې ویشلي وې چي تاسي دغو مجسمو ته سجدې کوئ ګویا لکه زما و شخص ته چي سجدې کوئ، ویدل علیه ذالک قول اللعین و انا ربکم الاعلی.

وَأَنَّ مَرَدَّنَا إِلَى اللَّهِ وَأَنَّ الْمُسْرِفِينَ هُمْ أَصْحَابُ النَّارِ ﴿٤٣﴾

او زمورږ رجوع و خدای ﷻ ته ده (یعني بعد الموت په ورځ کي د قیامت، نو خدای پاک به جزاء ورکړي و هر چا ته بما یستحقه) او هغه کسان چي اسراف یعني تر حد د عبودیت تېری کوي و ضلالت او طغیان ته په سبب د شرک یا وینې تویول لکه فرعون چي د بني اسرائیلو د زامنو وینې تویولې، دوی ملګري او ملازم د اور دي یعني د دوزخ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَسَتَذْكُرُونَ مَآ أَقُولُ لَكُمْ ۚ وَأُفَوِّضُ أَمْرِيٓ إِلَى ٱللَّهِ ۚ

ژر دی چي یو بل ته ذکر وکړي، یعني چي عذاب نازل سي نو به یو و بل ته ووایي چي کاشکي مو ایمان راوړی وای (او هغه ذکر ستاسي په ښه نه درځي).. بیت:

تو پیش از عقوبت درعفو کوب..... که سودی ندارد فغان زیر چوب

"ما اقول لکم" زه تاسي ته نصیحت کوم، او زه تفویض د خپل حال و خدای ﷻ ته کوم چي ما له هر عذاب څخه ستاسي د خوا وساتي، دا خبره مؤمن آل فرعون هغه وخت وکړه چي قوم د فرعون ده ته پیش رو د عذاب ورکړی په سبب د مخالفت د دین ددوی.

إِنَّ ٱللَّهَ بَصِيرٌۢ بِٱلْعِبَادِ ﴿٤٤﴾

په تحقیق خدای ﷻ خبر دی په حال د بندګانو که پر حق وي او که پر باطل وي. راوي وایي چي وروسته تر مذکوره خبرو او نصیحت مؤمن آل فرعون ددوی له منځه ووتی، نو دوی یې تعقیب وکړی چي عذاب ورکړي لکن قدرت یې نه کړی پر پیدا، کما قال الله عزوجل.

فَوَقَىٰهُ ٱللَّهُ

خدای ﷻ دی وساتی له آل فرعون څخه، یعني آل فرعون دده د قتل اراده وکړه دی څني وتښتېدی، فرعون چي خبر سو چي زما له اقاربو څخه یو څوک مسلمان ؤ او زما څخه یې ایمان پټ ساتلی ؤ، نو خلک یې پسي واستول چي دی ونسئ تا چي عذاب ورکړو، نو هغه یې په نیولو کي کامیابه نه سول، چنانچه الله ﷻ وایي:

سَيِّـَٔاتِ مَا مَكَرُوا۟ وَحَاقَ بِـَٔالِ فِرْعَوْنَ سُوٓءُ ٱلْعَذَابِ ﴿٤٥﴾

له عذابو څخه د هغه قوم چي اراده یې ورته کړې وه و مؤمن ته د آل فرعون، او احاطه وکړه پر آل فرعون یعني قبطیانو باندې.

پوښتنه: فرعون یې ولي نه کړی ذکر یعني چي داسي ویل سوي وای "بفرعون واله"؟

ځواب: د فرعون په عذاب کي راتله خو اظهر من الشمس وه، ولي چي د قوم د عذاب سبب خو فرعون ؤ.

"سوء العذاب" بد عذاب چي په دنیا کي په دریاب کي غرق سوه او په اخرت کي به په دوزخ کي غرق وي، مظهري او روح المعاني یو بل تفسیر د "سوء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العذاب" هم راوړی دی چې پر آل فرعون چې سوء العذاب مسلط سو هغه کسان مراد دي چې فرعون په طلب پسې د مؤمن آل فرعون استولي وه، نو مؤمن چې له دوی څخه وتښتېدی غره ته ولاړی او هورې پر لمانځه ودرېدل چې تول زر (۱۰۰۰) کسه وه، نو خدای ﷻ د سباع الوحوش پیره پرودرول یعنې پرانګان، لېوان وغیره، نو هغه کسان چې فرعون په دوی پسې استولي وه هغو چې دا صحنه ولیدل وبېرېدل او بیرته را ستانه سول فرعون ته یې د ستړګو لیدلی حال ووایه، فرعون له دې سببه چې دا حال په خلګو کې نشر نه سي چې زما په سیاست کې به سل په سله کې خطر وګرځي هغه کسان یې ټوله قتل کړه انتهى قول المظهري وروح المعاني.

دروېش وایي: چې دا قصه روح البیان هم راوړې ده او کشف الاسرار چې په فارسي ژبه تفسیر دی هم راوړې ده لکن په تفسیر کې د هغه آیت "فوقاه الله سیئات ما مکروه" او مظهري او روح المعاني په تفسیر کې د حاق بآل فرعون سوء العذاب دا تفسیر راوړی دی، نو دا خبره د مظهري او روح المعاني په تفسیر کې د وحاق بآل فرعون آه د منلو وړ نه ده، فتدبر.

اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا

دا يې د عالم برزخ حال دی، والمعنى اور دی چې پېش کړل کېږي پر فرعون او آل دده پر هغه اور باندې (ضمیر مؤنث راجع دی و اور ته چې لفظ د نار مؤنث سماعي دی، او روح البیان معنی د عرض دا بیان کړې ده، احراق د روحانو ددوی دی وتعذیبهم بها.

پوه سه: چې "النار" مبتداء ده جمله یعرضون یې خبر دی، او ضمیر مؤنث یې رابط دی بینهما، او ټوله جمله مستأنفه ده د بیان د حال د آل په عالم برزخ کې یعني قبل یوم القیامة، ابن مسعود ؓ وایي چې ارواح د آل فرعون په اجوافو کې د تورو مرغانو دي چې په ورځ کې دوه واره پر اور پېښول کېږي، فیقال یا آل فرعون هذه مأواکم حتى تقوم الساعة، انتهى.

پوښتنه: حتى د غایة یې ولې راوړی؟

ځواب: د قیامت په ورځ د اهل فرعون بدنونه د روحانو سره یو ځای اور ته استول کېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"غُدُوًّا وَّعَشِيًّا" په اول کي د ورځي او په اخير کي د ورځي، د ابن مسعود ﷺ حديث عبد الرزاق او ابن ابی حاتم ؒ راوړی دی، او مقاتل، السدي او کلبي ؒ وايي چې د هر کافر دغه حال دی چې پر اور پېښېږي بکرة وعشيًا تر ورځي پوري د قيامت، ددې قول تائيد هغه حديث کوي چې بخاري او مسلم له عبد الله بن عمر ؓ څخه روايت کړی دی ان رسول الله ﷺ قال ان احدکم "مخاطب که څه هم حاضر کسان دي حکم عام دی" عرض عليه مقعده "ځای دده" بالغداة والعشي. ان کان من اهل الجنة فمن اهل الجنة "يعني مقام دده په جنت کي وربښوول کېږي" وان کان من اهل النار فمن اهل النار، فيقال له هذا مقعدک حتى يبعثک الله الى يوم القيامة.

دروښ وايي: چې په دې حديث کي پر بقاء د مړي او پر عذاب القبر وقد دلت الاحاديث عليه، وانعقد عليه الاجماع لکن زموږ پر دې ايمان دی او کيفيت يې د خدای ﷻ و علم ته سپارو، لان بعض الناس لکه مشرکي الهند خپل مړي وروسته تر مړينې په اور سوځوي او قبر نه لري، او بعض کافران لکه فرعون او قبطيان په اوبو کي غرق سوه غالبًا ماهيانو به خوړلي وي قبر خو يقينًا نه وُ.

تنبيه: دا مسئله چې د عقائدو په کتابو کي په عذاب القبر سره شهرت لري بناء پر عرف د عربو ده چې دوی خپل مړي په قبرو کي دفن کوي.

پوښتنه: دا مسئله ولي په عذاب القبر سره مشهوره ده، او سره ددې چې په خبر کي راغلي دي "القبر روضة من رياض الجنان او حفرة من حفراة النيران"؟

ځواب: اکثر مدفون في القبور کي کافران دي الى يومنا هذا، والعلم عند الله.

وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ ۫ اَدْخِلُوْٓا اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ الْعَذَابِ ۝

هغه ورځ چې قيامت قائم سي و به ويل سي ملکو ته چې داخل کړئ آل فرعون و سخت عذاب ته.

دروښ وايي: چې دا ترجمه پر هغه قرائت بناء ده چې "ادخلوا" په قطع د همزه له باب څخه د افعال وي يعني ادخلوا بکسر الخاء لکه اکثر قراء چې پر دغه قرائت دي او په مصاحف مطبوعه وُ کي هم همدغه قرائت مروج دی، او پر قرائت د ابن کثير او ابو عمرو او ابن عامر ؒ چې ادخلوا په همزه د وصل وايي يعني په ضم د خاء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بې وايي، نو يې معنا داده چې داخل سئ يا آل فرعون (بحذف حرف النداء) وسخت عذاب ته، پر دواړه قرائت معنی د اشد العذاب ابن عباسؓ داسي بيان کړې ده يريد الوان العذاب (يعني رنګارنګ عذابونه) غير الذي عذبوا له منذ غرقوا يعني في عالم البرزخ، انتهى.

وَإِذْ يَتَحَاجُّونَ فِي النَّارِ

په ياد کړه يا محمدﷺ خپل قوم ته هغه وخت چې دعوې وې د اهل النار چې کافرانو يو د بل سره په اور يعني په دوزخ کې چې په دې آيت کې تفصيل د خصوماتو ددوی خدایؑ بيان کړی.

فَيَقُولُ الضُّعَفَاءُ لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا

نو وايي به ضعيفان چې د رئيسانو په وينا دوی کفر مختاره کړی ؤ هغو کسانو ته چې متکبران وه په دنيا کې يعني چې د ضعيفانو رئيسان وه، موږ ؤ په دنيا کې تابعان په کفر او شرک کې.

پوه سه: چې تبع جمع د تابع ده لکه خدم چې جمع د خادم ده عند البصريين، او کوفيان وايي چې جمع خو ده لکن مفرد د لفظ څخه نه لري او جمع يې اتباع ده، او بعض مفسرين وايي چې تبع مصدر دی حمل يې مبالغةً دی لکه زيد عدل يا په حذف د مضاف يعني ذوی تبع.

فَهَلْ أَنْتُمْ مُغْنُونَ عَنَّا نَصِيبًا مِنَ النَّارِ

آيا ستاسي به موږ ته فائده ورسېږي په دفع کې د يوې برخې د اور زموږ څخه؟ استفهام په معنی د امر دی يعني راڅخه دفع يې کړئ.

پوه سه: چې مغنون مشتق دی له غناء څخه په معنی د فائدې، او نصيبًا منصوب دی چې قائم مقام د مصدر دی د مغنون کما في قوله تعالى "لن تغني عنهم اموالهم ولا اولادهم من الله شيئًا" يعني من عذاب الله شيئًا من الغناء.

قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا كُلٌّ فِيهَا إِنَّ اللَّهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ الْعِبَادِ

وويل هغه کسانو چې کبر يې کړی ؤ يعني رئيسانو چې موږ او تاسي "کل" ای کل واحد منا ومنکم (فالتنوين عوض من المضاف اليه) "فيها" په اور کې يو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو مودِ ځرنګه ستاسي څخه عذاب دفع کړو يعني که مودِ توان او طاقت د دفع درلودای د خپل ځان څخه به مو دفع کړی وای "ان الله قد حکم بین العباد" دا هم مقوله ده د متبوعینو و تابعینو ته، والمعنی چي خدایٔ حکم او فیصله کړي ده په منځ کي د بندګانو يعني مؤمنانو جنتو ته ولاړسئ او تابعین او متبوعین د کافرانو د دنیا دي اور ته ولاړ سي، ولا معقب لحکمه.

وَقَالَ الَّذِيْنَ فِي النَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ

او و به وایي هغه کسان چي په اور کي دي (يعني الکفر من کانوا) و ساتندویانو ته د جهنم.

سوال: اور چي مؤنث سماعي دی قریبًا ذکر سو، نو د څه حکمت لپاره يې ضمیر نه کړی ورته راجع يعني لخزنتها؟

ځواب: چونکه جهنم په شدت د عذاب شهرت درلودی، نو لپاره د تهویل د شان د عذاب د دوی يې جهنم ووایه او ضمیر يې نه کړی ورته راجع، ولي د لفظ د نار خو د دنیا په اور کي هم استعمال رواؤ، فلا تدل علی التهویل والتعظیم کما لایخفٰی.

ادْعُوْا رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِّنَ الْعَذَابِ ۝

تاسي خواست وکړئ و رب ته ستاسي چي سپک کړي زمودِ څخه یو شی له عذاب څخه (نو یومًا مفعول مطلق دی د یخفف) او روح البیان يې ظرف بولي ای مقدام یوم من ایام الدنیا.

قَالُوْا اَوَلَمْ تَكُ تَاْتِيْكُمْ رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ؕ

"قالوا" ای خزنة جهنم، آیا نه ؤ درغلی تاسي ته يعني په دنیا کي رسولان ستاسي متلبس په معجزاتو سره.

پوه سه: چي دا استفهام لپاره د توبیخ او سرزنش دی يعني تاسي په دنیا کي اوقات د دعاء او اسباب د اجابت ضائع کړي دي (يعني ایمان مو راوړی وای او خدایٔ ته مو د خلاصون د عذاب النار خواست کړی وای خدایٔ به قبول کړی وای اوس په دوزخ کي د خواست د قبلېدو وخت تېر سوی دی... بیت:

تو پیش از عقوبت در عفو کوب ..... که سودی نه دارد فغان زیر چوب

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

او داسي هم روا ده چي کلمه د واو دي عطف وي پر محذوف، وروسته تر همزه د استفهام کما هو القانون النحوي وقد مر في هذا التفسير مرارًا، والتقدير اما علمتم في الدنيا ما لحقكم في الآخرة (والمعطوف عليه المقدر) ولم تكن تأتيكم بالبينات لپاره د انذار.

قَالُوا بَلٰى قَالُوا فَادْعُوا ۚ وَمَا دُعٰٓؤُا الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ۝

هو راغلي وه "قالوا" ملکي ورته ووايي د استهزاء په لهجه چي مقصود ځني اقناط (نا اميدي) د دوی د قبوله د خواستو د دوی "فادعوا" خواستونه کوئ له خدای ځخه، نه دی خواست د کافرانو یعني په دوزخ کي مګر نه په ضائع والي کي دی یعني د قبول امید قطع دی، بعض مفسرین وایي چي دا قول د خدای یعني "وما دعؤا الکافرین" او بعض مفسرین وایي چي دا هم قول د خزنة النار دی، نو پر دې تقدیر یا دغه اخیري جمله حال ده د "فادعوا" له ضمیر ځخه یا جمله معترضه ده.

دروښ وایي: چي ما په ترجمه کي د آیت داسي وویل (یعني په دوزخ کي) غرض مي دا ؤ چي په دعاء د کافر کي اختلاف ؤ د علماؤ، بعض علماء وایي چي د کافر دعاء مطلقًا نه قبلیږي یعني که په دنیا کي وي او که په اخرت کي، لکن مفتی به مذهب دادی چي په دنیا کي قبلیږي، ولي چي ابلیس چي کافر مطلق ؤ او رئیس الکافرین ؤ خدای ته یې خواست وکړی "رب انظرني" یعنی ماته مهلت راکړه یعني ژر مي مه وژنه، قال الله تعالی "انک لمن المنظرین" یعني خدای یې خواست قبول کړی.

پوه سه: چي قصه د موسیٰ او کومک دده او دده د قوم پر فرعون او د هغه پر قوم دمخه تپر سوه، په راتلونکي آیت کي خدای حال د رسولانو او د مؤمنانو عمومًا بیانوي، فقال.

اِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

په تحقیق مونږ مرسته د رسولانو خپل او د مؤمنانو وکړه په ژوند کي د دنیا.

الضحاک وایي بالحجة او سید المفسرین عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وایي ای بالغلبة والقهر، البیضاوي وایي چي د ابن عباس پر قول دا سوال واردیږي چي ګاهي خو غلبه د کافرانو پر مؤمنانو په برخه سي لکه په احد کي، ولي هغه یو امتحان دی، اعتبار عاقبة الامر وغالب الامر لره دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: په اوسنی زمانه کي خو غالب الامر غلبه کافرانو لره ده لکه امریکایان انګریزان وغیرهم د نړۍ په کونج کونج کي؟

ځواب: آیة کریمه "وانتم الاعلون (یعني علی الکفار) ان کنتم مؤمنین" (ای حقًا بکمال الایمان یعني مؤمنان د حکم اعلی څخه چي د خدایٔ دوی مخالفت وکړي نو خدایٔ دښمن پر مسلط کړي لکه په غزاء کي د احد چي علیه الصلوة والسلام پنځوس (۵۰) کسه په مشرۍ د عبدالله ﷺ پر ډوپ درې د پهرې لپاره مقرر کړي وه چي ددې درې له خوا څخه دښمن رانه سي، او علیه الصلوة والسلام دوی ته ټینګ وصیت کړی وُ چي که موږ پر کفارو غالبه سوو یا دوی پر موږ غالب سول تاسي به دا مرکز نه پریږدئ تر څو چي ما سړی نه وي دراستولی، خیر جنګ شروع سو کافرانو د مکې شکست وخوړی حتی چي ددوی ښځي چي دوی له ځانه سره راوستلي وې په غره کي ځغاستلې پایځې یې راپورته کړي وې، نو دې خلکو چي د کفارو دا شکست ولیدی سره ناري یې کړې یا قوم الغنیمة یعني کفارو خو شکست وکړی درځئ چي غنیمتونه جمع کړو، ددوی مشر یعني عبدالله ؓ ورته وویل چي ستاسي د علیه الصلوة والسلام وصیت هیر دی چي تاسي به مرکز نه پریږدئ تر څو ما سړی نه وي دراستولی؟ اخیر څورلس کسه د عبدالله بن جبیر ؓ سره پاته سوه نور ټول په طلب د غنیمت میدان جنګ ته راشوه سول او د علیه الصلوة والسلام امر یې پرېښو، خالد بن ولید چي په هغه وخت کي یې ایمان نه وُ راوړی د دوو سوو کسانو سره پر هغه دره راغلی هغه څوارلس نفره یې هورې شهیدان کړل او د تښتېدلو کفارو له زړونو څخه رعب خدایٔ و ایستی علیه الصلوة والسلام او مؤمنان یې و مابین ته کړه چي په نتیجه کي اوویا (۷۰) کسانو ذ شهادت جام نوش کړی او د علیه الصلوة والسلام سر مبارک مات سو او غاښ مبارک یې هم، دا وُ مجمل بیان د غزوة الاحد چي مسلمانان مغلوبه سول.

او روح البیان نور هم ډېر مشالونه راوړي دي تاسي یې مطالعه کړئ.

وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ ﴿٥١﴾ يَوْمَ لَا يَنفَعُ الظَّالِمِينَ مَعْذِرَتُهُمْ

او په هغه ورځ یعني په ورځ د قیامت (یوم الاشهاد یې په دې بولي چي کرام کاتبین یعني حفظة الاعمال ملکي شاهدي اداء کوي د رسولانو پر تبلیغ او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کافرانو پر تکذیب) هغه ورځ چې فائده نه کوي و کافرانو ته عذر ددوی، ولې چې عذر ددوی باطل دی "یوم" بدل دی د یوم یقوم څخه.

فائده: بعض له قراء سبعهؤ څخه تنفع په تا د تانیث وایي له دې سببه چې فاعل یې معذرتهم دی او هغه مؤنث دی او بعض قراء یې په یاء د غیبت وایي، ولې چې فاعل یې مؤنث حقیقي نه دی او بل فصل هم سته په منځ کې د فعل او فاعل.

وَلَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ سُوْٓءُ الدَّارِ ﴿۵۲﴾

دوی لره دی لعنت (لېرې والی د رحمت عامه څخه د خدای ﷻ، دا جمله حال دی من الظالمین) "ولهم سوء الدار" اضافت د صفت دی و موصوف ته ای الدار السوای یعني جهنم.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْهُدٰى وَاَوْرَثْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ الْكِتٰبَ ﴿۵۳﴾

او په تحقیق موږ ورکړی وُ موسٰی ته هغه شی چې په هغه هدایت وُ و دین حق ته پیدا کېدی، یعني التورات بعد اهلاک فرعون وقومه، او په میراث موږ پرېښو بني اسرائیلو ته کتاب یعني التورات (فاللام للعهد الذکري) یعني وروسته تر وفات د موسٰی ؑ.

پوه سه: چې اطلاق د هدٰی چې مصدر دی پر تورات مبالغةً دی.

فائده: دا بیان متصل دی بقصة موسٰی ؑ په منځ کې جمل معترضه دي.

هُدًى وَّذِكْرٰى لِاُولِي الْاَلْبَابِ ﴿۵۴﴾

"هدًی و ذکرٰی" (دا دوه لفظه یا مفعول له دي د اورثنا ای لاجل الهدایة والتذکرة یا حال دي له کتاب څخه حمل یې مبالغةً دی نحو زید عدل، یا مجاز في الطرف دی ای هادیًا و مذکرًا)

پوه سه: چې اولی جمع د ذو ده خلاف اللفظ، او الباب جمع د لب ده چې مغز ته وایي لکه د جوز مغز یا د بادام وغیرهما مغز، مراد څنې عقل سلیم دی، علماء وایي چې د انسان مغز عقل سلیم دی او بدن یې قشر دی یعني پوست او جامه یې قشر القشر ده، نو عقل سلیم لکه مغز دی د سړي لپاره باید خلګ تربیه د عقل وکړي په علوم حقه وُ سره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ

صبر وکړه یا محمد (ﷺ) علی اذی المشرکین، په تحقیق وعده ده د خدای ستا سره په نصر او کومک "حق" حق ده لایحتمل الخلف لان الخلف في الوعد محال علی الله، او شاهد یې حال د موسیٰ او فرعون دی "واستغفر لذنبک" ته طلب د بخښې وکړه د خپلې ګناه لپاره.

پوښتنه: انبیاء علیهم السلام خو له ګناه څخه معصوم دي، نو څرنګه نسبت د ګناه و علیه الصلوة والسلام ته وکړل سو؟

ځواب: بعض مفسرین وایي لزلتک یعني هغه کار چې خلاف الاولی وي، فهذا من قبیل ما قالوا حسنات الابرار سیئات المقربین، او بعض مفسرین وایي لذنب امتک (بحذف المضاف) او صحیح داده چې دا امر تعبدي دی یعني په دې استغفار سره د علیه الصلوة والسلام دده درجه لوړېدله او بل ددې لپاره چې د استغفار ویل به سنت د امت لپاره هم وګرځي.

وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ

بوه سه: چې روح البیان ددې آیت ترجمه داسي کړې ده ای دم علی التسبیح متلبسًا ای مقرونًا بحمد ربک یعني سبحان الله وبحمده، دی وایي والمقصود "بالعشي والابکار" دوام دی پر تسبیح او حمد في جمیع الاوقات بناء پر دې چې مراد له ابکار څخه اول د ورځې دی تر نصف النهار پورې او له عشي څخه مراد له نصف النهار څخه نیولې بیا تر اول د النهار د یوم ثاني فیدخل فیه کل الاوقات انتهی، او مظهري ترجمه داسي کړې ده ای صل شاکرًا لربک یعني که فرض وي او که نفل (یعني من قبیل ذکر الجزء چې تسبیح او حمد دی وارادة الکل چې لمونځ دی لان الصلوة مشتملة علی التسبیح والحمد) او الحسن وایي چې مراد صلوة العصر والصبح دی (تخصیص ددې دوو لمونځو چې یې وکړی لان العصر وقت الشغل في الاسواق والصبح وقت النوم والغفلة، یا له دې سببه چې ملائکة اللیل والنهار یعني حفظة کرام په دغو دوُ وختو کې خپله وظیفه بدلوي) او ابن عباس وایي چې مراد څنې صلوة خمسة دي، انتهی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي آيَاتِ اللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَانٍ أَتَاهُمْ

په تحقیق هغه کسان چې ناحقي بحث کوي په آیاتو کې د الله ﷻ، یعني ینکرون القرآن یعني انه لیس من عندالله بل هو متقول "بغیر سلطان" بیله کم حجته او دلیل څخه چې دوی ته ورکړل سوی له جانبه څخه د خدای ؒ.

إِنْ فِي صُدُورِهِمْ إِلَّا كِبْرٌ

ذکر محل دی چې صدور یعني سینه مراد ځني حال دی ای القلب لان محله الصدر کما قالوا في تعریف القلب انه لحم صنوبري في وسط الصدر مائل الی الجانب الایسر "الا کبر" نه دی په زړونو کې ددوی مګر کبر (نو کلمه نافیه ده) ابن عباس ؓ وایي چې دوی نه دي باعثه کړي پر تکذیب ستا یا محمد ﷺ مګر هغه شي چې په زړونو کې ددوی کبر او عظمت خپل سته، ستا څخه یعني ستا له نبوته انکار کوي له دې سببه چې دوی خپل ځانونه ستا له اتباع څخه شیطان په خیال لوړ ورکړي دي.

مَّا هُم بِبَالِغِيهِ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ﴿٥٦﴾

مجاهد ؒ وایي چې دوی و مقتضی ته خپل د کبر نه سي رسېدلای لان الله ﷻ یذلهم، دوی ذلیلوي او تاته پر دوی نصرت درکوي، او ابن قتیبة وایي ان في صدورهم الا کبر علی محمد ؐ وطمع في ان یغلبوه وماهم ببالغي ذالک الکبر ومآل التفسیرین واحد "فاستعذ بالله" نو ته پناه وغواړه له خدای ځخه له شره ددوی (یعني استعیذک ای بک من شرور هؤلاء المتکبرین علي "انه هو السمیع البصیر" په تحقیق خدای ؒ خبر دی په اقوالو او افعالو سره ددوی، ابن ابی حاتم له ابی العالیة ؒ څخه روایت کړی دی چې یهودان و علیه الصلوة والسلام ته راغله، نو بیان د دجال یې وکړی او و یې ویل چې دجال به زموږ له قوم څخه وي چې په اخیره زمانه کې به ظهور کوي او داسي او هسي کارنامې به اجراء کړي فانزل الله تعالی "ان الذین یجادلون" الی اخیر الآیة، فقال رسول الله ﷺ من جانب الله ان یتعوذوا من فتنة الدجال.

دروښ وایي: چې نزول ددې آیت په باره کې د لعین دجال مظهري ؒ په اوراقو راوړی دی کما هو دأبه، او روح البیان په اختصار سره دا قصه د دجال لعین راوړې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ده په عبارت د قیل، او تفسیر حسیني په بسط سره راوړې ده، او روح المعاني وایي چې اصح داده چې دا آیت نازل سوی دی په مشرکانو کې د مکې، یو دلیل دادی چې دا سورت مکي دی که د یهودانو او دجال قصه وایي نو هغه په مدینه کې منځ ته راغلې ده، نو باید مدني وي، نو پر دې تقدیر چې په مشرکانو کې د مکې نازل سوی وي حاصل د آیت دادی چې د مکې د مشرکانو په زړونو کې کبر دی، دوی دا غواړي چې نبوت دې زموږ وای حسدًا و بغیًا کما یدل قوله تعالی في شانهم "لولا نزل هذا القرآن علی رجل من القریتین عظیم" ددوی مراد په مکه کې مریدبن مغیرة وُ چې هغه مشر سړی وُ او ډېر سرمایه دار وُ، او په طائف کې عروة بن مسعود الثقفي وُ چې هغه د طائف سرمایه دار مشر سړی وُ، او دا آیت هم پر دې دلالت کوي چې مکې والا وه یعني قالوا لو کان (ای القرآن والتوحید) خیرًا ما سبقونا الیه (یعني د محمد ﷺ او ددې د تابعانو په وړاندې والی نه وای کړی تر موږ و هغه ته) نو پر دې معنی د ماهم ببالغیه چې صفت د کبر وُ داده چې دوی نسي رسېدلای موجب ته د کبر چې د دوی ورته اراده وه چې دفع د آیاتو قرآنیه به وکړو، یا به ریاست پیدا کړو یا به نبوت موږ ته ورسېږي ...ع: این خیال است و محال است و جنون

او زجاج ؒ وایي: ما یحملهم علی تکذیبک الا مافي صدورهم من الکبر علیک وماهم ببالغي مقتضی الکبر لان الله تعالی اذلهم، وروسته روح المعاني ویلي دي چې پر تقدیر ددوی چې دا آیت په یهودانو کې نازل دی او مدني هم دی نو د یهودانو مقصد دا وُ چې ته یا محمد ﷺ هغه څوک نه یې چې موږ یې انتظار کاوه بلکې زموږ صاحب المسیح بن داؤد دی، ددوی مراد دجال وُ دوی و علیه الصلوة والسلام ته وویل چې المسیح بن داؤد سلطنت به بر او بحر ته ورسېږي او دده په امر به ویالې بهېږي، وهو آیة من آیات الله فیرجع الینا (ای الیهود) الملک، ددې حکایت صاحب کشاف کړی دی، وروسته صاحب کشاف ویلي دي فمسی الله تمنیهم ذالک کبرًا، ونفي سبحانه تعالی ان یبلغوا تمناهم نو ددوی غرض په تعظیم کې د دجال دا وُ چې نفي دوی وکړې چې ته هغه نبي مبعوث في اخیر الزمان چې زموږ انبیاؤ موږ ته زېرې راکړی دی نه یې، بلکې مبشر به المسیح بن داؤد دی یعني دجال علیه اللعنة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝

هرو مرو پیدا کول د اسمانونو او د مځکې څخه لوی دی تر پیدائښت د خلکو، خو د هر د خلکو نه پوهیږي، نو چې پر دې کار باندې قدرت ثابت سو، نو پر کوچنۍ کار خو په درجه اولی ثابت دی او دا دلیل د ثبوت لپاره کافي دی، خو اکثره خلک نه پوهیږي په دومره خبره ولې چې دوی غور نه کوي، خو ځینې داسې کسان هم ستنه چې غور او فکر خو کوي او پوهیږي هم او دا منې هم، نو پر دې ترتیب د قرآن کریم د اورېدونکو دوه قسمونه سوه، یو په قرآن پوهېدونکي او منونکي چې دې ته صاحب بصیرت او ایمان وایي، دویم نه پوهېدونکي او نه منونکي دا په مثل د رندو او بد عملو دي.

وَمَا يَسْتَوِي الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ۙ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَلَا الْمُسِيْٓءُ ۭ

نه دي سره برابر رونده او لیدونکی، او داغه رنګه نه دي سره برابر هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي او اعمال صالح یې کړي وي او مسیئ یعني بد، والحاصل چې دوی نه دي سره برابر نو باید دوی لره دا امتیاز ځای وي، دوی لره باید د تفاوت ځای وي چې دوی پکښې اوسېږي ولا تفاوت لهما في الدنيا فهو بعد الموت والبعث.

سوال: په ولا المسیئ کې یې لا ولې زیات کړی؟

ځواب: د ذکیر د نفي سابق، ولې چې د نفي سابق او د مسیئ تر منځ فصل په صله د الذین وعملوا الصالحات راغلی دی.

سوال: په ماقبل کې یې اعمٰی تر بصیر دمخه کړی وُ، په وروسته آیت کې الذین آمنوا وعملو الصالحات دمخه کړی؟

ځواب: په سبب د مجاورة د البصیر وهو من باب التفنن في العبارة الذي هو باب من البلاغة.

سوال: الذین آمنوا و عملوا الصالحات یې په صیغه د جمع راوړی او مسیئ یې مفرد راوړی؟

ځواب: له مسیئ څخه جنس مسیئ مراد دی (نو الف لام د المسیئ لپاره د جنس دی)

پوښتنه: مراد له اعمٰی او مسیئ څخه خو یوه ډله ده چې کافران دي، او مراد له بصیر او د الذین آمنوا آه څخه خو مؤمنان دي، نو د عطف څه فائده ده یعني چې یو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يو مقابل يې سره راوړي واى، يا بصير او اعمىٰ يې راوړى واى او يا الذين آمنوا و عملوا الصالحات او مسيئ يې سره راوړي واى كافي به نه واى؟

ځواب: عطف يې په اعتبار د تغاير الوصفين دى، نحو زيد مسيئ الاخلاق وجواد، وعمرو حسن الاخلاق وبخيل، لان المقصود في الاولين اى العمى والبصيرة العلم لان العمى بالمعنى المذكور والبصيرة من صفات القلب، او مسيئ او الذين و عملوا الصالحات من اعمال الجوارح وهي الاعضاء والقلب، والحاصل ان الاعمىٰ والمسيئ لائق د حقارت او ذلت دي، والبصير والذين آمنوا و عملو الصالحات لائق د احسان دي، وهذا التفاوت يظهر في دار الآخرة يجر الاعمىٰ والمسيئ الى النار دار البوار، والبصير والذين آمنوا وعملوا الصالحات ينقلون الى الجنة دار القرار.

دروښ وايي: چې دا ؤ تحقيق د دې آيت حسب الوسع والطاقة والعلم عند الله.

قَلِيلًا مَّا تَتَذَكَّرُونَ ﴿٥٨﴾

اى زمانًا قليلاً، نو نصب يې بناء پر ظرفيت دى د تذكرون، يا معنى داده تذكرًا قليلاً نو نصب يې مبني دى چې مفعول مطلق دى.

إِنَّ السَّاعَةَ لَآتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيهَا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٥٩﴾

په تحقيق قيامت راتلونكى دى (ساعة د قيامت له نومانو څخه يو نوم دى) د دې حكمت الهي لپاره چې د محسن او مسيئ، كافر او مسلمان فرق وكړل سي ولي چې په دنيا كي هر چا ځان پر حق دين باله "لاريب فيها" هيڅ شك نسته په راتلو كي، ولي چې محال ده چې د يو شي اخبار چې خداى ؤ وكړى له هغه څخه دې خلاف وكړل سي.

"ولكن اكثر الناس لايؤمنون" لكن دې پر د خلكو پر راتګ د قيامت ايمان نه لري، كريمه: ان هى الا حيوة الدنيا نموت ونحيا.

وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ﴿٦٠﴾

او وايي رب ستاسي چې ما وبلئ (يعني زما څخه غوښتنه كوئ) زه به ستاسي استجاب وكړم، په تحقيق هغه كسان چې تكبر كوي زما له عبادت څخه، نو ژر دى چې زه به داخل كړم دوى جهنم ته ذليل سوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: بعض صوفیان وایي چي ترک د دعاء افضل دی ددې سببه چي تسلیم و قضا ته د خدای ﷻ بنه کار دی. او هم دوی وایي چي دعاء و مسلمانانو ته بنه کار دی لکه د باران غوښتنه یا یو مصیبت پر مسلمانانو د کفارو له لاسه مسلط وي د هغه مصیبت دفع غوښتل، او که خالص د خپل ځان لپاره یې خواست کاوه هغه بنه کار نه دی لکه یو سړی چي ناجوړی وي خواست کوي چي خدایه ما جوړ کړې لکن دا خبره د صوفیانو مخالفه ده له کتاب الله څخه او له سنت نبوي څخه او له اجماع څخه د امت مرحومه.

احادیث نبویة في باب الدعاء (۱) له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی قال قال رسول الله ﷺ لیس شیئ اکرم علی الله من الدعاء، رواه الترمذي وقال حسن غریب (۲) وعن انس رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ الدعاء مخ العبادة رواه الترمذي (۳) وعن ابن مسعود رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ: سلو الله من فضله فان لله ان یسئل (د خدای ﷻ دا خوښه ده چي له ده څخه سوال وکړل سي) وافضل العبادة انتظار الفرج (او افضل د عبادت ای الدعاء انتظار دی د قبلېدو د سوال یعني د هر تلوار دی په اجابت کي د سوال نه کوي، ولي چي قضاء الحاجت د رب العزة ده خو امر مربوط په خپل وخت پوري دی) رواه الترمذي (۴) وعن ابی هریرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ من لم یسأل الله یغضب علیه (والمراد في هذا الحدیث انه من لم یسئل الله استکبارًا غضب علیه، کریمه: ان الذین یستکبرون عبادتي سیدخلون جهنم داخرین.

پوه سه: چي دمخه تېره سوه چي د عبادت او د دعاء معنی یوه ده، فلا یرد ان المذکورة في الآیة المتلوة العبادة دون الدعاء فلا یتم الدلیل علی الدعی المذکورة بهذه الآیة فافهم (۵) له انس رضي الله عنه څخه روایت دی قال قال رسول الله ﷺ لا تعجزوا في الدعاء (ای عن الدعاء) فانه لن یهلک مع الدعاء احد، رواه ابن حبان والحاکم (۶) وعن ابی هریرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ الدعاء سلاح المؤمن وعماد الدین (ستن یا تنبه د دین ده) ونور السمٰوات والارض، رواه الحاکم في المستدرک (۷) وعن ابن عمر رضي الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ من فتح له منکم باب الدعاء (که چا ته خلاصه سوه دروازه د دعاء یعني دعاء او خواستونه یې و خدای ﷻ ته ډېر کول) فتح له ابواب الرحمة وقال سئل الله شیئًا احب الیه (یعني خدای ﷻ ته) من ان یسئل الله العافیة (ولي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عافیت عام او شامل لفظ دی د دنیا او اخرت سلامتیا لره) رواه الترمذي وفي روایة الحاکم في المستدرک فتحت له ابواب الجنة.

فائده: هغه حدیثونه چې خدای ﷻ وعده د قبلېدو د دعاء کړې ده (۱) یو خو هغه حدیث د ابن عمر رضی الله عنه دی چې آنفاً تېر سو.

(۲) وعن سلمان الفارسي رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ان ربکم حیی کریم یستحیی من عبده اذا رفع یدیه الیه ان یردهما صفرًا (یعني خالي له اجابت او رحمت څخه) رواه الترمذي و ابو داؤد والبیهقي في الدعوات الکبیر.

(۳) عن ابی سعید الخدري رضی الله عنه ان النبي ﷺ قال ما من مسلم یدعو بدعوة لیس فیها اثم (چې ګناه نه وي پکښې لکه د حرام شي خواست کول) ولا قطیعة رحم (نه قطع د صله رحمي پکښې وي لکه یو څوک چې ووایي چې مثلاً زما پر ورور ستا غضب نازل کړه) الا اعطاه الله بها (په هغه دعوت سره) احدی ثلاث (یو له درو خصلتو څخه) اما ان یجعل له دعوته (یا به ژر ورکړي هغه شی چې ده یې غوښتنه کړې وه) واما ان یدخرها له في الآخرة (یا به یې ثواب ذخیره کړي ده له په ورځ د اخیرت کي یعني ثواب او عوض یې هوري ورکړي) واما ان یصرف الله عنه من السوء مثلها (یعني یو ضرر چې ده ته متوجه وي هغه به ځني دفع کړي په سبب د دعاء دده که څه هم عین مطلوب دده ورنه کړي) قالوا (ای الصحابة رضی الله عنهم) اذًا نکثر (موږ به هم دعاوي ډېرې کوو) قال ﷺ الله اکثر (د خدای ﷻ فضل او رحم هم ډېر دی) رواه احمد.

(۴) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ یستجاب للعبد مالم یدع باثم او قطیعة رحم (دروښ وایي: چې د دواړو مثال په ترجمه کي د حدیث د ابی سعید الخدري رضی الله عنه تېر سو) مالم یستعجل (چې دعاء کونکی تلوار ونه کړي) قالوا یا رسول الله ﷺ ما الاستعجال؟ (د استعجال معنی څه ده) قال ﷺ یقول قد دعوت وقد دعوت فلم ار یستجاب لي فیستحسر عند ذالک ویدع الدعاء (استعجال دادی چې داعي ووایي چې ما یوه پلا دعاء وکړه بیا دي دعاء وکړه یعني دیو شي معین نو ما نه ولیدی چې زما خواست خدای ﷻ قبول کړی، نو دي باره ستړی سي له دعاء څخه دی دعاء پرېږدي، رواه مسلم.

(۵) عن جابر رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ما من احد (کلمه د من لپاره د استغراق

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ده) يدعو بدعاء الا آتاه الله ما سئل او كف عنه من السوء مثله ما لم يدع باثم او قطيعة رحم، رواه الترمذي.

(٦) وعن ابن عمر رض قال قال رسول الله ﷺ ان الدعاء ينفع مما نزل (يعني چې يو آفت يا مرض پر داعي نازل وي يعني هغه ځني دفع کړي) ومما لم ينزل (چې يو آفت چې و داعي ته متوجه وي يعني هغه ځني دفع کړي) فعليكم عباد الله بالدعاء (يعني پر تاسي لازم ده اى بندګانو د خداى دعاء کول) رواه الترمذي.

فائده: د څو کسانو غواست خداى عزوجل قبلوي، (١) عن ابى هريرة رض ده وويل قال رسول الله ﷺ دري غواستونه مستجابات لاشک فيهن (د خداى ج په دربار کي قبول دي هيڅ شک نسته پکښې، دعوة الوالد (والد مور او پلار ته وايي، يعنې ولد ته دعاء وکړي، ولد هم نر او ښځي دواړو ته وايي) و دعوة المسافر، او بله دعاء د مسافر چې يو چاته يې وکړي، ودعوة المظلوم، او بل غواست دى د هغه چا چې پر ده ظلم کړل سوى وي د يو چا له خوا ځخه يعنې چې ظالم ته ښېرا وکړي، رواه الترمذي و ابو داؤد و ابن ماجة.

(٢) او هم د ابو هريرة رض ځخه روايت دى چې ده وويل قال رسول الله ﷺ ثلاثة لايرد دعوتهم (١) الصائم حين يفطر، روژياتي په دغه وخت کي چې روژه ماتوي او دعاء وکړي (٢) والامام العادل بادشاه چې عادل وي.

دروښ وايي: چې په اوسنى زمانه کي يعنې (١٤٣٢ هـ) نوم دى الا ما شاء الله و دعوة المظلوم (مظلومان په تتنى زمانه کي ښځي د هر دي يا د حکومت له خوا ځخه يا د رعيتو له خوا ځخه لکه سارقان د ټلې ماران اغوا کونکي وغير ذالک) (٣) عليه الصلوة والسلام زياته کړه چې ښېرا د مظلوم خداى پورته کوي لور تر وربځي ويفتح لها ابواب السماء (دروازې د اوو اسمانو، او خداى ج و مظلوم ته ووايي چې زه به ستا کومک کوم که څه هم بعد حين، يعنې ستا کسات به له ظالمه اخلم که څه هم تر يو وخته پورې وځنډېږي، رواه الترمذي.

(٣) وعن ابى الدرداء رض قال قال رسول الله ﷺ دعوة المرء المسلم لاخيه بظهر الغيب (پس شا يعنې مخامخ نه وي، تاچې د چاپلوسى له جهته نه وي) مستجابة (قبوله ده) او هغه ملکي چې د دعاء کونکي سره ورسره دي هغه ووايي آمين ولک بمثله (تالره دي په مثل د وروڼ غائب د دعاء) رواه مسلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۴) له ابن عباس ؓ څخه روایت دی چې هغه روایت کړی دی له نبي کریم ﷺ څخه چې پنځه خو استونه قبلېږي (۱) دعوة المظلوم حتی ینتصر (چې کسات یې خېژي) (۲) و دعوة الحاج حتی یصدر (چې دی رجوع کوي د کور پر خوا) (۳) دعوة المریض حتی یبرء (چې جوړېږي) (۴) ودعوة الاخ لاخیه بظهر الغیب.

دروښ وایي: چې مراد له اخ څخه عام دی که نسبي وي او که دیني وي، (۵) ثم قال ؒ واسرع الدعاء اجابةً دعوة الغائب للغائب، رواه الترمذي و ابو داؤد، فصل مهم في شرائط استجابة الدعاء.

منها: التجنب، پرهېز کول د حرام څخه د خورک په شي او څیښک په شي کې یعني د غلا مال به نه خوري یا شراب به نه څیښي او په کسب کې د خیانت مال یا حرامو تجارتو مال به نه خوري بلکې کسب به یې د شرائطو سره د فقهاء ؒ برابر وي یعنې کسب او تجارت به یې پر اسلامي معیار برابر وي.

دروښ وایي: چې په اوسنۍ زمانه کې هیڅ تجارت پر شرعي معیار نه دی الا ما شذ وندر، عن ابی هریرة ؓ قال قال رسول الله ﷺ ان الرجل یطیل السفر، ډېر سفر کوي، اشعث ببر سر به یې وي، اغبر، پښې به یې سپېرې وي، یمد یدیه الی السماء، لاسونه به یې د اسمان پر خوا نیولي وي یعني خواست به کوي یا رب یا رب وایي، ومطعمه حرام د خوراک شی به یې حرام وي، وشربه حرام وملبسه حرام کالي د اغوستلو به یې حرام وي، و غذی بالحرام نفقه به یې حرامه وي، فانی یستجاب له؟ دده دعاء به چېرې قبلېږي، رواه مسلم.

ومنها: حضور القلب عند الدعاء عن ابی هریرة ؓ قال قال رسول الله ﷺ ادعوا الله وانتم موقنون بالاجابة، تاسي خدای ؒ ته خواست کوئ په داسي حال کې چې ستاسي دي یقین وي په قبلېدو کې، ولي چې قادر پر هر شي او رحیم او کریم دی، واعلموا ان الله لا یستجیب الدعاء من قلب لاهٍ، یعني چې غافله وي، رواه الترمذي.

ومنها: الجد في الدعاء عن ابی هریرة ؓ قال قال رسول الله ﷺ اذا دعا احدکم فلا یقل اغفرلي ان شئت ولکن لیغرم، یعني په دې عجز او رغبت تامه دي خدای ؒ ته طلب فان الله لا یتعاظمه شیئ عطاه پر خدای ؒ باندي درونده نه تصامېږي یو شی چې چاته یې ورکوي، رواه مسلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائدة عظيمة: په باره کي د سنت او په طريقه د اداب د دعاء: عن فضالة بن عبيد ﷺ قال بينما رسول الله ﷺ قاعداً (په دې دوران کي چې عليه الصلوة والسلام ناست ؤ، يو سړی راغلی لمونځ يې وکړی) وروسته يې وويل اللهم اغفرلي وارحمني، نو رسول الله ﷺ ورته وويل عجلت ايها المصلي (تلوار دي وکړی ای لمونځ کونکې، او ورته زياته يې کړه چې لمونځ دي وکړی او کښېنستې فاحمد الله بما هو اهله، وصل علي (او حمد د خدای ﷻ ووايي پرداسي طريقه چې دی اهل دی او درود پر ما ووايه بيا دعاء وکړه، وروسته يو بل سړی راغلی، هغه چې لمونځ وکړی هغه حمد د خدای ﷻ ووايه او درود يې پر عليه الصلوة والسلام ووايه، عليه الصلوة والسلام ورته وويل ايها المصلي ادع تجب (خواست وکړه چې خدای ﷻ يې قبلوي) رواه الترمذي، او له ابن مسعود ﷺ څخه هم ورته روايت موجود دی، په هغه کي دا قدر زيادت دی چې نبي ﷺ او ابوبکر او عمر ﷺ هم ورسره ناست وه.

وعن عمر بن الخطاب ﷺ ان الدعاء بين السماء والارض (يعني د قبول ځای ته چې اسمان دی نه پورته کېږي) لايصعد منه شيئ حتى تصلي على نبيک، رواه الترمذي، وعن مالک بن يسار ﷺ قال قال رسول الله ﷺ اذا سئلتم الله فاسئلوه ببطون اکفکم (يعني د لاس په ورغوو سره) ولا تسئلوه بظهورها (او سوال مه کوئ له خدايه څخه د لاسو په شا) او ابن عباس ﷺ په دغه حديث کي زياته کړې ده، فاذا فرغتم فامسحوا بها وجوهکم (چې له دعاء څخه فارغه سولاست بيا لاسونه پر مخ تېر کړئ) رواه ابو داؤد، وله حضرت عمر ﷺ څخه روايت دی چې عليه الصلوة والسلام به په دعاء لاسونه پورته کړي وه، کښتنه يې نه ايله کول تر هغو چې دواړه به يې پر مخ مبارک تېر نه کړه، رواه الترمذي، وعن عائشة ﷺ کان رسول الله ﷺ يستحب (خوښوی يې) الجوامع من الدعاء (مثلا اللهم اغفرلنا وللمؤمنين والمؤمنات وامثالها) ويدع ما سوى ذالک، رواه ابو داؤد، وعن انس ﷺ قال کان رسول الله ﷺ يرفع يديه في الدعاء حتى يرى بياض ابطيه (يعني عليه الصلوة والسلام چې به لاسونه پورته کړه په دعاء کي دومره به يې لاسونه لوړ ونيول چې سپين والی د تخرکو به يې ښکاره سو يعني چې قميص به يې نه ؤ اغوستی) وعن ابی بن کعب ﷺ ان رسول الله ﷺ اذا ذکر احداً فدعاه بدء بنفسه مثلاً اللهم اغفرلي ولفلان، وعن ابن عمر ﷺ انه يقول ان رفعکم ايديکم يعني في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الدعاء بدعة (يعني چې بعض خلکو به لاسونه تر سر لوړ نیول) ما زاد رسول الله ﷺ على هذا اعني الصدر، رواه احمد.

سوال: د انس ؓ په حدیث کې تېره سوه چې رسول الله ﷺ به دومره لاسونه پورته کول په دعاء کې چې سپین والی آه، نو دا به تر څیګر لوړ نه وه؟

ځواب: دا په حالاتو کې د استغراق د رسول الله ﷺ فرق وُ یعني عمومي رفع الیدین د رسول الله ﷺ تر صدر پورې وه او په حال کې د استغراق في حب الله څنډې لوړ سوه کما جاء في حدیث انس ؓ.

مسئله: سنت په دعاء کې دادی چې دواړه لاسونه دې پورته کوي او په منځ کې د دواړو لاسو دې فرجه وي وان قلت او یو لاس پر بل ایښول مکروه دی، او که چېرې عذر وُ او یا د هر یخ وُ فالاشارة بالمسبحة قائم مقام بسط الیدین.

اَللّٰهُ الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الَّیْلَ لِتَسْكُنُوْا فِیْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا ؕ

خدای ﷻ هغه ذات دی چې پیدا کړې یې ده تاسي لره شپه (نو جعل په معنی د خلق دی) تاچې تاسي ارام وکړئ په شپه کې. یعني په خوب سره او د ورځې د ستړیا څخه مستریح سئ، دا بناء پر اغلب حالاتو د انسانانو دی نو دا سوال نه وارد ږي چې په دې هر و گرمو وطنو کې خلګ د شپې کارونه او کسبونه کوي د ورځې استراحت کوي.

پوه سه: چې مبصر خو صیغه د اسم فاعل ده نو ورځ خو لیدونکی نه ده؟

جواب: نعم لکن اسناد د ابصار و ورځ ته مجاز دی مبالغةً والاصل والنهار مبصر فیه فتامل.

اِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا یَشْكُرُوْنَ ۝

خاوند د لوی فضل دی (فالتنوین چې فضل للتعظیم) پر خلګو چې د دوی حاجاتو مراعات یې ساتلی دی (کما في خلق اللیل والنهار) لکن ډېر کسان چې کافران دي شکر د نعمتو د خدای ﷻ نه وایي. ولي دوی منعم حقیقي نه پېژني حیث جعلوا له شرکاء من الاصنام وهذا غایة الغفلة والجهل بالله.

پوه سه: چې د ناس لفظ یې په دې آیت کې مکرر راوړی حکمت یې څه دی؟

ځواب: حکمت یې دادی چې تخصیص راسي د کفران النعمة په اکثر الناس

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

پوري چي کافران دي، ولي چي مؤمنان شکر د نعمت د خدای ﷻ وايي ليعلمهم بان المنعم الحقيقي هو الله تعالى...ع: من از تو بدانم نه از عمر وزيد

فائده: دا جمله په معنی کي يعني که يې څه هم حرف عطف نه دی راوړی متصله په هغه آيت پوري هو الذي يريكم آياته الخ.

ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٦٢﴾

من الجواهر والاعراض وافعال العباد، دغه موصوف ذات په مذکوره افعالو سره چي مقتضي د الوهيت او ربوبيت دی، ذالکم مبتداء ده او لفظ الله يې خبر دی، ربکم يې خبر آخر دی، خالق کل شيئ يې خبر دی، نسته معبود بالحق ماسوی دده څخه ولي چي هيڅ څوک موصوف په دغو صفاتو سره چي مقتضی د الوهيت نسته نه په اسمانو کي او نه په مځکه کي "فانی تؤفکون" نو څرنګه (نو "انی" په معنی د کيف دی) تاسي مصروف سوا ست له عبادت څخه دده ذات والا صفات و عبادت ته د غير دده چي بتان دي يا ملکي دي.

كَذَٰلِكَ يُؤْفَكُ الَّذِينَ كَانُوا بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٦٣﴾

(کذالک، يعني کما افک کفار مکة) مصروف وه هغه کسان (يعني په امم ماضيه ؤ کي وه) او له اياتو څخه د خدای ﷻ يې انکار کاوه (بلا حجت).

اللَّهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ قَرَارًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً

خدای ﷻ کرځولي ده مځکه (مفعول اول دی د جعل) قرارًا مصدر دی په معنی د مستقر دی (مفعول ثاني دی د جعل) او اسمان يې کرځولی دی بام (اعراب يې پر هغه ډول دی لکه الارض قرارًا)

پوه سه: چي دا دويم دليل دی په نورو افعالو سره چي خاص په خدای ﷻ پوري دی.

وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ

(وصورکم) تاسي ته ای انسانانو خدای ﷻ صورتونه درکړي دي، نو ه پر ټښه صورت يې درکړی دی چي په بنی جنس کي د حيوان تر ټولو ښه صورت دی چي قد او قامت يې مستقيم دی چي د حيواناتو پر قد بالا دی، البشرة چي پوست مو په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وپښتانو پټ نه دی لکه د نورو حیواناتو، متناسب الاعضاء چې اعضاء د بدن مو وضع لائقه دي او د صنائع قدرت خدای ﷻ درکړی دی لکه بنایي، مس ګري، زرګري وغیرها او خدای ﷻ تاسي ته کسب د کمالاتو دینیه ؤ او دنیویه ؤ لکه علوم مختلفه النقلیة والعقلیة او د طیاراتو او مېزائلو او نورو جنګي او نقلي آلاتو، ابن عباس ﷺ وایي چې ابن آدم قائم دی (کمامر) معتدل الاعضاء دی، خورک کوي او شی را اخلي په لاس، او نور حیوانات په خوله شی را اخلي، قال الله تعالی في موضع اخر: لقد خلقنا الانسان في احسن تقویم، صائب چې یو ادیب شاعر د فارسي ژبي دی، داسي خواږه ابیات په شان کې د انسان ویلي دي:

اثار چار دفتر ومضون نه کتاب .... درنقطهٔ تو ساخته ایزد نهان همه

وزبهر خدمت تو فلکها چو بندگان .... ز اخلاص بسته اند کمر برمیان همه

پیش تو سر بخاک مذلت نهاده اند .... با آن علوم ومرتبه روحانیان همه

وَرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ۖ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۴﴾

تاسي ته یې په رزق درکړي خدای ﷻ داد لذیذو او خوندورو خوړو څخه.

فائده: لفظ الله مبتداء ده او مصول سره د صله یې خبر دی یعني الذي جعل لکم آه یې خبر دی، هذه الجملة مقررة للجملة السابقة.

پوه سه: چې (تبارک) لفظ ماضي دی ای علا رتبة الله چې رب او مالک تربیه کونکی دی د ټولو عالمیانو، ولي چې ټوله ماسوی الله ذات اقدس ته ددې محتاجه دي، او پاک ذات واجب الوجود دی منزه د فناء او عدم څخه دی.

هُوَ الْحَيُّ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ؕ

هغه ژوندی دی دائم الحیوة دی باقتضاء ذاته الوجود، نسته معبود بالحق پرته ده (دا کلمه خبر د وهم دی د هو) تاسي عبادت ددې کوئ او سوال د خپلو حاجاتو ددې څخه کوئ، او خالص کړئ دې لره عبادت من الشرک والریاء کما مر آنفًا.

فائده: کلمه د فاء لپاره د سببیت ده ولي ما ذکر من صفاته عزوجل موجبات دي د عبادت ددې من دون شرک غیره جلیًا کان او خفیًا ای الریاء.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۵﴾

جمله ثناء ؤ صفت خدای ﷻ لره دي، بعض مفسرین وایي چې ددې آیت معنی په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حذف د قول داده ای قابلین هذا القول، نو دا جمله هم حال ده لکه مخلصین له الدین د فادعوه، او فراء نحوي ؒ وایي چې ددې آیت سره امر مضمر دی من قال لا اله الا الله وروسته دي وایي الحمد لله رب العالمین یعني پر نعمت د ایمان دي حمد ووایي.

پوه سه: چې جویر ؒ له ابن عباس ؓ څخه داسي روایت کړی دی چې ولید بن المغیرة او شیبة بن ربیعة و آنحضرت ﷺ ته وویل یا محمد ارجع الی دین ابائک و اجدادک یعني بتانو ته سجده کوه، فانزل الله تعالی:

قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ

ته ورته ووایه چې زه نهي کړل سوی یم له جانبه د خدای ﷻ چې عبادت وکړم چې تاسي یې عبادت کوئ ماسوی د خدای ﷻ څخه یعني الاصنام.

لَمَّا جَاءَنِيَ الْبَيِّنَاتُ مِنْ رَبِّي وَأُمِرْتُ أَنْ أُسْلِمَ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٦٦﴾

هر کله چې راغلي یعني حجج او دلائل واضح چې قوي دي، نقلیه چې قرآن کریم دی او عقلیه چې نهي کونکی دی د عبادت څخه د بتانو چې دا بتان که یې څوک عبادت وکړي نفع یې نه ور رسېږي او که یې نه وکړي ضرر یې نه ور رسېږي لانها جمادات، او ماته امر سوی دی چې زه عبادت خالص وګرځوم و رب العالمین ته، چې دلیل یې دادی.

هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ

تاسي جوړ کړل سوي یاست له خاورو څخه ای في ضمن خلق آدم من تراب، یا له نطفې څخه یعني اولاد دده، یا د توتې توتې وینو څخه

ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوا أَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُونُوا شُيُوخًا

(طفلاً) ای انطفالاً، یا چې وګرځي سپین ږیری.

سوال: خبره خو د ډېرې سره وه، نو طفلا یې ولې مفرد راوړی؟

ځواب: له طفل څخه مراد جنس دی چې یوه او ډېرو ته شامل دی یا په تأویل د کلو احد تاچې ورسېږي و زمانې ته د غایة قوة د ډېرش یا پنځه ډېرش کاله.

وَمِنْكُمْ مَنْ يُتَوَفَّىٰ مِنْ قَبْلُ وَلِتَبْلُغُوا أَجَلًا مُسَمًّى وَلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾

او بعض له تاسي څخه مري د مخه تر زمانې د اشد یا د شیخوخة (ولتبلغوا)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعني دا دوې د عمر جاري به وي تاچي تاسي ورسېږي هغه وخت معین ته چي تر هغه نسي تېرېدای، والمراد اجل الحیوة "ولعلکم تعقلون" شاید تاسي ته به ددې دوراتو متالیة وُ څخه دلائل د قدرت د خدای ﷻ حاصل سي او عبرت به واخلئ او خدای ﷻ به په وحدانیت وپېژنئ.

هُوَ الَّذِیْ یُحْیٖ وَیُمِیْتُ ۚ فَاِذَا قَضٰۤی اَمْرًا فَاِنَّمَا یَقُوْلُ لَهٗ كُنْ فَیَكُوْنُ ۝۶۸

او خدای ﷻ هغه ذات مقتدر دی چي څوک ژوندی کوي په رحم کي د مور او څوک وژني په عند انقضاء الاجل، نو چي اراده وکړي خدای ﷻ د یو کار (فانما یقول له کن فیکون) یعني من غیر توقف علی شیئ لکه د بندګانو کارونه چي پر اسبابو موقوف دی.

پوه سه: چي مفسرین وایي چي کن فیکون مثال د تاثیر د قدرت د خدای عزوجل دی په مقدراتو کي عند تعلق ارادته بها وتصویر لسرعة ترتب المکونات علی تکوینه، بېله دې چي د خدای ﷻ له خوا دي امر وي ولي چي امر و معلوم ته خو محال دی او نه مأمور ستة ولي چي مأمور هنوز په کتم العدم کي دی، او بعض مفسران وایي چي عادت د خدای ﷻ په دې سره جاري دی چي په وخت د اردې د ایجاد د یو شي کن فیکون وایي.

دروښ وایي: چي ددې آیت مزید تحقیق په روح البیان کي مطالعه کړئ.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِیْنَ یُجَادِلُوْنَ فِیْۤ اٰیٰتِ اللّٰهِ ؕ اَنّٰى یُصْرَفُوْنَ ۝۶۹

ته نه ګوري یا محمد (ﷺ) یا علم نه لري، استفهام لپاره د انکار پر حرف نفي داخل سو او نفي د نفي اثبات دی یعني ته نه ګوري یا علم لري، چي ناحقه بحث کوي په آیاتو کي د خدای ﷻ یعني دوی وایي چي دا آیات الله چي قرآن مبارک دی من عند الله نه دی بلکي محمد (ﷺ) یې له ځانه جوړوي، او یا خلاف الرسول والمؤمنون خبري کوي د مؤمنانو په باره کي وایي ان هؤلاء لفي ضلال مبین حیث ترکوا دین ابائهم بمتابعة محمد ﷺ وامثال ذالک (انی تصرفون) څرنګه مصروف سوه له حق څخه و باطل ته یعني استمروا علی الاشراک، دا استفهام د توبیخ او تعجیب لپاره دی.

فائده: تکریر د ذم د مجادلین په دې سورة کي ځلور ځایه راغلی دی، اما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لتعدد المجادل يعني ګاهي يوه ډله د مشرکانو وي ګاهي بله و هکذا يعني يکون المجادلين من اقوام مختلفة، او يا په سبب د مجال فيه يعني بعض په بعث بعد الموت کي بحث کوي او بعض په جنت او دوزخ کي بحث کوي و هکذا الى غير ذالک او يا تکرار صرف لپاره د تاکيد دی، والله اعلم.

اَلَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِالْكِتٰبِ وَبِمَآ اَرْسَلْنَا بِهٖ رُسُلَنَا ۚ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ۝

په حذف د مبتداء يعني هم الذين دوی يعني اصحاب د موصول اول هغه کسان دي چې دوی تکذيب کوي په کتاب سره، والمراد به القرآن او په هغه شي چې موږ را استولي په هغه رسولانو خپل، والمراد به التوحيد، نو ژر دی چې ددوی به علم راسي چې موږ پر باطل دين ؤ يعني الشرک او حق دين توحيد ؤ.

پوه سه: چې محمد بن سيرين ؒ په نقل د مظهري وايي چې آيت اولی په مشرکينو کي نازل سوی دی او دا آيت په قدريه ؤ کي نازل دی، نو مظهري د نظم څخه د قران خلاف بيان راوړی دی يعني د قدريه مذهب يې بيان کړې دی، يعني چې د قدريه مذهب دا دی چې دوی له پل صراط څخه منکر دي او د ميزان څخه هم منکر دي او د شفاعت څخه هم منکر دي وغير ذالک، نو دوی مجوس ددې امت دي چې د هغو همدغه مذهب دی، يعني يکذبون ما ثبت بالکتاب والسنة چې هغه دا دی چې خداى پاک خالق دی د ټولو اشياؤ من الخير والشر والجواهر والاعراض قادر على كل شيئ يغفر لمن يشاء ما يشاء من الصغائر والكبائر ويعذب من يشاء يفعل ما يشاء ويحكم ما يريد لا يجب عليه شيئ لا يسئل عما يفعل وهم يسئلون.

دروښ وايي: چې دا ټولي خبري او بيان د مذهب د قدريه هم داغه دی لکه مظهري چې بيان کړی لکن خبره په دې کي ده چې قدريه يوه محدثه ډله ده چې په وخت کي د نزول القرآن نه وه، نو څرنګه آيت د قرآن په دوی کي يې تأويل روا دی.

سوال: مخبر صادق ﷺ ويلي دي القدريه مجوس هذه الامة؟

ځواب: دا حديث خو ددې تقاضا نه کوي چې قدريه په وخت کي د نزول د قرآن کريم موجود وه بلکې دا اخبار بالغيب دی په قسم د معجزة د عليه الصلوة والسلام کما اخبر رسول الله ﷺ، کما جاء في الحديث المتفق عليه للبخاري و مسلم، وتفترق امتي على ۷۳ فرقة كلهم في النار الا الناجية، ولي دا ۷۳ ډلي خو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په وخت کي د نزول القرآن موجودي نه وي کما لايخفى.

إِذِ الْأَغْلَالُ فِي أَعْنَاقِهِمْ وَالسَّلَاسِلُ يُسْحَبُونَ ۝ فِي الْحَمِيمِ

بوه سه: چي اغلال جمع د غل ده بالضم وهو مايقبد به هغه څنځير ته وايي چې پر کافر يې راوپېچي تولې اندامونه يې پکښې بند کړي او په غاړه کې يې څنځير بند کړي. او اعناق جمع د عنق ده، غاړه په پښتو، گردن په فارسي چې دې مجموع ته بادشاهان څنځير پېچ وايي، (والسلاسل) عطف على الاغلال.

سوال: کلمه د "اذ" لپاره د ماضي ده او يعلمون لفظًا او معنًا مستقبل ده والجمع بينهما لايجوز؟

خواب: اذ وقت المسلم مستقبل دی يعني يوم القيامة تحقيقًا او ماضي دی تنزيلاً وتأويلاً، ولې چې قرآن چې په راتګ د يوم القيامة تصريح کړې ده نو لامحالة راتلونکی دی نو گويا دمخه دوی په خبر وه، والحاصل ان سوف يعلمون بالنظر الى الاستقبال التحقيقي وكله اذ بالنظر الى المضي التأويلي فتدبر هداك الله تعالى الى درک دقائق القرآن الكريم.

بوه سه: چي سلاسل جمع د سلسلة بالكسر، څنځير ته وايي، او سحب په زور سره کشولو ته وايي، څکه وريځي ته سحاب وايي ولې چې باد يې کشوي له يوه ځای څخه و بل ځای ته (في الحميم) حميم تودو اوبو ته وايي في غاية الحرارة، او دا جمله حال ده له فاعل څخه د يعلمون، والمعنى حال کونهم محبوبين چې کشوي ملائکه د دوزخ پر مخانو يې څنځيران ترلې و تودو اوبو ته چې په اور د دوزخ تودې سوي وي، داسې اوبه بې نهايت تودې وي. له دې څخه يې تودوالی قياس کړه چې د دنيا په اور ايشول سوي اوبه څوک يې طاقت د حرارت نه لري، نو په اور د دوزخ چې د دنيا اور يې يو جزء دی، د دوزخ د اور ۷۰ جزء دي، نو هغه به څومره تودې وي؟

سوال: په آيت کريمه کي کلمه د في چې لپاره د ظرفيت ده نو ترجمه يې په الى وسوه حکمت د راوړلو د في څه دی؟

خواب: اشاره و دې ته ده چې دغه تودې اوبه به چار چاپېره پر دوزخي راگرځېدلي وي لکه ظرف پر مظروف باندې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُونَ ﴿٧٢﴾

وروسته په اور کي سوځي، قال مقاتل رح اور په دوی سره بلول کيږي، کريمه: وقودها الناس والحجارة (له ناس څخه مراد دغه کافران دي) والمراد تعذيبهم بانواع العذاب تارة بالحميم وتارة بالنار.

ثُمَّ قِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ تُشْرِكُونَ ﴿٧٣﴾ مِنْ دُونِ اللَّهِ

وروسته وويل سي دوی ته يعني دوزخيانو ته پر طريقه د توبيخ او سرزنش چي چېرې دي هغه شيان چي تاسي بلل شريکان د خدای په عبادت سره ماسوی له خدايه، چي مراد ځني بتان دي، يعني دا به موهم ويل هؤلاء شفعائنا الى الله هغه اوس چېرې دي.

دروېش وايي: چي دا خبرې د خدای رح به ملکي ورسره کوي لا بالذات لان کلام الله بالذات نعمة جليلة.

قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا

دوی وويل غائب دي دوی زمونږ څخه مونږ يې نه وينو.

سوال: په احاديثو شريفه ؤ کي راغلي دي چي کافران او د دوی اصنام به سره يو ځای وي په دوزخ کي نو دوی څرنګه وايي ضلوا عنا؟

ځواب: دا سوال او جواب دمخه تر دې دی چي کافران او بتان سره يو ځای کيږي يا معنی د آيت داده چي ضائع سو زمونږ څخه هغه شی چي دوی يې طمع درلوده من الشفاعة عند الله.

بَلْ لَمْ نَكُنْ نَدْعُوا مِنْ قَبْلُ شَيْئًا ۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ الْكَافِرِينَ ﴿٧٤﴾

مفسرين وايي چي دا انکار دی د دوی له شرک څخه مثل قولهم والله ربنا ما كنا مشركين كما جاء في موضع آخر من القرآن، او بعض مفسران وايي چي معنا د آيت داده لم يكن ندعوا شيئًا ينفعنا او يدفع عنا المكروه يعني بالشفاعة الى الله في حقنا.

(كذالك) اى مثل اضلال الله هؤلاء المشركين، يعني تو له کافران لا يهتدون الى شيئ چي دده په نفع دي تمام سي.

بوه سه: چي مراد له اضلال څخه د خدای رح للكفار عدم ابتدائهم بالجبر والاكراه بدون اختيارهم كما يقول فرقة خبيثة الجبرية خذلهم الله تعالى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذٰلِكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَفْرَحُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَمْرَحُوْنَ ۝

دغه اضلال په سبب ددې دی چې تاسي واست خوشالي به مو کولې په مخکه کي يعني تکبرًا (بغير الحق) ناحقه بې دليله صرف تقليدًا للاباء وهو الشرک في العبادة، او تاسي به خوشحالي کوئ په خپل دين باطل سره او توسع په نعمتو کي به درلوده يعني استدراجًا.

اُدْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ فَبِئْسَ مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ۝

داخل سئ په دروازو کي د دوزخ، چې اووه دي چې پر کفارو باندي وېشل کېږي پر تفاوت د کفر ددوی، بد اقامت ځای دی دوزخ د متکبرينو لپاره چې له حق څخه انکار او تکبر کوي.

سوال: په وخت کي د دخول خو خلود نسته لان الخلود هو المکث الدائم؟

ځواب: په نحو کي دې ته حال مقدره وايي (والمعنى داخل سئ و دوزخ ته چې ستاسي حال پکښې مقدر دی في علم الله تعالى.

فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ۚ

ته صبر وکړه پر ازار د مشرکانو چې تاته يې درسوي، په تحقيق وعده د خداى ﷻ حق ده (ستا سره د کولو او اهلاک د کافرانو) حق: واقع لامحالة لان الله لايخلف الميعاد لان خلاف الموعد مستحيل على الله لانه نقص وهو محال على الله.

فَاِمَّا نُرِيَنَّكَ

که موږ په تا وينو،

فائده: اصل د اما ان ما ؤ، نون شرطيه يې په ما کي مدغم کړی او دا ما زائده بولي فائده يې تاکيد د جمله شرطيه ده ولذا لک لحقه.

بَعْضَ الَّذِيْ نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَاِلَيْنَا يُرْجَعُوْنَ ۝

څينې هغه عذابونه چې وعده يې کوو له دوی سره (لکه قتل او اسر بندي کول کما وقع في بدر) او تا مړ کړي، موږ ته ددوی راتګ دی يعني په اخرت کي فيجازيهم، او دا جواب دی د "نتوفينک" او جواب محذوف دی، والتقدير

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فذالک المطلوب لک وللمؤمنين، مطلب دادی چې علیه الصلوة والسلام ته ډاډ ګېرنه ورکوي په دواړو وعدو کې.

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّنْ قَبْلِكَ مِنْهُمْ مَّنْ قَصَصْنَا عَلَيْكَ

پوه سه: چې تنوین د رسلاً لپاره د تکثیر (ای رسلاً کثیرةً من لدن آدم علیه السلام) بعض د هغو قصې یې تاته ذکر سوي لکه نوح، ابراهیم، لوط، صالح، هود وغیرهم ۴، په احادیثو شریفه ؤ په اسناد صحیحه ؤ سره د ابو لبابة روایت دی چې له نبي علیه السلام څخه چا پوښتنه وکړه د عدد د انبیاؤ ۴، ده مبارک جواب ورکړی مائة الف واربعة وعشرون الف یعني (۱۲۴۰۰۰) فقیل کم الرسل منهم فقال (۳۱۳) جمًا غفیرًا، لکن په قرآن کریم کې صرف (۲۷) رسولان ذکر سوي دي، والباقي والله اعلم.

فائده: په عدد کې د انبیاء ۴ په بل روایت کې دوه لکه څلور ویشت زره راغلی دی، نو ځکه فقهاء وایي چې سړی یعني مؤمن دي داسي وایي چې زه ټوله انبیاء د خدای ج منم یعني تعبیر د عدد دې نه کوي.

پوښتنه: عدد د انبیاء ۴ خو ډېر بالا دی تر عدد د رسولانو کمامر، نو د عدد سره د انبیاء ۴ یې جم غفیر نه ووایه او د عدد سره د رسولانو یې جم غفیر ووایه حکمت یې څه دی؟

ځواب: رتبه د رسالت بالا ده تر رتبه د نبوت محضه، ولي چې په رسالت کې نوی کتاب یا نوی شریعت شرط دی، مثلاً موسیٰ ۴ رسول ؤ کتاب یې تورات ؤ، وروسته په بني اسرائیلو کې تخمینًا څلور زره نبیان راغلي دي چې د ټولو کتاب تورات ؤ، او شریعت د موسیٰ علیه السلام ؤ وعلی هذا فقس منهم هذه الدقیقة فانها من سوانیح العصر.

وَمِنْهُمْ مَّنْ لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ

وفي ذالک حکمة خفیة لله عزوجل.

وَمَا كَانَ لِرَسُوْلٍ اَنْ يَّاْتِيَ بِاٰيَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ج

او نه دی رسول لره چې رادي وړي یوه معجزه (ای معجزة دالة علی رسالته) مګر په اراده سره د خدای ج، په دې کې رد دی د قول د مشرکانو د مکې چې دوی د علیه الصلوة والسلام ته وویل چې ته موږ ته داسي معجزه راوړه لکه معجزه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

موسیٰ ؑ چې لکړه به یې مار کېدل یا ید بیضاء، یا داسې معجزه راوړه لکه د عیسیٰ ؑ چې مورزاده ړوند یا پیس به دده په دعاء جوړېدی یا به یې د ختمو مرغه جوړ کړی چې پر پوهه به یې کړه هغه به په هوا الوتی، او بعض مشرکانو د مکې به ویل چې موږ ته د صفا غر سره زر وګرځوه، یا به یې ویل چې د مکې مځکه غرو تنګه کړې ده، ته ستا خدای ته خواست وکړه چې دا غرونه لېرې کړي الی غیر ذالک، چې دې ته مقترحات وایي.

فَإِذَا جَاءَ أَمْرُ اللَّهِ قُضِيَ بِالْحَقِّ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْمُبْطِلُونَ ﴿٧٨﴾

چې راسې قضاء د خدای ؑ په منځ کې د انبیاء او د امتیانو، نو فیصله به وسي په حق سره بنصر الانبیاء والمؤمنین وتعذیب الکافرین لکه د موسیٰ ؑ او بنې اسرائیلو چې پر موسیٰ یې ایمان راوړی ؤ او د فرعون او ډډه د قوم قبط تر منځ چې خدای ﷻ فیصله وکړه چې فرعون او قوم ډډه چې قبطیان وه په قلزوم کې یې غرق کړه او موسیٰ ؑ او بنې اسرائیلو ته یې نجات ورکړی، وامثال ذالک کثیرة.

"هنالک المبطلون" او تاوان وکړی په هغه ځای کې کفارو او معاندینو چې حق خدای عزوجل په معجزاتو د رسولانو ظاهر کړی.

اَللَّهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَنْعَامَ لِتَرْكَبُوا مِنْهَا وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٧٩﴾

خدای هغه ذات مقتدر دی چې پیدا کړي یې دي ستاسې د نفع لپاره چارپایان چې مراد څنې اوښان، غوایي، پسونه او بوزې چې په هغو کې بعض صرف د خوراک لپاره دي یعني د سپرتیا قابل نه دي لکه پسونه او بوزې، او پر بعضو هم سپرېږئ او هم یې غوښې خورئ لکه غوایي او اوښان، لکن معتاد په عرف کې سپرتیا د اوښانو ده، او غالب غوښې خورک د غوایي، دا جمله د هغه ځایه سره تعلق لري هو الذي یحیی و یمیت.

وَلَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ

او په دې کې تاسې ته ګټې ستې، یعني ستاسې د سپرتیا او د خورک څخه علاوه چې اوصاف د پسو دي او اوبار د اوښانو دي، او شعر یعني وجغونې د بزو دي، او قوبله کشي د غویو ده، یا شیدې د څلورو سرو دي او پوستکي د تولو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلِتَبْلُغُوا عَلَيْهَا حَاجَةً فِي صُدُورِكُمْ وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُونَ ﴿٨٠﴾

او ددې لپاره چې یو حاجت چې ستاسي په زړو کي وي تاسي ځانونه ور رسوئ یعني په وخت کي د سفر للتجارة وغیرها، دا خاصه عالیه ده په اوښانو کي، دا عطف ده پر لترکبوا منها باندي، او پر دغو انعامو او پر کښتیو تاسي بارونه ورئ.

پوه سه: چې په بر (وچه) کي د حمل شی انعام دي چې عرفًا اوښان دي او په بحر کي کښتۍ دي.

پوښتنه: لائق د کښتۍ سره کلمه د في د ظرفیت وه، نو علی الفلک ولي وویل سو؟

ځواب: لپاره د مناسبت د "وعلیها" وویل سو.

وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ ۖ فَأَيَّ آيَاتِ اللَّهِ تُنْكِرُونَ ﴿٨١﴾

او په تاسي وینې، یعني خدای ؒ دلائل چې دال دي پر وجود د صانع و کمال قدرته وفرط رحمته "فای" یعني د کوم یوه له دلائلو څخه د خدای ؒ "تنکرون" الاستفهام في فایّ انکار دی پر انکار لکثرتها ولظهورها چې قابل د انکار خو نه دي الا عنادًا وتکبرًا وجهلاً بالجهل المرکب.... بیت:

آن کس که نداند وبداند که نداند ..... در جهل مرکب ابد الدهر بماند

دا خو جهل مرکب ؤ، او د جهل بسیط مثال دا بیت دی:

وآنکس که نداند و بداند که نداند ..... او اسپ خود از گنبد فیروه جهاند

فتأمل في البیتین.

أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ

آیا سفر نه کوي کفار د مکې په مځکه کي (یعني په هغه مځکه کي چې اثار د مهلکه امم پکښې نمودار دي) تا چې دوی عبرت واخلي، نو دوی وګوري په نظر د عبرت چې څرنګه سوی دی اخیر کار د دغو امتو (ای الهلاک بالاستیصال بسبب شرکهم والانکار علی رسلهم)

قانون نحوي: وروسته تر همزه د استفهام چې حرف عطف راسي پر ماقبل د همزه خو بشئ عطف کېدای لفوات صدارت الاستفهام فهو علی مقدر مناسب للمقام فالتقدیره الم یحرجوا فلم یسیروا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كَانُوْٓا اَكْثَرَ مِنْهُمْ وَاَشَدَّ قُوَّةً

وه اکثره له دوی څخه، ای من کفار مکة (يعني من حيث العدد والاموال والاولاد) او سخت وه په قوت کي يعني اجسام قويه يې درلوده تر اهل مکة.

وَاٰثَارًا فِي الْاَرْضِ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۸۲﴾

او اثار باقيه يې درلوده په مځکه کي من القصور المشيدة والمصانع وغيرها، نو فائده ونه کړه هغه دوی لره يعني په دفع کي د عذاب پر دوی، هغه شی چې دوی کسب کړی وُ من الفلاح والقصور،

پوه سه: چې کلمه د ما اول نافيه ده يا استفهاميه انکاريه ده منصوب په اغنى سره، والمآل واحد، او کلمه د ما ثانيه موصوله ده والعائد محذوف ای ما يكسبونه او ما مصدريه ای كسبهم ذالک.

فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ

"فلما جائتهم" عطف على ما اغنى "بالبينات" ای بالمعجزات والآيات الظاهرات، ترجمه: نو چې کله به راغلل دوی ته رسولان د دوی په ښکاره معجزاتو سره نو دوی به خوشاله سوه په هغه څه چې د دوی سره وُ من العلم يعني د دوی په گمان له حقيقة "كل حزب بما لديهم فرحون" او د رسولانو علم چې توحيد د معبود وُ او بعث بعد الموت او دخول الجنة او النار په ورځ کي د قيامت دوی ته مستحقر او دل ناپذيره معلوم ښکاره کقول کفار مكة لن نبعث بعد الموت، وآلهتنا يشفعون لنا ان قام القيامة وغير ذالک من خرافاتهم، لكه يهود ان چې وايي "لن يدخل الجنة الا من كان هودًا" او يا نصارى چې وايي "لن يدخل الجنة الا من كان نصارٰى" كما حكى الله عنهم في موضع آخر من القرآن، يا مراد د مالديهم من العلم څخه مراد علم متعلق دی په امورو سره د دنيا يعني د دنيا په برابرولو کي د هر رسيده خلک دي، کريمه "يعلمون ظاهرًا من الحيوة الدنيا وهم عن الآخرة هم غافلون فلما جائتهم رسلهم الآية" چې د هغوی ديانات دوی ته معلوم هم وه، لكن د رسولانو خبري چې په طلب کي د دنيا د هر حرص مه کوه او اتباع د شهوات د شيطان په ښوونه مه کوئ، نو دوی د هغو رسولانو خبري صرف نظر کړې او هنوز

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

به يې پسخند هم په واهه او د رسولانو خبري دوی ډېري بې ځايه خبري وګڼلې واعتقدوا انفع او ګټور دي او جلبونکی د منافع عاجله ؤ، او د رسولانو خبري صرف وعدې دي په جنت سره، هغه يې درواغ بللې او يا علم د داسي شيانو ؤ چې چې هغه شيان په اخرت کې هيڅ په کار نه وه لکه علم طبعي، علم رياضي، علم نجوم، علم سحر د اهل يونان او اهل هند وغيرهم.

حکايت: افلاطون د يونان و عيسىٰ عليه السلام ته ورغلی لپاره د امتحان دده د نبوت نو افلاطون ورته وويل که فرضًا اسمانونه کمانی وي او حوادث د دنيا يې غشي وي او رامي (ويشتونکی) خدای وي، او انسان هدف (يعني نښان) وي، فاين المفر؟ (ځای د تښتي به چېرې ؤ) فاجاب عيسىٰ عليه السلام ورته جواب باجواب ورکړی ففروا الی الله (پناه په خدای ﷻ وساتئ) نو د افلاطون يقين سو چې نبي خو دی لکن دا خبره يې وکړه چې تاسي يعني انبياء خو د ناقصو خلګو لپاره راليږل سوي ياست مونږ خو کامل خلګ يو ستاسي ښوونې ته ضرورت نه لرو.

حکايت: سقراط (چې يو غټ فيلسوف ؤ) ده چې واورېدل چې موسىٰ عليه السلام په نبوت سره استول سوی دی، نو يو چا سقراط ته وويل چې کاشکي د موسىٰ ملاقات ته ورغلی وای، سقراط ورته وويل چې مونږ خو پر هدايت خلګ يو لا حاجة لنا الی رجل يهدينا.

وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۸۳﴾

احاطه وکړه پر دوی، يعني پر هغه چا چې د ما جاء به الرسل څخه يې انکار کاوه، او فرحوا بما عندهم من العلم پر دغو کافرانو جزاء د جهل او د کفر ددوی ده او استهزاء ددوی يعني عذاب الهي پر نازل سو، وذالک معنی قوله تعالی.

فَلَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗ وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهٖ مُشْرِكِيْنَ ﴿۸۴﴾

نو چې دوی وليدی عذاب زمونږ دوی وويل چې زمونږ ايمان دی پر خدای ﷻ چې واحد لاشريک دی او مونږ بېزاره او انکاريو له هغو بتانو څخه چې مونږ د خدای سره شريک وبلل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ إِيمَانُهُمْ لَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا

نو نه ؤ چي ايمان دوی ته فائده وکړي او له عذاب الهي څخه دې خلاص کړي.

تو پیش از عقوبت در عفو کوب ..... که سودی نه دارد فغان زیر چوب

هغه وخت نفع نه ورته کوي چي دوی زموږ عذاب ولیدی لامتناع قبوله حینئذ، له دې سببه خدای پاک وویل لم یک لان معناه لم یصح.

سُنَّتَ اللَّهِ

دا عادت د خدای ؑ دی.

فائده: "سنت الله" منصوب دی علی المصدریة من فعل محذوف للتاکید، والتقدیر سن الله سنة ماضیة في العباد ان الایمان عند نزول العذاب لاینفع وان العذاب نازل علی مکذبي الرسل حسب وعده انا لننصر رسلنا، او بعض مفسرین وایي چي منصوب دی علی الاغراء ای احذروا سنة الله.

الَّتِي قَدْ خَلَتْ فِي عِبَادِهِ ۖ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكَافِرُونَ ۝

هغه عادت چي تېر سوی دی په بندګانو کي د خدای ؑ، یعني في الازمنة الماضیة، او په دې پر لوی تاوان کي واقع سوه په دغه وخت کي چي دوی ولیدله خپل نا امیدي چي دوارې یې خطا سوې.

پوښتنه: کافر خو هر وخت په خسران کي غرق دی، فما معنی قوله "وخسر هنالک آه"؟

ځواب: الزجاج ؒ وایي: سلمنا ذالک لکن یتبین لهم خسرانهم اذا رؤ العذاب یعني د مخه تر نزول د عذاب دوی ته خپل خسران نه معلومېدی بلکې دوی ځانونه پر حق دین بلل چي عذاب یې ولیدی په ځان پوه سوه چي موږ پر باطل دین ؤ.

وفي الامالي: وما ایمان شخص حال باس ..... بمقبول لفقد الامتثال

وفي المثنوي المعنوي:

آن ندامت از نتیجهٔ رنج بود .... نی ز عقل روشن چو نی گنج بود

چونکه شد رنج آن ندامت شد عدم .... می نیرزد خاک آن توبه ندم


پوه سه: چي اول شد په معنی د عدم دی او دوهم شد په معنی د سوء دی، قال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الله تعالى "وليست التوبة للذين يعملون السيئات حتى اذا حضر احدهم الموت قال اني تبت الآن" قال البغوي ؒ في تفسيره لاتقبل توبة عاص ولا ايمان كافر اذا يتقن بالموت انتهى، لكه چې فرعون چې د اوبو څپې پورته کړې نو په حال کې د غرق يې داسې وويل: لا اله الا الذي امنت به بنو اسرائيل، نو په دغسې اضطراري توبه يې نجات نه کړې پيدا، والله اعلم.

پوه سه: چې د البغوي ؒ مراد ايمان يا توبه د عاصي په وخت کې د غرغرې دی، والا محققين د علم عقائدو وايي قرب الموت لايمنع من قبول التوبة من الكفر والعصيان، كذا في روح البيان.

درويش وايي: چې لله الحمد والمنة وعلى سيد رسله الصلوة والتحية وعلى آله وصحبه البررة په توفيق د خداى ؒ تفسير د سورة المؤمن په وخت کې د عصر څلور بجې ۲۸ د صفر الخير د مياشتې سنه (۱۴۳۲) هجري قمري و پاى ته ورسېدی، وارجوا رحمته تعالى ان يوفقني لاتمام التفسير الايوبي بالخير والعافية والصحة والسلامة انه تعالى على كل شيئ قدير وبالاجابة جدير.



تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سكين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ حٰمٓ السَّجْدَةِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ أَرْبَعٌ وَّخَمْسُوْنَ اٰيَةً وَّسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

حٰمٓ ﴿۱﴾ تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿۲﴾

پوه سه: چې که څه هم مظهري "په مختصره توګه د حٰمٓ په معنی کې او روح المعاني هم په مختصره توګه بحث کړی دی او اعراب یې بیان کړی دی، او روح البیان د پر طویل بحث پکښې کړی دی، لکن درویش وایي چې زما په ښځه د متشابهات قرآنیه ؤ څخه دی، نو پر حم وقف لازم دی او مفصل بیان د مقطعات قرآنیه ؤ په اول کې د سورة البقرة بیان ته سپارل سوی دی، فطالع هناک.

پوه سه: چې "تنزیل" خبر د محذوف مبتداء دی ای هذه السورة تنزیل آه.

كِتٰبٌ فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۳﴾

پوه سه: چې "کتاب" بدل دی له "تنزیل" څخه یا خبر آخر دی د مبتداء محذوفي چې ذکر سوه.

فائده: حمل د تنزیل پر مبتدا مذکور باندې یا مبالغةً دی نحو زید عدل علی المشهور یا تنزیل په معنی د منزل دی چې مجاز في الظرف یې بولي یا په معنی د ذو تنزیل دی چې مجاز بالحذف یې بولي فافهم "فصلت آیاته" دا جمله صفت د کتاب ده، والمعنی بینت بالاحکام والقصص والامثلة، یا معنی داده بینت بالامر والنهي والحلال والحرام والمآل واحد "قرآنا عربیًا" منصوب علی المدح بتقدیر اعني یا امدح او نحوه کما فصل في علم النحو یا منصوب حال دی له کتابًا څخه.

سوال: له نکره څخه حال خو نه دی روا چې پر ذی الحال مقدم وي لکه ابتدائیه د نکره چې نه ده روا بیله تقدیمه د خبر نحو في الدار رجل کما بین في النحو؟

ځواب: دا حکم هلته دی چې ذو الحال نکره محضه وي یا مبتداء مثلاً نکره محضه وي دلته خو ذو الحال چې کتاب دی مخصوص په صفت سره دی یعني فصلت، او داغه رنګه نکره مخصصة بالصفة ابتدائیة صحیح کما یقال رجل عالم في الدار کل ذالک مذکور في کتب علم النحو.

درویش وایي: چې پر هر تقدیر قرآنا عربیًا امتنان دی پر اهل مکه بلکې پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ټولو عربو چې د قرآن فهم وتاسي ته اسانه دی لکونه بلغتهم.

پوه شه: چې "یعلمون" منزل منزلة اللازم دی یعني مفعول نه غواړي ای لقوم ذوی علم یعني لا لمن اعرض عنها عناداً وتکبراً او یا یې مفعول محذوف دی ای لقوم یعلمون معانیه ویفهمونه لکونه بلغتهم.

بَشِيرًا وَنَذِيرًا فَأَعْرَضَ أَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿٤﴾

"بشیراً" صفت اخرلی دی د قرآنا ای بشراً لمن آمن به و عرف قدره و آمن بمن اتی به وهو النبي ﷺ والبشارة الیه بالجنة والوصول الیه تعالی "ونذیراً" او بیرونکی دی قرآن لمن کذبه ولم یعرف قدره بنار جهنم "فاعرض اکثرهم" نو دوی روئ ګردانې وکړه اکثرو د اهل مکه، یا عربو له فکر وهلو څخه په دغه کتاب الله کې سره ددې چې د عربو په ژبه ؤ او قبول یې نه کړی، دا جمله عطف ده پر فصلت باندې "فهم لایسمعون" او دوی غوږ نه نسي تکبراً و عناداً، یا معنی داده لایقبلون او جمله د لایسمعون بیان د اعراض ده.

وَقَالُوا قُلُوبُنَا فِي أَكِنَّةٍ مِمَّا تَدْعُونَا إِلَيْهِ

وویل کفارو د مکې (عطف دی پر اعرض) زمونږ زړونه په پوښنو کې دي (د اکنة جمع کنان ده) له هغه شي څخه چې ته مونږ وربولې ای التوحید یعني زمونږ زړونه په سبب د پردو نه پوهیږي چې ته مونږ ته څه وایې، یعني وترک ما الفینا علیه آبائنا.

فائده: روح المعاني وایي چې تنکیر او تنوین د اکنة د تکثیر او تعظیم دی حیث قال ای اغطیة متکاثفة.

وَفِي آذَانِنَا وَقْرٌ وَمِنْ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ

او زمونږ په غوږونو کې ثقل دی یعني کانه یو ستا خبرې نه په اورو، او زمونږ او ستا تر منځ یوه پرده ده ډېره غلیظه یعني پټه چې مونږ منع کوي له تواصل څخه زمونږ او ستا، ددې آیت معنی داده چې حجاب زمونږ د خوا درشروع دی او ستا له خوا هم شروع دی نو مسافت مابیني ټوله نیولی دی فارغ ځای نسته، کذا في روح المعاني، دا ټوله تمثیلات دي د عدم الموافقة بیننا وبینک، ولي چې په حقیقت کې نه کنان سته نه کنهوالی سته او نه حقیقت حجاب غلیظ سته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روایت دی چې قریش و رسول الله ﷺ ته راغله علیه الصلوة والسلام ورته وویل "ما یمنعکم من الاسلام" که چېرې تاسي اسلام قبول کړی تاسي به د عربو سرداران وګرځئ، دوی ورته وویل چې موږ نه پوهېږو چې ته څه وایې، او نه څه اورو او زموږ پر زړونو غلیظي پردې اواري دي، او زموږ او ستا ترمنځ یوه غلیظه پرده سته، فقال لهم النبي ﷺ زه تاسي را بولم دوو خویو ته (۱) ان تشهدوا ان لا اله الا الله وحده لاشریک له (۲) واني رسول الله، دوی چې شهادت ان لا اله الا الله واورېدی ولّوا علی ادبارهم نفورًا (دوی پر شا ولاړه د نفرت له سببه) وقالوا اجعل الآلهة الهًا واحدًا (ټوله خدایان په یوه کې حصر کوي) ان هذا لشیئ عجاب (په تحقیق دا خو یوه عجیبه خبره ده) وقال بعضهم لبعض چې درځئ صبر وکړئ پر خپلو خدایانو، ان هذا لشیئ یراد (دا توحید یوشی دی چې اراده کړه سوی دی یعني د محمد (ﷺ) له خوا څخه) موږ نه دی اورېدلی دا توحید د خدای په آخر ملت کې زموږ یعني زموږ په نیکه ګانو کې، ان هذا الا اختلاف (نه دی دغه توحید مګر درواغ دي) آیا نازل سو پرده یعني پر محمد (ﷺ) ذکر یعني قرآن زموږ په مابین کې یعني په موږ کې مالداران خلک او مشران خلک سته، نو پرده چې نه دی سرمایه دار دی او نه سردار او مشر د قوم دی څرنګه قرآن نازل سو!؟ په عین دغه وخت کې چې دوی ولاړه جبرئیل علیه السلام راغلی فقال ان الله یقرئک السلام او وایي: الیس یزعم هؤلاء (یعني قریش) ان علی قلوبهم اکنة ان یفقهوه (ای القرآن) وفي اذانهم وقرًا افلیس قولک کیف واذا ذکرت ربک في القرآن وحده، ولوا علی ادبارهم نفورًا، نو که دوی نه اورېدلای نو ولي یې له توحید څخه نفرت کاوه، لکنهم کاذبون یسمعون ولا ینتفعون بذالک کراهة له (ای للقرآن والتوحید) نو جبرئیل چې ولاړ ی او دا بله ورځ سوه اوویا (۷۰) کسه د هغو خلکو راغله و نبي علیه السلام ته فقالوا یا محمد (ﷺ) اعرض علینا الاسلام فاعرض علیهم الاسلام، نو ټولو ایمان راوړی، فتبسم رسول الله ﷺ (یعني د خوشحالی څخه) وقال الحمد لله، او دوی ته یې وویل چې پرون تاسي ویل: ان قلوبنا في اکنة فما ندعوکم الیه، وفي اذانکم وقر وقد اصبحتم الیوم مسلمین؟ فقالوا یا رسول الله کذبنا بالامس لو کان کذالک (یعني که زموږ غوږونه کانه وای او ستا خبري مو نه اورېدلای) ما اهتدینا ابدًا لکن الله صادق في التوحید المذکور في کتابه والعناد کاذبون (یعني في ان لله شرکاء) والله الغني ونحن الفقراء الیه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي دا حدیث بتمامه امام مظهري ؒ په منیه کي د خپل تفسیر المظهري راوړی دی والله اعلم بالصواب، دا د خدای ﷻ د قدرت یوه نمونه ده او د رسول کریم ﷺ یوه لویه معجزه ده وبالله التوفیق.

په شپه د جمعې مبارکي په سدس اخیر کي (۲۶) تخمیناً د صفر الخیر نوشته سوه.

فَاعْمَلْ إِنَّنَا عٰمِلُونَ ۝

"فاعمل" ای علی دینک، وقیل في ابطال امرنا "اننا عاملون" علی دیننا وهو الشرک، وقیل في ابطال امرک وهو التوحید، وقائل هذا القول هو ابوجهل ومن معه من قریش.

درویش وایي: چي هغه حدیث چي ما را نقل کړی له منیه څخه د مظهري چونکه مظهري یې سند نه ؤ ذکر کړی نو فقیر په تلاش کي د سند متصل ؤ چونکه ګفته اند: "که جوینده یابنده بود" په ورځ د جمعې د هغه تاریخ په دوران کي د تلاش چي په روح المعاني کي مي هغه حدیث په متصل سند سره پیدا کړی اخرجه ابو سهل السري من طریق عبد القدوس عن نافع بن الارزق عن ابن عمر عن عمر ؓ قال اقبلت قریش الی اخیر الحدیث المذکور مع الترجمة آنفًا.

قُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحٰٓى إِلَيَّ أَنَّمَآ إِلٰهُكُمْ إِلٰهٌ وَٰحِدٌ

ووایه ته (یا محمد ﷺ في جوابهم) نه یم زه مګر بشریم په مثل ستاسي یعني په بشریت کي صرف ماته وحي کړل سوي دي یعني د خدای ﷻ له خوا څخه، الحسن ؒ وایي چي خدای پاک علیه الصلوة والسلام په تواضع سره امر کړی دی یعني زه خو ستاسي غوندي بشر یم که وحي نه وای راغلي چي هغه دادي "انما الهکم واحد" په تحقیق معبود بالحق ستاسي یو ذات دی چي خالق ستاسي او د ټولو سفلیاتو او د علویاتو دی وبس، نو باید چي تاسي ماته غوږ ونسئ او زما دعوت قبول کړئ، او یا معنی د آیت داده چي زه نه ملکه یم او نه جني یم چي په سبب د عدم جنسیت تاسي زما څخه استفاده نه سئ کولای، نه زه تاسي و داسي شي ته رابولم چي عقل ابی څني کوي لکه مثلاً اجتماع النقیضین او ارتفاعهما، بلکې داسي دین ته مو رابولم چي عقل او نقل دواړه مساعدت کوي نو لا التکبر وتقلید الآباء.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَاسْتَقِيمُوٓا۟ إِلَيْهِ وَٱسْتَغْفِرُوهُ ۗ وَوَيْلٌ لِّلْمُشْرِكِينَ ۝٦

نو تاسي و عبادت ته د واحد خدای ﷻ او اطاعت ته ځانونه چمتو کړئ او بله خوا پرپردئ یعني الشرک، او هم د هغه خدای ﷻ څخه طلب د بخښني وکړئ مما انتم علیه من الاشراک وسوء الاعمال وروسته خدای ﷻ پرژبه د رسول ﷺ دوی ته تهدید ورکړی "وویل" دا کلمه د عذاب ده او مبتداء ده "للمشرکین" دا یې خبر دی.

سوال: ویل خو نکره محضه ده، نو ابتداء به یې څرنګه صحیح وي؟

ځواب: په علم نحو کي وایي چې په دعاء یا بنهرا کي ابتدائیه د نکره صحیح دی لانها نکرة محضة صورة لکن مخصصة معنًی، وتحقیقه في شرح الجامي علی الکافیة في بیان قول القائل سلام علیکم چې مبتداء ده او خبر دی، قال الجامي ؒ ای سلام من قبلي علیکم فتدبر.

الَّذِينَ لَا يُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ كَٰفِرُونَ ۝٧

روح البیان یې ترجمه داسي کړې ده، لا یؤمنون بوجوهها ولا یؤتونه، له دې څخه دا معلومه سوه چې د زکوة څخه معنی شرعي مراد ده، او روح المعاني یې ترجمه داسي کړې ده لبخلهم وعدم الاشفاق علی الخلق وذالک من اعظم الرزائل (دا یو لوی له بدو کارو څخه دی، له دې عبارت څخه دا معلومیږي چې له زکوة څخه مراد معنی لغوي ده.

پوښه: چې حمل د زکوة پر معنای شرعي قول د ابن السائب دی وروی عن قتادة والحسن والضحاک ومقاتل ؒ وقیل لایزکون انفسهم بالایمان والطاعة، او ابن جریر او نورو یارانو ؒ د حبر الامة ابن عباس ؓ ای لایقولون لا اله الا الله ونقل ذالک عن الحکیم الترمذي وغیره فالمعنی حینئذ لا یطهرون انفسهم عن الشرک واختاره الطیبي ؒ، نو پر دې تقدیر له زکوة څخه مراد معنی لغوي ده اعني التطهیر وفي فقهاء وایي چې زکوة شرعي ته چې زکوة وایي په دې سبب چې نفس د مزکی له بخل څخه پاکوي او مال یې له خبث څخه پاکوي، وهو المعنی اللغوي للزکوة، او بیضاوي وایي چې د دې آیت څخه دا معلومیږي چې کفار مخاطبون بفروع الدین، له دې څخه دا معلومیږي چې بیضاوي له زکوة څخه معنی شرعي مراد بولي لانها من فروع الدین.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"وَهُمْ بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ" او دوی په آخرت سره (يعني يوم القيامة وثوابها وعذابها) کافران دي.

پوه سه: چې "بالآخرة" متعلق دی په "کافرون" پورې، والتقدير لپاره د حصر دی د انکار پر زکوة د کافرانو او تکرار د "هم" لپاره تاکید د حصر دی وجه يې داده چې څوک چې امتناع د زکوة شرعي څخه کوي هغه بناد دی پر عدم اعتقاد بالآخرة وثواب الزکوة فيها، نو دغه ورکول دي د مال و فقير ته ضائع والی د مال بولي، ولي په دنيا کې خو نفع نسته کما هو الظاهر او اخرت دوی نه مني، بخلاف المؤمن ولي چې د هغه خو ايمان د ثواب د زکوة په ورځ د آخرت سته.

فائدة في هذه الآية: خدای ﷻ منع د زکوة جفت راوړه د شرک سره لکه په دمخه آيت کې او د کفر سره لکه په دې آيت کې لان المال احب الاشياء الى الانفس نو ورکول د زکوة ستر دليل دی پر ايمان د مزکی، نو په دې باعثه کول دي د مؤمنانو پرورکړه د زکوة او تهديد دی پر مانعينو د زکوة، ولذا قيل مبالغة: من لا زکوة له لا صلوة له.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ۝

په تحقيق هغه کسان چې ايمان يې راوړی وي (يعني لا اله الا الله محمد رسول الله) او عملونه يې کړي وي خصلات الصالحات و اول الصالحات الفرائض ثم والواجب ثم السنة ثم النوافل قوليًا کان او عمليًا او ماليًا دوی لره اجر او ثواب سته غير ممنون، قال حبر الامة ابن عباس ﷺ د ممنون په ترجمه کې غير مقطوع وقال مقاتل ﷺ غير منقوص، وقيل ممنون له منة څخه مشتق دی يعني لا يمکن عليهم؛ وقال مجاهد ﷺ غير محسوب حساب به نه ورسره کيږي.

پوه سه: چې دا جمله معترضه ده تعريض دی پر مشرکينو چې نصيب د دوی قطع دی حيث لم يزکوا انفسهم کما زکی المؤمنون (يعني د مشرکينو حال نه دی ختم سوی کما سيئاتي) له اسدي ﷺ څخه روايت دی چې روح المعاني او مظهري ﷺ دواړو راوړی دی او روح البيان هم راوړی دی، او په کشف الاسرار کې هم راغلي دي نزلت الآية في المرضى (ناجوړيان) والزمنى (په پښو شل کسانو کې) والهرمى زاړه کسان چې له طاعت څخه عاجزه سي يکتب لهم الاجر على حسب ما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعملون في الصحة، عن عبد الله بن عمر ؓ قال قال رسول الله ﷺ ان العبد اذا كان على طريقة حسنة (بنده چي پريوه ښه لار وي يعني ښه عمل کوي) ثم مرض قيل للملک الموکل به اکتب له مثل عمله اذا کان طليقًا (چي دی جوړ وُ) تر هغو چي زه بيرته شفاء ورکوم، رواه البغوي في شرح السنة والتفسير.

اود ابو موسىٰ الاشعري او د انس بن مالک ؓ ورته روايت راغلی دی، مآل خو يې يو دی صرف په عبارت کي يې فرق سته بزيادة او نقصان، ابن مسعود ؓ گفت که با رسول خدا نشسته بوديم که رسول خدا بر اسمان نگريست وتبسم کرد گفتم تبسم از چه وجه کردی وچه حال بر تو مکشوف شد؟ گفت عجب آيد از بنده مؤمن که از بيماری بناله و جزع کند اگر بدانستی که اورا درآن بيماری چه کرامت هست و چه قربت است بدرگاه رب العزة عمر خود را درآن بيماری خواستی اين ساعت که بر نگريستم دو فرشته فرود آمدند وبنده را که پيوسته درمحراب عبادت بود اورا طلب کردند درآن محراب اورا نيافتند، گفتند باری خدايا فلان بنده مؤمن که هر شبانه روزی حسنات وطاعات او مينوشتم چه شد، باری خدا ؓ گفت که درحبس بيماری محبوس کرده ام، ملائکه گفتند که اکنون که درحبس بيماری کردی هيچ عمل و طاعت وی نمی نوشتم، از حضرت رب العزة ﷻ فرمان آمد اکتبوا لعبدی العمل الذي کان يعمله في يومه وليلته ولا تنقصوا منه شيئًا فعلي اجر ما حبسته وله اجر ما کان صحيحًا.

درويش وايي: چي جمله معترضه ختم سوه اوس بيرته د حال بيان پر خواد کافرانو.

قُلْ اَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُوْنَ بِالَّذِیْ خَلَقَ الْاَرْضَ فِیْ يَوْمَيْنِ

دا جمله مستأنفه ده، گويا عليه الصلوة والسلام خدای ؓ ته وويل چي که دوی يعني کفار که پر لم يستقيموا او پر لم يستغفروا تينګ سوه، ترجمه: ووايه دوی ته آيا تاسي منکره کبرئ پر هغه ذات چي پيدا کړې يې ده مځکه په دوو ورځو کې

وَتَجْعَلُوْنَ لَهٗۤ اَنْدَادًا ؕ ذٰلِكَ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ۝

او گرځوئ هغه ذات لره شريکان، چي هغه د ټولو جهانو پالونکی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ مِنْ فَوْقِهَا وَبٰرَكَ فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَا أَقْوَاتَهَا فِيٓ أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ سَوَآءً لِّلسَّآئِلِينَ ۝

او پیدا کړي یې دي په مځکه کي غرونه محکم یعني پر مځکه سربېره او برکت یې اینښی دی په مځکه کي او په اندازه کړې یې ده په مځکه کي روزي ددې په څلورو ورځو کي، لپاره د سوال کونکو.

پوه سه: چې د صحیح بخاري د حدیث سره سم له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې یهود ان رسول الله ﷺ ته راغلل او د مځکي او د اسمانو د پیدائښت پوښتنه یې وکړه، نو رسول الله ﷺ ورته وویل چې الله تعالی مځکه په دوو ورځو کي یعني دیکشنبې او دوشنبې په ورځ پیدا کړه، او غرونه او په دې مځکه کي چې څه معدنیات وغیره دي هغه یې د سه شنبې او چهار شنبې په ورځ پیدا کړه، یعني د اوبو چینې، بناروته او ابادی ریګستانونه او میدانونه، نو دا ټولي څلور ورځي سوې لکه په ایت کي چې ذکر دي، او بیا یې وفرمایل چې د پنجشنبې په ورځ یې اسمان جوړ کړی او د جمعې په ورځ یې ستوري، لمر، سپوږمی او ملائکې تخلیق کړې، بیا یې آفتونه او مصیبتونه پیدا کړه چې پر هر شي راتلونکي دي، او بیا یې د آدم علیه السلام تخلیق وکړی، بیا یې وابلیس ته د سجدې حکم وکړی نو چې هغه له سجدې څخه انکار وکړی نو له جنته یې وه ایستی (الحدیث بطوله) ابن مدیني او بیهقي وغیره دا د کعب احبار قول ګرځولی دی)

ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِيَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ٱئْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَآ أَتَيْنَا طَآئِعِينَ ۝

بیا یې اراده وکړه و پیدا کولو ته د اسمان، چې هغه دود ؤ نو وویل سوه هغه ته او مځکي ته راسئ دواړه په خوښي یا په ناخوښي، نو دواړو وویل موږ راځو په خوښي سره.

پوه سه: چې اسمان او مځکي ته خطاب او حکم کول، او د دوی په اطاعت او فرمانبرداری سره جواب ورکول د بعض مفسرینو په نیز مجاز دی چې مځکه او اسمان د الله تعالی تابع او فرمانبردار د هر کار لپاره تیار سی دي، خو ځینې مفسرین بیا وایي چې په دې کي مجاز نسته تهوله پر خپل حقیقت بناء دي، الله تعالی په اسمان او مځکه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي شعور او ادارک په خطاب د پوهېدلو پیدا کړی ؤ او دوی ته یې د خبرو طاقت ورکړی ؤ چې جواب ورکړي، په بحر محیط کي دا نقل کوي او وایي چې دا تفسیر احسن او ښه دی، بعض مفسرینو دا هم ویلي دي چې د مځکي له خوا دا جواب د مځکي هغه برخي ورکړی ؤ پر کومه مځکه چې بیت الله تعمیر سوه، او د اسمان هغې برخي جواب ورکړی ؤ په کوم کي چې بیت المعمور دی یعني بیت الله ته مخامخ برخه.

فَقَضٰىهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ فِيْ يَوْمَيْنِ

یعني فخلقهن په خلق ابدي سره (یعني بیله کومي نقشې چې خدای ﷻ ته دي پرته وه) اوپر دې پر محکم شکل یې پیدا کړه، په دوې ورځي کي یوم الخمیس والجمعة.

فائده: ضمیر د "هن" راجع دی و سمأ ته چې د مخه ذکر سو په اعتبار د معنی چې سمأ اسم جنس دی یا ضمیر مبهم دی "سبع سمٰوات" یې تمیز دی، او پر اول تقدیر حال دی.

پوه سه: چې جلال الدین المحلي ؒ وایي ففرغ منها (ای خلق السمٰوات) في اخیر ساعة د جمعې د ورځي وفیها خلق آدم ؑ انتهی.

دروښ وایي: چې له قول څخه د محلي ؒ دا فهمېږي چې خلق د آدم ؑ متصل په خلق پورې د اسمانو ؤ، لکن دا صحیح نه ده لان خلق آدم ؑ کان بعد زمان طویل من خلق السمٰوات والارض، کما یدل علیه قوله تعالی "واذ قال ربک للملائکة اني جاعل آه" وفي قصة خلق آدم ؑ تعجین طینته اربعین یومًا فلو صح خلق آدم ؑ في اخیر ساعته من الجمعة فذالک اخیر ساعة من الجمعة ولو کان بعد مدة مدیدة، والتفصیل في تفسیر المظهري ؒ والله اعلم.

وَاَوْحٰى فِيْ كُلِّ سَمَآءٍ اَمْرَهَا

پوه سه: چې دا جمله عطف ده پر قضاهن باندي، ومعنی الآیة خلق في کل سماء ما استعدت له واقتضته الحکمة ان یکون فیها لکه ملائکه، لمر، سپوږمی، ستوري وغیر ذالک مما لایعلمه الا الله کما یقتضیه کلام قتادة ؒ، او السدي ؒ ویلي دي چې عبادة عن التکوین والخلق کالامر، او دا امر تکویني مقید دی په هغه قید چې معطوف علیه یې مقید ؤ یعني في یومین، او یا معنی د آیت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

داده اوحی الی اهل کل سماء او امره و کلفهم بما یلیق بهم من التکالیف، فالوحي بالمعنی المشهور او و قید ته د في یومین هم ضرورت نسته.

وَزَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ ۖ

او موږ ښائسه کړی دی نژدې اسمان (چې د دنیا معنی ده یعني اول اسمان) په څراغانو سره چې ستوري دي.

پوښتنه: له دې آیت څخه خو داسي معلومیږي چې ستوري تولـه په اول اسمان کي دي، نو داغسي ده او که څرنګه؟

ځواب: روح البیان وایي چې مراد له مصابیح څخه تولـه ستوري دي چې په اسمانو کي خدای ﷻ پیدا کړي دي من الثوابت والسیارات، ولیس کلها في سماء الدنیا، لکن اهل الارض ته داسي معلومیږي لکه په اول اسمان کي چې وي، نو په دې سبب زینا السماء الدنیا وویل سو، روح البیان زیاته کړې ده فان کل واحد من السیارات السبع والکواکب الثوابت في الفلک الثامن.

دروېش وایي: چې دا رایـه د اهل هیئت هم ده، او مظهري لـه دې څخـه سخت مخالف دی، دی وایي چې تولـه ستوري په اول اسمان کي دي کما هو الظاهر من القرآن، لکن پر دې تقدیر د کسوف او خسوف او د هلال القمر او رفتـه رفتـه تر بدر پورې ډېر مشکل دي، لکن د دې مشکل د دفع لپاره مظهري د هغه آیت "کل في فلک یسبحون" ترجمه داسي کړې ده چې اسمان پر ځای ولاړ دی دا ستوري لکه ماهی چې په اوبو کي رفتار کوي دغسي پکښې روان دي، نو اشکال دفع دی، فتدبر.

وَحِفْظًا ۚ ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ ۝

"حفظا" مفعول مطلق د فعل محذوف دی ای وحفظناها من الآفات یا لـه شیطانانو څخه چې خبرې د ملکو بـه یې اورېدلې، او بعض مفسرین وایي چې مفعول لـه دی په معنی کي کانه قال وخصصنا السماء الدنیا زینة وحفظا.

دروېش وایي: چې دا ډېر بعید احتمال دی.

"ذالک تقدیر العزیز العلیم" داغه مذکور في ماقبل کي صنع د خدای ﷻ ده چې غالب دی، مانع د تقدیر دده څوک نسي کېدای او بښه خبر دی د مخلوق خپل په تولو حالاتو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَإِنْ أَعْرَضُوا فَقُلْ أَنذَرْتُكُمْ صٰعِقَةً مِّثْلَ صٰعِقَةِ عَادٍ وَّثَمُودَ ﴿۱۳﴾

نو که اعراض وکړی اهل مکه له ایمان څخه، ته ورته ووایه زه تاسي بېروم له عذاب شدید مهلک څخه، لکه عذاب مهلک د عاد او ثمود، چې عاد په باد صرصر هلاک سوه او ثمود په صیحه یعني په ناره د جبرئیل هلاک سوه.

فائده: صاعقة هر هغه عذاب ته وایي چې مهلک وي له هري نوع څخه چې وي.

فائده: تخصیص د عاد او ثمود چې یې وکړی له دې سببه چې قریش په رحلة الشتاء والصیف کې پر اثارو د دغو دوو قومو تېرېږي اثار د عذاب ددوی وینې، حاصل د آیت دادی چې ستاسي په باره کې یا اهل مکة چې تمرد او سرکښي کوئ او ایمان نه راوړئ بل څه نه دي پاته چې پر تاسي دي عذاب نازل سي لکه پر هغه متمردو اقوامو چې عاد او ثمود وه نازل سوی وُ، ولي تاسي ای کفارو د مکې هغسي متمرد یاست.

قانون کلي نحوي: نومان د اقوامو او قبائلو په انصراف او عدم انصراف کې تابع د استعمال د عربو دي یعني که د یو قوم نوم عربو منصرف استعمالاوه یعني کسره او تنوین یې ورکول نو هغه قوم د جد اعلی ددوی مسمی سوی دی، نو یوازې علمیت پکښې سته یعني یو سبب د عدم انصراف لري او په دیوه سبب عدم انصراف نسي راتلای کما تقرر في النحو، او که په استعمال کې د عربو غیر منصرف مستعمل وُ نو په تأویل د قبیلة دوه سببه پکښې موجود دي علمیت او تانیث، نو دا سبب دی چې عاد ته یې تنوین ورکړی دی یعني منصرف دی، او ثمود ته یې په حالت کې د جر فتحه ورکړې ده کما هو القانون النحوي ان غیر المنصرف في حالة یکون مفتوحًا، فاحفظ هذا القانون یفیدک في مواضع من القرآن الکریم.

إِذْ جَآءَتْهُمُ الرُّسُلُ

چې راغله عاد او ثمود ته رسولان.

سوال: عاد او ثمود خو دوه قومه وه، نو ولي داسي نه وویل سوه چې اذ جاء هما یعني صیغه د تثنیې به یې راوړې وه؟

ځواب: هر قوم د عاد او ثمود خو د هر خلګ وه "الرسل" حال دی من صاعقة عاد و ثمود.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: رسولان د عاد او ثمود خو دوه وه یعني هود او صالح علیهما السلام، نو جمع یې ولي راوړه؟

ځواب: مراد له جمع څخه جمع لغوي ده وهو شائع في کلام العرب.

مِنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا تَعْبُدُوٓا إِلَّا ٱللَّهَ

یعني له تولو جوانبو څخه، دا لفظ کنایه ده له کمال اهتمام څخه د رسل په تبلیغ کې د دین و عاد او ثمود تنه، ظاهره ترجمه یې داده د لاسو د خوا او د شا د خوا، یا معنی د آیت داده چې دوی یې وبهرول له عذاب څخه د امم ماضیه وؤ، او د مستقبل عذاب څخه د قیامت، او دا هم احتمال سته چې مراد دي کثرة الإنذار وي، والله اعلم بمراده في کتابه "الا تعبدوا" اصل یې ان لا وؤ، نو د ان نون یې په لام کې د لا مدغم کړی، ان مخففه د مثقل دی باضمار ضمیر الشان، او د لا تعبدوا سره کلمه د باء مصدر ده ای بان لا تعبدوا "الا الله" چې تاسي به عبادت نه کوئ بېله یوه واحد لاشریک خدای یعني توحید المعبود بالحق.

قَالُوا۟ لَوْ شَآءَ رَبُّنَا لَأَنزَلَ مَلَٰٓئِكَةً فَإِنَّا بِمَآ أُرْسِلْتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ

دوی وویل (ای عاد و ثمود) که اراده وای د خدای زموږ (مفعول د شاء محذوف دی ای ارسال الرسل) را نازلي کړي به یې وای ملکي په رسالت سره، نو موږ په هغه شي یعني التوحید ستاسي په زعم منکر یو، ولي تاسي خو مثل زموږ یاست څه فضیلت پر موږ لرئ.

دروښ وایي: چې د مشرکانو ته د هر وخت عجب حماقت دی چې رسالت چې ډېره کښته رتبه ده تر الوهیت پر بشر چې رسول دی چې هغه مشرف دی پر بتانو یې روا نه باله، او الوهیت چې تر هغه لوړه درجه نسته پر بتانو چې جمادات دي لا تنفع ولا تضر دوی عقیده پر درلوده.... مصرع: این خیالست و محال است و جنون.

بغوي له جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې یو جماعت د قریشو و ابوجهل ته وویل چې پر موږ حال د محمد پوښیده دی یعني چې دی شاعر دی، کاهن دی او که ساحر دی (ددوی احتمال د نبي والي په دماغو کې نه وؤ، که وای هغه احتمال به یې هم راوړی وای) نو که موږ د اسي یو سړی تلاش کړی وای چې عالم په شعر، کهانت او سحر سره وای، نو هغه سړي به د محمد صلی الله علیه وسلم سره خبري کړي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وای بیا به هغه موږ ته راغلی وای او دده صحیح حال به یې موږ ته بیان کړی وای، نو عتبه بن ربیعهؓ وویل والله لقد سمعت شعر و کهانة و سحر وعلمت من ذالک علمًا وما یخفی علي ان کان کذالک، یعني که دی ؤ یو له دغو درو ډلو څخه، نو دوی اجازه ورکړه چې ورسه خبري ورسره وکړه حال یې معلوم کړه، نو عتبه مذکور د علیه الصلوة والسلام کور ته ورغلی نو علیه الصلوة والسلام له کوره ورته راووتی، نو عتبه ورته وویل یا محمد انت خیر ام هاشم (ته خیر یې که هاشم، چې د علیه الصلوة والسلام لور نیکه ؤ) بیا یې ورته وویل چې ته خیر یې که عبد المطلب چې د علیه الصلوة والسلام نیکه ؤ، بیا یې ورته وویل چې ته خیر یې که عبد الله چې د علیه الصلوة والسلام پلار ؤ، بیا یې ورته وویل چې نو ته ولي بتکنځل کوې زموږ خدایانو ته یعني دا وایي چې دا جمادات دي لاتنفع ولاتضر او زموږ پلرونه او نیکه ګان ګمرهان بولې، او که ته په دعوی کي د رسالت ریاست غواړې موږ به ستا سره قرار داد د ریاست وکړو تر څو چې ته ژوندی یې، او که شهوت دریاندي غالبه دی موږ به تاته لس بښځي په نکاح درکړو چې ستا خوښي وي من ای بنات قریش، او که ته مال غواړې چې تجارت په وکړې موږ قریش به تاته دومره نقود درکړو چې ته غني سې او ستا پس مانده ګان هم یعني زامن، عتبه چې خبري کولې رسول الله ﷺ خاموش ناست ؤ، نو کله چې د عتبه خبري خلاصي سوې نو علیه الصلوة والسلام په قرائت د قرآن داسي شروع وکړه، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. حٰمٓ (۱) تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ (۲) كِتٰبٌ فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ (۳) اِلٰى قَوْله فَاِنْ اَعْرَضُوْا فَقُلْ اَنْذَرْتُكُمْ صٰعِقَةً مِّثْلَ صٰعِقَةِ عَادٍ وَّ ثَمُوْدَ، تر اخیره پورې، نو عتبه یې پر خوله مبارکه لاس ورکښېښود، بیا یې خبري د صله رحمي سره وکړې، عتبه ولاړې کور ته ولم یخرج الی قریش مدة ابو جهل وویل یا معشر قریش، ما نرى عتبة الا سبنا الی محمد، یعني د خپل دین څخه اوښتی دی او میل یې محمد ته کړی دی، لکه چې محمد به ښه ډوډۍ ورکړې وي درځئ چې ورسو عتبه ته، خیر خو عتبه یې له کوره راویستی، ابو جهل ورته وویل یا عتبه ما حبسک عنا الا انک صبوت الی محمد یعني ته مرتد سوې له خپل دین څخه و محمد ته، او دده ډوډۍ ډېر خوند درکړی دی، که ته یا عتبه په مال اړ یې موږ به تاته مال جمع کړو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې ستا احتياج په دفع سي، او د محمد له دودی څخه مستغني سې، عتبه ته ډېر غضب ورغلی، او قسم يې واخستی که زه ابدًا له محمد سره خبري وکړم يعني په دې باره کې چې تاسي زه ور استولی وم وقال عتبة والله لقد علمتم اني اكثر قريش مالاً ولكني اتيته يعني چې زما اراده وه هغه ټولي خبري مي ورسره وکړې فاجابني بشيئ اشارة و تلاوت د سورة حم وکړه والله ما هو بشعر ولا كهانة ولا سحر او عتبه هغه د عليه الصلوة والسلام سورة ټوله قريش او ابوجهل ته ووايه الى قوله تعالى فان اعرضوا فقل اني انذرتكم صعقة مثل صعقة عاد و ثمود، ما يې پر خوله لاس ور ونيوی، او د صله رحمی روی مي ورته شفيع کړی، عتبه دوی ته وويل لقد علمتم چې تاسي ښه خبر ياست چې محمد چې يو خبره وکړي هغه درواغ نه کړځي، فخفت ان ينزل عليكم العذاب، زه وبېرېدم چې پر تاسي به عذاب نازل سي.

فائده: محمد بن كعب قرضيؒ وايي چې ماته رسېدلې ده دا چې عتبه بن ربيعه كان سيدًا حليمًا.

دروېش وايي: چې په بل روايت کې د محمد بن كعب قرضيؒ داسي راغلي دي چې عتبه بن ربيعه قريشو ته وويل يا معشر قريش اطيعوني (زما په خوله وکړئ) خلوا مابين هذا الرجل (يعني محمد ﷺ) يعني کار مه په لرئ، و بين ما هو فيه يعنى دعوى الرسالة فاعتزلوه فوالله ليكونن لقوله الذي سمعته نباء (يو شان سته) نو که دی نور عرب د مابينه يوسي يعني قتل يې کړي نو تاسي دده له قتل څخه خلاص سواست د بل چا په وژلو سره، او که دی غالب سو پر نورو عربو، نو دده سلطنت ستاسي سلطنت دی لانه من قومكم قريش، او دده عزت ستاسي د قريشو عزت دی نو به تاسي نژدې د خلګو ياست وده ته لکونه قريش مثلكم، نو د ابو جهل ډلي و عتبه ته وويل: سحرك والله يا ابا الوليد (والله پر تا محمد سحر کړی دی، ابو الوليد د عتبه کنيت ؤ) قالوا: په خپله غوږه ژبه سره عتبه ورته وويل چې دا خو زما شخصي رايه ده او نصيحت دی و تاسي ته فاصنعوا ما بدأ لكم (تاسي دده سره هر څه چې کوئ وه يې کړئ، انتهى).

دروېش وايي: ومع هذا عتبة بن ربيعة ايمان را نه وړی، کريمه "يهدي من يشاء" او علماء ټوله وايي چې ايمان موهبي شی دی، والله اعلم بالصواب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَاَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوْا فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ

کلمة فاء لتفصیل، هر څه چي عادیان وه هغو تکبر شروع کړی پر اهل الارض باندي بېله حقه (دربلاد یمن) .. بیت:

تکبر عزازیل را خوار کرد ..... بزندان لعنت گرفتار کرد

علماء په یوه خوله وایي چي اول تکبر له ابلیس څخه صادر سوی دی چي خدایٔ ده او تولو ملکو ته امر وکړی چي ادمٔ ته سجده وکړئ فسجد الملائکة کلهم اجمعون، او ابلیس منع وکړه، څرنګه چي خدایٔ له ده څخه پوښتنه وکړه چي ولي دي سجده ونه کړه؟ ده په جواب کي ورته وویل: انا خیر منه خلقتني من نار وخلقته من طین.

فائده: تفصیل یې په عاد سره وکړی له دې سببه چي دوی تر ثمود دمخه وه.

وَقَالُوْا مَنْ اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً

او وویل (هغه وخت چي دوی وبپرول له عذاب څخه د خدایٔ نو دوی په خپل قوت او شوکت خطاوتل، نو داسي یې وویل) څوک دی سخت تر موږ من حیث القوة (نو قوة تمیز دی له نسبت څخه چي دوی وکړی د اشد و ځانو ته یعني موږ دفع د عذاب په خپل قوت سره کوو) تاریخ وایي چي د میانه سړي قد اتلس (۱۸) ګزه ؤ او یوه د دوی له غړه څخه لویه ګاره جلا کړه هر ځای چي به یې زړه غوښتی هوري به یې وغورځول، قال الله تعالی ردًا علیهم.

اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِيْ خَلَقَهُمْ هُوَ اَشَدُّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۭ وَكَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ۝

الاستفهام للانکار وکلمة الواو معطوف علی مقدر (کما هو القانون في النحو وقد مر مرارًا في هذا التفسیر، والتقدیر ههنا قالوا ذالک ولم یروا ای لم یعلموا) ترجمه: آیا نه وینې دوی چي په تحقیق هغه خدایٔ چي دوی یې پیدا کړي دي هغه خدایٔ قوي او اشد دی تر دوی په قوت او قدرت کي، او وه دوی په آیاتو یعني په معجزاتو سره زموږ چي انکار یې کاوه.

فائده: وکانوا عطف دی پر قالوا.

فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا صَرْصَرًا فِيْٓ اَيَّامٍ نَّحِسَاتٍ

موږ واستاوه (عطف دی پر کانوا) پر دوی باد "صرصرًا" یعني شدید الصوت

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

اوشديد البرد والضر البرد، چې عاديان به يې پورته کړه د اسمان پر خوا او پر سرو به يې ايله کړه، په هغه ورځو کې چې منحوسي وې ددوی په حق کې، الضحاک وايي چې خدای پر دوی درې کاله باران بند کړی او وچ باد به جاري وُ، وقيل كان الريح جاريًا في اخير الشوال له يوې چهار شنبې څخه تر چهار شنبې پورې په دوهمه چهار شنبه ټوله خلک هلاک سوه، وفي الحديث الصحيح ثموديان د پاسه باد يعني مشرقي باد هلاک کړه واهلكت عاد بالدبور، يعني د کښتي باد يعني غربي.

لِنُذِيقَهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

چې زه په دوی وتحکم يعني نازل کړم (يعني ليس المراد ذوق الفم) عذاب د سپکاوي، په دې ناقص يا نژدې ژوند کې

پوه سه: چې اضافت د عذاب و خزي ته اضافت د موصوف دی و صفت ته مثل رجل الحرب وحاتم الجود.

فائده: توصيف د عذاب په خزي سره مبالغة دی لکه زيد عدل وكذا في المثالين المذكورين، تدبر.

وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَخْزٰى وَهُمْ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۶﴾

او هر آئينه عذاب د اخيرت ډېر د اهانت دی.

فائده: په آيت کريمه کې "اخزى" صفت وګرځاوه که څه هم اخزى خو کافر دی مجازًا مبالغةً "وهم لاينصرون" ددوی سره کومک نه کړل کېږي چې عذاب دي څنې دفع کړل سي.

وَاَمَّا ثَمُوْدُ فَهَدَيْنٰهُمْ

او هر څه چې ثمود وه موږ دوی ته هدايت وکړی يعني دلالت پر خير (چې ايمان دی او شر چې کفر او شرک دی) چې دې هدايت ته په اصطلاح کې ارائة الطريق وايي يعني رسول مؤيد بالمعجزت مو ور واستاوه.

فَاسْتَحَبُّوا الْعَمٰى عَلَى الْهُدٰى فَاَخَذَتْهُمْ صٰعِقَةُ الْعَذَابِ الْهُوْنِ

دوی مختاره کړی جهل او شرک پر هدايت او ايمان، نو دوی ونيول اواز مهلک بالاستيصال د اسمان له خوا څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي صاعقة په پښتو ټکه بولي چي تېز اور دی چي له وريځي ځخه راشوه سي، دلته هغه معنی مراد نه ده بلکې مراد ځني صوت مهلک دی د اسمان له خوا ځخه.

پوه سه: چي اضافت د صاعقة و عذاب ته او توصيف د عذاب په هون سره مجاز دی لپاره د مبالغې.

بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٧﴾

يعني باختيار الكفر والضلالة على الهدى والايمان، والباء للسببية وكلمة ما موصولة والعائد محذوف اى بسبب شيئ يكسبونه.

وَنَجَّيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا يَتَّقُونَ ﴿١٨﴾

او موږ نجات ورکړی له صاعقه ځخه و هغو کسانو ته چي ايمان يې راوړی وُ او د له خدای ﷻ ځخه ېيرېدل.

وَيَوْمَ يُحْشَرُ أَعْدَاءُ اللَّهِ إِلَى النَّارِ فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿١٩﴾

(ويوم) اى اذكر يا محمد ﷺ و مكې والو ته هغه ورځ، چي جمع كړل كېږي دښمنان د خدای ﷻ (چي كافران دي من اى نوع كانوا) و اور ته، نو دوی شړل كېږي اور ته او كه په زوره د خزنة النار له خوا ورغور ځول كېږي اور ته، او قتاده او سدي ﷺ وايي چي يحبس اولهم على اخرهم چي سره غونډ سي بيا دوږخ ته ورغور ځول كېږي، بيضاوي ﷺ وايي هي عبارة عن كثرة اهل النار.

دروښ وايي: چي اهل النار په غايت الغاية كي د كثرة دي ولا يعلم كثرتهم الا الله تعالى، حتى غاية د يحشروا او يوزعوا.

حَتَّىٰ إِذَا مَا جَاءُوهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ

چي دوی ورسي يعني حاضر سي، شاهدي اداء كړي پر دوی اوربده د دوی يعني غوږونه

پوه سه: چي كلمه د ما زائده ده لپاره د تاكيد اتصال الشهادة بالحضور.

فائده: اسماعهم يې نه ووايه او سره د دې چي شاهدي خو غوږونه اداء كوي لان السمع في الاصل مصدر وان كان المراد به الاذن، شاهدي د غوږو په هغه شي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په دوی حرامي خبري اوربدل سوي وي لکه غيبت او بهتان چي څوک يې پر چا وايي او دبل سړي غوږونه يې اوري.

وَأَبْصَارُهُمْ وَجُلُودُهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٢٠﴾

او سترګي ددوی (چي په شهوت يې و بښځي ته کتلي وي، ابصار يې جمع راوړی لان المراد به العين لا المعنى المصدري، قالوا النكتة للغار لا للقار، فتأمل) او پوستونه ددوی، يعني ظاهر بدن ددوی (چي ده لمس د حرام په کړی وي) کلمه د ما مصدريه ده ای بعملهم ويحتمل ان تكون موصولة فالعائد الى ما محذوف ای بالذي يعملونه به.

پوه سه: چي السدي ؒ وايي چي مراد له جلود څخه فروج دي لکن ګناه خو يوازي پر فرج نه ده، فالظاهر العموم ليتناول اللمس الحرام ايضًا وقال مقاتل ؒ ينطق جوارحهم يعني مراد د شهادة څخه مطلق دی كما يدل عليه الحديث الصحيح الذي رواه مسلم عن انس ﷺ چي مور د عليه الصلوة والسلام سره ناست ؤ فضحک (ده خندل او وه يې ويل) هل تدرون ما اضحک؟ تاسي خبر ياست چي زه پر څه شي خاندم؟ صحابه کرامو ﷺ ورته وويل الله ورسوله اعلم قال ؒ من مخاطبة العبد ربه يعني يوم القيامة (دروښ وايي چي دا حديث د وحي خفي له جملې څخه دی) يقول: بنده وايي د خدای ؒ په نزد آيا ما تاته پناه نه ده راکړې له ظلم څخه يعني په ورځ د قيامت، ظلم زه کوم پر بنده فيقول يعني الله ؒ بلى، هو ماتاته پناه در کړې ده له ظلم څخه، نو بنده ورته ووايي چي زه د چا شاهدي نه قبلوم الا شاهدًا مني يعني د کرام کاتبين شاهدي نه قبلوم، نو خدای پاک ورته ووايي: كفى بنفسك اليوم عليك شهيدًا، فيختم على فيه، نو پر خوله يې مهر ور ولګوي يعني خبري نه سي کولای، ويقال لاركانه واعضائه انطقي خبري وکړئ فينطق باعماله، وروسته يې ژبه ايله سي يعني خبري شروع کړي، نو دی خپلو اعضاؤ ته ووايي بعدًا لكن وسحقًا فلكن انا فعل، د خدای ؒ له رحمت څخه لېرې سئ او هلاک دي وي تاسي لره ما ستاسي د اور څخه د ساتلو لپاره د خدای ؒ سره بحث او خبري کولې يعني هغه د مخه خبري چي ذکر سوې.

پوښتنه: بيله ژبه نور اعضاء د انسان څرنګه خبري کولای سي؟

ځواب: ددې خبري جواب به په راتلونکي آيت کي راسي، او داغه رنګه په صحيح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حدیث کي چې روایت یې ابن مسعود رضي الله عنه کړی دی چې یوه ورځ موږ څو کسه د علیه الصلوة والسلام پر کاسه پرده وه دی ناست وُ او موږ تولود کاسې تسبیح اوریدلې، او داغه رنګه په صحیح حدیث کي چې روایت یې بخاري کړی دی راغلي دي علیه الصلوة والسلام وایي چې زه هغه دبره اوس هم پیژنم چې زه غار حرا ته تلم (یعني قبل النبوة والوحي) دې ډبري به وویل السلام علیک یا رسول الله، او داغه رنګه په صحیح حدیث کي راغلي دي چې یوې ښځي د یهودانو په خیبر کي علیه الصلوة والسلام ته په مهانی د پخو غوښو راوړه او په ولي کي د پسه یې ډبر زهر اچولي وه، چې د علیه الصلوة والسلام د ولي غوښي خوښې وې، نو علیه الصلوة والسلام چې یوه یا دوې ګولې وخوړلې اصحابو رضي الله عنهم ته یې وویل چې لاسونه پورته کړئ په غوښو کي زهر دي، بیا یې هغه ښځه راغوښتل چې ته په دې غوښو کي زهر اچولي وه؟ هغې ورته وویل چې چا درته وویل، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې دغه د پسه ولي راته وویل، نو هغې اقرار وکړی چې هو ما زهر ور اچولي وه، دې وویل چې زما د زهر اچولو څخه مقصد دا وُ چې که دا سړی نبي په رښتیا وُ خو زهر تاوان نه ورته کوي او که نبي نه وُ د غمه به یې موږ یهودان خلاص سو یعني زهر به یې ووژني، الی اخیر الحدیث، او نور ورته حدیثونه ډېر دي، وفیما اوردناه کفایة لاهل البصیرة، والحاصل چې په نېز د اهل السنة والجماعة د خبرو کولو لپاره بنیة انساني شرط نه ده للحیات والعقل والقدرة، یعني مع الله تعالی.

وَقَالُوا لِجُلُودِهِمْ لِمَ شَهِدتُّمْ عَلَيْنَا ۖ قَالُوا أَنطَقَنَا اللَّهُ الَّذِي أَنطَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَهُوَ خَلَقَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٢١﴾

وویل دغه کسانو چې د دوزخ اچولو لپاره راجمع کېدل، تاسي ولي شاهدي اداء کړه پر موږ باندي بعداً لکن کما مر في حدیث مسلم.

دروښ وایي: چې هغه آیت چې ما وعده کړې وه چې د دې پوښتنې جواب به په راتلونکي آیت کي راسي، ترجمه: پوستو کو ورته وویل چې موږ پر نطق راوستلو هغه ذات چې الله دی چې ملکه (قدرت) د نطق او د خبرویې و هر شي ته ور کړې ده.

دروښ وایي: چې بخاري او مسلم او بغوي رحمهم الله ابن مسعود رضي الله عنه څخه داسي روایت کړی دی چې سره جمع سوه په وړاندي د البیت الشریف دوه کسه د ثقیف د قبیلې خلګ او یو قریشي یا دوه قریشان او یو د ثقیف د قبیلې (دروښ وایي چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دا تردید شک د راوي دی) کثیر شحم بطونهم (چې ډېري وې واز ګي د نسو ددوی) قلیل فقه قلوبهم (او لږ وه هوشیاري د زړو ددوی) نو یوه ددې درو کسانو څخه وویل اترون ان یسمع الله ما نقول (ستاسي خیال دی چې خدای به اوري دا زمونږ خبري) هغه بل ورته وویل یسمع ماجهرنا ولایسمع ما اخفینا (په زوره خبري اوري او نه یې اوري که مونږ کرار خبري سره کوو) هغه بل ورته وویل ان یسمع ماجهرنا فانه یسمع ما اخفینا (که یې د جهر خبري اوري پدلې نو ما اخفا هم اوري)

وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ اَنْ يَّشْهَدَ عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ اَبْصَارُكُمْ وَلَا جُلُوْدُكُمْ

تاسي په وخت د فواحشو کولو ځانونه پټول یعني په دنیا کي (ان یشهد) په حذف د جر ای عن) پر تاسي به شاهدان وي ستاسي اوږدل او ستاسي لیدل او ستاسي پوستونه، یعني لکه د خلګو څخه چې مو ځانونه پټول په وخت کي د فواحشو کولو چې رسوا نه سم په خلګو کي، فالمعنی ماکنتم تظنون ان جوارحکم تشهد علیکم ای بالفواحش فلهذا له جوارحو څخه مو ځانونه نه پټول.

وَلٰكِنْ ظَنَنْتُمْ اَنَّ اللّٰهَ لَا يَعْلَمُ كَثِيْرًا مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝

لکن دا مو ګمان ؤ چې په تحقیق خدای ﷻ علم نه لري پر ډېرو کارو چې تاسي بې عمل کاوه یعني هغه کارونه چې مونږ یې په پرده وکړو نو هم له دې کبله مو فواحش په پرده کي کوله.

وَذٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ الَّذِيْ ظَنَنْتُمْ بِرَبِّكُمْ اَرْدٰىكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝

نو دغه ظن ستاسي (ذالکم مبتداء ده) چې تاسي یې کوئ (ارداکم) ای اهلککم (دا یې خبر دی او داسي هم ممکنه ده چې ظننتم بدل وي د اسم اشاره څخه او ردا کم دې خبر وي) نو تاسي وګرځیدا ست چې په خسران کي د قیامت واقع سوا ست، په ورو ستہ آیت کي خدای ﷻ ددوی حال بیانوي.

فَاِنْ يَّصْبِرُوْا فَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ۚ وَاِنْ يَّسْتَعْتِبُوْا فَمَا هُمْ مِّنَ الْمُعْتَبِيْنَ ۝

که دوی صبر وکړي پر اور د دوزخ. نو اور ددوی کرارګاه ده یعني لاخلاص لهم عنها. او که دوی طلب د رجوع وکړي و هغه شي ته چې ددوی خوښه وي او خدای ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

له ځانو څخه راضي کړي يعني دنيا ته يې رد کړي او ايمان راوړي او اعمال صالحه وکړي، نو ددوی څخه خواست د اجابت نه کول کېږي، ولي دا ايمان اضطراري دی.

وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَآءَ فَزَيَّنُوْا لَهُمْ مَّا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ

موږ استولی دی دوی ته (يعني کفارو ته) (قرناء) جمع د قرين ده لکه کرماً جمع د کريم ده په معنی د مثل ددوی من الشياطين يا د قرين معنی خطايستونکی والمآل واحد، نو هغو قرناؤ و دوی ته ښائسته کړی هغه شی چې په مابين کې د لاسو ددوی دی يعني حاضر دی (يعني امور الدنيا واتباع الشهوات) او هغه چې تر دوی وروسته دي يعني انکار الآخرة والبعث بعد الموت.

وَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِيْٓ اُمَمٍ

او ثابته وگرځېدل پر دوی کلمه د عذاب د خدای ﷻ (في امم) حال دی له ضمير مجرور څخه د عليهم ای کائنين في جملة امم.

قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ۚ اِنَّهُمْ كَانُوْا خٰسِرِيْنَ ۝

په تحقيق تېر سوي دي تر دوی دمخه (قد خلت آه، صفت دی د امم) له انسانانو او پيرانانو څخه (من الجن والانس، دا هم صفت دی د امم) انهم کانوا خٰسرين، دا جمله علت ده د استحقاق د عذاب ددوی و خسرانهم ددوی دادی چې مختاره کړي يې دي اسباب د عذاب يعني کفر او د نار پر اسبابو د رحمت من الايمان والطاعة چې اسباب د ځای د رحمت دي من الجنة ونعيمها.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَسْمَعُوْا لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَالْغَوْا فِيْهِ

وويل هغه کسانو چې کفر يې کړی وُ، چې د اهل مکه رئيسان وه و خپلو اتباعو ته يا معنی داده چې بعض ددوی و بل بعض ته وويل، غوږ مه نسيۍ و دې قرآن ته يعني په پټه مه ورته کښېښی (والغو فيه) اخرج ابن ابی حاتم ؒ عن ابن عباس ؓ کان النبي ﷺ وهو بمكة اذا قرأ القرآن يرفع صوته (په ډېر جهر سره به يې وايه) مشرکانو د مکې چې به د عليه الصلوة والسلام و قرائت ته غوږ نيولی وُ، نو هغه به دوی شړل او دا به يې ورته ويل لاتسمعوا لهذا القرآن وأتوا باللغو چې محمد دا قرآن وايي نو تاسي داسي فعل کوئ چې دده فکر سره مشوش سي، نو عليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام چې به قرآن شروع کړی چا به شپېلکی کاوه او چا به چکچکي کولې چا به ایله ناري وهلې چا به غزلي ویلې، وعلی هذا القس، نو مراد له الغو څخه مالا اصل له، او ابو العالیة ؒ وایي چې د لغو معنی داده په آیت کي چې دی قرائت شروع کړي تاسي دده عیبونه شروع کړئ یعني ناحقه عیبونه پورې غوټه کوئ مثلاً، یا شاعر یا کاهن یا ساحر یا مجنون یا مفتر.

لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ ۝

نو شاید دده پر قرائت به غالبه سئ، یا پر خودي محمد ﷺ به غالبه سئ چې باره به قرائت نه وایي په مسجد الحرام کي.

فَلَنُذِيقَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا عَذَابًا شَدِيدًا

نو موږ به دوی ته رسوو (یعني لیس المراد زوق الفم بلا الاصابة) عذاب سخت چې اندازه د هغه عذاب څوک نسي کولای.

سوال: کفار خو د مخه ذکر سوه، نو ضمیر یې ولي نه راجع کاوه؟

ځواب: لپاره د تسجیل د کفر پر دوی او لپاره د شمول د حکم د نورو کافرانو چې د کفار مکه کارونه کوي، وضع د ظاهر یې پر ځای د مضمر وکړه.

وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَسْوَأَ الَّذِي كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝

زه به دوی ته جزاء ورکړم د سیئاتو د عملو ددوی، نو د اسوء په معنی د تفضیل نه دی بلکې په معنی د صفت مشبه دی، او یا معنی داده چې زه به دوی ته جزاء د کفر ورکړم چې هغه ډېر لوی بد کارؤ چې دوی یې په دنیا کي عمل کاوه یعني نور معاصي یې هم کول لکن کفر لوی بد کارؤ، نو اسم تفضیل پر خپله معنا پاته دی، له ابن عباس ؓ څخه روایت دی عذابًا شدیدًا یوم بدر ده (چې په شمول د فرعون الامة ابو جهل او وړیا کسه ووژل سول او اووړیا په حصارت وینول سول) واسوی الذي کانوا یعملون في الاخرة انتهی، چې دا تفسیر په اعتبار د واقعي د کفار د مکي دی یعني لاتسمعوا لهذا القرآن آه.

ذَٰلِكَ جَزَاءُ أَعْدَاءِ اللَّهِ النَّارُ لَهُمْ فِيهَا دَارُ الْخُلْدِ

(ذالک) ای الاسوء عذاب، مبتداء ده) جزاء او عذاب دی د دښمنانو د خدای ﷻ دا خبر د ذالک دی (النار) عطف بیان دی د جزاء یا خبر د مبتداء محذوفي دی، دوی لره په آخرت کي ځای د اقامت ابدي ستنه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿۲۸﴾

(جزآء) مفعول د فعل مقدر دی ای یجزون او دا جمله تاکید د ماسبق ده) په سبب ددې چې دوی وه په دنیا کې له آیاتو څخه زموږ چې قرآن کریم دی انکار یې کاوه. یا معنی داده یلغون عند تلاوة القرآن.

سوال: په قرآن کریم کې خو جحود ذکر دی چې معنی یې انکار دی کما مر في التفسیر الاول، نو اراده د یلغون آه څرنګه ځنې روا ده؟

ځواب: ذکر سبب دی چې جحود دی مراد ځنې مسبب دی چې لغو عند قرائة القرآن، وهذا مجاز شائع في العربیة.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا رَبَّنَآ اَرِنَا الَّذَيْنِ اَضَلّٰنَا مِنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ

او وویل هغه کسانو چې کفر یې کړی وُ، ای ربه زموږ په موږ ووینې هغه کسان چې موږ یې ګمراهان کړي وُ، که د جن وي مراد ځنې شیطانان دي او که د انس څخه وه چې مراد ددوی رئیسان دي چې دوی یې له اسلام راوړلو څخه منع کوله جبرًا.

دروښ وایي: چې کفروا اګرچه ماضي ده او دا قول د کفارو خو په دوزخ کې دی وهغه مستقبل بعید دی، باید یقول الذین وای، لکن چونکه دا قول موعود د خدای عزوجل مستحق الوقوع لامحالة دی نو لکه ماضي دی، دا جمله عطف ده پر مضمون د کلام سابق ای عذبوا وقالوا یعني یقولون بعد مایلقون في النار.

نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ اَقْدَامِنَا لِيَكُوْنَا مِنَ الْاَسْفَلِيْنَ ﴿۲۹﴾

چې موږ وګرځوو لاندې تر پښو زموږ یعني په اور کې یعني عذاب یې سخت وګرځي (لیکونا من الاسفلین) دوی وګرځېده، قال ابن عباس رضي الله عنه لیکونا اشد عذابًا منا، یعني په ثقل سره زموږ.

اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا

په تحقیق کومو خلکو چې وویل چې رب زموږ الله دی (یعني د زړه په اخلاص سره اعترافًا او په خوله سره اقرارًا) "ثم استقاموا" یعني بیا پر ځانو لازم وګرځوي طریق مستقیم یعني په طاعاتو کې او په ترک کې د منهیاتو، په روایت دابی بکر الصدیق رضي الله عنه راغلي دي چې ده د صحابه رضي الله عنهم څخه پوښتنه وکړه چې تاسي څه وایاست په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفسیر کي د دغو دوو آیاتو (ان الذین قالوا ربنا الله ثم استقاموا، والذین آمنوا ولم یلبسوا ایمانهم بظلم) نو صحابه کرامو ؓ ورته وویل چي معنی یې داده الذین قالوا ربنا الله ثم عملوا بها واستقاموا علی امره تعالی فلم یذنبوا ولم یلبسوا ایمانهم بظلم ثم لم یذنبوا اصلاً، قال ابوبکر ؓ لقد حملتموها علی امر شدید (یعني ددې دوو آیتو تاسي ډېر سخت او ګران تفسیر وکړی) بلکي معنی یې داده الذین امنوا ولم یلبسوا ایمانهم بظلم یقول بشرک والذین قالوا ربنا الله ثم استقاموا یعني لم یرجع الی عبادة الاوثان، کذا في ازالة الخفاء للشیخ ولي الله المحدث الدهلوي.

وروی النسائي والبزار وابو یعلی وغیرهم عن انس ؓ قالوا قرء علینا رسول الله ﷺ هذه الآیة ان الذین قالوا ربنا الله ثم استقاموا قد قالها ناس من البأس (د عذاب له سببه او له تکلیفه) ثم کفروا اکثرهم فمن قالها یعني ربنا الله حتی یموت فهو ممن استقام علما، او کما قال رسول الله ﷺ.

دروښ وایي: چي د ابوبکر ؓ تفسیر او ددې حدیث نبوي تفسیر اسهل او اشمل تفسیر دی والله اعلم.

پوه سه: چې کلمه ثم لپاره د تراخي د استقامت په رتبه کي تر اقرار یعني ربنا الله، او مظهري ؒ وایي چي مراد له استقامت څخه الاعتدال وعدم الزیغ والانحراف عن الحق بوجه من الوجوه لا في الاعتقاد ولا في الاعمال، ومنه الصراط المستقیم في سورة الفاتحة اهدنا الصراط المستقیم ای الطریق السوي الذي یوصل سالکه الی المطلوب النیة (چي تلونکی پرهغه لار مستقیم خامخا و مطلوب ته رسوي یعني رضی الرحمن والدخول الاولی في الجنان، نو استقامت لفظ مختصر دی لکن په معنی کي ټوله شرائع او احکام نغښتي دي من الاتیان بالمأمورات والاجتناب عن المنهیات علی سبیل الدوام والثبات.

دروښ وایي: چي داسي استقامت په عصر حاضر کي یعني سنه (۱۴۳۲ هـ) بلکي تر دې وروسته هم نادر دی غایة الندرة الا من وفقه الله عزوجل، رزقنا الله الاستقامة المذکورة بمحض فضله وکرمه وذالک لیس علی الله بعزیز.

دروښ وایي: چي چونکه دا استقامة لفظ اخصر ؤ او معنی یې ټوله دین اسلام ته شامل ده. لکه هغه حدیث چي سفیان بن عبد الله الثقفي ؓ چي د علیه الصلوة والسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه پوښتنه وکړه چې یا رسول الله ﷺ ماته په اسلام کې یو داسې جامع خبره وکړه چې بیا سوال ونه کړم احداً وفي روایة غیرک، قال ﷺ قل امنت بالله ثم استقم.

دروښ وایي: چې د ابوبکر الصدیق ؓ تفسیر تاسې واورېدی، او عمر بن الخطاب ؓ یې داسې تفسیر کړی دی ان تستقم علی الامر والنهي، او عثمان بن عفان ؓ یې داسې تفسیر کړی دی: اخلصوا العمل لله تعالی، او علي بن ابی طالب ؓ وایي: ادوا الفرائض، او ابن عباس ؓ یې داسې تفسیر کړی دی: استقاموا علی اداء الفرائض، او الحسن ؒ وایي استقاموا علی امر الله فاعملوا بطاعته واجتنبوا معصیة، او مجاهد ؒ او عکرمه ؒ وایي استقاموا علی شهادة ان لا اله الا الله، او مقاتل ؒ وایي استقاموا علی معرفة الله فلم یرتدوا.

دروښ وایي: چې دا ټولې معاني سره نژدې دي، فتأمل فیها.

تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَلَّا تَخَافُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا

نازلېږي پر دوی ملکي لپاره د بشارت، ابن عباس ؓ وایي عند الموت وقال قتادة ومقاتل اذا قاموا من قبورهم، وقال وکیع بن الجراح ؒ البشری یکون في ثلاثة مواطن، زیری په درو ځایو کې کېږي، عند الموت وفي القبر وعند البعث.

پوه سه: چې د الا اصل ان لا ؤ نون یې په لام کې مدغم کړی، نو ان مفسره دی د تتنزل علیهم، وترجمة الآیة: یعني تاسې مه ویریږئ د ما تقدمون علیه من امور الآخرة، کذا قال مجاهد ؒ، او غم مه کوئ پر ما خلفتم من المال والاولاد (ولي چې خدای ؓ وایي چې زه ستاسې خلف په هغو یعني د رزق او حفاظت لپاره، او عطاء بن ابی رباح ؒ وایي لاتخافوا عن العقاب ولا تحزنوا علی صدور العصیان فان الله یعفوها لکم)

وَاَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ۝

او خوشحاله و اوسئ په دخول د جنت هغه جنت چې ستاسې سره یې وعده کړې ده سوې وه له جانبه څخه د خدای ؓ پر ژبه د رسولانو ؑ، ابو نعیم له ثابت بناني ؒ څخه روایت کړی دی چې ده سورة حٰمٓ السجدة تلاوت کاوه دې ځای ته چې راورسېدی تتنزل علیهم الملائکة نو یې داسې وویل بلغنا، مونږ ته رارسېدلې ده چې عبد مؤمن چې له قبره څخه راووزي یعني بالنفخة الثانیة، نو هغه دوې ملکي چې په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ژوند کي دده سره ورسره وي هغه ملکي ده ته ووايي لاتخف ولا تحزن وابشر بالجنة التي كنت توعد، قال اى الراوي فيأمن من الله خوفه د خداى ﷻ له يېري څخه پيغمه سي او ستر کي يې خنکي سي چې کنايه ده په عربي ژبه کي.

نَحْنُ أَوْلِيٰٓؤُكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ ۚ

اى موږ ستاسي دوستان ؤ او ستاسي سره درسره ؤ په دنيا کي چې د شيطانانو څخه به مو ساتلاست او په زړو کي مو الهام د خير درته کاوه على رغم الشياطين چې په وسوسو به يې شر په زړو کي دراچاوه، او موږ ستاسي دوستان يې په اخرت کي يعني چې نه در څخه جلا کېږو تر څو چې تاسى جنت ته داخل يږئ.

وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ۝

او تاسي لره په جنت کي هغه کرامات او لذات سته چې ستاسي زړونه په خوشحاله کېږي، او تاسي لره په جنت کي دعاء يعني تمنى او طلب يې کوئ.

نُزُلًا مِّنْ غَفُورٍ رَّحِيمٍ ۝

مهماني ده له جانبه څخه د بخښونکي او مهربان خداى ﷻ.

فائده: د نزلاً د لفظه دا معلومه سوه چې هغه دوى چې يې تمنّى درلوده نسبت و هغو نعمتو ته چې خداى ﷻ دوى ته ورکړه دوى يې تصور هم نه ؤ کړى لکه مهماني د مهمان نواز سړي چې د مېلمه هيڅ طمع د داسي مهماني نه وي.

دروښ وايي: چې د نزلاً من غفور رحيم تر عنوان لاندي صائب اصفهاني ﷺ چې يو نامورې محقق شاعر دى داسي وايي:

ازين چه سود كه در گلستان وطن دارم .. مرا كى عمر چو نرگس بخواب ميگذرد

بايزيد بسطامي ﷺ وايي:

شربت كأسا بعد كأس .... فما نفذ الشراب ولا رويث

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَآ إِلَى اللّٰهِ وَعَمِلَ صَالِحًا

(من) الاستفهام للانكار اى لا احد احسن (قولا) از جهت سخن تمييز من نسبت احسن الى من) او په خپله هم عمل صالح کوي يعني فيما بينه وبين ربه، يعني داسي و خداى ﷻ ته نه وي لکه يو شاعر چې وايي:

واعظان چون جلوه در محراب و ممبر ميكنند ..... چون بخلوت ميروند كارى ديگر ميكنند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَالَ اِنَّنِيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۳۳﴾

او دا هم ووايي چي زه د مسلمانانو څخه يم، دا ويل اشاره ودې ته ده چې ايمان شرط دی د عمل صالح.

فائده: په دې کې رد دی علی من يقول انا مسلم ان شاء الله تعالی، په علم کلام کې وايي چې دا ان شاء الله ويل که د شک لپاره وي په خپل اسلام کې دا خو کفر دی، او که لپاره د ادب مع الله وي يعني حواله د تولو کارو خدای ﷻ ته کوي يعني و مشيت ته د خدای ﷻ او يا لپاره د عاقبت الامر وي لا في الآن والحال او يا لپاره د تبرک بذکر الله وي، يا تزکيه د خپل نفس نه کوي نو پروا نه لري.

فائده: حکم د دې آيت هر هغه چا ته شامل دی چې دغه خصال حميده پکښې وي، وان نزلت که څه هم نازل دی په عليه الصلوة والسلام او په اصحابو ﷺ کې او يا په مؤذنانو کې، ولې چې مؤذنان هم خلګو ته دعوت د لمانځه ورکوي.

پوښتنه: دا سورة خو ټوله په اتفاق مکي دی، او اذان خو په مدينه منوره کې مشروع سوی دی؟

خواب: ايت دې په مکه کې نازل وي او حکم دې متأخر تر نزول وي، قاله الحافظ ابن حجر ؒ، او په قرآن کريم کې نور داغسې آيتونه هم سته، وقالت عائشة ؓ نزلت الآية في المؤذنين واختاره المظهري ؒ.

فائده: په وه سه چې دعوت و خدای ﷻ ته څو مرتبې لري (۱) اول مرتبه دعوة د انبياء ﷺ دی، دوی طريقه د دعوت الی الله يا اظهار د معجزاتو او براهينو عقليه هم و کفارو ته وايي، اخيري درجه د دعوت استعمال السيف دی يعني الجهاد في سبيل الله (۲) دويمه درجه دعوت د علماء دی فانهم يدعون الخلق الی الله بالدلائل العقلية والبراهين النقلية فقط يعني د توري د استعمال اجازه نه لري، حسين کاشفی ؒ در تفسير حسينی ميگويد: امام فقيه ابو الليث السمرقندی ؒ فرموده که مراد ازين ايت مذکوره علماء اند که معالم دين بمردم آموزند و عمل صالح و ايشان آنست که هرچه دانند بآن خود هم عمل کنند، نه آنکه شاعر ميگويد ...بيت:

واعظان چون جلوه در محراب و ممبر ميکنند ..... چون بخلوت ميروند کاری دیگر ميکنند

يا محتسبان اند که قواعد امر بالمعروف ونهی عن المنکر را تمهيد دهند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وبمردم بيان نمايند، وعمل صالح ايشان آنست كه صبر او تحمل وانچه بديشان رسند از مكاره مردم صبر و تحمل كنند.

والعلماء ثلاثة اقسام (١) عالم بالله وغير عالم بامر الله يعني باحكامه (لكه عابد جاهل) (٢) عالم بامر الله و نهيه واحكامه غير عالم بالله لكه عالم فاسق غير عامل باوامره ونواهيه (٣) عالم بالله وعالم باحكامه لكه عالم عمل صالح، يعني يطابق حاله مقاله، فهذا القسم الثالث يصلح لدعوة الناس الى الله عزوجل (٣) مرتبة الدعوة بالسيف وهم الملوك المسلمين يجاهدون الكفار حتى يدخلون في دين الله وطاعته او يعطو الجزية عن يد وهم صاغرون، والمرتبة الرابعة دعوة المؤذنين الخلق اى المسلمين الى الصلوة وهي اضعف مراتب الدعوة الى الله تعالى.

دروښ وايي: چې مظهري رح د اضعف مرتبه د دعوة الى الله په تفصيل بيان كړې ده او روح البيان هم څه ناڅه تفصيل راوړى دى.

فصل في فضل الاذان: عن معاوية رض قال قال رسول الله ﷺ المؤذنون اطول الناس اعناقا يوم القيامة رواه مسلم.

دروښ وايي: چې طول د غاړې كنايه ده له ډېرې خوشحالۍ څخه، وعن ابى سعيد الخدري رض قال قال رسول الله ﷺ لا يسمع مدى صوت المؤذن (نه اورې نهايت د اواز د مؤذن) جن ولا انس ولا شيئ الا شهد له يوم القيامة (يعني بالاسلام) رواه البخاري.

دروښ وايي: چې والله اعلم چې دا حديث خاص په هغه مؤذن پورې دى چې پېله توسطه د ګويا او لاؤډسپيكر د مؤذن اواز واورې كما هو المعتاد في زمن النبي ﷺ او يا عام دى، وعلى تقدير العموم ففيه بشارة عظيمة للمؤذنين كما لا يخفى، وعن ابى هريرة رض قال قال رسول الله ﷺ الامام ضامن (يعني د صحت او فساد او د شريعت غراء سره يانه) والمؤذن مؤتمن (او مؤذن امين د خلګو په دخول د وخت د لمونځو) اللهم ارشد الائمة (ته هدايت وكړې و امامانو ته چې د قانون شرعي سره برابر لمونځونه و خلګو ورکړي) واغفر للمؤذنين (چې اذانونه پر وخت وكړي او فاسدي لهجې په اذانو كې استعمال نه كړي) رواه احمد والترمذي والشافعي رح وعن ابن عباس رض قال قالت رسول الله ﷺ من اذن سبع سنين، اووه كاله متواتر محتسبا د ثواب نه په اجرت، كه څه هم اجرت پر اذان متأخرينو د فقهاؤ روا بللى دى، كتب له برائة من النار، نوشته ده ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لپاره کاغذ د خلاصون له اور څخه، رواه الترمذي وابن ماجه و ابو داؤد، وعن ابن عمر ؓ قال قال رسول الله ﷺ ثلاثة على كسبان الجنة (درې کسه به په لوړو ځایو کې په جنت کې ناست وي، (۱) هغه مربی ادی حق الله لکه پنځه وخته لمونځ، روژه وغیرهما من الفرائض التي في ذمته وحق مولاه، او د بادار حق اداء کوي چې خدمت دی په راستي سره (۲) ورجل ام قومًا وهم به راضون او هغه امام د مسجد دیو قوم دی چې دوی په راضي وي (داسي نه دی چې صاحب جاه وي یا د حکومت له خوا پر قوم مسلط وي چې قوم په راضي نه وي لکن دی د زور له لاري د دوی امامت دلاسه نه ورکوي.

فائده: دا حکم هلته دی چې په امام کې عیب شرعي وي، مثلاً ږیره یې تر مقدار شرعي د ږیره کوچنۍ کړې وي، یا سرتور سر لمونځ ورکوي الی غیرها من عیوب الائمة (۳) رجل ینادی بالصلوة الخمس کل یوم ولیلة یعني بلا اجر کما في حدیث ابن عباس ؓ وقدمر، رواه الترمذي، وعن ابی هریرة ؓ قال قال رسول الله ﷺ المؤذن یغفر مدی صوته ویشهد له کل رطب ویابس وشاهد الصلوة (حاضر و لمانځه ته د جماعت) یکتب له (۲۵) صلوة ویکفر عنه ماینهما (او ده ته بخښل کیږي په مابین کې د دوو لمونځونو د جماعت من المعاصي) رواه احمد وابو داؤد و ابن ماجه وعن سهل بن سعد ؓ قال قال رسول الله ﷺ ثنتان لاتردان او قلما تردان (شک د راوي دی الدعاء عند النداء، یوه دعاء په وخت کې د آذان او بل دعاء په وخت کې د جنګ د مسلمانانو او کافران یلتحم بعضهم بعضًا چې یو د بل غوږنۍ سره تویوي، وعن ابن عمر ؓ ان رسول الله ﷺ قال من اذن ثنتی عشرة (۱۲) کاله و جبت له الجنة وکتب له بتأذینه في کل یوم ستون حسنة وبکل اقامة ثلاثون حسنة وعن عمر بن الخطاب ؓ انه قال لو اطقت الآذان مع الخلافة لاذنت (کما طاقت درلودای د اذان سره د مشاغل د خلافت د خلګو مابه اذان کولای، وروی حدیث ابن عمر ؓ المتقدم ابن ماجه وعن ابن عمر ؓ قال کنا نؤمر بالدعاء عند اذان المغرب (د امر کېدلو یعني د رسول الله ﷺ په دعاء سره عند اذان المغرب ای عند تمام اذان المغرب رواه البیهقي في الداعوات.

فصل في جواب الاذان: عن عبد الله بن عمر بن العاص ؓ قال قال رسول الله ﷺ اذا سمعتم المؤذن فقولوا مثل مایقول، هغه دده کلمې ورسره وایاست، ثم صلوا علي (بیا پر ما درود ووایاست) فانه من صل علي صلي الله علیه بها عشرًا (که چا په دغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي پر ما درود ووایه خدای ﷻ به پرده لس رحمتونه نازل کړي ثم صلوا الله لي الوسيلة (يعني اعط سيدنا محمدًا الوسيلة) فانهما منزلة في الجنة (چي وسيله يوه درجه عاليه ده په جنت کي) لا تنبغي الا لعبد من عباد الله وارجوا ان اكون هو (چي نه ښايي دغه درجه مګر ويوه چاته د بندګانو د خدای ﷻ او دا اميد لرم چي هغه به زه يم) فمن سأل لي الوسيلة حلت عليه شفاعتي (زما شفاعت به هغه ته ورسېږي)

درويش وايي: چي جامع دعا بعد تمام الاذان دا د الله رب هذه الدعوة التامة (يعني الدعوة عند الاذان الى الصلوة) والصلوة القائمة (اى الصلوة الدائمة الى يوم القيامة) آت محمدًا الوسيلة والفضيلة والدرجة الرفيعة وابعثه مقامًا محمودًا الذي وعدته (چي مقام د شفاعت کبرى دى دا د ځان لپاره دعاء ده) وارزقنا شفاعته يوم القيامة كما قال رسول الله ﷺ اذا قال المؤذن الله اكبر الله اكبر الى اخير الحديث، يعني يقول مثل ما قال المؤذن وحين يقول (يعني المؤذن) حي على الصلوة (دوه واره) وحي على الفلاح (دوه واره) يقول (السامع) لاحول ولاقوة الا بالله دخل الجنة رواه مسلم، وعن عبد الله بن عمر ﷺ قال رجل يا رسول الله ان المؤذنين يفضلوننا (مؤذنان په ثواب کي تر مورِ بالا سول) فقال رسول الله ﷺ قل كما يقولون فاذا انتهيت (چي ته پای ته ورسېدې) فسل تعط (سوال يعني د خدای ﷻ چي قبلېږي)

درويش وايي: چي وفي اجابة المؤذن احاديث اخر صحيحة تركنا ها لحال الطول وفيما ذكرناه كفاية.

وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ

نه دي سره برابر حسنه بنه خصلت او نه بد خصلت يعني في الجزاء وحسن العافية.

فائده: لا ثانيه زائد دى لپاره د تاكيد د نفي يعني تر هغو پورې چي انسان لره ممكن وي بايد خصلت حسنه مختاره کړي تر خصلت سيئه مثلاً صبر دى پر غضب مختاره کړي، والحلم على الجهل والعفو على الانتقام والسخاء على البخل والشجاعة على الجبن والعفة (عن الزنا) على العنت پر زنا، او بعض مفسرين وايي چي معنى د ايت داده چي نه دي برابر افراد د خصلت حسنه في الثواب والاجر بل بعضها فوق بعض كالفرائض والواجبات والسنن والمستحبات النوافل او دغه نه دي برابر جزئيات د خصلت سيئه په بدوالي لكه كبائر گنهونه على تفاوت درجاتها

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والصغائر. مثلاً که د یو چا له خوا څخه تاته بد ورسېدل فادفعها باحسن الحسنات فالحسنة ان تعفوا عنه والاحسن في هذه ان تحسن اليه يعني مع العفو.

فائده: ولا تستوي آه جمله مستأنفه ده چې راوړل سوې ده لپاره د بنو کارو في المعاملة الجارية بين العباد، وروسته تر دې محاسن د اعمال جارية بين العبد وربه عزوجل يې بيان کړه يعني په دمخه ايتو کې، حکمت الهي په اوسني ايت الهي کې ترغيب ورکول و عليه الصلوة والسلام چې صبر دي کوي پر اذيت د کافرانو ده لره او مقابله د اسائة دده وی دی په احسان سره کوي لکن معهذا حکم مذکور عام دی.

اِدْفَعْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ

ته دفع کوه په هغه خصلت سره چې احسن وي يعني اسائة که د يو چا له خوا څخه تاته ورسېږي، دا جمله استيناف ده د جواب د يو سائل چې کيف افعل فاجيب، ادفع آه ددې بيان څخه چې دروېش وکړی ددې غرض لپاره چې مراد الحسنة والسيئة امرين معينين لان العموم انسب ببلاغة القرآن، وروی عن علي رضي الله عنه الحسنة حب الرسول وآله عليهم الصلوة والسلام والسيئة بعضهم، او د عباس رضي الله عنه روايت دی الحسنة لا اله الا الله والسيئة الشرک، وقال الضحاک الحلم والفحش وقيل الصدارات والغلظة قيل غير ذالک لکن روح المعاني وايي لايخفى ان بعض المروي يکاد لاتصح ارادته ههنا نو شايد چې هغه دي د من روی عنه څخه په صحيح سند دي نه وي ثابته والله اعلم.

فَاِذَا الَّذِيْ بَيْنَكَ وَبَيْنَهٗ عَدَاوَةٌ كَاَنَّهٗ وَلِيٌّ حَمِيْمٌ ﴿۳۴﴾

کلمه د اذا لپاره د مفاجات ده، اضيف الى الجملة يعني نابېره به پيدا سي چې ته په ادفع بالتي هي احسن سره عمل وکړي يعني وبه کړځي هغه څوک چې ستا او دده تر منځ عداوت وُ.

پوه سه: چې "الذي" مبتداء ده او "كَاَنَّهٗ وَلِيٌّ" يې خبر دی، والمعنى دوست مهربان غمخوار ستا.

پوه سه: چې دا نتيجه د ادفع بالتي هي احسن ان يعني فعلت ذالک صار عدوک وليًا حميمًا، په حديث کې راغلي دي چې دا آيت په ابی سفيان بن حرب رضي الله عنه کې نازل سوی دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لانه كان عدوا اظاهر العداوة النبي ﷺ وللمسلمين وجه د عداوت دده هلته شدت پيدا كړی چي رسول الله ﷺ ام حبيبة بنت ابی سفيان ؓ په نكاح كړه، وروسته چي ابو سفيان ؓ ايمان راوړی صار وليًا بالاسلام وحميمًا بالقرابة والمصاهرة مع النبي ﷺ.

دروښ وايي: چي دا شان نزول روح البيان په تفصيل سره او روح المعاني په اختصار سره راوړی دی او روايت يې د مقاتل بن حبان ؒ څخه هم ثابت دی، مظهري وايي وليس بسديد لان الآية مكية و اسلام ابی سفيان كان بعد الفتح.

دروښ وايي: چي د مجموع سورة فصلت مكي والی خو مسلم دی ولا نسلم كون هذه الآية بخصوصة مكية تدبر غاية التدبر هداك الله والله اعلم بالحال.

وَمَا يُلَقّٰىهَآ اِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا ۚ وَمَا يُلَقّٰىهَآ اِلَّا ذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ ۝

(وما يلقاها) جملة معترضة، والمعنى نه ورکول کېږي دا خصلت يعني مقابلة الاسابة بالاحسان، مګر نه هغه کسانو ته چي صبر يې کړی پر مخالفت د نفس او د هوی، او نه ورکول کېږي دا خصلت چي مقابله د اسائة دي په احسان سره ده کړی مګر هغو کسانو ته چي لويه برخه ورکړل سوې وي، روح المعاني وايي ذو نصيب عظيم من خصال الخير و كمال النفس كما روی عن ابن عباس ؓ. او قتاده ؒ وايي ذو حظ عظيم من الثواب، او بعض وايي الحظ العظيم الجنة پر دې اخير رواية دا آيت وعد من الله عزوجل وعلى الاول هو مدح.

وَاِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ۭ

دا جمله عطف ده پر ادفع بالتي آه باندي، د اما اصل ان ما ؤ، نون د ان شرطيه يې په ما زائده كي مدغم كړی.

پوه سه: چي نزغ شبه د نخس ده چي په پښتو يې چخول بولي، او مراد ځني دلته وسوسه د شيطان ده او شيطان سړی باعثه كوي پر معصيت باندي، په قاموس كي راغلي دي نزعه كمنعه (يعني پر صيغه د منع دی) طعن فيه (عيب يې پر ووايه) ونزع بينهم افسد واغری و وسوس (يعني د فلاني قوم په مابين كي فساد وكړی او يو پر بل يې ورواچول) او وسوسه يې ورواچول وهو فعل الشيطان، والمعنى كه چېرې شيطان وسوسه درواچول په زړه كي او ته يې باعثه كړې پر انتقام د من اساء لک څخه يعني مقابلة د اسائة په اسانه وكړه په احسان يې مه كوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(فاستعذ بالله) ته پناه په خدای ﷻ سره وغواړه په شر سره د شیطان (یعني قل اعوذ بالله من الشیطان الرجیم) یعني د شیطان اطاعت مه کوه.

پوه سه: چي دا جمله جواب د شرط دی یعني په اما ینزغنک کي، او جواب د امر چي فاستعذ بالله دی محذوف دی (یعني یدفع الله عنک ذالک النزع)

إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٣٦﴾

خدای ﷻ اوریدونکی دی ستا د استعاذې، یعني ستا پر استعاذه علم لري، او خبر دی ستا په نیت سره چي نیت دي مقابله د اسائة په احسان سره.

وَمِنْ ءَايَٰتِهِ ٱلَّيْلُ وَٱلنَّهَارُ وَٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ ۚ

د خدای ﷻ د قدرت له علاماتو څخه دي شپه او ورځ، په دې معنی چي شپه یې تاریکه پیدا کړې ده او ورځ یې روښانه. اول د ارام لپاره او دویم د کسب او تجارت لپاره، او یا دا معنی چي ګاهي شپه اوږده وي لکه په ژمي کي او ګاهي ورځ اوږده وي لکه په دوبي کي.

(والشمس والقمر) او داغه رنګه لمر او سپوږمی د صانع عالم قادر مقتدر چي لرونکی د صفاتو کاملهؤ دی او دلیل پر توحید د خالق دی.

دروښ وایي: چي شمس او قمر خو لوی نښاني د قدرت دي تر دوی کښته شیان هم علامې او دلائل د توحید د خدای ﷻ دي. سعدي شیرازي ﷺ وایي:

برگ درختان سبز در نظر هوشیار .... هر ورقی دفتریست معرفت کردگار

لَا تَسْجُدُوا۟ لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَٱسْجُدُوا۟ لِلَّهِ ٱلَّذِى خَلَقَهُنَّ

تاسي سجدې مه کوئ د لمر او سپوږمی. لانهما مخلوقتان تاسي غوندي ایها الساجدون لهما، او سجده کوئ د هغه ذات چي دا څلور شیان یې پیدا کړي دي یعني والنهار والشمس والقمر.

إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ ﴿٣٧﴾

که تاسي د خدای ﷻ عبادت کوئ، ولي چي سجده عبادت دی او لائق د عبادت رب العزة دی وبس.

فائده: دغه ځای د سجدهٔ تلاوت دی په نېز د امام شافعي ﷺ ولي چي امر چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

واسجدوا دی پوري مقترن دی، وهو مروي عن ابن مسعود ؓ وابن عمر ؓ فقیه ابو جعفر الطحاوي الحنفي ؒ په خپل سند سره روایت کړی دی د عبد الرحمن بن یزید څخه چې عبد الله بن مسعود ؓ کان یسجدوا في الآیة الاولی من سورة حٰم واخرج بسنده عن ابن عمر ؓ مثله.

فَإِنِ اسْتَكْبَرُوا فَالَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ

که دوی کبر وکړی له امتثال څخه یعني عن السجود الله.

پوه سه: چې دا شرط دی د جزاء په ځای کې د علت د جزاء درولی دی یعني ولا یضروه چې مضمون د دې آیت دی (فالذین عند ربک) فالمعنی لان الذین.

پوه سه: چې مراد د الذین آه او د عندیت څخه مراد عندیت مکاني نه دی بلکې درجات د قرب الی الله دی وهم الانبیاء والملائکة والاولیاء.

يُسَبِّحُونَ لَهُ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَهُمْ لَا يَسْأَمُونَ ﴿٣٨﴾

دوی تسبیح وایي علی الدوام د خدای ؒ د شپې او د ورځې او ملال او ستړیا دست و ګریبان نه ګرځي بلکې لذت او خوند ورکوي، او امام اعظم ؒ دا ځای د سجده تلاوت بولي، وهو المروي عن ابن عباس ؓ.

پوه سه: چې امام الطحاوي ؒ د مجاهد څخه او هغه د ابن عباس ؓ انه کان یسجد في الآیة الآخرة، وروی عن ابن سیرین مثله.

پوښتنه: امام الطحاوي ؒ سجده تلاوت په اول آیت کې راوړي وه کمامر نو دا به دده په قول کې تناقض نه وي؟

ځواب: د فقیه ابو جعفر الطحاوي ؒ چې حنفیان وایي چې دی اعلم الناس دی بمذهب ابی حنیفة ؒ په شرح کې د معاني الآثار چې دده تصنیف دی عادت دادی چې د هر مذهب دلائل اولاً راوړي دي وروسته د امام اعظم ؒ مذهب راوړی، او د هغه ترجیح بیانوي، او دلائل یې هم بیانوي لکه د دغې سجود د حٰم وروسته تر دې هرو حدیثو امام طحاوي داسي ویلي دي ان السجود في الآیة الاخیرة مقتضی النظر بیا د هغه د پاره دلائل راوړي دي.

فائده: امام الامة وسراج الشریعة ابو حنیفة ؒ د احتیاط څخه کار اخستی دی، دی وایي چې که سجده په واسجدوا کې وي، نو تاخیر تر اخیري آیت اخیري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

آیت پوري ځنډول خو یې جائز دی لان سورة السجدة غیر لازمة عند الفور بلکه وخت متسع فراخه دی او که سجده تلاوت په نېزد لایسمئون وي لم یکن السجود قبله یعني عند واسجدوا خو قبل الوقت د جواز نه لري او کفایت نه کوي.

دروښ وایي: انظروا ایها الاعداء لمذهب الامام چې د امام اعظم ؒ څومره فراخ نظر دی عبدالله بن المبارک په خپل قصیده کې وایي لقد زان البلاد من علیها، امام المسلمین ابو حنیفة فما بالمغرقین له نظیر، ولا بالمغربین ولا بکوفة الی اخیر العقیدة.

وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنَّكَ تَرَى الْاَرْضَ خَاشِعَةً

او بعض له دلائلو څخه د قدرت د خدای ، ای دلائل قدرته تعالی (انک) ایها المخاطب غیر المعین، ته وینې مځکه سپېره کرد الوده بلا نبات خشوع د مځکې (مستعار له تذلل څخه و خدای ؒ ته ومنه الخشوع في الصلوة)

فَاِذَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَآءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ؕ

نو چې کله موږ نازلې کړو (و اوروو) پر مځکه اوبه (اهتزت) ای تحرکت (وربت) او راپورته سي او سره وپرسېږي لخروج النبات عنها.

اِنَّ الَّذِيْٓ اَحْيَاهَا لَمُحْيِ الْمَوْتٰى ؕ اِنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝

په تحقیق هغه څوک چې ژوندي یې ورکړ، ای احیاها بنباتها بحذف المضاف، دغه ذات مقتدر چې احیاء د مځکې په نبات سره هر آئینه ژوندی کونکی دی د مړو له قبرو څخه یعني په ورځ د قیامت عند النفخة الثانیة، په تحقیق دا خا خلق پر هر شي د احیاء او اماتة قادر دی.

اِنَّ الَّذِيْنَ يُلْحِدُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَا ؕ

په تحقیق هغه کسان چې کج روی کوي په آیات قرآنیه ؤ کې یعني غلط او باطل تأویلونه په کوي د خپل خواهشاتو سره یې برابروي، وهذا هو مراد ابن عباس ؓ بقوله یضعون کلامه تعالی غیر موضعه انتهی، اصل معنی د الحد مال عن الاستقامة ومن هذا یقال للحد القبر لحد لانه مائل من الاستقامة الی جانب (لایخفون علینا) نه دی پټ زموږ څخه یعني دوی دي په امن کې د انتقام او جزاء بېغمه نه کښېني.

پوه سه: چې په یوه قرائت کې یلحدون په فتح د یاء راغلی دی یعني من باب المجرد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او مشهور قرائت يې يُلحدون دی بضم الياء من باب الافعال وهما بمعنى واحد، وقال قتادة ؒ: الالحاد التكذيب، وقال مجاهد يلغون في اثناء قرائة القرآن من جانب النبي ﷺ يا په لوی لوی نارو سره يا په چکچکو سره يا د خولې په شپېلکي سره كمامر من قوله تعالى: وقال الذين كفروا لاتسمعوا لهذا القرآن واللغو فيه.

دروښ وايي: چې اول تفسير عام دی چې و ټولو تفاسيرو ته شامل دی يعني يلحد في الآيات القرآنية بالتكذيب كابی جهل وغيره، يا بالنار كمامر في الآية المتلوة آنفًا، يا په تغير د لفظ قرآني، يا په تأويل باطل سره مخالف د تأويل څخه د سلف الصالحين كالفرقة المجسمة يعني خداى ﷻ جسم بولي، نو دوی د ترجمه د آياتو متشابهه وُ پر ظاهر كوي، مثلاً الرحمن على العرش استوى، يد الله فوق ايديهم كل شيئ هالك الا وجهه، الى غير ذالك من الآيات الدالة بحسب الظاهر على الجسمية يا اهل اهوا كالمعتزلة والكرامية والروافض والخوارج والكرامية وغيرها من فرق الضلال.

حكايت: په زمانه كې د حاتم الاصم ؒ چې د يو عارف بالله نوم دی يو كفن كښ، يعني چې چا به مړی بښخ كړی د شپې به دی ورغلی د مړي كفن به يې څني راټول كړی چې په عربي يې نباش بولي، نو دا كفن كښ د حاتم ؒ د تبليغ و مجلس ته راغلی، نو د هغه وعظ تأثير پرو كړی او د حاتم ؒ پر لاس يې توبه وكښل او خپل حال يې هم ورته بيان كړی يعني چې زه كفن كښ وم، نو حاتم ؒ ورته وويل: كم نبشت، د څو كسانو مړو كفنونه به دي كښلي وي؟ نباش ورته وويل د اووزرو (۷۰۰۰) حاتم ؒ ورته وويل په څو كاله كې؟ نباش ورته وويل په شل كاله كې، حاتم ؒ بيهوشه سو، څه وخت چې پر هوش راغلی، نباش ته يې وويل قبور المسلمين ام الكافرين؟ قال قبور المسلمين فغشى على حاتم ؒ ثانيًا فلما افاق قال لنباش، د څو قبرو والاؤ مخان د قبلې څخه چپ وه، او د څو قبرو والاؤ مخ پر قبلهؤ؟ نباش ورته وويل چې د اووزرو څخه د دروسوو (۳۰۰) كسانو مخ و قبلې ته ؤ، د نورو ټولو مخ د قبلې څخه چپ ؤ، فغشى على حاتم ؒ ثالثًا لانه علامة كون الميت مات على غير ملة الاسلام.

سوال: سبب د بيهوشي د حاتم ؒ څهؤ؟

ځواب: الخوف من الله تعالى لان خوف احد بحسب مقامه من معرفة الله عزوجل، داؤ د لايخفون علينا په مناسبت حكايت:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَفَمَنْ يُّلْقٰى فِى النَّارِ خَيْرٌ اَمْ مَّنْ يَّاْتِىْٓ اٰمِنًا

قانون كلي: الهمزة للانكار والفاء للعطف على مقدر مناسب للمقام، تقديره ايفتخرن هؤلاء الكفار ويتعجبون باموالهم فمن يلقى آه، ومعنى الانكار چي دوی بايد دا فخر نه كولای. اخرج ابن مردوية عن ابن عباس رضي الله عنه افمن يلقى في النار هو ابو جهل.

(ام من يأتي امنًا) هو ابو بكر الصديق رضي الله عنه وقيل نزل هذه الآية في ابی جهل وعمار بن ياسر رضي الله عنهما من فقراء المؤمنين، وقيل من يأتي آمنًا هو حمزة رضي الله عنه وقيل عثمان رضي الله عنه.

دروبش وايي: چي دا ټول د مثال پر وړ دول ذكر سوي دي، ولهذا قال المظهري ابو جهل وامثالهم. وقال البرسوي رحمه الله وهم الكفرة بانواعهم، ترجمه: آيا هغه څوك چي واچول سي په اور كي بهتر دی او كه هغه څوك چي راسي په ورځ د قيامت په حال كي د امن له عذاب الهي څخه.

پوښتنه: ددې دوو ډلو په باره كي خدای جل جلاله متقابل عبارت نه ووايي، يعني داسي عبارت: افمن يلقى في النار خير ام من يدخل الجنة، حكمت يې څه دی؟

ځواب: په نظم جليل كي اغتناء ده په شان كي د مؤمنانو لان من العذاب اعم من دخول الجنة لانه يبقى احتمال ان يعذب زمنًا قليلًا ثم يدخل الجنة او بل دا چي امن له عذاب څخه اهم دی من دخول الجنة، هم دا سبب دی چي په اوله ډله كي كفار دي د القاء لفظ يې وويل سو چي دال پر قسر دی يعني بې اختياره يې و نار ورغورځوي. او په دويمه ډله كي اتيان ووايه الدال على انه بالاختيار والرضاء مع الامن.

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ ۙ اِنَّهٗ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۝

عمل كوئ ای كافرانو چي ستاسي خوښه وي يعني من الكفر والمعاصي، په تحقيق خدای جل جلاله په عملو ستاسي خبر دی.

بوه سه: چي دا امر تهديد شديد دی امر تكليف او اباحة نه دی، او كلمه د ما مصدريه يا موصوله ده، والعائد اليه محذوف ای ما تعملونه.

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِالذِّكْرِ لَمَّا جَاۗءَهُمْ ۚ وَاِنَّهٗ لَكِتٰبٌ عَزِيْزٌ ۝

په تحقيق هغه كسان چي كفر او انكار يې په قرآن وكړی څه وخت چي دوی ته نازل سو، په تحقيق قرآن مبارك عزيز دی، ابن عباس رضي الله عنه وايي ای كريم على الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعالی، او قتاده ؒ وایي اعزه الله تعالی (عزت او غلبه خدای ﷻ ورکړي ده) لایجد الباطل الیه سبیلاً کما قال الله تعالی.

لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ

نه راځي ده لره باطل د مخ له خوا ده ته او نه د شا له خوا څخه، او روح المعاني د عزیز ترجمه په لا یوجد له نظیر سره کړي ده، او یا منیع دی لاتتأتی لاحد معارضة، کریمه "لو کنتم في ریب مما نزلنا علی عبدنا (یعني محمد ﷺ) فأتوا بسورة من مثله" وقیل غالب دی علی الکتب السماویة کلها لفسخها به.

پوه سه: چي لایأتیه الباطل آه دا جمله بل صفت دی د کتاب، او مابین یدیه وما خلفه کنایة عن جمیع الجهات یعني د هیڅ جهت باطل لار نه ورته لري یعني من حیث الصیغة ولا من حیث الجملة ولا من حیث الفصاحة ولا من حیث البلاغة ولا من حیث امثاله ولا من حیث القصص من الانبیاء والامم الماضیة، نو دا تمثیل دی چي قرآن مبارک یې مشابه کړی د یو شخص سره چي پر هغه د هر جهته څخه پهره ولاړه وي چي دښمنان و هغه ته لار نسي پیدا کولای لکونه في حصن حصین، ددې کنایه ژوندی مثال په عربي کي الصباح والمساء دی چي کنایه د ټولو ازمنة ماضیة او حالیه او مستقبله ؤ څخه ده.

امام قشیري ؒ فرموده که قرآن عزیز است که کلام رب العزة که ملک عزیز (جبرئیل ؑ) بر رسول عزیز آورد (یعني محمد ﷺ) برای امت عزیز که کنتم خیر امة اخرجت للناس، شاهد اوست طبعی است که نامه دوست برای دوستان عزیز و گرامی میباشد .... بیت:

زنام و نامه تو یافتم عز و کرامت .... هزار جان گرامی فدای خامه و نامت

قتاده او السدي ؒ وایي چي له باطل څخه مراد شیطان دی چي دی طاقت نه لري چي قرآن ته دي تغییر بالزیادة فیه او النقصان منه.

پوه سه: چي مراد له شیطان څخه شیاطین الجن والانس دواړه مراد دي، چنانچه روافضو په قرآن کي لس اجزاء نور بالا کړي دي، دوی وایي چي دا اجزاء صحابه کرامو ﷺ په وخت کي د جمع القرآن طرح کړي ؤ لکن کامیاب نه سول یعني نمونه د هغه قرآن چي دوی جمع کړی ؤ یعني څلویښت جزء په ټوله نړۍ کي نسته، او دوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زیات کړي وه بعض الفاظ په بعض آیتو کي کما في قوله تعالی انما انت منذر ولکل قوم علي، دا لفظ دوی زیات کړی دی، وسیعلم الذین ظلموا آل محمد ای منقلب ینقلبون آل محمد دوی ورسره زیات کړی دی، دا خو دوی عمل وکړی چي په قرآن کي به دا زموږ زیادت د همیشه لپاره پاتې وي لکن کامیاب نه سول، دا عمل یې خدای ﷻ وشپلې ته د بطلان واچاوه، قال الزجاج معناه انه محفوظ من ان ینقص منه فیاتیه الباطل من بین یدیه، او یزاد فیه فیأتیه الباطل من خلفه، وقال مقاتل ؒ لایأتیه الباطل ای التکذیب من الکتب التي تقدمه ولایجیئ بعده کتاب یبطله او ینسخه، دلیل کل التفاسیر ان الله عزوجل وعد رسوله ﷺ حفظ القرآن والله لایخلف المیعاد، کریمه: انا انزلنا الیک الذکر وانا له لحافظون.

تَنْزِيْلٌ مِّنْ حَكِيْمٍ حَمِيْدٍ ﴿۴۲﴾

خبر د مبتداء محذوفي دی ای هو تنزیل یا حمل یې مبالغةً عدل یا تنزیل په معنی د منزل دی له جانبه شخه د کامل الحکمة خدای ﷻ (نو تنوین لپاره د تعظیم دی) او محمود دی چي ټوله مخلوقات یې حمد وایي یا په لسان حال سره یا په مقابل سره ومع ذالک هو تعالی حمید في ذاته لایحتاج الي حمد احد من الخلق.

دروښ وایي: چي چونکي کفارو د مکې به و آنحضرت ﷺ ته خفت انګیز الفاظ استعمالول، ګاهي به یې ویل چي شاعر دی، ګاهي به یې ویل چي کاهن دی و امثال ذالک نو د علیه الصلوة والسلام د تسلي لپاره خدای ﷻ دا آیت نازل کړی.

مَا يُقَالُ لَكَ اِلَّا مَا قَدْ قِيْلَ لِلرُّسُلِ مِنْ قَبْلِكَ ؕ

تاته نه دي ویل سوي مګر هغه الفاظ چي ویل سوي وه ورسولانو ته ترتا دمخه من الالفاظ القبیحة کمامرت، نو ته صبر وکړه لکه هغو انبیاؤ علیهم السلام چي صبر کړی ؤ او ته ځان په غم کي مه اچوه لان العاقبة لانبیاء، او بعض مفسرین وایي معنی د آیت داده ما اوحی الیک الا مثل ما اوحی الی الرسل من قبلک من التوحید واصول الدین ای المعتقدات والوعد للمؤمنین والوعید للکافرین والاحتمال الاول هو الارجح.

اِنَّ رَبَّكَ لَذُوْ مَغْفِرَةٍ وَّذُوْ عِقَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۴۳﴾

په تحقیق سره ستا خدای خاوند د مغفرت دی یعني للمؤمنین، او ورکونکی د عذاب درد دهنده کافرانو لره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې په دې کې ضمنًا اشاره ودې ته ده چې تر تا دمخه رسولانو ته والمؤمنين بهم خدای کومک ورکړی وُ پر اعداء ددوی او تاته به هم خدای ﷻ کومک درکړي عنقريب، او انتقام به د اعداؤ څخه ستا واخلي وقد صبر رسول الله ﷺ ونصره الله على اعدائه كما في يوم بدر وغير ذالک.

شان نزول: کفارو د مکې د تعنت او ضد دلاري و عليه الصلوة والسلام ته وويل چې ولې ستا کتاب په عربي ژبه دی ولي په لغت سرد عجمو نه دی لکه تورات او انجيل، نو دا آيت نازل سو.

وَلَوْ جَعَلْنٰهُ قُرْاٰنًا اَعْجَمِيًّا لَّقَالُوْا لَوْلَا فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ ؕ

ضمير راجع دی و ذکر ته يعني دغه قرآن چې ته يې په عربي دوی ته وايي، نو که مونږ گرځولی وای قرآن نازل پر تا د عجمو په لغت سره، نو دوی ای اهل مكة به ويلای (لولا فصلت آياته) ای بينت آياته يعني بلغة العرب حتى چې مونږ به په پوهېدای، دا جمله متصل ده په اول پورې د سورة په مدح کې د قرآن اعنی کتاب فصلت آياته الخ.

ءَاَعْجَمِيٌّ وَّعَرَبِيٌّ ؕ

يعني انکارًا به کفارو د مکې ويلای چې کتاب عجمي دی او رسول عربي دی، قال مقاتل رح وذالک ان رسول الله ﷺ ورتلی به يسار چې مريی وُ د عامر الحضرمي وكان يهوديًا عجميًا چې کنيت يې ابو فكيهة وُ، فقال المشركون يعني اهل مكة انما يعلمه بشر يعني الغلام المذكور چې يسار يې نوم وُ نو د يسار مالک يعني عامر الحضرمي او ورته وه يې ويل چې ته محمد ته قرآن ورښيې؟ يسار ورته وويل چې دی ماته تعليم د اسلام کوي، فانزل الله تعالى هذه الآية.

قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هُدًى وَّشِفَآءٌ ؕ

ووايه هغه ای القرآن العربي د هغو کسانو لپاره چې ايمان يې راوړی وي هدايت دی د ضلالة څخه او شفاء عظيم دی، التنوين للتعظيم ای شفاء عظيم لما في صدور الناس من الجهل ورزائل اوصاف القلب والنفس كالكبر والعناد والبخل وغيرها وقيل شفاء من الامراض والاوجاع الظاهرة والجسدية.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: علماء د حقیقت او تصوف وایي چې په قرآن کریم کې شپږ آیاتونه د شفاء د امراض ظاهره او باطنه ؤ موجود دي، که څوک دغه شپږ آیته په خوله ووایي یا یې پر کاغذ نوشته کړي اوبه یې و څښي په عقیده کامله سره خدای ﷻ به دده مرض دفع کړي.

دروښ وایي: چې آیات الشفاء دادي لکن زه حافظ د قرآن نه یم ترتیب یې نه دی را معلوم لکن ضروري هم نه دی (و ننزل من القرآن ما هو شفاء و رحمة للمؤمنين، شفاء للناس، شفاء لما في الصدور، ويشفي صدور قوم مؤمنين، واذا مرضت فهو يشفين، قل هو الذي آمنوا هدًى و شفاء.

وَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرٌ وَّهُوَ عَلَيْهِمْ عَمًى ؕ

او هغه کسان چې پر قرآن ایمان نه لري، موصول مبتدا ده، په غوږو کې یې ثقل دی یعني چې په سمع د قبول یې نه اوري. که څه هم ظاهرًا کانه نه دي دا یې خبر دی. او دا قرآن پر دوی باندې ظلمت دی یعني شبهة او مشتبه دي، قال قتادة رح چې کفار مکه عموا عن القرآن وصموا عنه فلا ينتفعون به.

اُولٰٓئِكَ يُنَادَوْنَ مِنْ مَّكَانٍۢ بَعِيْدٍ ۞

دوی ته ناري وهل کيږي له لېرې ځای څخه، دا یو مثال دی د کفارو د مکې في عدم قبولهم عدم استماعهم للقرآن بمن صاح به من مسافة بعيدة.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ؕ

لام موطئه د قسم دی موږ ورکړی ؤ موسیٰ ﷺ ته کتاب یعني التورات (فاختلف فيه) جواب د قسم محذوف دی یعني اختلف قوم موسیٰ بالتصديق والتكذيب يعني بعض ایمان پرې راوړی او بعض یې تکذیب وکړی كما اختلف قريش قوم محمد ﷺ.

وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ

که نه وای یو خبره چې خدای ﷻ په لوح محفوظ کې دمخه لیکلې وه چې هغه خبره داده چې زه تاخیر د عذاب کوم و مکذبینو ته یعني مهلت ورکوم یعني الى يوم القيامة يا الى اجل معلوم، ددوی تر مابین به فیصله او قضاوت کړه سوی وای یعني ژر به مې عذاب ورکړی وای.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاِنَّهُمْ لَفِیْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِیْبٍ ﴿۴۵﴾

(وانهم) ای المکذبین په شک کي دي (د منه ضمیر یا راجع و تورات ته دی یا قرآن ته) چې دوی یې په اضطراب کي اچولي وه یعني قوم موسیٰ ؑ یا قریش مکة.

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَسَآءَ فَعَلَیْهَا ؕ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِیْدِ ﴿۴۶﴾

که څوک عمل صالح وکړي لپاره د فائدې د خپل ځان یې کړی دی، کلمه د لام د نفع ده، او که څوک بد عمل وکړي ضرر یې چې عذاب الهي دی و ده ته راجع دی، نو کلمه د علی لپاره د ضرر ده، او نه دی ستا رب یا محمد (ﷺ) ظلم کونکی پر بندګانو، یعني عمل د محسنین نه ضائع کوي بلکې ثواب یې ورکوي، او په عمل کي د بد کارانو په عملو کي زیاتوب نه کوي.

پوښتنه: ظلام خو صیغه د مبالغې ده، نو د نفي څخه د ظلام به احتمال د نفس ظلم پر خدای ﷻ متوهم نه وي؟

ځواب: مظهري [۳] وایي چې صیغه د مبالغې تعریضًا علی الکفار راوړه بانهم هم الظالمون المبالغون في الظلم، والله سبحانه لا یتصور منه الظلم اصلاً، او بعض مفسرین وایي چې اصل کلام داسي ؤ و ماربک بظالم ثم نقل مع النفي الی صیغة المبالغة، فکانت المبالغة راجعة الی النفي علی معنی ان الظلم منفي عنه تعالی نفیًا مؤکدًا مضاعفًا، او بعض مفسرین وایي چې صیغه د مبالغې په اعتبار د کثرت د عبید او بندګانو ده، لا باعتبار کثرة الظلم حتی چې احتمال د نفس ظلم پر خدای [۴] متوهم سي ویؤید هذا التوجیه قوله تعالی ولا یظلم ربک احدًا، وفي الحدیث القدسي اني حرمت الظلم علی نفسي و علی عبادي الا فلا تظالموا.

دروښ وایي: بحمده تعالی وحسن توفیقه لهذا العبد الضعیف تفسیر د (۲۴) جزء په شپه د چهار شنبې پر اول د ربیع الاول سنه (۱۴۳۲ هـ) پای ته ورسېدی، فلله الحمد والمنة وعلی سید رسله الصلوة والتحیة وعلی آله واصحابه الکملة.

که عاصي او ګنهګاریم ..... د قرآن عظیم خدمتګاریم

روز محشر هر که آید تصویر جانان در بغل ... من نیز حاضر میشوم تفسیر آن در بغل

نه قاضي یم نه مفتي نه مجتهد یم ..... د تفاسیرو د قرآن څخه خوشه چین یم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د تفسیر ایوبي د مضامینو فهرست

شمېر	مضمون	مخ
۱	سریزه	۳
۲	د سورة یس پیل	۵
۳	د "وکل شیئ احصیناه" تفسیر	۱۷
۴	دروښ وایي	۱۹
۵	سوال معترض	۲۱
۶	مسئله شرعیه	۲۶
۷	د درویشتمي پاري پیل	۳۰
۸	د "وجعلنا فیها جنات من نخیل و اعناب" تفسیر	۴۱
۹	فوائد	۴۲
۱۰	دروښ وایي	۸۱
۱۱	پوښتنه او ځواب	۸۷
۱۲	روایت	۹۰
۱۳	د "فسبحٰن الذي بیده ملکوت آه" تفسیر	۹۵
۱۴	د سورة الصفات پیل	۹۷
۱۵	فائده مهمه	۹۹
۱۶	دروښ وایي	۱۰۱
۱۷	د "الا من خطف الخطفة" تفسیر	۱۰۳
۱۸	سوال او جواب	۱۰۵
۱۹	دروښ وایي	۱۰۶
۲۰	د "وجعلنا ذریته هم الباقین" تفسیر	۱۲۸
۲۱	پوښتنه او ځواب	۱۳۵
۲۲	دروښ وایي	۱۴۱

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

شمیر	مضمون	مخ
۲۳	د "فبشرناه بغلام حليم" تفسير	۱۴۴
۲۴	واقعه دل خراش	۱۵۱
۲۵	د "وان يونس لمن المرسلين" تفسير	۱۶۶
۲۶	د سورت صٓ پيل	۱۸۶
۲۷	د "ولات حين مناص" تفسير	۱۸۷
۲۸	دروښ وايي	۱۹۰
۲۹	د "وشددنا ملكه" تفسير	۱۹۹
۳۰	حكايت	۲۱۳
۳۱	د "اذ نادى ربه انى مسنى الشيطان" تفسير	۲۲۴
۳۲	د "قال انا خير منه" تفسير	۲۴۲
۳۳	د سورة الزمر پيل	۲۴۸
۳۴	دروښ وايي	۲۶۲
۳۵	د "ثم انكم يوم القيامة عند ربكم تختصمون" تفسير	۲۷۸
۳۶	د څلورويشتمې پارې پيل	۲۸۱
۳۷	حكايت	۲۸۸
۳۸	د "انا الله يغفر الذنوب جميعًا" تفسير	۳۰۱
۳۹	دروښ وايي	۳۱۱
۴۰	د سورة المؤمن پيل	۳۳۱
۴۱	د "مايجادل في ايات الله الا الذين كفروا" تفسير	۳۳۴
۴۲	دروښ وايي	۳۳۸
۴۳	د "كذالك يطبع الله على كل قلب متكبر جبار" تفسير	۳۶۴
۴۴	د "النار يعرضون عليها غدوًا وعشيًا" تفسير	۳۷۱
۴۵	سوال او جواب	۳۷۶
۴۶	دروښ وايي	۳۷۹

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

شمېر	مضمون	مخ
۴۷	فائده	۳۸۴
۴۸	فائده عظیمه	۳۸۷
۴۹	د "الذین کذبوا بالکتاب" تفسیر	۳۹۳
۵۰	حکایت	۴۰۱
۵۱	د سورة حم السجدة پیل	۴۰۴
۵۲	دروېش وایي	۴۱۵
۵۳	پوښتنه او جواب	۴۲۱
۵۴	د "ومن احسن قولاً ممن دعا الی الله" تفسیر	۴۲۹
۵۵	حکایت	۴۳۹
۵۶	د څلور ویشتمي پاري پای	۴۴۵
۵۷		

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو.



Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

تفسير ايوبي حنفی۱۵ ټوک

د نصيراحمد احمدي لـخوا

سکين او pdf سـو.

تاريخ ۱۳۹۸-۱۰-۱۷

واتساپ- ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

د دعا محتاج احمدي!

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner